د قرآن رنها

د عظيم الشأن قرآن پښتو معنا

اولنۍ دعوتي تفسير

د پوهنوال دکتور مولوي/ محمد ظاهر اسدالله مکي

په قلم او ژ به

لومړۍ ټوک

(۱)

د الفاتحې نه تر الانعام سورې پای پورې

د قرآن رښا

د عظيم الشأن قرآن پښتو معنا

اولنۍ دعوتي تفسير

د پوهنوال دکتور مولوي/ محمد ظاهر اسدالله مکي

په قلم او ژ به

د اسلامي نړۍ رابطې (رابطة العالم الإ سلامي)

د امامانو او دعاتو عالي انسټيوت پخوانئ استاذ

مكة المكرمة: العز يز يه الجنوبيه

جمادىالثاني١٤٤٥ هـ.ق المو افق

جنوري ٢٠٢٤م المو افق مرغومئ ١٤٠٢هـ.ش

(١)

لمړئ ټوک

[د الفاتحې سورې نه تر الانعام پورې]

۞ در یم چاپ - چاپ حق د مؤلف په اجازه.

د مؤلف سره اړیکه :

۞ د مولف تلفون او د واتساپ شمیری
(۰۰۹۶۶۵۰۱۳۷۷۹۰۰)- ۰۰۹۶۶۵۰۶۵۶۵٤٦۰
ایمیل ادرس/ dr.mzm۵۵@gmail.com

۞ کمپیوتري لیکنه او تنظیم :
مهندس/عبد الرحمن ظاهر(ابو حمزة) او أ/ أم جود
جزاهما الله خیرا.

۞ په کمپیوتر او چاپي پانو کې مکرره کره کتنه
خپله مؤلف/ د. محمد ظاهر مکي
(عفی الله تعالی عن زلاته بفضله ورحمته)

او په کره کتنه کی د ګڼ شمیر قدرمنو پوهاندانو او مولو یانو وړاندیزو نه په پام کې نیول سوي دي او د دوی نظرونه د تفسیر په پای کې ثبت دي.

الآية:


قال الله تعالى: ﴿ قَدْ جَآءَكُم مِّنَ ٱللَّهِ نُورٌ وَكِتَٰبٌ مُّبِينٌ ﴾[المائدة:١٥]

ای خلکو! یقینا چې تاسې ته د الله لخوا رڼا او روښانه کتاب قرآن راغئ، ترڅو مونږ د قرآن په رڼا کې سمه لار بیامومو او حق ته ورسیږو او د ورکتیا نه خلاص سو.

الحديث:

قال رسول الله ﷺ : «ستكون بعدي فتنٌ، فسأل علي رضي الله عنه عنه: وما المخرج عنها؟ فقال رسول الله ﷺ: كتاب الله...» الحديث، رواه الترمذي.

ژباړه: [هو! د زما نه وروسته به ډیرې فتنې را پیښې سي! نو بیا علی رضي الله عنه و پوښتل: د خلاصون لار څه ده؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: د الله کتاب...الخ] دا حدیث امام ترمذي روایت کړئ ده.


بسم الله الرحمن الرحيم

بسم الله الرحمن الرحيم

تعريف مختصر بتفسير (نورالقرآن) بالبشتو الأفغانية

الحمد لله الذي جعل القرآن لنا نورا نهتدي به إلى الحق وإلى سواء السبيل، وصلى الله وسلم على رسوله الأمين المبعوث رحمة للعالمين، أرسله شاهدا ومبشرا ونذيرا وداعيا إلى الله بإذنه وسراجا منيرا، وعلى آله الهداة المهتدين وعلى أصحابه الغر الميامين وعلى إخوانه المؤمنين إلى يوم الدين أمام رب العالمين، و بعد:

فقد أكرمني الله تعالى بإعداد هذا التفسيرالدعوي المختصر بمسمى (نور القرآن) وترجمة معاني كتاب الله-الحق الذي لا يأتيه الباطل من بين يديه ولا من خلفه، وهو الفصل ليس بالهزل -إلى البشتو لغة الأفغان القاطنين في شمال جنوب آسيا والمهاجرين إلى أنحاء العالم اليوم، سائلا المولى عزوجل أن ينفع به و يثيبني على هذا العمل المبارك الذي استغرقت كتابته الخطية حتى بلوغه الطباعة والنشر للمرة الثانية في Pdf ما يز يد علي ثمان سنوات مباركات من غرة ذي القعدة عام ١٤٣٦ه ق حتى تاريخه ١٤ربيع الثاني عام ١٤٤٥هـ ق، وقد اعتمدت فيه المنهج التالي:

١- ترجمة معاني القرآن الكر يم بعيدة عن الترجمة الحرفية التي سلكها الكثيرون الذين سبقوني في ترجمة نص القرآن الكر يم ومعناه بالبشتو، مع دعائي لهم بجزاهم الله خيرا على جهودهم الطيبة في تقريب مراد الله تعالى لعامة الناطقين بالبشتو، لكنها - في نظري - لا تكفي في بيان معاني كتاب الله العظيم للقارئ كما ينبغي، وقد استفدت في ذلك من التفاسير المختصرة المتعددة، وفي مقدمتها: فتح القدير للعلامة الشوكاني، والمصباح المنير مختصر تفسير ابن كثير، وتيسير الكر يم

الرحمن للشيخ عبد الرحمن السعدي، والتفسير الميسر إصدارمجمع الملك فهد بالمدينة المنورة، ومن أيسرالتفاسير للشيخ أبي بكرالجزائري رحمهم الله تعالى جميعا، ومن المختصرفي التفسير إصدار مركز التفسير للدراسات القرآنية بإشراف معالي الشيخ صالح بن عبد الله بن حميد إمام وخطيب المسجد الحرام جزاه الله خيرا، وغيرها الكثير المدونة في المراجع في آخر هذا التفسير المختصر (نور القرآن) بالبشتو لغة أكثر الأفغان القاطنين في أفغانستان وفي شمال وغرب باكستان والمنتشرون في أنحاء العالم بسبب الهجرات المتتابعة نتيجة الغزوات العسكر ية التي تعرض له البلاد في القرنين الأخيرين: الرابع عشر والخامس عشرالهجري القمري الموافق للقرن العشر ين وواحد والعشر ين الميلادي.

٢ – فصل التفسير عن معنى الآية بكتابته بين المعكوفتين [ ] قدر الإمكان مع إبقاء تسلل الحديث لمعنى الآية.

٣ – تفسير آيات العقيدة على منهج أهل السنة والجماعة، اتباعا للسلف الصالح من علماء الأمة.

٤ – خلو التفسير من الروايات الضعيفة ومن الإسرائيليات.

٥ -عدم التعرض لمباحث علوم القرآن، اللغة العربية، الأحكام الفقهية وغيرها إلا نادرا.

٦ – تقسيم الآيات إلى مجموعات وفق موضوعاتها بعناو ين مبيّنة لها تشير إلى مراد الله سبحانه حسب اجتهاد المؤلف.

٧ – توجيه القارئ وإرشاده إلى مضامين الفوائد الدعو ية لكل مجموعة من الآيات وفق منهج القرآن الدعوي القائم على الوسطية والاعتدال واختيار الحكمة والحوار بالّتي هي أحسن.

هذا؛ وأسأل الله الكر يم رب العرش العظيم أن يعفو عن زلاتي وأن ينفعني بهذا التفسيرالدعوي المبارك يوم العرض الأكبر وأن ينفع به إخواني القراء من الناطقين بالبشتو، إنه سميع مجيب.

والحمد لله رب العالمين، وصلى الله وسلم على رسوله الأمين، وعلى

آله وأصحابه أجمعين.

كتبه الدكتور/ محمد ظاهر بن أسدالله (الأفغاني) أستاذ مشارك سابقا في المعهد العالي لإعداد الأئمة والدعاة التابع لرابطة العالم الإسلامي بمكة الكرمة حرسها الله يوم السبت ١٥ جمادي الأول عام ١٤٤٥هـ الموافق ديسمبر ٢٠٢٣م.

مكة المكرمة_ حي العزيزية الجنوبية_ مخطط ستر اللحياني.



فهرست

سـريــزه ۲۰

{د قرآن رڼا خلکو ته د ښادۍ پيغام ده} ۲۰
{د قرآن رڼا پښتو تفسير د ليکلو او د معنا ژ باړې تګ لاره} ۲۳
{(د قرآن رڼا) پښتو لنډ دعوتي تفسير د ليکلو پراوو نه} ۲۸
{ځانګړې منه او دعاء} ۳۱

د الفاتحې سورې پښتو معنا او لنډ تفسير ۳٦

{د الفاتحې مبارکې سورې لنډه پيژندنه او لوی پيغام} ۳٦
{د الفاتحې سوره مونږ ته د الله ستاينې او د دعاء سر ليک ده} ۳٦
{الفاتحه د قرآن کيلي ده} ۳۷
{الفاتحه مکي سوره ده} ۳۷
{ الفاتحه د توحيد پيژندنې لارښود پيغام دئ } ۳۸
{ الفاتحه په اعوذ بالله او بسم الله باندې پيل کيږي } ۳۹
{د الفاتحې سورې د آيتونو پښتو معنا او لنډ تفسير} ۳۹
{آمين د الفاتحې برخه نه ده خو ختمول يې په آمين سنت دي} ٤۰
{د يهودو او نصاراوو تقليد پر مومنانو باندې حرام دئ} ٤۱
{د الفاتحې سوره الله د ځان او بنده په منځ کې و يشلې ده} ٤۱

د البقرې سورې پښتو معنا او لنډ تفسير ٤۳

{د البقرې سورې لنډه پيژندنه او لوی پيغامونه} ٤۳
{د قرآن ادبي او بياني اعجاز په مقطعاتو تورو کې رونړ ځليږي} ٤۳
{الله تعالي خلک پر مومنانو کافرانو او پر منافقانو و يشلي دي} ٤۵
{کافران پر خو يونو او صفتونو پيژندل کيږي} ٤٦
{منافقان د دوی په ځانګړو خو يونو پيژندل کيږي} ٤۷
{د منافقانو نفاق لوېي بيلګې او ساري} ٤۹
{د خلاصون لار د الله تعالي بنده ګي په توحيد سره ده} ۵۰
{قرآن عر بانو ته معجزه وه او سيالۍ نه يې عاجز سول} ۵۱
{مومنانو ته د جنتونو ز يرئ} ۵۲
{د منافقانو شبهو او شکونو غندنه او کلک ردول} ۵۳

{د ځمکې خلافت الله آدم عليه السلام او د هغه کهول ته سپارلئ دئ}..... ٥٦
{کبرجن لعنتي شيطان آدم عليه السلام ته سجده ونکړه}..... ٥٧
{آدم او حوا شيطان وغولول او حرامه ميوه يې پرې وخوړه}..... ٥٨
{يهودو باندې د الله پيرزو ينې او د هغوی ناشکرۍ غندنه} ٦١
{يهودو چې خلکو ته په ښوکړنو سپارښت که ځانونه يې هير وه} ٦٣
{فرعونيانو د يهودو زامن وژل او لونې يې ژوندۍ پر يښودلې}..... ٦٥
{د الله تعالی ليدل په دنيا کې محال دي} ٦٨
{بني اسرائيل الله تعالی د خپلو بدو کړنو په قهر ککړ کړل} ٦٩
{د مومنانو ايمان او د ښه عمل ثواب الله سره محفوظ دئ}..... ٧١
{هغو يهودو چې په تورات عمل ونکه بيزوګان سول}..... ٧٢
{د يهودو غوا قصه د دوی د بد خوی ځلانده بيلګه ده}..... ٧٤
{د يهودو نه چې توراتې تحريف که د ايمان طمعه نکيږي}..... ٧٧
{د يهودو مشرانو ته الله د سزا ګواښ کړئ دئ} ٧٩
{يهود الله د پيغمبرانو وژلو په ګناه خپل رحمت نه وشړل} ٨٣
{يهود چې د اسلام پيغمبر ته په طمعه وه ز يري ورکول}..... ٨٤
{د ملائکو او پيغمبرانو دښمنان کافران دي}..... ٨٨
{يهود د قرآن نه منکر سول او هوکړې پې ماتې کړې} ٨٨
{شيطان د کودګرو استازئ دئ} ٨٩
{پيغمبر سره ادب فرض دئ او کافران مومنانو ته خير نه غواړي} ٩١
{مومنان ده د کينه کښ کافر شر نه ځانو نه وساتي}..... ٩٣
{د جنت په انحصار کې د يهودو هيلې الله ردې کړې دي} ٩٥
{ کافران د الله عبادت نه مومنان په مسجدونو کې منعې کوي }..... ٩٦
{د ځمکې او اسمانو واکمن خدای ځان ته د زوی نيولونه پاک دئ} ٩٨
{پيغمبر د الله پيغام خلکو ته رسوي خو کتاب والا پې نه مني }..... ٩٩
{يهود الله د خپل وخت ولسونو باندې لوړ کړي ول} ١٠١
{الله تعالی ابرهيم عليه السلام خلکو ته مخکښ امام وګرځا وه}..... ١٠٢
{مکه خلکو ته د ابراهيم عليه السلام دعا په برکت د امن کور ده} ١٠٤
{د محمد صلى الله عليه وسلم پيغمبري د ابرهيم عليه السلام دعاء ؤ} ١٠٥
{يعقوب عليه السلام خپل زامن يهوديت ته ندي رابللي}..... ١٠٧
{د ابراهيم عليه السلام توحيدي دين د الله عبادت ته بلنه وه} ١٠٩

{رسول الله ﷺ خپل براءت د يهودو نه اعلان كه} ۱۱۱
{شرق او غرب (ختيځ او لوديځ)د الله واک لاندې دي}..... ۱۱۳
{مسلمانان الله په منځ پالنه او غور ياتوب ستايلي دي} ۱۱٤
{اهل كتابو حق پټ كه او د محمد پيغمبرې نه منكر سول} ۱۱٦
{مسجد الحرام خوا ته مخ اړول په لمانځه كې فرض دي } ۱۱۷
{د اسلام پيغمبر مومنانو ته د قرآن استازئ او روزونكئ ؤ } ۱۱۸
{صبر او لمونځ د مصيبت ځپلو خپلونو ته لوی پيغام دئ} ۱۱۹
{د صفا او مروه غونډه كې د الله د دين نښې دي}..... ۱۲۱
{څوک چې د الله حكمونه پټوي پر دوی د الله لعنت اور يري} ۱۲۲
{د الله توحيد نښې پر ځمكه او اسمانو كې رښې ځليږي} ۱۲۳
{د مومنانو مِينه الله سره د كافرانو مِينې نه بتانو سره قوي ده}..... ۱۲٤
{شيطان چې د خلكو دښمن دئ الله دوی ورځخه ګواښلي دي}..... ۱۲٦
{په ناروا دودونو كې خپلو نيكونو پسې تګ ناپوهي ده} ۱۲٦
{د الله شكر فرض دئ او په اړتيا كې حرام روا كيږي} ۱۲۸
{د خلكو نه د الله كتاب آيتونو پټول لو يه ګناه ده} ۱۲۸
{د مومنانو خو يو نه د دوی د ښو كړنو ځرګندوی دي} ۱۳۰
{د قصاص جاري كول خلكو ته ژوند ور ښې} ۱۳۱
{د وصيت بدلونكي به لو يه ګناه پشا كوي} ۱۳۳
{د روژې مياشتې روژه نيول پر مومنانو فرض دي} ۱۳٤
{د روژی مياشت د قرآن رانازليدو پيل مياشت وه} ۱۳٥
{الله خپلو بنده ګانو ته ورلنډ او پالونكې ذات دئ}..... ۱۳۷
{د روژې مياشتې په شپو كې ميرمنو سره ملاسته روا ده}..... ۱۳۸
{ د پردي مال خوړل په باطل او ناروا سره حرام دي}..... ۱٤۰
{د سپورمۍ مياشتنئ ګښت لارښود تقسيم او قات دئ} ۱٤۰
{د بر يد كونكي دښمن پروړاندې مقاومت فرض دئ}..... ۱٤۱
{د تيري كونكې دښمن پر وړاندې جګړه فرض ده} ۱٤۳
{ په حج او عمره كې د ډبيدو يا احصار نه د وتلو لارې او حكم } ۱٤٥
{په حج كې د يو بل سره جدال او جنجال كړل حرام دي}..... ۱٤۷
{قرآن ابراهيمي تګ لاره په حج كې را ژوندۍ كړه}..... ۱٤۸
{د تشر يق در يمې ورځې جمرو و يشتل د حاجی په خوښه دي}..... ۱٥۰

{څوک چې په ځمکه کې ورانئ کړي ځای يې دوزخ دئ} ۱۵۱
{هغو يهود ته چې مومنانو پورې خاندي کلک ګواښ دئ} ۱۵۲
{د آدم عليه السلام نه وروسته يې کهول يو امت وه خو بيا سره بيل سول} ۱۵۳
{خپلوانو سره مرسته کړل د الله تعالي سپارښت دئ} ۱۵۵
{د يرغلګر دښمن سره جګړه او مقاومت فرض دئ} ۱۵۵
{په حرامو مياشتو کې د جګړې ګناه نه د کفر ګناه لو يه ده} ۱۵۷
{د شرابو څکلو او د قمار وهلو ګناه د ګټې نه ډيره ده} ۱۵۹
{مومنانو ته د مشرکانو سره واده کړل روا ندي} ۱۶۰
{د حيض په وخت کې ميرمنې سره ملاسته روا نده} ۱۶۱
{د لوړې حکمو نه او د الله تعالی نامه درناوئ او تعظيم} ۱۶۲
{د ايلاء حکم او د ميرمنو حق خپلو ميړو سره په ملاسته کې} ۱۶۴
{د طلاق عدت شمير او آداب او د الله حدودو ساتنه} ۱۶۴
{در يم طلاق ښځه پر ميړه باندې حراموي} ۱۶۶
{په طلاق کې د ميړه واک او مسئوليتونه} ۱۶۷
{د مطلقه ښځو منعې کول ميړو ته د ورګرځيدلونه روا ندي} ۱۶۸
{ماشوم حق لري چې پوره دوه کاله د مور ټئ وخوري} ۱۶۹
{د ميړو په مړ ينه د کونډو عدت څلور مياشتې او لس ورځې دئ} ۱۷۰
{د کونډو ښځو ر يباري په عدت کې په کنايو سره روا ده} ۱۷۱
{طلاق سوو ميرمنو ته ډالۍ ورکول د دوی حق دئ} ۱۷۲
{د لمانځه پر درولو سپارښت او د و يرې لمانځه څرنګوالي بيان} ۱۷۳
{ کونډې حق لري چې ميړو په کور و کې پاتې سي} ۱۷۵
{طلاق سوو ښځو ته ډالۍ ورکول پر ميړو فرض دي} ۱۷۶
{مرګ او ژوند د الله په واک کې دئ او جهاد فرض دئ} ۱۷۶
{طالوت الله تعالی بني اسرائيلو ته پاچا را ولېږه} ۱۷۹
{ د موسی خزانې کندو نجات د طالوت پاچايي نښه وه} ۱۸۱
{د حق او باطل په جګړه کې لږ کسان په ډيرو زورور کيږي} ۱۸۱
{کافر نو سره په جهاد کې دعاء د پيغمبرانو سنت ده} ۱۸۳
{محمد ﷺ پيغمبر وه او ټول پيغمبران سره برابر ندي} ۱۸۴
{د کرسۍ مبارك آيت د توحيد ځلانده ستورئ دئ} ۱۸۶
{په دين کې زور نسته د مومنانو مل الله او د کافرانو مل شيطان دئ} ۱۸۸

{نمرود د ابراهيم استدلال پر وړاندې هک پک سه} ۱۸۹
{د عز یر باور قیامت په ورځ د مړو په راژوندي کیدو کلک سه}..... ۱۹۰
{د ابراهیم علیه السلام زړه د مرغانو په راغونډیدلو ډاډه سه}..... ۱۹۲
{ د الله په لار کې خیرات ورکول سل ځله ثواب لري }..... ۱۹۳
{خوړې خبرې د هغه خیرات نه ښې دي چې ور پسې منت وي}..... ۱۹۵
{سمې لارې ته هدایت د الله کار دئ نه د پیغمبر} ۱۹۹
{د خلکو هدایت اسلام ته پر پیغمبر لازم ندئ} ۲۰۰
{سود حرام دئ او هغه د بیعې غوندې ندئ} ۲۰۲
{د پور ساتنه په لیکلو او د شاهدانو په تیرولو سره فرض ده}..... ۲۰۶
{ګروي یا د پور ضمانت په جنس د خلکو ارتیاوې پوره کوي} ۲۰۸
{ د ایمان پر ستنو تکیه وهل د ایمان رواړو نښه ده}..... ۲۰۹
{الله هیڅ چا ته د خپلې وسعې نه درونډ پیټئ نه ور پشا کوي}..... ۲۱۰
د آل عمران سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر ۲۱۳
{د آل عمران سورې لنډه پیژندنه او لوړ مقصدونه}..... ۲۱۳
{ مقطعات توري د قرآن بیاني اعجاز څرګندوي} ۲۱۴
{د الله تعالی توحید او په الوهیت کې د یو والي بیان}..... ۲۱۴
{قرآن د حق پیغام او د تورات اوانجیل تصدیقونکئ کتاب دئ} ۲۱۵
{د قرآن آیتونه ځینې محکم او ځینې متشابه دي}..... ۲۱۶
{مومنانو ته د زړونو پر ټینګښت الله تعالی سپارښت کړئ دئ} ۲۱۸
{کافران په آخرت کې د دوزخ اور سوز لرګي دي} ۲۱۸
{کافرانو د بدر په جګړه کې کلکه ماته وخوړه }..... ۲۱۹
{د آخرت نعمتونو نه خوند اخستل د دنیا په پرتله تل پاتې دي} ۲۲۲
{علماء د الله په توحید باندي لکه ملائکې شاهدان دي} ۲۲۴
{اسلام د الله پر وړاندې یواز ینئ منل سوئ دین دئ}..... ۲۲۵
{څوک چې د الله آیتونه پټوي هغوی ته عذاب ورځکل کیږي} ۲۲۶
{یهودو او نصاراوو د الله حکمونو نه سرغړونه وکړه} ۲۲۷
{د عزت او ذلت ر یښتینئ واکمن ځښتن الله دئ} ۲۲۸
{الله تعالی مومنان د کافرانو ملتیا نه منعې کړي دي} ۲۲۹
{د الله سره مینه رسول الله صلی الله علیه وسلم پسې تګ پورې تړلې ده}..... ۲۳۲
{پیغمبران د یو بل نسل دئ او د عمران میرمنې ماشوم نذر که}..... ۲۳۳

{زکر یا عليه السلام د الله تعالی نه پاک کهول وغوښت} ٢٣٥
{مر یم علیها السلام الله د نړۍ پر ټولو ښځو غوره کړي وه} ٢٣٦
{ عیسی عليه السلام ته الله تعالی لو یې معجزې ورکړې وي} ٢٣٩
{عیسی عليه السلام د تورات ځینې حکمو نه بدل کړل} ٢٤٠
{بنی اسرائیلو عیسی سره چل وکه خو دا چل الله شنډ که} ٢٤١
{د عیسی په پیدایښت کې چې د آدم غوندې وه مباهله حق وه} ٢٤٣
{د اهل کتابو بلنه د الله بنده ګۍ ته په توحید سره فرض ده} ٢٤٥
{د اسلام نه د مومنانو اوښتل د یهودو او نصاراوو ارمان دئ} ٢٤٨
{ یهودو یو بل هڅاوه چې صبا ده پر قرآن ایمان راوړۍ او بیګاه ده بیرته کافران سی}
..... ٢٤٩
{اهل کتاب مومنانو ته د ز یان رسولو روا ګڼل الله پسې تپي} ٢٥١
{پیغمبران امتونه د الله بنده ګۍ نه ځان بنده ګۍ ته نه رابولي} ٢٥٣
{پخوانیو پیغمبرانو نه الله هوډ اخستئ چې امتونه یې د خاتم المرسلین مرسته کړي }
..... ٢٥٤
{ محمد صلى الله عليه وسلم پخواني پیغمبران او کتابونه مني} ٢٥٦
{د جنت ګټلو لار د ګران مال نه خیرات ورکول دي} ٢٥٧
{کعبه لمړنئ کور دئ چې خلکو ته الله لارښود ودان کړئ دئ } ٢٥٩
{د محمد پیغمبرۍ پټولو نه اهل کتاب الله ګواښلي دي} ٢٦١
{تقوا او د الله دین پر پرې منګلې ټینګول فرض دي} ٢٦٢
{د قیامت په ورځ څوک په سپین مخ او څوک په تور مخ در یږي} ٢٦٤
{په معروف امر او د منکر نه نهیه د اسلامي امت ځانګړتیا ده} ٢٦٥
{اهل کتاب سره برابر ندي مخلص مومنان هم لري} ٢٦٧
{ کافرانو ته د دوی مال دولت او کهول ګته نه لري} ٢٦٨
{مومنان الله تعالی د کافرانو ملګرتیا نه کلک ګواښلي دي} ٢٦٩
{د بدر او احد غزاګانو قصو کې مومنانو ته ګټورې زدکړې دي} ٢٧١
او په ور پسې مبارکو آیتونو کې د بدر او احد غزاګانو قصو په یادولو سره؛ مومنانو ته
الله تعالی ګټورې لارښودنې کړې، او فرمایلي دي: ٢٧١
{خلکو ته د سزا ورکولو او بښنې واکمن یوازې الله دئ} ٢٧٤
{سود خوړل حرام دي او سزایې د دوزخ اور دئ} ٢٧٥
{د تار یخ پاڼه د زدکړې لوی کتاب دئ } ٢٧٨

{قرآن مومنانو ته لارښود پیغام او د عزت ز یرئ دئ} ۲۷۸
{که پیغمبر ﷺ مړ سه نو څوک ده نه مرتد کیږي} ۲۸۰
{د پیغمبرانو ملګري د الله په لار کې کلک جهاد کړي} ۲۸۲
{مومنانو ته نه ښایي چې د کافرانو فرمان ورونکي سي} ۲۸۳
{د احد غزا د پایلو ځلاند انځور او ارزښتناکه زدکړې} ۲۸٤
{مومنانو ته نه ښایي چې کافرانو پسې لاړ سي} ۲۸۸
{ولسونو سره ښه چلند او مشوره پر واکمنانو فرض ده } ۲۹۰
{پیغمبران خپلو ولسونو سره ډوکه او خیانت نکړي} ۲۹۱
{محمدﷺالله خپلې پیرزو ینې سره مومنانو ته پیغمبر راولیږه} ۲۹۳
{د احد غزا مومنان او منافقان سره بیل کړل او ښه زدکړه وه}..... ۲۹٤
{د الله لارې شهیدان مړه نه بلکې ژوندي دي روزي ورکول کیږي} ۲۹۸
{د احد غزا نه وروسته رسول اللهﷺ ته الله تسلیت ورکړئ دئ } ۳۰۰
{الله د یهودو سپکې خبرې هغه پسې غندلې او رسوا کړي دي} ۳۰۳
{د دنیا ژوند غولونکئ دئ او مونږ ورځخه تلونکي یو} ۳۰۵
{اهل کتابو الله سره خپلې هوکړې په لږ بیعه خرڅې کړې}..... ۳۰۷
او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د اهل کتابو دروغژن چلند او کینه کښ در
یځ د الله تعالی سره په خپلو تعهداتو او هوکړو کې؛ کلک رسوا کړئ دئ، او فرمایلي دي:
..... ۳۰۷
{د ځمکې او اسمانو پیدایښت د الله د لویو قدرتونو نښې دي}..... ۳۰۸
{څوک چې د الله په لار کې ستونزې ګالي ثواب یې څکي} ۳۱۰
{ د کافرانو په زور واکۍ ده مومنان نه غولیږي }..... ۳۱۱
{ځینې اهل کتابو ایمان راوړ او پر خپل دین یې سودا ونکړه}..... ۳۱۲
{تقوا سره د صبر مومنانو ته د بر یا شرطونه دي} ۳۱۳
د النساء سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر ۳۱٦
{د النساء سورې لنډه پیژندنه او لوی پیغامونه}..... ۳۱٦
{ټول خلک چې د آدم اوحواء کهول دئ الله تقوا ته رابللي دي} ۳۱٦
{د یتیمانو میراث ساتنه فرض ده او ولور د ښځې حق دئ} ۳۱۸
{مشران خپلوان د یتیمانو میراث چلونکي واکمنان دي} ۳۱۹
{د میراث و یش الله کړئ او د یتیم مال خوړونکي یې ګواښلي دي} ۳۲۱
{د میراث برخې د الله تعالی عدالت په تله و یشل سوې دي}..... ۳۲۳

{د زنا تور ثبوت لپاره څلور شاهدان پکار دي} ٣٢٦
{په ناپوهۍ سره د ګناه کړونکي تو به ژر قبليږي}..... ٣٢٨
{د ميړو خپلوان د دوی کونډې په ميراث وړای نسي} ٣٢٩
{د محرمو ښځو سره چې څوارلس ميرمنې دي واده روا ندئ} ٣٣١
{په مومنانو باندې د يو بل پر سر او مال تيرئ حرام دئ}..... ٣٣٥
{مومنان الله د کينو او حسد نه منعې کړي دي} ٣٣٦
{نار ينه ده کورنۍ شخړې پر جرګو او مرکو حل کړي}..... ٣٣٨
{د الله بنده ګي او د مور او پلار خدمت فرض دئ} ٣٣٩
{د اسلام پيغمبر قيامت په ورځ د نړۍ پر امتونو شاهدي وايي} ٣٤٢
{د شرابو په مستۍ کې لمونځ روا ندي او تيمم اودس دئ} ٣٤٣
{يهود د سمې لارې نه ورګتيا په بيعه اخلي}..... ٣٤٤
{ نه ښايي مومنان د ځان ستاينه وکړي او يهودو ده و پيژني} ٣٤٧
{د امانتونو سپارل مومنانو ته او د مشر اطاعت فرض دئ} ٣٥٠
{د يهودو منافقان چې شيطان غولولي ول الله رسوا کړل}..... ٣٥٢
{د پيغمبرانو اطاعت او خبره منل پې فرض دي} ٣٥٣
{ د دښمن سره په جګړه کې ځان ساتنې ته پاملرنه فرض ده} ٣٥٦
{د الله لارې مجاهدين دنيا ژوند د آخرت په ژوند خرڅوي} ٣٥٧
{مرګ په جګړه کې نه بلکې برجونو کې ناستو پسې هم ورځي}..... ٣٥٩
{منافقان ځانونه مسلمان بولي خو په زړو کې توطئې جوړوي }..... ٣٦٢
{د ژوند په نو يو پيښو کې فتوا ورکول د علماوو کار دئ}..... ٣٦٤
{د خلکو اړتياوو حل لپاره شفاعت او سلام اچول ثواب لري}..... ٣٦٥
{د منافقانو پر وړاندې مناسب درېځ غوره کول فرض دي} ٣٦٧
{ د مومن ناحقه قتل لو يه ګناه ده او پر قاتل ديت فرض دئ}..... ٣٧٠
{سلام اچول د ايمان نښه او د امنيت پيغام دئ} ٣٧٢
{د الله په لار کې جهاد لوی فضيلت او لوړ مقام لري} ٣٧٤
{بې وزره مومنان ده د ظالم واکمنۍ نه هجرت وکړي}..... ٣٧٥
{په سفر کې لمونځ لنډيږي او د خوف لمونځ ځانګړې بڼه لري} ٣٧٧
{قرآن په حق او انصاف سره د پر يکړو لارښود پيغام دئ}..... ٣٨٠
{پټې جرګې او د روغې جوړې غونډې د خلکو په منځ کې روا دي}..... ٣٨٤
{مشرکان الله نه بِښي ځکه شرک په کفر کې ورګتيا ده }..... ٣٨٥

{د ښو کړنو خاوندانو انعام په آخرت کې لوی جنتونه دي} ۳۸۷
{کونډو ښځو او یتیمانو ته پاملرنه د ژوند ښادي ده} ۳۸۹
{د میړه او ارتینې په منځ کې روغه جوړه د دوی په خیر ده} ۳۹۰
{د سزا نه په ځان ساتنه کې مومنانو ته د الله سپارښت} ۳۹۲
{عدالت چلول او د هوس نه ځان ساتل فرض دي} ۳۹۳
{څوک چې د ایمان نه وروسته بیا بیا مرتد سي الله یې نه ښي} ۳۹۵
{څوک چې د قرآن سپکاوئ کړي او یکې ورسره حرامې دي} ۳۹۶
{منافقان په خو یونو او صفتونو پیژندل کیږي} ۳۹۸
{ مومنانو پر خلاف کافرانو سره ائتلاف حرام دئ } ۳۹۹
{د ظالم رسوا کول مظلوم ته روا دي} ٤۰۰
{هغه یهود چې الله او پیغمبران یې سره بیلوي کافران دي} ٤۰۱
{د یهودو کینه کښ در یخ د پیغمبر پر وړاندې الله غندلئ دئ} ٤۰۲
{د یهودو ر ښتینو علماوو او مومنانو پر قرآن ایمان راوړ} ٤۰٦
{ ټولو پیغمبرانو ته الله تعالی خپل پیغام وحیه کړئ دئ } ٤۰٦
{د محمدﷺ پر پیغمبرۍ ایمان راوړ ل پر خلکو فرض دي} ٤۰۹
{په دین کې د ځان نه خبرو جوړول او پکې افراط حرام دي} ٤۱۰
{پیغمبرﷺ الله خلکو ته لارښود او قران یې رښا رالیږلې دئ} ٤۱۲
{د هغه مړي میراث و یش چې لونې او زامن ورځخه پاتې نه وي} ٤۱۳
د المائدې سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر ٤۱۵
{د المائدې سورې لنډه پیژندنه او لوی پیغام} ٤۱۵
{په ټرون یا تعهد در یدل او حلال او حرام پیژندل فرض دي} ٤۱۵
{د خوږ غوښه او په خپل سر مړه سوي ځاروي غوښه حرامه ده} ٤۱۸
{ټول پاک خواړه او د ښکار غوښې مومنانو ته حلالې دي} ٤۲۰
{ د اوداسه، غسل او د تیمم حکمونه او څرنګوالئ } ٤۲۲
{د الله سره د ټرون ځار او عدالت چلول فرض دي} ٤۲۳
{مومنان او پیغمبر الله د دښمن بر ید نه خوندي وساتل} ٤۲۵
{د مومنانو ګناه الله په ایمان او عبادت تو یوي او ښي یې} ٤۲۵
{د الله سره تعهدونو ماتولو سزا د کینو ز یږ یدل دي} ٤۲۸
{د اسلام پیغمبر ﷺاهل کتابو ته رښا کونکئ پیغام قرآن راوړ} ٤۲۹
{عیسی علیه السلام ته خدای و یل کفر دئ} ٤۳۰

{اهل کتاب لکه نور خلک د الله بنده ګان دي نه د الله زامن} ٤٣١
{د الله پیرزو ینې پر بني اسرائیلو ېې ساړې وې} ٤٣٣
{د هابیل وژل قابیل په لاس د ناروا وژنو پیل وه او سزاېې ګالي} ٤٣٦
{ناحقه قتل د ټولو خلکو وژلو او وراني خورولو حکم لري} ٤٣٧
{د الله او پیغمبر سره جګړه مارو مفسدانو سزا رازوندوول دي} ٤٣٨
{د الله حکمونو تطبیق او د سزا نه ځان ساتل فرض دي} ٤٤٠
{د غلو لاسونو پر یکول چې کلکه سزا ده فرض دي} ٤٤١
{مومنان ده د کافرانو او منافقانو پر دښمنۍ نه غمجن کیږي} ٤٤٣
{دروغ و یل او حرام خوړل د یهودو تل پاتې خوی دئ } ٤٤٤
{تورات د الله پیغام دئ او پر آیتونو ېې حکم نکړل کفر دئ} ٤٤٥
{په عیسی عليه السلام را نازل سوي کتاب د تورات تصدیق کاوه} ٤٤٧
{قرآن چې پر محمد ﷺ رانازل سوئ پخواني کتابونه مني} ٤٤٨
{ یهودو او نصاراوو سره مینه او ملتیا پر مومنانو حرامه ده } ٤٥١
{هرڅوک چې مرتد سي ځای ناستئ ېې الله تکړه مومن ګرځوي} ٤٥٤
{د یهودو توطئیو رسوا کول مومنان د دوی د شر نه ساتي} ٤٥٦
{د یهودو شیطاني توطئې الله غندلئ او رسوا کړې دي} ٤٥٩
{اهل کتابو ته د ایمان اوجنتونو ته د ننوتلو ورونه بیرته دي} ٤٦١
{د پیغمبر رسالت د قرآن رسول ول او الله ېې ساتونکئ وه} ٤٦٢
{پر قرآن ایمان راوړل پر یهودو او نصاراوو فرض دي} ٤٦٣
{یهودو د پیغمبرانو په وژلو او تکذیب خپلې هوکړې ماتې کړې} ٤٦٥
{څوک چې عیسی عليه السلام ته خدای وایي کافران دي} ٤٦٦
{د بني اسرائیلو کافران خپلو پیغمبرانو لعنت کړي دي} ٤٦٩
{هغه پوښتنې چې پوهیدل ېې په دین کې اړ ین نه وي روا ندي} ٤٨١
{د کافرانو حکمونه د حلالو په حرامولو کې الله غندلي دي} ٤٨٢
{د الله پر حکمونو عمل مومنان د کافرانو ز یان نه ساتي } ٤٨٤
{په وصیت باندې د شاهدانو تیرول فرض دي} ٤٨٦
{د عیسی عليه السلام د پیغمبرۍ معجزو بیان او یادښت} ٤٨٧
{عیسی عليه السلام د هیڅ چا نه ندي غوښتي چې دئ او مور ېې خدایان ونیسي} ٤٩١
{عیسی عليه السلام د خپلو پلو یانو سزا االله ته سپارلې ده} ٤٩٢
د الأنعام سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر ٤٩٥

{د الانعام سورې لنډه پيژندنه او لوړ مقصدونه} ٤٩٥
{د الله تعالى ستاينه پر ټولو خلکو باندې فرض ده}..... ٤٩٦
{کافران د الله لو يو قدرتونو نښونه مخ اړوي اوحق نه مني} ٤٩٨
{د مکې کافران که قرآن په لاسو کې ونيسي وايي به کوډې دي} ٥٠٠
{د پيغمبرانو سپکاوئ د ټولو کافرانو ګډ خوی او در يځ دئ}..... ٥٠١
{قرآن خلکو ته لارښود او د قيامت ګواښونکئ پيغام دئ}..... ٥٠٤
{کافران د حقپالانو پيغامونه خوسې قصې ګڼي}..... ٥٠٧
{رسول الله ته د کافرانو سپکو خبرو پر وړاندې د الله ډاډ} ٥١٠
{ يوازې هغه کسان حق اوري چې زړونه يې ژوندي دي }..... ٥١٣
{د ځمکې پر سر ټول ګرزندوی او الوتونکې خپل رب پيژني} ٥١٤
{د رسول اللهﷺجرګه کافرانو سره د زړو خبرې راباسي } ٥١٥
{هغو امتونو چې پيغمبران ونه منل الله کلک راونيول}..... ٥١٧
{پيغمبران جنتوته ز يري ورکونکي او د دوزخ نه ګواښونکي دي}..... ٥١٩
{قرآن پيغام دئ او مومنانو ده پيغمبر خپل څنګ نه نشړي}..... ٥٢١
{ رسول اللهﷺ پر مومنانو د ډاډ لپاره سلام اچا وه } ٥٢٣
{پيغمبرﷺ او وارثان دې د کافرانو خوښې نه غواړي}..... ٥٢٤
{د پټو شيانو پوهې کيلې يا چاپې د الله سره ده}..... ٥٢٥
{د خوګ او پر خپل مرګ مړه سوي څاروي غوښه حرامه ده}..... ٥٧٣
{نوک لرونکو څارو يو غوښه او د ټولو څارو يو وازده پر يهودو حرامه ده}..... ٥٧٤
{د مکې کافرانو به د خپل کفر او شرك ملامتي پر الله اچوله} ٥٧٥
{د حرامو په بيان کې د الله پر يکنده حکمونه او سپارښتنې} ٥٧٧
{تورات يهودو ته لارښود وه او قرآن الله مبارك رانازل کړئ دئ}..... ٥٧٩
{رسول اللهﷺد هغو کسانو نه بيزاره دئ چې دين يې ټوټه که} ٥٨٢
{الله ټول خلک پر ځمکه د يو بل ځای ناستي کړځولي دي }..... ٥٨٤

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

سريزه

الحمد لله الذي جعل القرآن لنا نورا نهتدي به إلى الحق وإلى سواء السبيل، وصلى الله وسلم على رسوله الأمين المبعوث رحمة للعالمين الذي أرسله الله شاهدا ومبشرا ونذيرا وداعيا إلى الله بإذنه وسراجا منيرا، وعلى آله الطبيين الطاهرين، وعلى أصحابه الغر الميامين وعلى إخوانه المؤمنين إلى يوم الدين.

{د قرآن رښا خلکو ته د ښادۍ پیغام ده}

هو! یقینا چې الله تعالی مونږ ته خپل لارښود پیغام قرآن رښا را لیږلئ دئ، نو ځکه دا مبارك تفسیر ما د دې لاندې مبارکو آیتونو په رښا کې په همدې نامه ونوما وه، نو هغه خلکو ته رښا او د ښادۍ پیغام دئ او په بیان کې الله تعالی فرمایلي دي:

﴿قَدۡ جَآءَكُم مِّنَ ٱللَّهِ نُورٞ وَكِتَٰبٞ مُّبِينٞ﴾[المائدة:١٥]

ای خلکو! یقینا چې تاسې ته د الله لخوا رښا او روښانه کتاب قرآن راغئ، ترڅو مونږ د قرآن په رښا کې سمه لار بیامومو او حق ته ورسیږو او د ورکتیا نه خلاص سو، لکه څنګه چې الله تعالی فرمایلي دي:

﴿مَا كُنتَ تَدۡرِي مَا ٱلۡكِتَٰبُ وَلَا ٱلۡإِيمَٰنُ وَلَٰكِن جَعَلۡنَٰهُ نُورٗا نَّهۡدِي بِهِۦ مَن نَّشَآءُ مِنۡ عِبَادِنَاۚ وَإِنَّكَ لَتَهۡدِيٓ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ﴾[الشورى: ٥٢]

[هو! ای پیغمبره! ته نه پوهیدلې چې کتاب (قرآن) څه شئ دئ؟ او ایمان څه شئ دئ؟ خو دا کتاب قرآن مونږ رښا وګرځا وه، او مونږ چې څوک د خپلو بنده ګانو نه وغواړو؛ نو بیا هغه پدې کتاب سره سمې لارې ته سموو، او ته ای پیغمبره! یقینا چې سمې لارې ته لارښود استازئ یې] او

بیا مونږ د الله تعالی پر توحید او د هغه پیغمبرﷺ پر رسالت او پیغمبرۍ او د قرآن پر ر ښتینوالي او حقانیت باندې ایمان راوړو او هغه مونږ ومانه، لکه څنګه چې الله تعالی د زمونږ نه دغسې ایمان غوښتئ دئ، او په بیان کې فرمایلي دي:

﴿فَـَٔامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَٱلنُّورِ ٱلَّذِيٓ أَنزَلۡنَاۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِيرٞ﴾ [التغابن:٨]

[نو ای خلکو! پر الله او پر پیغمبر یې او پر هغه رڼا (قرآن) ایمان راوړئ چې هغه مونږ را نازله کړې ده، او الله د ستاسې کړنو نه ښه خبر دئ] او بیا به الله تعالی فلاح او بر یا زمونږ په برخه کړي او نیکمرغه به سو، لکه څنګه چې یې فرمایلي دي:

﴿وَٱتَّبَعُواْ ٱلنُّورَ ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ مَعَهُۥٓۙ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ﴾ [الأعراف:١٥٧]

[او متقیان هغه کسان دي چې دوی هغې رڼا پسې لاړل چې هغه د رسول الله سره را نازله سوه، او هغوی دي بر یالي او سر لوړي] ځکه قرآن برهان او رڼا ده، لکه څنګه چې الله تعالی فرمایلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدۡ جَآءَكُم بُرۡهَٰنٞ مِّن رَّبِّكُمۡ وَأَنزَلۡنَآ إِلَيۡكُمۡ نُورٗا مُّبِينٗا﴾ [النساء:١٧٤]

[ای خلکو! یقینا چې تاسې ته د ستاسې لوی څښتن الله لخوا یو پوخ دلیل راغئ او مونږ تاسې ته ځلانده رڼا راکوزه کړه چې هغه قرآن ده] او الله تعالی مونږ د قرآن په رڼا کې د فتنو نه خوندي کوي، لکه څنګه چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي:«ستكون بعدي فتنٌ، فسأل عليٌ رضي الله عنه: وما المخرج عنها؟ فقال رسول اللهﷺ: كتاب الله...» الحديث، رواه الترمذي، ژ باړه: [هو! د زما نه وروسته به ډیرې فتنې را ولاړې سي! نو بیا علی رضي الله عنه و پوښتل: د خلاصون لار څه ده؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: د الله کتاب...الخ] دا حدیث امام ترمذي روایت کړئ ده.

درندو دوستانوو! نو همدې قرآني لارښودنو او د رسول لله ﷺ پیغام ته په کتو سره؛ الله تعالی د زما په زړه کې دا هیله را واچوله چې زه د قرآن

کر یم پښتو معنا سره د لنډ دعوتي تفسیر خپل قوم ته ولیکم، نو بیا د دې لنډ تفسیر د لیکلو اسباب را ته الله تعالی برابر کړل، او بیا [د قرآن رڼا] دا لنډ دعوتي تفسیر ما ولیکه، او دا دئ اوس هغه زه الحمد لله تاسې درندو دوستانو ته وړاندې کوم، نو هیله ده چې الله تعالی مونږ ته او د زمونږ ټولو عز یزانو او درانده ولس ته د قرآن په رڼا کې ژوند را په برخه کړي، ترڅو د الله تعالی په ټولو حکمونو، سپارښتنو او لارښودنو عمل وکړو او په رڼا کې یې د خپل ژوند ټولې چارې سمبال کړو او د دنیا او آخرت نیکمرغي وګټو، او د قیامت په ورځ د الله تعالي په حضور کې سپین مخي او سرلوړي ښاد سوي ودر یږو(وما ذلك على الله بعز یز) دا کار الله ته سخت ندئ.

❁❁❁

{د قرآن ژباړې پښتو تفسير د ليکلو او د معنا ژ باړې تګ لاره}

۱) [د قرآن ژباړه] دا مبارک لنډ دعوتي تفسير ما هغو لوستونکو ته ليکلئ دئ چې په عربي نه پوهيږي، خو په قرآن مين دي او غواړي چې په معنا يې پوه سي او د قرآن په ژباړه کې ژوند وکړي، او همدارنګه دا مبارک تفسير ما د جوماتونو قدرمنو امامانو او د قرآن مبلغينو، دعاتو، مدرسينو او استاذانو ته ليکلئ دئ چې دوی پښتو لوستلای سي او پرې پوهيږي او د قرآن مجيد معنا او تفسير خلکو ته بيانوي، نو ځکه د قرآن معنا په روانه پښتو ليکل سوې ده، او د حرفي ژ باړې يا ترجمې نه پکې په کلکه سره ډ ډه سوې ده، او تفسير هم ډير لنډ دئ، او د قرآن عربي نص يا متن پښتو معنا او لنډ تفسير، او دعوتي لارښودنو نه پرته بل هيڅ څه شئ پکې نسته، ځکه نور ټول فقهي مسائل، احکام او اړوند نورې ډيرې لغوي او تار يخي مسئلې؛ نورو ښو ډيرو پخوانيو او اوسنيو درندو علماوو او مفسر ينو په پښتو او په نورو مختلفو ژ بو بيان کړې دي، نو ځکه پدې لنډ تفسير کې ورته اړتيا نه ليدل کيږي.

۲) د هرې سورې آيتونه د هغې موضوع يا مضمون سره سم په ټولګيو يا مجموعو و يشل سوې دي، او هرې مجموعې ته ځانګړئ عنوان او سرليک غوره سوئ دئ، ترڅو لوستونکئ پکې ښه ژور فکر وکړي او د الله تعالى په مقصد او غرض باندې ښه په اسانۍ سره پوه سي او عملي کولو ته يې تيار او چمتو سي.

۳) هو! [د قرآن ژباړه] د دې لنډ دعوتي تفسير؛ لوی مقصد او هدف دعوت او تعليمي لارښودنې دي، نو لکه څنګه چې وړاندې يادونه وسوه؛ د ډيرو بحثونو نه پکې ډ ډه سوې ده، او د اختلافي مسئلو راپارولو نه خو بالکل خالي دئ [پرته د الحج سورې تلاوت سجدو نه چې پکې د اختلاف لنډه يادونه سوې ده] او همدارنګه د ټولو مسئلو يادونه او بيان د قرآن عربي نص يا متن ښکاره معنا سره موافق دئ، او پکې هيڅ ډول حاشيوي بحثونه او تاو يلونه نسته، ځکه يوازې د قرآن کر يم په ښکاره معنا

باندې اکتفا سوې ده او حاشیوي خبرې پکې نسته.

٤) د توحید مسئلې د قرآن مبارکو آیتونو د ښې روښانه او قاطع معنا سره سم او د اهل سنت او جماعت منهج او تګ لارې سره موافق لنډې یادې سوې او څېړل سوې دي.

٥) [د قرآن ژباړه] پدې لنډ تفسیر کې د روایاتو راوړل ډیر لږ دي او هغه هم ټول منل سوي صحیح روایتونه دي او ضعیف روایتونه پکې هیڅ نسته، او همدارنګه د اسرائیلي روایتونو نه په کلکه سره ډ ډه سوې ده.

٦) د هر مبارك آیت معنا ځان ځان ته بیان ســوې ده، خو د هغو آیتونو معناګانې چې ســره نښــتې دي، هغه بیا یوځای په ګډه ســره نــې روښانه پښتو معنا سوي دي، یعنی دا آیتونه بیل بیل ندي معنا سوي.

٧) او هر کله چې د یوه آیت معنا د لا ډیر وضاحت ته اړ سوئ یم، نو د روانې معنا سره یوځای یې په تفسیر کې وضاحت سوئ دئ، خو هغه د دود لیک دغسې [ ] معکوفو نښو په منځ کې؛ د قرآن الفاظو معنا نه بیل لیکل سوئ دئ، ترڅو د لوستونکي پام سې چې هغه د مفسر وضاحت دئ نه د قرآن عربي متن معنا یا ژ باړه، او دغه تفسیري وضاحت د اړتیا او د سیاق سره سم، کله د آیت په پیل کې وي او کله د آیت په منځ کې او کله هم د آیت په پای کې، خو که د آیت معنا وضــاحت د آیت په پای کې وي، نو بیا د (یعنی) کلمې په لیکلو سره د معکوفتین[ ] نښې نه پرته بیان سوئ او روښانه سوئ دئ.

٨) د قرآن مبارکو آیتونو د هرې مجموعې په پای کې د الله تعالی سپارښتنې او لارښودنې په نښه سوې او بیان سوې دي، او هغه ما خپلو درندو لوستونکو ته را لنډې کړې دي، ترڅو هر لوستونکئ دا سپارښتنې په نښــه ژور فکر ســره ولولې او ګټه ورڅخه واخلي، او دغســې لنډیز بیا نورو ډیرو درندو مفسر ینو د (فوائدو) ترعنوان لاندې بیان کړئ دئ.

٩) [د قرآن ژباړه] پدې مبارك تفسیر کې تل ما ز یار و یستلئ او کوشش مه کړئ دئ چې د ضمائرو پرځای اسم الظاهر وکاروم، ترڅو لوستونکئ

په اسانۍ سره د آیت په معنا پوه سي، او دا طریقه د آیتونو په پیل کې ډیره کارول سوې ده، لکه دا لاندې بیلګې:

۱- (ایاك نعبد) ای لو یه ر به! یوازی د ستا عبادت کړو.

نو د [ای لو یه ر به!] کلمه د آیت معنا په پیل کې پرته له دغسې [ ] لیک دود نښې یا معکوف قوس نه اضافه سوې ده.

۲-(إنك میت و إنهم میتون) معنا یې داسې سوې ده: [ای پیغمبره! ته یقینا مرې او کافران هم په یقین سره مري]

۳- (أتأمرون الناس بالبر وتنسون أنفسکم) نو معنا یې داسې سوې ده: [ای یهودو! آیا تاسې نورو خلکو ته په نیکو کړنو امر او سپارښت کړی او خپل ځانو نه هیروی؟]

٤-د ځینو کلمو او جملو مرادفاتو د لنډ وضاحت لپاره د قوس او لیندۍ دغه نښه کارول سوې ده ( ) لکه: اهل کتاب (یهود او نصارا) د موسی علیه السلام ورور(هارون) او دې ته ورته وضاحتونه.

۱۰) او د دې وضاحت یادونه هم دلته د پام وړ بولم چې د زما خبرو لهجه د پښتنو هغه لهجه ده چې زمونږ کلیوال ور باندې غږ یدل، او دا لهجه ما په ورکتوب کې اور یدلې ده او ور باندې غږ یدلئ یم ، او بیا چې کله زه د (ظاهر خان) د دیمکراسۍ په لمړ یو کلونو کې (۱۳۴۷هـ ش) کال کې کابل ته لاړم او د کابل عربي دار العلوم زده کونکئ سوم، نو د (هیواد) په پښتو ورځ پاڼه کې به ما اشتراک که، او د مدرسې پښتو لوست کتابونو په څنګ کې به د (هیواد) ورځ پاڼه هم ما تل لوستله، او بیا وروسته د هجرت په کلونو کې د جهاد پښتو او فارسي جر یدې او مجلې ما تل لوستلې، او د پښتو نړۍ والې رادیو یې خپرونې هم ما اور یدلې، او زه خپله هم څه باندې اته کاله د جدې نړۍ والې رادیو په پښتو څانګه کې و یاند او لیکوال پاتې سوئ یم، خو د دې سره سره د زمونږ کلیواله لهجه د ټولو خوروړو پښتنو د هر کلي او باندې لهجې غوندې ځانګړي لهجه ده، او په هغه کې، لکه د نورو ډیرو پښتنو لهجې دا لاندې کلمې او توري داسې لوستل کیږي:

(شـه = ښـه. راشـه = راسـه. مورِ، او موژ= مونږ. ورځځه= ورسـکه. کښې= کې. ژوند= زوند. څښـکل = چکل، او ديته ورته څه نورې کلمې چې پکې (څ چ ز ږ ژ س ش ښ) د پښـتو ځانګړي توري اسـتعمالیږي، نو دا مسـاوي يا برابره دو يمه لهجه يې د زمونږ او د ډيرو نورو پښـتنو منل سـوې فصيحه لهجه ده، که څه هم د ظاهرخان پاچايي دورې ډير لوسـتونکي او ليکوالان چې په پښـتو ټولنه کې يې کار که؛ د لمړۍ لهجې کليو اوسـيمو پښـتانه ول[لکه وردګ او د مشـرقي ولاياتو پښـتانه] خو د هغوی لهجه هيڅکله يوازنۍ معياري لهجه نه شـميرل کيږي، بلکې د ټولو پښـتنو ژ بنۍ لهجې معياري او فصـيحې دي او توحيد يې په يوه لهجه کې؛ سـتونزمن کار دئ، ځکه هغه اوږدو علمي څيړنو او تحقيقاتو ته د ټول پوښـتنې لارې نه اړتيا لري، ترڅو معلومه سـي چې کمه لهجه اکثريت ده؟ خو د دې وضـاحت سـره سـره بيا هم؛ زه په ډيرو کلمو کې د خپلې لهجې نه تير سـوی يم او د اوسـنيو ليکوالانو لهجه ما پکې غوره کړې ده، ځکه هغه د اوسـني معارف او مکتبونو په زدکيال نسل کې ډيره خوره ده.

١١) هو! درندو دوستانو! (ی) چې د عربي او پښـتو ګډ تورئ دئ او[ی] په پښـتو کې د هغې کارولو سـره سـم خپل بيل بيل غږونه لري او په پنځه ډوله دود ليک سـره ليکل کيږي چې په پښـتو کې ورته پنځه ياګانې وايي او هره (ی) خپل نوم لري او هغه په کوزو او برو پښـتنو کې د څه ډير لږ فرق او تو پير سـره؛ يو ډول ليکل کيږي، خو ما په ځينو ياګانو کې د (ی) غږ په پام کې نيولو سـره؛ خپل دود ليک غوره کړئ دئ،او بيلګې يې دا دي :

- نرمه (ی)چې خپله ساکنه وي او مخکې تورئ يې زور لري، لکه (پسـرلی، منګی او ليونی) نو د دې (ی) د غږ غوښـتنه دا ده چې همزه يې پرسـر وليکل سـي، لکه: (پسـرلئ، منګئ، ليونئ) نو ځکه د دې (ی) ليکل ما د همزه سـره غوره کړي دي او هغه تل د همزه سـره ليکل سـوې ده.
- يې ټکو(ی) چې په کابلي دود ليک کې ورته امر يه (ی) وايي، لکه: (وليکئ، ولولئ) حـال دا چې د امر يـه (ی) غږ مؤنثې (ی) تـه ورتـه دئ، نو دغـه امر يه (ی) ما په لکۍ سـره ليکلې ده، ځکه هغه مؤنثې (ی) ته ورته غږ

لري، لکه: (ولیکی، ولولی، وخوری) او دا دود لیک د (ی) غږ سره موافق دئ، او بې ټکو(ی) چې پرته له (ء) لیکل کیږي؛ هغه په لاندې کلیمو کې لیکل کیږي، لکه: (لوی، ای، وای)

- د دوه لاندې باندې ټکو(ی) چې هغه ساکنه وي او مخکې تورئ یې نرم ز یر لري، لکه: (ښځې، ښکلې، خوږې، تروې) او دا (ی) که د کلمې په پای کې وي نو په لاندې باندې ټکو سره لیکل کیږي، لکه پورتنۍ بیلګې او که د کلمې په منځ کې وي، نو ځینې اوسني لیکوالان هغه هم په لاندې باندې ټکو سره لیکي، خو ما هغه تل څنګ په څنګ ټکو سره لیکلې ده، لکه: (بیلګه، کیږي، ر یښتیا) ځکه داسې لیکل یې ښه ډیر خواره دي او د کلمې غږ سره یې تو پیر د سیاق نه ښه څرګند بیلیږي.

قدرمنو عز یزانو! د پښتو ژبې لهجو په باره کې دا وضاحت هم دلته ځکه پکار دئ چې په پښتنو کې د لهجو دغسې تو پیر ښه ډیر خور دئ او ټولو پښتون میشتو سیمو کې په شمال، جنوب، ختیځ او لودیځ کې داغسې تو پیر سته او ټول پښتانه لا تر اوسه په یوه لهجه نه غږ یږي، نو هیله ده چې د ګرانو لوستونکو پام د پښتو لهجو دغسې ژ بني اختلاف ته په دود لیک او په غږ یدلو کې وي، او دا اختلاف د الله تعالی د لو یو قدرتونو نښه و بولي، لکه څنګه چې الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦ خَلْقُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَٱخْتِلَٰفُ أَلْسِنَتِكُمْ وَأَلْوَٰنِكُمْ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّلْعَٰلِمِينَ﴾[الروم:۲۲] ژباړه: [ای خلکو! او د الله لو یو قدرتونو نښانو نه د اسمانو او د ځمکې پیدایښت او د ستاسې د ژ بو او رنګونو اختلاف او تو پیر دئ، او پدې کې پوهانو ته د الله لو یو قدرتونو نښاني څرګندې ځلیږي] نو ښایي چې مونږ یو بل پکې ملامت نکړو او هیڅ څوک خپله کلیواله لهجه پر نورو لهجو باندې غوره یا معیاري ونه بولي، بلکې ټولې لهجې منل سوې او فصیحې لهجې دي، او هر پښتون حق لري چې پرخپله مورنۍ ژ به لیک او لوست وکړي، ترڅو د الله تعالی د لو یو قدرتونو نښې پکې همداسې ښې وځلیږي، لکه د قرآن شر یف قراءات چې په قرآن کې لس مشهور منل سوي قراء تونه دي، او بیا چې کله یو افغان

شموله اسلامي نظام په خير راغئ، نو بيا به ان شاء الله په علمي بنسټ ولاړه متحده لهجه غوره سي او تعليمي نصاب او رسنيز به پکې يوځای توحيد سي!

۱۲- او دا يادونه هم دلته ضروري او اړ ينه ده چې يقينا د اسلامي فتحې نه وروسته تر اموي دولت پرز يدلو او سقوط پورې؛ د ليک لوست ژ به په اوسني افغانستان او په ټوله جنوبي او مرکزي آسيا کې؛ پوره څه باندې يوه پيړۍ؛ عربي ژ به وه، نو ځکه په پښتو، فارسي، اوز بيکي او اردو ژ بو کې عربي الفاظ شپه ډير ننوتي دي او هغه اوس د پښتو، فارسي او اردو برخه ګرځيدلې دي، نو ما پدې مبارك دعوتي لنډ تفسير کې هڅه کړې ده چې هره عربي کلمه په شپو روښانه عربي تورو يا حرفونو وليکم، نه لکه ځينې اوسني پښتون پالي پښتانه ليکوالان چې غواړي عربي کلمې تحر يف کړي او د عربي اصلي توري ورځخه و باسي لکه دا لاندې بيلګې: معلوم، عامل، مقصد، بيعه، معنا او داسې نورې ډيرې کلمې چې اوسني ليکوالان د عربي ژبې اصلي توري ورځخه باسي او داسې ليکي: مالوم، لاميل، موخه، بيه، مانا...او دا کار د بده مرغه د هغو کسانو پټ غرضونو لوڅه وي چې دوی غواړي پښتانه د ترکانو او ځينو نورو ډيرو مسلمانو ولسونو غوندې د عربي ثقافت يا فرهنګ نه بيل کړي، او لاتيني ژبې توري د عربي ژبې تورو پرځای پکې ځای پر ځای کړي، ترڅو د پښتونو فرهنګي اړ يکې د خپل دين او خپل تار يخ سره چې په عربي حرفونو ليکل سوئ دئ؛ قطع او پر يسي، او راتلونکي نسلونه ونسي کولای چې د خپل دين او تار يخ نه خبر سې، او د خپلو هغو نيکونو په پله لاړ سي چې تل يې يرغلګرو لښکرو سره جهاد او پر وړاندې يې مقاومت کړئ دئ.

{(د قرآن رڼا) پښتو لنډ دعوتي تفسير د ليکلو پړاوو نه}

الحمد لله چې (د قرآن رڼا) پښتو معنا او د لنډ دعوتي تفسير د ليکلو توفيق ما ته الله تعالی راکه، خو پړاوو نه يې ډير اوږده ول، او پدې کره

کتنو کې د شیږم او ووم پړاو نه تر اتم پړاوه پورې؛ دا کره کتنه[چې اوس د لمړي پړاو نه تر لسم پړاو وه پورې وغز یده] په داسې وخت کې ترسره سوه چې مونږ د ټولې نړۍ ولسونو سره یوځای د کرونا نړۍ والې ساري ناروغۍ یا و باء د پیل کال په کلکو بندیزونو کې تیر کړل او په کورو کې ناست پاتې سوو، او (د قرآن رڼا) لنډ تفسیر پیل نه تر اوسه چې د (١٤٤٥هـ ق) کال د ربیع الثاني مبارکې میاشتې پای دئ؛ څه باندې اته کاله تیر سول، ځکه د دې مبارك تفسیر د لیکلو پیل د (١٤٣٦هـ ق) کال د ذي القعدې میاشتې په لمړۍ ورځ وه، او هغه د ۲۰۱۵ میلادي کال آګست سره سمون خوري چې اوس د ۲۰۲۳م کال نوامبر برج دئ، او د هـ ش ۱۳۹۴کال اسد یا زمري برج د وروستۍ اونۍ سره سمون لري، او اوس هم د ١٤٠٢هـ ش کال د عقرب یا لړم برج سره سمون لري.

- **{لمړئ پړاو}** دا تفسیر ما په پیل کې د جدې نړۍ والې رادیو پښتو څانګې ته ولیکه، او بیا هغه ما ټول په (۳۱۶) برخو کې د حرمین شریفین امامانو د تلاوت سره کډ د مکې مکرمې رادیو ستدو یو کې ثبت یا ر یکارد او بیا خور او نشر که، او الحمد لله د دې لوی خدمت توفیق ما ته او د زما غګیز تفسیر ثبتونکي او تنظیم کونکي تخنیکي ملګري مهندس/ سالم بن محمد بلقاسم ته الله تعالی پدې شرط را که چې د رادیو مشرانو مونږ ته اعلان وکه: د تفسیر پروګرام مکافات یا حق الزحمه نه لري او هغه به رضا کارا نه وي، نو بیا مونږ دواړو دا شرط په خوښۍ او په لوی افتخار سره الحمد لله ومانه [هو؛ قدرمنو دوستانو! دا یادښت دلته زه یوازې د الله تعالی لوېې پیرز ینې د یادونې په مقصد کوم، ځکه الله تعالی په والضحی سورت کې فرمایلي دي:"وأما بنعمة ر بك فحدث"(ای پیغمبره! او د خپل رب پیرزوینو نه وغږ یږه او هغه را یادې کړه) نو د دې الهي حکم لاندې د رسول الله ﷺ ټول امت داخل دئ، او یقینا چې (د قرآن رڼا) پښتو لنډ دعوتي تفسیر تالیف؛ پر ما باندې د الله تعالی لو یه پیرزو ینه وه، نو دعاء کړم چې الله تعالی ده زما دا ز یار او اوږد زحمت ایستل قبول کړي، او هغه ده یوازې د خپلې

رضا او خوښۍ لپاره وکړئوي، او ثواب دې الله تعالى ما ته او د زما مور او پلار او د زما ټولو استاذانو ته ورسوي، او درندو لوستونکو او کرانو اور يدونکو ته دې الله تعالى د دې عظيم کتاب د ښــه پوهاوي او په هغه باندې د عمل کړو سبب وکړئوي، آمين يا رب العالمين!]

{دويم پړاو }او بيا د دې مبارك تفسير په دو يم پړاو کې د زما قلمي تفسير زما مشرې لور حافظه/ ام جود مر يم البتول وفقها الله واجزل مثو بټها؛ په کمپيوټرکې وليکه، او بيا هغه ما په خپل کمپيوتر کې په ډير دقت سره په وار وار سره ولوست، او په لمړي ځل کې هغه ما په اتلسو مياشتو کې هر اړخيزه تصحيح که، ځکه د زما ټول کهول زده کړی عربي دي او په پښتو کې يې هيڅ زده کړه نده کړې، خو بيا هم ما شاء الله ام جود (جزاها الله خيرا) لوی ابتکار وکه او په کمپيوتر کې يې د ټول تفسير په ليکلو سره د زما کار ډير را لنډ او اسانه که، ځکه ما په کمپيوټر کې هيڅ تمرين او تجر به نه درلوده، او د زما نور ټول عربي، فارسي او پښتو تاليفات او ترجمې بل چا او د زما کهول را ته ليکلې دي، نو زه دوی ټولو ته او د دې تفسير په ليکلو کې حافظی/ ام جود وفقها الله ته چې د قرآن کر يم د قرآءاتو استاذه ده؛ په ځانګړې ډول د زړه له کومي دعاء کړم، او وايم چې الله تعالى ده هغې ته په دنيا او آخرت کې ښادي او نيکمرغي ور په برخه کړي او د هر ډول مصيبتونو نه دې الله تعالى په خپل فضل او لوی رحمت سره وساتي، آمين يا رب العالمين !

- **{در يم، څلورم، پنځم، شپږم، اووم، اتم، نهم اولسم پړاوو نه }**

او بيا په در يم پړاو کې (د قرآن رښا) دا لنډ پښتو دعوتي تفسير ما په غور ســره ولوســت او تصحيح مه که، او په څلورم او په پنځم پړاو کې بيا دا مبارك تفسير په کاغذي پاڼو کې تصــو ير ســوئ په چاپي نسخه کې په وار وار سره ما خپله تصحيح که، ترڅو چې په شــپږم او په او ووموو او اتمو پړاوونو کې په کره کتنې ســره [د قرآن رښا] دا لنډ تفسير په داسې حال کې چاپ ته الحمد لله تيار سه چې ما د هغه لمړئ ټوک خپلو ځينو دوستانو علماوو، پوهانو او درندو

مولو یانو ته په افغانستان او پېښور کې د لندې کتنې لپاره ولیږه، او بیا د دوی ځینی علمي نظر یات او وړاندیزونه ما په پام کې ونیول (جزاهم الله جمیعا کل خیر) نو دعا کړم چې الله تعالی ده دا مبارك تفسیر ټولو هغو لوستونکو ته چې دوی پښتو لوستلای سي او ور باندې پوهیږي او د قرآن پوهې سره کلکه مینه لري؛ حق لارې ته د رڼا چراغ وګرځوي،او همدارنګه ده الله تعالی زما غګیز تفسیر درندو اور یدونکو ته د قرآن پوهې او ور باندې د عمل کړو؛ رڼا وګرځوي، ترڅو د الله تعالی کتاب په معنا ښه پوه سي او هغه په ژوند کې خپل ځان ته لارښود غوره کړي، او ما ته هم تل دعاء وکړي، آمین یارب العالمین!

{ځانګړې مننه او دعاء}

د هرڅه نه ړومبۍ د الله تعالی لو یو پیرزو ینو شکر باسم چې الحمد لله د شرعي علم زده کړه یې زما په برخه کړه او توفیق یې را که چې خپل لوړ تحصیلات تر دکتورا علمي درجې یا رتبې پورې د مکې مکرمې ام القری پوهنتون کې سر ته ورسوم، او په ١٤٠٨هـ ق کال چې د ١٩٨٨م کال سره موافق دئ د دکتورا درجې علمي برئ لیک یا وثیقه په مقارنه فقه کې په اعلی او ممتازه درجه الحمد لله لاس ته را وړم، او بیا په ١٤١٠هـ ق کال الله تعالی ما ته د اسلامي نړۍ رابطې (رابطة العالم الإسلامي) د شرعي او دعوتي علومو عالي معهد یا انستیتوت کې د تدر یس توفیق را په برخه که، او همدارنګه د ام القری پوهنتون کې د اسلامیاتو همکار استاذ پاتې سوم، نو د الله تعالی دا لو یه پیرزو ینه پر ما باندې یقینا چې یوازې د زما لوی رب الله پیرزو ینه وه، او بیا خپلو ټولو هغو استاذانو ته دعاء کړم چې ما خپله لمړۍ زدکړه د دوی نه په کلي کې پیل کړه، او بیا د جوماتونو وړو مدرسو او بیا د کابل عربي دارالعلوم مدرسې نه تر کابل او د مکې معظمې پوهنتونونو ورسیدلم، نو الله تعالی ده زما ټول استاذان و بښي او درجې دې په جنتونو کې لوړې کړي، او په ځانګړې ډول خپل مرحوم پلار ملك اسد الله خان (لا لا) رحمت الله علیه ته د بښنې او د مغفرت

غوښتنې دعاء کړم، ځکه هغه مرحوم چې زه يې کشر او بې موره را لوی سوئ ګران زوی وم؛ په خوښۍ سره د ۱۳۴۲هـ ش کال په مني کې سبق پسې ولیږلم، او بیا چې کله ورو ورو زه ملا کیدلم؛ ښه ډیر يې نازولم، او دا چې دئ [غفره الله تعالى وتغمده في رحمته] د خپل قوم سپینګیرئ مشر وه، نو تل بې زه د مجلس په سر کې خپل څنګ کې کینولم او د زما منبري وعظ ته به يې کلک غوږ و یسته، نو الله تعالى ده ور باندې ورحمیږي [وغفره الله وعفى عنه بفضله ورحمته، كما استغفر الله العظيم رب العرش الكر يم للوالدة التي فارقت الحياة في ولادة مولودها الثاني بعدي وأنا طفل رضيع فرحمة الله عليها رحمة واسعة وحشرها الله مع الشهداء والصالحين]

هو! زه خپل ګران خداى ښلي ابا خپلو درندو دوستانو ته:۱- لمړئ حاجي ملا صاحب عبدالبصير اتمانخيل رحمت الله عليه ته چې د چهار يکار ابدي باى ملا عبد الجليل رحمة الله عليه مشر زوی وه؛ په ورکتوب کې وسپارلم، او بیا يې حاجي ملا صاحب/ لعل محمد (رحمت الله عليه) د کوشان سرور کلي مرحوم شرف الدين بابا زوی ته د چار يکار قلعه يې لالا میرخان کلي کې؛ وسپارلم [ځکه په هغه وخت کې زمونږ په کلیو کې نه مدرسه او نه مکتب] نو د دوی دواړو ملا صاحبانو ښې روزنې په برکت زه الحمد لله د تفسیر تالیف مقام ته ورسیدلم، نو دعاء کړم چې الله تعالى ده دوی دواړو ته، او په خاص ډول حاجي ملا صاحب لعل محمد سروري رحمت الله عليه ته چې د زما ټولې لمړنۍ دورې زدکړې د هغه نه وې اجر عظیم او لوی ثواب ورکړي او جنت الفردوس ده الله تعالى د دوی په برخه کړي، او همدارنګه دعا کړم چې الله تعالى ده زما نورو ټولو افغاني استاذنو ته د جوماتونو په مدرسو کې او بیا د کابل په عربي دار العلوم کې، او همدارنګه د کابل پوهنتون شرعیاتو په پوهنځي کې اجر عظیم ورکړي، او همداسې ده الله تعالى د زما عربي ازهري استاذانو ته د مکې معظمې شرعیاتو په پوهنځي کې جنت الفردوس په نصیب کړي، او الله تعالى ده مونږ ټول په سپینو مخونو خپل حضور کې په هغه ورځ ودروي

چې هیڅ چا ته په هغه ورځ د هغه مال او زامن څه ګټه رسولای نسي، مګر دا چې څوک په روغ او پاک زړه سره الله ته ورسي، او همدارنګه ټولو هغو علماوو ته دعاء کړم چې زما سره یې په مکه مکرمه کې معنوي مرسته کړې ده او د تدر یس زمینه یې را ته برابره کړه، او د دوی نه په ځانګړي ډول محترم الشیخ دکتور/عبد العزیز بن عبد الله الحمیدي ته چې د اسلامي نړۍ رابطې د عالي معهد یا انستیټوت مشر او عمید وه، او جناب معالي الشیخ دکتور/ صالح بن عبد الله بن حمید د مسجد الحرام امام او خطیب ته چې زما سره یې زما د عملي ژړتد کارونو په اسانتیا کې تل مرسته کړې ده؛ دعا کړم، او وایم: جزاهم الله جمیعا کل خیر وجعل ذلك في مواز ین حسناتهم، آمین یارب العالمین، او الله تعالی ده دوی ټولو ته لوی لوی ثوابونه چې هغه د الله تعالی جنتونه دي ورکړي، او همدارنګه د ټولو هغو درندو مولو یانو ملګرو نه منندوی یم چې دوی ځینې پښتو لنډ تفسیرونه او د پښتو قاموس ما ته د کابل او پیښور نه راولیږل، او په ځانګړي ډول د مولوي محمد هاشم بن محمد یعقوب اتمانخیل غوربندي حفظه الله نه چې د زما سبق لمړۍ ملګرۍ وه، نو الله تعالی ده دوی ټولو ته اجر عظیم ورکړي، او همدارنګه د جلال آباد پوهنتون؛ هغو قدرمنو پوهاندانو دکتورانو او مولو یانو ته دعا او ورڅخه مننه کوم چې دوی د قرآن رڼا د دې لنډ تفسیر لمړي ټوک ځینې برخې وکتلې او د خپلو ګټورو نظر یاتو او وړاندیزونو نه یې زه برخمن کړم، نو دوی ټولو ته ده الله تعالی جزای خیر ورکړي، او د دوی تقر یظونه او ستاین لیکونه د تفسیر په پای کې درج سوي ثبت دي.

او د مکې مکرمې په رادیو کې په ځانګړي ډول د خپل تخنیکي همکار مهندس/ ابو خالد سالم بن محمد بلقاسم نه کلکه مننه کوم او دعاء ورته کړم چې دا تفسیر یې ټول په استدیو کې ثبت او تنظیم که او بیا یې د هغه (۳۱۶) برخو سیدیګانې ما ته کاپي کړې، او دا دۍ هغه غګیز تفسیر اوس زه (الحمد لله) هره اونۍ د نیټ لارې نه په ټولیټزو رسنیو کې، لکه فیسبوک، تلګرام، واتساپ او یوتوپ کې نشر ته سپارم، نو الله تعالی دې

ثواب محترم ابو خالد ته په آخرت کې ورکړي او په دنيا کې دې د خپلې کورنۍ سره نيک مرغه او په خير لري.

او په پای کې پرخپل کور کې د خپل کهول درندې مور بي بي حاجي ام حبيب جزاها الله خيرا نه مننه‌وی يم چې په اوږده صبر سره يې زما د تفسير کمپيوټري مراجعه په ګډه کوټه کې څه باندې درې کاله تحمل کړه، نو ورته دعاء کړم چې الله تعالى دې په دنيا او آخرت کې نيکمرغه او ښاده کړي، او د خپل مشر زوی حافظ استاذ/ حبيب الرحمن ابوهدا نه چې په اسلامي ثقافت کې د ام القرى پوهنتون نه تر ماسټري لوړې درجې فارغ دئ؛ مننه‌وی يم، ځکه هغه په ټول تفسير کې د قرآن کر يم آيتونه د مصحف سره په مطابقت کې وکتل او د ټولو پوره ليکلو نه يې زه ډاډه کړم، او همدارنګه په ځانګړي ډول؛ د حافظ مهندس/عبدالرحمن ابوحمزه مکي نه چې د زما زحمت کش زوی دئ؛ کلکه مننه کوم چې په کمپيوټري ليکنه کې هغه تل د زما مرستندوی وه، او د چاپ لمړي او بيا وروسته د چاپ دو يم ځل تنظيم او برابول او pdf د هغه کار دئ، او لکه څنګه چې مخکې يادونه وسوه د خپلې مشرې لور حافظې استاذې/ ام جود مر يم البتول (أسعدها الله في الدارين) نه ډيره ډيره مننه کوم چې (د قرآن رڼا) ټول تفسير يې په کمپيوټر کې ليکلئ او تيار کړئ دئ، او بيا يې په دو يم ځل تصحيح کې را سره مرسته وکړه، او همدارنګه د زما در يم زوی قاري استاذ حسن اسدالله ابو صالح وفقه الله ته د لار ډير توفيق دعا کړم، ځکه هغه د زما غګيز تفسير په يوټوب کې په ښايسته منظرو سره ښکلئ مونتاج که، نو دوی ته او نورو ټولو خو يندو ته يې او په معلوماتي تکنالوجۍ کې پروفيسور ورور يې دکتور احمد ظاهر اسدالله ته چې را ته يې تل د تفسير په باره کې دعاګانې کړې دي؛ د الله تعالى نه ثواب او نيک مرغه ژوند او ښادي په دنيا کې، او لوی سعادت او ثواب په آخرت کې غواړم، الله ده ټولو ته د پرديسيتوب په ستونزو کې صبر ورکړي، آمين يارب العالمين، هذا؛ والحمد لله رب العالمين الذي بنعمته تتم الصالحات وصلى الله وسلم على رسوله الأمين، وعلى آله الطيبين

الطاهرين وأصحابه الغرالميامين الذين حفظوا لنا كتاب الله العظيم و بلغوه للناس جمعا وتدو ينا في المصحف وحفظا في الصدور، فرضي الله عنهم أجمعين، وعن علماء الأمة الذين فسروا لنا مراد الله في هذا القرآن العظيم الذي جعله الله نورا للمؤمنين في الدنيا والأخرة، وسبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك..

❁❁❁.

د الفاتحې سورې پښتو معنا او لنډ تفسير

أعوذ بالله من الشيطان الرجيم

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالى په نامه چې د لوى رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پيل کيږي]

﴿ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ۝٢ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ۝٣ مَٰلِكِ يَوْمِ ٱلدِّينِ ۝٤ إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ۝٥ ٱهْدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلْمُسْتَقِيمَ ۝٦ صِرَٰطَ ٱلَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ ٱلْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا ٱلضَّآلِّينَ ۝٧﴾

{د الفاتحې مبارکې سورې لنډه پيژندنه او لوى پيغام}

الحمد لله الذي أنزل إلينا القرآن نورا و برهانا وجعله هداية ورحمة للناس أجمعين، وصلى الله وسلم على رسوله المبعوث رحمة للعالمين، وهاديا و بشيرا ونذيرا، وعلى آله الطيبين الطاهر ين وعلى أصحابه الغُر الميامين، وعلى إخوانه المؤمنين إلى يوم الدين.

درندو وروڼو او خو يندو! السلام عليكم ورحمة الله وبركاته و بعد: د الفاتحې مبارکې سورې پښتو معنا او لنډ تفسير په پيل کې د دې لاندې څو لنډو خبرو ليکل اړ ين بر ينبي، ځکه هغه د الفاتحې مبارکې سورې لوى پيغام او لوړ اهداف او مقصدونه بيانوي:

{د الفاتحې سوره مونږ ته د الله ستاينې او د دعاء سر ليک ده}

هو! د الفاتحې مبارکه سوره پر مومنانو باندې د الله تعالى لوى رحمت او پيرزو ينه ده، او پکې الله تعالى مونږ ته د دعاء کړو آداب او احکام بيان کړي او را ښودلي دي، او هغه دا چې ښايي په دعاء کې لمړئ الله تعالى د هغه په ښکلو صفتونو او په لوړو نومونو سره وستايو او بيا خپلې اړتياوې او حاجتونه د الله تعالى نه په زارئ سره او په کلک اخلاص او په پوره ډاډ او باور سره وغواړو!

{الفاتحه د قرآن کيلي ده}

هو! الفاتحه هغه مبارکه سـوره ده چې قرآن د الله تعالى عظيم کلام ور باندې پيل سـوئ دئ، نو ځکه دا مبارکه سـوره په الفاتحه باندې نومول سـوې ده، يعنى د قرآن پرانسـتونکې کيلي يا چاپې، او همدارنګه دا مبارکه سـوره پر نورو ډيرو نومونو هم نومول سـوې ده، لکه: (فاتحة الکتاب) (أم القرآن) (أم الکتاب) او داسـې نور ډير ښـکلي نومونه، او دا ځکه چې د ټول قرآن معنا او مضمون چې هغه د الله عبادت ته په توحيد سـره بلنه او دعوت او د پيغمبرانو په پله تګ دئ، او د يهودو او نصـاروو تقليد او پيښـو نه تيښـته ده؛ هغه ټول په ډيرو لنډو ټکو کې په الفاتحه کې راغونډ سـوي دي، او دا مبارکه سـوره د درې ګوني توحيد: (ر بو بيت، عبوديت او د اسـماؤ او صـفاتو توحيد) د ثبوت ډير ځلانده او پر يکنده دليل او حجت ده، او د الفاتحې مبارکې سـورې يو بل مشـهور نوم (السـبع المثاني) دئ، معنا دا چې د دې مبارکې سـورې آيتونه د (بِسْـمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ) نه پرته اووه آيته دي، او د هر آيت معنا او مراد يې په ټول قرآن کې په وار وار سره راغلې او تکرار سـوې دئ، او مونږ ورته را بلل سـوي يو.

{الفاتحه مکي سوره ده}

هو! الفاتحه مکي سـوره ده، او پر رسـول الله ﷺ باندې د هجرت نه مخکې د نبوت په لمړ يو کلونو کې په مکه مکرمه کې رانازله سـوې ده، او لوسـتل يې په لمانځه کې واجب دي، او دا مبارکه سـوره يوازنۍ مکي سـوره ده چې د قرآن کر يم ټولې سـورې ور باندې پيل سـوې دي، او بيا د قرآن تدو ين په پيل کې؛ ټولې مدني سـورې ور پسـې دي، او د مصـحف تدو ين دغه ترتيب د قرآن کر يم د نزول ترتيب سـره موافق ندئ، ځکه د مکي سـورو پيل په مکه کې ؤ، او پکې ډير د توحيد او شـرك حکمونه او مسـئلې يادې سـوې او بيان سـوې دي، خو د مصـحف ترتيب په پيل کې د الفتحې سـورې نه پرته، نورې ټولې سـورې مدني دي، ځکه کله چې په مدينه منوره کې اسلامي ټولنه واکمنه سوه، نو د اسلام دين او د الله اسماني شر يعت

د حکمونو او آدابو بیانول اړ ین ول، او همدارنګه دا نوې ټولنه د اهل کتابو او منافقانو سره مخامخ وه، نو د دوی اړوند حکمونو او لارښودنو بیان هم پکې ضروري ؤ، ځکه هغه ټول په مدني سورو کې راغلئ دئ، نو د حالاتو بدلون سره سم د قرآن کر یم تدو ین په مصحف کې؛ د نزول ترتیب سره مخالف دئ، او په مدني سورو کې د نظام پرجوړولو ټینګار سوئ دئ، او د اسلامي نظام داخلي او خارجي چارې په ډیر وضاحت او پوره روښتیا سره ښودل سوې او بیان سوې دي، او پدې کې یقینا چې زمونږ لپاره د لمړي تو بونو او پایلو رعایت د حالاتو او واقعیتونو سره سم؛ یوه ګټوره اړ ینه زده کړه ده، نو دعاتو ته ښایي چې هغوی ته یې پام وي او تل ور باندې ټینګار او عمل وکړي.

{ الفاتحه د توحید پیژندنې لارښود پیغام دئ }

او همدارنګه د الفاتحې مبارکه سوره د الله تعالی هغه مبارك لارښود پیغام دئ چې پکې یې مونږ ته د خپلې پیژندنې پوره لارښودنه کړې ده، نو الفاتحه د زمونږ دستور ده او زمونږ زړونه د الله تعالی عظمت او د توحید په پیژندلو سره؛ رڼا کوي او د کفر او شرك او د ناپوهۍ تیارو نه مونږ ساتي، نو ځکه الله تعالی د الفاتحې په مبارکه سوره کې مونږ ته؛ لمړئ خپل توحید په ر بو بیت کې بیان کړئ دئ، یعنی الله تعالی رب العالمین ذات دئ، او بیایې خپل توحید را ته په صفاتو کې ښودلئ دئ، ځکه الله الرحمن الرحیم خدای دئ او د هغه رحمت پر ټولو خلکو مخصوصا پر مومنانو ښه خور دئ، او همدارنګه الله تعالی د محشر ورځې مالك او واکمن لوی څښتن دئ، او د الله سره بل هیڅ څوک په الوهیت او عبادت کې ګډ او شر یك ندي، نو دا چې الله تعالی پر دغو ټولو لوړو صفتونو باندې موصوف؛ لوی ذات دئ او د قیامت په ورځ د ثواب او د سزا ورکولو مالك او واکمن خاوند دئ، نو مونږ ته یې د خپل توحیدي عبادت په باره کې لارښودنه کړې ده چې دعاء وکړو او ووایو: ای لو یه څښتنه! یوازې د ستا عبادت او بنده کې کړو او یوازې د ستا نه مرسته غواړو، ځکه یواځې ته ای لو یه ر به! په ر ښتیا او حق سره د

زمونږ معبود، مرسـتندوی او مل يې، نو ته ای لو يه خدايه! د زمونږ دغه دعاء قبوله کړه او د زمونږ زاري په خپل لوی فضل او رحمت سره ومنه!

{ الفاتحه په اعوذ بالله او بسم الله باندې پيل کيږي }

هو! د الفاتحې مبارکې سورې لوستل په لمانځه کې او د لمانځه نه بهر په (أعوذ بالله من الشـيطان الرجيم او په بسـم الله الرحمن الرحيم) باندې سـنت دي او د (أعوذ بالله من الشـيطان الرجيم) معنا دا ده:" زه د رټل سوي شـيطان شـر نه چې هغه د مومنانو تل پاتې دښمن دئ؛ الله ته پناه وړم او خپل ځان ور باندې سپارم."

او همدارنګه د الفاتحې سوره، لکه د قرآن نورې ټولې سورې د التوبې سورې نه پرته په (بسم الله الرحمن الرحيم) پيل سوې ده، او (بسم الله الرحمن الرحيم) چې په قرآن کر يم کې د النمل سـورې يو مسـتقل آيت دئ معنا يې دا ده: "زه د الله تعالى په نامه چې پر خپلو ټولو بنده ګانو باندې د لوی رحمت څښـتن او پر مومنانو باندې ښـه مهر بان رب دئ؛ خپلې ټولې کړنې او و يناوې پيل کوم او يوازې د الله نه مرسته غواړم."

{د الفاتحې سورې د آيتونو پښتو معنا او لنډ تفسير}

قدرمنو دوسـتانو! اوس د الفاتحې مبارکې سـورې د ټولو آيتونو پښـتو معنا او لنډ تفسير چې پدې لاندې کرښـو کې انځور سوئ دئ ولولئ:

د الفاتحې مبارکې سـورې ټول آيتونه اووه آيته دي او په پيل کې الله تعالى د خپلې ستايني په باره کې مونږ ته لارښودنه کړې، او فرمايلي دي:

﴿ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ۝٢ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ۝٣ مَٰلِكِ يَوْمِ ٱلدِّينِ ۝٤ إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ۝٥ ٱهْدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلْمُسْتَقِيمَ ۝٦ صِرَٰطَ ٱلَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ ٱلْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا ٱلضَّآلِّينَ ۝٧﴾

[۱] ټول حمد او سـتاينه الله لره ده، ځکه دئ د نړۍ ټولو مخلوقاتو پالونکئ لوی څښـتن دئ.

[٢] او الله پر خپلو ټولو بنده ګانو باندې د لوی رحمت او ورکړو څښتن دئ، او پر مومنانو باندې الله ښه مهربان پالونکئ ذات دئ.

[٣] او الله د آخرت ورځې ټولواک دئ، یعنی د قیامت په ورځ چې د محشر ورځ ده؛ د هر چا نه یوازې الله تعالی حساب اخلي، او بیا د ښو کړنو خاوندان جنت ته ورننه باسي او د بدو کړنو څښتن دوزخ ته.

[٤] نو ای لو یه خدایه! یوازې د ستا عبادت او بنده ګي کړو او یوازې د ستا نه مرسته غوړو.

[٥] نو ته ای لو یه ر به! مونږ پر سمه لار روان کړه.

[٦-٧] [او ای لو یه ر به! مونږ د هغو کسانو پر لار روان کړه او پر پله باندی یې د تګ توفیق را کړه] چې تا پر دوی باندې خپل نعمتونه لوروله دي [لکه پیغمبران او پر دوی ایمان راوړنکي مومنان او د پیغمبرانو په لار روان سوي شهیدان او صالحان او نیکان] او ای لو یه څښتنه! مونږ د هغه چا ملګرتیا نه وساته چې دوی مغضوب علیهم دي او الله ور باندې په غوصه دئ، یعنی هغوی د حق سمه لار پیژندلې ده، خو پر هغه لار باندې ندي تللي [لکه یهود] او یا دا چې د حق لاری نه کاږه سوي او ورک سوي دي [لکه نصارا یا په نامه د عیسی علیه السلام پلو یان چې د ډیرې ناپوهۍ نه په کږه لار روان سوي دي، نو الله تعالی ده مونږ هغوی ته ورته کسانو د ملګرتیا نه په خپل فضل او رحمت سره وساتي] آمین یارب العالمین! معنا داچې ای د زمونږ لو یه خدایه! د زمونږ دغه دعاء قبوله کړه!

{آمین د الفاتحې برخه نه ده خو ختمول یې په آمین سنت دي}

ګرانوعز یزانو! د آمین کلمه د الفاتحې سورې برخه نه ده، خو و یل یې د الفاتحې په آخر کې سنت دي، ځکه د الفاتحې سوره زمونږ لپاره د دعاء کړو ډیر غوره لارښود پیغام او ځلانده سر لیک دئ، او هغه د خپلو لمنځونو په ټولو رکعتونو کې لولو، ترڅو د الله تعالی دا ارزښتناکې لارښودنې زمونږ په مغزونو کې ننوځي او ښه پرې پوه سو، او په خپل ژوند کې ور باندې عمل وکړو او ګټه ورڅخه واخلو، نو ځکه آمین و یل د دعاء

په آخر کې د رسول الله ﷺ لارښودنې سره سم؛ سنت دِي.

{د يهودو او نصاراوو تقليد پر مومنانو باندې حرام دئ}

عزتمنو وروڼو! الله تعالى د الفاتحې سورې په پاى کې خپلو مومنو بنده ګانو ته لارښودنه کړې ده چې دوى ده د الله تعالى نه په هغه لار تګ وغواړي چې پر هغه لار باندې الله تعالى خپل پيغمبران او د دوى ملګري او شهيدان او صالحان او ښه خلک روان کړي دي، نه د هغو کسانو پر لار باندې چې دوى د خپلې پوهې او علم سره سره د الله په قهر ککړ دي، لکه يهود، او نه هم د هغو کسانو پر لار چې دوى د حق لارې نه په ناپوهۍ سره ورک سوي دي، لکه نصارا، يعنى مومنانو ته ښايي چې هيڅ کله د يهودو او نصاراوو غوندې نسي، ځکه هغوى په علم او په بې علمۍ سره د سې لارې نه کاږه سوي دي، او د الله تعالى قهر او غوصه پر هغوى باندې کلکه راپر يوتې ده، او د الله تعالى دا سپارښت د الفاتحې په مبارکه سوره کې مخامخ مومنانو ته متوجه دئ، ترڅو دوى د يهودو او نصاروو بدو صفاتو او خو يونو نه ځانو نه په کلکه سره وساتي او هغوى پسې لاړ نسي او پيښې او تقليد يې ونکړي!

{د الفاتحې سوره الله د ځان او بنده په منځ کې و يشلې ده}

قدرمنو دوستانو! لکه څنګه چې مخکې وو يل سول د الفاتحې مبارکه سوره پر مومنانو باندې د الله تعالى لوى نعمت او پيرزو ينه ده، او پکې الله تعالى مونږ ته د دعاء کړو آداب او احکام ښودلي او بيان کړي دي، او هغه داچې ښايي په دعاء کې لمړئ الله تعالى د هغه په ښکلو صفتونو او لوړو نومونو وستايو او بيا خپلې اړتياوې او حاجتونه د الله نه وغواړو، ځکه د الفاتحې سوره الله تعالى پر دوه برخوو و يشلې ده، او رسول الله ﷺ د دې و يش په بيان کې په يوه مبارك قدسي حديث کې فرمايلي دي: [قسمت الصلاة بيني و بين عبدي نصفين ولعبدي ماسأل، فإذا قال: الحمد لله رب العالمين، قال الله: حمدني عبدي، و إذا قال: الرحمن الرحيم، قال الله: أثنى عليّ عبدي، فإذا قال: مالك يوم الدين، قال الله:

مجدني عبدي، فإذا قال: إياك نعبد و إياك نستعين، قال الله: هذا بيني وبين عبدي ولعبدي ما سأل، فإذا قال:اهدنا الصراط المستقيم، صراط الذين أنعمت عليهم غير المغضوب عليهم ولا الضالين، قال الله: هذا لعبدي ولعبدي ما سأل.) دا حديث امام مسلم روايت کړئ دئ، او پدې قدسي مبارك حديث کې رسول الله ﷺ فرمايلي دي:" لمونځ ما د زما او زما بنده په منځ کې په دوه برخو و يشلئ دئ، او بنده چې څه غواړي هغه ورکوم، نو کله چې بنده وايي: د ټولې نړۍ څښتن الله ستايل سوئ ذات دئ، نو الله وايي: زه خپل بنده وستايلم، او بيا چې کله بنده ووايي: الله د قيامت ورځې د ثواب ورکولو او سزا ورکولو لوی واکمن څښتن دئ؛ الله وايي: زه خپل بنده لوړ و بللم، او بيا چې کله بنده وايي: ای ر به! يوازې د ستا عبادت کړو او يوازې د ستا نه مرسته غواړو، نو الله وايي: دا د زما او زما د بنده په منځ کې خبره ده او بنده چې څه غواړي هغه زه ورکوم، نو کله چې بنده دعاء کړي او وايي: ای لو يه ر به! ته مونږ پر سمه لار چې هغه د هغو کسانو لار ده چې تا پر دوی باندې خپل نعمتونه لورولي دي؛ روان کړه، نه د هغو کسانو پر لار چې ته پر هغوی باندې په غوصه يې، او دوی د سمې لارې نه ورک سوي دي، نو بيا الله وايي: دا زما د بنده حق دئ او بنده چې څه غواړي زه يې ورکوم! آمين يارب العالمين.

سبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.



﴿د البقرې سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر﴾

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله په نامه چې د لوی رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي]

{د البقرې سورې لنډه پیژندنه او لوی پیغامونه}

درندو دوستانو! د البقرې مبارکه سوره مدني سوره ده، او پر رسول الله ﷺ باندې په مدنیه منوره کې د هجرت نه وروسته را نازله سوې ده، او پکې ښه ډیر شرعي حکمونه او ګټور سپارښتونه په ښه سوي او بیان سوي دي چې هغه ټول مومنانو ته د الله تعالی لار ښودنې دي، او دا مبارکه سوره په البقره، ځکه نومول سوې ده چې پکې د بني اسرائیلو د غوا قصه ډیره اوږده یاده سوې ده، او مونږ ته دغې قصې د یهودو زړونو تور مقصدونه او کینه کښې عزائم چې هغه د دوی کرکجن خاصیت او تل پاتې خوی دئ؛ رسوا کړې او را ښکاره کړې دي، ترڅو مومنان خپل ځانونه د هغوی شر نه تل وساتي او د لو یو توطئیو ښکار یې نسي.

قدرمنو عز یزانو! د البقرې مبارکې سورې د آیتونو پښتو معنا او لنډ تفسیر نه وړاندې دا لاندې یادونه اړ ینه ده، ځکه چې وضاحت او بیان یې د دې مبارکې سورې لمړ یو آیتونو پوهاوي لپاره ګټور دئ او لوستونکي او اور یدونکي ته هغه ښه اسانه کوي.

{د قرآن ادبي او بیاني اعجاز په مقطعاتو تورو کې رون ځلیږي}

د البقرې مبارکه سوره په (الف، لام، میم) هجائي تورو باندې چې په عربي ژ به کې ورته مقطعات حرفونه وایي؛ پیل سوې ده، او همدارنګه د قرآن کر یم ځینې نورې ډیرې سورې هم په همدې پر یکړل سوو تورو پیل سوې دي، او دغه تورې یا حرفونه ځان ځان ته او د یو بل نه بیل بیل لوستل کیږي او لیکل کیږي، خو د دغو تورو لفظي ښکاره معنا او مقصد

ندئ بيان سوئ، نو ځکه د قرآن کر يم ځينې مفسر ينو يې په تفسير کې و يلي دي چې الله اعلم بمراده (الله پر خپل مراد او مقصد ښه پوهيږي) خو ځينې نورو مفسر ينو بيا د دغو تورو يا حرفونو د اسرارو او حکمتونو د پټې معنا په بيان کې؛ ډير څه ليکلي او و يلي دي، او يوه غوره معنا يې د قرآن بياني اعجاز ته اشاره ده چې دلته په نښه سوې ده، او هغه دا چې قرآن کر يم د الله تعالى خبرې دي او په ر يښتيا سره يې پر رسول اللهﷺ باندې را نازلې کړې دي، نو بل هيڅ څوک قرآن ته ورته کتاب او يا د هغه سورو او آيتونو غوندې سورو او آيتونو را وړلو وسعه نه لري، حال دا چې د قرآن ټول آيتونه د همدې عربي تورو نه جوړ سوي دي او ټول قرآن په روښانه عربي ژ به را نازل سوئ کتاب دئ، نو د عربي ژبې شاعرنو او اديبانو بې وسعي او عاجزي د قرآن غوندى کتاب راوړو نه؛ د قرآن پر ادبي او بياني اعجاز باندې ښه کلک او روښانه دليل دئ، ځکه چې دعر بانو ټول شاعران او اديبان د قرآن نزول په وخت کې د هغه مقابلې نه بې وسعې او عاجز سول، ځکه الله تعالى پر دغسې پر يکړ سوو حرفونو سره دوى ننګولي دي او ورته يې و يلي دي چې که تاسې اى کافرانو! په قرآن کې شک لرئ او ګمان کړئ چې هغه د الله کلام ندئ، نو بيا هغه ته ورته کتاب او يا څو سورې او يا يوه سوره او يو آيت چې د همدې عربي تورو نه جوړ سوئ وي؛ راوړئ؟ نو بيا دوى ټول بې وسعې او د الله تعالى ننګونې ځواب نه عاجز سول، نو د قرآن کر يم بياني اعجاز په يقين سره ښه روښانه ثابت سه چې پکې هيڅ شک او شبه نسته.

ګرانو دوستانو! او د مقطعاتو تورو نه د دغسې تفسير رجحان او د هغه اعتبار ښکاره قر ينه او نښه دا ده چې د مقطعاتو تورو پيل پسې متصل الله تعالى د قرآن حقانيت او ر يښينوالئ ياد کړئ دئ او فرمايلي دي:[الم، ذلك الكتاب لا ر يب فيه] او همدارنګه يې د آل عمران دو يم آيت پسې وروسته فرمايلي دي: [ا لم ؛ نزّل عليك الكتاب بالحق..الاية] او همدارنګه په نورو ټولو هغو سورو کې چې په مقطعاتو تورو يا حرفونو پيل سوي دي، لکه په حواميم پيل سوي اته پرله پسې مبارکې سورې، نو

يقينا چې هغه ټول دا څرګندوي چې د الهجاء پر مقطعاتو تورو باندې پيل سوو سورو نه؛ مقصد د قرآن بياني اعجاز ته ګوته نيول او ورته ښه روښانه اشاره ده، والله اعلم بالصواب.

{الله تعالي خلک پر مومنانو کافر انو او پر منافقانو و يشلي دي}

هو! د البقرې مبارکې سورې په پيل کې ټول خلک الله تعالى د ايمان او عقيدې پر تله په درې برخو او ډلو باندې و يشلي دي، او د هرې ډلې لنډ لنډ صفتونه او خو يونه يې مونږ ته بيان کړي دي، او لمړۍ ډله يې مومنان دي او بيا کافران او ور پسې منافقان دي، او منافقان هغه څوک دي چې په خولو وايي: مونږ مومنان يو، خو په زړو کې کافران دي، ځکه په يقين او پوره باور سره يې ايمان ندئ راوړئ.

قدرمنو وروڼو او ګرانو لوستونکو! او دا ده د البقرې مبارکې سورې لمړنيو مبارکو آيتونو پښتو معنا سره د لنډ تفسير:

﴿الٓمٓ ۝١ ذَٰلِكَ ٱلۡكِتَٰبُ لَا رَيۡبَۛ فِيهِۛ هُدٗى لِّلۡمُتَّقِينَ ۝٢ ٱلَّذِينَ يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡغَيۡبِ وَيُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَمِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ يُنفِقُونَ ۝٣ وَٱلَّذِينَ يُؤۡمِنُونَ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبۡلِكَ وَبِٱلۡأٓخِرَةِ هُمۡ يُوقِنُونَ ۝٤ أُوْلَٰٓئِكَ عَلَىٰ هُدٗى مِّن رَّبِّهِمۡۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ۝٥﴾

[١] (الف، لام، ميم) يعنى الله تعالى د دغو تورو په مقصد او معنا باندې د بل هر چا نه ښه پوه دئ، او هم پدې تورو کې د قرآن بياني اعجاز په نښه سوئ دئ، ځکه هيڅ څوک د قرآن غوندې آيتونه راوړای نسي.

[٢] او هغه کتاب قرآن چې د همدې عربي تورونه جوړ سوئ دئ؛ هغه د الله نه را نازل سوئ لوی کتاب دئ، او پکې هيڅ شک نسته او هغه متقيانو او مومنانو ته چې دوی خپل ځانونه د الله عذاب نه په فرمانوړو او اطاعت سره ساتي؛ لارښود دئ او دوی پر سمه لار باندې خوځوي.

[٣] او متقيان هغه کسان دي چې پر غيب او د سترګو نه پټ خداى الله باندې باور لري او ور باندې يې ايمان را وړئ دئ، او لمونځ کړي، او د

هغه مال نه چې دوی ته مونږ ورکړئ دئ؛ د الله رضا لپاره خیرات ورکوي، یعنی دوی دا زکات هغې مسکینانو ته ورکوي چې بې وزره دي.

[٤] [او همدارنګه متقیان] هغه کسان دي چې پر هغه کتاب یې ایمان راوړئ دئ چې هغه پر تا باندې ای پیغمبره! را نازل سوئ دئ، او هم یې پر هغو کتابو باندې ایمان راوړئ دئ چې هغه د ستا نه پخوا پیغمبرانو باندې را نازل سوي ول [لکه ز بور پر داؤودعليه السلام تورات پر موسيعليه السلام او انجیل پر عیسیعليه السلام او صحیفې پر ابراهیمعليه السلام باندې] او همداسې دغو متقیانو د آخرت پر ورځ چې هغه حق ده او په ر یښتیا سره را تلونکې ده؛ کلک ایمان راوړئ دئ او پوخ باور ور باندې لري.

[٥] او پر دغو ټولو صفتونو باندې ستایل سوي کسان؛ مومنان او متقیان دي او دوی خپل لوی رب الله سبحانه وتعالى لارې ته هدایت کړي دي، نو دوی په دنیا او په آخرت کې بر یالي او سر لوړي دي.

درندو دوستانو! په دغو مبارکو آیتونو کې الله تعالی مونږ ته د ایمان او د اسلام پنځه اساسي رکونونه بیان کړي دي او هغه ټول د ایمان ستنې دي، نو د هغو نه پرته ایمان او اسلام نه صحي کیږي، نو پر هر مومن باندې فرض ده چې اقرار وکړي او ووایي: زه پر الله او د هغه نه پر را نازل سوو ټولو کتابونو او د آخرت پر ورځ باور لرم او هغه منم او لمونځ کړم او زکات ورکوم.

{کافران پرخو یونو او صفتونو پیژندل کیږي}

او بیا په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی کافران مونږ ته را پیژندلي دي، او فرمایلي دي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ سَوَآءٌ عَلَيۡهِمۡ ءَأَنذَرۡتَهُمۡ أَمۡ لَمۡ تُنذِرۡهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ٦ خَتَمَ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ وَعَلَىٰ سَمۡعِهِمۡۖ وَعَلَىٰٓ أَبۡصَٰرِهِمۡ غِشَٰوَةٞۖ وَلَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٞ ٧﴾

[٦] ای پیغمبره! یقینا هغه کسان چې کافران سول [یعنی پر الله او

پر رسـول الله ﷺ يې ايمان رانوړ] نو دوی د دې پروا نه لري چې ته دوی د آخرت ورځې عذاب نه وو يروي او که و ې نه و يروې ؟ ځکه دوی ايمان نه راوړی، يعنی د دغـې کسـانو رابلنه ايمان ته او نه رابلنه يې سـره برابر دي.

[۷] او دا ځکه چې د هغوی زړونه الله ټاپه کړي دي او پر غوږونو يې هم ټاپه وهلې ده [يعنی نـه څـه اوري او نـه پـه څـه پوهيږي] او د دوی پر سترګو توره پرده را خوره ده [يعنی نو حق ليدلای نسي او د قيامت په ورځ په آخرت کې دوی ته] لوی عذاب او کلکه سزا ده.

{منافقان د دوی په ځانګړو خو يونو پيژندل کيږي}

قدرمنو دوسـتانو! او بيا په ور پسـې مبارکو آيتونو کې مونږ ته الله تعالی د در يمې ډلې خلکو خو يونه او صفتونه په نښه کړي دي، ځکه دوی منافقان دي، او هرچا سره دوه مخ چلند کړي، او داسې يې فرمايلي دي:

﴿ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَقُولُ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَبِٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ وَمَا هُم بِمُؤْمِنِينَ ﴿٨﴾ يُخَٰدِعُونَ ٱللَّهَ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَمَا يَخْدَعُونَ إِلَّآ أَنفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُونَ ﴿٩﴾ فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ فَزَادَهُمُ ٱللَّهُ مَرَضًا ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌۢ بِمَا كَانُواْ يَكْذِبُونَ ﴿١٠﴾ وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ لَا تُفْسِدُواْ فِى ٱلْأَرْضِ قَالُوٓاْ إِنَّمَا نَحْنُ مُصْلِحُونَ ﴿١١﴾ أَلَآ إِنَّهُمْ هُمُ ٱلْمُفْسِدُونَ وَلَٰكِن لَّا يَشْعُرُونَ ﴿١٢﴾ وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ ءَامِنُواْ كَمَآ ءَامَنَ ٱلنَّاسُ قَالُوٓاْ أَنُؤْمِنُ كَمَآ ءَامَنَ ٱلسُّفَهَآءُ ۗ أَلَآ إِنَّهُمْ هُمُ ٱلسُّفَهَآءُ وَلَٰكِن لَّا يَعْلَمُونَ ﴿١٣﴾ وَإِذَا لَقُواْ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ قَالُوٓاْ ءَامَنَّا وَإِذَا خَلَوْاْ إِلَىٰ شَيَٰطِينِهِمْ قَالُوٓاْ إِنَّا مَعَكُمْ إِنَّمَا نَحْنُ مُسْتَهْزِءُونَ ﴿١٤﴾ ٱللَّهُ يَسْتَهْزِئُ بِهِمْ وَيَمُدُّهُمْ فِى طُغْيَٰنِهِمْ يَعْمَهُونَ ﴿١٥﴾ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ٱشْتَرَوُاْ ٱلضَّلَٰلَةَ بِٱلْهُدَىٰ فَمَا رَبِحَت تِّجَٰرَتُهُمْ وَمَا كَانُواْ مُهْتَدِينَ ﴿١٦﴾ ﴾

[۸] او داسـې څوک هم د خلکو نه سـته چې په خوله وايي: مونږ پر الله او د آخرت پر ورځ ايمان راوړئ دئ، خو دوی مومنان ندي او په ر

يښتيا سره يې ايمان ندئ راوړئ.

[٩-١٠] او منافقان په خپلو دغسې خبرو سره غواړي چې الله او مومنان وغولوي، خو د دوی پام ندئ او نه پوهيږي؛ چې دوی خپل ځانونه غولوي او په زړو کې يې د نفاق ناروغي ده، او الله د دوی دا ناروغي لا ډيره کړه [يعنی دا ځکه چې دوی په دغسې دروغو و يلو سره د الله تعالی نه ونه شرميدل] او په آخرت کې ورته د دغسې دروغو سزا؛ دردوونکئ عذاب دئ، يعنی دا چې دوی به پکې تل پاتې کړ يږي.

[١١] او هر کله چې دغو دروغژنو منافقانو ته وو يل سي چې پر ځمکه فساد او ورانئ مکړی! نو بيا دوی وايي: مونږ خو يقينا چې مصلحين يو او روغې جوړې کړو او ورانئ نکړو!

[١٢] او تاسې ای مومنانو! پام کړی چې منافقان ر يښتيني ورانونکي او مفسدين دي، خو احساس نه لري او پدې نه پوهيږي چې دوی مفسدين دي، يعنی د دوی دا دوه مخئ چلند او در يځ ښکاره ورانئ دئ.

[١٣] او هر کله چې منافقانو ته وو يل سي چې هغسې ايمان راوړی، لکه څنګه چې نورو خلکو ايمان راوړئ دئ، نو بيا دوی په ځواب کې وايي: آيا مونږ هغسې ايمان راوړو، لکه دغو ساده ګانو چې ايمان راوړئ دئ؟ خو په حقيقت کې دوی خپله ساده ګان دي او په څه نه پوهيږي او د خپلې ناپوهۍ احساس هم نکړي، يعنی نو آه او افسوس پر دغسی منافقانو چې په دنيا او آخرت کې د تور برخليک نه پرته بله راتلونکې نه لري.

[١٤] او هر کله چې دغه منافقان د مومنانو سره يوځای او مخامخ سي، نو بيا وايي: مونږ ايمان راوړئ دئ، خو کله چې د خپلو شيطانانو ملګرو سره يوځای سي؛ هغوی ته وايي: مونږ ستاسې سره يو او پر هغوی باندې [يعنی پر مومنانو باندې] ملنډې وهو، او يقينا چې مونږ سپکوونکي يو او هغوی (مومنان) سپکوو.

[١٥] او منافقانو ته د دوی د ملنډو او سپکاوي سزا الله ورکوي او د

دوی سرغړونې او بغاوت اوږدوي، ترڅو لا نبه ډير پر خپله ورکتيا او بې لارۍ توب کې ډوب او پکې خښ سي.

[١٦] او منافقان هغه کسان دي چې د سمې لارې نه ورکتيا يې د سمې لارې په بيعه واخستله، خو د دوی دې تجارت او سودا ګټه ونکړه او سمې لارې ته هدايت نسول.

{د منافقانو نفاق لويې بيلګې او ساري}

ګرانو وروڼو! او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى په دوه مثالونو يا بيلګو سره چې اور او او به دي مونږ ته د منافقانو حال بيان کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿ مَثَلُهُمْ كَمَثَلِ ٱلَّذِى ٱسْتَوْقَدَ نَارًا فَلَمَّآ أَضَآءَتْ مَا حَوْلَهُۥ ذَهَبَ ٱللَّهُ بِنُورِهِمْ وَتَرَكَهُمْ فِى ظُلُمَٰتٍ لَّا يُبْصِرُونَ ﴿١٧﴾ صُمٌّۢ بُكْمٌ عُمْىٌ فَهُمْ لَا يَرْجِعُونَ ﴿١٨﴾ أَوْ كَصَيِّبٍ مِّنَ ٱلسَّمَآءِ فِيهِ ظُلُمَٰتٌ وَرَعْدٌ وَبَرْقٌ يَجْعَلُونَ أَصَٰبِعَهُمْ فِىٓ ءَاذَانِهِم مِّنَ ٱلصَّوَٰعِقِ حَذَرَ ٱلْمَوْتِ ۚ وَٱللَّهُ مُحِيطٌۢ بِٱلْكَٰفِرِينَ ﴿١٩﴾ يَكَادُ ٱلْبَرْقُ يَخْطَفُ أَبْصَٰرَهُمْ ۖ كُلَّمَآ أَضَآءَ لَهُم مَّشَوْا۟ فِيهِ وَإِذَآ أَظْلَمَ عَلَيْهِمْ قَامُوا۟ ۚ وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ لَذَهَبَ بِسَمْعِهِمْ وَأَبْصَٰرِهِمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿٢٠﴾ ﴾

[١٧] او د دغو منافقانو مثال او سارئ؛ هغه چا ته ورته دئ چې اور بل کړي او بيا چې کله دا اور خپله شا وخوا رڼا کړي، نو الله د دوی رڼا له منځه يوسي او دوی په داسې تيارو کې پر پرديو چې هيڅ څه شئ نه و يني يعنې د سترګو ليد يې لمنځه تللئ وي.

[١٨] او منافقان کانړه، ګنګ او ړلانده دي، نو بيا دوی د حق رڼا ته بيرته نه را ګرځي.

[١٩] او د دغو منافقانو بل سارئ هغه باران ته ورته دئ چې د اسمان وورو نه را اور پرې او پکې تيارې، تندر او بر يښنا وي، او دغو خلکو خپلې ګوتې د آسمان تندر ګړزهار او د مرګ و يرې نه په خپلو غوږونو کې ايښې

وي، حال دا چې الله په خپل علم سره پر کافرانو احاطه لري او ور باندې راتاو دئ، يعنی دوی د الله نه هيڅ چيرته تښتيدلای نسي.

[۲۰] او ډير ژر به د اور دا بر يښـنا د دوی سـترګې يوسـي او هغه به وتښـتوي او بيا چې کله دغه بر يښـنا لږ ژبا سـي، نو بيا به دوی مخ پر وړاندې لاړ سـي، خو کله چې بيرته تياره سـي؛ دوی تپ پر خپل ځای کې [حيران سـوي] در يږي او که الله غوښـتي وای، نو د منافقانو غوږونه او سـترګې بې ورځخه اخسـتې وې، او يقينا چې الله په هرڅه قادر لوی ذات دئ، يعنی هرڅه چې وغواړي هغسې کړای سي.

درندو دوسـتانو! نو ښـايي چې مونږ مسـلمانان دغه درې ډلې خلک [مومنان، کافران او منافقان] د دوی په خو يونو او صـفتونو سـره ښـه کلک و پيژنو او بيا په هغه لار روان سـو چې هغه د مومنانو لار او د هغوی خو يونه او صفتونه دي، او هم ښايي دا خو يونه په خپلو ځانو کې راپيدا کړو، ترڅو د متقيانو غوندې فلاح او بر يا د زمونږ په برخه سي او د نورو ډلو، يعني د کافرانو او منافقانو د لارې او د ملګرتيا نه خپل ځانو نه په کلکه سـره وسـاتو، ځکه هغوی ته د آخرت په ورځ سـوزونکئ عذاب او کلکه سـزا تياره سـوې ده، نو مونږ ده الله تعالی د دغسـې بدې تورې راتلونکې نه په خپل فضل او کرم سره وساتي.

{د خلاصون لار د الله تعالي بنده کې په توحيد سره ده}

او په ور پسـې مبارکو آيتونو کې ټول خلک الله تعالی يوازې د دوی پالونکې څښتن الله عبادت ته په توحيد سره را بللي دي، او فرمايلي دي:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱعۡبُدُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِي خَلَقَكُمۡ وَٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ٢١ ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ ٱلۡأَرۡضَ فِرَٰشٗا وَٱلسَّمَآءَ بِنَآءٗ وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَخۡرَجَ بِهِۦ مِنَ ٱلثَّمَرَٰتِ رِزۡقٗا لَّكُمۡۖ فَلَا تَجۡعَلُواْ لِلَّهِ أَندَادٗا وَأَنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ٢٢ ﴾

[۲۱] او ای خلکو! د خپل هغه پالونکي څښتن الله عبادت او بنده کې

وکړی چې هغه تاسې او د ستاسې نه مخکې پخواني ولسونه پیدا کړي دي، ترڅو تاسې متقیان سی او د الله سزا نه ځانو نه وساتی، یعنی د تقوا مقام ګټلو پواځنی لار د الله تعالی عبادت په توحید او اخلاص سره ده.

[۲۲] [او ای خلکو! د ستاسې عبادت مستحق پالونکئ څښتن الله] هغه څوک دئ چې ځمکه یې تاسې ته غوړولئ فرش وګرځا وه، ترڅو د ستاسې ژوند ور باندې اسانه سي، او اسمان الله د ستاسې پر سر درولئ دئ او او به یې د اسمان نه پر تاسې راوورولې دي، او پر او بو یې د ځمکې نه میوې چې هغه د ستاسې روزي (خواړه او څښاک ده) تاسې ته را و یستلې او ځمکه یې پرې راشنه کړې ده، نو د الله سره په بنده ګی او عبادت کې او د هغه په خدایي کې؛ بل هیڅ څوک الله ته ورته مه ګڼوی او ورسره یې مه شر یکوی، ځکه تاسې خو پدې نښه پوهیږی چې د عبادت مستحق ذات؛ یوازې الله د ستاسې پالونکئ څښتن دئ، او بل هیڅ څوک د الله سره په خدایې کې مل او شر یك ندي.

{قرآن عر بانو ته معجزه وه او سیالی نه یی عاجز سول}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د عر بانو پوهان او شاعران د قرآن سورو غوندې یوې سورې په راوړو ننکولي دي، او فرمایلي دي:

﴿وَإِن كُنتُمْ فِي رَيْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلَىٰ عَبْدِنَا فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِّن مِّثْلِهِ وَادْعُوا شُهَدَاءَكُم مِّن دُونِ اللَّهِ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿٢٣﴾ فَإِن لَّمْ تَفْعَلُوا وَلَن تَفْعَلُوا فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِي وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ أُعِدَّتْ لِلْكَافِرِينَ ﴿٢٤﴾﴾

[۲۳] ای خلکو! او که تاسې د قرآن په ر یښتینوالي کې چې هغه مونږ پر خپل بنده (محمدﷺ) باندې را نازل کړئ دئ؛ شك لری، نو که تاسې د ر یښتیا و یونکو نه یاستی راسی او د قرآن سورو غوندې یوه سوره راوړی، او پدې کار کې د الله نه پرته د خپلو ټولو شاهدانو نه [یعنی د

خپلو ملګرو او د درغو خدایانو او معبودانو نه] مرسته وغواړئ!

[٢٤] نو که بیا دا کار تاسې ونکه، او هیڅ کله هم تاسې داسې کړای نسئ [یعنی تاسې د قرآن سورو غوندې د یوې سورې راوړو نه هم عاجز او بې وسې یاستئ، نو بیا د الله په بنده ګئ او پر رسول الله ﷺباندې په ایمان راوړو سره] د دوزخ هغه اور نه خپل ځانو نه وساتئ چې د بلیدلو لرګي یې دوزخیان، تیګې یا کانې دي، او دوزخ کافرانو لپاره تیار سوئ دئ، یعنی دوی به پکې د آخرت په ورځ تل پاتې کړ یږي.

{مومنانو ته د جنتونو ز یرئ}

او په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی مومنانو ته د جنتونو ز یرئ ورکړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿وَبَشِّرِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ أَنَّ لَهُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُۖ كُلَّمَا رُزِقُواْ مِنۡهَا مِن ثَمَرَةٖ رِّزۡقٗا قَالُواْ هَٰذَا ٱلَّذِي رُزِقۡنَا مِن قَبۡلُۖ وَأُتُواْ بِهِۦ مُتَشَٰبِهٗاۖ وَلَهُمۡ فِيهَآ أَزۡوَٰجٞ مُّطَهَّرَةٞۖ وَهُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ٢٥﴾

[٢٥] ای پیغمبره! مومنانو ته او د ښو کړنو خاوندانو ته د جنتونو ز یرئ ورکړه، او یقینا چې د دوی ځای په آخرت کې هغه باغونه دي چې د سندونو و یالې پکې بهیږي، او کله چې بیا دوی ته په جنت کې ځینې خوندورې میوې ورکړل سي، نو وایي چې دغو میوو ته ورته میوې مونږ ته مخکې په دنیا کې را کړل سوې وې، او بیا ورته په ځیره او رنګ کې سره ورته میوې را وړل سي [خو چې کله هغه وڅکي خوند یې سره ورته نوي، یعنی د جنت میوې که څه هم د دنیا میوې سره په نامه او ځیره کې ورته وي، خو د جنت میوو خوند ډیری خوږ وي] او همدارنګه جنتیانو ته په جنت کې ښې پاکې ښځې وي [یعنی د جنت حورې وي] او مومنان به په جنت کې تل اوسیږي، یعنی هلته نور مرګ او مړ ینه نسته او نه ورځخه وتل سته او جنتیان پکې تل پاتې ژوند کړی او ورځخه خوند اخلي.

{د منافقانو شپږو او شکونو غندنه او کلک ردول}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د منافقانو اعتراض د الله تعالی پر هغو مثالونو او بیلګو باندې رد کړئ دئ چې هغه په مخکې تیر سوو مبارکو آیتونو کې یاد سول، او فرمایلي دي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَسۡتَحۡيِۦٓ أَن يَضۡرِبَ مَثَلٗا مَّا بَعُوضَةٗ فَمَا فَوۡقَهَاۚ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ فَيَعۡلَمُونَ أَنَّهُ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّهِمۡۖ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فَيَقُولُونَ مَاذَآ أَرَادَ ٱللَّهُ بِهَٰذَا مَثَلٗاۘ يُضِلُّ بِهِۦ كَثِيرٗا وَيَهۡدِي بِهِۦ كَثِيرٗاۚ وَمَا يُضِلُّ بِهِۦٓ إِلَّا ٱلۡفَٰسِقِينَ ٢٦ ٱلَّذِينَ يَنقُضُونَ عَهۡدَ ٱللَّهِ مِنۢ بَعۡدِ مِيثَٰقِهِۦ وَيَقۡطَعُونَ مَآ أَمَرَ ٱللَّهُ بِهِۦٓ أَن يُوصَلَ وَيُفۡسِدُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ٢٧ كَيۡفَ تَكۡفُرُونَ بِٱللَّهِ وَكُنتُمۡ أَمۡوَٰتٗا فَأَحۡيَٰكُمۡۖ ثُمَّ يُمِيتُكُمۡ ثُمَّ يُحۡيِيكُمۡ ثُمَّ إِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ٢٨ هُوَ ٱلَّذِي خَلَقَ لَكُم مَّا فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗا ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰٓ إِلَى ٱلسَّمَآءِ فَسَوَّىٰهُنَّ سَبۡعَ سَمَٰوَٰتٖۚ وَهُوَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ٢٩﴾

[٢٦] هو! یقینا چې الله د حق و یلو نه په مثال راوړو او د بیلګو په یادولو سره؛ حیا نکړي او نه ور باندې شرمیږي، که څه هم دا مثال او ساړئ د میاشې په څیر وړ وي او یا د هغې نه لږ څه غټ وي، نو چا چې پر الله ایمان راوړئ دئ پدې پوهیږي چې دغه مثال او بیلګه حق ده او هغه د دوی پالونکې لوی څښتن الله لخوا ده، خو هغه کسان چې پر الله کافران سول او ایمان یې رانوړ، نو هغوی وایي چې د دې مثال او بیلګې نه الله څه غواړي؟ خو د الله دا مثالونه او بیلګې چې الله پر هغو باندې حق بیانوي؛ د سمې لارې نه د ډیرو خلکو د ورکتیا سبب او عامل کرځي، خو نور ډیر خلک په دغو بیلګو او مثالونو سره؛ د حق پر سمه لار روانیږي، او په دغسې بیلګو سره؛ الله یوازې فاسقان چې د الله بنده ګی نه وتلي دي؛ بې لارې کوي، یعنی سمه لار ورڅخه ورکوي.

[٢٧] او فاسقان هغه کسان دي چې د الله سره خپل تړون او تعهد نه وروسته د هغه ټینګښت ماتوي او د پښو لاندې پې کوي، او همدارنګه فاسقان د الله دین سره د مخالفت لپاره د خپلوي اړ یکې چې الله پې پر وصل او یو بل سره پر تړلو امر کړئ دئ؛ پر یکوي او د ځمکې پر مخ فساد او ورانئ خوروي، نو فاسقانو پر دغسی بدو کړنو سره پر خپل لاس خپل تاوان کړئ دئ او په دنیا او په آخرت کې مخ تورن دي.

هو؛ درندو عز یزانو! یقینا چې مثالونه او بیلګې د وضاحت لپاره راوړل کیږي، او الله تعالی په قرآن کې دغسې ادبي اسلوب او ژ بنئ دود ډیر ځل کارولئ دئ، ترڅو مونږ د الله تعالی په مقصد او غرض باندې ښه پوه سو، او د بیلګو نه دلته د منافقانو دوه مخې چلند ته اشاره او ګوته نیول دي، ځکه دوی پې په تور تم کې اچولي دي او سمه لار یې پر دوی تیاره کړې ده او د هغې نه پې کلک ورک کړي دي.

قدرمنو وروڼو! د دی تعهد او هوډ نه دلته مقصد په ځانګړي ډول هغه تړون دئ چې الله تعالی د آدم(عليه السلام)تول کهول نه د دوی د پیدایښت نه ډیر پخوا په اطاعت کړو او په بنده ګۍ او په یو والي او توحید سره؛ د الله په عبادت کړو کې؛ اخستئ دئ، خو بیا دا تعهد او تړون الله تعالی د پیغمبرانو په را لیږلو سره؛ تل نوئ کړئ او ټینګ کړئ دئ، خو کافرانو بیا خپل دا تړون هیرکه او د الله اطاعت او بنده ګۍ نه ووتل، او د دې تعهد بیان د الاعراف سورې په (١٧٣) آیت کې راغلئ دئ او پکې الله تعالی فرمایلي دي: (وإذ أخذ ر بك من بني آدم من ظهورهم ذر يتهم وأشهدهم على أنفسهم ألست بر بكم؟ قالوا بلى شهدنا أن تقولوا يوم القيامة إنا كنا عن هذا غافلين...الأعراف (١٧٣) هو؛ ای پیغمبره! هغه وخت را په یاد کړه، کله چې د ستا رب الله د آدم(عليه السلام) کهول نه چې دوی لا د خپلو پلرونو په شاګانو کې ول؛ تعهد او هوډ واخست او ورته یې وو یل: چې آیا زه د ستاسې رب او لوی څښتن نه یم؟ او دوی یې پر خپلو ځانو باندې شاهدان وګرځول، نو بیا د آدم کهول په ځواب کې وو یل: هو! مونږ شاهدان یو چې دا تعهد او هوډ تا د زمونږ نه واخست [نو بیا دوی الله

تعالی وګواښـل او ورته يې وو يل:] نو بيا د قيامت په ورځ ونه وايي چې مونږ د دې نه غافل وو او د زمونږ پام نوه، يعنی پر دغـــې پلمه خلاصـــيدای نسی.

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی د کافرانو کفري در يځ د الله تعالی پر وړاندې چې دوی او لوی اســمانو نه او ځمکه يې پيدا کړي دي؛ کلک غندلئ دي، او فرمايلي دي:

[۲۸] او تاســې ای کافرانو! څنګه د الله توحيد نه منکر يږی [يعنی بتان د الله سره په عبادت کې شر يکوی] حال دا چې تاسې مړه وی او هيڅ نه وی، نو بيا الله تاسې را ژوندي کړی او پيدا يې کړی، او بيا د دنيا ژوند نه وروســته تاســې الله بيرته مړه کوي او ســاه مو اخلي، او د هغې نه وروسته بيا د قيامت په ورځ تاسې الله بيرته را ژوندي کوي او بيا تاسې ټول الله ته ورګرځول کيږی، يعنی دا چې بيا به تاســې هر يو خپل حســاب ورکړی.

[۲۹] هو؛ ای خلکو! يوازي الله هغه څوک دئ چې هرڅه يې د ستاسې لپاره پر ځمکه پيدا کړل [يعنی د ځمکې د دغو ټولو نعمتونو نه تاسې ګټه اخلی او خوند يې څکی] او د ځمکې پيدايښت نه وروسته بيا الله اسمان ته مخه کړه او هغه يې اووه اسمانه برابر جوړ کړل، او الله پر هرڅه ښه پوه لوی ذات دئ، يعنی ټول مخلوقات د الله تعالی د علم او پوهې لاندې دي او هيڅ څه شئ د الله علم نه پټ ندي او الله په هرڅه پوهيږي او پوره علم ور باندې لري.

ګرانو دوســتانو! الله تعالی په دغو مبارکو آيتونو کې چې په (يا أيها الناس اعبدوا ر بكم ...الآيات) باندې پيل ســوي دي او په (هوالذي خلق لكم ما في الأرض جميعاً) باندې پای ته رسـيدلي دي؛ خپل ټول بنده ګان د الله توحيدي عبادت ته را بللي دي او د الله تعالی توحيدي عبادت حق يې پر بنده ګانو باندې په ر بوبيت، عبوديت او الوهيت کې په ډيرو روښــانه دليلونو ســره بيان کړی دئ، او د کافرانو ســرغړونې يې د الله اطاعت او

بنده ګي نه کلکې غندلی دي، او د قیامت په ورځ يې د دواړو ډلو (مومنانو او کافرانو) ثواب او سزا په ښه کړې او بیان کړي ده، او هغه دا چې مومنان به زرغونو جنتونو ته ورښوئي او کافران به د دوزخ سره اور په لمبو کې تل پاتې کړ یږي.

نو دعاء کړو چې الله تعالی ده مونږ ته پر خپل دین باندې کلک ایمان سره ده استقامت او تیبګښت را په برخه کړي او د دوزخ سزا نه ده الله تعالی مونږ پر خپل فضل او رحمت سره وساتي!

{د ځمکې خلافت الله آدم عليه السلام او د هغه کهول ته سپارلئ دئ}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د آدم عليه السلام او د هغه کهول خلافت قصه په ځمکه کې مونږ ته یاده کړي ده، او فرښتو ته يې حکم کړئ دئ چې آدم ته د درناوي سجده وکړي، او فرمایلي دي:

﴿وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَٰٓئِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي ٱلْأَرْضِ خَلِيفَةً ۖ قَالُوٓاْ أَتَجْعَلُ فِيهَا مَن يُفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ ٱلدِّمَآءَ وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ ۖ قَالَ إِنِّيٓ أَعْلَمُ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٣٠﴾ وَعَلَّمَ ءَادَمَ ٱلْأَسْمَآءَ كُلَّهَا ثُمَّ عَرَضَهُمْ عَلَى ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ فَقَالَ أَنۢبِـُٔونِي بِأَسْمَآءِ هَٰٓؤُلَآءِ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٣١﴾ قَالُواْ سُبْحَٰنَكَ لَا عِلْمَ لَنَآ إِلَّا مَا عَلَّمْتَنَآ ۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلْعَلِيمُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٣٢﴾ قَالَ يَٰٓـَٔادَمُ أَنۢبِئْهُم بِأَسْمَآئِهِمْ ۖ فَلَمَّآ أَنۢبَأَهُم بِأَسْمَآئِهِمْ قَالَ أَلَمْ أَقُل لَّكُمْ إِنِّيٓ أَعْلَمُ غَيْبَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَأَعْلَمُ مَا تُبْدُونَ وَمَا كُنتُمْ تَكْتُمُونَ ﴿٣٣﴾﴾

[٣٠] ای پیغمبره! او هغه وخت را په یاد کړه، کله چې د ستا رب الله ملائکو ته وو یل: زه یقینا پر ځمکه یو ځوک خلیفه ګرځوم [ترڅو د هغه ځای ناستي خلیفه ګان یو بل پسې ځمکه ودانه کړي، نو بیا فرښتو د خپلو ځانو ښه پوهاوي په مقصد الله ته] وو یل: آیا ته ای لو یه ر به! پر ځمکه داسې ځوک خلیفه ګرځوي چې هغه په ځمکه کې ورانئ کړي او د خلکو و یني تو یوي ؟ حال دا چې مونږ ای لو یه خدایه! د ستا حمد او ثنا وایو، او تا د هر ډول نقصان او عیب نه په پاکې سره یادوو او ستاینه ده

کړو! [یعنی دا چې مونږ د خلافت وړتیا لرو نه آدم او د هغه کهول، نو ته ای لو یه ر به! مونږ د خپل مقصد په حکمت پوه کړه؟ نو بیا الله تعالی په ځواب کې ورته] وو یل: زه پر هغه څه ښه پوهیږم چې تاسې پرې نه پوهیږی!

[۳۱] [نو بیا الله تعالی د آدمعليه السلام لوړ مقام ښـــودلو لپاره] آدم ته د ټولو شـیانو نومونه ورزده کړل او بیایې دا نومونه ټول ملائکو ته وړاندې کړل، او د دوی نـه یې و پوښـــتـل چې کـه تـاســې خپلـه غوښـــتنـه کې د ږښتاو یونکو نه یاستی؟ [یعنی خلافت د ستاسې حق وي نه د آدم] نو ما د دغو توکو د نومونو نه خبر کړی؟

[۳۲] [نو بیا ملائکو الله ته په ځواب کې] وو یل: ای لو یه ر به! ته د هر نقصان او عیب نه پاک یې او مونږ خو پرته د هغه علم او پوهې نه چې تا راکړې ده؛ په بل څه نه پوهیږو، او یقینا چې ته یا الله! ښـه پوه او لوی حکیم ذات یې، یعنی د ستا ټول کړل پر علم او حکمت ترسره کیږي.

[۳۳] [نو بیا آدم ته الله تعالی] وو یل: ای آدمه! ملائکې د دغو شـیانو یا توکو د نومونو نه خبر کړه، نو بیا چې کله آدم ملائکې د دغو ټولو توکو د نومونو نـه خبر کړل [یعنی د ټولو نومونـه یې وروښـــودل] نو بیـا اللـه ملائکو ته [په و ینا کې] وو یل: آیا تاسې ته ما نوه و یلي چې زه د اسـمانو او ځمکې په پټو شـیانو ښـه پوهیږم [یعنی ښـه لوی علم ور باندې لرم] او څه شئ چې تاسې ښکاره کوی او څه شئ چې پټوی؛ زه پر هغو ټولو باندې ښه پوهیږم، یعنی زما د علم نه هیڅ څه شئ پټ ندي او هرڅه ما ته ښکاره او لوڅ دي.

{کبرجن لعنتي شیطان آدم عليه السلام ته سجده ونکړه}

قـدرمنو دوســـتـانو! او پـه ور پســې مبـارك آیـت کې اللـه تعـالی آدمعليه السلامباندې خپله لو یه پیرزو ینه؛ مونږ ته یاده کړی او پیغمبرﷺ ته یې فرمایلي دي:

﴿وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَٰٓئِكَةِ ٱسْجُدُواْ لِأَدَمَ فَسَجَدُوٓاْ إِلَّآ إِبْلِيسَ أَبَىٰ وَٱسْتَكْبَرَ وَكَانَ

مِنَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٣٤﴾

[۳٤] [ای پیغمبره! او هغه وخت خلکو ته را په یاد کړه] کله چې ملائکو ته مونږ وو یل: آدم ته [د درناوي سجده وکړی] نو بیا ملائکو آدم ته سجده وکړه، خو ابلیس [علیه لعنت چې د ملائکو سره یوځای وه او آدم علیه السلام ته په سجدې کړو باندې مامور وه] کبر وکه او آدم ته یې سجده ونکړه [او د هغه نه یې کلک مخ واړا وه، ځکه] ابلیس د کافرانو نه وه، یعنی نو ځکه یې د الله تعالی بنده کی او اطاعت نه سرغړونه وکړه.

{آدم او حوا شیطان وغولول او حرامه میوه یې پرې وخوړه}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی مونږ ته د جنت نه ځمکې ته د آدم علیه السلام او د حوا را کوز یدلو قصه کړې ده، او د دغې لویې سزا عامل او مقصد یې را ته په نښه کړئ او بیان کړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿ وَقُلۡنَا يَٰٓـَٔادَمُ ٱسۡكُنۡ أَنتَ وَزَوۡجُكَ ٱلۡجَنَّةَ وَكُلَا مِنۡهَا رَغَدًا حَيۡثُ شِئۡتُمَا وَلَا تَقۡرَبَا هَٰذِهِ ٱلشَّجَرَةَ فَتَكُونَا مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٣٥﴾ فَأَزَلَّهُمَا ٱلشَّيۡطَٰنُ عَنۡهَا فَأَخۡرَجَهُمَا مِمَّا كَانَا فِيهِۖ وَقُلۡنَا ٱهۡبِطُواْ بَعۡضُكُمۡ لِبَعۡضٍ عَدُوّٞۖ وَلَكُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ مُسۡتَقَرّٞ وَمَتَٰعٌ إِلَىٰ حِينٖ ﴿٣٦﴾ فَتَلَقَّىٰٓ ءَادَمُ مِن رَّبِّهِۦ كَلِمَٰتٖ فَتَابَ عَلَيۡهِۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٣٧﴾ قُلۡنَا ٱهۡبِطُواْ مِنۡهَا جَمِيعٗاۖ فَإِمَّا يَأۡتِيَنَّكُم مِّنِّي هُدٗى فَمَن تَبِعَ هُدَايَ فَلَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ﴿٣٨﴾ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَكَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَآ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٣٩﴾ ﴾

[۳۵] او آدم ته مونږ وو یل چې ته او جوړه ده [یعنی میرمن ده حوا] په جنت کې میشت سی او پکې و اوسیږی، او د جنت میوو نه چې څه میوې د ستاسې خوښیږي؛ هغه وخوری او چیرته چې د ستاسې زړه ؤ هلته په خوښی سره میوه وخوری، خو یوازې دغې ونې ته مه ورنزدې کیږی [یعنی د هغې میوه مه خوری، او که هغې ته ورنزدې سوی او میوه یې تاسې وخوړله] نو بیا به تاسې د ظالمانو نه یاستی، یعنی تاسې به تیرئ کړئ وي

او د الله حرامو پوله به تاسې د پښو لاندې کړې وي، ځکه په نښه سوې ونې میوې خوړل الله تعالی پر تاسې باندې حرام کړي ول.

[٣٦] نو بیا آدم او میرمن یې (حواء) شیطان د جنت نه وښو یول او د هغه جنت نه چې دوی پکې اوسیدل را وایستل [یعني شیطان د دوی په زړونو کې تلوسه واچوله، ترڅو یې د الله حکم نه سرغړونه او نافرماني وکړه او د هغې ونې میوه یې وخوړله چې دوی الله ورڅخه منع کړي ول، نو بیا دوی الله تعالی د مخکنۍ خبرتیا سره سم د جنت نه را وایستل] او بیا دوی ته مونږ وو یل: د جنت نه ځمکې ته کوز سئ او په ځمکه کې به بیا تاسې د یو بل دښمنان یاستئ او ځمکه به د ټاکل سوې نیټې پورې؛ تاسې ته د خوند اخستلو استوګنځئ او مینه وي.

[٣٧] نو بیا آدم د خپل رب لخوا څو[دعایه] کلمې تر لاسه کړې [او د هغو په و یلو سره یې تو به وایستله او د الله نه یې بښنه وغوښتله] نو بیا د هغه تو به الله قبوله کړه [یعنی د تیروتنې ګناه یې الله ورته و بښله] ځکه یقینا چې الله ډیر لوی تو به قبلونکئ [او په پښمانه سوو کسانو باندې] ښه لوی مهر بان رب دئ.

قدرمنو وروڼو! هغه دعاء چې آدم عليه السلام ته الله تعالی پر خپل رحمت سره وښودله، ترڅو یې په و یلو سره الله تعالی ته وروکړئ او د خپلې ګناه نه تو به و باسي؛ هغه دعاء د الاعراف سورې په (٢٣) مبارك آیت کې آدم او حوا په خوله داسې و یل سوې ده:" قالا ر بنا ظلمنا أنفسنا وإن لم تغفر لنا وترحمنا لنكونن من الخاسرين" ای د زمونږ ر به او لو یه څښتنه! مونږ پر خپلو ځانو ظلم وکه، نو که ته مونږ ونه بښې او راباندې ونه رحمیږی، نو مونږ به یقینا د بایلونکو نه یو او ښه ډیر تاوان به مونږ کړئ وي او کلک به ز یانمن سوي یو.

درندو دوستانو! نو دا مبارکه دعاء هغه قرآني دعاء ده چې ښایی تل یې مونږ ولولو او د خپلو تیروتنو ګناه بښنه د الله تعالی نه وغواړو، ځکه دا دعاء زمونږ لپاره د توبې و یستلو سر لیک او ځلانده سرخط دئ.

او په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالى همداسې فرمايلي دي:

[٣٨] او بيا مونږ دوى ته (آدم، حوا او ابليس ته) وو يل: ټول د جنت نه را ووځئ [او ځمکې ته کوز سئ] نو بيا به تاسې ته زما لخوا د لارښودنى پيغام هرومرو درسې [او تاسې به سې لارى ته چې هغه د حق لار ده را و بولي] نو که بيا چا د زما لارښودنې ومنلې او ور پسې لاړل، نو بيا پر دوى باندې هيڅ و يره نسته او نه ده غمجن کيږي.

او په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالى کافران د دوزخ اور نه ګواښلي دي، او فرمايلي دي:

[٣٩] او هغه کسان چې کافران سول [يعنى د الله حکم يې ونه مانه] او د زمونږ کتاب (قرآن) آيتونه او دليلونه يې دروغ وګڼل؛ هغوى دوزخيان دي او تل به د دوزخ په اور کې کړ يږي او پکې پاتې وي، يعنى هيڅ کله ورڅخه را وتلاى نسي.

ګرانو عز يزانو! په دغو مبارکو آيتونو کې د الله تعالى ډيرې ګټورې لارښودنې نغښتې دي، نو ښايي چې مونږ مسلمانان خپل ځانونه ور باندې ښه پوه کړو او عمل پرې وکړو، ځکه د آدم عليه السلام په دغه قصه کې دا لاندې ډيرې ګټورې لارښودنې او سپارښتنې ياد سوې دي: آدم عليه السلام او د هغه ټول کهول به د قيامت ورځې پورې د ځمکې ودانى دنده په غاړه لري، او ښايي دغه رسالت په ښه علم او پوهه ترسره کړي، او د آدم عليه السلام مقام دومره لوړ دئ چې فرښتو ورته د الله په حکم د عزت او درناوي سجده وکړه،خو ابليس ملعون چې کبرجن ؤ؛ سجده يې ونکړه، نو بيا دئ د الله رحمت نه د تل لپاره ورټل سه او د جنت نه را وايستل سه، نو بيا ابليس د ډيرې کينې نه د آدم ټول کهول سره د دښمنى لوړه و کړه، خو بيا الله تعالى د آدم عليه السلام تو به قبوله کړه او د هغه کهول نه يې يو بل پسې خپل پيغمبران خوښ کړل، ترڅو هغوى خپل ولسونه د الله عبادت او بنده ګى ته په توحيد سره را و بولي او را دعوت کړي،نو چا چې ايمان راوړ او سې لارې ته يې مخه کړه؛ د کافرانو غوندې بد عاقبت او د ترخې را تلونکې نه

يې چې هغه د دوزخ تل پاتې اور دئ؛ نجات بياموند او ځای يې جنت سه، ځکه جنت د آم عليه السلام لمړنئ کور او استوګنځی ؤ، او چا چې د الله حکم نه کلکه سرکښي وکړه؛ ځای يې د دوزخ اور دئ او هلته به پکې تل کړ يږي.

{يهودو باندې د الله پيرزو يني او د هغوی ناشکرې غندنه}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی د بني اسرائيلو يوه اوږده قصه مونږ ته کړې ده، ځکه دوی د موسی عليه السلام غوندې يو لوی پيغمبر چې هغه خپل قوم او امت ته د کلک تصميم او غښتلي عزم خاوند پيغمبر ؤ او يهودو ته يې د الله نه ورته راغلئ اسماني کتاب تورات لوست چې يکې د اسلام ستر پيغمبر محمد ﷺ بعثت ز يرئ ؤ، نو ځکه يهودو چې د رسول الله ﷺ هجرت نه مخکې په يثرب کې اوسيدل و يل يې: اوس هغه نوئ پيغمبر راځی چې د هغه ياد په پخوانيو کتابونو کې سوئ دئ، نو مونږ به ور باندې ايمان راوړو، خو کله چې رسول الله ﷺ په مکه کې پر پيغمبرۍ مبعوث سه، نو په يثرب کې ميشت عرب (اوس او خزرج) پر يهودو وړلاندې سول او ايمان يې راوړ،نو کله چې بيا رسول الله ﷺ هجرت وکه او يثرب ته لاړه،نو يهودو د کينې نه پرې ايمان رانوړ، نو دا لاندې مبارك آيتونه را نازل سول او پکې الله تعالی د بني اسرائيلو قصې را پسيره کړې او دوی يې اسلام پيغمبر ﷺ باندې ايمان راوړو ته را و بلل، خو يهود د ايمان راوړ نه په شا سول او انکار يې وکه، نو بيا دغه مبارك آيتونه پر رسول ﷺ رانازل سول، او هغه د البقرې سورې(٤٠)آيت نه پيل او د (١٢٣) آيت پورې آيتونه دي او ټول(٨٣)آيته دي، او پکې د بني اسرائيلو دغه قصې د نصيحت او سپارښت په بڼه کې يادې سوي دي،او يقينا چې مومنان هم پدې وعظ او سپارښتونو کې کډ مخاطب او شر يك دي،ترڅو د يهودو پيښې ونکړي او هغوی پسې لاړ نسي، او په کلک تصميم سره د خپل رب او د هغه پيغمبر محمد ﷺ سپارښتنې پلي کړي او عمل ور باندې وکړي، اوس نو د دغو مبارکو آيتونو پښتو معنا او لنډ تفسير ته چې پکې تاسې ته ای مومنانو! لويې ګټې نغښتې دي؛ پام وکړی، او په پيل کې يې الله تعالی پر بني اسرائيلو غږ کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿يَٰبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتِيَ ٱلَّتِيٓ أَنۡعَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ وَأَوۡفُواْ بِعَهۡدِيٓ أُوفِ بِعَهۡدِكُمۡ وَإِيَّيَ فَٱرۡهَبُونِ ٤٠ وَءَامِنُواْ بِمَآ أَنزَلۡتُ مُصَدِّقٗا لِّمَا مَعَكُمۡ وَلَا تَكُونُوٓاْ أَوَّلَ كَافِرِۭ بِهِۦۖ وَلَا تَشۡتَرُواْ بِـَٔايَٰتِي ثَمَنٗا قَلِيلٗا وَإِيَّيَ فَٱتَّقُونِ ٤١ وَلَا تَلۡبِسُواْ ٱلۡحَقَّ بِٱلۡبَٰطِلِ وَتَكۡتُمُواْ ٱلۡحَقَّ وَأَنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ٤٢ وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱرۡكَعُواْ مَعَ ٱلرَّٰكِعِينَ ٤٣﴾

[٤٠] ای د اسرائیل کهوله! (د یعقوب عليه السلام بچیانو!) د زما هغه ورکړې او نعمتونه را په یاد کړئ چې هغه تاسې ته ما درکړي دي [یعنی ښه شکر یې و باسی] او زما سره پر خپل تعهد او ټرون وفاء وکړی [یعنی د زما پیغمبر محمد ﷺ ومنی او د زما پر را نازل سوي کتاب (قرآن) باندې ایمان راوړی] نو بیا به زه هم پر خپل تعهد او وعده ستاسې سره وفاء وکړم [یعنی تاسې ته به خپل نعمتونه په دنیا او آخرت کې درکړم] او یوازي د زما نه وو یر یږی، یعنی د زما سزا او عذاب نه ځانو نه کلک وساتی.

[٤١] ای د اسرائیل کهوله! او تاسې په هغه کتاب (قرآن)ایمان راوړی چې هغه ما ستاسې سره کتاب (تورات) ته تصدیقونکئ او ور باندې باور کونکئ را لیږلئ دئ، او تاسې په قرآن باندې لمړني کافران مه کیږی [او ای یهودو!] زما د کتاب آیتونه په لږ او ارزانه بیعه مه خرڅوی او یوازی د زما نه وو یر یږی، یعنی خپل ځانو نه په ایمان راوړو سره د زما سزا نه کلک وساتی او متقیان سی، او د خپل رب الله ټول حکمونه پر ځای کړی.

[٤٢] ای یهودو! او حق ته د باطل جامه مه وراغوندی او دا حق چې تاسې هغه پیژنی او پرې پوهیږی؛ هغه مه پټوی، یعنی د یهودو په کتاب تورات کې د رسول الله ﷺ صفتونه راغلي وه، خو دوی به هغه پټول، ترڅو ملامت نسي چې ولې دغه د کتاب خاوندان (یهود) پر رسول الله ﷺ باندې ایمان نه راوړي؟

[٤٣] ای بني اسرائیلو! او لمونځ وکړی او زکات ورکړی او د مسلمانانو سره یوځای رکوع وکړی، یعنی په اسلام کې ورننوځی او د مسلمانانو سره

يوځای د اسلام ټول شعائر او حکمونه پر ځای کړی او لمنځونه وکړی.

{يهودو چې خلکو ته په ښوکړنو سپارښت که ځانونه يې هير وه}

او په ور پسې مبارکو ايتونو کې الله تعالی مونږ د يهودو دوه مخې چلند او نفاق نه خبر کړي يو، او فرمايلي دي:

﴿۞أَتَأۡمُرُونَ ٱلنَّاسَ بِٱلۡبِرِّ وَتَنسَوۡنَ أَنفُسَكُمۡ وَأَنتُمۡ تَتۡلُونَ ٱلۡكِتَٰبَۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ٤٤ وَٱسۡتَعِينُواْ بِٱلصَّبۡرِ وَٱلصَّلَوٰةِۚ وَإِنَّهَا لَكَبِيرَةٌ إِلَّا عَلَى ٱلۡخَٰشِعِينَ ٤٥ ٱلَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُم مُّلَٰقُواْ رَبِّهِمۡ وَأَنَّهُمۡ إِلَيۡهِ رَٰجِعُونَ ٤٦ يَٰبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتِيَ ٱلَّتِيٓ أَنۡعَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ وَأَنِّي فَضَّلۡتُكُمۡ عَلَى ٱلۡعَٰلَمِينَ ٤٧ وَٱتَّقُواْ يَوۡمٗا لَّا تَجۡزِي نَفۡسٌ عَن نَّفۡسٖ شَيۡـٔٗا وَلَا يُقۡبَلُ مِنۡهَا شَفَٰعَةٞ وَلَا يُؤۡخَذُ مِنۡهَا عَدۡلٞ وَلَا هُمۡ يُنصَرُونَ ٤٨﴾

[٤٤] [ای د يهودو مذهبي مشرانو احبارو !] او آيا تاسې نورو خلکو ته په ښو کړنو سپارښت کړی، خو خپل ځانو نه هيروی؟ حال دا چې تاسې د الله کتاب (تورات) لولی [يعنی په تورات کې تاسې الله تعالی د اسلام په پيغمبر باندې ايمان راوړو ته را بللي ياستی] نو آيا تاسې ای يهودو! د خپل عقل او هوښياری نه کار نه اخلی؟ يعنی دا چې آيا تاسې د ځان اصلاح کول د بل چا اصلاح کولو پورې ندئ ترلئ؟ بلکې ښايي چې هر څوک لمړئ خپل ځان اصلاح کړي، ځکه د ځان اصلاح مسؤليت د هغه پر غاړه دئ.

[٤٥-٤٦] ای يهودو! او د خپلو ټولو چارو اسانتيا لپاره د صبر، زغم او د لمانځه کړو نه کار واخلی، ځکه لمونځ کړل که څه هم ډير لوی او درومد کار دئ، خو پر هغو کسانو درومد ندئ چې دوی د الله عذاب نه ښه کلک و ير يږي او په ماتو زړونو او په زاری سره د الله ثواب ته طمعه لري، ځکه دوی هغه کسان دي چې د خپل رب الله سره په يوځای کيدو باندې پوخ باور او يقين لري چې دوی هرومرو الله ته ورتلونکي دي او د

قيامت په ورځ به الله ته حساب ورکوي.

قدرمنو دوستانو! دا سپارښت که څه هم مخامخ يهودو ته سوئ دئ، خو حکم يې عام دئ او هغه ټولو مومنان ته لارښـود سـپارښـت دئ، نو مونږ ته ښـايي چې په سـتونزو او کړاوونو کې تل صـبر وکړو او د لرې کيدو لپاره يې الله ته په ډيرې زارۍ سـره مخ واړوو او لمونځ وکړو، لکه څنګه چې به رسـول الله ﷺ په سـختيو کې لمونځ کاوه او د الله تعالى نه به يې اسانتيا غوښتله، او يقينا چې رسول اللهﷺ مونږ ته لارښود استازئ دئ او د ډير رحمت او مهربانۍ نه يې خپلې ټولې لارښـودنې او نصـيحتونه؛ مونږ ته رسـولي او تبليغ کړي دي.

[٤٧] ای بني اسرائيلو! او د زما هغه نعمتونه او پيرزويني را په ياد کړئ چې هغه ما پر تاسې باندې لوروي دي، او يقينا چې تاسې ما په ډيرو نورو ولسـونو باندې [په خپل وخت کې] اوچت، لوړ او غوره کړي وې، يعنې تاسې ته ما پر هغوی باندې لوړتيا درکړې وه.

هو! بني اسـرائيلو ته الله تعالى اولوالعزم پيغمبران را ليږلي ول او خپل کتابونه يې، لکه ز بور، تورات او انجيل دوی ته ورکړي ول، او هغه د الله په حکمونو او لارښـودنو باندې ډک ول، نو يقينا چې دا ډير لوی مقام دئ او هغه الله تعالى د يهودو په برخه کړئ وه،نو شـکر و يسـتل يې پر هغوی فرض ول، خو يهود پر خپل قدر پوه نسـول او د اسلام ستر پيغمبر محمد ﷺ سـره يې کلکې دښـمنۍ ته ملا وټرله او دا دښـمني تر ننه همداسې پاتې ده، او هغه يهود چې په غرب کې ميشـت ول؛ د غربي ښـکيلاک ګړ يو په مرسـته فلسـطين ته راوسـتل سـول او بيا دوی د فلسـطينيانو کورونه او کاروندې په زور لاندې کړې او فلسـطينيان يې ورځخه وشـړل او د خپل هيواد نه يې مهاجر کډه کړل، او د اسـرائيلو دولت په فلسـطين کې په ١٩٤٨م کال اعلان سـه او تر ننه پورې فلسـطنيانو ته د دوی حقوق ندي ورکړل سـوي، او په مليونهاوو فلسـطينيان د خپلو کورونو نه شـړل سـوي دي او په نړۍ کې د هجرت او کډوالۍ اوږده کلونه تيروي او خپل هيواد ته د ورستنيدو نه محروم دي!

[٤٨] ای بني اسـرائيلو! او د هغې ورځې نـه کلـک وو يـر يرې [يعنی ځانونه د الله عذاب نه په اطاعت سـره وسـاتی، ځکه] چې په هغه ورځ [يعنی د قيامت په ورځ] هيڅ ځوک يو بل ته کټه رسولای نسي او د هيڅ چا شفاعت او سپارښت کافرانو ته نه قبليږي او نه د چا نه پدې ورځ فديه او نذرانه اخسـتل کيږي او نه د دوی سـره مرسـته کيږي، يعنی ترڅو دوی د الله سزا نه خلاص کړي او نجات ورکړي.

هو؛ درندو دوستانو! دا ګواښ ټولو خلکو ته او په ځانګړي ډول مونږ مومنانو ته متوجه دئ، ځکه مونږ پر قرآن کر يم چې د الله تعالی وروستئ اسماني پيغام دئ؛ ايمان راوړئ دئ!

{فرعونيانو د يهودو زامن وژل او لونې يې ژوندی پر ښودلې}

او په ور پسـې مبارکو آيتونو کې الله تعالی يهودو ته د فرعونيانو ظلم نه خلاصون د خپل لوی احسان او نعمت يادونه کړې ده، او فرمايلي دي:

﴿وَإِذْ نَجَّيْنَٰكُم مِّنْ ءَالِ فِرْعَوْنَ يَسُومُونَكُمْ سُوٓءَ ٱلْعَذَابِ يُذَبِّحُونَ أَبْنَآءَكُمْ وَيَسْتَحْيُونَ نِسَآءَكُمْ ۚ وَفِى ذَٰلِكُم بَلَآءٌ مِّن رَّبِّكُمْ عَظِيمٌ ﴿٤٩﴾ وَإِذْ فَرَقْنَا بِكُمُ ٱلْبَحْرَ فَأَنجَيْنَٰكُمْ وَأَغْرَقْنَآ ءَالَ فِرْعَوْنَ وَأَنتُمْ تَنظُرُونَ ﴿٥٠﴾ وَإِذْ وَٰعَدْنَا مُوسَىٰٓ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً ثُمَّ ٱتَّخَذْتُمُ ٱلْعِجْلَ مِنۢ بَعْدِهِۦ وَأَنتُمْ ظَٰلِمُونَ ﴿٥١﴾ ثُمَّ عَفَوْنَا عَنكُم مِّنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٥٢﴾ وَإِذْ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْفُرْقَانَ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿٥٣﴾ وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِۦ يَٰقَوْمِ إِنَّكُمْ ظَلَمْتُمْ أَنفُسَكُم بِٱتِّخَاذِكُمُ ٱلْعِجْلَ فَتُوبُوٓا۟ إِلَىٰ بَارِئِكُمْ فَٱقْتُلُوٓا۟ أَنفُسَكُمْ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ عِندَ بَارِئِكُمْ فَتَابَ عَلَيْكُمْ ۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٥٤﴾﴾

[٤٩] او ای بني اسـرائيلو! [د زما هغه نعمتونه او پيرزو ينی پر خپلو ځانو باندې راپه ياد کړئ] کله چې تاسـې مونږ د فرعونيانو ظلمونو نه راخلاص کړئ او نجات مو درکه، ځکه فرعونيانو تاسې ته ډيره بده سـزا

درکوله، د ستاسې زامن يې وژل او ښځې يې ژوندۍ پر ېښودلې [ترڅو د مينځو غوندې د فرعونيانو خدمت وکړي] او پدې کې تاسې ته د الله له خوا لوی ازمايښت وه، يعنی ای بني اسرائيلو! د ستاسې په خلاصون کې د دغسې لوی عذاب نه پر تاسې باندې د الله لو يه پيرزو ينه وه، نو د خپل رب نعمتونو شکر و باسۍ او مننه يې وکړۍ.

[٥٠] ای بني اسرائيلو! او د زمونږ هغه نعمت را په ياد کړۍ، کله چې مونږ تاسې ته سمندر دوه پلې که [او بيايې په منځ کې تاسې ته مونږ لار وايستله او تاسې په هغه لار تير سوی] او تاسې ته د فرعون لښکر نه مونږ نجات درکه، او د فرعون کورنۍ لښکر مونږ په سمندر کې په داسې حال کې ډوب کړل چې تاسې يې نندارە او سيل کاوه.

[٥١-٥٢] ای بني اسرائيلو! [او هغه ورځ هم را په ياد کړۍ] کله چې موسې سره مونږ د څلو يښتو شپو وعده وکړه [ترڅو د ستاسې لارښودنې لپاره تورات ور باندې رانازل کړو، او بيا چې کله موسی دغه څو شپې او ورځې د ستاسې نه بيل سه] نو بيا تاسې خوسکئ ځان ته خدای ونيوه [يعنی د هغه عبادت مو وکه او بنده ګان يې سوی] او پدې کار سره تاسې ظالمان وی او پر خپلو ځانو باندې مو تيرئ وکه او کافران سوی، او د هغې نه وروسته بيا هم مونږ د ستاسې نه تير سوو[يعنی تاسې مونږ ډير ژر و ښبلی او ستاسې تو به مونږ قبوله کړه] ترڅو تاسې د الله نعمتونو مننه وکړۍ او شکر يې و باسۍ.

[٥٣] ای بني اسرائيلو! [او همدارنګه د زمونږ هغه نعمت پر تاسې] را په ياد کړۍ، کله چې موسی ته مونږ د فرقان کتاب (تورات) ورکه [ترڅو هغه حق او باطل سره بيل کړي] او تاسې حق ته سم سۍ، يعنی د ستاسې مخونه باطل نه حق ته راواړوي او تاسې نور تو به و باسۍ.

او بيا الله تعالی په ور پسې مبارك آيت کې د موسې عليه السلام زړه سواندئ نصيحت خپل قوم ته ياد کړئ دئ او په بيان کې يې فرمايلي دي:

[٥٤] ای بني اسرائيلو! [او د زمونږ نور هغه نعمتونه را په ياد کړۍ]

کله چې موسی خپل قوم بني اسرائیلو ته وو یل:[ای بني اسرائیلو!] تاسې پر خپلو ځانو ظلم وکه، ځکه تاسې د خوسي عبادت وکه او هغه مو ځانو ته خدای ونیوه، نو تاسې خپل پیدا کونکي رب الله ته چې د ستاسې ر ښېتینې ځښتن دئ؛ تو به و باسی او خپل ځانونه مړه کړی [یعنی هر یو ده بل په تورو وهلو سره مړ کړي] ځکه دغسی تو به و یستل تاسې ته د ستاسې خالق الله پر وړاندې د دوزخ په اور کې د تل پاتی سوز یدلو نه ښه او غوره دي، نو بیا الله د ستاسې تو به قبوله کړه، او الله پر خپلو هغو بنده ګانو[چې د ګناه نه دوی تو به باسي او پښیمانه کیږي] ښه مهر بان او لوی تو به قبلونکئ ذات دئ، یعنی بیا چې کله بني اسرائیلو د موسې رب الله حکم په ځان وژنه پلئ که، نو د دوی تو به الله تعالی قبوله کړه، او دوی یې ټول و ښېل او د شرك نه یې تیر سه، ځکه الله مهر بان ذات دئ.

درندو لوستونکو! هو؛ الله تعالی پر بني اسرائیلو خپل ډیر نعمتونه پیرزو کړل او دوی ته یې د فرعونیانو کلک ظلم او د سختو ځپلو او وژلو نه په خپل لوی قدرت او معجزې سره نجات ورکه، او فرعون یې خپل کورني لښکر او ګارد سره یو زای د سره سمندرګي په لوی ډنډ کې ډوب او هلاک که، خو بني اسرائیلو د الله تعالی د دغو لو یو نعمتونو او پیرز ینو شکر ونه و یست، او بیا چې کله موسی علیه السلام د ځلو یښتو شپو لپاره د الله سره مناجات ته د طور غونډې خوا ته لاړه؛ یهودو د خوسي عبادت وکه، نو ځکه الله تعالی خپل دا لوی نعمتونه او پیرزویني ور په یاد کړې دي، ترڅو دوی د دې لوی نعمت شکر و باسي او ایمان راوړي، خو بني اسرائیل هغه سرکښ قوم دئ چې تر ننه پورې دوی الله ته په اخلاص سره سمه رجوع نده کړې او پر خپل بغاوت کې همداسې ډوب دي، او ژوندۍ بیلګه یې په اوسني وخت کې د فلسطینیانو ځپل او د دوی کورونو لاندې کول او په زور نیول او فلسطینئ ځښتن یې ورځخه شړل دي.

قدرمنو دوستانو! الله تعالی د البقرې سورې په دغو مبارکو آیتونو کې؛ همدارنګه مونږ ته پر له پسې د بنی اسرائیلو، یعنی د یعقوب بن

اسحاق بن ابراهيم عليهم السلام کهول او د موسي عليه السلام قوم يهودو قصې او د دوی دوه مخۍ چلند د موسي عليه السلام سره يادوي، ترڅو مومنان د هغوی بغاوت نه کلک پند وا خلي او د خپل رب الله په حکمونو باندې په قرآن کې عمل وکړي، او د دنيا او آخرت نيکمرغي وګټي او ښاد سي.

{د الله تعالى ليدل په دنيا کې محال دي}

قدرمنو وروڼو يهودو د موسى عليه السلام نه د الله تعالى د ليدولو غوښتنه وکړه او بيا دوی کلک بې اوښه سول، او په بيان کې الله تعالى پدې لاندې مبارکو آيتونو کې فرمايلي دي:

﴿ وَإِذْ قُلْتُمْ يَٰمُوسَىٰ لَن نُّؤْمِنَ لَكَ حَتَّىٰ نَرَى ٱللَّهَ جَهْرَةً فَأَخَذَتْكُمُ ٱلصَّٰعِقَةُ وَأَنتُمْ تَنظُرُونَ ﴿٥٥﴾ ثُمَّ بَعَثْنَٰكُم مِّنۢ بَعْدِ مَوْتِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٥٦﴾ وَظَلَّلْنَا عَلَيْكُمُ ٱلْغَمَامَ وَأَنزَلْنَا عَلَيْكُمُ ٱلْمَنَّ وَٱلسَّلْوَىٰ ۖ كُلُوا۟ مِن طَيِّبَٰتِ مَا رَزَقْنَٰكُمْ ۚ وَمَا ظَلَمُونَا وَلَٰكِن كَانُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿٥٧﴾ وَإِذْ قُلْنَا ٱدْخُلُوا۟ هَٰذِهِ ٱلْقَرْيَةَ فَكُلُوا۟ مِنْهَا حَيْثُ شِئْتُمْ رَغَدًا وَٱدْخُلُوا۟ ٱلْبَابَ سُجَّدًا وَقُولُوا۟ حِطَّةٌ نَّغْفِرْ لَكُمْ خَطَٰيَٰكُمْ ۚ وَسَنَزِيدُ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٥٨﴾ فَبَدَّلَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ قَوْلًا غَيْرَ ٱلَّذِى قِيلَ لَهُمْ فَأَنزَلْنَا عَلَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ رِجْزًا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ بِمَا كَانُوا۟ يَفْسُقُونَ ﴿٥٩﴾ ﴾

[٥٥] ای بني اسرائيلو! [او هغه وخت هم را په ياد کړی] کله چې تاسې موسې ته وو يل: مونږ ترهغو پر تا باور نکړو او ايمان نه راوړو، ترڅو چې الله په خپلو سترګو ښکاره ونه وينو! نو بيا تاسې ای يهودو په سترګو کتل چې پر تاسې باندې تندر راپر يوت او تاسې يې راونيولی، يعنی مړه يې کړی او دا ځکه چې تاسې ډيره غټه او لوی ګناه کړی وه او د الله تعالى لوړ مقام ته تاسې په سپکه سترګه کتلی ول.

[٥٦] ای بني اسرائيلو! او تاسې مونږ د مړ ينې او مرګ نه وروسته بيرته را ژوندي کړی، ترڅو شکر و باسی، يعنی پر خپلو ځانو باندې د

الله تعالى لو يو نعمتونو قدر وکړی.

[٥٧] او پر تاسې باندې ای بنی اسرائیلو! مونږ ووره سورئ کړل [ځکه چې تاسې د سینا په ډاګ کې د سره لمر لاندې لال هانده او سرګردانه ګرځیدلی را ګرځیدلی، نو بیا همدې سوري تاسې د لمر وړانګو ګرمی نه وساتلی] او بیا من او سلوا [یعنی تیار سوي خواړه] تاسې ته مونږ راولیږل، او بیا مونږ درته وو یل چې د زمونږ دغه پاکه روزي وخورئ، او په بني اسرائیلو باندې مونږ هیڅ کله ظلم او تیرئ ندئ کړئ، خو دوی په ناشکرئ سره په خپلو ځانو باندې ظلم وکه، یعنی دا چې بیا نو دوی ته د خپلو بدو کړنو سزا ورکړه سوه.

[٥٨] ای بني اسرائیلو! [او د زمونږ بل هغه نعمت پر تاسې باندې راپه یاد کړئ] کله چې تاسې ته مونږ وو یل: دغه کلي ته [بیت المقدس ته ورننوځئ] او هلته چې بیا د ستاسې څه شئ خوښیږي؛ هغه ښه پر یمانه وخورئ، او د بیت المقدس په وره باندې په تواضع او زارئ سره په سجده پراته چې سرونه مو ټیټ وي ورننوځئ او دعاء وکړئ ووایې: ای لو یه ر به! د زمونږ ګناه و ښنه؟ نو بیا د ستاسې ګناه مونږ ښنو او چا چې ښه کړي دي؛ دوی ته لا ډیر ثواب ورکوو.

[٥٩] خو بیا دغو کسانو ظلم او تیرئ وکه او هغه و ینا چې دوی ته سوئ وه؛ هغه يې بدله کړه [یعنی په خامپوړو بیت المقدس ته ورننوتل او په خوله يې هم بل څه وو یل] نو بیا د اسمان نه پر ظالمانو باندې مونږ عذاب را پرې و یست، ځکه دوی د الله فرمان نه سرغړونه وکړه او د اطاعت نه يې ووتل.

{بني اسرائیل الله تعالى د خپلو بدو کړنو په قهر ککړ کړل}

او بیا الله تعالى په بني اسرائیلو باندې د خپلو پیرز ینو یادولو په ترڅ کې؛ د دوی هغه بد کړل یاد کړي دي چې هغه د دوی د ذلت او خواری سبب سول، او فرمایلي دي:

﴿* وَإِذِ ٱسۡتَسۡقَىٰ مُوسَىٰ لِقَوۡمِهِۦ فَقُلۡنَا ٱضۡرِب بِّعَصَاكَ ٱلۡحَجَرَۖ فَٱنفَجَرَتۡ

مِنۡهُ ٱثۡنَتَا عَشۡرَةَ عَيۡنٗاۖ قَدۡ عَلِمَ كُلُّ أُنَاسٖ مَّشۡرَبَهُمۡۖ كُلُواْ وَٱشۡرَبُواْ مِن رِّزۡقِ ٱللَّهِ وَلَا تَعۡثَوۡاْ فِي ٱلۡأَرۡضِ مُفۡسِدِينَ ٦٠ وَإِذۡ قُلۡتُمۡ يَٰمُوسَىٰ لَن نَّصۡبِرَ عَلَىٰ طَعَامٖ وَٰحِدٖ فَٱدۡعُ لَنَا رَبَّكَ يُخۡرِجۡ لَنَا مِمَّا تُنۢبِتُ ٱلۡأَرۡضُ مِنۢ بَقۡلِهَا وَقِثَّآئِهَا وَفُومِهَا وَعَدَسِهَا وَبَصَلِهَاۖ قَالَ أَتَسۡتَبۡدِلُونَ ٱلَّذِي هُوَ أَدۡنَىٰ بِٱلَّذِي هُوَ خَيۡرٌۚ ٱهۡبِطُواْ مِصۡرٗا فَإِنَّ لَكُم مَّا سَأَلۡتُمۡۗ وَضُرِبَتۡ عَلَيۡهِمُ ٱلذِّلَّةُ وَٱلۡمَسۡكَنَةُ وَبَآءُو بِغَضَبٖ مِّنَ ٱللَّهِۗ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ كَانُواْ يَكۡفُرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَيَقۡتُلُونَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّۚ ذَٰلِكَ بِمَا عَصَواْ وَّكَانُواْ يَعۡتَدُونَ ٦١ ﴾

[٦٠] ای د إســرائیل کهوله! [او همدارنګه د زمونږ هغه پیرزو یې او نعمتونه را په یاد کړی] کله چې تاسې لار ورکه کړې وه او ډیر تږي وی، نو بیا موسې په ډیرې زارۍ سره د الله نه وغوښتل چې د هغه قوم ته او به ورکړي، نو بیا موسی ته مونږ وو یل: چې دغه ګټ په خپل ډانګ ووهه، نو بیا موســې هغه وواهه او د هغه نه دولس چینی او به د بني اســرائیلو د دولس ښــو یا خیلونو په شــمیر را وخوټیدلې او د دوی هرې ډلې او خیل خپله چینه و پیژندله، او بیا دوی ته الله وو یل: د الله لخوا درکړل ســوې روزي وخورئ او او به وڅکئ او په ځمکه کې فساد او ورانۍ مکړئ، یعنی خپل ځانونه د الله تعالی حکمونو مخالفت نه کلک وساتئ.

[٦١] ای بني اسرائیلو! [او هغه وخت هم را په یاد کړی] کله چې موسې تاســې ته وو یل: مونږ هره ورځ په دغســی یو ډول خوړو باندې چې هغه د الله لخوا ورته را لیږل سوي خواړه (من او سلوا ول) بسنه کړلای نسو، نو ته ای موســې! د خپل رب نه وغواړه چې د ځمکې نه راوتلي خواړه مونږ ته راکړی، لکه: باقلي، کدو، اوړه، دال، پیاز او داسې نور سابو، نو بیا موسې دوی ته په ځواب کې وو یل: آیا تاســې دا د ځمکې نه را وتلي پیکه خواړه په هغو ښــو او ګټورو خوړو بدلوی؟ [حال داچې د اســمان نه را کوز ســوي

خواړه الله تعالى تاسې ته خوښ کړي دي؟] نو ای بني اسرائيلو! نور ځې او د دې ځای نه ښار ته کوز سئ او هلته به بيا هغه څه بياموئ چې هغه تاسې غوښتي دي او د خوړلو اشتياه يې لرئ، نو بيا چې کله بني اسرائيل ښار ته را کوز سول؛ خواري، ذلت او ولږه يې په برخه سوه او الله دوی ورټل، ځکه دوی تل د الله نه مخ اړاوه او د الله کتاب آيتونو نه منکر ول او پيغمبران يې ناحقه وژل او د الله پر حدودو او حکمونو يې تيرئ کاوه او ډير ګناه ګار ول.

ګرانو دوستانو! الله تعالى په دغو مبارکو آيتونو کې، او همدرانګه په ډيرو نورو آيتونو او سورو کې د بني اسرائيلو يا د يهودو چې د الله رحمت نه رټل سوي خلک دي؛ ډير بد بد خو يونه مونږ ته په وار وار سره راپه ياد کړي او په نښه کړي دي، لکه د دوی تعهدونو او هوکړو ماتونه او خپل نفس او شهوت پسې تل تګ او د خواهشاتو منل او د الله تعالى نعمتونو ناشکري او د الله پيغمبرانو ناروا او ناحقه وژل، نو د يهودو دغسې نور ډير بد خو يونه او بد صفتونه، او د يهودو د دغسې خو يونو تکراري يادونې نه؛ لوی مقصد او غرض دا دئ چې ښايي مسلمانان تل و يښ وي او هيڅ کله د يهودو پټو توطئيو او چلونو په لومو کې ونښلي، او همدارنګه ښايي هر مسلمان تل د يهودو د دغسې بدو خو يونو نه چې دوی يې د الله رحمت نه رټلي دي او الله تعالى پر دوی باندې کلک په غوصه سو ئ ده؛ خپل ځانونه وساتي، نو ځکه مونږ د الفاتحې په مبارکه سوره کې تل همدا دعاء کړو او وايو: ای لو يه ر به! مونږ سمې لارې ته هدايت کړه او د يهودو لارې نه چې ته يا الله پر دوی باندې په قهر او په غوصه سوئ يې او دوی ده د خپل رحمت نه شړلي او رټلي دي؛ مونږ پر خپل رحمت او لوی فضل او کرم سره وساته.

{د مومنانو ايمان او د ښه عمل ثواب الله سره محفوظ دئ}

قدرمنو دوستانو! الله تعالى په ور پسې لمړنې آيت کې چې د البقرې سورې (٦٢) آيت دئ؛ ټولو مومنانو ته د اسلام نه مخکې او وروسته چې

دوی د هر دین او د هر کتاب پلو یان دي؛ ښـــه پوخ ز یرئ او ډاډ ورکړئ دئ چې د دوی ثواب د الله سره ساتل سوئ او محفوظ دئ، نو دوی ده نه اندیښمن کیږي او نه ده و یر یږي او نه ده غمجن کیږي، او فرمایلي دي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَٱلَّذِينَ هَادُواْ وَٱلنَّصَٰرَىٰ وَٱلصَّٰبِـِٔينَ مَنْ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْأَخِرِ وَعَمِلَ صَٰلِحًا فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ٦٢﴾

[٦٢] یقینا هغو کسانو چې [د رسول الله ﷺ امت نه] ایمان راوړ، او هم هغه کسان چې د یهودو او د نصاراوو او یا د صابیانو نه ول [یعنی هیڅ دین یې نه درلود] او بیا دوی پر الله او د آخرت په ورځ ایمان راوړ او ښـــه یې وکړل، نو د دغو ټولو مومنانو د ایمان ثواب د دوی رب الله سره ساتل سوئ او منل سوئ دئ، او پر دوی باندې هیڅ و یره نسته او نه به غمجن کیږي، یعنی الله تعالی دوی ته د خپل ایمان او د ښـه عمل ثواب ورکوي او دوی به د جنتونو په نعمتونو ونازوي.

ګرانو عز یزانو! خو دا حقیقت ښایي روښانه وي چې د اسلام پیغمبر محمد ﷺ د پیغمبرۍ نه وروســـته چې کله هغه ټولو خلکو او د نړۍ ټولو ولسونو ته خاتم النبیین والمرسلین پیغمبر را لیږل سوئ دئ؛ نو د اسلام نه پرته بل هیڅ کم دین الله ته منظور ندئ او هغه نه مني، نو د پخوانیو ادیانو پر ټولو پیروانو باندې لازمه او فرض ده چې د اســـلام دین ومني او ایمان راوړي؛ کنه نو د قیامت په ورځ دوی ټول د کافرانو په لیکه او قطار کې درول کیږي، ځکـه د اســـلام راتګ نـه وروســـتـه بیـا نور یهودیت او نصرانیت ګټه نه لري او الله ته منظور ندي.

{هغو یهودو چې په تورات عمل ونکه بیزوکان سول}

او په ور پســـې مبارکو آیتونو کې الله تعالی پر یهودو خپلې لویې پیرزو ینې یادې کړې دي، او فرمایلي دي:

﴿وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَٰقَكُمْ وَرَفَعْنَا فَوْقَكُمُ ٱلطُّورَ خُذُواْ مَآ ءَاتَيْنَٰكُم

بِقُوَّةٍ وَٱذۡكُرُواْ مَا فِيهِ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ٦٣ ثُمَّ تَوَلَّيۡتُم مِّنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَۖ فَلَوۡلَا فَضۡلُ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ وَرَحۡمَتُهُۥ لَكُنتُم مِّنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ٦٤ وَلَقَدۡ عَلِمۡتُمُ ٱلَّذِينَ ٱعۡتَدَوۡاْ مِنكُمۡ فِي ٱلسَّبۡتِ فَقُلۡنَا لَهُمۡ كُونُواْ قِرَدَةً خَٰسِـِٔينَ ٦٥ فَجَعَلۡنَٰهَا نَكَٰلٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهَا وَمَا خَلۡفَهَا وَمَوۡعِظَةٗ لِّلۡمُتَّقِينَ ٦٦ ﴾

[٦٣] ای بني اسرائیلو! [او هغه وخت را په یاد کړی] کله چې د ستاسې نه مونږ هوډ او تعهد واخسـت چې پر الله باندې ایمان راوړی او یوازې د الله عبادت وکړی، او بیا د طور غونډی مونږ سـتاسـی پر سـرونو باندې راجګه کړه او تاسې ته مونږ وو یل چې د زمونږ هغه کتاب چې هغه تاسې ته مونږ درکړئ دئ؛ په کلک تصـمیم او غښـتلي عزم سـره په خپلو لاسـو کې ونیسـئ او عمل ور باندې وکړی او هر هغه څه چې پدې کتاب کې دي هغه تل په یاد ولری، ترڅو تاسـې متقیان سـئ او د الله عذاب نه خپل ځانونه کلک وساتئ.

[٦٤] خو بیا وروسته تاسې ای بني اسرائیلو! د دغې هوکړې او تعهد نه مخ واړا وه [یعنی د خپل تل پاتې خوی او عادت سـره سـم ورڅخه لاس په شا سـوئ او تاسې د الله تعالی سره خپل ټړون مات که او هغه مو د پښـو لاندې که] نو که بیا د الله فضل او لوی رحمت او لور ینه پر تاسې باندې نه وای، نو تاسې به په دنیا او په آخرت کې با یلونکي وئ.

[٦٥] ای یهودو! او یقینا چې تاسې د خپلو پخوانیو ځینو هغو کسـانو یوه کلي قصې نه ښه خبر یاستئ او پوه سـوئ چې کله دوی د شنبې یا خالي ورځې په قدسـیت باندې تیرئ وکه [ځکه دوی د هفتې په ورځ د کبانو یا مایانو ښکار نه منع سـوي ول، نو بیا دوی یوه پلمه ورته جوړه کړه، او د هفتې یا خالي په ورځ یې او به ډنډ کړې او جالونه یې پکې خواره کړل او بیا یې د یکشنبې په ورځ کبان ورڅخه را وایسـتل او ښکار یې کړل، نو بیا دوی ته الله کلکه سزا ورکړه، او وې فرمایل:] نو بیا دغو یهودو ته مونږ وو یل: ړټل سـوي بیزوګان سئ! یعنی الله تعالی دوی مسـخه کړل او څیړې یې بدلې کړې او بیزوګان سـول، خو بیا وروسـته دغه یهودان چې مسـخ سـوي ول؛

الله تعالى ډير ژر هلاك كړل او د دوى نسل يې ورک كه، او روايت سوئ دئ چې دوى يوازې درې ورځې ژوندي ول، او بيا دوى الله تعالى ټول هلاك كړل، او د مسخ سوو يهودو دغه قصه د الاعراف سورې په (١٦٣) آيت كې په تفصيل سره راغلې ده، او بيا په ور پسې مبارك آيت كې الله تعالى فرمايلي دي:

[٦٦] نو بيا د يهودو دا كلئ مونږ د هغه وخت نورو كليو او راتلونكو خلكو ته د پند اخستلو بيلګه وګرځوله او متقيانو ته چې د الله نه ښه كلك و يرې يې د يهودو دغه كسان؛ ښه وعظ او زدكړه وګرځيدل، يعنى نو ښايي چې نور يهودان لا ډير د الله په دين ټينګ سي او د هر ډول سركښى نه خپل ځانونه كلك وساتي.

{د يهودو غوا قصه د دوى د بد خوى ځلانده بيلګه ده}

عزتمنو دوستانو! او په ور پسې مبارکو آيتونو كې الله تعالى د بني اسرائيلو د غوا هغه قصه مونږ ته كړې ده چې په هغه باندې د البقرې ټوله سوره نومول سوئ ده، او د دغې قصې لنډ بيان داسې دئ چې روايت سوئ دئ د يهودو په يوه كلي كې يو بډاى او مالدار سړئ وه، خو هغه زامن نه درلودل او يوازې يو وراره يې وه، نو همدې وراره يې د خپل تره ميراث لاس ته راوړو كې تلوار وكه او خپل تره يې په توره شپه كې مظلوم مړكه، او مړئ يې بيا د يو بل سړي كور مخې ته واچوه او د دې كور څښتن يې د خپل تره په وژلو تورن كه، نو بيا د دغو دوه كورنيو په منځ كې لو يه دعوا پيل سوه او د حل لپاره يې دوى موسىعليه السلام ته ورغلل او موسى ورته امر وكه چې يوه غوا حلاله كړى او د هغې غوښې نه يوه ټوټه غوښه را پرې كړى او دا مړئ ور باندې ووهى، نو مړئ به خپل قاتل دروښيي، خو يهودو بيا د دغې غوانه لو يه قصه جوړه كړه، ځكه پدې كار سره د دود خلاف د موسىعليه السلام پيغمبرى لو يه معجزه راڅرګندیدله، خو د موسى خبره؛ د دوى زړو ته ورننه نه وتله او دوى د دغې غوا پيژندلو په باره كې د موسى نه پوښتنې پيل كړې او په دغو پوښتنو كې د دوى عناد او كلكه كينه د

موسـی علیه السلام سـره خرکنده وه، ترڅو چې په بالآخره یوه غوا په ډیر جګ قیمت او لوړه بیعه واخسـتله او هغه یې ذبحه او حلاله کړه او یوه ټوته غوښـه یې ورڅخه راپرې کړه او مړئ یې ور باندې ووا‌هه، نو بیا دا مړئ بیرته را ژوندۍ سه او قاتل یې چې د هغه خپل وراره وه په ګوته که، نو پدې کار سره د موسی علیه السلام د نبوت لو یه معجزه راخرکنده سوه.

ګرانو دوسـتانو! د بني اسـرائیلو غوا دغه قصـه الله تعالی په لاندې مبارکو آیتونو کې ډیره روښانه او ښه اوږده یاده کړې ده، او په بیان کې یې فرمایلي دي:

﴿وَإِذۡ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوۡمِهِۦٓ إِنَّ ٱللَّهَ يَأۡمُرُكُمۡ أَن تَذۡبَحُواْ بَقَرَةٗۖ قَالُوٓاْ أَتَتَّخِذُنَا هُزُوٗاۖ قَالَ أَعُوذُ بِٱللَّهِ أَنۡ أَكُونَ مِنَ ٱلۡجَٰهِلِينَ ٦٧ قَالُواْ ٱدۡعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّن لَّنَا مَا هِيَۚ قَالَ إِنَّهُۥ يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٞ لَّا فَارِضٞ وَلَا بِكۡرٌۖ عَوَانُۢ بَيۡنَ ذَٰلِكَۖ فَٱفۡعَلُواْ مَا تُؤۡمَرُونَ ٦٨ قَالُواْ ٱدۡعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّن لَّنَا مَا لَوۡنُهَاۚ قَالَ إِنَّهُۥ يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٞ صَفۡرَآءُ فَاقِعٞ لَّوۡنُهَا تَسُرُّ ٱلنَّٰظِرِينَ ٦٩ قَالُواْ ٱدۡعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّن لَّنَا مَا هِيَ إِنَّ ٱلۡبَقَرَ تَشَٰبَهَ عَلَيۡنَاۖ وَإِنَّآ إِن شَآءَ ٱللَّهُ لَمُهۡتَدُونَ ٧٠ قَالَ إِنَّهُۥ يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٞ لَّا ذَلُولٞ تُثِيرُ ٱلۡأَرۡضَ وَلَا تَسۡقِي ٱلۡحَرۡثَ مُسَلَّمَةٞ لَّا شِيَةَ فِيهَاۚ قَالُواْ ٱلۡـَٰٔنَ جِئۡتَ بِٱلۡحَقِّۚ فَذَبَحُوهَا وَمَا كَادُواْ يَفۡعَلُونَ ٧١ وَإِذۡ قَتَلۡتُمۡ نَفۡسٗا فَٱدَّٰرَأۡتُمۡ فِيهَاۖ وَٱللَّهُ مُخۡرِجٞ مَّا كُنتُمۡ تَكۡتُمُونَ ٧٢ فَقُلۡنَا ٱضۡرِبُوهُ بِبَعۡضِهَاۚ كَذَٰلِكَ يُحۡيِ ٱللَّهُ ٱلۡمَوۡتَىٰ وَيُرِيكُمۡ ءَايَٰتِهِۦ لَعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُونَ ٧٣﴾

[٦٧] ای بني اسـرائیلو! [او د خپلو نیکونو هغه ضـد کړل او ځان غوښتنه چې ورسره یې د موسې علیه السلام لارښودنو نه سرغړونه وکړه؛ راپه یاد کړی] کله چې موسـې خپل قوم ته د دوی د غوښـتنې په ځواب کې وو یل: تاسـې ته الله امر کړئ دئ چې یوه غوا حلاله او ذبحه کړی [او بیا د هغې مړۍ نه یوه ټوټه غوښه راپرې کړی او دغه مړئ [چې قاتل یې معلوم ندئ

د غوا] په دغه ټوټه غوښـــه ووهئ، نو بيا به دا مړئ خپل قاتل درو پيژني، خو د الله دا امر د دوی زړو ته ونلو يده او موســی ته يې په ځواب کې] وو يل: آيا ته پر مونږ ملنډې وهې؟ [نو موسی په ځوا ب کې ورته] وو يل: زه د ناپوهانو نه الله ته پناه وړم، يعنی ما ده الله تعالی د هغــې ناپوهانو نه نګرځوي چې زه پر تاسې باندې ملنډې ووهم او يا د ســتاسې سپکاوئ زما مقصد وي!

[٦٨] او بيا يهودو وو يل: نو ته ای موســی! د خپل رب نه وغواړه چې دغه غوا مونږ ته را وښـيي چې هغه څرنګه يوه غوا ده؟ [موسی په ځواب کې ورته] وو يل: الله په يقين سره وايي: هغه داسې يوه غوا ده چې نه ډيره زړه ده او نه ډيره وړه او د دغو دواړو په منځ کې ده، نو تاسې ته چې په څه حکم سوئ ده هغه عملي کړئ.

[٦٩] نو بيا يهودو وو يل: ای موسی! د خپل رب نه ده و پوښـته چې د غوا رنګ څه شئ دئ؟ موسی ورته وو يل: الله په کلکه سره وايي: چې هغه زيړه غوا ده او رڼه ځليږي او ليدونکي په ليدو او نندارې سره خوښوي.

[٧٠] نو بيا يهودو وو يل: ای موسی! د خپل څښـتن نه ده وغواړه چې د دغې غوا نورې نښې هم مونږ ته را وښـيي، ځکه باور وکړه چې دا غوا زمونږ نه د نورو غواوو سره کډه سوه او که الله وغوښـتل، نو مونږ به په يقين سره د غوا مينډلو ته ورسم سو، يعنی غوا به بياموموِ او بيا به هغه ذبحه او حلا له کړو.

[٧١] [نو بيا موســی دغو يهودو ته په ځواب کې] وو يل: الله وايي: دا غوا نه هغــې د کار کړو خوارکی غوا ده چې ځمکه قولبه کړي او نه د کويي يا څاه نه د او بو راو يسـتلو څرخ ګرځونکې غوا ده چې کښـت او به کړي، دا غوا روغه جوړه غوا ده او هيڅ نقصان او عيب پکې نسته، نو بيا يهودو وو يل: اوس نو تا ای موســی! د غوا ا صــلي ځيره او نښــه مونږ ته راوښـودله، نو بيا يې غوا په داسې حال کې ذبحه او حلاله کړه؛ چې لنډه وه دا کار ونکړي، يعنی د موسیعليه السلام خبره ونه مني او هغه بې ارزښـته او بې

اعتباره و بولي!

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د دغې قصې پيل ياد کړئ دئ، او فرمايلي دي:

[۷۲] هو؛ ای بني اسرائيلو! تاسې هغه وخت را په ياد کړی، کله چې تاسې يو سړئ مړکه او بيا د هغه وژلو پر سر تاسې د يو بل سره په خپل منځ کې خولې واچولې [يعنی د مړي قاتل پر سر يهودو اختلاف وکه چې د مړی قاتل څوک دئ؟ ځکه يهودو يو بل سړئ په قتل تورن که] خو د مړي قاتل او وژونکئ چې تاسې [ای يهودو] هغه پټاوه الله رسوا که، يعنی دا ځکه چې الله تعالى را ښکاره کونکئ لوی ذات دئ.

[۷۳] نو بيا مونږ [تاسې ته ای بني اسرائيلو!] وو يل: چې د دغې غوا په يوه توټه غوښه باندې؛ دا وژل سوئ مړئ ووهی [او هغه به الله را ژوندئ کړي او خپل قاتل به تاسې ته دروښيي چې څوک دئ؟ او دا سړئ چا وژلئ دئ؟] هو! الله همدغسې ټول مړي د آخرت په ورځ را ژوندي کوي، او تاسې ته ای خلکو! الله د خپل لوی قدرت نښې درښئ يي، ترڅو خپل عقلونه په کار واچوی، يعنی د ګناهوو نه نور لاس واخلی.

درندو عز يزانو! او بيا چې کله يهودو غوا حلاله کړه او يوه ټوټه غوښه يې د هغې نه راپرې کړه او مړه يي ور باندې وواهه؛ نو بيا الله تعالى دا مړئ را ژونده که او خپل قاتل يې چې د مړي وراره وه؛ رسوا که.

{د يهودو نه چې توراتې تحريف که د ايمان طمعه نکيږي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې د يهودو سختو زړونو نه چې، لکه تيکه کلک سوي ول؛ الله تعالى مونږ خبر کړي يو، او فرمايلي دي:

﴿ثُمَّ قَسَتْ قُلُوبُكُم مِّنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ فَهِيَ كَٱلْحِجَارَةِ أَوْ أَشَدُّ قَسْوَةً ۚ وَإِنَّ مِنَ ٱلْحِجَارَةِ لَمَا يَتَفَجَّرُ مِنْهُ ٱلْأَنْهَٰرُ ۚ وَإِنَّ مِنْهَا لَمَا يَشَّقَّقُ فَيَخْرُجُ مِنْهُ ٱلْمَآءُ ۚ وَإِنَّ مِنْهَا لَمَا يَهْبِطُ مِنْ خَشْيَةِ ٱللَّهِ ۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٧٤﴾ أَفَتَطْمَعُونَ أَن يُؤْمِنُوا۟ لَكُمْ وَقَدْ كَانَ فَرِيقٌ مِّنْهُمْ يَسْمَعُونَ كَلَٰمَ ٱللَّهِ

ثُمَّ يُحَرِّفُونَهُۥ مِنۢ بَعۡدِ مَا عَقَلُوهُ وَهُمۡ يَعۡلَمُونَ ٧٥ وَإِذَا لَقُواْ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ قَالُوٓاْ ءَامَنَّا وَإِذَا خَلَا بَعۡضُهُمۡ إِلَىٰ بَعۡضٖ قَالُوٓاْ أَتُحَدِّثُونَهُم بِمَا فَتَحَ ٱللَّهُ عَلَيۡكُمۡ لِيُحَآجُّوكُم بِهِۦ عِندَ رَبِّكُمۡۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ٧٦ أَوَلَا يَعۡلَمُونَ أَنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعۡلِنُونَ ٧٧ وَمِنۡهُمۡ أُمِّيُّونَ لَا يَعۡلَمُونَ ٱلۡكِتَٰبَ إِلَّآ أَمَانِيَّ وَإِنۡ هُمۡ إِلَّا يَظُنُّونَ ٧٨

[۷٤] ای بني اسرائیلو! [سره د دغو ټولو نصیحتونو، سپارښتنو او د ډیرو معجزو نه وروسته چې هغه موسی علیه السلام تاسې ته راوړی] بیا هم د ستاسې زړونه د تیکې غوندې کلک سول، او د تیکې یا کاڼي نه لا ډیر کلک دي [یعنی هیڅ بدلون پکې ندئ راغلئ، حال دا چې] یقینا په تیکو کې هم بدلون راځي او داسې تیکې هم سته چې کله وچوي د او بو و یالې ورڅخه بهیږي او داسې تیکه هم سته چې کله پله پله سي، نو بیا او به ورڅخه راوځي [یعنی لکه د موسی علیه السلام هغه تیکه چې کله هغه موسی علیه السلام په خپل ډانګ ووهله، نو بیا د موسی قوم دولسو پښو په شمیر دولس چینې او به ورڅخه را ووتلې] او داسې تیکې هم سته چې د الله و یرې نه د غرو څوکو نه را کنده کیږي، نو ای بني اسرائیلو! پدې پوه سی چې الله د ستاسې حال او د کړنو نه غافل او ناخبره ندئ، یعنی الله تعالی د ستاسې پر ټولو کړنو باندې پوه دئ، نو هر چا ته د هغه لائق ثواب او سزا ورکوي.

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی مومنان د یهودو کینه کښو تورو زړونو نه کلک ګواښلي دي، او فرمایلي دي:

[۷۵] نو ای مومنانو! آیا تاسې د یهودو زړونو حال خبرېدلو نه وروسته؛ بیا هم طمعه لرئ چې دوی به پر تاسې باندې باور وکړي او ایمان به راوړي؟ [ځواب دا چې نا دغسې طمعه او هیله هیڅ کله د یهودو نه مکړئ] ځکه د هغوی ځینې مذهبي پوهانو به د الله خبرې په تورات کې چې پر دوی باندې را نازل سوئ وه؛ اور یدلې، خو بیا یې د هغو ر یښتیا معنا د ژورې پوهې نه وروسته بدلوله [یعنی کږه معنا یې ورڅخه اخستله] او پدې هم نه پوهیدل چې دوی د الله خبرې بدلوي!

[٧٦] او کله چې به يهود د مومنانو سره يوځای سول په خوله بې مومنانو ته و يل: مونږ کلک ايمان راوړئ دئ [يعنی د ستاسې کتاب (قرآن) او پيغمبر محمدﷺ منو] خو بيا چې به کله د يهودو دغه کسان د يو بل سره په خپل منځ کې سره يوځای سول [نو بيا بې يو بل ملامتا وه او ورته بې] و يل: آيا تاسې د مومنانو سره [د محمد په باره کې] هغه خبرې کړې چې هغه الله تاسې ته په تورات کې بيان کړی دي؟ نو آيا تاسې نه پوهيږی [چې بيا به مومنان د قيامت په ورځ] د الله پر وړاندې د ستاسې دغه خبرې پر تاسې باندې دليل ونيسي؟ يعنی دا چې يهودو به يو بل ته و يل: د تورات هغو خبرو و يلو نه چې د اسلام پيغمبر په اړوند دي؛ ډ ډه وکړی او هغه د مومنانو نه پټې کړی او دوی ته دغسې ر يښتيا مه وايي او د اسلام پيغمبر د راتک ز يرئ مه ورکوی!

[٧٧] او آيا يهود پدې نه پوهيږی چې يقينا الله په هغه څه چې هغه دوی پټوي او هم هغه څه چې دوي يې ښکاره کوي؛ پدې ټولو ښه پوهيږي؟ يعنی الله تعالی ته د خلکو ټولې کړنې ښکاره دي، ځکه د الله تعالی علم په هرڅه محيط او را کرد دئ او هيڅ څه شئ د الله نه پټ ندي.

[٧٨] او په يهودو کې اميان او نالوستي کسان هم سته چې په ليک او لوست نه پوهيږي [يعنی په تورات چې د اسلام پيغمبر صفتونه پکې سوي دي په هغه هم نه پوهيږي] نو د دوی خبرې خوسې هيلې او طمعې دي، او هغه يوازې د دوی انګيرنې او هيلې دي، يعنی څه چې يهود وايي هغه حقيقت نه لري او ر يښتيا ندي.

{د يهودو مشر انو ته الله د سزا ګوابښ کړئ دئ}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې د يهودو مذهبی مشران (احبار) چې د دين سوداګر ول؛ الله تعالی کلک ګوابښلي دي، او فرمايلي دي:

﴿فَوَيۡلٞ لِّلَّذِينَ يَكۡتُبُونَ ٱلۡكِتَٰبَ بِأَيۡدِيهِمۡ ثُمَّ يَقُولُونَ هَٰذَا مِنۡ عِندِ ٱللَّهِ لِيَشۡتَرُواْ بِهِۦ ثَمَنٗا قَلِيلٗاۖ فَوَيۡلٞ لَّهُم مِّمَّا كَتَبَتۡ أَيۡدِيهِمۡ وَوَيۡلٞ

لَّهُم مِّمَّا يَكۡسِبُونَ ٧٩ وَقَالُواْ لَن تَمَسَّنَا ٱلنَّارُ إِلَّآ أَيَّامٗا مَّعۡدُودَةٗۚ قُلۡ أَتَّخَذۡتُمۡ عِندَ ٱللَّهِ عَهۡدٗا فَلَن يُخۡلِفَ ٱللَّهُ عَهۡدَهُۥٓۖ أَمۡ تَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ٨٠ بَلَىٰۚ مَن كَسَبَ سَيِّئَةٗ وَأَحَٰطَتۡ بِهِۦ خَطِيٓـَٔتُهُۥ فَأُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ٨١ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ٨٢

[۷۹] نو هغو کسانو ته ده هلاکت او کلکه سزا وي چې دوی دا کتاب (تورات) په خپلو لاسونو د ځاني کتو لپاره لیکي او بیا وایي چې دا د الله نه راغلئ کتاب دئ [حال دا چې دا تحر یف ســوې لیکني د تورات ســره چې هغه پر موسیعليه السلام باندې رانازل سوئ دئ همغږې ندي] خو د یهودو احبار او مذهبي مشران غواړي چې تورات په لږ بیعه خرڅ کړي او وې پلوري، نو د یهودو دا لیکوالان ده تباه او هلاك ســي چې دغســې خبرې یې په خپلو لاســونو لیکلې دي [یعني د الله تعالي کتاب (تورات) یې تحر یف کړئ دئ] او دوی ته ده د خپلو دغسې بدو کړنو هلاکت کلکه سزا وي، یعنی دا چې یهود په خپلو دغسې کړنو سره حرام مال او دولت لاس ته راوړي.

[۸۰] او بني اســرائیلو وو یل: چې د دوزخ اور په آخرت کې مونږ ته څو شمیرل سوې ورځې رسیږي، نو ته ای پیغمبره! دوی ته ووایه: چې آیا تاسې د الله ســره پدې کې څه ټرون لرئ؟ او کمه هوکړه یا تعهد مو د الله نه اخســتئ دئ؟ [یعني که چیرې حقیقت همداسې وي، لکه څنګه چې تاسې دعوا کړئ] نو الله هیڅ کله هم د خپل تعهد او ټرون خلاف کار نکړي! او یا دا چې تاسې ای یهودو! الله پسې هغه څه وایي چې نه پرې پوهیږئ، یعنی د ستاسې دا و ینا ټوله دروغ او بې بنسټه ده او هغه الله تعالی پسې (العیاذ بالله) د دروغژن تور لږول دي!

[۸۱] هو! هر هغه څوک چې بد وکړي [یعنی کافر سي] نو د هغه ګناه پر هغه باندې له هرې خوا نه کلکه راتاو یږي، نو هغوی دوزخیان دي او د دوزخ په اور کې به تل کړ یږي.

[٨٢] او هغو کسانو چې ایمان راوړ او ښه یې وکړل؛ هغوی جنتیان دي او دوی به د جنت په نعمتونو کې تل یاتې اوسیږي، یعنی نو هر هغه څوک چې د اسلام پر پیغمبرﷺ ایمان نه راوړي او قرآن نه مني، لکه بني اسرائیل؛ هغوی د جنت نه محروم دي، ځکه یهودیت دوی ته د اسلام راتک نه وروسته هیڅ ګټه نه لري، او دغسې اهل کتاب الله تعالی په قرآن کې کافران بللي دي، نو دوی، لکه مشرکان او ملحدان کافران دي، ځکه دوی د حق نه منکر دي، هغه پتوي او نې مني.

{ یهودو خپل تعهد الله سره د هغه په بنده ګي کې مات که }

قدرمنو دوستانو! او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله بني اسرائیلو ته د دوی هغه تعهد او هوډ ور په یاد کړئ دئ چې دوی به یوازې د الله بنده کې کړي او د خپل منځې جګړو نه به لاس اخلي، او فرمایلي دي:

﴿وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَٰقَ بَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ لَا تَعْبُدُونَ إِلَّا ٱللَّهَ وَبِٱلْوَٰلِدَيْنِ إِحْسَانًا وَذِى ٱلْقُرْبَىٰ وَٱلْيَتَٰمَىٰ وَٱلْمَسَٰكِينِ وَقُولُوا۟ لِلنَّاسِ حُسْنًا وَأَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُوا۟ ٱلزَّكَوٰةَ ثُمَّ تَوَلَّيْتُمْ إِلَّا قَلِيلًا مِّنكُمْ وَأَنتُم مُّعْرِضُونَ ﴿٨٣﴾ وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَٰقَكُمْ لَا تَسْفِكُونَ دِمَآءَكُمْ وَلَا تُخْرِجُونَ أَنفُسَكُم مِّن دِيَٰرِكُمْ ثُمَّ أَقْرَرْتُمْ وَأَنتُمْ تَشْهَدُونَ ﴿٨٤﴾ ثُمَّ أَنتُمْ هَٰٓؤُلَآءِ تَقْتُلُونَ أَنفُسَكُمْ وَتُخْرِجُونَ فَرِيقًا مِّنكُم مِّن دِيَٰرِهِمْ تَظَٰهَرُونَ عَلَيْهِم بِٱلْإِثْمِ وَٱلْعُدْوَٰنِ وَإِن يَأْتُوكُمْ أُسَٰرَىٰ تُفَٰدُوهُمْ وَهُوَ مُحَرَّمٌ عَلَيْكُمْ إِخْرَاجُهُمْ ۚ أَفَتُؤْمِنُونَ بِبَعْضِ ٱلْكِتَٰبِ وَتَكْفُرُونَ بِبَعْضٍ ۚ فَمَا جَزَآءُ مَن يَفْعَلُ ذَٰلِكَ مِنكُمْ إِلَّا خِزْىٌ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۖ وَيَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ يُرَدُّونَ إِلَىٰٓ أَشَدِّ ٱلْعَذَابِ ۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٨٥﴾ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ٱشْتَرَوُا۟ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا بِٱلْءَاخِرَةِ ۖ فَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ ٱلْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنصَرُونَ ﴿٨٦﴾﴾

[٨٣] ای یهودو! [او هغه وخت راپه یاد کړئ] کله چې مونږ د بني

اسرائیلو نه تعهد واخست چې تاسې به د الله نه پرته د بل هیڅ چا عبادت او بنده ګي نکړئ او خپلې مور او خپل پلار سره به ښه کړئ، او خپلوانو، یتیمانو او مسکینانو سره به ښه کړئ او مرسته به ورسره کړئ، او خلکو ته ښې خوږې خبرې وکړئ، لمونځ وکړئ او زکات ورکړئ، خو بیا تاسی ای د اسرائیل کهوله! د دغو ټولو هوکړو نه او الله سره د خپلو تعهدونو نه په شا سوئ [یعنی هغه تاسې د پښو لاندې کړل] او ستاسې نه ډیر لږ کسان په دغو هوکړو باندې ټینګ پاتې سول، او نور د الله حکمونو نه همداسې مخ اړوونکي وی، یعنی په خپله سرکښئ کې همداسې پاتې سوی.

[۸٤] ای بني اسرائیلو! او هغه وخت هم را په یاد کړئ، کله چې مونږ د ستاسې نه هوکړه او تعهد واخست چې د یو بل و ینې به نه تو یوئ [یعنی نه به سره وژنئ] او یو بل به د خپلو کلو نه نه شړئ، نو بیا تاسې پر خپلو دغو هوکړو باندې اقرار وکه او هغه تاسې ومنلې او په ر یښتینوالي یې شاهدان یاستئ!

[۸۵] خو بیا تاسې ای یهودو! [خپل منځي جګړو تحر یم سره سره] یو بل مو سره مړه کړل او یوې ډلې بله ډله [او یو خیل بل خیل] د خپل کور او کلي نه وشړل، او تاسې د یو بل سره په تیري او په ګناه کړو کې مرسته کړئ [یعنی ترڅو تاسې خپل تر برونه وټکوئ] خو بیا چې کله د دښمن په لاس برمته سوي یهود تاسې ته راوړل سي، نو بیا تاسې د هغوی په ازادئ کې فد یه او نذرانه ورکوئ، حال دا چې د هغوی شړل د کور او کلي نه پر تاسې حرام ول [او ای بني اسرائیلو! د ستاسې دغسې بدې کړنې څومره ناروا دي] نو آیا تاسې! د تورات په ځینې آیتونو ایمان راوړئ او د ځینې نورو نه منکر یاستئ؟ او ای یهودو! نو هر هغه څوک چې د ستاسې نه دغسې بد کړي؛ د هغه سزا څه شئ ده؟ هو! د هغه سزا دا ده چې دئ د دنیا په ژوند کې خوار، ذلیل او رسوا سي، او د قیامت په ورځ به دوی ټول کلکو سزګانو ته وروګرځول سي، او الله د ستاسې دغسی بدو کړنو نه[ای یهودو] هیڅ کله بې پروا او بې خبره ندئ!

[۸٦] او یهود هغه کسان ول چې د دنیا لنډ ژوند یې د آخرت په تل پاتې

ژوند و پلوره او پرې خرڅ يې کـه [يعنی د دنيـا ژونـد يې د آخرت پر ژونـد خوښ که] نو د يهودو نه د قيامت ورځې عذاب نه سـپکيږي او نه ورسـره مرسته کيږي.

قدرمنو عز يزانو! هو؛ د يهودو دا غندل سـوي خو يونه او بدې کړنې او خپل منځي وژنې کيدای سي چې په ډيرو نورو ولسونو کې هم راڅرګندې سـي، لکه څنګه چې ځينې بيلګې يې همدا اوس [۲۰۱۸م] کال په ځينو اسـلامي هيوادونو کې په ډول ډول پلمو سـره مونږ په سـترګو و ينو، نو ښـايې چې ورڅخه پند واخلو او خپل ځانو نه د دغسـې بدو کړنو او د کرکجنو خو يونو نه کلک وسـاتو، ترڅو الله تعالی را باندې په غوصـه نسـي، او بيا مونږ د خپل رحمت نه ونه شـړي، او د بني اسـرائيلو دغسـې بدو او کرکجنو خو يونو د بيان نه لوی مقصد مونږ ته دا دئ چې ورڅخه پند او عبرت واخلو او د يهودو پيښې او تقليد ونکړو.

{يهود الله د پيغمبر انو وژلو په ګناه خپل رحمت نه وشړل}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی پر موسيعليه السلام باندې د تورات را نازليدلو او بيا د عيسیعليه السلام پيغمبری ياد کړئ دئ او د يهودو زورځواکې يې د خپلو پيغمبران سره کلکه غندلې ده، او فرمايلي دي:

﴿وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا مُوسَى ٱلۡكِتَٰبَ وَقَفَّيۡنَا مِنۢ بَعۡدِهِۦ بِٱلرُّسُلِۖ وَءَاتَيۡنَا عِيسَى ٱبۡنَ مَرۡيَمَ ٱلۡبَيِّنَٰتِ وَأَيَّدۡنَٰهُ بِرُوحِ ٱلۡقُدُسِۗ أَفَكُلَّمَا جَآءَكُمۡ رَسُولُۢ بِمَا لَا تَهۡوَىٰٓ أَنفُسُكُمُ ٱسۡتَكۡبَرۡتُمۡ فَفَرِيقٗا كَذَّبۡتُمۡ وَفَرِيقٗا تَقۡتُلُونَ ٨٧ وَقَالُواْ قُلُوبُنَا غُلۡفُۢۚ بَل لَّعَنَهُمُ ٱللَّهُ بِكُفۡرِهِمۡ فَقَلِيلٗا مَّا يُؤۡمِنُونَ ٨٨﴾

[۸۷] او يقينا چې موسـی ته مونږ کتاب (تورات) ورکه او هغه پسـې وروسـته بيا نور پيغمبران مونږ راوليږل، او د مر يم زوی عيسـی ته مونږ ډيرې روښـانه معجزې ورکړې [چې د عيسیعليه السلام پيغمبری تصـديق يې کاوه] او په روح القدس (جبرئيل امين) باندې مونږ د عيسـی تاييد وکه، نو بيا چې به تاسې ته ای يهودو! يو پيغمبر د داسې يو حکم سره راغئ چې هغه به

د ستاسې نفسونو(مزاجونو) نه خوښيده [نو هغه به بيا تاسې نه مانه، ځکه] تاسې کبر پسې اخستې وې [يعنې تاسې خپل ځانونه د پيغمبرانو نه غټ وګڼل] او ځيني نور پيغمبران تاسې دروغژن و بلل او ځيني پيغمبران تاسې ووژل، يعنې دا هغسې بدې کړنې دي چې تاسې ای يهودو پرې ککړ ياستئ، نو کلکه سزا بې وګالئ!

[٨٨] [او دغو يهودو د اسلام پيغمبر ته] وو يل: زمونږ زړونه تړل سوي دي [يعنې د ستا خبرې زمونږ زړو ته نه ورننوځي، خو ر ښتيا او حقيقت داسې ندئ، لکه څنګه چې يهود وايي] بلکې د يهودو زړونه الله رټلي دي او دوی پې د خپل رحمت نه د دوی د کفر له کبله شړلي دي، نو د يهودو نه ډير لږ کسان ايمان راوړي، يعنې لږ کسان پې د اسلام پيغمبر مني.

{يهود چې د اسلام پيغمبر ته په طمعه وه ز يري ورکول}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د يهودو هغه در يځ رسوا کړئ ده چې دوی د اسلام پيغمبر محمدﷺ د راتګ ز يري ورکول، خو بيا چې کله رسول اللهﷺراغئ، نو دوی ورڅخه منکر سول او د هغه پيغمبري پې ونه منله، او په بيان کې پې الله تعالى فرمايلي دي:

﴿وَلَمَّا جَآءَهُمۡ كِتَٰبٞ مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِ مُصَدِّقٞ لِّمَا مَعَهُمۡ وَكَانُواْ مِن قَبۡلُ يَسۡتَفۡتِحُونَ عَلَى ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فَلَمَّا جَآءَهُم مَّا عَرَفُواْ كَفَرُواْ بِهِۦۚ فَلَعۡنَةُ ٱللَّهِ عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ ٨٩ بِئۡسَمَا ٱشۡتَرَوۡاْ بِهِۦٓ أَنفُسَهُمۡ أَن يَكۡفُرُواْ بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ بَغۡيًا أَن يُنَزِّلَ ٱللَّهُ مِن فَضۡلِهِۦ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦۖ فَبَآءُو بِغَضَبٍ عَلَىٰ غَضَبٖۚ وَلِلۡكَٰفِرِينَ عَذَابٞ مُّهِينٞ ٩٠ وَإِذَا قِيلَ لَهُمۡ ءَامِنُواْ بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ قَالُواْ نُؤۡمِنُ بِمَآ أُنزِلَ عَلَيۡنَا وَيَكۡفُرُونَ بِمَا وَرَآءَهُۥ وَهُوَ ٱلۡحَقُّ مُصَدِّقٗا لِّمَا مَعَهُمۡۗ قُلۡ فَلِمَ تَقۡتُلُونَ أَنۢبِيَآءَ ٱللَّهِ مِن قَبۡلُ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ٩١﴾

[٨٩] او کله چې يهودو ته د الله نه نوئ کتاب (قرآن) راغئ او هغه د

دوی سره د پخواني کتاب (تورات) تصدیق کاوه، نو بیا یهود ورڅخه منکر سول [یعنی د محمدﷺ پیغمبري یې ونه منله، حال دا چې دوی به د رسول الله پیغمبرۍ نه مخکې د یثرب عر بانو ته و یل چې اوس د آخرې زمانې پیغمبر د راتګ ورځې را لنډې سوې دي، او کله چې هغه راغئ، نو مونږ به ور باندې ایمان راوړو او د مشرکانو پر ضد جګړه کې به ورسره ودر یږو] نو بیا چې کله دغه پیغمبر راغئ او یهودو هغه ښه پیژاند [ځکه د محمد ﷺ صفتونه او نښې دوی په تورات کې لوستې وې] خو بیا هم دوی ورڅخه منکر سول او ایمان یې رانوړ، نو پر دغو کافرانو باندې ده د الله لعنت وي، یعنی دا ځکه چې دوی د الله پیغمبر او پر هغه را نازل سوئ کتاب ونه مانه او ورڅخه منکر سول.

[۹۰] او دا چې بني اسرائیلو خپل ځانو نه په کفر خرڅ کړل؛ دا ډیر بد کار وه، ځکه دوی سرغړونه وکړه او د الله نه په رانازل سوي کتاب (قرآن) او د هغه پر پیغمبر (محمدﷺ) یې ایمان رانوړ او کافران سول، او دا یې ونه زغمله چې الله خپل فضل په هر هغه چا چې د خپلو بنده ګانو نه وغواړی پر هغه یې راکوزوي، نو بیا د الله قهر او غوصه د بني اسرائیلو په برخه سول [ځکه دوی تورات تحر یف او بدل که او د محمد ﷺپیغمبرۍ نه منکر سول] او کافرانو ته په آخرت کې خوارونکئ عذاب او کلکه سزا ده.

[۹۱] او کله چې بنی اسرائیلو ته وو یل سول چې د الله نه پر رانازل سوي کتاب (قرآن) باندې ایمان راوړۍ او باور پرې وکړۍ، نو بیا دوی په ځواب کې وو یل: مونږ پر هغه کتاب ایمان راوړئ دئ چې هغه مونږ ته رانازل سوئ دئ، او د هغه نه پرته په بل کتاب [یعنی پر قرآن کافران سول] حال دا چې قرآن د الله حق کتاب دئ او د یهودو سره سته کتابونه مني او تصدیقوي یې، نو که چیرې یهودو په ر یښتیا سره پر خپلو کتابونو باندې ایمان راوړئ وي، نو ته ای پیغمبره! یهودو ته ووایه: که تاسې په ر یښتیا سره مومنان یاستئ، نو بیا ولې تاسې د الله پخواني پیغمبران ووژل؟ یعنی د دغو پیغمبرانو وژل ستاسې په لاس؛ دا حقیقت روښانه

کوي چې تاسې په ر ښتيا سره ايمان ندئ راوړئ!

{يهود د خوسي عبادت په ګناه الله ظالمان وبلل}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى يهود د خوسي په عبادت کلک رټلي دي، او فرمايلي دي:

﴿وَلَقَدۡ جَآءَكُم مُّوسَىٰ بِٱلۡبَيِّنَٰتِ ثُمَّ ٱتَّخَذۡتُمُ ٱلۡعِجۡلَ مِنۢ بَعۡدِهِۦ وَأَنتُمۡ ظَٰلِمُونَ ٩٢ وَإِذۡ أَخَذۡنَا مِيثَٰقَكُمۡ وَرَفَعۡنَا فَوۡقَكُمُ خُذُواْ مَآ ءَاتَيۡنَٰكُم بِقُوَّةٖ وَٱسۡمَعُواْ قَالُواْ سَمِعۡنَا وَعَصَيۡنَا وَأُشۡرِبُواْ فِي قُلُوبِهِمُ ٱلۡعِجۡلَ بِكُفۡرِهِمۡۚ قُلۡ بِئۡسَمَا يَأۡمُرُكُم بِهِۦٓ إِيمَٰنُكُمۡ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ٩٣﴾

[٩٢] ای بني اسرائيلو! او يقينا چې موسى تاسې ته په ډيرو روښانو نښو او معجزو سره چې د هغه نبوت تصديق پې کاوه راغئ [خو بيا چې کله دئ د الله سره خبرو ته تاکل سوي ځای ته لاړه] تاسې د هغه نه وروسته خوسئ خدای ونيوه [يعنى د هغه بنده کې مو وکړه، او په دى کار سره] تاسې پر خپلو ځانو باندې لوى ظلم وکه!

[٩٣] ای بني اسرائيلو! [او هغه وخت را په ياد کړى] کله چې د ستاسې نه مونږ هوکړه او پوخ تعهد واخسته او د طور غونډى [چې د سيناء په ډاګ کې پرته ده] پر تاسې باندې مونږ د پاس نه راجګه کړه او بيا پر تاسې باندې مونږ غږ وکه چې هغه کتاب (تورات) چې هغه تاسى ته مونږ درکړئ دئ؛ کلک ونيسى او هغه واورئ او عمل پرې وکړئ [کنه نو دا د طور غونډى پر تاسې باندې راغورځوم! نو بيا تاسې ای يهودو په ځواب کې داسې] وو يل: ستا خبره مونږ واور يده، خو د ستا امر او حکم نه سرغړونه کړو او هغه نه منو [يعنى بيا يهودو د الله تعالى حکم نه سرغړونه وکړه] ځکه د بني اسرائيلو په زړونو کې د خوسې عبادت او بنده ګى خوند د دوى د کفر له کبله ګډ سوئ وه، نو ته ای پيغمبره! بني اسرائيلو ته ووايه: که چيرې تاسې ای يهودو! په ر ښتيا سره مومنان

یاستی، نو تاسې ته خپل دغسې ایمان په ډیر بد کار باندې چې هغه د قرآن نه انکار دئ؛ امر کړئ دئ، یعنی که تاسې ای یهودو! په ر یښتیا سره ایمان راوړئ وي او د الله په کتاب تورات چې هغه یې پر تاسې رانازل کړئ دئ او د قرآن تصدیق کوي باور لرئ، نو ښایي چې قرآن ومنئ او د کفر نه لاس واخلئ!

{جنت یوازی د یهودو ندئ او دوی د دنیا په ژوند کلک مین دي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د یهودو هغه دروغژنه دعوا کلکه غندلې ده چې دوی به و یل یوازې مونږ جنت ته ځو، او فرمایلي دي:

﴿قُلْ إِن كَانَتْ لَكُمُ ٱلدَّارُ ٱلْآخِرَةُ عِندَ ٱللَّهِ خَالِصَةً مِّن دُونِ ٱلنَّاسِ فَتَمَنَّوُا۟ ٱلْمَوْتَ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٩٤﴾ وَلَن يَتَمَنَّوْهُ أَبَدًۢا بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌۢ بِٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٩٥﴾ وَلَتَجِدَنَّهُمْ أَحْرَصَ ٱلنَّاسِ عَلَىٰ حَيَوٰةٍ وَمِنَ ٱلَّذِينَ أَشْرَكُوا۟ ۚ يَوَدُّ أَحَدُهُمْ لَوْ يُعَمَّرُ أَلْفَ سَنَةٍ وَمَا هُوَ بِمُزَحْزِحِهِۦ مِنَ ٱلْعَذَابِ أَن يُعَمَّرَ ۗ وَٱللَّهُ بَصِيرٌۢ بِمَا يَعْمَلُونَ ﴿٩٦﴾﴾

[۹٤] ای پیغمبره! [هغو یهودو ته چې د جنت دعوا کړي او وایي چې جنت یوازی د زمونږ دئ] ووایه: که د آخرت ورځې ثوابونه د الله سره؛ یوازی د ستاسې وي او نور خلک درسره ګډ نوي، نو که تاسې ر یښتیا وایي مرګ وغواړئ، یعنی ترڅو ژر جنت ته لاړ سئ!

[۹۵] خو یهود هیڅ کله دا هیله نکړی [یعنی هیڅ کله هم یهود ژر مرګ او مړ ینه نه غواړي] ځکه دوی داسې بد کړي دي [چې پوهیږي دغه بدې کړنې دوی د جنت نه محرومي] او الله د ظالمانو په حال ښه پوه دئ، یعنی نو دوی ته به کلکه سزا ورکړي.

[۹٦] او ای پیغمبره! یهود به د دنیا په ژوند باندې د مشرکانو نه ډیر حر یص بیامومې او د دوی هر یو غواړي او هیله کړي چې زر کلن سي، خو که دغسې اوږد عمر هم ورکړل سي؛ هغه دوی د الله عذاب او سزا نه لرې کولای نسي، ځکه الله د دوی په بدو کړنو باندې ښه بینا دئ او هغه

و يې، يعنی بني اسـرائيلو ته به الله تعالی د دوی لائق عذاب ورکړي او په جهنم کې بې کلک وکړوي.

{د ملائکو او پيغمبرانو دښمنان کافران دي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې مومنانو ته الله تعالی اعلان کړئ دئ چې د ملائکو او پيغمبرانو دښمنان؛ کافران دي، او فرمايلي دي:

﴿قُلۡ مَن كَانَ عَدُوّٗا لِّجِبۡرِيلَ فَإِنَّهُۥ نَزَّلَهُۥ عَلَىٰ قَلۡبِكَ بِإِذۡنِ ٱللَّهِ مُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ وَهُدٗى وَبُشۡرَىٰ لِلۡمُؤۡمِنِينَ ٩٧ مَن كَانَ عَدُوّٗا لِّلَّهِ وَمَلَٰٓئِكَتِهِۦ وَرُسُلِهِۦ وَجِبۡرِيلَ وَمِيكَىٰلَ فَإِنَّ ٱللَّهَ عَدُوّٞ لِّلۡكَٰفِرِينَ ٩٨﴾

[۹۷] ای پيغمبره! [او هغو يهودو ته چې وايي: جبرائيل د زمونږ دښمن دئ] ووايه: هر څوک چې د جبرائيل دښمن وي [نو ورته ښايي چې پوه سي جبرائيل د الله استازی دئ] او ای پيغمبره! يقينا چې جبرئيل د الله په حکم قرآن د ستا پر زړه باندې رانازل کړئ دئ، او قرآن د هغه نه مخکې کتابونو تصديق کونکئ او مومنانو ته لارښود او ز يرئ ورکونکئ کتاب دئ، او هر هغه څوک چې د الله ملائکو او د پيغمبرانو دښمن وي او[په ځانګړي ډول] د جبرائيل او ميکائيل سره [چې د الله فرمان چلونکي ملائکې دي] دښمن کړي، نو هغه ده پوه سي چې الله د کافرانو دښمن دئ!

قدرمنو دوستانو! په دغو دوه مبارکو آيتونو کې د يهودو هغه ناروا ګمان او سپکې خبرې چې و يل يې: جبرائيل او ميکائيل د زمونږ دښمنان دي؛ الله تعالی کلکې ردې کړې دي، ځکه دغسې دښمني کفر دئ، او مومنان هيڅ کله دغسې خيال او ګمان نکړي، يعنی د الله استازي ملائکې د خپلو ځانو دښمنان نه بولي.

{يهود د قرآن نه منکر سول او هوکړې يې ماتې کړې}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې د يهودو انکار د قرآن ښکاره آيتونو نه

چې هغه الله تعالى پر رسول الله ﷺ باندې رانازل کړي دي؛ یاد کړئ دئ، او د یهودو هوډ ماتول پې رسول الله ﷺ سره رسوا کړي دي، او په بیان کې فرمایلي دي:

﴿وَلَقَدۡ أَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ءَايَٰتِۭ بَيِّنَٰتٖۖ وَمَا يَكۡفُرُ بِهَآ إِلَّا ٱلۡفَٰسِقُونَ ٩٩ أَوَكُلَّمَا عَٰهَدُواْ عَهۡدٗا نَّبَذَهُۥ فَرِيقٞ مِّنۡهُمۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ١٠٠ وَلَمَّا جَآءَهُمۡ رَسُولٞ مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِ مُصَدِّقٞ لِّمَا مَعَهُمۡ نَبَذَ فَرِيقٞ مِّنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ كِتَٰبَ ٱللَّهِ وَرَآءَ ظُهُورِهِمۡ كَأَنَّهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ١٠١﴾

[٩٩] ای پیغمبره! او یقینا چې تا ته مونږ ډیر روښانه آیتونه را لیږلي دي [یعنی داچې هغه د ستا پیغمبرۍ تصدیق کوي] او د هغو کسانو نه پرته چې دوی د الله فرمان وړو نه وتلی دي؛ بل هیڅ څوک د دغو آیتونو نه انکار نکړي.

[١٠٠-١٠١] او یهودو چې هر کله تړون کړئ دئ، نو بیا د دوی یوې ډلې هغه غورځولئ او مات کړئ دئ، بلکې ډیر یهود ایمان نه راوړي [یعنی پر رسول الله ﷺ باندې رانازل سوئ کتاب (قرآن) نه مني] او بیا چې کله یهودو ته د الله لخوا نوئ پیغمبر راغئ او هغه د دوی سره کتاب (تورات) تصدیق کاوه، نو بیا د یهودو یوې ډلې؛ د الله دا نوئ کتاب (قرآن) شا ته وغورځاوه، لکه دا چې دوی په هیڅ څه نه پوهیږي!

{شیطان د کودګرو استازئ دئ}

درندو عز یزانو! او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالى د یهودو یو بل کرکجن خوی رسوا کړئ دئ، او هغه دا چې دوی شیطانانو پسې تلل او هڅه یې کړه چې د شیطانانو نه کودې زده کړي او بیا دا کودې ملائکو ته منسوبې کړي، نو شیطانانو به و یل چې دا کودې د سلیمان علیه السلام د پاچایي د تینګښت عامل وې، نو الله تعالى د دوی دا شیطاني تور ملائکو پسې کلک رد کړئ دئ، او په ډیر وضاحت سره یې فرمایلي دي:

﴿ وَٱتَّبَعُواْ مَا تَتْلُواْ ٱلشَّيَٰطِينُ عَلَىٰ مُلْكِ سُلَيْمَٰنَ ۖ وَمَا كَفَرَ سُلَيْمَٰنُ وَلَٰكِنَّ ٱلشَّيَٰطِينَ كَفَرُواْ يُعَلِّمُونَ ٱلنَّاسَ ٱلسِّحْرَ وَمَآ أُنزِلَ عَلَى ٱلْمَلَكَيْنِ بِبَابِلَ هَٰرُوتَ وَمَٰرُوتَ ۚ وَمَا يُعَلِّمَانِ مِنْ أَحَدٍ حَتَّىٰ يَقُولَآ إِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلَا تَكْفُرْ ۖ فَيَتَعَلَّمُونَ مِنْهُمَا مَا يُفَرِّقُونَ بِهِۦ بَيْنَ ٱلْمَرْءِ وَزَوْجِهِۦ ۚ وَمَا هُم بِضَآرِّينَ بِهِۦ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۚ وَيَتَعَلَّمُونَ مَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنفَعُهُمْ ۚ وَلَقَدْ عَلِمُواْ لَمَنِ ٱشْتَرَىٰهُ مَا لَهُۥ فِى ٱلْءَاخِرَةِ مِنْ خَلَٰقٍ ۚ وَلَبِئْسَ مَا شَرَوْاْ بِهِۦٓ أَنفُسَهُمْ ۚ لَوْ كَانُواْ يَعْلَمُونَ ﴿١٠٢﴾ وَلَوْ أَنَّهُمْ ءَامَنُواْ وَٱتَّقَوْاْ لَمَثُوبَةٌ مِّنْ عِندِ ٱللَّهِ خَيْرٌ ۚ لَّوْ كَانُواْ يَعْلَمُونَ ﴿١٠٣﴾ ﴾

[۱۰۲] او یهود هغو خبرو پسې لاړل چې هغه شیطانانو د سلیمان پاچایي په وخت کې کوډګرو ته لوستلې، او سلیمان نه کافر سوئ وه [او نه سلیمان ګوډې زده کړې وي] خو شیطانان کافران سول او خلکو ته یې کوډې ورزده کولې [یعني ترڅو د دوی ایمان او عقیده ورخراپه کړي] او دغو شیطانانو به هغه کوډې چې په بابل کې(اوسني عراق کې) پر هاروت او ماروت (دوه ملائکو) باندې [د خلکو ازمایښت لپاره] را نازلې سوې وې؛ هغه بې خلکو ته ورښودلې او ورزدکولې، او هر کله چې به دغو دوه ملائکو چا ته دغه کوډې ورزده کولې، نو مخکې له مخکې بې ورته و یل: زمونږ دا کار د ازمایښت لپاره دئ، نو پام کړې چې کافران نسې، نو بیا به خلکو د دغو دوه فرښتو نه هغه څه زده کول چې د میړه او ښځې په منځ کې کرکه او نفرت اچوي، خو دوی په دغو کوډو سره هیڅ چا ته د الله حکم او اجازې نه پرته څه ضرر او ز یان رسولای نسي، او کوډګر هغه څه زده کوي چې خپله دوی ته تاوان رسوي نه ګته، او یهود پدې ښه پوهیږي چې هرچا دغه کوډې د خپل ایمان په بیعه واخستلې او خپل ایمان یې ور باندې خرڅ کړ، نو په آخرت کې بیا دئ د خیر او ثواب هیڅ برخه نه لري، او که کوډګر پوه او هوښیاران وای، نو په دغسې ډیر بد شي باندې بې چې هغه کوډې دي؛ خپل ځانو نه نوه خرڅ کړي!

[١٠٣] هو! که يهودو په يقين سره ايمان راوړئ واى او د الله سزا نه يې خپل ځانو نه په اطاعت سره ساتلي واى، نو د الله ثواب ورته د دغو کوډو نه ډير ښه او غوره وه.

{پيغمبر سره ادب فرض دئ او کافران مومنانو ته خير نه غواړي}

ګران دوستانو! او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى مومنان د يهودو غوندى رسول الله ﷺ سره د بدو خبرو نه کلک منع کړي دي او دوى ته يې د پيغمبر ﷺ سره په خبرو کې ډير غوره او ښکلي آداب ښودلي دي، او بيا يې مومنان د کافرانو کرکجنو مقصدونو نه خبر کړي دي، او فرمايلي دي:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَقُولُواْ رَٰعِنَا وَقُولُواْ ٱنظُرْنَا وَٱسْمَعُواْۗ وَلِلْكَٰفِرِينَ عَذَابٌ أَلِيمٌ ١٠٤ مَّا يَوَدُّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ وَلَا ٱلْمُشْرِكِينَ أَن يُنَزَّلَ عَلَيْكُم مِّنْ خَيْرٍ مِّن رَّبِّكُمْۚ وَٱللَّهُ يَخْتَصُّ بِرَحْمَتِهِۦ مَن يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ ذُو ٱلْفَضْلِ ٱلْعَظِيمِ ١٠٥ ﴾

[١٠٤] هو! اى مومنانو! [کله چې تاسې د پيغمبر ﷺ په مجلس کې ناست وى، نو د يهودو غوندي ورته] (راعينا) [يعنى د زمونږ شپنه] مه وايي او (انظرنا) ورته ووايي [يعنى اى پيغمبره! مونږ ته وګوره! ځکه (راعينا) به يهودو د (ع) په درانده ز ير سره لوستله لکه: (راعِينا) او د هغوى مقصد رسول الله ﷺ ته سپک نظر وه] او اى مومنانو! د رسول الله ﷺ خبرې ښې واورئ او کافرانو ته دردوونکې عذاب دئ.

[١٠٥] [او اى مومنانو! پام کړئ] هغه کسان د يهودو او نصاراوو نه چې کافران سول [او پر رسول الله ﷺ يې ايمان رانوور] او هم هغه کسان چې مشرکان دي؛ دوى ټول نه غواړي چې پر تاسې باندې د ستاسې رب الله لخواخير راکوز سي او څه ګټه تاسې ته ورسيږي [يعنى د قرآن په رانازليدو سره د ستاسې علم او پوهه ډيره سي او پر سمه لار تګ ستاسې په برخه

سي] خو الله چې د خپلو بنده ګانو نه هر چا ته خپل رحمت وغواړي هغه ته يې ورکوی او الله د لوی احسان او ورکړو خښتن دئ.

درندو دوستانو! نو ښايي چې مومنان تل و يښ وي او د کافرانو پيښې او تقليد ونکړي او نه د دوی نه د خير طمعه ولري، خو دا خبره هيڅ کله پدې معنا نده چې مومنان به د کافرانو سره په دنيايي چارو کې اړ يکې نه پالي، بلکې هغه دوی ته په ټولينيز ژوند کې ډيرې اړ ينې دي، لکه څنګه چې رسول الله ﷺ د هغوی سره دغسې اړ يکې په مدينه منوره کې پاللې.

{د قرآن په آيتونو کې نسخه د الله خپله ژوره ليدنه ده}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی د قرآن په ځينې آيتونو کې د نسخې په باره کې د کافرانو لخوا راپورته سوي شکونه او شبهې ځواب کړې دي، او فرمايلي دي:

﴿ * مَا نَنسَخۡ مِنۡ ءَايَةٍ أَوۡ نُنسِهَا نَأۡتِ بِخَيۡرٖ مِّنۡهَآ أَوۡ مِثۡلِهَآۗ أَلَمۡ تَعۡلَمۡ أَنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ١٠٦ أَلَمۡ تَعۡلَمۡ أَنَّ ٱللَّهَ لَهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِن وَلِيّٖ وَلَا نَصِيرٍ ١٠٧ أَمۡ تُرِيدُونَ أَن تَسۡـَٔلُواْ رَسُولَكُمۡ كَمَا سُئِلَ مُوسَىٰ مِن قَبۡلُۗ وَمَن يَتَبَدَّلِ ٱلۡكُفۡرَ بِٱلۡإِيمَٰنِ فَقَدۡ ضَلَّ سَوَآءَ ٱلسَّبِيلِ ١٠٨ ﴾

[۱۰۶] ای مومنانو! د قرآن هيڅ يو آيت مونږ نه منسوخوو او يو پر بل نه بدلوو او يا يې بيخي نه هيروو؛ مګر دا چې بيا د هغه نه ښه او غوره آيت او حکم او يا د هغه غوندې بل آيت راوړو، نو ای پيغمبره! آيا ته نه پوهيږې چې يقينا الله هرڅه کړلای سي او په هرڅه باندې الله قادر دئ، يعنی نسخه د الله لوی قدرت او د ځانګړې تدبير او حکمت نښه ده.

[۱۰۷] ای پيغمبره! [آيا د ستا پام ندئ؟] او نه پوهيږې؟ چې د ځمکې او آسمانو مالك او لوی واکمن خښتن يقينا يوازی الله دئ، او تاسې ای مومنانو! د الله نه پرته بل هيڅ څوک ملګرئ او ملاتړ نه لری، يعنی د کافرانو لخوا د نسخې په باره کې د شبهو را پارول؛ هيڅ ارزښت نه لري،

ځکه الله د لوی قدرت او د پاخه حکمت خاوند دئ او هرڅه په ښه تدبیر او په پاخه حکمت ترسره کوي!

قدرمنو دوستانو! پدې مبارکو آیتونو کې رسول الله ﷺ ته په خطاب کې استفهام تقریري استفهام دئ، یعنی دا چې رسول الله ﷺ د الله تعالی په علم، پوهه او پر ځمکه او اسمانو کې د هغه په واکمنۍ؛ ښه پوهیده، نو د استفهام نه دلته مقصد د هغه امت دئ چې ښایي د الله تعالی عظمت یې تل په پام کې وي.

[۱۰۸] ای مومنانو! آیا تاسې غواړئ چې د خپل پیغمبر نه د هغه څه پوښتنه وکړئ چې هغه پخوا د موسی نه و پوښتل سول [یعنی لکه د موسی قوم یهودو ځینې غوښتنې چې د موسی علیه السلام نه یې کړې او د الله تعالی ښکاره لیدلو غوښتونکي سول، نو د یهودو دغسې غوښتنه؛ د دوی د کینو او د سر زورئ څرګندوونکې وه] او هر هغه څوک چې ایمان پر کفر بدلوي، نو یقینا چې هغه د سمې لارې نه ورک سوئ دئ.

محترمو دوستانو! ځینې صحابوو به د رسول الله ﷺ نه کله داسې پوښتنې کړې چې هغه دوی ته لائق نه وی، نو بیا الله تعالی پدې مبارک آیت کې مومنان د دغسې پوښتنو نه چې هغه د یهودو خوی وه؛ په کلکه سره ګواښلي دي او هغه یې کفر ته ورته بللې دي، او دا ګواښ ټولو مومنانو ته تل پاتې لارښود ګواښ دئ، نو ښایي چې دوی د الله تعالی کتاب او د رسول الله ﷺ سنت د یو بل سره سم؛ تل په پام کې ونیسي او هیڅ کله د قرآن او سنتو چې د قرآن شرحه ده؛ خلاف خبره ونکړي.

{مومنان ده د کینه کښ کافر شر نه ځانو نه وساتي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د بني اسرائیلو بد نیتونه او شوم عزایم د رسول الله ﷺ او مومنانو پر وړاندې مونږ ته رسوا کړې دي او د هغوی نه یې د ځان ساتنې ټکورې لارښودنې کړې دي، او فرمایلي دي:

﴿ وَدَّ كَثِيرٌ مِّنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ لَوْ يَرُدُّونَكُم مِّنۢ بَعْدِ إِيمَٰنِكُمْ

كُفَّارًا حَسَدًا مِّنْ عِندِ أَنفُسِهِم مِّنۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ ٱلْحَقُّ ۖ فَٱعْفُوا۟ وَٱصْفَحُوا۟ حَتَّىٰ يَأْتِىَ ٱللَّهُ بِأَمْرِهِۦٓ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٠٩﴾ وَأَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُوا۟ ٱلزَّكَوٰةَ ۚ وَمَا تُقَدِّمُوا۟ لِأَنفُسِكُم مِّنْ خَيْرٍ تَجِدُوهُ عِندَ ٱللَّهِ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿١١٠﴾

[١٠٩] ای مومنانو! او د ډیرو اهل کتابو (یهودو او نصاراوو) خوښیدل چې تاسې د خپل ایمان نه بیرته کفر او شرك ته واړوي، ځکه د هغوی زړونه تاسې ته د کینې او حسد نه ډک دي، او دا وروسته له هغې چې حق دوی ته ښکاره سه [یعنی نو اوس دوی پدې پوهیږي چې اسلام د الله حق دین دئ، نو دا حق یې پر تاسې نه لور یږي] خو تاسې ای مومنانو! د دوی د کینه کښو نیتونو او شومو مقصدونو نه ورتیر سی او عفوه ورته وکړی، ترڅو الله خپل حکم او فرمان د دوی په باره کې راوړي [یعنی بیا به د یهودو او نصاراوو دښمني تاسی ته ښه رسوا سي او بیا به دوی ته د سزا ورکولو امر وسي] او یقینا چې الله په هرڅه قادر لوی ذات دئ.

ګرانولو دوستانو! هو؛ کله چې په مدینه منوره کې میشتو یهودو دسیسې او چلونه د رسول الله ﷺ او د هغه ملګرو پر ضد خپل آخر پړاو ته ورسیدل، نو بیا د الله تعالی حکم دوی ته د سزا ورکولو لپاره راغئ، نو بیا د یهودو ځینې ډلې د مدینې منورې نه وشړل سوې او د ځینو نورو سره کلکه جګړه وسوه، ترڅو چې مدینه منوره ټوله د یهودو شر نه پاکه سوه او د اسلام او پیغمبر دښمنان ورڅخه وایستل سول.

او په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی مومنانو ته ز یرئ ورکړئ دئ چې د دوی ښې کړنې هیڅکله نه ضائع کیږي، او فرمایلي دي:

[١١٠] ای مومنانو! او تاسې خپل لمنځونه سم ودروی او هغه پر ځای یې کړی او د خپل مال زکات ورکړی [او پدې پوه سی] هغه څه خیر او ښه چې تاسې د خپلې ګټې لپاره ورلاندې کوی؛ ثواب یې په آخرت کې د الله سره مومی، ځکه یقینا چې الله د ستاسې په کړنو بینا دئ او هر څه

و يې، يعنى بيا الله هرچا ته د هغه لائق ثواب او سزا وركوي.

{د جنت په انحصار كې د يهودو هيلې الله ردې كړې دي}

او په ور پسې مباركو آيتونو كې الله تعالى د بني اسرائيلو يوه بله ناحقه دعوا د جنت په انحصار كې رسوا كړې او رده كړې ده، او فرمايلي دي:

﴿وَقَالُواْ لَن يَدۡخُلَ ٱلۡجَنَّةَ إِلَّا مَن كَانَ هُودًا أَوۡ نَصَٰرَىٰۗ تِلۡكَ أَمَانِيُّهُمۡۗ قُلۡ هَاتُواْ بُرۡهَٰنَكُمۡ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ١١١ بَلَىٰۚ مَنۡ أَسۡلَمَ وَجۡهَهُۥ لِلَّهِ وَهُوَ مُحۡسِنٞ فَلَهُۥٓ أَجۡرُهُۥ عِندَ رَبِّهِۦ وَلَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ١١٢ وَقَالَتِ ٱلۡيَهُودُ لَيۡسَتِ ٱلنَّصَٰرَىٰ عَلَىٰ شَيۡءٖ وَقَالَتِ ٱلنَّصَٰرَىٰ لَيۡسَتِ ٱلۡيَهُودُ عَلَىٰ شَيۡءٖ وَهُمۡ يَتۡلُونَ ٱلۡكِتَٰبَۗ كَذَٰلِكَ قَالَ ٱلَّذِينَ لَا يَعۡلَمُونَ مِثۡلَ قَوۡلِهِمۡۚ فَٱللَّهُ يَحۡكُمُ بَيۡنَهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ فِيمَا كَانُواْ فِيهِ يَخۡتَلِفُونَ ١١٣﴾

[١١١] او يهودو وو يل چې جنت ته هيڅ څوك نه ورننوځى؛ مكر دا چې يهودئ او يا نصرانئ وي! خو هغه د دوى هيلې دي [يعنى د دوى د خولو خوسې بې بنسټه خبرې دي] نو ته اى پيغمبره! دوى ته ووايه: اى يهودو! كه تاسې ر يښتياو يونكي ياستى، نو د خپلې دغې دعوا دليل او مدرك راوړى، يعنى څنګه يوازې يهود او نصرانيان جنت ته ورننوځي؟ حال دا چې جنت الله تعالى خپلو ټولو مخلصو بنده ګانو ته تيار كړئ دئ.

او په ور پسې آيتونو كې يې مومنانو ته ډاډ وركړئ فرمايلي دي:

[١١٢] [نا! خبره هيڅكله داسې نده، لكه څنګه چې يهود وايي او جنت يوازې د ځانو بولي] هو! هرچا چې ځان پر الله وسپاره او ورته تسليم سه [يعنى ايمان راوړ او رسول الله ﷺ پسې لاړه او د هغه متابعت يې وكه] او ښه يې وكړل، نو د هغه ثواب د هغه لوى رب الله سره ساتل سوئ دئ، او پر دغو مومنانو باندې هيڅ و يره نسته او نده غمجن كيږي.

عزتمنو دوستانو! اهل كتابو د دغو ټولو ګډو غلطو در يځونو سره

سره چې د مومنانو پر وړاندې يې درلودل، خو دوی په خپل منځ کې يو بل نه سره منل، نو الله تعالی د دوی دا پټه توره څيره هم په ور پسې مبارك آيت کې رسوا کړې ده، او فرمايلي دي:

[١١٣] هو! يهودو وو يل: چې نصارا هيڅ څه شئ ندي او نصاروو هم وو يل چې يهود هيڅ څه شئ ندي، حال دا چې دوی ټول کتاب لولي (لکه تورات او انجيل) [او په دغو کتابونو کې پر ټولو پيغمبرانو باندې ايمان راوړل بيان سوي دي] او هغه کسان چې په څه نه پوهيږي [يعنی حق نه پيژني، لکه مشرکان] دوی هم د اهل کتابو غوندې و ينا وکړه، نو الله به د قيامت په ورځ د دوی په منځ کې په هغه څه کې چې دوی د يو بل سره پکې اختلاف درلود [يعنی يو بل يې نه مانه] حکم او پر يکړه وکړي، يعنی هر چا ته به الله تعالي د خپل عمل ثواب او سزا ورکړي.

قدرمنو دوستانو! دا ګواښ همدارنګه مخامخ هغو مسلمانانو ته متوجه دئ چې دوی پر قرآن باندې د ايمان را وړو دعوا کړي، خو يو بل نه مني او ټوټه ټوټه او سره بيل بيل دي، او غواړي چې يو پر بل زورور سي او پر ضد يې جګړه وکړي، لکه د نن ورځې مسلمانان چې ډلې يې جوړې کړې دي او يو د بل سره کلک اختلاف لري، نو ښايي چې دوی د يهودو او نصاراوو پيښې او تقليد ونکړي او هغوی غوندې نسي.

{ کافران د الله عبادت نه مومنان په مسجدونو کې منع کوي }

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی ټول هغه کافران غندلي دي چې مومنان د الله ذکر او عبادت نه په مسجدونو او جوماتونو کې منع کوي، او فرمايلي دي:

﴿ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن مَّنَعَ مَسَٰجِدَ ٱللَّهِ أَن يُذْكَرَ فِيهَا ٱسْمُهُۥ وَسَعَىٰ فِي خَرَابِهَآ ۚ أُوْلَٰٓئِكَ مَا كَانَ لَهُمْ أَن يَدْخُلُوهَآ إِلَّا خَآئِفِينَ ۚ لَهُمْ فِي ٱلدُّنْيَا خِزْيٌ وَلَهُمْ فِي ٱلْءَاخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١١٤﴾ وَلِلَّهِ ٱلْمَشْرِقُ وَٱلْمَغْرِبُ ۚ فَأَيْنَمَا تُوَلُّواْ

فَثَمَّ وَجۡهُ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ وَٰسِعٌ عَلِيمٞ ١١٥

[١١٤] هو! څوک د هغه چا نه ډير تيرئ کونکئ ظالم دئ چې مومنان يې د الله ذکر(لمانځه) نه په مسجدونو کې منعې کړل او د مسجدونو په ړنګولو کې يې هڅه وکړه؟ [ځواب دا چې: نا! بل هيڅ څوک د هغه نه لوی ظالم ندئ!] نو نه ښايي چې ظالمان نور پر يښودل سي چې مسجدونو ته [لکه د بيت الله شر يف مسجد الحرام ته] له و يړې او ډاره نه پرته ورننوځي، او د دغسې ظالمانو سزا په دنيا کې خواري او ذلت او په آخرت کې لوی عذاب دئ، يعنی دوی ته په آخرت کې کلکه سزا تياره سوې ده.

ګرانو دوستانو! او دغه ظالمان د رسول الله ﷺ په زمانه کې د مکې هغه مشرکان ول چې د هجرت په شپږم کال يې پيغمبر او ورسره معزز ملګري او درانده صحابه د بيت الله شر يف مسجد نه منعې کړل او پرې يې نښودل چې بيت الله شر يف ته لاړ سي او عمره وکړي، خو د الله تعالی په دغه غندنه کې؛ ټول هغه ظالمان هم داخليږي چې دوی په خپله واکمنۍ کې مومنان جوماتونو ته د تګ نه منعې کړل او د الله تعالی ذکر او عبادت کړو ته يې پرې نښودل، لکه د بني اسرائيلو يهودي رژ يم چې ډير کله فلسطيني مسلمانان نه پر يږدي چې په مسجد الاقصی کې د جمعې لمونځ وکړي او الله تعالی ياد کړي!

او په ور پسې مبارک آيت کې الله تعالی رسول الله ﷺ ته او د هغه ملګرو ته چې د هجرت نه وروسته يې يوازي بيت المقدس خوا ته لمونځ کاوه او د بيت الله شر يف قبلې نه محروم سوي ول؛ تسليت او اطمئنان ورکړئ دئ، او فرمايلي دي:

[١١٥] ای مومنانو! او د لمر راختلو او پر يوتلو خواوې (شرق او غرب) ټول د الله واک لاندې دي [يعنی د الله حکم پکې چليږي] نو کمې پلو ته چې تاسې مخ واړوی؛ هلته د الله مخ دئ [يعنی هغه د ستاسې قبله ده] او يقينا چې الله لوی او ښه پوه ذات دئ، يعنی د الله رحمت او مهر باني هرچا ته رسيږي، او د ټولو خلکو کړنو نه الله ښه خبر او ور باندې

پوه دئ، نو هرچا ته د هغه ایمان او نیک عمل ثواب او د کفر او بد عمل سزا ورکوي!

عزتمنو دوستانو! د یادونې وړ ده چې د دغو مبارکو آیتونو لمړۍ برخې دو یم ز یرئ چې د مکې فتحه وه؛ هغه هم ر ینښتیا سه او هغه ورځ را ورسیدله چې الحمد لله مکه فتحه سوه او کافران په و یره کې ورننوتل، او دا د الله تعالی سنت او نظام دئ چې د ظلم، ناروا او د باطل ټغر به هرومرو ټولیږي او ځای بې حق نیسي.

{د ځمکې او اسمانو واکمن خدای ځان ته د زوی نیولونه پاک دئ}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د کافرانو بل هغه ناروا تور رد کړئ دئ چې دوی به العیاذ بالله و یل: الله زوی لري، او فرمایلي دي:

﴿ وَقَالُواْ ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ وَلَدٗا سُبۡحَٰنَهُۥۖ بَل لَّهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ كُلّٞ لَّهُۥ قَٰنِتُونَ ١١٦ بَدِيعُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ وَإِذَا قَضَىٰٓ أَمۡرٗا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ١١٧ وَقَالَ ٱلَّذِينَ لَا يَعۡلَمُونَ لَوۡلَا يُكَلِّمُنَا ٱللَّهُ أَوۡ تَأۡتِينَآ ءَايَةٞۗ كَذَٰلِكَ قَالَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِم مِّثۡلَ قَوۡلِهِمۡۘ تَشَٰبَهَتۡ قُلُوبُهُمۡۗ قَدۡ بَيَّنَّا ٱلۡأٓيَٰتِ لِقَوۡمٖ يُوقِنُونَ ١١٨ ﴾

[۱۱۶-۱۱۷] او کافرانو وو یل چې الله ځان ته زوی نیولئ دئ! خو الله چې دا ټول مخلوقات یې په ځمکه او په اسمانو کې د واک لاندې دي، او ټولو الله ته د بنده ګي سرونه ټیت کړي دي [نو دا لوی خدای د کافرانو دغسې ناروا تور نه] پاک او لوړ دئ او الله د ځمکې او اسمانو بې سارئ پیدا کونکئ لوی څښتن دئ، او الله چې کله د یو څه کړو پر یکړه وکړي، نو ورته وایي: را پیدا سه! نو بیا هغه همداسې پیدا کیږي، یعنی دا ټولواک ذات الله هیڅ کله بل چا ته، لکه زوی اړ او محتاج ندئ، یعنی الله تعالی د زوی نیولو نه لوړ او پاک دئ، ځکه زوی درلودل د بې وسۍ نښه ده، لکه بنده چې زوی ته اړ دئ، ترڅو ورسره مرسته وکړي او ګټه یې ورته ورسیږي او د پلار خدمت وکړي.

او په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالى د کافرانو هغه بې ځايه غوښتنې د رسـول اللهﷺنه ردى کړې او غندلې دي چې دوى و يل: ولې الله زمونږ سره مخامخ خبرې نکړي؟ او په بيان کې فرمايلي دي:

[۱۱۸] او هغو کسانو چې په څه نه پوهيږي وو يل: ولې الله زمونږ سره مخامخ خبرې نکړي؟ [يعنى الله ده مونږ ته ووايي: محمد ﷺد الله استازئ دئ] او يا دا چې ته اى محمده! د خپلې پيغمبرى تصديق لپاره مونږ ته يوه معجزه راوړې؟ هو! د دغو خلکو غوندې خبرې به د دوى نه مخکې کافرانو هم کړى، ځکه د دوى ټولو زړونه په کفر کې سـره ورته دي، او يقينا چې ټول هغه آيتونه، دليلونه او نښې چې د حق تصديق کوي؛ هغه مونږ هغه قوم ته چې دوى ور باندې يقين کړي روښـانه کړل، يعنى د باطل پلو يان يا کافران د بشـر يت په ټول تار يخ کې سـره ورته خو يونه او در يځونه لري، نو ځکه دوى ټول په يوه خوله د حقپالانو سره دښمني کړي، ترڅو حق د دوى د هوا او هوس پر وړاندې خنډ نسي.

{پيغمبر د الله پيغام خلکو ته رسوي خو کتاب والا يې نه مني }

او په ور پسـې مبارکو آيتونو کې الله تعالى رسـول اللهﷺ ته د هغه د پيغمبرى ډاډ ورکړئ دئ، او بيا يې په ټينګار سـره خبر کړئ دئ چې يهود او نصارا هيڅ کله د ستانه اى پيغمبره! نه خوښيږي، ترڅو چې ته د دوى دين پسـې لاړ سـې او خپل دين چې د الله نه درته راغلئ حق دين اسـلام دئ خوسې کړې او هغه پر يږدې، او فرمايلي دي:

﴿إِنَّآ أَرۡسَلۡنَٰكَ بِٱلۡحَقِّ بَشِيرٗا وَنَذِيرٗاۖ وَلَا تُسۡـَٔلُ عَنۡ أَصۡحَٰبِ ٱلۡجَحِيمِ ١١٩ وَلَن تَرۡضَىٰ عَنكَ ٱلۡيَهُودُ وَلَا ٱلنَّصَٰرَىٰ حَتَّىٰ تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمۡۗ قُلۡ إِنَّ هُدَى ٱللَّهِ هُوَ ٱلۡهُدَىٰۗ وَلَئِنِ ٱتَّبَعۡتَ أَهۡوَآءَهُم بَعۡدَ ٱلَّذِي جَآءَكَ مِنَ ٱلۡعِلۡمِ مَا لَكَ مِنَ ٱللَّهِ مِن وَلِيّٖ وَلَا نَصِيرٍ ١٢٠ ٱلَّذِينَ ءَاتَيۡنَٰهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ يَتۡلُونَهُۥ حَقَّ تِلَاوَتِهِۦٓ أُوْلَٰٓئِكَ يُؤۡمِنُونَ بِهِۦۗ وَمَن يَكۡفُرۡ بِهِۦ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ١٢١﴾

[۱۱۹] اى پيغمبره! يقينا چې ته مونږ د حق پيغام (قرآن) سره را ليږلئ

يې، ترڅو ته مومنانو ته د جنت ز يرئ ورکړې او کافران د دوزخ اور کلک عذاب نه وو يروې، او بيا د آخرت په ورځ د دوزخيانو پوښتنه ستا نه نکيږي چې ولې دوی دوزخ ته تللي دي؟ يعنی د رسول اللهﷺ رسالت او دنده اسلام ته دعوت او رابلنه او د اسلام تبليغ وه، نه د خلکو هدايت او ايمان را وړل، ځکه پر سمه لار د خلکو روانول او يا يې د سمې لاری نه ورکول؛ د الله کار دئ، نو څوک چې د هدايت لائق وي؛ هغه ته الله توفيق په هدايت ورکوي او څوک چې يې لائق نه وي؛ هغه همداسې په ورکتيا کې پاتې کيږي.

او په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالی د اسلام پيغمبر محمد ﷺاو د هغه امت مومنان د يهودو او نصاراوو د يوه ډير تل پاتې خوی نه خبر کړي دي، او هغه دا چې ښايي مومنان هيڅ کله د يهودو او نصاراوو کفري غوښتنې ونه مني او نه ورته تسليم سي، او په بيان کې فرمايلي دي:

[۱۲۰] ای پيغمبره! يهود او نصارا هيڅ کله د ستا نه نه راضي کيږي [يعنی ته د دوی نه خوښيږې] ترڅو ته د دوی دين ومني [يعنی خپل دين چې اسلام دئ پر يږدی، نو ته! د دوی د دغسې غوښتنې په ځواب کې] ووايه: يقينا چې د الله لارښودنه ر يښتينه ده [يعنی هغه د الله تعالی حق دين ته بلنه ده، او که ته ای پيغمبره!] وروسته لدې چې ښه پوه سوې او پر حق دين باندې تا ته وحيه راغله؛ خو بيا هم ته د يهودو او نصاراوو خوښی پسې لاړ سې او هغه ومنې، نو بيا به ته د الله له لخوا نه څوک ملګرئ ولرې او نه هم مرستندوی.

ګرانو دوستانو! الله تعالی پدې مبارك آيت کې پيغمبرﷺ او د هغه امت مومنان د يهودو او نصاراوو د پيښو او تقليد نه کلک ګواښلي دي، ځکه دوی د يهودو او نصاراوو په ملګرتيا او په تقليد کې؛ د الله نصرت او مرسته د لاسه ورکوي، ځکه يهودو او نصاراوو د الله نوئ پيغمبر محمد ﷺ و نه مانه او ايمان يې رانوړه.

او بيا په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالی د اهل کتابو ر يښتيني

مومنان ستايلي دي، او فرمايلي دي:

[١٢١] او د اهل کتابو نه چې دوی ته مونږ کتاب (تورات او انجيل) ورکړئ وه؛ داسې کسان هم سته چې خپل کتاب په حق او ر يښتيا سره لولي [يعنی حق ښه پيژني] او دوی دي چې پر خپل کتاب يې ايمان را وړئ دئ، يعنی هغوی ر يښتيني مومنان دي، او څوک چې د الله په کتاب باندې کافر يږي او هغه نه مني؛ هغوی بايلونکي او کلک ز يانمن دي.

قدرمنو عز يزانو! الله تعالی په دی مبارك آيت کې د يهودو او نصاراوو نه هغه کسان ستايلي دي چې دوی په ټول تورات او انجيل باندې پر حق او ر يښتيا سره ايمان را وړئ دئ او هغه ټول مني او د دغو کتابونو لارښودنو او سپارښتنو سره سم يې د اسلام پيغمبر باندې هم ايمان راوړئ دئ او د هغه دين مني، نو هر هغه چا چې د اهل کتابو نه تورات او انجيل (بايبل) تحر يف کړئ دئ او د هغه په لارښودنو يې د اسلام په باره کې عمل ندئ کړئ او د هغه نه منکر دي؛ دوی بايلونکي او ز يانمن دي او د خپل شوم نيت او د بدو کړنو سزا به و يني او هغه به ګالي!

{يهود الله د خپل وخت ولسونو باندې لوړ کړي ول}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی يوځل بيا بني اسرائيلو ته خپلې پيرزو ينې ور په ياد کړې دي، او فرمايلي دي:

﴿يَٰبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتِيَ ٱلَّتِيٓ أَنۡعَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ وَأَنِّي فَضَّلۡتُكُمۡ عَلَى ٱلۡعَٰلَمِينَ ١٢٢ وَٱتَّقُواْ يَوۡمٗا لَّا تَجۡزِي نَفۡسٌ عَن نَّفۡسٖ شَيۡـٔٗا وَلَا يُقۡبَلُ مِنۡهَا عَدۡلٞ وَلَا تَنفَعُهَا شَفَٰعَةٞ وَلَا هُمۡ يُنصَرُونَ ١٢٣﴾

[١٢٢] ای بني اسرائيلو! او د زما هغه نعمتونه پر تاسې باندې راپه ياد کړئ چې هغه پر تاسې ما پيرزو کړل، او يقينا چې تاسې ما پر نورو خلکو باندې غوره او لوړ کړئ، يعنی الله تعالی پر بني اسرائيلو بنې ډيرې لور ينې پيرزو کړې او دوی ته يې ډير استازي راوليږل او د فرعونيانو مريي توب نه يې خلاص کړل، او د خپل وخت پر نورو خلکو او ولسونو باندې يې يهود

لوړل کړل.

[۱۲۳] ای بني اسـرائیلو! او د قیامت هغې ورځې کړاوونو نه خپل ځانونه وساتئ چې په هغه ورځ هیڅ څوک بل هیڅ چا ته کټه نه رسوي او نه د بل چا نذرا نه چا ته منل کیږي او نه چا ته د بل چا سپارښت کټه رسوي او نه ورسره مرسته کیږي.

هو؛ کرانو عز یزانو! د آخرت ورځ د ښه عمل ورځ ده او د هرچا عمل د هغه د لارې مل دئ او یو بل ته یې کټه نه رسیږي او نه په هغه ورځ د چا سپارښت بل چا ته منل کیږي.

{الله تعالی ابرهیم علیه السلام خلکو ته مخکښ امام وګرځا وه}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې د ابراهیم علیه السلام د پیغمبرۍ قصه مونږ ته الله تعالی کړې ده، څکه ابراهیم علیه السلام د بني اسرائیلو غُر نیکه ؤ، او بیا یې فرمایلي دي چې بیت الله شـر یف مونږ خلکو ته قبله وګرځوله، او ابراهیم او د هغه ځوی اسماعیل علیهما السلام ته مونږ د کعبې ودانۍ او د هغې پاکولو دنده وسپارله، او فرمایلي دي:

﴿ * وَإِذِ ٱبۡتَلَىٰٓ إِبۡرَٰهِـۧمَ رَبُّهُۥ بِكَلِمَٰتٖ فَأَتَمَّهُنَّۖ قَالَ إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامٗاۖ قَالَ وَمِن ذُرِّيَّتِيۖ قَالَ لَا يَنَالُ عَهۡدِي ٱلظَّٰلِمِينَ ١٢٤ وَإِذۡ جَعَلۡنَا ٱلۡبَيۡتَ مَثَابَةٗ لِّلنَّاسِ وَأَمۡنٗا وَٱتَّخِذُواْ مِن مَّقَامِ إِبۡرَٰهِـۧمَ مُصَلّٗىۖ وَعَهِدۡنَآ إِلَىٰٓ إِبۡرَٰهِـۧمَ وَإِسۡمَٰعِيلَ أَن طَهِّرَا بَيۡتِيَ لِلطَّآئِفِينَ وَٱلۡعَٰكِفِينَ وَٱلرُّكَّعِ ٱلسُّجُودِ ١٢٥ ﴾

[۱۲٤] [ای پیغمبره! هغه وخت راپه یاد کړه] کله چې ابراهیم د هغه رب او لوی څښتن په څو و یناوو او خبرو سره وازمایه او بیا یې هغه خبرې ورته پوره کړې او ورته یې وو یل: ای ابراهیمه علیه السلام! زه غواړم چې تا خلکو ته امام او مخکښ مشـر وګرځوم! نو ابراهیم ورته وو یل: او زما د کهول نه هم یو چا ته دغه د امامت مقام ورکړه! [نو بیا الله تعالی په ځواب کې ابراهیم علیه السلام ته] وو یل: ظالمان د زما استازۍ مقام لاس ته راوړای نسي، یعنی دا چې الهي امامت او مشرۍ مقام اعتبار هغه چا ته ورسپارل کیږي

چې هغه مومن وي او د کفر او ظلم نه پاک وي، نو که د ابراهيم کهول نه څوک د دغو صفتونو څښتن سه، نو بيا به هغه د خپل پلار ځای ناستۍ سي او امامت به ورکړل سي، خو که دوی خپل رب و نه پيژاند او سرکښي يې وکړه او د کافرانو لار يې خپله کړه، نو بيا دوی په نسبي مقام سره د خپل ولس مشري ګټلای نسي، نو دا قرآني بيان مونږ ته دا پيغام را کوي چې په اسلام کې امامت ميراثي ندئ، ځکه د امامت مقام ته رسيدل خپل ځانګړي شرطونه لري، او هر کله چې دا شرطونه او صفتونه په چا کې پوره سول، نو بيا به د ولس مشران هغه سره د امامت بيعت کړي.

او په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالى مومنان د ابراهيم عليه السلام مقام کې چې د کعبې مبارکې په خټيځ يا شرقي اړخ کې ايښودل سوئ دئ؛ لمونځ کړو ته رابللي دي، او فرمايلي دي:

[۱۲۵] [ای پيغمبره! او هغه ورځ را په ياد کړه] کله چې د الله کور (کعبه) مونږ خلکو ته د عبادت کړو او الله ته بيرته د ورګرځيدو ځای او د امن کور وګرځا ؤ، او بيا ابراهيم او اسماعيل ته مونږ دا دنده وسپارله چې د زما کور (کعبه) د هر ډول [مادي او معنوي] چټلۍ نه؛ طواف کونکو، اعتکاف کونکو او رکوع او سجده کونکو ته پاکه کړئ! [نو بيا دوی د الله حکم عملي که او کعبه يې ودانه او پاکه کړه] نو اوس تاسې ای مومنانو! د ابراهيم مقام کې لمونځ وکړئ!

قدرمنو دوستانو! روايت سوئ دئ چې د ابرهيم عليه السلام مقام هغه تيګه ده چې ابراهيم عليه السلام به د کعبې ودانولو په وخت کې ور باندې در يده او هغه به لکه ز ينه پورته جګيدله، او دا تيګه چې د ابراهيم پښو پل پکې ځليږي؛ تر اوسه پورې همداسې پاتې ده او د کعبې مبارکې وره ته مخامخ په ځانګړي وسپنيز کندو کې ايښودل سوې ده، نو د هغې په څيرمه چې هر چيرته طواف کونکې ځای بياموي؛ هلته ده د طواف دوه رکعته سنت لمونځ وکړي، خو دا په داسې حال کې چې هلته ګڼه ګوڼه نه وي، خو په اوسني وخت کې چې په طواف کې تل ډيره ګڼه وي؛ نو دوه رکعته لمونځ کړل هلته ډير ستونزمن کار دئ، نو ځکه فقهاء دا لمونځ د حرم مبارك

مسجد په بل هر ځای کې روابولي، نو حاجي يا طواف کونکي ده د حرم شريف په مسجد کې چې چيرته يې ځای کې بياموند؛ د طواف دغه دوه رکعته لمونځ وکړي او د طواف سنت لمونځ ده ادا کړي.

{ مکه خلکو ته د ابراهيم عليه السلام دعا په برکت د امن کورده }

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د مکې لوړل مقام بيان کړئ دئ چې يقينا هغه ټولو خلکو ته د ډاډ مينه او امنګاه ده، او فرمايلي دي:

﴿ وَإِذْ قَالَ إِبْرَٰهِـۧمُ رَبِّ ٱجْعَلْ هَٰذَا بَلَدًا ءَامِنًا وَٱرْزُقْ أَهْلَهُۥ مِنَ ٱلثَّمَرَٰتِ مَنْ ءَامَنَ مِنْهُم بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ ۚ قَالَ وَمَن كَفَرَ فَأُمَتِّعُهُۥ قَلِيلًا ثُمَّ أَضْطَرُّهُۥٓ إِلَىٰ عَذَابِ ٱلنَّارِ ۖ وَبِئْسَ ٱلْمَصِيرُ ﴿١٢٦﴾ وَإِذْ يَرْفَعُ إِبْرَٰهِـۧمُ ٱلْقَوَاعِدَ مِنَ ٱلْبَيْتِ وَإِسْمَٰعِيلُ رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّآ ۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴿١٢٧﴾ رَبَّنَا وَٱجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ لَكَ وَمِن ذُرِّيَّتِنَآ أُمَّةً مُّسْلِمَةً لَّكَ وَأَرِنَا مَنَاسِكَنَا وَتُبْ عَلَيْنَآ ۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٢٨﴾ ﴾

[١٢٦] [ای پيغمبره! او هغه وخت راپه ياد کړه، کله چې ابراهيم دعاء وکړه] او و يې ويل: ای د زما لويه ر به! دا ښار (مکه معظمه) د امن کور او ښار وګرځوه، ترڅو پکې و يره نه وي او د مکې مومنو اوسيدونکو ته چې دوی پر الله او د آخرت پر ورځ ايمان راوړئ دئ؛ ډول ډول ميوي روزي کړه! [او بيا الله تعالى ابراهيم عليه السلام ته په ځواب کې] وو يل: هو! هر څوک چې د دې ځای اوسيدونکي وي، که دوی کافران هم وي؛ زه دوی ته په دنيا کې د لږ وخت لپاره د خوند اخستلو روزي ورکوم او بيا يې د دوزخ اور عذاب ته ورغورځوم او دوزخ د ورګرځيدلو ډير بد ځای دئ، يعنی دوزخيان به پکې تل پاتې کړ يږي.

[١٢٧] [او ای پيغمبره! هغه وخت هم راپه ياد کړه] کله چې ابراهيم او زوی يې اسماعيل د بيت الله ودانۍ بنسټونه راجګ کړل [يعنی د الله تعالى کور يې ودان کړ، نو بيا يې دعاء وکړه او و يې ويل:] ای د زمونږ لويه

څښتنه! د زمونږ دا خدمت او کړنه زمونږ له پلوه ومنه [یعنی هغه قبوله کړه] ځکه یقینا چې ته ښه پوه او ښه اور یدونکې لوی خدای یې!

او بیا الله تعالی په ور پسې مبارك آیت کې د ابرهیم علیه السلام هغې دعاء نه مونږ خبر کړي یو چې خپل ځان او خپل کهول ته یې پکې مسلماني غوښتې ده، او فرمایلي دي:

[١٢٨] ای د زمونږ لو یه خدایه! مونږ مسلمانان وګرځوه! او د زمونږ کهول نه ټول تا ته تسلیم سوي امت وګرځوه او مونږ ته د زمونږ عبادت او بنده ګۍ لار او د هغې نښې را وښیه او د زمونږ ګناه راته و بښه، ځکه ته یقینا چې ښه مهر بان او لوی تو به منونکۍ ذات یې، یعنی ای لو یه څښتنه! ته د خپلو بنده ګانو ګناه بښې او پر دوی ښه مهر بان خدای یې!

{ د محمد ﷺ پیغمبري د ابرهیم علیه السلام دعاء ؤ }

او بیا په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی مونږ ته د ابرهیم او د اسماعیل علیهما السلام هغه دعاء راپه یاد کړي ده چې دوی د محمد ﷺ پیغمبرۍ او نبوت لپاره کړې ده، ځکه محمد قر یشي ﷺ د اسماعیل بن ابراهیم د نسل او کهول نه ؤ، او فرمایلي دي:

﴿رَبَّنَا وَٱبۡعَثۡ فِيهِمۡ رَسُولٗا مِّنۡهُمۡ يَتۡلُواْ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَيُزَكِّيهِمۡۚ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ١٢٩ وَمَن يَرۡغَبُ عَن مِّلَّةِ إِبۡرَٰهِـۧمَ إِلَّا مَن سَفِهَ نَفۡسَهُۥۚ وَلَقَدِ ٱصۡطَفَيۡنَٰهُ فِي ٱلدُّنۡيَاۖ وَإِنَّهُۥ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ لَمِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ١٣٠ إِذۡ قَالَ لَهُۥ رَبُّهُۥٓ أَسۡلِمۡۖ قَالَ أَسۡلَمۡتُ لِرَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ١٣١ وَوَصَّىٰ بِهَآ إِبۡرَٰهِـۧمُ بَنِيهِ وَيَعۡقُوبُ يَٰبَنِيَّ إِنَّ ٱللَّهَ ٱصۡطَفَىٰ لَكُمُ ٱلدِّينَ فَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ ١٣٢﴾

[١٢٩] ای د زمونږ لو یه څښتنه! [د بیت الله شریف په څیرمه اوسیدونکو خلکو په منځ کې د دوی د خپل اډ او کهول نه] ورته پیغمبر راولیږه، ترڅو دا پیغمبر ستا د کتاب آیتونه دوی ته ولولي، او کتاب (قرآن) او حکمت (هوښیاري) ورزده کړي او دوی ښه وروزي او د شرك او بدو

اخلاقو او بدو خو یونو نه پې پاک کړي، او ای لو یه ر به! یقینا چې ته لوی ځواکمن ذات او د پاخه حکمت او غوره تدبیر څښتن یې، یعنی ته ای ر به! هرڅه په ځواکمنۍ او لوی تدبیر سره ترسره کوې، او هیڅ کار تا ته سخت او ستونزمن ندئ، او څه چې غواړې هغسې کړای سې!

ګرانو دوستانو! نو ځکه رسول الله ﷺ فرمایلي دي: زه د خپل پلار ابراهیم منل سوې دعاء یم.

او کله چې بیا رسول الله ﷺ پیغمبر سه او د الله پاک کتاب قرآن پر هغه باندې رانازل سه، نو د ابراهیم علیه السلام ارمان پیغام یې خپل قوم ته په وار وار سره ورسا ؤ او هغه یې د مومنانو په ښه روزنه او ښه زدکړه کې پلئ که، نو ښایې چې د هغه وارثان علماء او ملایان هم د رسول الله ﷺ پر پله لاړ سي او د هغه پیغام خپلو ولسونو ته په اخلاص سره ورسوي، ځکه دا امانت اوس د دوی پر غاړه پروت دئ، نو ښایي سم یې سرته ورسوي او د الله تعالی دین خور کړي او خلکو ته یې ورسوي.

[١٣٠-١٣١] [هو! پرته د هغه چا نه چې د خپل ځان ګټه نه پیژني] او کم عقله او ساده وي؛ بل هیڅ څوک د ابراهیم دین نه مخ نه اړوي، ځکه یقینا چې ابراهیم په دنیا کې مونږ د پیغمبرۍ لپاره غوره که، او دئ به په آخرت کې یقینا د ښو خلکو نه وي او د لوړ مقام خاوند به وي، ځکه کله چې ابراهیم ته د هغه رب الله وو یل: ای ابراهیمه! تسلیم سه او د خپل رب الله بنده ګۍ ته غاړه کیږده! نو بیا ابراهیم وو یل: هو! ما خپل ځان رب العالمین ته چې د ټولې نړۍ واکمن څښتن دئ؛ وسپاره، یعنی زه پر حق او ر یښتیا سره مسلمان سوم، نو ابراهیم علیه السلام په اخلاص سره د الله تعالی بنده ګي ومنله او الله تعالی ته تسلیم سه.

او بیا ابراهیم علیه السلام خپل ټول کهول ته په مسلمانۍ سپارښت کړئ دئ او په بیان کې یې الله تعالی فرمایلي دي:

[١٣٢] او بیا ابراهیم خپلو زامنو او یعقوب [د ابراهیم لمسي] ته په اسلام باندې سپارښت وکه [یعنی ورته یې وو یل: ای زامنو!] یقینا چې الله

تاسې ته دا دین (اسلام) غوره کړئ دئ، نو په هغه باندې په خپل ژوند کې کلک سئ او په اسلام ټینګ پاتې سوي مړه سئ، یعنی پر خپله توحیدي عقیده د ژوند آخره پوری کلک ودر یږئ، ترڅو چې مړه سئ او د دنیا ژوند نه مسلمانان لاړ سئ.

عزتمنو دوستانو! دا مبارك آیتونه مونږ ته دا پیغام رسوي چې د اسلام توحیدي عقیده او دین؛ د ابراهیم علیه السلام او د هغه کهول پیغمبرانو نه مونږ ته راپاتې ر یښتینئ میراث دئ، نو مونږ خاماخا مکلف یو چې د ابراهیم علیه السلام ملت او دین پر لار چې هغه اسلام دئ لاړسو، ځکه د اسلام پیغمبر ﷺ او قرآن کر یم پر همدې لوی هدف او مقصد ټینګار کړئ دئ.

{ یعقوب علیه السلام خپل زامن یهودیت ته ندي رابللي }

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې د بني اسرائیلو هغه بې بنسټه خبرې الله تعالی ردې کړې دي چې کله دوی وو یل یعقوب علیه السلام یهودیت ته رابلونکئ ؤ، او پر یهودو یې غږ کړئ دئ، دوی یې پوښتي دي:

﴿أَمْ كُنتُمْ شُهَدَآءَ إِذْ حَضَرَ يَعْقُوبَ ٱلْمَوْتُ إِذْ قَالَ لِبَنِيهِ مَا تَعْبُدُونَ مِنۢ بَعْدِى ۖ قَالُوا۟ نَعْبُدُ إِلَٰهَكَ وَإِلَٰهَ ءَابَآئِكَ إِبْرَٰهِـۧمَ وَإِسْمَٰعِيلَ وَإِسْحَٰقَ إِلَٰهًا وَٰحِدًا وَنَحْنُ لَهُۥ مُسْلِمُونَ ﴿١٣٣﴾ تِلْكَ أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ ۖ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَلَكُم مَّا كَسَبْتُمْ ۖ وَلَا تُسْـَٔلُونَ عَمَّا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١٣٤﴾﴾

[۱۳۳] ای بني اسرائیلو! آیا کله چې یعقوب (اسرائیل) ته د مرګ او یا د مړ ینې پیغام راغئ؛ تاسې هلته حاضر وئ؟ هو! کله چې یعقوب خپل زامن راټول کړل [ترڅو ورته وصیت وکړي] او دوی ته یې وو یل چې د زما مړ ینې نه وروسته به بیا تاسې د چا عبادت او بنده ګي کړئ؟ [دوی په ځواب کې ورته] وو یل: مونږ به د ستا معبود الله عبادت کړو او د ستا نیکونو: ابراهیم، اسماعیل او د اسحاق رب عبادت به کړو، ځکه الله په ر یښتیا سره یو (واحد او لا شر یك) معبود او لوی ذات دئ، نو مونږ یوازی هغه ته تسلیم یو، یعنی بنده ګي یې کړو او حکمونه یې منو، نو

ځکه د الله تعالی دا توحیدي پیغام ټولې نړۍ ته رسیدلئ دئ، او هغه ټولو پیغمبرانو چې د الله تعالی رسالت یې په غاړه ؤ؛ خپلو ولسونو ته رسولئ دئ، او بیا د ختم ټاپه ور باندې د اسلام پیغمبر محمد ﷺ ووهله.

او په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی بني اسرائیل په خپلو نیکونو باندې د فخر کړو نه؛ کلک منعې کړي دي، او فرمایلي دي:

[۱۳٤] [او ای بني اسرائیلو! د ستاسې نیکونه او نور پخوا تیر سوي ټول خلک] یو امت ول چې تیر سول، او دوی به د خپلو کړنو ثواب اخلي او تاسې به د خپلو کړنو، او د دوی د کړنو پوښتنه ستاسې نه نکیږي، یعنی دا چې هیڅ څوک د بل هیڅ چا کړنو مسؤلیت نه لري، او هیڅ څوک د بل هیڅ چا په ګناه نه نیول کیږي، او هیڅ چا ته د خپل عمل او تقوا نه پرته بل هیڅ څه شئ او هیڅ څوک؛ ګټه رسولای نسي.

قدرمنو عز یزانو! د الله تعالی دا لارښود قانون هیڅ کله پدې معنا ندئ چې یو بل ته به په ښو کړنو لارښودنه نکړو او د بدو کړنو نه بې نه منعې کوو، ځکه امر په معروف او نهی د منکر نه د اسلام لو یو فرایضو او شعایرو نه دي، او د ولس څار لاندې دنده او مسئولیت دئ چې په اوسني نړۍ وال نظام کې؛ دا دنده مدني ټولنو او ازادو رسنیو ته سپارل سوې ده، او دوی امر بالمعروف او نهي عن المنکر ته ورته فعالیت کړي، او کیدای سي چې په اسلامي هیوادونو کې د امر په معروف او نهی د منکراتو نه ځانګړې اداره د خلکو د لاښه پوهاوي په مقصد په دغسې څارنه کې برخه واخلي او خلک ښو کړنو ته راو بولي او د منکراتو نه یې منعې کړي.

ګرانو دوستانو! او د الله تعالی د دی بیان نه بل لوی مقصد دا دئ چې فخر پر پلرونو او نیکونو یا فخر په نسب او حسب باندې؛ څه ګټه نه لري، نو نه ښایي چې یهود او یا بل څوک پدې فخر وکړي چې د دوی نیکونه پیغمبران ول او ښه خلک تیر سوي دي، نو د دوی فکر، عقیده، کړنې او و ینا وې هم ټولې سمې دي! ځکه د هر چا عمل د هغه زړه سره ترلئ دئ او

د قيامت ورځې په تله کې هرچا ته؛ يوازې د هغه خپل عمل کټه او يا ز يان رسولای سي!

{ د ابراهيم عليه السلام توحيدي دين د الله عبادت ته بلنه وه }

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د اهل کتابو (يهودو او نصارو) هغه دعوت او بلنه را په ياد کړې او بيا يې رده کړې ده چې دوی به د اسلام پيغمبر صلى الله عليه وسلم او ورسره مومنانو ته و يل: تاسې يهودان او نصرانيان سی، ترڅو پر سمه لار روان سی، او فرمايلي دي:

﴿ وَقَالُواْ كُونُواْ هُودًا أَوۡ نَصَٰرَىٰ تَهۡتَدُواْۗ قُلۡ بَلۡ مِلَّةَ إِبۡرَٰهِـۧمَ حَنِيفٗاۖ وَمَا كَانَ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ١٣٥ قُولُوٓاْ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيۡنَا وَمَآ أُنزِلَ إِلَىٰٓ إِبۡرَٰهِـۧمَ وَإِسۡمَٰعِيلَ وَإِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَ وَٱلۡأَسۡبَاطِ وَمَآ أُوتِيَ مُوسَىٰ وَعِيسَىٰ وَمَآ أُوتِيَ ٱلنَّبِيُّونَ مِن رَّبِّهِمۡ لَا نُفَرِّقُ بَيۡنَ أَحَدٖ مِّنۡهُمۡ وَنَحۡنُ لَهُۥ مُسۡلِمُونَ ١٣٦ فَإِنۡ ءَامَنُواْ بِمِثۡلِ مَآ ءَامَنتُم بِهِۦ فَقَدِ ٱهۡتَدَواْۖ وَّإِن تَوَلَّوۡاْ فَإِنَّمَا هُمۡ فِي شِقَاقٖۖ فَسَيَكۡفِيكَهُمُ ٱللَّهُۚ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ١٣٧ صِبۡغَةَ ٱللَّهِۖ وَمَنۡ أَحۡسَنُ مِنَ ٱللَّهِ صِبۡغَةٗۖ وَنَحۡنُ لَهُۥ عَٰبِدُونَ ١٣٨ ﴾

[١٣٥] [او يهودو او نصاراوو رسول الله صلى الله عليه وسلم او مومنانو ته] وو يل: راځئ په يهوديت او نصرانيت کې راننوځی، ترڅو سې لاری ته برابر او هدايت سی [نو ته ای پيغمبره! دوی ته په ځواب کې] ووايه: [نا! خبره هيڅکله داسې نده، لکه څنګه چې تاسې وايي! بلکې پر سمه لار تګ پدې کې دئ چې] ټول د ابراهيم ملت او دين پسې لاړ سو [يعني ابراهيم عليه السلام پسې اقتدا وکړو، ځکه ابراهيم د باطل دين نه چې د بتانو بنده کې او عبادت ؤ؛ حق دين ته چې هغه يوازې د الله عبادت دئ را اوښتئ ؤ] او ابراهيم د مشرکانو نه نه ؤ.

[١٣٦] ای مومنانو! تاسې دغو يهودو او نصاروو ته ووايي چې مونږ پر الله او د هغه پر کتاب (قرآن) چې هغه مونږ ته رانازل سوئ دئ؛ ايمان راوړئ دئ، او بيا مونږ پر هغو پانو باندې ايمان را وړئ دئ چې هغه پر

ابراهيم، اسماعيل، اسحاق، يعقوب او پر اسباطو[يعنى د يعقوب كهول پيغمبرانو] باندې رانازلې سوي ول، او همداسې مونږ پر هغو كتابونو ايمان را وړئ دئ چې هغه موسى او عيسى ته وركړل سوي ول[لكه تورات او انجيل] او هم مونږ پر هغو كتابونو ايمان راوړئ دئ چې هغه د دوى نه پخوا تير سوو پيغمبرانو ته؛ د دوى د رب لخوا وركړل سوي ول، نو مونږ د تيرو پيغمبرانو نه د هيڅ يوه په منځ كې تو پير نكړو، ځكه مونږ د الله حكم ته تسليم يو او ور باندې عمل كړو.

او په ور پسې مبارك آيت كې الله تعالى خپل استازي پيغمبرﷺ ته د كافرانو شر نه د ساتنې په ډاډ كې؛ فرمايلي دي:

[۱۳۷] [نو اى پيغمبره او ستا سره مومنانو!] كه يهودو او نصاروو ستاسې غوندې ايمان را وړ [او د الله ټول پيغمبران او كتابونه يې ومنل] نو بيا دوى يقينا چې سمه لار موندلې ده، او د حق لارې ته سم سوي دي، او كه چيرې دوى بيا بيرته په شا سول، نو هغوى په ډير كلك بيلتون كې لويدلي او پر يوتي دي او ټوټه سوي دي، نو تا ته اى پيغمبره! يوازى الله كافي او بس دئ [يعنى تا به اى پيغمبره! الله تعالى د كافرانو زورونو نه وساتي او پر دښمن باندې به درته نصرت او بر يا دركړى] ځكه الله ښه كلك او لوى اور يدونكئ، او ښه پوه ذات دئ، يعنى الله تعالى د ستاسې خبرې اوري او د ستاسې پر ټولو كړنو ښه پوه دئ او په هرڅه علم لري، نو بيا هر چا ته د هغه لائق ثواب او سزا وركوي.

قدرمنو دوستانو! د الله تعالى د ساتنې او مرستې دا وعده يوازې رسول اللهﷺ ته ځانګړې نه وه، بلكې هغه عامه ده، نو هرځوك چې د الله پر بنده كې او اطاعت كې ټينګ وي او رسول اللهﷺ پسې د زړه له كومي په اخلاص سره پر سمه لار روان وي، نو دئ د كافرانو شر رسولو نه په امن كې دئ او الله تعالى د هغه مرسته كړي.

او په ور پسې مباركو آيتونو كې خلك الله تعالى اسلام ته چې هغه د الله رنګ دئ؛ را بللي دي او فرمايلي دي:

[١٣٨] ای مومنانو! د الله تعالی پر حق دین باندې چې هغه د الله رنګ دئ او تاسې یې په فطرت او پیدا یښت کې ور باندې رنګ کړي یاستئ؛ ټینګ سئ، او آیا بل څوک د الله نه ښه رنګونکئ دئ؟ یعنی نو ځواب دا چې د الله فطري دین اسلام نه چې مونږ یې په پیدایښت کې ور باندې رنګ کړي او پیدا کړي یو؛ بل غوره او اوچت دین نسته، نو مونږ یوازی د الله عبادت او بنده ګي کړو او پر خپل فطري دین باندې کلک ولاړ یو.

ګرانو دوستانو! یقینا چې دا مبارك آیت د الله تعالی په پېژندنه باندې چې هغه خپله الله تعالی د زمونږ پیدایښت یا د فطرت په نطفه کې نغښتې ده؛ پوخ دلیل دئ، نو ځکه ټول هغه کسان چې د سوچه روح څښتن دي، دوی هرومرو الله ته مخ اړوي او بنده ګئ ته یې تسلیمیږي او په اخلاص سره یې عبادت کړي او بل هیڅ څوک ورسره په خدایی کې نه ګډوي.

{رسول الله ﷺ خپل براءت د یهودو نه اعلان که}

او په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی رسول الله ﷺ ته لارښودنه کړی ده چې خپل براءت او بې زاري د یهودو نه اعلان کړي، او فرمایلي دي:

﴿قُلْ أَتُحَآجُّونَنَا فِي ٱللَّهِ وَهُوَ رَبُّنَا وَرَبُّكُمْ وَلَنَآ أَعْمَٰلُنَا وَلَكُمْ أَعْمَٰلُكُمْ وَنَحْنُ لَهُۥ مُخْلِصُونَ ﴿١٣٩﴾ أَمْ تَقُولُونَ إِنَّ إِبْرَٰهِـۧمَ وَإِسْمَٰعِيلَ وَإِسْحَٰقَ وَيَعْقُوبَ وَٱلْأَسْبَاطَ كَانُوا۟ هُودًا أَوْ نَصَٰرَىٰ ۗ قُلْ ءَأَنتُمْ أَعْلَمُ أَمِ ٱللَّهُ ۗ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن كَتَمَ شَهَٰدَةً عِندَهُۥ مِنَ ٱللَّهِ ۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿١٤٠﴾ تِلْكَ أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ ۖ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَلَكُم مَّا كَسَبْتُمْ ۖ وَلَا تُسْـَٔلُونَ عَمَّا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١٤١﴾﴾

[١٣٩] ای پیغمبره! اهل کتابو ته ووایه چې آیا تاسې زمونږ سره د الله په توحید کې او د هغه سره په اخلاص کې؛ سیالي کړئ او راسره بحثونه او استدلال کړئ؟ حال دا چې د زمونږ او ستاسې ټولو خدای او لوی څښتن الله دئ، نو د زمونږ خپل کړل، او د ستاسې خپل، او مونږ الله ته په عبادت کې اخلاص لرو، یعنی یوازې د الله بنده ګي کړو، او بل هیڅ

څوک د الله سره په خدايي او د هغه په بنده ګۍ کې نه ګډوو.

او بيا په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالى د اهل کتابو دا تور رد کړئ دئ چې دوی به و يل: ابراهيم او د هغه زامن او کهول ټول يهودان او نصرانيان ول، او فرمايلي دي:

[۱٤۰] او دا چې تاسې ای بني اسرائيلو وايي: ابراهيم، اسماعيل، اسحاق، يعقوب او اسباط (د يعقوب ﷺکهول پيغمبران) ټول يهودان او او نصرانيان ول؟ [نو ځواب يې دا دئ چې ته ای پيغمبره! د دوی نه و پوښته چې] آيا تاسې ای يهودو ډير پوهيږی او که الله؟ [استفهام دلته انکاري دئ، معنا دا چې يهود هيڅ کله د الله نه په دين ډير او ښه نه پوهيږي، او الله تعالى مونږ په قرآن کې خبر کړی يو چې ابراهيمعليه السلام او د هغه زامن او ټول کهول يې د باطل دين نه حق دين ته چې په توحيد سره د الله عبادت دئ را اوښتي ول، او دوی ټول مسلمانان ول، نو ځکه الله تعالى د دې مبارك آيت په پای کې فرمايلي دي:] څوک د هغه چا نه ډير ظالم دئ چې هغه خپله شاهدي، علم او پوهه د الله نه پټوي؟ [ځواب دا چې هيڅ څوک د هغه نه لوی ظالم نسته! او يوازی بني اسرائيل ول چې د الله لخوا د دوی سره د اسلام پيغمبر د راتګ علم او شاهدی وه، خو دوی دا علم پټ که او ورڅخه منکر سول] نو د اهل کتاب دغه کافران ده پدې پوه سي چې د دوی کړنو نه الله هيڅ کله بې پروا او بې خبره ندئ، يعنی د قيامت په ورځ الله هرچا ته د هغه لائق ثواب او سزا ورکوي او کلک حساب ورسره کړي.

عزتمنو دوستانو! او په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالى بني اسرائيلو سره د دغسی اوږدې مرکې او خبرو نه وروسته يوځل بيا د دوی بې ځايه فخر پر خپلو نيکونو باندې غندلئ دئ، او فرمايلي دي:

[۱٤۱] او ای يهودو! د ستاسې پخواني نيکونه يو امت او يوه ډله خلک ول چې پخوا تير سول، نو د هغوی خپلې کړنې او د ستاسې خپلې، او د هغوی کړنو پوښتنه ستاسې نه نکيږي او نه د هغوي نه د ستاسې کړنو

پوښتنه کيږي، يعنی د هر چا حساب خپل دئ او هر چا ته د خپل عمل ثواب او سزا ورکوله کيږي، او هيڅ څوک د بل هيڅ چا په عمل نه جنت ته ځي او نه دوزخ ته، نو نه ښايي چې هيڅ څوک پر خپل نسب فخر وکړي او ور باندې وغولیږي او داسې ګمان وکړي چې د هغه نسب به ورته څه ګټه ورسوي، او تاکلې سزا نه به نجات بياموي!

{قبله د اقصا مسجد نه مسجد الحرام لور ته واوښتله}

قدرمنو لوستونکو! رسول الله ﷺ چې کله په مکه معظمه کې وه، نو د الله کور کعبې معظمې ته مخامخ در يده او د پخواني شر يعت سره سم يې مسجد الاقصی خوا ته لمونځ کا وه، خو کله چې يې مدينې منورې ته هجرت وکه، نو بيا يوازې مسجد الاقصی د هغه قبله سوه او کعبې ته يې شا سوه، ځکه مدينه منوره د مکې مکرمې په شمال کې پرته ده، نو بيا رسول الله ﷺ همداسې د هجرت په لمړي کال او د دو يم کال څو مياشتې د اقصا مسجد خوا ته چې د بيت المقدس په ښار کې پروت دئ؛ لمونځ وکه، خو زړه يې د کعبې مبارکې مسجد الحرام سره په مينه ډک وه او ورسره د الله امر او حکم ته په طمعه او په انتظار کې ؤ، نو بيا هغه وه چې الحمد لله د رسول الله ﷺ ارمان پوره سه او په بيت المقدس ښار کې پراته مسجد الاقصی خوا ته د قبلې حکم منسوخ سه او قبله مسجد الحرام خوا ته چې پکې کعبه معظمه ده؛ را واوښتله، او دا بدلون ځينې کسانو ته ښه لوی ازمايښت ؤ، او ځينې ناپوه کسان د يهودو تبليغاتو ښکار سول، نو بيا مومنانو ته الله تعالی د همدې لوی بدلون په باره کې چې د بيت المقدس نه د قبلې بدليدل او نسخه کيدل ول؛ پدې لاندې مبارکو آيتونو کې ډيرې ضروري او اړ يني لارښودنې کړې دي، او په پيل کې يې فرمايلي دي:

{شرق او غرب (ختيځ اولوديځ)د الله واک لاندې دي}

﴿سَيَقُولُ ٱلسُّفَهَآءُ مِنَ ٱلنَّاسِ مَا وَلَّىٰهُمۡ عَن قِبۡلَتِهِمُ ٱلَّتِي كَانُواْ عَلَيۡهَاۚ قُل لِّلَّهِ ٱلۡمَشۡرِقُ وَٱلۡمَغۡرِبُۚ يَهۡدِي مَن يَشَآءُ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ١٤٢﴾

[١٤٢] ای پیغمبره! د خلکو نه به ځینې ناپوه کسان وایي: چې هغه څه شئ ول چې مومنان یې د خپلې قبلې نه چې هغې خوا ته یې لمنځونه کړل؛ واړول؟ [یعنی دا چې ولې قبله د اقصا مسجد نه په بیت المقدس کې؛ مسجد الحرام ته په مکه مکرمه کې راواوښتله؟ نو ته ای پیغمبره! دوی ته په ځواب کې] ووایه: شرق او غرب [چې د لمر راختلو او پر یوتلو خواوی دي] ټول د الله واک لاندې دي او د الله ملك دئ، او الله چې څوک وغواړی هغه ته سمه لار ورښیي، یعنی کم لوري ته چې د الله خوښه وي؛ هغه مونږ ته قبله ګرځوي، نو د الله تعالی په پر یکړو باندې اعتراض کړل د مومنانو کار ندئ، ځکه د الله کړنې ټولې په لو یه پوهه او په پاخه حکمت ترسره کیږي او د الله تعالی بنده ګان ورځخه ګټه پورته کوي.

{مسلمانان الله په منځ پالنه او غوریاتوب ستایلي دي}

قدرمنو دوستانو! الله تعالی پدې لاندې مبارکو آیتونو کې مومنان په منځ پالنه او غور یاوالي باندې ستایلي دي، او فرمایلي دي:

﴿وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَٰكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِّتَكُونُوا۟ شُهَدَآءَ عَلَى ٱلنَّاسِ وَيَكُونَ ٱلرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا ۗ وَمَا جَعَلْنَا ٱلْقِبْلَةَ ٱلَّتِى كُنتَ عَلَيْهَآ إِلَّا لِنَعْلَمَ مَن يَتَّبِعُ ٱلرَّسُولَ مِمَّن يَنقَلِبُ عَلَىٰ عَقِبَيْهِ ۚ وَإِن كَانَتْ لَكَبِيرَةً إِلَّا عَلَى ٱلَّذِينَ هَدَى ٱللَّهُ ۗ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُضِيعَ إِيمَٰنَكُمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِٱلنَّاسِ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿١٤٣﴾ قَدْ نَرَىٰ تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِى ٱلسَّمَآءِ ۖ فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضَىٰهَا ۚ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ ۚ وَحَيْثُ مَا كُنتُمْ فَوَلُّوا۟ وُجُوهَكُمْ شَطْرَهُۥ ۗ وَإِنَّ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ لَيَعْلَمُونَ أَنَّهُ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّهِمْ ۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا يَعْمَلُونَ ﴿١٤٤﴾ وَلَئِنْ أَتَيْتَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ بِكُلِّ ءَايَةٍ مَّا تَبِعُوا۟ قِبْلَتَكَ ۚ وَمَآ أَنتَ بِتَابِعٍ قِبْلَتَهُمْ ۚ وَمَا بَعْضُهُم بِتَابِعٍ قِبْلَةَ بَعْضٍ ۚ وَلَئِنِ ٱتَّبَعْتَ أَهْوَآءَهُم مِّنۢ بَعْدِ مَا جَآءَكَ مِنَ ٱلْعِلْمِ ۙ إِنَّكَ إِذًا لَّمِنَ

ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٤٥﴾

[١٤٣] ای مومنانو! او لکه څنګه چې تاسې مونږ سمې لاری ته هدایت کړې یاستی؛ همداسې تاسې مونږ غوره امت کړځولې یاستی او په تاسې کې انصاف سته، ترڅو د آخرت په ورځ تاسې پر نورو خلکو شاهدان وی [یعنی پر هغوی به شاهدي وایي چې پیغمبرانو یې د الله دین دوی ته پوره رسولئ دئ] او بیا به د اسلام پیغمبر پر تاسې باندې ای مومنانو! شاهد وي [یعنی دا چې هغه هم د خپل رب الله تعالی دین تاسې ته رسولئ او پوره کړلئ دئ] او ای پیغمبره! دا قبله د مسجد اقصا نه مسجد الحرام خوا ته په مکه کې مونږ د دې مقصد لپاره راوګرځوله، ترڅو مونږ پوه سو او معلومه سي چې څوک د پیغمبر خبره مني او څوک ورڅخه بیرته په شا اوړي؟ [یعنی ښایي مومنان او منافقان سره بیل سي او یو بل ښه سره و پیژني] او دا د قبلې بدلیدل که څه هم ډیر غټ او درونده کار ؤ، خو هغه پر مومنانو چې دوی الله سمې لارې ته هدایت کړي دي؛ درونده نه ؤ [ځکه دوی د الله امر تابع دي، نو الله چې کمه خوا یا پلو ورته قبله وګرځوي هغه مني] او ای مومنانو! د ستاسې ټولې کړنې او هغه لمنځونه چې تاسې د اقصا مسجد لور ته کړي دي؛ هغه الله نه ضائع کوي [یعنی ثواب یې د الله سره محفوظ او ساتل سوئ دئ] او الله پر خپلو بنده ګانو ښه لوی مهر بان خدای دئ، یعنی خپل رحمتونه پر دوی باندې تل لوروي، او همدارنګه پدې مبارك آیت کې الله تعالی د هغو مومنانو خپلوان ډاډمن کړي دي چې هغوی پخوا مسجد الاقصی لور ته لمنځونه کړي ول او اوس مړه دي او مسجد الاقصی خوا ته یې د لمونځ کړو فرصت بیانموند، نو د قبلې بدلیدو سره؛ د هغوی خپلوانو سره دغسې اندیښنه پیدا سوه چې د هغوی مخکني لمنځونه څنګه سول؟ یعنی داچې آیا هغه قبول سول کنه؟

[١٤٤] ای پیغمبره! او د ستا مخ اوښتل د اسمان په څیو کې مونږ په یقین سره و ینو[یعنی دا چې ته د قبلې اوښتلو لپاره د وحی یې رانازلیدو ته سترګې په لار او په طمعه یې] نو د ستا مخ به د بیت المقدس نه هغې قبلې ته را واړو چې ته یې هیله لرې او پرې خوښیږې [او هغه په

مسـجد الحرام کې کعبه د الله تعالی کور دئ] نو ای پیغمبره! مسـجد الحرام خوا تـه مخ واړوه [یعنی تـه ای پیغمبره او د امت مومنـان ده نور مسـجد الحرام لور ته لمونځ وکړی] او هغو کســانو ته چې کتاب ورکړل سـوئ دئ (یهود او نصـارا) هغوی پوهیږي چې دا د قبلې اوښـتل د مسـجد الاقصی نه مسجد الحرام ته د دوی د رب الله لخوا د ر یښـتیا پر یکره او حکم دئ [یعنی هیڅ شـك او شـبه پکې نسـته او بیان یې د دوی په کتاب تورات کې راغلي دئ] نو یهود ده پدې پوه سـي چې الله د دوی د کړنو نه غـافل او بې خبره ندئ، یعنی یهودو او نصــاراوو ته به چې دوی خپل علم پټوي؛ کلکه سزا ورکړي.

[١٤٥] او ای پیغمبره! کـه تـه ټول آیتونـه او دلیلونـه اهـل کتـابو تـه (یهودو او نصارووته) چې دوی ته د الله نه رانازل سوي کتابونه (تورات او انجیل) ورکړل ســوي دي؛ را وړې او هغه دوی ته وړاندې کړي [بیا هم دوی سـتا سـره د ضـد کړو او کینې له کبله] د سـتا قبله نه منې او ته هم نور د دوی قبله نه مني [ځکه تا ته الله تعالی د الاقصی مسجد نه مسجد الحرام خوا ته د اوښـتلو حکم کړئ دئ] او همدارنګه اهل کتاب هم د یو بل دین نه مني [یعنی یهود نصــرانیت نه مني، او نصــارا یهودیت] او ای پیغمبره! وروسـته لدې چې تا ته پر حق باندې علم او پوهه راغله، نو که بیا ته د یهودو او نصـارووغوښـتنې ومني، نو ته به هرومرو د ظالمانو نه وی، یعنی تا به پر خپل ځان تیرئ کړئ وي او د حق نه به کور سوئ وي.

قدرمنو دوسـتانو! د الله تعالی په دغسـی ګواښ کې چې رسـول الله ﷺ ته یې کړئ دئ؛ ټول هغه کسان شاملیږي چې دوی د الله تعالی حکمونو پر خلاف خپلو نفسي غوښـتنو او هوسـونو پسې ځي او د الله تعالی حکمونه د پښــو لاندې کوي، لکه د نبۍ ورځې ډیر په نامه مسـلمانان چې په خپلو ګټو باندې مین دې او د حلال او حرام په منځ کې فرق یا تو پیر نکړي.

{اهل کتابو حق پټ که او د محمد پیغمبرۍ نه منکر سول}

او په ور پسـې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د اسـلام پیغمبر محمد ﷺ

پېژندنه د یهودو او نصــاراوو لخوا په ډاکه کړې ده، خو بیا هم د دوی مذهبي مشـرانو حق پټ که او د محمدﷺ پیغمبرۍ نه منکر سـول، او په بیان کې الله تعالی فرمایلي دي:

﴿ ٱلَّذِينَ ءَاتَيۡنَٰهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ يَعۡرِفُونَهُۥ كَمَا يَعۡرِفُونَ أَبۡنَآءَهُمۡۖ وَإِنَّ فَرِيقٗا مِّنۡهُمۡ لَيَكۡتُمُونَ ٱلۡحَقَّ وَهُمۡ يَعۡلَمُونَ ١٤٦ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّكَ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡمُمۡتَرِينَ ١٤٧ وَلِكُلّٖ وِجۡهَةٌ هُوَ مُوَلِّيهَاۖ فَٱسۡتَبِقُواْ ٱلۡخَيۡرَٰتِۚ أَيۡنَ مَا تَكُونُواْ يَأۡتِ بِكُمُ ٱللَّهُ جَمِيعًاۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ١٤٨ ﴾

[۱٤٦-۱٤۷] [ای مومنانو!] هغو کسـانو ته چې مونږ کتاب ورکړی دئ [لکه یهود او نصارا] د دوی پوهان رسول الله هغسې پیژني، لکه خپل زامن چې پیژني [یعنی د رسـوالله ﷺ ټول صـفتونه په خپلو کتابونو کې لولي] خو یوه ډله د دوی په یقین سـره دغه حق پټوي، حال دا چې دوی حق ښـه پیژني او ور باندې پوهیږي، او ای پیغمبره! دا د حق پیغام (قرآن) د سـتا رب لخوا در باندې را نازل سوئ کتاب دئ، نو ته د شکمنو نه مکیږه، یعنی د کافرانو خبرې مه منه او دوی پسې مځه او تقلید یې مکړه.

[۱٤۸] ای مومنانو! او د هرچا او د هر امت خپله قبله ده چې دوی هغې خوا ته لمونځ کړي او مخ وراړوي، نو تاسـې په ښـو کړنو کې ورسـره سیالي وکړئ، او هر چیرته چې وی؛ تاسې ټول د قیامت په ورځ الله راولي او حسـاب ورکولو ته درول کیږئ، ځکه یقینا چې الله په هرڅه قادر لوی ذات دئ، یعنی هرڅه الله کړلای سي او بی وسعې ندئ.

{مسجد الحرام خوا ته مخ اړول په لمانځه کې فرض دي}

او په ور پسـې مبارك آیت کې یوځل بیا رسـول الله ﷺ ته الله تعالی حکم کړئ دئ هر چیرته چې ته وې؛ خپل مخ ده مسـجد الحرام خوا ته واړوه او د کعبې لور ته لمونځ وکړه، او فرمایلي دي:

﴿ وَمِنۡ حَيۡثُ خَرَجۡتَ فَوَلِّ وَجۡهَكَ شَطۡرَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِۖ وَإِنَّهُۥ لَلۡحَقُّ مِن

رَّبِّكَ ۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعۡمَلُونَ ﴿١٤٩﴾ وَمِنۡ حَيۡثُ خَرَجۡتَ فَوَلِّ وَجۡهَكَ شَطۡرَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِۖ وَحَيۡثُ مَا كُنتُمۡ فَوَلُّواْ وُجُوهَكُمۡ شَطۡرَهُۥ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَيۡكُمۡ حُجَّةٌ إِلَّا ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ مِنۡهُمۡ فَلَا تَخۡشَوۡهُمۡ وَٱخۡشَوۡنِي وَلِأُتِمَّ نِعۡمَتِي عَلَيۡكُمۡ وَلَعَلَّكُمۡ تَهۡتَدُونَ ﴿١٥٠﴾

[١٤٩] ای پیغمبره! او د هرې خوا نه چې راووتلې، نو په لمانځه کې ده مخ مسجد الحرام خوا ته واړوه، او ای پیغمبره! د دې قبلې حقانیت او ر یښتینوالئ د ستا لوی ځښتن الله لخوا ثابت دئ، او الله د ستاسې کړنو نه بې پروا یا بې خبره ندئ، یعنی نو الله به هرچا ته د هغه خپلو کړنو ثواب او سزا ورکړي، ځکه د قیامت ورځې عدالت حق دئ.

درندو عز یزانو! الله تعالی بیا بیا نوې قبلې ته پر مخ اړولو کلک ټینګار کړئ دئ، او د هغې عامل او دلیل یې هم یاد کړئ او بیان کړئ دئ او رسول الله ﷺ او مومنانو ته یې ډاډ ورکړئ دئ، او فرمایلي دي:

[١٥٠] ای پیغمبره! او د هرې خوا نه چې ته راووتلې په لمانځه کې ده مخ مسجد الحرام خوا ته واړوه، او ای مومنانو! تاسې هم چې چیرته وئ خپل مخونه په لمانځه کې مسجد الحرام پلو ته واړوئ، ترڅو خلک پر تاسې د اعتراض کړو دلیل ونلري، خو هغو خلکو چې پر خپلو ځانو باندې ظلم کړئ دئ [یعنی حق نه مني او د کبر او لویې کینې نه پر تاسې اعتراض او نیوکه کړي او د ناحقه تبلیغاتو نه لاس نه اخلي] نو تاسې ای مومنانو! د هغوی نه مه و یرئ او پروایې مکړئ، او یوازې د زما نه کلک وو یرئ او د زما حکم پر ځای کړئ، ترڅو زه خپل نعمتونه او پیرزوني پر تاسې باندې پوره کړم، او تاسې به هرومرو حق ته سمیرئ او پر سمه لار به خوځیرئ او پرې ځئ به!

{د اسلام پیغمبر مومنانو ته د قرآن استازئ او روزونکئ ؤ}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د رسول الله ﷺ پر رسالت او پیغمبرئ ټینګار کړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿كَمَآ أَرۡسَلۡنَا فِيكُمۡ رَسُولٗا مِّنكُمۡ يَتۡلُواْ عَلَيۡكُمۡ ءَايَٰتِنَا وَيُزَكِّيكُمۡ وَيُعَلِّمُكُمُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَيُعَلِّمُكُم مَّا لَمۡ تَكُونُواْ تَعۡلَمُونَ ١٥١ فَٱذۡكُرُونِيٓ أَذۡكُرۡكُمۡ وَٱشۡكُرُواْ لِي وَلَا تَكۡفُرُونِ ١٥٢﴾

[۱۵۱] ای مومنانو! او همدارنګه پر تاسې باندې مونږ بل نعمت هم پیرزو که او د ستاسې له منځ نه مونږ پیغمبر راولیږه او دا پیغمبر د زمونږ کتاب (قرآن) آیتونه تاسې ته لولي او تاسې ور باندې ښه روزي او قرآن او حدیث درزده کوي، او هغه څه تاسې ته ای مومنانو! درزده کوي چې تاسې پخوا ور باندې نه پوهیدلی، دا معنا چې د ژوند ټول آداب او احکام تاسې ته پیغمبر درزدکوي او هغه درښیي یې، او تاسې داسې ور باندې روزي، لکه ژوندئ قرآن چې د ځمکې پر سر خوځیږي او خلک یې په رڼا کې ژوند کړي او د وړانګو نه یې ګټه اخلي.

قدرمنو دوستانو! الله تعالی پدې مبارك آیت کې، لکه هغه ته ورته نورو ډیرو آیتونو کې د اسلامي زدکړو اصول او کړن لاره مونږ ته یاده کړې او بیان کړي ده، نو ښایي چې د اسلامي ثقافت روزونکي استاذان دغسې اصولو ته کلک پام وکړي او شاګردان په اخلاص سره پر دغسې اصولو وروزي، ترڅو قراني لارښودنې دوی ته د ژوند تل پاتې رڼا وي.

او په ور پسې مبارك آیت کې مومنان الله خپل ذکر او شکر و یستلو ته را بللي دي، او فرمایلي دي:

[۱۵۲] ای مومنانو! نو ما یاد کړئ او زه به تاسې یاد کړم او د زما نعمتونو او پیرزو ینو شکر و باسئ او حق یې پر ځای کړئ او هغه مه پټوئ، یعنی د الله نعمتونو نه مه منکر یږئ.

{صبر او لمونځ د مصیبت ځپلو خپلونو ته لوی پیغام دئ}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی مومنان د کړاوونو پر وړاندې صبر او زغم ته رابللي دي، او فرمایلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱسۡتَعِينُواْ بِٱلصَّبۡرِ وَٱلصَّلَوٰةِۚ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ ١٥٣ وَلَا تَقُولُواْ لِمَن يُقۡتَلُ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ أَمۡوَٰتُۢۚ بَلۡ أَحۡيَآءٞ وَلَٰكِن لَّا تَشۡعُرُونَ ١٥٤ وَلَنَبۡلُوَنَّكُم بِشَيۡءٖ مِّنَ ٱلۡخَوۡفِ وَٱلۡجُوعِ وَنَقۡصٖ مِّنَ ٱلۡأَمۡوَٰلِ وَٱلۡأَنفُسِ وَٱلثَّمَرَٰتِۗ وَبَشِّرِ ٱلصَّٰبِرِينَ ١٥٥ ٱلَّذِينَ إِذَآ أَصَٰبَتۡهُم مُّصِيبَةٞ قَالُوٓاْ إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّآ إِلَيۡهِ رَٰجِعُونَ ١٥٦ أُوْلَٰٓئِكَ عَلَيۡهِمۡ صَلَوَٰتٞ مِّن رَّبِّهِمۡ وَرَحۡمَةٞۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُهۡتَدُونَ ١٥٧﴾

[١٥٣] ای مومنانو! پر صبر او زعم ګاللو او د لمانځه پر کړو د الله نه مرسته وغواړئ [او د ژوند کړاونو نه پرې ووځئ] ځکه یقینا چې الله د صابرانو مل دئ او د دوی مرسته کړي.

[١٥٤] او ای مومنانو! هغه څوک چې د الله لارې په جهاد کې وژل کیږي؛ هغه ته مړ مه وایي، ځکه هغوی په حقیقت کې ژوندي دي، خو تاسې ور باندې نه پوهیږئ او د دوی ژوند نسې احساسولای، یعنی دا چې الله تعالی شهید په خپل ګور کې د ژوندي غوندې پر خپلو نعمتونو پالي او خوښ او خوشحاله یې ساتي، خو د الله نه پرته نور هیڅ څوک د دې لوړ مقام نه د خوند اخستلو په څرنګوالي نه پوهیږي.

[١٥٥ -١٥٦] او ای مومنانو! تاسې به مونږ په لږ څه و یره، ولږه او په سر او مال او میوو کې په کمښت وازمایو، نو صبر وکړئ [او ستونزې وګالي] او ای پیغمبره! ته صابرانو ته چې د الله په ازمو ینه او امتحان کې یي د زغم نه کار اخستئ دئ؛ د نبي راتلونکي ز یرئ په دنیا او په آخرت کې ورکړه، ځکه صابران او زعم ګالونکي هغه کسان دي چې کله دوی ته څه مصیبت ورسیږي، نو بیا دوی وایي: مونږ د الله بنده ګان یو او د الله فرمان او حکم لاندې یو او بیا بیرته الله ته ورتلونکي یو، یعنی کم نعمت او یا کم مصیبت او غم چې بنده ته رسیږي؛ هغه د الله تقدیري حکم نه سرچینه اخلي، او بیا د مرګ او مړ ینې نه وروسته هر څوک بیرته الله ته ورتلونکي دئ او الله تعالی هر چا ته د خپل صبر او زغم ثواب ورکوي.

[١٥٧] او دغو صبر کونکو کسانو ته د دوی د خدای لخوا ستاینه او رحمت او مهر باني ده، او دوی هغه کســان دي چې ســمې لارې ته برابر سوي دي، یعنی نو د الله تعالی رحمت یې ګټلې دئ.

هو! ګرانو دوستانو! دا مبارك آیتونه ښایي د هر مومن بنده په زړه کې تل په یاد وي او د مصــیبت په وخت کې هغه ولولي او خپل غم ور باندې سپک کړي، او همدارنګه ښایي د حق لارې شهید و پیژنو او پوه ســو چې هغه مړ ندئ او د خپل لوی رب الله میلمه دئ، او الله په خپلو لو یو نعمتونو د شهید پالنه کړي او دئ ور باندې نازوي.

{د صفا او مروه غونډه کې د الله د دین نښې دي}

درندو مومنانو! او په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی د صفا او مروه غونډکیو مقام چې هغه دواړه د بیت الله شــر یف په ختیځ اړخ کې اوږدې د جنوب نه شمال ته پرتې دي؛ بیان کړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿۞ إِنَّ ٱلصَّفَا وَٱلۡمَرۡوَةَ مِن شَعَآئِرِ ٱللَّهِۖ فَمَنۡ حَجَّ ٱلۡبَيۡتَ أَوِ ٱعۡتَمَرَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡهِ أَن يَطَّوَّفَ بِهِمَاۚ وَمَن تَطَوَّعَ خَيۡرٗا فَإِنَّ ٱللَّهَ شَاكِرٌ عَلِيمٌ ١٥٨﴾

[١٥٨] هو! صــفا او مروه یقینا د الله د دین ښکاره نښې دي، او هر چاچې د بیت الله حج او عمره وکړه، نو پر هغه باندې څه ګناه نســته چې د دغو دوه غونډکیو په منځ کې په منډه سره تګ راتګ وکړی [یعنی د صفا او مروه په منځ کې منډې وهل یا سعیه کړل؛ د حج او عمرې د مناسکو او شــعائرو نه دي او حکم یې واجب دئ] او هر چا چې د الله رضــا ګټلو په مقصد د خیر کار وکه، نو الله چې یقینا پوه او منونکئ ذات دئ؛ خپل دی بنده ته د هغه ښه عمل ثواب ورکوي.

قدرمنو دوســتانو! د یادونې وړ ده چې د صــفا او مروه پر غونډکیو باندې د جاهلیت په وخت کې دوه بتان ایښــودل ســوي ول او کافرانو به د هغو درناوئ کا وه، او بیا د مکې مکرمې فتحې په کال ټول بتان مات ســول، خو د دې ســره ســره د صــفا او مروه په منځ کې د طواف او د تګ راتګ په

وخت کې د مومنانو زړونه نا قراره او اندیښمن ول، نو ځکه الله تعالی دا مبارك آیت را نازل کړ، ترڅو د دوی زړونه ډاډه او مطمئن سي او پدې پوه سي چې د صفا او مروه په منځ کې منډې وهل؛ د ابراهیم علیه السلام د دین نه راپاتې توحیدي عبادت دئ نه د مشرکانو تقلید او ور پسې تک، او دا سنت د اسماعیل علیه السلام مور هاجر نه را پاتې دئ، او دا دئ اوس چې حاجیانو ته په بیت الله شریف کې ټولې اسانتیاوې تیارې سوئ دي؛ په صفا او مروه کې دغه سعی هم ښه ډیره اسانه سوې ده.

{څوک چې د الله حکمونه پټوي پر دوی د الله لعنت اور یږي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د اهل کتابو هغه مذهبي مشران او پاپان غندلي دي چې دوی به په خپلو کتابونو کې د اسلام پیغمبر صلی الله علیه وسلم نبوت ښکاره دلائل پټول، او فرمایلي دي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكۡتُمُونَ مَآ أَنزَلۡنَا مِنَ ٱلۡبَيِّنَٰتِ وَٱلۡهُدَىٰ مِنۢ بَعۡدِ مَا بَيَّنَّٰهُ لِلنَّاسِ فِي ٱلۡكِتَٰبِ أُوْلَٰٓئِكَ يَلۡعَنُهُمُ ٱللَّهُ وَيَلۡعَنُهُمُ ٱللَّٰعِنُونَ ١٥٩ إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُواْ وَأَصۡلَحُواْ وَبَيَّنُواْ فَأُوْلَٰٓئِكَ أَتُوبُ عَلَيۡهِمۡ وَأَنَا ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ١٦٠ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَمَاتُواْ وَهُمۡ كُفَّارٌ أُوْلَٰٓئِكَ عَلَيۡهِمۡ لَعۡنَةُ ٱللَّهِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ وَٱلنَّاسِ أَجۡمَعِينَ ١٦١ خَٰلِدِينَ فِيهَا لَا يُخَفَّفُ عَنۡهُمُ ٱلۡعَذَابُ وَلَا هُمۡ يُنظَرُونَ ١٦٢﴾

[۱۵۹] یقینا هغه کسان چې د زمونږ هغه ښکاره دلیلونه او لارښودنې چې مونږ رانازلې کړي دي او هغه مونږ خلکو ته ښې روښانه بیان کړې دي؛ پټوي [یعنی خلکو ته یې نه رسوئ] نو الله پر دوی لعنت وایي [یعنی دوی الله د خپل رحمت نه رټلي او شړلي دي] او ټول خلک هم پر دوی باندې لعنت وایي، یعنی خپله کرکه ورڅخه اعلانوي.

ګرانو دوستانو! دا ګواښ که څه هم مخامخ د اهل کتاب مذهبي مشرانو ته دئ، خو حکم یې عام دئ او د اسلام علماء او ملایان هم پکې داخل دي، ځکه قرآني پیغام د بل هر چا نه وړاندې مومنانو ته متوجه دئ او دوی یې لوی مقصد دي، نو ښایي چې علماء او دعات هیڅکله د

خپل رسالت او دندې د تبليغ نه غافل نسي او د الله دين خلکو ته په اخلاص سره چې د ثواب طمعه يې لري ورسوي او ښه اسانه او روښانه يې ورته بيان کړي، ترڅو مومنان په دنيا او آخرت کې ښاد او نيکمرغه سي.

او بيا په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالى تو به و يستونکي او پښيمانه سوي کسان د دغسې ګوابښ نه بيل کړي دي او ډاډ يې ورکړئ دئ چې د دوی تو به الله تعالى مني، او فرمايلى دي:

[۱٦۰] او هغو کسانو چې د اهل کتابو نه تو به وايستله او خپلې تيروتنې يې اصلاح کړې او د الله حکمونه او آيتونه يې [د رسول الله ﷺ په باره کې خلکو ته] بيان کړل، نو زه د دوی تو به منم، ځکه زه د توبې کلک قبلونکئ يم، او په خپلو بنده ګانو ډير مهربان يم!

[۱٦۱-۱٦۲] خو هغه کسان چې په يقين سره کافران سول او بيا پر خپل کفر همداسې مړه سول او ايمان يې رانوړ، نو پر دوی باندې د الله او د ملائکو او د ټولو خلکو لعنت دئ او د الله رحمت نه رټل سوي دي، او د دوزخ په اور کې به دوی تل پاتې وي او د الله رحمت نه به همداسې شړل سوي وي، او د دوزخ عذاب هيڅ کله د دوی نه نه سپکيږي او نه ورته د عذر غوښتنې لپاره نيټه او مهلت ورکول کيږي.

{د الله توحيد ښيې پر ځمکه او اسمانو کې رنې ځليږي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د خپل توحيد ښې او دليلونه پر ځمکه او په اسمانو کې مونږ ته ياد کړي دي، او فرمايلي دي:

﴿وَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ ۖ لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلرَّحْمَٰنُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٦٣﴾ إِنَّ فِى خَلْقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَٱخْتِلَٰفِ ٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ وَٱلْفُلْكِ ٱلَّتِى تَجْرِى فِى ٱلْبَحْرِ بِمَا يَنفَعُ ٱلنَّاسَ وَمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مِن مَّآءٍ فَأَحْيَا بِهِ ٱلْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَبَثَّ فِيهَا مِن كُلِّ دَآبَّةٍ وَتَصْرِيفِ ٱلرِّيَٰحِ وَٱلسَّحَابِ ٱلْمُسَخَّرِ

بَيْنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ لَأَيَٰتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴿١٦٤﴾

[١٦٣] ای خلکو! او پدې پوه سی چې د ستاسې ر یښتینې او پر حق سره معبود یوازې الله دئ او الله پر ټولو خلکو باندې ښه مهر بان لوی ذات دئ، او پر مومنانو باندې الله په ځانګړي ډول مهر بان خدای دئ.

قدرمنو عز یزانو! او په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی هوښیارانو ته د خپل قدرت نښې د اسمانو او ځمکې په پیدایښت کې او د شپې او ورځې په بدلون کې او د اسمان نه د باران په اور یدلو کې؛ یادې کړې دي، او فرمایلي دي:

[١٦٤] هو! یقینا چې د اسمانو او ځمکې په پیدایښت کې او د شپې او ورځې په بیلتون کې او په سمندر کې د بیړیو په ګرځیدو کې [چې هغه د زمونږ سپرلۍ او د توکو د حمل ونقل غوره نقلیه توکي دي او په سمندرونو کې کرځي راګرځي] او خلکو ته ګټه رسوي، او په هغو او بو کې چې الله پې د اسمان نه راووروي او مړه ځمکه ور باندې راژوندۍ کوي او ډول ډول ګرځندوی ژوندي حیوانات پې پکې پیدا کړي او شندلي دي، او په هغو شمالونو یا بادونو او وورو کې چې په اسمان کې په ګښت سره د الله امر لاندې تسخیر سوي دي او د الله په حکم هرې خوا ته ګرځي راګرځي [یعنی په دغو ټولو لو یو مخلوقات کې] هوښیارانو ته چې عقل او پوهه لري؛ د الله لو یتیا او د قدرت غټې نښې نغښتې دي، یعنی نو ښایي چې ټول خلک یوازې د دغسې لوی خالق او پې سیاله پیدا کونکي او پالونکي ذات عبادت او بنده ګي وکړي او حکمونه او فرمانونه پې ومني!

{د مومنانو مِینه الله سره د کافرانو مِینې نه بتانو سره قوي ده}

ګرانو مومنانو! هو؛ په ډیر خفتیان سره ښایي ووایو چې د دي ټولو ښکاره نښو او د الله تعالی د لو یو قدرتونو دلیلونو سره چې هغه د الله په عظمت او توحید باندې په ر بو بیت کې دلالت کړی؛ بیا هم ډیر داسې خلک ستە چې د الله نه پرته د بتانو عبادت او بنده ګي کړي او ورسره مینه لري، خو الحمد لله د مومنانو مینه خپل رب سره د کافرانو مینې نه

بتانو سره ډيره قوي او غښتلی ده، نو ځکه الله تعالی د دغسی کافرانو په پيژندنه کې په ور پسې مبارکو آيتونو کې فرمايلي دي:

﴿وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَتَّخِذُ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَندَادًا يُحِبُّونَهُمْ كَحُبِّ ٱللَّهِ ۖ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَشَدُّ حُبًّا لِّلَّهِ ۗ وَلَوْ يَرَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓاْ إِذْ يَرَوْنَ ٱلْعَذَابَ أَنَّ ٱلْقُوَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا وَأَنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلْعَذَابِ ﴿١٦٥﴾ إِذْ تَبَرَّأَ ٱلَّذِينَ ٱتُّبِعُواْ مِنَ ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُواْ وَرَأَوُاْ ٱلْعَذَابَ وَتَقَطَّعَتْ بِهِمُ ٱلْأَسْبَابُ ﴿١٦٦﴾ وَقَالَ ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُواْ لَوْ أَنَّ لَنَا كَرَّةً فَنَتَبَرَّأَ مِنْهُمْ كَمَا تَبَرَّءُواْ مِنَّا ۗ كَذَٰلِكَ يُرِيهِمُ ٱللَّهُ أَعْمَٰلَهُمْ حَسَرَٰتٍ عَلَيْهِمْ ۖ وَمَا هُم بِخَٰرِجِينَ مِنَ ٱلنَّارِ﴾

[١٦٥] هو! داسې څوک هم د خلکو نه سته چې د الله نه پرته يې بتان ځانو ته خدايان نيولي دي [يعنی د بتانو عبادت او بندګي کړي] او دا بتان د الله غوندې پر دوی ګران دي، او هغو کسانو چې ايمان راوړئ دئ؛ پر دوی باندې الله ښه کلک ګران دئ، او کله چې دغه ظالمان کافران د الله عذاب قيامت په ورځ وو يني، نو بيا به پدې پوه سي چې ټول ځواک او عظمت؛ يوازې د الله سره دئ، او يقينا چې الله کافرانو ته کلک سزا ورکونکي ذات دئ، يعنی نو بيا به دغه کافران هيڅ کله هم د بتانو عبادت ونکړي او په ګوندو به ورته پر ينوځي.

[١٦٦] او کله چې د مشرکانو مشران د الله لوی عذاب د آخرت په ورځ وو يني، نو بيا خپل براءت او بې زاري د بتانو بنده ګی نه اعلانوي، خو په هغه ورځ د دنيا او يکو ټول پرې او رسی نور د کافرانو نه پرې سوي وي او يو د بل سره هيڅ ډول مرسته کړای نسي.

[١٦٧] او هغه کشران چې مشرانو پسې تللي ول و يو يل: که يوځل بيا مونږ ته وار راسي او د دنيا ژوند ته بيرته وروګرځو، نو د خپلو مشرانو نه به داسې بې زاره سو، لکه څنګه چې اوس دوی د زمونږ نه بې زاره سول، او کافرانو ته الله همداسې د دوی کړنې ورو يني، ځکه هغه دوی ته پښيماني [او خفتيان دئ] او کافران د دوزخ اور نه راوتونکي ندي، يعنی

کافران هلته د دوزخ اور په سرو لمبو کې د تل لپاره کړ يږي!

{شيطان چې د خلکو دښمن دئ الله دوی ورڅخه ګواښلي دي}

او په پسې مبارکو آيتونو کې خلک الله تعالی د شيطان وسوسو او غلولو نه کلک ګواښلي دي، او فرمايلي دي:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ كُلُواْ مِمَّا فِي ٱلۡأَرۡضِ حَلَٰلٗا طَيِّبٗا وَلَا تَتَّبِعُواْ خُطُوَٰتِ ٱلشَّيۡطَٰنِۚ إِنَّهُۥ لَكُمۡ عَدُوّٞ مُّبِينٌ ١٦٨ إِنَّمَا يَأۡمُرُكُم بِٱلسُّوٓءِ وَٱلۡفَحۡشَآءِ وَأَن تَقُولُواْ عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ١٦٩ ﴾

[١٦٨-١٦٩] ای خلکو! هغه خواړه وخورئ چې هغه تاسې ته الله په ځمکه کې حلاله او پاکه روزي پيدا کړی ده، او د شيطان ګامونو او لمسونو نه [په حلالو او حرامو کې ځانو نه کلک وساتئ] ځکه شيطان د ستاسې ښکاره دښمن دئ او تاسې ته تل په بدو کړنو او په فحشاء او بد لمنې باندې چې لو يه ګناه ده؛ امر کړي او غواړي چې تاسې ای خلکو! په حلالو او حرامو کې الله پسې هغه څه ووايي چې تاسې ور باندې نه پوهيږی، يعنی په حلا لو او حرامو کې چې هغه د الله شرعي حکمونه دي؛ د خپلو ځانونو نه ووايي چې دا حلال دي او هغه حرام، او په خپله خوښه الله پسې د دروغو و يناوې وتړئ، يعنی الله ته يې ناحقه نسبت وکړی.

هو؛ درندو مومنانو! حلال او حرام يا روا او ناروا دواړه مونږ ته الله تعالی او پيغمبرﷺ په قرآن کر يم او په احاديثو کې ښه روښانه بيان کړي دي، نو هيڅ څوک حق نلري چې د خپل ځان نه پکې فتوا ورکړي.

{په ناروا دودونو کې خپلو نيکونو پسې تګ ناپوهي ده}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی د کافرانو ورکتيا د حق لارې نه کلکه غندلې ده، او عامل يې د کافرانو ړوند تقليد د خپلو هغو پلرونو او نيکونو نه ګڼلې دئ چې هغوی په هيڅ څه نه پوهيدل، او فرمايلي دي:

﴿وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱتَّبِعُواْ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ قَالُواْ بَلۡ نَتَّبِعُ مَآ أَلۡفَيۡنَا عَلَيۡهِ ءَابَآءَنَآۚ أَوَلَوۡ كَانَ ءَابَآؤُهُمۡ لَا يَعۡقِلُونَ شَيۡـٔٗا وَلَا يَهۡتَدُونَ ١٧٠ وَمَثَلُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ كَمَثَلِ ٱلَّذِي يَنۡعِقُ بِمَا لَا يَسۡمَعُ إِلَّا دُعَآءٗ وَنِدَآءٗۚ صُمُّۢ بُكۡمٌ عُمۡيٞ فَهُمۡ لَا يَعۡقِلُونَ ١٧١﴾

[۱۷۰] او کله چې د سمې لارې نه ورک سوو کسانو ته [چې د حق لار يې ورکه کړې ده او کافران سوي دي] وو يل سي چې ای خلکو! هغو لارښودنو پسې لاړ سی [او عمل پرې وکړی] چې هغه الله رانازلې کړې دي [او هغه د الله بنده کی ته په توحيد سره بلنه ده، نو بيا دوی په ځواب کې] وو يل: نا! بلکې مونږ هغه څه پسې ځو چې مونږ خپل پلرونه ور باندې مونډلي دي او هغه مونږ ته د دوی نه راپاتی دي! نو آيا دا خلک خپلو داسې پلرونو او نيکونو پسې ځي چې هغوی په هيڅ څه نه پوهيدل او نه سمې لارې ته هدايت سوي ول!

درندو دوستانو! الله تعالی پدې لنډ بيان سره د کافرانو ړوند تقليد د خپلو ناپوهو پلرونو او نيکونو نه؛ کلک غندلئ دئ، او بيا يې په ور پسې مبارك آيت کې دغه کافران د هغې رمې پسو او څارو يو ته ورته بللي دي، چې د خپل شپانه غږ اوري، خو په خبره يې نه پوهيږي چې څه وايي؟ ځکه دوی کاڼه، ړانده او ګنګان دي او په هيڅ څه نه پوهيږي، او په بيان کې الله تعالی داسې فرمايلي دي:

[۱۷۱] او د کافرانو بيلګه او ساړئ هغه چا ته ورته دئ چې هغه داسې ناړې وهي چې د غږ نه پرته يې بل څه نه اور يدل کيږي، نو دوی، لکه بې ژبې څاروي کاڼه، ګنګان او ړانده دي او په هيڅ څه نه پوهيږي، يعنی حق ته رابلونکې اسټازي و ينا نه اوري او نه پرې پوهيږي چې د دوی نه څه غواړي؟ نو يقينا چې دغسې کسان په کلکه ورکتيا کې ډوب دي،حق او باطل، ر يښتيا او دروغ سره بيلولای نسی.

{د الله شکر فرض دئ او په اړتیا کې حرام روا کیږي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی مومنان د الله حلالې او پاکې روزي خوړلو ته رابللي دي او د الله نعمتونو شکر و یستلو حکم یې ورته کړئ دئ، او د حرامو خواړل یې یوازې د ضرورت په وخت کې رواکړي دي، او فرمایلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُلُواْ مِن طَيِّبَٰتِ مَا رَزَقۡنَٰكُمۡ وَٱشۡكُرُواْ لِلَّهِ إِن كُنتُمۡ إِيَّاهُ تَعۡبُدُونَ ١٧٢ إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيۡكُمُ ٱلۡمَيۡتَةَ وَٱلدَّمَ وَلَحۡمَ ٱلۡخِنزِيرِ وَمَآ أُهِلَّ بِهِۦ لِغَيۡرِ ٱللَّهِۖ فَمَنِ ٱضۡطُرَّ غَيۡرَ بَاغٖ وَلَا عَادٖ فَلَآ إِثۡمَ عَلَيۡهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٌ ١٧٣﴾

[۱۷۲] ای مومنانو! که تاسې په ر یښتیا سره؛ یوازی د الله عبادت او بنده کې کړی، نو بیا د زما پاکه روزي چې تاسې ته ما درکړی ده وخورئ، او د خپل رب الله شکر و باسئ چې دا پاکه روزي یې تاسې ته درکړې ده!

[۱۷۳] او ای مومنانو! یقینا چې په خپل سر مړه سوي پسه غوښه الله پر تاسې باندې حرامه کړی ده، او هم د شا رګونو روانه و ینه او د خوږ غوښه الله در باندې حرامه کړې ده، او هم د هغه پسه غوښه پر تاسې باندې حرامه ده چې د حلالیدو په وخت کې ور باندې د الله نه پرته د بل چا نوم اخستل سوئ وي، خو که څوک دغو حرامو غوښو خوړلو ته اړ او محتاج سه او حلال خواړه یې بیانموندل، ترڅو هغه وخوري، او بیا د ولږې مړ ینې نه کلک وو یر یده، نو بیا د دغو حرامو غوښو په خوړلو کې پر هغه څه ګناه نسته، خو پدې شرط چې د خپلې اړتیا نه ډیره ونه خوري[یعنی په خوړلو کې یې د ضرورت نه تیرئ ونکړي] ځکه یقینا چې الله ښه ښونکې او لوی مهر بان ذات دئ.

{د خلکو نه د الله کتاب آیتونو پټول لو یه ګناه ده}

قدرمنو دوستانو! الله تعالی په ور پسې مبارکو آیتونو کې یوځل بیا د یهودو مذهبي مشرانو ناروا چلند د اسلام ستر پیغمبر محمد ﷺ سره

غندلئ دئ، ځکه دوی د رسـول اللهﷺ صـفتونه په تورات کې پټ کړل، نو الله تعالی دغسې کسـان د قیامت ورځې په کلکه سـزا باندې ګواښـلي دي، او فرمایلي دي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكۡتُمُونَ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَيَشۡتَرُونَ بِهِۦ ثَمَنٗا قَلِيلًا أُوْلَٰٓئِكَ مَا يَأۡكُلُونَ فِي بُطُونِهِمۡ إِلَّا ٱلنَّارَ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ ٱللَّهُ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَلَا يُزَكِّيهِمۡ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٌ ١٧٤ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ٱشۡتَرَوُاْ ٱلضَّلَٰلَةَ بِٱلۡهُدَىٰ وَٱلۡعَذَابَ بِٱلۡمَغۡفِرَةِۚ فَمَآ أَصۡبَرَهُمۡ عَلَى ٱلنَّارِ ١٧٥ ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ نَزَّلَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّۗ وَإِنَّ ٱلَّذِينَ ٱخۡتَلَفُواْ فِي ٱلۡكِتَٰبِ لَفِي شِقَاقِۭ بَعِيدٖ ١٧٦﴾

[١٧٤] هو! یقینا هغه کسـان چې د الله نه را نازل سـوي کتاب آیتونه پټوي او هغـه پـه ډیره لږ بیعـه پلوري او خرڅوي یې، نو دوی پـه خپلو نسـونو او ګیډو کې د اور نه پرته بل څه شـئ نه خوري [یعنی دا چې الله تعالی به د دوی ګیډې د دوزخ په اور ډکې کړي] او الله د دوی سره د قیامت په ورځ خبرې نکړي او نه دوی د ګناه نه پاکوي او نه ورته سـتاین لیکونه ورکوي، او د قیامت په ورځ ورته دردونکئ عذاب او کلکه سزا ده.

او په ور پسـې مبارکو آیتونو کې بیا الله تعالی هغه یهود په کلک عذاب ګواښلي دي چې دوی د تورات هغه آیتونه پټ کړل چې پکې د اسلام پیغمبر محمدﷺ صفتونه بیان سوي ول، او هم پکې د هغه پیغمبرۍ ز یري سوي ول، او په بیان کې الله تعالی فرمایلي دي:

[١٧٥] [هو! هغو یهودو چې د الله کتاب آیتونه پټ کړل] دوی هغه کسان ول چې سمې لارې نه ورکتیا یې پر سمه لار د تګ په بیعه واخسـتله، او عذاب یې د الله بښـنې پر ځای واخسـت، نو د دوی دا کار د حیرانتیا وړ دئ، ځکه دوی څه شـي دې ته هڅه ولي دي چې د دوزخ په اور باندې صبر وکړي او هغه وګالي؟ یعنی دا چې د دغو کسانو سزا د دوزخ سور اور دئ.

[١٧٦] او دغه سـزا یهودو ته د دی لپاره ورکول کیږي چې یقینا الله

خپل کتاب (تورات) پر حق او ر ښـــتیا ســـره را نازل کړئ دئ، خو دغو یهودو هغه پټ که او د حق نه منکر ســول، او هغو کســانو چې د الله نه پر را نازل سوي کتاب کې اختلاف وکه [یعنی ځینې آیتونه یې ومنل او ځینې نور یې ونه منل او هغه یې پټ کړل] نو دوی یقینا چې د حق نه په بیلتون کې په ډیر لرې واټن کې پراته دي.

عزتمنو لوســتونکو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې د ټولو کافرانو، مخصوصا د یهودو دغه دښمنا نه او د کینې او حسد نه ډک چلند د اسلام پر وړاندې کلک غندلئ دئ، او دوی یې د آخرت ورځې لوی عذاب او کلکې ســزا نه چې صــبر کړل ور باندې ډیر ګران کار دي؛ کلک ګواښلي دي، او همدارنګه دا روښانه بیان یهودو او نصاراوو ته او د اسلام او د رسـول الله ﷺ نورو ټولو دښمنانو ته د توبې و یستلو او د الله تعالی بنده ګۍ او فرمان وړلو ته د دعوت پیغام دئ، ترڅو دوی د بدې را تلونکې نه او د قیامت ورځې سخت عذاب نه خلاصون بیاموي.

{د مومنانو خو یو نه د دوی د ښو کړنو څرګندوی دي}

او په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی د مومنانو ښــو کړنو نښې او صــفتونه مونږ ته یاد کړي او بیان کړي دي، او د اهل کتابو ټول ناروا تبلیغات او پرو پاګندې یې چې د قبلې بدلون په اړوند یې کړل؛ کلک غندلي او رد کړي دي، او فرمایلي دي:

﴿* لَّيۡسَ ٱلۡبِرَّ أَن تُوَلُّواْ وُجُوهَكُمۡ قِبَلَ ٱلۡمَشۡرِقِ وَٱلۡمَغۡرِبِ وَلَٰكِنَّ ٱلۡبِرَّ مَنۡ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ وَٱلۡكِتَٰبِ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ وَءَاتَى ٱلۡمَالَ عَلَىٰ حُبِّهِۦ ذَوِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَٱلۡيَتَٰمَىٰ وَٱلۡمَسَٰكِينَ وَٱبۡنَ ٱلسَّبِيلِ وَٱلسَّآئِلِينَ وَفِي ٱلرِّقَابِ وَأَقَامَ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَى ٱلزَّكَوٰةَ وَٱلۡمُوفُونَ بِعَهۡدِهِمۡ إِذَا عَٰهَدُواْۖ وَٱلصَّٰبِرِينَ فِي ٱلۡبَأۡسَآءِ وَٱلضَّرَّآءِ وَحِينَ ٱلۡبَأۡسِۗ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ صَدَقُواْۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُتَّقُونَ ١٧٧﴾

[۱۷۷] ای خلکو! ښه کړل دا ندي چې تاسې خپل مخونه [په خپل سر

پرته د الله حکم نه] مشرق او مغرب خوا ته واړوی، بلکې ر ښتینه نیکي او ښه کړل پر الله او د آخرت پر ورځ او پر ملائکو او د الله پر کتابونو او پیغمبرانو باندې؛ ایمان راوړل او د هغوی منل دي، او حقیقي نیکې هم هغه ده چې څوک خپل مال او دولت د هغه خوږ والي سره سره چې د هر چا په زړه کې دئ؛ خپلو خپلوانو، یتیمانو او بې وزره مسکینانو ته او مسافرو لار یو ته چې څه شئ نلري؛ خیرات ورکړي، او سوالګرو ته د غلامانو یا مر یانو ازادۍ لپاره خپل خوږ مال ورکړي، او لمونځ وکړي او زکات ورکړي، او په خپلو وعدو او هوډونو باندې ودر یږي او وفاء پرې وکړي، او په ستونزو او مصیبتونو کې چې کله ورسره مخامخ سي صبر او زغم وکړي او هغه په کلک ایمان سره وګالي، او دوی هغه کسان ول چې ښه ر ښتیاپې وو یل، او دوی یوازني متقیان دي، یعنی د الله عذاب نه ښه کلک و یر یږي او ځانونه ورڅخه په ښو کړنو سره ساتي.

ګرانو عز یزانو! الله تعالی پدې مبارك آیت کې مونږ ته د اسلام او ایمان ر ښتینې نښې، ارکان او لویې ستنې چې اسلام ور باندې ولاړ دئ؛ بیان کړې دي، نو ښایي چې هر هغه مسلمان چې په خپل ایمان کې صادق دئ او په ر ښتیا سره د الله نه و یر یږي؛ دغه ټول صفتونه په خپل ځان کې را پیدا کړي، ترڅو د صادقانو او ر ښتینو متقیانو په لیکه او قطار کې وشمیرل سي او د دنیا او آخرت سر لوړي یې په برخه سي.

{د قصاص جاري کول خلکو ته ژوند ور بښي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د قصاص او د خلکو په منځ کې د و ینو حق برابري او ساتنه یې مونږ ته یاده کړې او بیان کړي ده، او قصاص ته یې ژوند و یلئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُتِبَ عَلَيۡكُمُ ٱلۡقِصَاصُ فِي ٱلۡقَتۡلَىۖ ٱلۡحُرُّ بِٱلۡحُرِّ وَٱلۡعَبۡدُ بِٱلۡعَبۡدِ وَٱلۡأُنثَىٰ بِٱلۡأُنثَىٰۚ فَمَنۡ عُفِيَ لَهُۥ مِنۡ أَخِيهِ شَيۡءٞ فَٱتِّبَاعُۢ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَأَدَآءٌ إِلَيۡهِ بِإِحۡسَٰنٖۗ ذَٰلِكَ تَخۡفِيفٞ مِّن رَّبِّكُمۡ وَرَحۡمَةٞۗ فَمَنِ ٱعۡتَدَىٰ بَعۡدَ ذَٰلِكَ فَلَهُۥ

عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٧٨﴾ وَلَكُمْ فِي ٱلْقِصَاصِ حَيَوٰةٌ يَٰٓأُو۟لِى ٱلْأَلْبَٰبِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿١٧٩﴾

[۱۷۸] ای مومنانو! د وژل سوو کسانو قصاص پر تاسې فرض سوئ دئ، نو کله چې یوه آزاد سړي بل ازاد مړکه، نو قاتل ور باندې وژل کیږي، او همدارنګه که یوه مریي بل مریي مړکه؛ هغه ور باندې قصاصیږي، او یوه ښځه د بلی ښځې په وژلو قصاصیږي، نو که بیا قاتل او وژونکي ته د هغه وژل سوي ورور قصاص و ښښل سه [یعنی خپلوانو یې د دیت او د مقتول و یني بیعې په اخستلو سره روغه جوړ وکړه] نو بیا ښایي چې د قاتل خپلوان د دود سره سم په ښه وجه دیت ورکړي [او هم د مقتول خپلوان د سختۍ نه پرته د خپل مړي دیت په ښه او سمه وجه سره واخلي، او دا چې تاسې ته ای خلکو! الله د قصاص پر ځای دیت روا کړي دئ] پدې کې پر تاسې باندې د الله لخوا اسانتیا او لو یه مهر باني ده [ځکه چې قاتل د مقتول و یني بیعې په ورکولو سره د وژلو نه په قصاص سره خلاصیږي] او بیا چې د دې نه وروسته هر چا تیرئ وکه، نو هغه ته کړونکئ عذاب دئ، یعنې د روغې جوړې نه وروسته پر قاتل تیرئ او د هغه وژل ډیره لو یه ګناه ده، او تیري کونکي ته الله په آخرت کې کلکه سزا ورکوي او دا بل قاتل په دنیا کې ور باندې قصاصیږي، ځکه هغه د دیت اخستلو روغې جوړې سره سره قتل وکه، نو د هغه دا قتل د مقتول قصاص نه بلل کیږي، بلکې تیرئ دئ.

[۱۷۹] [او ای د عقل او هوښیارۍ خاوندانو!] دا چې په قصاص کې قاتل پر مقتول برابر وژل کیږي؛ پدې کې ستاسې لپاره ژوند دئ، یعنی دا چې نور به هیڅ څوک د بل چا د قتل او د وژلو جرأت ونکړي او زړه به ورته ښه نکړي، او ټول خلک به د آرام او ډاډمن ژوند نه برخمن سي، نو ای مومنانو! د الله شر یعت او نظام په تطبیق سره تاسې خپل ځانو نه د

عذاب نه وساتي او د الله نه ښه کلک وو ير يږي، او د الله دين حکمونه پر خپلو ځانو جاري او عملي کړي.

عزتمنو دوستانو! دا د الهي عدالت چې هغه الله تعالى په انساني ټولنه کې د امنيت او ډاډ په مقصد روا کړئ دئ، او په جاري کولو سره يې د هرچا سر د ناحقه وژلو نه محفوظ او ساتل سوئ پاتې کيږي.

{د وصيت بدلونکي به لويه ګناه پشا کوي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى مونږ ته د مرګ او مړ ينې نه وروسته په خپل مال کې د وصيت کړو سپارښت کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿كُتِبَ عَلَيْكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ ٱلْمَوْتُ إِن تَرَكَ خَيْرًا ٱلْوَصِيَّةُ لِلْوَٰلِدَيْنِ وَٱلْأَقْرَبِينَ بِٱلْمَعْرُوفِ ۖ حَقًّا عَلَى ٱلْمُتَّقِينَ ﴿١٨٠﴾ فَمَنۢ بَدَّلَهُۥ بَعْدَ مَا سَمِعَهُۥ فَإِنَّمَآ إِثْمُهُۥ عَلَى ٱلَّذِينَ يُبَدِّلُونَهُۥٓ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿١٨١﴾ فَمَنْ خَافَ مِن مُّوصٍ جَنَفًا أَوْ إِثْمًا فَأَصْلَحَ بَيْنَهُمْ فَلَآ إِثْمَ عَلَيْهِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٨٢﴾﴾

[١٨٠] ای مومنانو! کله چې د ستاسې نه چا ته د مړ ينې او مرګ وخت راغئ [يعنى پدې پوه سوى چې نور د ستاسې عمر په دنيا کې په لنډيدو دئ] او ستاسې نه که څه خير (مال او دولت) پاتې وه، نو بيا د دود سره سم د خپل ميراث نه د څه خيرات ورکولو وصيت خپلې مور او پلار ته او نورو لنډو خپلوانو ته پر تاسې باندې فرض دئ، او دا وصيت پر متقيانو باندې چې دوى د الله نه و ير يږي؛ حق دئ.

[١٨١] نو که بيا هرچا دا وصيت د اور يدو نه وروسته بدل که، نو يقينا چې ګناه يې پر همدغو کسانو باندې ده چې دوى دا وصيت بدل کړئ دئ، او يقينا چې الله لوى اور يدونکئ او ښه پوه پالونکئ ذات دئ، يعنى هرڅه اوري او په هرڅه پوهيږي، او د الله تعالى نه هيڅ څه شئ پټ ندي، نو ښايي چې هيڅ څوک د الله پر ورځاندې د قيامت ورځې حساب نه بې پروا نسي او هغه هير نکړي او ځان سره ورته توښه تياره کړي.

[١٨٢] نو که بيا هرڅوک د وصيت کونکي ګناه کړو نه وو يې يده [يعنی دا چې هغه به ځينې خپلوانو ته ډير او ځينو ته به لږ څه ورکړي] نو بيا پرې څه ګناه نسته چې د دوی په منځ کې روغه جوړه وکړي او د وصيت کونکي ميراث په عادلانه توګه د هغه خپلوانو په منځ کې وو يشي، او يقينا چې الله لوی بښونکی او ښه مهر بان ذات دی.

قدرمنو دوستانو! د قرآن کريم مفسرين وايي: چې د وصيت په باره کې د دې مبارک آيت حکم د مړي هغو خپلوانو ته چې دوی ته د النساء په سوره کې ميراث ورکړل سوی دی؛ منسوخ سوی دی، لکه د مور او پلار او د څه نورو لنډو خپلوان حق په ميراث کې، ځکه رسول الله ﷺ فرمايلي دي: (لا وصية لوارث) يعنې وارث ته وصيت نسته، نو د دې مبارکو آيتونو هغې برخې حکم منسوخ دی چې پکې ميراث وړونکو خپلوانو ته وصيت سوی دی، خو تلاوت يې په قرآن کې همداسې پاتې دی.

{د روژې مياشتې روژه نيول پر مومنانو فرض دي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې د رمضان مبارکې مياشتې روژې نيولو حکم فرضيت پر مومنانو باندې سره د اړوند نورو ځينو مسئلو حکمونه مونږ ته الله تعالی؛ ياد کړي او بيان کړي دي، او فرمايلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُتِبَ عَلَيۡكُمُ ٱلصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ١٨٣ أَيَّامٗا مَّعۡدُودَٰتٖۚ فَمَن كَانَ مِنكُم مَّرِيضًا أَوۡ عَلَىٰ سَفَرٖ فَعِدَّةٞ مِّنۡ أَيَّامٍ أُخَرَۚ وَعَلَى ٱلَّذِينَ يُطِيقُونَهُۥ فِدۡيَةٞ طَعَامُ مِسۡكِينٖۖ فَمَن تَطَوَّعَ خَيۡرٗا فَهُوَ خَيۡرٞ لَّهُۥۚ وَأَن تَصُومُواْ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ١٨٤﴾

[١٨٣-١٨٤] ای مومنانو! د [رمضان مياشتې] روژه پر تاسې باندې فرض سوې ده، لکه څنګه چې ستاسې نه پر مخکنيو ولسونو باندې فرض وه، ترڅو تاسی د روژې په نيولو سره متقيان سی [يعنی د الله تعالی حکم پر ځای کړی او د الله په اطاعت سره خپل ځانونه د الله غوصې او عذاب نه وساتی، او دغه روژه چې پر تاسې باندې فرض سوې ده] هغه په

کال کې په شمار سره څو ورځې ده [یعنی ټوله روژه یوه قمري میاشت ده، او نوم يې رمضان دئ او ورځې يې په کال کې (۲۹یا۳۰) ورځې وي] او ای مومنانو! که د ستاسې نه څوک ناروغ یا مریض وه او د روژې نیولو وسعه يې نه درلوده، او یا د کور نه بهر په پردیستوب او مسافرت وتلی وه [او هلته يې د اوسیدو قصد نوه کړئ] نو هغه ته روا ده چې د روژې مبارکې میاشت روژه بل وخت څو ورځې ونیسي، او هغه کسان چې د روژې په نیولو سره سخت په تکلیف کیږي او روژه نسي نیولای [لکه ډیر زاړه کسان او یا کلک ناروغان چې د روغتیا هیله يې نه وي، او یا لکه بلاربې (حامله) ښځې، او یا هغه میرمنې چې خپل ماشوم ته تئ ورکوي او د روژې نیول ور باندې درندیږي] نو دغو ټولو مومنانو ته روا ده چې د روژې پر ځای مسکینانو او بې وزره محتاجو کسانو ته د خوړو توکې فدیه ورکړي [یعنی د روژې میاشتې هرې ورځې پر ځای ده یوه مسکین ته یو وخت خواړه ورکړي] او هرچا چې د فرضي روژې په فدیه کې ډیر خیرات ورکه، نو هغه ورته ښه دئ او ثواب يې ډیر دئ، او تاسې ای مومنانو! د روژې په ثواب ښه پوهیږی، نو که څوک د تکلیف سره سره بیا هم روژه ونیسي هغه ورته ښه ده، یعنی ثواب يې ډیر دئ.

ګرانو دوستانو! یقینا چې د رمضان مبارکې میاشتې روژه نیول پر مونږ فرض دي، خو که څوک د وړاندې یاد سوو ځانګړو عذرونو له وجهې د روژې نیولو نه بې وسې وه، نو ورته روا ده چې د رخصت نه ګټه واخلي او فدیه ورکړي، او یا يې بل وخت قضایي روژه ونیسي، او الله تعالی هیڅ کله خپل مومن بنده ګان د دوی د وسې نه په وتلي کار نه ګماري، ځکه شرعي ټول تکلیفونه، لکه څنګه چې په ور پسې مبارك آیت کې بیان راغلئ دئ پر اسانتیا بنا دي، نو همدارنګه ښایي چې مومنان خپلې د ژوند چارې یو بل سره په ټولنه کې همداسې په اسانۍ سمبال کړي.

{ د روژې میاشت د قرآن رانازلیدو پیل میاشت وه}

او بیا په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی مونږ ته د قران کر یم د

نزول یادونه د روژې په مبارکه میاشت کې کړې ده، او فرمایلي دي:

﴿شَهۡرُ رَمَضَانَ ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ فِيهِ ٱلۡقُرۡءَانُ هُدٗى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنَٰتٖ مِّنَ ٱلۡهُدَىٰ وَٱلۡفُرۡقَانِۚ فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ ٱلشَّهۡرَ فَلۡيَصُمۡهُۖ وَمَن كَانَ مَرِيضًا أَوۡ عَلَىٰ سَفَرٖ فَعِدَّةٞ مِّنۡ أَيَّامٍ أُخَرَۚ يُرِيدُ ٱللَّهُ بِكُمُ ٱلۡيُسۡرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ ٱلۡعُسۡرَ وَلِتُكۡمِلُواْ ٱلۡعِدَّةَ وَلِتُكَبِّرُواْ ٱللَّهَ عَلَىٰ مَا هَدَىٰكُمۡ وَلَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ١٨٥﴾

[١٨٥] ای مومنانو! د روژې میاشت هغه میاشت ده چې قرآن پکې رانازل سوئ دئ، او قرآن خلکو ته لارښود کتاب دئ او سمې لارې ته د لارښودنې دلیلونه پکې یاد سوي دي، او قرآن د حق او باطل په منځ کې د بیلولو کتاب دئ، نو هرڅوک چې د ستاسې ای مومنانو! په خپل کور کې وي او دا میاشت راسي، نو د هغې روژه ده ونیسي، خو که څوک ناروغ یا مر یض وه، او یا پردیسئ مسافر وه، نو دوی ده بیا د دغو ورځو روژه په بل وخت کې قضایي ونیسي، ځکه الله تاسې ته اسانتیا غواړي نه ستونزه او سختي، او الله غواړي چې د روژې نیولو د ورځو شمیر بیا په بل وخت کې پوره کړئ [یعنی دغو کسانو ته روا ده چې د رمضان میاشتې روژه په نورو میاشتو کې چې کله ناروغ د ناروغۍ نه روغ سه او پردیسئ د مسافرۍ نه په کور سه؛ قضایي ونیسي، ترڅو د روژې مبارکې میاشتې روژه پوره سي، او بیا ده د روژې میاشتې د اختر په ورځو کې] تکبیرونه ووایي، او الله ده په لو یتیا سره یاد کړئ، ځکه تاسې ته ای مومنانو! االله په دغه لار حکم او لارښودنه کړي ده، نو ښایي چې هغه پرځای کړئ او د الله د دغې لویې پیرزو ینې شکر و باسئ.

قدرمنو عز یزانو! الله تعالی پدې مبارك آیت کې مونږ ته د روژې مبارکې میاشتې د روژې نیولو فرضیت بیان کړئ دئ، ځکه د روژې مبارکې میاشتې روژه زړه پاکوي، او تقوا او د الله عذاب نه و یره پکې ځای پرځای کیږي، او د روژې نیولو نه په رمضان میاشت کې ناروغ او مسافر الله تعالی معاف کړي دي او د روژې قضایي یې ورته په بل وخت کې روا کړې

ده، او همدارنګه الله تعالى هغو مومنانو ته چې روژه نسي نيولای فديه ورکول؛ روا کړي دي، او يقينا چې دا ټول د الله تعالى د دين حکمونو په اسانتيا باندې لوی دليل دئ، يعنی دا چې الله تعالى د هر مومن بنده نه د هغه وسعې سره سم اطاعت او بنده ګي غواړي، او هيڅ څوک د هغه وسعې نه په وتلي ډير تکليف نه ګماري، نو دعاء کړو چې االله ده د ټولو مومنانو روژه قبوله کړي او هغه لوی لوی ثوابونه چې الله روژه نيوونکو ته ټاکلي او وعده کړې دي؛ هغه ده دوی ته ورکړی، آمين يارب العالمين.

ګرانو دوستانو! قرآن کريم چې پر حق سره د الله تعالي لارښود کتاب دئ؛ په دوه پړاوونو کې رانازل سوئ دئ، لمړئ ټول قرآن د عرش نه په لوح محفوظ کې بيت المعمور ته په اول اسمان کې يوځای رانازل سوئ دئ، او بيا د هغه ځای نه ځمکې ته پر رسول اللهﷺ باندې په وار وار سره په درو پشتو کلونو کې را نازل سوئ دئ، او د دغو دواړو پړاوونو را نازليدل؛ د روژی په مبارکه مياشت کې ول، لکه څنګه چې يې بيان په همدې مبارك آيت کې او هم د الدخان سورې په پيل کې راغلئ دئ، او الله تعالى فرمايلي دي:"حم، والكتاب المبين، إنا أنزلنه في ليلة مباركة" او دغه د (حم) غوندې هجايي تورو نه جوړ سوئ (قرآن) چې ښه روښانونکئ کتاب دئ؛ هغه مونږ يقينا په يوه مبارکه شپه کې [چې د قدر شپه وه] رانازل که، او بيا يې د نزول ټول بيان د القدر په مبارك سوره کې راغلئ دئ.

{الله خپلو بنده ګانو ته ورلنډ او پالونکی ذات دئ}

او په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالى بنده ګانو ته د خپل لنډ والي ډاډ ورکړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ ۖ أُجِيبُ دَعْوَةَ ٱلدَّاعِ إِذَا دَعَانِ ۖ فَلْيَسْتَجِيبُوا۟ لِي وَلْيُؤْمِنُوا۟ بِي لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ ﴿١٨٦﴾﴾

[١٨٦] ای پيغمبره! کله چې د زما بنده ګانو ستا نه د زما پوښتنه وکړه [يعنی وې پوښتل چې الله چيرته دئ؟] نو زه يقينا چې دوی ته لنډيم او هرڅوک چې دعاء وکړي او د زما نه څه شئ وغواړي؛ زه يې دعاء قبلوم، نو

بنده ګان ده د زما حکمونو ته غاړه کيږدي او هغه ده ومني او پر ما باندې ده ايمان راوړي، ترڅو دوی سـمې لارې ته چې پکې دوی ته د دنيا او آخرت ګټې دي؛ هدايت او سم سي.

قدرمنو لوستونکو! الله تعالی پدې مبارک آيت کې خپلو بنده ګانو ته د خپل ځان هغـې لنډ والي ز يرئ ورکړئ دئ چې د الله مقام سـره ښـايي او ورســره لائق دئ، ځکه الله خالق دئ او خالق هيڅکله مخلوق ته ورته نـدئ، او د دې لنډ والي نـه مکاني او زماني لنډ والئ مقصــد نـدئ، بلکې معنوي لنډوالئ مراد دئ، يعنی الله پر خپل لوی علم سره مونږ ته لنډ دئ.

{د روژې مياشتې په شپو کې ميرمنو سره ملاسته روا ده}

او په ور پســې مبارک آيت کې الله تعالی خپله هغه لور ينه پر خپلو بنده ګانو باندې يادې کړې او بيان کړې ده چې لنډه وه؛ دوی په ګناه کې ولو يږي او هغه د روژې مياشتې په شپو کې د خپلو ښځو او ميرمنو سره ملاسته وه، او بيا الله تعالی هغه ورته روا کړه، او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿أُحِلَّ لَكُمۡ لَيۡلَةَ ٱلصِّيَامِ ٱلرَّفَثُ إِلَىٰ نِسَآئِكُمۡۚ هُنَّ لِبَاسٞ لَّكُمۡ وَأَنتُمۡ لِبَاسٞ لَّهُنَّۗ عَلِمَ ٱللَّهُ أَنَّكُمۡ كُنتُمۡ تَخۡتَانُونَ أَنفُسَكُمۡ فَتَابَ عَلَيۡكُمۡ وَعَفَا عَنكُمۡۖ فَٱلۡـَٰٔنَ بَٰشِرُوهُنَّ وَٱبۡتَغُواْ مَا كَتَبَ ٱللَّهُ لَكُمۡۚ وَكُلُواْ وَٱشۡرَبُواْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَكُمُ ٱلۡخَيۡطُ ٱلۡأَبۡيَضُ مِنَ ٱلۡخَيۡطِ ٱلۡأَسۡوَدِ مِنَ ٱلۡفَجۡرِۖ ثُمَّ أَتِمُّواْ ٱلصِّيَامَ إِلَى ٱلَّيۡلِۚ وَلَا تُبَٰشِرُوهُنَّ وَأَنتُمۡ عَٰكِفُونَ فِي ٱلۡمَسَٰجِدِۗ تِلۡكَ حُدُودُ ٱللَّهِ فَلَا تَقۡرَبُوهَاۗ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ ءَايَٰتِهِۦ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمۡ يَتَّقُونَ ١٨٧﴾

[۱۸۷] ای مومنانو! د روژې مياشـتې په شـپه کې خپلو ښـځو سـره ملاســته درته روا ده [ځکه تاســې ای ميړو!] د خپلو ميرمنو پوښــاک او جامې ياستی او ميرمنې مو د ستاسـې پوښـاک او جامې دي [يعنی يو بل پټوی او ستر يې کړی او د ناروا جنسـي اړ يکو نه يې ساتی] او الله پدې پوه سه چې تاسې په ګناه کړو د خپلو ځانو سره خيانت کړی [يعنی دا چې

هغه د روژې میاشتې په شپو کې خپلو میرمنو سره کور داري او ملاسته ده، او دا ملاسته پر تاسې باندې د روژې فرضیدو په لمړ یو ورځو کې حرامه وه، خو چې کله تاسې ورته ټینګ نسوی] نو بیا الله د ستاسې تو به قبوله کړه او د ستاسې ګناه نه تیر سه، نو اوس تاسې ته روا ده چې خپلو ښځو سره شپې ځملی او د الله نه هغه ماشومان وغواړی چې هغه تاسې ته الله لیکل دي، او ټول خواړه وخوری او او به وڅکی، ترڅو چې د سحر سپیدې را وخیژي او د سحر راختلو رڼا تاسې ته داسې راښکاره سي چې تور تار د سپین تار نه پکې بیل کړای سی، او بیا د سحر سپیدو راختلو نه وروسته تر ماښامه پورې روژه ونیسی [یعنی د خوراک، څښاک او د میرمنو سره د کور داری او ملاستې نه خپل ځانو نه کلک وساتی] او ای مومنانو! او هر کله چې تاسې په مسجد کې په اعتکاف ناست وی، نو د خپلو میرمنو سره شپه او ورځ مه ځملی، او دا د الله د دین پولې دي [نو پام کړی] چې ورنژدې نسی! هو؛ الله همداسې د خپل کتاب آیتونه او حکمونه خلکو ته بیانوي، ترڅو دوی متقیان سي، یعنی د الله حکمونه پر خپلو ځانو باندې عملي کړي او د الله عذاب نه ځانونه کلک وساتي.

قدرمنو روژه نیونکو مومنانو! یقینا چې الله تعالی پر خپلو بنده ګانو باندې ډیر مهر بان او پالونکئ ذات دئ، او مومنان یې هیڅکله د خپلې وسعې نه وتلي په درانده پیټي باندې ندي ګمارلي، او د الله تعالی عبادت او بنده ګی ټول شعائر چې مقصد یې د الله اطاعت او د بنده روحي تزکیه ده؛ د بنده ګانو وسعې سره سم فرض کړي دي، نو ښایي چې د الله حکمونه او ټول فرضي شعائر په پوره اخلاص سره پرځای کړو او د خپل پالونکي رب الله خوښي حاصله کړو او د الله تعالی پر وړاندې لوړ مقام وګټو، او د یادونې وړه ده چې د دې مبارك آیت د رانازلیدو په باره کې روایت سوئ دئ چې د رمضان مبارکې میاشتې روژې د نیولو فرضیدو په پیل کې د شپې خوب و یده کیدو نه وروسته؛ روژه پیل کیده او خوراک، څښاک او د میرمنو سره ملاسته نوره روا نوه، نو بیا په ځینې مومنانو باندې دا بندیز دروند تمام سه، ځکه دوی خپلو میرمنو سره ځملاستیدل، نو بیا

دوی رسول الله ﷺ ته راغلل او د اسانتیا غوښتنه یې وکړه او الله تعالی پر خپل رحمت سره د مومنانو دا عذر ومانه او دغه مبارك آیت را نازل سه، او پر مومنانو باندې اسانتیا راغله او خوراک، څښاک او د میرمنو سره ملاسته ورته تر سحر سپیدو راختلو پورې- الحمد لله- روا سوه.

{ د پردي مال خوړل په باطل او ناروا سره حرام دي }

او په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی مونږ ته په ناروا سره د پردي مال خوړلو حکم؛ بیان کړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿وَلَا تَأْكُلُوٓاْ أَمْوَٰلَكُم بَيْنَكُم بِٱلْبَٰطِلِ وَتُدْلُواْ بِهَآ إِلَى ٱلْحُكَّامِ لِتَأْكُلُواْ فَرِيقًا مِّنْ أَمْوَٰلِ ٱلنَّاسِ بِٱلْإِثْمِ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ ١٨٨﴾

[١٨٨] ای مومنانو! او د یو بل مالونه په باطل او ناروا سره په خپل منځ کې مخوړئ او واکمنانو ته رشوت مه ورکوئ [یعنی د قاضیانو په مجلسونو کې په یو بل باندې ناروا دعوا مکړئ] ترڅو په ګناه سره د خلکو یوه برخه مال وخوړئ، حال دا چې تاسې پدې پوهیږي چې دغه مال پر تاسې حرام دئ.

ګرانو ورونو! پدې مبارك آیت کې مونږ الله تعالی د حرام مال لاس ته راوړو نه چې هغه د هرې لارې نه وي، لکه غلا، چور، غصب، رشوت، سود خوړل او دې ته ورته د نورو ټولو ناروا لارو نه؛ په کلکه سره منعې کړي یو، او مقصد یې د ټولنې ساتنه فساد نه ده، ځکه فساد حرام دئ.

{د سپوږمۍ میاشتئ ګښت لارښود تقسیم او قات دئ}

او په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی هغه پوښتنه ځواب کړې ده چې هغه به صحابوو د رسول الله ﷺ نه د سپوږمۍ په باره کې کړه او هغه د میاشتې لمړ یو ورځو پراوونو پوښتنه وه چې د هلال په نامه یادیږي، او بیا چې کله ټوله سپوږمۍ رنا سي، نو ورته بدر وایي، او بیا ورو ورو سپوږمۍ بیرته وړ یږي، او په بیان کې یې الله تعالی فرمایلي دي:

﴿يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلْأَهِلَّةِ ۖ قُلْ هِىَ مَوَٰقِيتُ لِلنَّاسِ وَٱلْحَجِّ ۗ وَلَيْسَ ٱلْبِرُّ بِأَن

تَأْتُوا۟ ٱلْبُيُوتَ مِن ظُهُورِهَا وَلَٰكِنَّ ٱلْبِرَّ مَنِ ٱتَّقَىٰ ۗ وَأْتُوا۟ ٱلْبُيُوتَ مِنْ أَبْوَٰبِهَا ۚ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿١٨٩﴾

[١٨٩] ای پیغمبره! ستا نه ده [خپل ملګري صحابه] د هلال پراوونو په باره کې پوښتنې کړي [یعنی هغه پراوونه چې سپوږمۍ د میاشتې په پیل کې ور باندې نومول سوې ده، او وایي: د میاشتې بدلیدو رابدلیدو نه مقصد څه شئ دئ؟ نو ته ای پیغمبره! دوی ته په ځواب کې] ووایه: د سپوږمۍ دا فلکي ګټې خلکو ته وختونه معلوموي، ترڅو دوی ور باندې د خپلو عبادتونو وختونه و پېژني، لکه حج [او روژه او داسې نور موقت عبادتونه، او د ژوندا نه چارو نور ځینې وختونه هم ور باندې ښه و پېژني] یعنی د سپوږمۍ دغه هلالي دوره او ګټې د زمونږ مذهبي شعائرو لپاره غوره تقسیم اوقات او مهال و یش دئ، ځکه هر څوک ښه ور باندې پوهیږي، او د میاشتې دا طبیعي ګټې د پیل نه تر پایه پورې؛ ډیر اسانه څارلای او شمیرلای سي.

ګرنو دوستانو! او بیا الله تعالی د همدې مبارك آیت په پای کې د جاهلیت زمانې د رواجونو او دودونو نه؛ هغه دود غندلئ دئ چې وایي مشرکان به د حج احرام تړلو نه وروسته خپلو کورونو ته د شا لخوا ورننوتل، او په بیان کې یې الله تعالی فرمایلي دي: [ای خلکو! دا څه چې تاسې د ثواب په قصد کړی؛ په هغه کې ثواب نسته] او کورونو ته ورننوتل د شا لخوا په نیکۍ کې نه شمیرل کیږي، ځکه نیکي او ښه کړل هغه دي چې هر څوک د الله نه وو یر یږي او تقوی ولري او خپلو کورونو ته د ورونو نه ورننوځي او د الله عذاب نه خپل ځان په ښو کړنو سره وساتي، ترڅو فلاح او بر یا ستاسې په برخه سي او د دار ین سرلوړي وګټئ.

{د بر ید کونکي دښمن پرورا ندې مقاومت فرض دئ}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د مشرکانو سره د مسلح جهاد حکم بیان کړئ دئ، او دا ځکه چې هغوی مومنان د مکې نه کډه کیدلو او هجرت ته اړ و یستل او بیا یې پرله پسې جګړه مارې لښکرې ور پسې د

بدر، اُحد او د احزابو غزاګانو ته ورولیږلې، ترڅو رسول الله ﷺ او د هغه ملګرو مومنانو سره جګړه وکړي، نو الله تعالى د دغسې کافرانو سره د جګړې او د مسلح جهاد حکم او پکې اړوند آداب او احکام مومنانو ته بیان کړي دي، او فرمایلي دي:

﴿وَقَٰتِلُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ٱلَّذِينَ يُقَٰتِلُونَكُمۡ وَلَا تَعۡتَدُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلۡمُعۡتَدِينَ ١٩٠ وَٱقۡتُلُوهُمۡ حَيۡثُ ثَقِفۡتُمُوهُمۡ وَأَخۡرِجُوهُم مِّنۡ حَيۡثُ أَخۡرَجُوكُمۡۚ وَٱلۡفِتۡنَةُ أَشَدُّ مِنَ ٱلۡقَتۡلِۚ وَلَا تُقَٰتِلُوهُمۡ عِندَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ حَتَّىٰ يُقَٰتِلُوكُمۡ فِيهِۖ فَإِن قَٰتَلُوكُمۡ فَٱقۡتُلُوهُمۡۗ كَذَٰلِكَ جَزَآءُ ٱلۡكَٰفِرِينَ ١٩١ فَإِنِ ٱنتَهَوۡاْ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ١٩٢ وَقَٰتِلُوهُمۡ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتۡنَةٞ وَيَكُونَ ٱلدِّينُ لِلَّهِۖ فَإِنِ ٱنتَهَوۡاْ فَلَا عُدۡوَٰنَ إِلَّا عَلَى ٱلظَّٰلِمِينَ ١٩٣﴾

[١٩٠] ای مومنانو! او د هغو کسانو سره د الله په لار کې جګړه وکړئ چې دوی د ستاسې سره جګړه کړي او تاسې وژني، خو تیرئ مکړئ، ځکه تیرئ کونکي کسان په الله ګران ندي.

عزتمنو دوستانو! پدې مبارك آیت کې الله تعالى په لنډو ټکو کې د هغو کافرانو سره مسلح جهاد او توده جګړه فرض کړي ده چې دوی د مسلمانانو سره د الله تعالى د دین مخنیوې په مقصد جنګیدل، خو د دی سره سره الله تعالى په غیر محار بو کسانو باندې چې په جګړه کې شر یك ندي؛ تیرئ حرام کړئ دئ او فرمایلي دي: او هغه کسان چې جنګیالي ندي پر دوی تیرئ او تجاوز مکړئ، ځکه الله هیڅکله هم تیرئ کونکي کسان نه خوښوي، یعنی الله تعالى اجازه نه ورکو چې څوک د جګړه مارو ډلو په منځ کې د جګړې اصول او اخلاق د پښولاندې کړي او پکې په عامو خلکو باندې تیرئ وسي او دوی ز یانمن سي.

او په ور پسې مبارك آیت کې یوځل بیا الله تعالى مومنانو ته حکم کړئ دئ چې ښایي دوی د مکې کافرانو سره چې کله دوی رسول الله ﷺ او د هغه ملګري مومنان د مکې نه هجرت کړو او کډه کیدو ته اړ کړل؛ جهاد او جګړه وکړئ، او فرمایلي دي:

[١٩١-١٩٢] ای مومنانو! او دغه جګړه مار کافران چې تاسې دوی هر چیرته بیاموندل هلته یې مړه کړئ او د هغه کلي نه یې و باسئ چې تاسې یې د هغه نه و یستلي یاستئ [یعنی د مکې نه جګړه مار کافران و باسئ] او فتنه [یعنی کفر، شرك او د الله دین نه د خلکو منعې کول] د قتل او وژلو نه لو یه ګناه ده! او ای مومنانو! د مشرکانو سره په مسجد الحرام کې جګړه مکړئ، مګر دا چې دوی هلته ستاسې سره جګړه وکړي او بیا چې کله دوی د ستاسې سره وجنګیدل، نو بیا تاسې هم ورسره وجنګیږئ او مړه یې کړئ، ځکه د کافرانو سزا همدغسی وي، خو که بیا چیرې د مکې کافرانو د جګړې نه لاس واخست [یعنی ایمان یې راوړ] نو الله لوی بښونکئ او ښه مهر بان ځښتن دئ، یعنی کافران بښي او په تیره ګناه یې د جاهلیت په وخت کې نه نیسي، ځکه ایمان کفر له منځه وړي.

او بیا الله تعالی په ور پسې مبارك آیت کې همداسې د کافرانو سره په جګړه امر کړئ دئ، او فرمایلي دي:

[١٩٣] ای مومنانو! او دغو کافرانو سره [چې دوی د ستاسې سره په جګړه کې دي] وجنګیږئ، ترڅو د فتنې او د کفر ټغر ټول سې او یوازی د الله بنده کې وسي او ټول خلک د الله دین ته غاړه کیږدي، او بیا چې کله کافرانو د جګړې نه لاس واخست، نو بیا نور پر دوی باندې تیرئ نسته، ځکه تیرئ یوازی پر هغه کسانو باندې روا دئ چې دوی ظالمان دي او پرخپل کفر کلک ولاړ دي او د مومنانو سره جګړه کړي.

{د تیري کونکي دښمن پر وړاندې جګړه فرض ده}

قدرمنو دوستانو! جنګ او جګړه په مسجد الحرام کې او د هغه په څیرمه د مکې په ټول حرم کې او هم په څلورو حرامو میاشتو(ذوالقعده، ذوالحجه، محرم او رجب) کې ناروا او حرامه ده، خو رسول الله ﷺ ته الله تعالی د مکې فتحې په کال د مشرکانو سره جګړه په مکه کې او په حرامو میاشتو کې روا کړه، ترڅو د هغوی تیریو مخه پر مومنانو باندې ونیول سي او بیت الله شریف مومنانو ته د طواف لپاره د بتانو نه پاک سي، نو ځکه

الله تعالى هغه شپږ چې مشرکانو به و يل: د دوی دښمنانو [يعنی مومنانو د پيغمبر په مشری] د حرم او د حرامو مياشتو حرمت د پښولاندې کړ؛ کلکه ځواب کړې او رده کړې ده، او په بيان کې الله تعالى په ور پسې مبارکو آيتونو کې فرمايلي دي:

﴿ٱلشَّهۡرُ ٱلۡحَرَامُ بِٱلشَّهۡرِ ٱلۡحَرَامِ وَٱلۡحُرُمَٰتُ قِصَاصٞۚ فَمَنِ ٱعۡتَدَىٰ عَلَيۡكُمۡ فَٱعۡتَدُواْ عَلَيۡهِ بِمِثۡلِ مَا ٱعۡتَدَىٰ عَلَيۡكُمۡۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلۡمُتَّقِينَ ١٩٤ وَأَنفِقُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلَا تُلۡقُواْ بِأَيۡدِيكُمۡ إِلَى ٱلتَّهۡلُكَةِۛ وَأَحۡسِنُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ١٩٥﴾

[١٩٤] [هو؛ ای مومنانو! د ستاسې جګړه کافران سره په حرامو مياشتو کې د مشرکانو جګړې ځواب دئ، ځکه دوی په دغو مياشتو کې پر تاسې جګړه پيل کړه او دا جګړه يې په زور در باندې تحميل کړه، خو تاسې ای مومنانو! پدې پوه سی] چې حرامې مياشتې د حرامو مياشتو په مقابل کې دي او په حرامو کې هم قصاص او برابري سته، نو بيا چې هرچا په حرم کې او په حرامو مياشتو کې پر تاسې تيرئ وکه، نو تاسې هم پر دوی ورته بر يد او تيرئ وکړی [يعنی د خپل ځان نه دفاع وکړی، ځکه هر هغه چاچې لمړئ تيرئ کړئ دئ؛ هغه د دې مقدس زمان او مکان حرمت د پښولاندې کړئ دئ، نو تاسې ای مومنانو! حق لری چې ورځخه قصاص واخلی او ورسره ورته چلند وکړی، نو لکه څنګه چې کافرانو پر تاسې باندې تيرئ کړئ دئ؛ تاسې هم پر دوی باندې همغسې تيرئ وکړی] او د الله نه وو يرئ [يعنی خپل ځانو نه په ښې بنده ګی سره د الله عذاب نه وساتی] او ای مومنانو! پدې پوه سی چې الله د متقيانو مل او مرستندوی دئ، يعنی مرسته يې کړي او ملا يې تړي.

او بيا په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالى مومنان د مجاهدينو سره مرستې ته هڅولي دي، او فرمايلي دي:

[١٩٥] ای مومنانو! او د الله په لار کې خپل مال ورکړی[ترڅو مجاهدين ور باندې سمبال سي او د ستاسې نه دفاع وکړي] او تاسې ای

مومنانو! په خپلو لاسونو ځانونه د هلاکت ژوری ته مه ورغورځوی او مې هلاکوی، او تاسې ای مومنانو! ښه وکړی، ځکه یقینا چې الله باندې د ښو کړنو خاوندان ګران دي.

قدرمنو دوستانو! د دې مبارك آیت لنډ مقصد او غرض دا دئ چې مسلمانانو ته ښایي دښمن سره د جګړې په وخت کې خپل سر او مال ونه سپموي او بخیلي ونکړي او خپل مال او دولت ده د الله په لار کې مجاهدینو ته ورکړي، ترڅو الله تعالی دوی ته د دښمن په لاس د هلاکت نه نجات ورکړي، نو هر هغه څوک چې خپل مال د دفاع په وخت کې د جنګیالیو مجاهدینو نه سپموي؛ دئ پدې کار سره خپل ځان د د ښمن په اسلحه وژني او هلاکوي یې، نو الله تعالی پدې مبارك آیت کې په ډیر صراحت او روښتیا سره دا حقیقت په ډاګه کړئ دئ چې د (ولا تلقوا بأیدیکم إلی التهلکة) معنا دا نده چې خلک ده دښمن سره جګړې ډکر ته نه راوځی، ترڅو ونه وژل سی، بلکې معنا یې دا ده چې خپل مال ده د الله په لار کې ورکړي، ترڅو د حق لارې مجاهدین د دښمن پر وړاندې د دوی نه دفاع وکړې او دوی وساتي، ترڅو دوی ټول د هلاکت نه نجات بیاموميِ.

{ په حج او عمره کې د ډبیدو یا احصار نه د وتلو لارې او حکم }

او په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی د حج او عمرې په باره کې مونږ ته ځینې ګټورې لارښودنې کړې دي او د حج او عمرې ارکانو پرځای کولو کې یې را ته د احصار (د حج او عمرې نه د منع کیدو) هدی او ځینې نورو فدیو او د حج هدیو؛ حکمونه بیان کړي دي، او فرمایلي دي:

﴿وَأَتِمُّوا۟ ٱلْحَجَّ وَٱلْعُمْرَةَ لِلَّهِ ۚ فَإِنْ أُحْصِرْتُمْ فَمَا ٱسْتَيْسَرَ مِنَ ٱلْهَدْىِ ۖ وَلَا تَحْلِقُوا۟ رُءُوسَكُمْ حَتَّىٰ يَبْلُغَ ٱلْهَدْىُ مَحِلَّهُۥ ۚ فَمَن كَانَ مِنكُم مَّرِيضًا أَوْ بِهِۦٓ أَذًى مِّن رَّأْسِهِۦ فَفِدْيَةٌ مِّن صِيَامٍ أَوْ صَدَقَةٍ أَوْ نُسُكٍ ۚ فَإِذَآ أَمِنتُمْ فَمَن تَمَتَّعَ بِٱلْعُمْرَةِ إِلَى ٱلْحَجِّ فَمَا ٱسْتَيْسَرَ مِنَ ٱلْهَدْىِ ۚ فَمَن لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلَٰثَةِ أَيَّامٍ فِى ٱلْحَجِّ وَسَبْعَةٍ إِذَا رَجَعْتُمْ ۗ تِلْكَ عَشَرَةٌ كَامِلَةٌ ۗ ذَٰلِكَ لِمَن لَّمْ يَكُنْ أَهْلُهُۥ حَاضِرِى ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ ۚ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ

وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ١٩٦

[١٩٦] ای مومنانو [او د بیت الله شر یف حاجیانو!] د حج او عمرې مناسك، شعائر او عبادت د الله رضا لپار پوره ترسره کړئ، نو که بیا چیرې تاسې احصار او ډب سوی [یعنی مکې ته ستاسې د ورننوتلو مخه ونیول سوه او د عمرې او حج مناسکو ادا کولو نه عاجز او بې وسې سوی] نو درسره د هدی یې څاروي (پسونه، غوایي او اوښان) حلال او ذبح کړئ [ترڅو د احرام نه ووځئ او ځانو نه حلال کړئ] خو خپل سرونه ترهغې مه خرڅوي، ترڅو چې د هدی یې څاروي خپل ځای ته ورسیږي او هلته ذبحه او حلال سي، او هرڅوک چې د حاجیانو نه ناروغ وه او یا یې په سر کې داسې سپږې وې [چې دئ یې زورا وه او سر خر یلو ته یې اړ ایسته، نو خپل سر ده وخرڅوي] او فدیه ور باندې لازمه ده، او دا فدیه درې ورځې روژه نیول او یا شپږو مسکینانو ته یو وخت خواړه او ډوډئ ورکول، او یا د یوه پسه و ینی تو یول او ذبحه کول دي، او بیا چې کله احصار مات سه او تاسې ای حاجیانو! په امن کې سوی، نو هرچا چې د عمرې نیت د حج په موسم کې کړئ دئ او متمتع دئ، نو هد یه دې د خپلې وسې سره سم [چې د پسو یا د نورو څارو یو ذبحه یا نحرول دي] ترسره کړي، خو که چا پسه بیانموند، نو دری ورځې روژه ده د حج په ورځو کې ونیسي او اووه ورځې روژه ده چې کله د حج نه بیرته خپل کور ته ستون سه ونیسي، او هغه ټولې پوره لس ورځې روژه کیږي، او دا د تمتع هدیه پر هغه حاجي باندې واجب ده چې کور یې په مسجد الحرام کې نه وي [یعنی په مکه معظمه کې د حاجي کور نه وي، او ای مومنانو! د الله دین د حکمونو پرځای کولو سره] تقوی وکړئ [یعنی ځانونه د الله غوصې او عذاب نه کلک وساتئ] او پدې پوه سئ چې الله ډیر کلک سزا ورکونکئ لوی ذات دئ، یعنی هرڅوک چې د الله نافرماني وکړي، نو بیا الله ورته کلکه سزا ورکوي.

{په حج کې د يو بل سره جدال او جنجال کړل حرام دي}

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونو کې حاجيانو ته الله تعالى دا لاندې ضروري لارښودنې کړې دي، او په بيان کې فرمايلي دي.

﴿ٱلۡحَجُّ أَشۡهُرٞ مَّعۡلُومَٰتٞۚ فَمَن فَرَضَ فِيهِنَّ ٱلۡحَجَّ فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوقَ وَلَا جِدَالَ فِي ٱلۡحَجِّۗ وَمَا تَفۡعَلُواْ مِنۡ خَيۡرٖ يَعۡلَمۡهُ ٱللَّهُۗ وَتَزَوَّدُواْ فَإِنَّ خَيۡرَ ٱلزَّادِ ٱلتَّقۡوَىٰۚ وَٱتَّقُونِ يَٰٓأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِ ١٩٧ لَيۡسَ عَلَيۡكُمۡ جُنَاحٌ أَن تَبۡتَغُواْ فَضۡلٗا مِّن رَّبِّكُمۡۚ فَإِذَآ أَفَضۡتُم مِّنۡ عَرَفَٰتٖ فَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ عِندَ ٱلۡمَشۡعَرِ ٱلۡحَرَامِۖ وَٱذۡكُرُوهُ كَمَا هَدَىٰكُمۡ وَإِن كُنتُم مِّن قَبۡلِهِۦ لَمِنَ ٱلضَّآلِّينَ ١٩٨﴾

[١٩٧] [اى مومنانو!] او د حج تاكل سوئ وخت او موسم څو ښكاره او څرګندې مياشتې دئ [او هغه د شوال، ذوالقعده او ذوالحجې مياشتى دي، او يوازې په دغو مياشتو کې د حج نيت صحي کيږي او مناسك يې ترسره کيږي] نو هرچا چې په دغو مياشتو کې د حج نيت وکه او احرام يې وتاړه، نو بيا ورته د خپلې ميرمنې سره ملاسته او کورداري روا نده، او هم ښايي چې حاجي خپل ځان د نورو ګناهوو او د فسق او فجور نه وساتي، او هم حاجي ته روا نده چې په حج کې د چا سره ژ به واچوي، جنجال، جدال او دعوا ورسره وکړي [يعنى په خبرو کې په خوله ورسره په جګړه سي، او اى د بيت الله شر يف حاجيانو!] هر ښه او د خير کار چې تاسې کړئ؛ الله پرې پوهيږي، او د حج په سفر کې د ځان لپاره توښه برابره کړئ [ځکه هغه تاسې اى د بيت الله شر يف حاجيانو! د احتياج نه ساتي] او ډيره ښه توښه په حج کې تقوا ده! او اى هوښيارانو او د عقل خاوندانو! تقوا وکړئ، يعنى خپل ځانونه د الله حکمونو مخالفت نه په کلکه سره وساتئ، او واجبات پرځاى کړئ او د محرماتو نه ډډه وکړئ، او الله تعالى تل پر خپلو ځانو حاضر وو يئ.

[١٩٨] [اى د بيت الله شر يف حاجيانو!] او پر تاسې باندې څه ګناه

نســته چې په حج کې د خپل لوی څښــتن الله نه د هغه فضــل او حلاله روزي وغواړئ [یعنی دا چې حاجي ته روا ده په حج کې سوداګري او تجارت وکړي او مالي ګټه لاس ته راوړي] او ای حاجیانو! هر کله چې تاسې د عرفات نه مزدلفې ته راکوز سوئ، نو په مشعر الحرام (مزدلفه) کې خپل رب الله هغسی یاد کړئ، لکه څنګه چې تاسې ته الله لارښــودنه کړې ده [یعنی ذکر او استغفار وکړئ او د الله نه بښنه وغواړئ] که څه هم تاسې پخوا د هغو کســانو نه وئ چې ســمه لار درڅخه ورکه وه، یعنی تاســې په حج کې د عبادت پر ســمه لار نه پوهیدلئ، ترڅو چې بیا الله تعالی تاسې ته د قرآن په رانازلیدو ســره ســمه لار وښــودله، نو د حج په مناســکو کې په دغه ســمه لار لاړ ســئ او کافرانو پســې مځئ، او په حج کې د هر ډول ګناه نه ځانونه کلک وســاتئ، ترڅو د حج مبرور ثواب وګټئ او د تیرو ګناهوو نه هغسې پاک سئ لکه هغه ورځ چې میندو ز یږ ولي وئ.

{قرآن ابراهیمي تګ لاره په حج کې را ژوندۍ کړه}

او په ور پســې مبارکو آیتونو کې الله تعالی یوځل بیا حاجیانو ته د ابراهیم عليه السلام حج په لار باندې د تګ امر کړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿ثُمَّ أَفِيضُواْ مِنۡ حَيۡثُ أَفَاضَ ٱلنَّاسُ وَٱسۡتَغۡفِرُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ١٩٩ فَإِذَا قَضَيۡتُم مَّنَاسِكَكُمۡ فَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ كَذِكۡرِكُمۡ ءَابَآءَكُمۡ أَوۡ أَشَدَّ ذِكۡرٗاۗ فَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَقُولُ رَبَّنَآ ءَاتِنَا فِي ٱلدُّنۡيَا وَمَا لَهُۥ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنۡ خَلَٰقٖ ٢٠٠ وَمِنۡهُم مَّن يَقُولُ رَبَّنَآ ءَاتِنَا فِي ٱلدُّنۡيَا حَسَنَةٗ وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِ حَسَنَةٗ وَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ ٢٠١ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ نَصِيبٞ مِّمَّا كَسَبُواْۚ وَٱللَّهُ سَرِيعُ ٱلۡحِسَابِ ٢٠٢﴾

[۱۹۹] ای د بیت الله شــر یف حاجیانو! او بیا [د عرفات او مزدلفې نه وروســته بیرته منا ته د هغه ځای نه راســتانه ســئ چې پخواني حاجیان ورڅخه راستنیدل، او د الله نه بښنه وغواړئ او استغفار وکړئ، او یقینا چې الله لوی بښونکئ او ښه مهر بان پالونکئ ذات دئ.

قدرمنو دوستانو! روایت سوئ دئ چې ابراهیم عليه السلام به حج کې د عرفات ډګر پر لوی ډاګ کې در یده، او بیا د ماښام نه وروسته مشعر الحرام (مزدلفې) ته راستنیده، خو کله چې د مکې خلک [یعنی قر یش مشرکان سول او د ابراهیم توحیدي لار یې په حج کې پر یښوده] نو بیا به دوی په ډیر کبر سره و یل: مونږ خو د حرم اوسیدونکي یو او نور خلک د بهر نه راځي او هغوی د زمونږ سیالان ندي، نو مونږ ته نه ښایي چې د حرم خاورې نه ووځو او د عرفات په ډګر چې د حرم نه وتلئ دئ ودر یږو، نو ځکه د اسلام نه پخوا به قر یش په حج کې یوازې د مزدلفې یا مشعر الحرام پورې تلل او عرفات ته نه تلل، نو بیا چې کله اسلام راغئ االله تعالی بیرته ابراهیمي توحیدي دین او د هغه عبادتي شعائر او مناسك په حج کې را ژوندي کړل، نو ځکه الله تعالی حاجیانو ته په پورتني مبارك آیت کې حکم کړئ دئ چې ای حاجیانو! تاسې د عرفې په ورځ د عرفات په ډاګ یا میدان کې ودر یږئ، او بیا ماښام د هغه ځای نه مزدلفې ته راپر یوځئ، ځکه پخواني خلک به د همدی ځای نه مشعر الحرام ته راتلل، او د خلکو نه دلته مقصد همدا د ابراهیم عليه السلام امت دئ چې د هغه په توحیدي تګ لار باندې کلک ولاړ دئ.

او بیا په ور پسې مبارکو آیتونو کې حاجیان الله تعالی خپل ذکر ته رابللي دي، او فرمایلي دي:

[٢٠٠-٢٠٢] ای حاجیانو! او هر کله چې تاسې د حج مناسك پرځای کړل، نو بیا الله هغسې یاد کړئ، لکه څنګه چې تاسې خپل نیکونه یادول، او یا یې د هغو نه هم ډیر یاد کړئ [یعنی خپل رب الله وستایي او حمد او ثناء یې ووایي او د هر ډول عیب او نقصان نه الله په پاکئ سره یاد کړئ] او دا ځکه چې ځینې خلک یوازې د دنیا ګټې غواړي او وایي: ای زمونږ لو یه ر به! مونږ ته په دنیا کې نعمتونه را کړه! نو بیا دوی ته په آخرت کې څه برخه نسته، خو نور داسې خلک هم سته چې دعاء کړي او وایي: ای لو یه ر به! په دنیا کې ښه نعمتونه را کړه او په آخرت کې هم نیکي او ښه نعمتونه مونږ ته را کړه، او مونږ د دوزخ عذاب او سزا نه وساته، او دغو

کسانو ته چې د دنیا او د آخرت نیکۍ غواړي؛ دوی ته د خپلو کړنو برخه ثواب ورکول کیږي، او الله ډیر ژر حساب اخستونکئ لوی ذات دئ، یعنی هرچا ته د خپل عمل ثواب او سزا ورکوي.

عزتمنو دوستانو! او دا دعاء هغه مبارکه قرآني دعاء ده چې د رسول اللهﷺ ژ به به تل ور باندې لنده وه او د لمانځه په وروستۍ تشهد کې یې پر دغه دعاء باندې سپارښت کړئ دئ او هغه د التحیات او پر رسولﷺ باندې د درود نه وروسته په آخره جلسه یا ناسته کې و یل کیږي.

{د تشریق درې ورځې جمرو و یشتل د حاجی په خوښه دي}

او په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی حاجیانو ته په منا کې د اختر یا تشریق په درې ورځو کې د ځانګړي نسك یا عبادت چې د جمرو و یشتل دي؛ سپارښت کړئ دئ، خو بیا یې ورته د تشریق ټولو ورځو جمرو و یشتلو په پوره کول کې خوښه ورکړی ده، او فرمایلي دي:

﴿۞ وَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ فِيٓ أَيَّامٖ مَّعۡدُودَٰتٖۚ فَمَن تَعَجَّلَ فِي يَوۡمَيۡنِ فَلَآ إِثۡمَ عَلَيۡهِۚ وَمَن تَأَخَّرَ فَلَآ إِثۡمَ عَلَيۡهِۚ لِمَنِ ٱتَّقَىٰۗ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّكُمۡ إِلَيۡهِ تُحۡشَرُونَ ٢٠٣﴾

[۲۰۳] ای د بیت الله شریف حاجیانو! او په شمیرل سوو ورځو کې الله یاد کړئ [یعني دا شمیرل سوې ورځې د لوی اختر ورځ او وروسته یې د اختر درې هغه ورځې دي چې ورته د تشریق ورځې وایي] خو که چا تلوار وکه او د تشریق دوه ورځو جمرو و یشتلو نه وروسته د منا نه ووت؛ څه ګناه ور باندې نسته، او هغه څوک چې دری ورځې په منا کې وزنډیده او بیا د تشریق درې جمرو و یشتلو نه وروسته د منا نه ووت؛ پر هغه باندې هم څه ګناه نسته، خو پدې شرط چې په حج کې دوی ټولو تقوا کړي وي، او د الله نور ټول حکمونه یې پرځای کړي وي، او ای مومنانو! د الله نه کلک وو یر یږئ او پدې پوه سئ چې الله ته ورغونډیدونکي یاستئ، یعنی د قیامت په ورځ به د الله په حضور کې خاماخا در یږئ او د خپلو ټولو کړنو حساب به ورکوئ.

{څوک چې په ځمکه کې ورانئ کړي ځای يې دوزخ دئ}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د کبرجنو مفسدانو خوى او د هغوى کرکجنې کړنې کلکې غندلئ دي، او فرمايلي دي:

﴿وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُعۡجِبُكَ قَوۡلُهُۥ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَيُشۡهِدُ ٱللَّهَ عَلَىٰ مَا فِي قَلۡبِهِۦ وَهُوَ أَلَدُّ ٱلۡخِصَامِ ٢٠٤ وَإِذَا تَوَلَّىٰ سَعَىٰ فِي ٱلۡأَرۡضِ لِيُفۡسِدَ فِيهَا وَيُهۡلِكَ ٱلۡحَرۡثَ وَٱلنَّسۡلَۗ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ ٱلۡفَسَادَ ٢٠٥ وَإِذَا قِيلَ لَهُ ٱتَّقِ ٱللَّهَ أَخَذَتۡهُ ٱلۡعِزَّةُ بِٱلۡإِثۡمِۚ فَحَسۡبُهُۥ جَهَنَّمُۚ وَلَبِئۡسَ ٱلۡمِهَادُ ٢٠٦ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَشۡرِي نَفۡسَهُ ٱبۡتِغَآءَ مَرۡضَاتِ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ رَءُوفُۢ بِٱلۡعِبَادِ ٢٠٧﴾

[٢٠٤] اى پيغمبره! او د خلکو نه داسې څوک هم ستە چې د هغه و ينا‌وې د دنيا ژوند په باره کې ستا خوښيږي او د هغه په زړه کې چې څه شئ دي؛ الله ور باندې شاهد نيسي [يعنى هغه دا خبره د زړه نه کړي، خو په حقيقت کې دا کس د اسلام او مسلمانانو سره په دښمنې کې] کلک موقف او در يځ لري او پرې ټينګ ولاړ دئ.

[٢٠٥] او بيا چې کله دا سړئ شا واړوي [او هغه د ستا نه اى پيغمبره! لاړ سي] نو بيا خپلې هلې ځلې او منډې پر ځمکه ګړندى کړي، ترڅو د کروندو فصلونه او د خلکو نسلونه له منځه يوسي، خو الله فساد او ورانئ نه خوښوي.

[٢٠٦] او کله چې بيا [دغسې منافق او مفسد فى الارض ته] وو يل سي چې د الله نه وو يرە او د دغسې بدو کړنو نه لاس واخله [نو نصيحت نه مني] ځکه دئ د خپلې ګناه کبر په سر اخستئ وي [يعنى د هيڅا خبره نه مني] نو هغه ته د دوزخ اور بس دئ، او يقينا چې دوزخ د استوګنې ډير بد ځای دئ، يعنى دوزخيان تل پاتې پکې کړ يږي.

[٢٠٧] [او په بله خوا کې بيا داسې خلک هم ستە] چې خپل ځان د

الله رضـا لپاره خرڅوي [او د الله په لار کې د اسـلام خورولو او تبليغ په مقصـد جهاد کړي او ځانو نه فدا کوي او د الله په بنده ګی کې کلک ولاړ وي] او الله پر خپلو بنده ګانو ښـه مهر بان لوی ذات دئ، يعنی نو خپلو بنده ګانو ته د دوی د ښو کړنو ثواب ورکوي.

هو؛ دوستانو! دا يادونه هم د پام وړ ده چې خلک ټول شر غوښتونکي ندي، بلکې د دوی په څنګ کې خير غوښـتونکي او ښـه خلک هم په ټولنه کې سته چې د الله تعالی رضا لپاره تل سرښندنه کړي.

{هغو يهود ته چې مومنانو پورې خاندي کلک ګواښ دئ}

او په ور پسـې مبارکو آيتونو کې الله تعالی رسـول اللهﷺ باندې د موسـیعليه السلام قوم يهودو په باره کې غږ کړئ دئ او مومنـانو پورې خنـدا کونکي کسان يې کلک ګواښلي دي، او فرمايلي دي:

﴿سَلۡ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ كَمۡ ءَاتَيۡنَٰهُم مِّنۡ ءَايَةم بَيِّنَةٖۗ وَمَن يُبَدِّلۡ نِعۡمَةَ ٱللَّهِ مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَتۡهُ فَإِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ٢١١ زُيِّنَ لِلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَا وَيَسۡخَرُونَ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْۘ وَٱلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ فَوۡقَهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ وَٱللَّهُ يَرۡزُقُ مَن يَشَآءُ بِغَيۡرِ حِسَابٖ ٢١٢﴾

[۲۱۱] ای پيغمبره! د بني اسـرائيلو نـه و پوښـتـه چې څومره ډيرې روښـانه نښـې او معجزې دوی ته مونږ راوړې؟ [ترڅو حق و پيژني او بيا هغه ومني؟ خو بني اسرائيل ورڅخه منکر سـول او د الله کتاب آيتونه يې تحر يف او بدل کړل] او هرڅوک چې د الله پيرزو ينې (آيتونه او دليلونه) وروسـتـه لـه هغې چې دوی تـه راغلل؛ بـدلوي [او بيا ورڅخـه منکر يږي، ښـايي دوی پدې پوه سـي چې يقينا د الله رانيول او سـزا ورکول؛ ډير کلک دي] او الله ښـه سـزا ورکونکئ لوی ذات دئ، يعنی دغسـې کافرانو ته الله تعالی کلک عذاب ورڅکي.

او په ور پسـې مبارك آيت کې الله تعالی د کافرانو ملنډې پر مومنانو باندې غندلې دي، او فرمايلي دي:

[۲۱۲] هو! د دنيا ژوند هغو کسانو ته ښايسته سوئ دئ چې کافران سول او مومنانو ته په سپکه سترګه ګوري او وملنډې ر باندې وهي، خو مومنان چې د الله نه وو ير يدل او خپل ځانونه يې په ايمان راوړو سره د الله عذاب نه وساتل؛ دوی د قيامت په ورځ پر کافرانو اوچت او پورته دي [يعنی مقام يې لوړ دئ او د جنت په لوړو پوړونو کې ژوند کړي، او کافران د دوزخ اور په ژوره کې کړ يږي] او دا ځکه چې کله الله د خپلو بنده ګانو نه يو چاته څه شئ وغواړي، نو بيا ورته بې شميره روزي او لوړ مقام ورکوي، يعنی الله تعالی خپل ګران بنده ګان په دغسې لوی نعمت نازوي!

{د آدم عليه السلام نه وروسته يې کهول يو امت وه خو بيا سره بيل سول}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې مونږ ته الله تعالی د آدم عليه السلام پيدايښت نه وروسته د هغه کهول ټولو خلکو تک د توحيد پر سمه لار؛ بيان کړئ دئ، خو بيا وروسته دوی سره ټوټه ټوټه سول او په بيلو بيلو لارو ورک سوي روان سول، نو د دوی بيرته سميدل او بيا يې جنت ته ورننوتل لوی صبر او زغم غواړي، او په بيان کې يې الله تعالی فرمايلي دي:

﴿كَانَ ٱلنَّاسُ أُمَّةً وَٰحِدَةً فَبَعَثَ ٱللَّهُ ٱلنَّبِيِّـۧنَ مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ وَأَنزَلَ مَعَهُمُ ٱلْكِتَٰبَ بِٱلْحَقِّ لِيَحْكُمَ بَيْنَ ٱلنَّاسِ فِيمَا ٱخْتَلَفُوا۟ فِيهِ ۚ وَمَا ٱخْتَلَفَ فِيهِ إِلَّا ٱلَّذِينَ أُوتُوهُ مِنۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ ٱلْبَيِّنَٰتُ بَغْيًۢا بَيْنَهُمْ ۖ فَهَدَى ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لِمَا ٱخْتَلَفُوا۟ فِيهِ مِنَ ٱلْحَقِّ بِإِذْنِهِۦ ۗ وَٱللَّهُ يَهْدِى مَن يَشَآءُ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٢١٣﴾ أَمْ حَسِبْتُمْ أَن تَدْخُلُوا۟ ٱلْجَنَّةَ وَلَمَّا يَأْتِكُم مَّثَلُ ٱلَّذِينَ خَلَوْا۟ مِن قَبْلِكُم ۖ مَّسَّتْهُمُ ٱلْبَأْسَآءُ وَٱلضَّرَّآءُ وَزُلْزِلُوا۟ حَتَّىٰ يَقُولَ ٱلرَّسُولُ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مَعَهُۥ مَتَىٰ نَصْرُ ٱللَّهِ ۗ أَلَآ إِنَّ نَصْرَ ٱللَّهِ قَرِيبٌ ﴿٢١٤﴾﴾

[۲۱۳] هو! ټول خلک يو امت ول [او په اتفاق سره يې پر خپل رب الله باندې ايمان را وړئ ؤ، خو بيا وروسته د شيطان وسوسو ښکار سول او د دين پر سر خپل منځ کې په اختلاف کې ولو يدل او هرچا خپله لار بيله کړه] نو بيا پيغمبران دوی ته الله استازي راوليږل، چې مومنانو ته

يې د جنت ز يرئ ورکا وه او کافران يې د دوزخ اور نه ګواښـــل، او دغو پيغمبرانو ته الله خپل کتابونه چې د حق لارى ته د لارښـــودنې پيغامونه ول؛ راوليږل، ترڅو پيغمبران د دغو کتابونو لارښودنو په رڼا کې د خلکو په منځ کې ښې پر يکړي وکړي او د دوى اختلافات او ډلې ډلې کيدل او يو د بل پر ضـــد قيام او در يدل؛ ور باندې حل کړي [او بيا وروســـته د اسلام پيغمبر صداقت او ر ښتينوالي سره] هغو کسانو اختلاف وکه چې دوى ته الله خپل کتابونه (تورات او انجيل) ورکړي ول، او په دغو کتابونو کې دوى ته ډير روښـــانه دليلونه او ښـــکاره نښـــې وې او د الله حکمونه پکې راغلي ول، خو دوى په خپل منځ کې د يو بل نه ســـرغړونه او تيرئ وکه، او يو د بل ســـره په اختلاف او بيلتون کې پر يوتل، نو بيا الله مومنان پر خپل لوى قدرت ســـره حق ته ســـم کړل او د اختلاف نه يې راوايســتل، ځکه الله چې څوک وغواړي سمه لار ورښـــيي او پر هغه ورته د تګ توفيق ورکوي، يعنى حق دين ته هدايت د الله کار دئ، نو دعاء کړو چې الله تعالى ده ټول خلک پر حق او پر سمه لار روان کړي او د ښه عمل توفيق ده ورکړي.

او په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالى مومنان د ســتونزو پر وړاندې صبر او زغم ته رابللي دي، او فرمايلي دي:

[٢١٤] اى مومنانو! او آيا تاســې خيال کوي چې جنت ته به د هغه سخت ازمايښت نه وړاندې ورننوځى چې هغه د ستاسې نه په خوا تيرسوو ولسـونو باندې راغئ او دوى د سـختې ولړې او ناروغۍ سـره مخامخ سـول، او ډول ډول ســتونزو دوى ته ټکان ورکه، تر هغو چې بيا دوى ته را ليږل ســوي پيغمبر او ورســره مومنانو وو يل: دا د الله مرســته به کله راځي؟ [يعنى د مومنانو صــبر او زغم کاســه د ســتونزو پر وړاندې نوره مخ په نســکور يدو ســوه، او دوى د الله نه د ژر او بيړنۍ مرســتې غوښــتونکې سول، نو بيا په ځواب کې ورته و يل کيږي: اى مومنانو!] دا ډه اوسيږى چې د الله نصرت او مرسته مومنانو ته ډيره را لنډه ده!

قدرمنو دوستانو! الله تعالى د دغسى پوښتنې په ترڅ کې خپل مخلص

بنده ګان پدې پوه کړي دي چې جنت ته تګ پرته د ستونزو ګاللو نه او مخکې د هغه لوی ازمایښت نه چې پخواني ولسونه ور باندې ازمایل سوي دي؛ اسانه ندئ، او دا د الله تعالی نظام او قانون دئ چې خپل مومن بنده ګان تل ور باندې ازمایي، او د الله دا سنت او قانون تل جاري دئ او پکې بدلون نه راځي، نو څوک چې غواړي د الله د دین حق لار خپله کړي او جنت ته ورننوځی، نو هغه ته ښایي چې د الله تعالی دې لوی امتحان ته او د ستونزو ګاللو ته کلکه ملا وتړي، ترڅو یې بر یا په برخه سي او خپل لوی ارمان ته چې جنت دئ ورسیږي، او په دنیا کې یې هم هغه بر یا په برخه سي چې د هغې وعده مومنانو سره الله تعالی کړې ده.

{خپلو انو سره مرسته کړل د الله تعالي سپارښت دئ}

او په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی مومنان هڅولي دي چې خپلې مور او پلار ته او نورو خپلوانو او محتاجو بې وزره کسانو ته، لکه یتیمان؛ خیرات ورکړي او مرسته ورسره وکړي، او فرمایلي دي:

﴿يَسْـَٔلُونَكَ مَاذَا يُنفِقُونَ ۖ قُلْ مَآ أَنفَقْتُم مِّنْ خَيْرٍ فَلِلْوَٰلِدَيْنِ وَٱلْأَقْرَبِينَ وَٱلْيَتَٰمَىٰ وَٱلْمَسَٰكِينِ وَٱبْنِ ٱلسَّبِيلِ ۗ وَمَا تَفْعَلُوا۟ مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّ ٱللَّهَ بِهِۦ عَلِيمٌ ﴿٢١٥﴾﴾

[۲۱۵] ای پیغمبره! [ملګري ده] ستا نه پوښتي [چې د الله رضا ګټلو په لار کې د خپل مال او دولت نه] څنګه او چا ته خیرات ورکړي؟ نو ته دوی ته [په ځواب کې] ووایه: [هغه حلال او پاک مال چې د ستاسې په لاس کې دئ] هغه خپلې مور او خپل پلار ته او نورو لنډو خپلوانو ته او یتیمانو او بې وزره مسکینانو ته او هغو لارو یو پردیسیو ته چې د لارې خرڅ نه لري؛ خیرات ورکړی، او پدې پوه سی هغه خیرات چې تاسې کړی او خپل مال د الله خوښی لپاره ورکوی؛ الله ور باندې یقینا ښه پوه دئ، یعنی الله تعالی به تاسې ته د خیرات په بدل کې ډیر ثواب درکړي.

{د یرغلګر دښمن سره جګړه او مقاومت فرض دئ}

او په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی پر مومنانو باندې یرغلګرو

کافرانو سره جهاد او جګړه فرض کړی ده، او په بیان کې فرمایلي دي:

﴿كُتِبَ عَلَيْكُمُ ٱلْقِتَالُ وَهُوَ كُرْهٌ لَّكُمْ ۖ وَعَسَىٰٓ أَن تَكْرَهُوا۟ شَيْـًٔا وَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۖ وَعَسَىٰٓ أَن تُحِبُّوا۟ شَيْـًٔا وَهُوَ شَرٌّ لَّكُمْ ۗ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿٢١٦﴾﴾

[٢١٦] ای مومنانو! [د یرغلګرو کافرانو سره مسلح جهاد او] جګړه پر تاسې باندې فرض سوه، او تاسې د جګړې نه کرکه لرئ [ځکه په جګړه کې ستونزې او ګواښونه دي] خو کیدای سي چې تاسې د یو څه نه کرکه وکړئ [یعنی هغه د ستاسې خوښ نسي] خو په هغه کې تاسې ته خیر او ګټه وي، او هم کیدا سي یو شئ د ستاسې خوښیږي، خو په هغه کې تاسې ته شر او ز یان وي، ځکه یوازې الله په هغه څه چې پکې تاسې ته خیر وي پوهیږي او تاسې ور باندې نه پوهیږئ، یعنی ای مومنانو! تاسې ته ښایي د الله حکم او پر یکړې ته غاړه کیږدئ او د خپل دښمن سره جهاد ته ملا وتړئ، ځکه الله پوهیږي چې ستاسې د دینا او آخرت ګټه په جهاد کې ده.

عزتمنو دوستانو! دا مبارك آیت چې مومنانو ته یې د جهاد او د یرغلګر دښمن سره د مقاومت فرضیت بیان کړئ دئ؛ د رسول الله ﷺ د پیغمبرئ مدني لړئ پیل دئ، ځکه کله چې مشرکانو رسول الله ﷺ او د هغه ملګري (صحابه) د خپلو کورونو نه په مکه کې وشړل او هجرت ته یې اړ کړل او د دوی مال، دولت او جایدادونه یې په زور ونیول، او بیا یې دوی پسې د لښکرو را و یستلو ګواښونو ډنډورې هم هرې خوا خورې کړې، نو جهاد فرض سه، او د رسول الله ﷺ په مشرئ مومنانو په وار وار سره د مشرکانو یرغلګرو لښکرو پر وړلاندې په بدر، احد او د احزابو په لو یو لو یو غزاګانو کې مقاومت وکه، او همدارنګه ور پسې د مکې فتحه او بیا د حُنین په غزا کې د بني ثقیف لوی لښکر پر وړاندې مقاومت، نو بیا دغسې مقاومت او د مسلح جهاد فرضیت د یرغلګر دښمن پر وړلاندې همداسې ترقیامت ورځې پورې پاتې دئ، ځکه د حق او باطل په منځ کې جګړه همداسې جاري ده، نو ښایي چې مسلمانان تل د یوه غښتلي

او قوي لښکر او فوز خاوندان وي او لښکر يې په ښه نظامي روزنه او پرمختللې اسلحه سمبال وي، ترڅو خپل ولسونه او مينې يې د دښمنانو ښکيلاک او يرغل نه په کلکه سره وساتي.

{په حرامو مياشتو کې د جګړې ګناه نه د کفر ګناه لو يه ده}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د مکې کافرانو هغه تورونه او د شکونو راپارول ځواب کړي دي چې هغه دوی د پوښتنې په بڼه کې خورول، او فرمايلي دي:

﴿يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلشَّهْرِ ٱلْحَرَامِ قِتَالٍ فِيهِ ۖ قُلْ قِتَالٌ فِيهِ كَبِيرٌ ۚ وَصَدٌّ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَكُفْرٌۢ بِهِۦ وَٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ وَإِخْرَاجُ أَهْلِهِۦ مِنْهُ أَكْبَرُ عِندَ ٱللَّهِ ۚ وَٱلْفِتْنَةُ أَكْبَرُ مِنَ ٱلْقَتْلِ ۗ وَلَا يَزَالُونَ يُقَٰتِلُونَكُمْ حَتَّىٰ يَرُدُّوكُمْ عَن دِينِكُمْ إِنِ ٱسْتَطَٰعُوا۟ ۚ وَمَن يَرْتَدِدْ مِنكُمْ عَن دِينِهِۦ فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ فَأُو۟لَٰٓئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَٰلُهُمْ فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْـَٔاخِرَةِ ۖ وَأُو۟لَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٢١٧﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَٱلَّذِينَ هَاجَرُوا۟ وَجَٰهَدُوا۟ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ أُو۟لَٰٓئِكَ يَرْجُونَ رَحْمَتَ ٱللَّهِ ۚ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٢١٨﴾﴾

[٢١٧] ای پیغمبره! مشرکان د ستا نه په حرامو مياشتو کې [چې هغه ذوالقعده، ذولحجة، محرم او د رجب مياشتې دي] د جګړې حکم پوښتنه کړي [يعنى دا چې آيا جګړه په دغو مياشتو کې روا ده کنه؟ نو ته ای پیغمبره! دوی ته په ځواب کې] ووايه چې جګړه په حرامو مياشتو کې لو يه ګناه ده، خو د الله دين نه د خلکو منع کول او د الله عبادت نه په توحيد او يو والي سره منکر يدل او د بيت الله حج ته د حاجيانو راتګ مخنيوئ، او مومنان د خپلو کورونو نه و يستل او شړل؛ د الله پر ورلاندې لو يه ګناه ده، او همدارنګه د مومنانو زورول په حرم کې او په حرامو مياشتو کې؛ د جګړې نه لو يه ګناه ده! او ای مومنانو! پدې پوه سی چې کافران به همداسې ستاسې سره تل جګړه کړي، ترڅو وکړای سي چې تاسې د خپل دين نه بيرته راواړوي او مرتد سی، او څوک چې د خپل

دين نه مرتد سه او كافرانو دئ وغلا وه او بيا همداسې كافر او مرتد مړ سه، نو د دغو مرتدو كسانو ټولې پخوانۍ ښې كړنې په دنيا او په آخرت كې له منځه ځي او ضائع كيږي او دوى به د دوزخ ملګري وي او په سره اور كې به تل پاتې كړ يږي او د نجات لار به نه مومي.

ګرانو دوستانو! الله تعالى پدې مبارك آيت كې مونږ ته دوه خبرې ډيرې روښانه په نښه كړې او بيان كړى دي، او هغه دا چې يقينا جنګ او جګړه په حرامو مياشتو كې روا نده، بلكې هغه لو يه ګناه ده، خو هغه ظلمونه او بدې كړنې چې د مكې كافرانو كړې او مومنان يې د الله كور نه منعې كړل او د اسلام پيغمبر محمد ﷺ او د هغه ملګري مومنان يې د خپلو كورونو نه په مكه كې وشړل او د مسلمانۍ په پلمه يې؛ نښه وځپل او كلكې سزاګانې يې وركړې، ترڅو دوى بيرته كفر ته وروګرځي او مرتد سي، نو د مكې مشركانو دا كركجن چلند او بدې كړنې په حرامو مياشتو كې د جنګ او جګړې نه هم ډيره لو يه ګناه وه، نو مومنانو ته ښايي چې كافران ښه په هوښيارۍ سره و پيژني او پدې ستر حقيقت تل پوه سي چې كافران هيڅ كله مومنانو سره د خپلې كينه كښې دښمنۍ نه لاس نه اخلي او تل به د هغوى سره دښمني كړي او جګړې به ورسره جاري ساتي، ترڅو وكولاى سي مومنان د خپل دين نه بيرته واړوي، او بيا دوى كافرانو پسې لاړ سي، لكه څنګه چې د دوى په دغسې دښمنۍ د بشر يت اوږد تار يخ ډك دئ او بيلګې ښې ډيرې دي، لكه د افغانستان مظلوم ولس ځپل چې دوه لو يو نړۍ والو امپراتور يو هغه دا تير څلو ېښت كاله كلك وځاپه.

او بيا الله تعالى په ور پسې مبارك آيت كې هغه مومنان ستايلي دي چې دوى د الله په لار كې هجرت او جهاد كړئ دئ، او فرمايلي دي:

[۲۱۸] او يقينا هغو كسانو چې ايمان راوړ، او هغو كسانو چې د الله په لار كې هجرت او جهاد وكه؛ دوى هغه څوك دي چې د الله رحمت ته طمعه لري او الله لوى بښونكئ او نښه مهر بان ذات دئ.

{د شرابو څکلو او د قمار وهلو ګناه د ګټې نه ډیره ده}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د مومنانو هغو پوښتنو ته ځواب و یلئ دئ چې د شرابو څکلو او د قمار وهلو په باره کې یې د رسول الله ﷺ نه تل پوښتنې کړې، او هم الله تعالی د دوی پوښتنې د یتیمانو سره د ښه چلند او د هغوی ښې روزنې سپارښت باندې ځواب کړې دي، او فرمایلي دي:

﴿۞ يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلْخَمْرِ وَٱلْمَيْسِرِ ۖ قُلْ فِيهِمَآ إِثْمٌ كَبِيرٌ وَمَنَٰفِعُ لِلنَّاسِ وَإِثْمُهُمَآ أَكْبَرُ مِن نَّفْعِهِمَا ۗ وَيَسْـَٔلُونَكَ مَاذَا يُنفِقُونَ ۖ قُلِ ٱلْعَفْوَ ۗ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمُ ٱلْـَٔايَٰتِ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُونَ ﴿٢١٩﴾ فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْـَٔاخِرَةِ ۗ وَيَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلْيَتَٰمَىٰ ۖ قُلْ إِصْلَاحٌ لَّهُمْ خَيْرٌ ۖ وَإِن تُخَالِطُوهُمْ فَإِخْوَٰنُكُمْ ۚ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ ٱلْمُفْسِدَ مِنَ ٱلْمُصْلِحِ ۚ وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ لَأَعْنَتَكُمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٢٢٠﴾﴾

[٢١٩-٢٢٠] ای پیغمبره! مومنان د ستا نه د شرابو څکلو او قمار وهلو حکم پوښتي چې آیا هغه روا دي او که ناروا؟ نو ته ای پیغمبره! [دوی ته په ځواب کې] ووایه: پدې دواړو کې لو یه ګناه ده، خو څه ګټه هم خلکو ته لري او ګناه یې د ګټې نه ډیره ده، او ای پیغمبره! مومنان د ستا نه پوښتي چې دوی څه شئ خیرات کړي؟ نو ته دوی ته ووایه: هرڅه چې د ستاسې نه ډیر سول هغه خیرات کړی، او ای مومنانو! الله د خپل دین حکمونه همداسې تاسې ته بیانوي، ترڅو تاسې پکې فکر وکړی او خپله ګټه او ز یان یا تاوان په دنیا او په آخرت کې ښه و پیژنی، او ای پیغمبره! مومنان ستا نه د یتیمانو په باره کې پوښتي [یعنی داچې هغوی سره څنګه چلند وکړي؟] نو ته دوی ته په ځواب کې ووایه: د یتیمانو اصلاح کول او لو یول په ښې روزنې سره؛ ښه کار دئ، او که تاسې د یتیمانو سره ګډ سوی، نو دوی د ستاسې دیني ورونه دي، نو د وروری حق یې پرځای کړی، او مفسد او مصلح کسان الله ښه پیژنی او پرې پوه دئ [یعنی دا

چې څوک يتيمان فاسدوي او حق يې خوري؟ او څوک يې اصلاح کوي او ورته ښه پاملرنه کړي او مال او ميراث يې ساتي؟] او که الله وغواړي نو بيا به تاسې ای خلکو! په سختۍ کې واچوي [يعنی د يتيمانو ګډيدل به د ستاسې سره حرام کړي او تاسې به بيا ډير په تکليف سی] او يقينا چې الله لوی ځواکمن، عز يز او حکيم ذات دئ، يعنی الله خپل ټول حکمونه په پوره ځواکمنۍ او په ښه تدبير او حکمت سره ترسره کوي.

درندو عزيزانو! د شرابو څکلو په حرامیدلو کې دري ځله د قرآن مبارك آيتونه را نازل سوي دي او په لمړي ځل کې الله تعالی فرمايلي دي: (لاتقر بوا الصلاة وأنتم سكارى) ای مومنانو! د شرابو څکلو مستۍ په وخت کې لمونځ مکړئ، او بيا يې په دو يم ځل کې پدې پورته بيان سوي مبارك آيت کې د شرابو څکلو ګناه ډيروالئ ياد کړئ دئ، او په در يم ځل کې بيا الله تعالی د المائدې په مبارکه سوره کې فرمايلي دي: (يا أيها الذين ءامنوا إنما الخمر والميسر والأنصاب والأزلام رجس من عمل الشيطان فاجتنبوه لعلكم تفلحون.الأية ٩٠) يقينا چې د شرابو څکل، قمار وهل او په غشو چک اچول؛ د شيطان کار دئ، نو ای مومنانو! تاسې ورڅخه کلکه ډ ډه وکړئ، ترڅو بر يا ته ورسيږئ، او په دغسې تدر يج سره د شرابو ورو ورو حرامیدلو عامل او سبب دا ؤ چې په څکلو يې خلک کلک رودي سوي ول، او ز يان او تاوان يې د ګټې په پرتله؛ ښه ډير ؤ، نو بيا ځکه هغه الله تعالي د تل لپاره حرام کړل.

{مومنانو ته د مشرکانو سره واده کړل روا ندي}

او په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالی مومنان د مشرکانو ښځو سره د وا ده نه منع کړي دي، او همداسې يې مومنې ميرمنې د مشرکانو سره وا ده نه منع کړې دي، او فرمايلي دي:

﴿وَلَا تَنكِحُواْ ٱلۡمُشۡرِكَٰتِ حَتَّىٰ يُؤۡمِنَّۚ وَلَأَمَةٞ مُّؤۡمِنَةٌ خَيۡرٞ مِّن مُّشۡرِكَةٖ وَلَوۡ أَعۡجَبَتۡكُمۡۗ وَلَا تُنكِحُواْ ٱلۡمُشۡرِكِينَ حَتَّىٰ يُؤۡمِنُواْۚ وَلَعَبۡدٞ مُّؤۡمِنٌ خَيۡرٞ مِّن مُّشۡرِكٖ وَلَوۡ أَعۡجَبَكُمۡۗ أُوْلَٰٓئِكَ يَدۡعُونَ إِلَى ٱلنَّارِۖ وَٱللَّهُ يَدۡعُوٓاْ

إِلَى ٱلْجَنَّةِ وَٱلْمَغْفِرَةِ بِإِذْنِهِۦ ۖ وَيُبَيِّنُ ءَايَٰتِهِۦ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٢٢١﴾

[٢٢١] ای مومنانو! او د مشرکو ښځو سره وا ده مکړئ، ترهغو چې دوی ایمان راوړي [یعنی هر کله چې مشرکې میرمني مسلمانې سوې، نو بیا ورسره وا ده وکړئ] او ای مومنانو! پدې پوه سئ چې یوه مومنه مینځه د یوې مشرکې ازادې ښځې نه ښه او غوره ده، که څه هم مشرکه ښځه د ستاسې خوښه سوه، او همدارنګه ای مومنانو! مومنې میرمني مشرکانو ته په نکاح مه ورکوئ، ترهغو چې مشرکان ایمان راوړي، او یو مومن مریې (غلام) د یوه آزاد مشرک نه ښه او غوره دئ، که څه هم ای مومنانو! ستاسې دا مشرک خوښ سه، او دا ځکه چې هغوی [یعنی مشرک نار ینه او مشرکه ښځه] د دوزخ اور ته رابلونکي دي، او الله په خپل حکم سره خلک جنت ته او د الله ښځنې ته رابولي او د خپلو حکمونو آیتونه خلکو ته بیانوي، ترڅو د الله نعمتونه، لو یتیا او عظمت د دوی را په یاد سي او ګټه ورڅخه واخلي.

{د حیض په وخت کې میرمني سره ملاسته روا نده}

قدرمنو مومنانو! او په ور پسې مبارک آیت کې الله تعالی د مومنانو پوښتنو په ځواب کې خپلو میرمنو او مینځو سره د حیض میاشتنۍ ناروغۍ په شپو او ورځو کې د کورداری حکم بیان کړئ، او فرمایلي دي:

﴿وَيَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلْمَحِيضِ ۖ قُلْ هُوَ أَذًى فَٱعْتَزِلُوا۟ ٱلنِّسَآءَ فِى ٱلْمَحِيضِ وَلَا تَقْرَبُوهُنَّ حَتَّىٰ يَطْهُرْنَ ۖ فَإِذَا تَطَهَّرْنَ فَأْتُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ أَمَرَكُمُ ٱللَّهُ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلتَّوَّٰبِينَ وَيُحِبُّ ٱلْمُتَطَهِّرِينَ ﴿٢٢٢﴾ نِسَآؤُكُمْ حَرْثٌ لَّكُمْ فَأْتُوا۟ حَرْثَكُمْ أَنَّىٰ شِئْتُمْ ۖ وَقَدِّمُوا۟ لِأَنفُسِكُمْ ۚ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّكُم مُّلَٰقُوهُ ۗ وَبَشِّرِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٢٢٣﴾﴾

[٢٢٢-٢٢٣] ای پیغمبره! او مومنان د ستا نه د حیض په ورځو کې د خپلو میرمنو سره د ملاستې حکم پوښتي؟ نو ته ای پیغمبره! [مومنانو ته د دوی پوښتنو په ځواب کې] ووایه: د حیض و ینه ز یان رسوونکې و ینه

ده، نو د حيض په ورځو کې خپلو ميرمنو سره مه ځملئ او کورداري ورسره مکړئ، ترڅو چې دوی پاکې سي، او کله چې پاکې سوې او د حيض و ينه يې وچه سوه، نو بيا ورسره ځملئ، خو د هغې لارې نه ورسره کورداري وکړئ چې الله درته امر کړئ دئ [يعنی د فرج لاری نه] او يقينا چې تو به و يستونکي بنده ګان پر الله ګران دي، او نور هغه کسان پر الله ګران دي چې خپل ځانونه ښه سُتره کوي او پاکوي يې، او ای مومنانو! پدې پوه سئ چې د ستاسې ښځې ستاسې د کرهنې پټئ دئ چې پکې کښت کړئ، نو خپل پټئ چې څنګه د ستاسې خوښه وه هغسې وکړئ [يعنی څنګه چې د ستاسې خوښه وه؛ هغسې ورسره ځملئ، د مخې نه او يا د شانه] او د آخرت ورځې ګټو لپاره خپلو ځانو ته په دنيا کې ښه وکړئ او د الله عذاب نه په اطاعت سره ځانونه وساتئ، او ای مومنانو! پدې پوه سئ چې تاسې د الله سره د قيامت په ورځ يوځای کيږئ، او بيا د خپلو ټولو کړنو حساب ورکوئ، او ته ای پيغمبره! مومنانو ته د دوی د ښو کړنو او د عبادتونو ثواب ز يرئ ورکړه، يعنی دا چې الله خپلو مومنو بنده ګانو ته د دوی د ښه عمل او د بنده ګی ثواب ورکوي.

ګرانو دوستانو! دا يادونه دلته د پام وړ ده چې حيض د هرې ښځې مياشتنئ عادت دئ او پکې د هغې رحم نه هغه و ينه بهيږي چې هغه الله تعالی په رحم کې راغونډوي، ترڅو د بلاربې ښځې د ماشوم خواړه وي، او د بلار بتوب نه پرته بيا دا و ينه هره مياشت د رحم نه لرې کيږي.

{د لوړې حکمو نه او د الله تعالی نامه درناوئ او تعظيم}

الله تعالی په ور پسې مبارکو آيتونو کې مومنان د خلکو په منځ کې خير غوښتنې او روغې جوړې ته هڅه ولي دي، او په بيان کې يې فرمايلي دي:

﴿وَلَا تَجۡعَلُواْ ٱللَّهَ عُرۡضَةٗ لِّأَيۡمَٰنِكُمۡ أَن تَبَرُّواْ وَتَتَّقُواْ وَتُصۡلِحُواْ بَيۡنَ ٱلنَّاسِۚ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٞ ٢٢٤ لَّا يُؤَاخِذُكُمُ ٱللَّهُ بِٱللَّغۡوِ فِيٓ أَيۡمَٰنِكُمۡ وَلَٰكِن يُؤَاخِذُكُم بِمَا كَسَبَتۡ قُلُوبُكُمۡۗ وَٱللَّهُ غَفُورٌ حَلِيمٞ ٢٢٥﴾

[٢٢٤] ای مومنانو! او د الله نوم د خپلو لوړو د مخنیوي لپاره پلمه مه کړئ [یعني د خپلو هوکړو د مخنیوي لپاره د الله په نامه لوړه مکړئ او قسمونه مخوری، چې تاسې به نور تقوا او ښه نکړئ او د خلکو په منځ کې به خیر نه غواړئ او د دوی روغه جوړه به نکړئ] ځکه الله ډیر ښه اور یدونکې او ښه پوه ذات دئ، یعنی الله د ستاسې خبرې اوري او په زړونو باندې مو پوهیږي، نو بیا هرچا ته د هغه لائق ثواب او سزا ورکوي.

قدرمنو عز یزانو! دا مبارك آیت هغو کسانو ته متوجه دئ او دوی یې مخاطب دي چې کله د دوی نه په ټولنه کې د خیر او د خلکو په منځ کې د روغې جوړې او د صلحې غوښتنه وسي، نو بیا دوی وایي: مونږ د الله په نامه لوړه کړی ده چې نور به د دغو کسانو په منځ کې صلحه ونکړو او دوی به سره جوړ نکړو، ځکه دوی د چا خبره نه مني، نو الله تعالی پدې مبارك آیت کې د دغسې جرګه مارو کسانو پام دې ته را اړولئ دئ چې نه ښایي دغسې کسان د خلکو په منځ کې د خیر غوښتنی او د صلحې مخنیوي لپاره قسمونه وخوري او د الله نوم پکې یاد کړي، او که چیرې چا قسم هم خوړلئ وي او لوړه یې کړی وي چې دئ به نور د خلکو په منځ کې روغې جوړې نکړي، نو هغه ته ښایي چې خپل قسم مات کړي او کفاره یې ورکړي او بیا ښه کړنو او روغو جوړو ته په ټولنه کې؛ کلکه ملا وتړی او د خلکو په منځ کې خیر وغواړي.

او بیا په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی مومنانو ته ډاډ ورکړئ دئ چې الله خوسې د خولې په قسمونو او لوړو باندې تاسې نه نیسي، لکه داچې څوک ووایي: والله، بالله او تا الله چې دا کار او هغه کار داسې وه، او بیا یې مومنانو ته په لارښودنې سره فرمایلي دي:

[٢٢٥] ای مومنانو! او الله تاسې خوسې د خولې پر قسمونو چې پرته له قصده وي؛ نه نیسي، خو د زړونو په کړنو بیا تاسې نیسي [یعنی که یو څوک د ګناه کړو قصد وکړي، نو بیا یې الله تعالی کلک رانیسي] او الله لوی بښونکې او ښه کلک حلیم او زغمونکئ ذات دئ، یعنی الله تعالی هیڅ

کله خپلو بنده ګانو پر وړاندې نه يې حوصـيلې کيږي، نوکه بيا ځوک د ګناه کړنو نه وروسـته الله تعالی ته وروګرځي او تو به و باسـي؛ الله ډډ بښي او سزا نه ورکوي او ورځخه تيريږي.

{د ايلاء حکم او د ميړنو حق خپلو ميړو سره په ملاسته کې}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې مونږ ته الله تعالی د کورنۍ ژوند اړوند مسـئلې، لکه د ايلاء حکم چې معنا يې ميړنې سـره د ميړه نه ملاسـتی لوړه ده، او بيايې د ښځې حق په طلاق کې بيان کړئ ډډ، او فرمايلي دي:

﴿لِّلَّذِينَ يُؤْلُونَ مِن نِّسَآئِهِمْ تَرَبُّصُ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ ۖ فَإِن فَآءُو فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٢٢٦﴾ وَإِنْ عَزَمُوا۟ ٱلطَّلَٰقَ فَإِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٢٧﴾﴾

[٢٢٦-٢٢٧] هغو کسـانو ته چې د خپلو ميړنو سـره يې د نه ملاسـتې لوړه کړې ده؛ څلور مياشتې د تميدو او انتظار فرصت حق ډډ، نو که بيا دوی د دغو څلورو ميـاشـــتو تيريـدو نـه وړانـدې خپلې لوړې نـه بيرتـه راوګرځيدل، نو الله لوی بښـونکې او ښـه مهر بان ذات ډډ [يعنی پر هغه ميړه چې لوړه يې کړې ده؛ څه ګناه نسته او ډډ الله بښي] او که بيا دوی د طلاق او بيلتون پر يکړه وکړه، نو الله ښـه اور يدونکې او ښـه پوه ذات ډډ، يعنی د دوی د خولو خبرې اوري او د زړونو په مقصد يې ښه پوهيږي، نو که ميړه بيا د طلاق او بيلتون اراده وکړه، نو ښځه يې ورځخه د طلاق اخسـتلو حق لري، او د دغسې طلاق فقهي نوم (ايلاء) ډډ او حکمونه يې د فقه په کتابونو کې زمونږ فقهاوو په تفصيل سره ښه روښانه بيان کړي او مونږ ته يې وړاندې کړي دي.

{د طلاق عدت شمير او آداب او د الله حدودو ساتنه}

او په ور پســې مبارکو آيتونو کې الله تعالی د طلاق اړوند حکمونه او آداب مونږ ته ياد کړي او بيان دي، او په پيل کې يې د طلاق ســوو ميړنو عدت نيټه ټاکلې ده، او فرمايلي دي:

﴿وَٱلْمُطَلَّقَٰتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ ثَلَٰثَةَ قُرُوٓءٍ ۚ وَلَا يَحِلُّ لَهُنَّ أَن يَكْتُمْنَ مَا خَلَقَ ٱللَّهُ فِىٓ أَرْحَامِهِنَّ إِن كُنَّ يُؤْمِنَّ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ ۚ وَبُعُولَتُهُنَّ أَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ فِى ذَٰلِكَ إِنْ أَرَادُوٓا۟ إِصْلَٰحًا ۚ وَلَهُنَّ مِثْلُ ٱلَّذِى عَلَيْهِنَّ بِٱلْمَعْرُوفِ ۚ وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ ۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٢٢٨﴾ ٱلطَّلَٰقُ مَرَّتَانِ ۖ فَإِمْسَاكٌۢ بِمَعْرُوفٍ أَوْ تَسْرِيحٌۢ بِإِحْسَٰنٍ ۗ وَلَا يَحِلُّ لَكُمْ أَن تَأْخُذُوا۟ مِمَّآ ءَاتَيْتُمُوهُنَّ شَيْـًٔا إِلَّآ أَن يَخَافَآ أَلَّا يُقِيمَا حُدُودَ ٱللَّهِ ۖ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا يُقِيمَا حُدُودَ ٱللَّهِ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا فِيمَا ٱفْتَدَتْ بِهِۦ ۗ تِلْكَ حُدُودُ ٱللَّهِ فَلَا تَعْتَدُوهَا ۚ وَمَن يَتَعَدَّ حُدُودَ ٱللَّهِ فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٢٢٩﴾﴾

[٢٢٨] او طلاق ســوې میرمنې ده درې حیضــه په کور کیني او انتظار ده و باسي [یعنی ځانونه ده د بل میړه کړو نه وساتي، ځکه دا درې حیضه چې ټول درې میاشــتې کیږي؛ د دوی عدت دئ] او دغو طلاق ســوو ښځو ته که چیرې دوی پر الله او د آخرت پر ورځ ایمان لري؛ روا نده چې خپل هغه حمل (ماشــوم یا اوشــتوک) پټ کړي چې هغه د دوی په کیډو او نسونو کې الله پیدا کړئ دئ، او که دوی دواړه (میړه او ښځه) روغه جوړه غواړي، نو بیا د دغو مطلقه ښځو په بیرته را ګرځولو کې د دوی میړونه د بل هرچا نه ورته وړلاندې دي او رجوع کړل د دوی حق دئ، او دغه طلاق ســوې ښځې پر خپلو میړو باندې د دود سره سم هغسې حقوق لري، لکه ځنګه چې میړونه پر دوی حق لري، او د نار ینه یا د میړه مقام پر ښــځه باندې لوړ دئ [یعنی داچې نار ینه د کور مشــر دئ او طلاق د هغه په واک کې دئ] او الله لوی ځواکمن او د ښــه حکمت څښــتن دئ، یعنی هرڅه د الله په واک او اختیار کې دي او څه چې الله وغواړي هغه په پوره ځواکمنۍ او په حکمت سره کړلای سي او ترسره کوي یې.

او بیا په ور پســې مبارک آیت کې الله تعالی د طلاق شــمیر او ځانګړې پولې او حکمونه مونږ ته بیان کړي دي، او فرمایلي دي:

[٢٢٩] او ای مومنانو! طلاق دوه ځله دئ، او بیا به د دود ســره ســم

ميړه خپله ښځه ساتي، او يا بې په ښه بڼه خوسې کوي، او ای مومنانو! تاسې ته روا نده چې د هغه مال نه چې هغه تاسې خپلو ښځو ته په مهر (ولور) کې ورکړئ دئ؛ د هغه نه څه برخه بيرته واخلئ، خو که دوی دواړه (ميړه او ښځه) د دې نه و يره لري چې دوی به د الله حدود پرځای نکړي، نو بيا پر دوی باندې څه ګناه نسته چې ښځه خپل ميړه ته د طلاق په بيعه کې څه فد يه ورکړي [يعنی خُلعه وکړي او د فدی يې په ورکولو سره خپل طلاق واخلي] او ای مومنانو! دا حکمونه ټول د الله حدود او پولې دي، نو تاسې ور باندې تيرئ ونکړئ، او هرهغه څوک چې د الله پر حدودو او حکمونو باندې تيرئ کړي؛ هغوی ظالمان دي او پر خپلو ځانو يې تيرئ کړئ دئ، يعنی د الله سزا وړ کرځيدلي دي، نو الله به دوی ته سزا ورکړي.

{در يم طلاق ښځه پر ميړه باندې حراموي}

او په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالی د در يم ځل طلاق حکم چې بيا نوره ميرمن پر ميړه حراميږي؛ بيان کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿فَإِن طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُۥ مِنۢ بَعۡدُ حَتَّىٰ تَنكِحَ زَوۡجًا غَيۡرَهُۥۗ فَإِن طَلَّقَهَا فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡهِمَآ أَن يَتَرَاجَعَآ إِن ظَنَّآ أَن يُقِيمَا حُدُودَ ٱللَّهِۗ وَتِلۡكَ حُدُودُ ٱللَّهِ يُبَيِّنُهَا لِقَوۡمٖ يَعۡلَمُونَ ٢٣٠﴾

[٢٣٠] نو که بيا ميړه د در يم ځل لپاره خپله ښځه طلاق کړه، نو بيا دا ښځه له هغې وروسته ورته نه حلاليږي، ترڅو چې بل ميړه وکړي، خو که د هغې بل ميړه هم هغه طلاق کړه، نو بيا پر دوی دواړو باندې څه ګناه نسته چې بيرته يو بل ته رجوع وکړي [يعنی لمړئ ميړه ورسره نوې نکاح وترې] خو پدی شرط چې دوی دواړه ميړه او ارتينه پدی باور وي چې نور به د الله حدود او حکمونه د ښځې او ميړه په منځ کې پرځای کوي او ساتنه بې کړي، او د الله د دين دا پولې او حدود د ميړه او ارتينې په منځ کې هغو کسانو لپاره دي چې دوی د الله پر حکمونو پوهيږي او ور باندې ولاړ دي او عمل پرې کړي.

قدرمنو دوستانو! دلته د حلالې په نامه نکاح یادونه د پام وړ ده، او هغه دا چې ځینې خلک د ډیرې ناپوهۍ نه خپلې ښځې په درې ځله طلاق اچولو سره طلاقوي، خو بیا ژر پښیمانه کیږي، نو بیا دغه مطلقه ښځه ځې د حلالې په نامه بل چا سره پدې شرط وا ده کړي چې د یوځل ملاستې نه وروسته یې بیرته طلاق کړي، ترڅو خپل لمړي میړه ته حلاله او روا سي او بیرته وروګرځي، او پر دغسې نکاح کونکو باندې رسول الله ﷺ کلک لعنت و یلئ دئ، نو ښایي چې مومنان د دغسې حیلو او پلمو نه ځانونه کلک وساتي، ترڅو د لعنت سزا لاندې را نسي.

{په طلاق کې د میړه واک او مسئولیتونه}

قدرمنو ورونو او خو یندو! او په ور پسې مبارکو آیتونو کې چې د (٢٣١) آیت نه پیل او په (٢٣٧) آیت پای ته رسیږي؛ الله تعالى د هغو نه وړاندې مبارکو آیتونو غوندې د کورنۍ ژوند؛ نورې ډیرې مسئلې، لکه طلاق، عدت، ماشوم ته د مور شودو ورکول او نور اړوند حقونه او شرعي حکمونه او آداب؛ بیان کړی دي، او په پیل کې یې پر میړو غږ کړئ دئ فرمایلي دي:

﴿وَإِذَا طَلَّقْتُمُ ٱلنِّسَآءَ فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَأَمْسِكُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ أَوْ سَرِّحُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ ۚ وَلَا تُمْسِكُوهُنَّ ضِرَارًا لِّتَعْتَدُوا۟ ۚ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهُۥ ۚ وَلَا تَتَّخِذُوٓا۟ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ هُزُوًا ۚ وَٱذْكُرُوا۟ نِعْمَتَ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ وَمَآ أَنزَلَ عَلَيْكُم مِّنَ ٱلْكِتَٰبِ وَٱلْحِكْمَةِ يَعِظُكُم بِهِۦ ۚ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ ﴿٢٣١﴾﴾

[٢٣١] ای مومنانو! او کله چې تاسې خپلې ښځې طلاق کړې او بیا یې عدت پوره سه او خپل تاکل سوي وخت ته پکې ورسیدلې، نو بیا دوی د دود سره سم وساتئ [یعنی په نوې نکاح سره ورته رجوع وکړئ او خپل کورنۍ ژوند ته همداسې دوام ورکړئ، او که د رجوع او بیرته ورګرځیدلو نیت او اراده درسره نوه، نو بیا یې د عدت پوره کیدو نه وروسته د دود او

رواج سره سمې خوسې کړې] او د زورولو په مقصد يې بيرته مه راګرځوې[يعني دا چې په ښکاره د طلاق نه رجوع او نوې نکاح وي، خو په زړوونو کې غواړې دوی وزوروی] او څوک چې دا کار وکړي او خپلې مطلقه ښځې وزوروي، نو دوی پر خپلو ځانو ظلم کړئ دئ او ځانونه يې د الله سزا مستحق ګرځولي دي، نو ای مومنانو! د الله کتاب پر آيتونو او حکمونو باندې ملنډې مه وهئ او سپکاوئ يې مکړئ، او د الله نعمتونه او پيرزو يې پر خپلو ځانو باندې تل را په ياد کړئ، او د قرآن هغه آيتونه او دليلونه چې پر تاسې رانازل سوي دي؛ هغه تاسې ته نصيحت او سپارښت دئ، او د الله سزا نه وو ير يرئ، او په اطاعت کړو سره يې د عذاب نه ځانو نه کلک وساتئ، او پدې پوه سئ چې الله يقينا په هر څه ښه پوهيږي [يعنی پر تاسې باندې ای مومنانو! الله تعالی اسلام او د هغه حکمونه، لارښودنې او نعمتونه پيرزو کړي دي، او قرآن يې درته رانازل کړئ دئ چې بيا د هغه آآيتونه پيغمبرﷺ درته شرح کړي دي، ترڅو هغه تاسې ته ښه موعظه او کلک سپارښت وي، او تاسې د الله نه وو يروي، او په کورني ژوند کې د ستاسې پام خپلو مسؤليتونو او دندو ته راواړوي او سمه لار دروښيي] نو ای مومنانو! د الله عذاب او سزا نه خپل ځانونه د الله حکمونو په عملي کولو سره وساتئ، او پوه سئ چې الله په هر څه علم لري، او هر چا ته د هغه عمل سره سم ثواب او سزا ورکوي.

{د مطلقه ښځو منعي کول ميړو ته د ورګرځيدلونه روا ندي}

ګرانو دوستانو! او په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالی د ښځو خپلوانو واکمنانو ته سپارښت کړئ دئ چې د طلاق سوو ښځو مخه ده نه نيسي ترڅو بيرته خپلو ميړو سره نوئ وا ده يا نکاح وکړي، او فرمايلي دي:

﴿وَإِذَا طَلَّقْتُمُ ٱلنِّسَآءَ فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلَا تَعْضُلُوهُنَّ أَن يَنكِحْنَ أَزْوَٰجَهُنَّ إِذَا تَرَٰضَوْا۟ بَيْنَهُم بِٱلْمَعْرُوفِ ۗ ذَٰلِكَ يُوعَظُ بِهِۦ مَن كَانَ مِنكُمْ يُؤْمِنُ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ ۗ ذَٰلِكُمْ أَزْكَىٰ لَكُمْ وَأَطْهَرُ ۚ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿٢٣٢﴾﴾

[٢٣٢] ای مومنانو! او کله چې تاسې خپلې ښځې طلاق کړئ او بيا دوی

خپلې ټاکل سوې نيټې او وخت ته چې عدت دئ ورسيدلې [يعنى عدت يې پوره سه] نو بيا تاسې اى د دغو طلاق سوو ښځو واکمنانو! دغه ښځې بيرته خپلو پخوانيو ميړو سره د نوي واده او نکاح نه چې د دود سره سم د دواړو په خوښه ترسره کيږي؛ مه منعې کوي [يعنى مخنيوئ مکړئ او دوى پيربردى چې په خپله خوښه بيرته سره يوځاى سي] او دا لارښودنې اى خلکو! هغه چا ته وعظ او خير غوښتنه ده چې دوى پر الله او د آخرت پر ورځ ايمان لري، او په هغه ورځ د الله ثواب ته په طمعه وي او د سزا نه يې و ير يرى، او دا کار اى مومنانو! د ستاسې زړونه د کينو او کرکونه پاکوي، او الله پوهيږي چې پدې کې تاسې ته خير او ګټه ده، خو تاسې نه پوهيږئ! يعنى د الله تعالى لارښودنو پټو ګټو ته د ستاسې پام ندئ.

درندو عز يزانو! يقينا چې دغسى قرآني لارښودنې کورنئ ژوند ښه غښتلئ کوي او د هر ډول ټوټه کيدو مخه يې نيسي، ځکه د وا ده نه مقصد د کورنى جوړول دي، نو بيا د کورنى ساتل پر ميړه او ارتينه دواړو باندې په ګډه سره فرض دي.

{ماشوم حق لري چې پوره دوه کاله د مور ټئ وخوري}

او په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالى ماشوم ته د مور شودو ورکولو وخت او نيټه او څه نورې مسئلې بيان کړې دي، او فرمايلي دي:

﴿*وَٱلۡوَٰلِدَٰتُ يُرۡضِعۡنَ أَوۡلَٰدَهُنَّ حَوۡلَيۡنِ كَامِلَيۡنِۖ لِمَنۡ أَرَادَ أَن يُتِمَّ ٱلرَّضَاعَةَۚ وَعَلَى ٱلۡمَوۡلُودِ لَهُۥ رِزۡقُهُنَّ وَكِسۡوَتُهُنَّ بِٱلۡمَعۡرُوفِۚ لَا تُكَلَّفُ نَفۡسٌ إِلَّا وُسۡعَهَاۚ لَا تُضَآرَّ وَٰلِدَةُۢ بِوَلَدِهَا وَلَا مَوۡلُودٞ لَّهُۥ بِوَلَدِهِۦۚ وَعَلَى ٱلۡوَارِثِ مِثۡلُ ذَٰلِكَۗ فَإِنۡ أَرَادَا فِصَالًا عَن تَرَاضٖ مِّنۡهُمَا وَتَشَاوُرٖ فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡهِمَاۗ وَإِنۡ أَرَدتُّمۡ أَن تَسۡتَرۡضِعُوٓاْ أَوۡلَٰدَكُمۡ فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡكُمۡ إِذَا سَلَّمۡتُم مَّآ ءَاتَيۡتُم بِٱلۡمَعۡرُوفِۗ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ٢٣٣﴾

[۲۳۳] هو! مېندې خپل ماشـــوم ته پوره دوه کاله ټئ ورکوي، او دا د هغه چا لپاره چې غواړي ماشوم ته د مور شودو رودلو وخت پوره سي، نو دغسې مېندې که طلاق سوې وي، خو بيا هم دوی خپل ماشوم ته ټئ ورکا وه، نو د دوی خواړه، څښـاک او جامې د دود سـره سـم د ماشـوم پر پلار باندې فرض دي، او هيڅ څوک د خپلې وســعې نه په ډير څه نه ګمارل کيږي، او د ماشـوم مور او پلار ته ښـايي چې يو بل د ماشـوم پر سـر ونه زَوروي، او که چيرې د دې ماشـوم پلار مړ سـه، نو بيا يې پر وارث باندې همدا حق واجب دئ [يعنی د ماشـــوم مور نفقه پر هغه لازمه ده] او که چيرې مور او پلار د يو بل سره په خوښه او مشوره د مور تي نه د ماشوم بيلولو پر يکړه وکړه، نو بيا پر دوی دواړو باندې په بيلتون کې څه ګناه نسته، او همدارنګه که تاسې ای مومنانو! وغواړئ چې د ستاسې ماشوم ته کمه بله ښځه شودې ورکړي، نو پروا نلري او پر تاسې څه ګناه نسته، خو پدې شرط چې د ماشوم پلار دغې بلې ښځې ته د شودو بيعه د دود يا رواج سره سم ورکړي، نو ای مومنانو! د الله نه وو ير يږئ او د عذاب او سزا نه يې خپل ځانونه کلک وساتئ، او پدې پوه سئ چې الله د ستاسې پر کړنو کلک بينا دئ، يعنی هر څه الله تعالی ښه و يې او بيا هرچا ته د هغه ښه عمل ثواب او د بد عمل سزا ورکوي.

{د ميړو په مړ ينه د کونډو عدت څلور مياشتې او لس ورځې دئ}

او په ور پسې مبارك آيت کې د هغو کونډو ښځو چې ميړونه يې مړه سوي دي د عدت حکم او نيته او بيا بل ميړه سـره د وا ده مسـئلې او حکمونه مونږ ته الله تعالی بيان کړي دي، او فرمايلي دي:

﴿وَٱلَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَٰجًا يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا ۖ فَإِذَا بَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا فَعَلْنَ فِىٓ أَنفُسِهِنَّ بِٱلْمَعْرُوفِ ۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿٢٣٤﴾﴾

[۲۳٤] او هغه کسـان چې سـتاسـې نه ای مومنانو! مري او ښـځې يې کونډيږي، نو پر دغو کونډو ښـځو باندې لازمه ده چې څلور مياشـتې او

لس ورځې انتظار و باسی او خپل عدت تیر کړي، نو بیا چې کله دوی خپل وخت ته ورسیدلې او عدت یې پوره سه، نو بیا پر دوی باندې څه ګناه نسته چې د خپلو ځانو په باره کې د دود سره سم څه وکړي، یعنی دا چې ورته روا ده د میړو کورونو نه ووځي او خپلو خپلوانو کره لاړې سي، او هم ورته رورا ده چې ښایسته جامې واغوندي او ځان سینګار کړي او بیا بل میړه وکړي، او ای مومنانو! الله د ستاسې ښکاره او پټو ټولو کړنو نه خبر دئ، یعنی الله هرچا سره د هغه لائق چلند کړي، نو څوک چې ښه کړې ښه به و یې او څوک چې بد کړي بد به ګالي.

{د کونډو ښځو ربارې په عدت کې په کنایو سره روا ده}

او په ور پسې مبارك آیت کې مومنانو ته الله تعالی لارښودنه کړي ده چې د کونډو میرمنو ر یبارې ورته د عدت په شپو او ورځو کې په کنایې الفاظو سره روا ده، او فرمایلي دي:

﴿وَلَا جُنَاحَ عَلَيۡكُمۡ فِيمَا عَرَّضۡتُم بِهِۦ مِنۡ خِطۡبَةِ ٱلنِّسَآءِ أَوۡ أَكۡنَنتُمۡ فِيٓ أَنفُسِكُمۡۚ عَلِمَ ٱللَّهُ أَنَّكُمۡ سَتَذۡكُرُونَهُنَّ وَلَٰكِن لَّا تُوَاعِدُوهُنَّ سِرًّا إِلَّآ أَن تَقُولُواْ قَوۡلٗا مَّعۡرُوفٗاۚ وَلَا تَعۡزِمُواْ عُقۡدَةَ ٱلنِّكَاحِ حَتَّىٰ يَبۡلُغَ ٱلۡكِتَٰبُ أَجَلَهُۥۚ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ مَا فِيٓ أَنفُسِكُمۡ فَٱحۡذَرُوهُۚ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ حَلِيمٞ ٢٣٥﴾

[۲۳۵] ای مومنانو! او پر تاسې باندې څه ګناه نسته چې د کونډو میرمنو ر یبارې په اشارو او کنایو سره وکړی او یا دا چې واده کړل ورسره په زړونو کې وکړځوی، ځکه الله پدې پوه سه چې تاسې دغه ښځې چې دوی خپل عدتونه تیروي په خپلو مجلسونو کې یو بل سره یادوی، یعنی د دوی سره د وا ده کړو طمعه لری، نو دغسی یادونه په کنایې خبرو او الفاظو سره تاسې ته روا ده، خو پټې وعدې به ورسره نکړی، مګر دا چې یوازې د دودیځو خبرو سره سم څه ووایې او دغسې خبرې بیا څه پروا نکړي، خو د نکاح ټړلو قصد ورسره مکړی، ترڅو د دوی د عدت نیټه

پوره سي، او ای خلکو! پدې پوه سی چې د ستاسې په زړونو کې چې څه شئ ګرځي؛ الله پرې پوهیږي، نو پام کړی او د الله نه وو یر یږی او هم پوه سی چې یقینا الله لوی ښونکې او ښه حلیم (حوصیله ناک) ذات دئ، یعنی هر هغه څوک چې د خپلې ګناه نه تو به و باسي الله پې بښي او ورته حوصیله کړي او زنډوي پې، ترڅو تو به و باسي او په آخرت کې د الله سزا نه خلاص سي.

{طلاق سوو میرمنو ته ډالی ورکول د دوی حق دئ}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی هغو میرمنو ته چې خپل میړه سره د ملاستې نه مخکې طلاق سي او مهر یا ولور پې نه پې ټاکل سوئ د ډالی ورکولو سپارښت کړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿لَّا جُنَاحَ عَلَيۡكُمۡ إِن طَلَّقۡتُمُ ٱلنِّسَآءَ مَا لَمۡ تَمَسُّوهُنَّ أَوۡ تَفۡرِضُواْ لَهُنَّ فَرِيضَةٗ وَمَتِّعُوهُنَّ عَلَى ٱلۡمُوسِعِ قَدَرُهُۥ وَعَلَى ٱلۡمُقۡتِرِ قَدَرُهُۥ مَتَٰعَۢا بِٱلۡمَعۡرُوفِ حَقًّا عَلَى ٱلۡمُحۡسِنِينَ ٢٣٦ وَإِن طَلَّقۡتُمُوهُنَّ مِن قَبۡلِ أَن تَمَسُّوهُنَّ وَقَدۡ فَرَضۡتُمۡ لَهُنَّ فَرِيضَةٗ فَنِصۡفُ مَا فَرَضۡتُمۡ إِلَّآ أَن يَعۡفُونَ أَوۡ يَعۡفُوَاْ ٱلَّذِي بِيَدِهِۦ عُقۡدَةُ ٱلنِّكَاحِۚ وَأَن تَعۡفُوٓاْ أَقۡرَبُ لِلتَّقۡوَىٰۚ وَلَا تَنسَوُاْ ٱلۡفَضۡلَ بَيۡنَكُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ٢٣٧﴾

[۲۳٦] ای مومنانو! پر تاسې څه ګناه نسته چې خپلې هغه نکاح سوې ښځې طلاق کړی چې لا ورسره ملاست نه یاستی او مهر پې ندئ ټاکل سوئ [نو که بیا چیرې تاسې دوی همداسې طلاق کړی، نو مهر پر تاسې فرض ندئ، خو دوی ته د دود او د خپلې وسعې سره سم څه نغد یا جنس ډالی ورکړی، ترڅو د دوی زړونه ور باندې تسلیت بیاموي] هو! هر څوک ده د خپلې وسعې سره سم ډالی ورکړي، او څوک چې ډیر مال او دولت لري ښایي چې هغه ډیر څه ورکړي او څوک چې لږ مال لري؛ هغه ده لږ ورکړي، او دا متعه طلاق سوو میرمنو ته پر هغو میړو باندې چې دوی د ښو کړنو

څښتن دي؛ حق ده، یعنی دا ډالۍ پر دوی باندې فرض ده، نو ښایي چې په خوښۍ سره یې ورکړي.

[۲۳۷] ای مومنانو! او که تاسې خپلې هغه ښځې او میرمنې چې مهر مو ورته ټاکلئ وه؛ مخکې له هغې چې ورسره څملې طلاق کړئ، نو بیا ده ټاکل ســوي مهر نه نیمایي مهر ورکړئ، مګر دا چې دغه میرمنې او یا د دوی واکمن خپلوان د مهر نه تیر سي او هغه تاسې ته و ښـي، او ای میړو او میرمنو! که تاسې یو بل ته عفوه وکړئ، نو دا عفوه او د یو بل نه تیریدل تقوا ده [یعنی د الله عذاب نه ځان ساتنه ده، او هغه ځان ساتنی ته لنډ او ښــه کار دئ] او ای میړو او میرمنو! تاســې په خپلو منځو کې د یو بل سره پخوانۍ ښیګڼې هیرې نکړئ، او یقینا چې الله د ستاسې پر ټولو کړنو بینا دئ، یعنی الله تعالی هرڅه و یې، نو ځکه تاسې ته یو بل سره د ښـو کړنو او د احسان بلنه درکوي او کلک سپارښت ور باندې کړي.

قدرمنو وروڼو او خویندو! دا وې د الله تعالی هغه قرآني لارښودني چې هغه یې د کورنۍ ژوند په باره کې مونږ ته بیان کړې دي، نو پر هر مسلمان لازمه ده چې پر دغو اسماني لارښودنو عمل وکړي، ترڅو یې په خپل ژوند کې خوشــالي او روحي اطمئنان او ډاډ په برخه ســي، او همدارنګه دا لارښــودنې د الله تعالی ځلاندو حکمونو او د ښـځو حقوقو په باره کې د اسلام انساني درې ښه روښانه انځور څرګندوي، او هغه همدارنګه ټول بشر یت ته ښه ښکاره لارښود پیغام دئ!

{د لمانځه پر درولو سپارښت او د و یرې لمانځه څرنګوالي بیان}

او په ور پســې مبارکو آیتونو کې الله تعالی مومنان د لمنځونو درولو ساتنې ته په خپلو وختونو کې په ټینګار سره رابللي دي، او بیا یې د خوف او و یرې لمانځه څرنګوالي مونږ ته بیان کړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿حَٰفِظُواْ عَلَى ٱلصَّلَوَٰتِ وَٱلصَّلَوٰةِ ٱلۡوُسۡطَىٰ وَقُومُواْ لِلَّهِ قَٰنِتِينَ ٢٣٨ فَإِنۡ

خِفْتُمْ فَرِجَالًا أَوْ رُكْبَانًا ۖ فَإِذَآ أَمِنتُمْ فَٱذْكُرُوا۟ ٱللَّهَ كَمَا عَلَّمَكُم مَّا لَمْ تَكُونُوا۟ تَعْلَمُونَ ﴿٢٣٩﴾

[٢٣٨] ای مومنانو! تاسې د فرضي لمنځونو او په ځانګړې ډول د منځني لمانځه ساتنه وکړئ او الله ته په تواضع او زارئ سره ودر یږئ، یعنی ای مومنانو! خپل ټول لمنځونه په خپلو ټاکل شوو وختونو کې ادا کړئ او منځني لمانځه ته کلک پام وکړئ!

روایت سوئ دئ چې د منځني لمانځه نه مقصد د مازدیګر لمونځ دئ.

او په ور پسې مبارك آیت کې د خوف یا و یرې لمانځه څرنګوالئ بیان سوئ دئ او پکې الله تعالی فرمایلي دي:

[٢٣٩] نو ای مومنانو! که کله تاسې د دښمن ناڅاپه بر ید نه په ډار او و یره کې سوئ، نو بیا د خوف او و یرې په وخت کې خپل لمنځونه د پلي تګ په حال کې او یا د سپرلئ په حال کې وکړئ [یعنی دا چې فرضي لمنځونه د خپلو ټاکل سوو وختونو نه مه زندوئ او څرنګه چې د ستاسې وسعه کیده، سپاره یا پلي خپل لمنځونه وکړئ] او بیا چې کله تاسې په ډاډ کې سوئ او د دښمن نه مو و یره لرې سوه، نو بیا الله هغسی یاد کړئ، لکه څنګه چې یې لمونځ کړل تاسې ته درښودلي دي او پخوا تاسې ور باندې نه پوهیدلئ، یعنی د امن او د ډاډ په حال کې خپل لمنځونه هغسې وکړئ، لکه څرنګه چې الله تعالی درښودلي دي، او ټول ځانګړي ارکان او شرطونه یې، لکه قیام، رکوع، سجده او پکې طمانینه او ارامښت په قومه او جلسه کې؛ ښه پرځای کړئ، نه لکه مرغان چې ټونګړې وهي!

درندو لمونځ کونکو وروڼو خو یندو! کله چې د دښمن سره جګړې په حال کې پر مسلمانانو د دښمن نه د ناڅاپه بر ید و یره او ډار وي، نو بیا لمونځ کړل ځانګړې بڼه یا صفت لري، لکه څنګه چې هغه الله تعالی مونږ ته پدې مبارك آیت کې بیان کړئ دئ، او بیا د اسلامي فقه علماوو د خوف یا د ډار او و یرې لمانځه مخصوص صفت او څرنګوالئ د رسول الله ﷺ عملي سنتو په رڼا کې مونږ ته ښه روښانه بیان کړئ دئ.

{کونډې حق لري چې د میړو په کور وکې پاتې سي}

او په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی د هغو کونډو حقوق بیان کړي دي چې دوی د میړو په مړ ینې سره کونډې سوې دي، او فرمایلي دي:

﴿وَٱلَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَٰجًا وَصِيَّةً لِّأَزْوَٰجِهِم مَّتَٰعًا إِلَى ٱلْحَوْلِ غَيْرَ إِخْرَاجٍ ۚ فَإِنْ خَرَجْنَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِى مَا فَعَلْنَ فِىٓ أَنفُسِهِنَّ مِن مَّعْرُوفٍ ۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٢٤٠﴾﴾

[٢٤٠] ای مومنانو! او هغه کسان چې د ستاسې نه مړي [یعنی د ژوند برخه یې نوره په دنیا کې پوره کیږي] او خپلې ښځې کونډې پر یږدي، نو پر دوی باندې خپلو کونډو ته د یوه کال نفقې یا خرڅ وصیت فرض دئ، او ښایي چې دغه کونډې د خپلو میړو کورونو نه په زور ونه و یستل سي، نو که چیرې بیا دوی په خپله خوښه د میړه کور نه ووتلی، نو پر تاسې باندې ای د میړو خپلوانو! څه ګناه نسته چې دغه کونډې لاړې سي او د خپلو ځانو لپاره د دود او رواج سره سم څه وکړي [یعنی د بل چا سره نکاح او وا ده وکړي] او الله لوی ځواکمن او ښه حکیم ذات دئ، او پر خپلو بنده ګانو باندې خپل حکومونه په ځواکمنۍ او لوی حکمت سره چلوي.

قدرمنو ورونو او خو یندو! خو علماء وایي چې د دې مبارك آیت دا حکم چې ښایي یوه کونډه میرمن پوره یو کال د خپل مړه سوي میړه په کور کې کیني؛ دا حکم د هغه نه وړاندې تیر سوي (٢٣٤) آیت په رانازلیدو سره چې د مړه سوي میړه کونډې عدت یې څلور میاشتي او لس ورځې ټاکلئ دئ؛ منسوخ سوئ دئ، نو دا مبارك آیت د هغو آیتونونه دئ چې حکم یې منسوخ دئ، خو تلاوت یې په قرآن کې پاتې دئ، او بله د پام وړ خبره دا ده چې که چیرې دغه کونډه حامله او بلار به وه، نو بیا یې د میړه په کور کې د پاتې کیدو حق د ماشوم تر ز یږدلو پورې سره د هغې نورو حقوقو محفوظ دئ او د هغې میړه خپلوانو ته ښایي چې د دغې کونډې

قدر وکړي او ټول حقوق يې پوره ورکړي.

{طلاق سوو ښځو ته ډالۍ ورکول پر میړو فرض دي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د طلاق سوو میرمنو حق پر میړو باندې یاد کړئ دئ، او په بیان کې یې فرمایلي دي:

﴿وَلِلْمُطَلَّقَٰتِ مَتَٰعٌۢ بِٱلْمَعْرُوفِ ۖ حَقًّا عَلَى ٱلْمُتَّقِينَ ﴿٢٤١﴾ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمْ ءَايَٰتِهِۦ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿٢٤٢﴾﴾

[٢٤١] ای میړو! او خپلو طلاق سوو ښځو ته د ګټې اخستلو څه [نغد یا جنس] متاع د دود سره سم ورکړی، ځکه دا ورکړه پر متقیانو میړو باندې چې د الله عذاب نه و یر یږي؛ د طلاق سوو میرمنو حق دئ.

[٢٤٢] ای مومنانو! او الله تاسې ته همداسې د خپل کتاب (قرآن) آیتونه او حکمونه د ښځو حقوقو په باره کې بیانوي، ترڅو تاسې ښه په پوه سی او عمل ور باندې وکړی.

ګرانو ورونو او خو یندو! یقینا چې الله تعالی مونږ ته د ژوند ټولو فردي او اجتماعي چارو د ښه سمبال او چلولو لپاره ډیر ګټور نظام رالیږلئ دئ، لکه څنګه چې یې د کورني ژوند په باره کې دا ګټورې لارښودنې او سپارښتنې پدې مبارکو آیتونو کې بیان سوې دي، نو هیله ده چې ټول مومنان خپل ځانونه ښه پرې پوه کړي او په عملي کولو سره یې ښاد سي او د ښځو حقوق پکې کلک وساتل سي.

{مرګ او ژوند د الله په واک کې دئ او جهاد فرض دئ}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی رسول الله ﷺ ته په خطاب کې د بني اسرائیلو د هغې ډلې قصه کړی ده چې دوی د مرګ کلکې و یرې نه دښمن سره د جګړې ډګر نه وتښتیدل او د الله تعالی فرمان یې د پښو لاندې که، نو بیا پر دوی باندې الله تعالی کلک غوصه او په قهر سه او د جګړې نه پرته یې دوی مړه کړل، او بیا یې بیرته را ژوندي کړل، ترڅو دوی ته په دنیا کې خپل زور وښیي او دوی پدې پوه سي چې مرګ او ژوند د الله

په واک کې دي، او هیڅ څوک د الله تعالی لیکلې پر یکړې نه په تقدیر کې وړاندې او وروسته نه مري، او په بیان کې یې الله فرمایلي دي:

﴿۞أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ خَرَجُواْ مِن دِيَٰرِهِمۡ وَهُمۡ أُلُوفٌ حَذَرَ ٱلۡمَوۡتِ فَقَالَ لَهُمُ ٱللَّهُ مُوتُواْ ثُمَّ أَحۡيَٰهُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَذُو فَضۡلٍ عَلَى ٱلنَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَشۡكُرُونَ ٢٤٣ وَقَٰتِلُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٞ ٢٤٤ مَّن ذَا ٱلَّذِي يُقۡرِضُ ٱللَّهَ قَرۡضًا حَسَنٗا فَيُضَٰعِفَهُۥ لَهُۥٓ أَضۡعَافٗا كَثِيرَةٗۚ وَٱللَّهُ يَقۡبِضُ وَيَبۡصُۜطُ وَإِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ٢٤٥﴾

[٢٤٣] ای پیغمبره! آیا تا هغه په زرهاوو کسان ونه لیدل چې د خپلو کلیو او باندو نه د مرګ و یرې نه راووتل او په تیښته سول [ځکه دوی د دښمن سره مخامخ جګړې ته رابلل سوي ول] نو بیا دوی ته الله د یوځایي مړ ینې حکم وکه او ورته یې وو یل: مړه سئ! او بیا یې د مرګ نه وروسته بیرته را ژوندي کړل [یعنی کله چې دوی وغوښتل د الله تقدیري پر یکړې نه وتښتیږي، نو بیا الله تعالی ورته د مرګ سزا ورکړه، ترڅو پدې پوه سي چې د مرګ او ژوند واک او فیصله د الله تعالی سره ده، او هیڅ څوک د مرګ نه تښتیدلای نسي، خو بیا دوی الله بیرته ځکه راژوندي کړل، ترڅو په دنیا کې د خپل تاکل سوي ژوند نیټه پوره کړي او ښه پند واخلي، او د الله تعالی لوی قدرت او زور د ژوندیو یوځای مړه کولو او بیا بیرته په دنیا کې د دوی را ژوندي کول په یقین سره پرته د کم شك او شبهې نه ثابت سي، نو ځکه الله تعالی بیا د همدې مبارك آیت په آخر کې فرمایلي دي:] هو! یقینا چې الله پر ټولو خلکو باندې د لوی فضل او رحمت څښتن دئ او دوی ته یې ډیر نعمتونه ورکړي دي، خو ډیر خلک د الله شکر نه باسي او د خپل لوی رب په قدر نه پوهیږي! یعنی د الله تعالی حکمونو ته غاړه نږدي.

قدرمنو عز یزانو! د عبد الله بن عباس رضي الله عنه نه روایت سوئ دئ چې دا پیښه د اوسني عراق په ځینو کلیو کې د بني اسرائیلو پیغمبرانو په زمانه کې پیښه سوي ده، نو یقینا چې دا پیښه د ټولو خلکو په بیرته جسماني راژوندي کیدلو باندې د قیامت په ورځ ښه پوخ او کلک دلیل دئ، نو ځکه

دا قصه الله تعالی پر رسول الله ﷺ باندې رانازله کړي ده، ترڅو کافران د قیامت په ورځ په بیرته راژوندي کیدو باندې باور وکړي، او همدارنګه د یادونې وړ ده چې ځینې مفسر ینو بیا د بني اسرائیلو دغو کسانو ډله ایزه تیښته د خپلو کورنو او کلیو نه ساري و بایي ناروغي بللی ده، خو دا روایت د ور پسې مبارکو آیتونو سیاق سره چې پکې دوی مالي او ځاني جهاد ته رابلل سوي دي موافق ندئ.

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې بني اسرائیل او نور ټول مومن ولسونه د یرغلګرو کافرانو سره چې پر دوی یې بر ید کړئ دئ؛ الله تعالی مقاومت او په سر او مال مسلح جهاد ته را بللي دي، او فرمایلي دي:

[۲٤٤] ای مومنانو! او د الله په لار کې د دښمن سره جګړه او جهاد وکړئ او پدې پوه سئ چې الله ښه کلک اور یدونکئ او ښه پوه لوی ذات دئ، یعنی الله تعالی د ستاسې و یناوې اوري او په زړونو باندې مو ښه پوه دئ، نو تاسې ته د الله په لار کې د شهادتونو او قر بانیو ثواب درکوي.

[۲٤٥] او هر هغه څوک چې الله ته قرض حسنه یا پور ورکوي، نو بیا الله هغه ته دا حسنه څو ځله ډیروي، او الله د خپلې ورکړې موټئ راغونډوي او خوروي یې [یعنی الله تعالی د ځینو کسانو روزي لږوي او د ځینو نورو بیا ډیروي، او همدارنګه الله تعالی د چا د دنیا مال او دولت ډیروي او د چا لږوي] او ای خلکو! تاسې ټول بیرته الله ته ورګرځول کیږئ، یعنی نو بیا الله تعالی د هرچا سره حساب کړي او د ښو کړنو کسانو ته ثواب او د بدو کړنو خاوندانو ته سزا ورکوي.

عزتمنو دوستانو! مومنان الله تعالی پدې مبارکو آیتونو کې یرغلګر دښمن سره ځاني او مالي جهاد ته رابللي دي او ډاډ یې ورکړئ دئ چې د دوی مالي جهاد د الله سره د قرض حسن او د پور ورکولو معنا لري او هغه په خیرات سره نه لږ یږي، ځکه د خلکو د مال او دولت حقیقي ډیرونکئ او لږوونکئ؛ الله دئ او هرڅوک چې الله ته پور ورکړي الله تعالی د هغه سره مرسته کړي او مال او دولت یې ډیروي.

{طالوت الله تعالى بني اسرائيلو ته پاچا را ولیږه}

قدرمنو لوستونکو! الله تعالى په ور پسې مبارکو آیتونو کې رسول الله ﷺ او د هغه ملګري مومنان د بني اسرائیلو پورته یاد سوي قوم د یوې بلې قصې نه چې هغه دوی ته د پاچا غوره کول ول؛ خبر کړئ دئ، او په بیان کې فرمایلي دي:

﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلْمَلَإِ مِنۢ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ مِنۢ بَعْدِ مُوسَىٰ إِذْ قَالُوا۟ لِنَبِىٍّ لَّهُمُ ٱبْعَثْ لَنَا مَلِكًا نُّقَٰتِلْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ ۖ قَالَ هَلْ عَسَيْتُمْ إِن كُتِبَ عَلَيْكُمُ ٱلْقِتَالُ أَلَّا تُقَٰتِلُوا۟ ۖ قَالُوا۟ وَمَا لَنَآ أَلَّا نُقَٰتِلَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَقَدْ أُخْرِجْنَا مِن دِيَٰرِنَا وَأَبْنَآئِنَا ۖ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ ٱلْقِتَالُ تَوَلَّوْا۟ إِلَّا قَلِيلًا مِّنْهُمْ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌۢ بِٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٢٤٦﴾ وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ إِنَّ ٱللَّهَ قَدْ بَعَثَ لَكُمْ طَالُوتَ مَلِكًا ۚ قَالُوٓا۟ أَنَّىٰ يَكُونُ لَهُ ٱلْمُلْكُ عَلَيْنَا وَنَحْنُ أَحَقُّ بِٱلْمُلْكِ مِنْهُ وَلَمْ يُؤْتَ سَعَةً مِّنَ ٱلْمَالِ ۚ قَالَ إِنَّ ٱللَّهَ ٱصْطَفَىٰهُ عَلَيْكُمْ وَزَادَهُۥ بَسْطَةً فِى ٱلْعِلْمِ وَٱلْجِسْمِ ۖ وَٱللَّهُ يُؤْتِى مُلْكَهُۥ مَن يَشَآءُ ۚ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٤٧﴾﴾

[۲٤٦] ای پیغمبره! آیا تا د موسې نه وروسته د بني اسرائیلو هغه مخور مشران ونه لیدل [یعنی د قصې نه یې خبر نه یې؟] کله چې دوی خپل پیغمبر ته وو یل چې ته ای پیغمبره! مونږ ته یو پاچا راولیږه، ترڅو د هغه مشرۍ لاندې د الله په لار کې جهاد وکړو او د یرغلګر دښمن سره وجنګیږو! نو بیا دوی ته پیغمبر وو یل: که چیرې د دښمن سره جګړه او جهاد پر تاسې فرض سي، نو بیا به تاسې د جګړې نه په شا سئ او د دښمن سره به ونه جنګیږئ؟ [یعنی داچې پیغمبر یې پر دوی باور نه درلود او ګمان یې دا وه چې بني اسرائیل به د مرګ کلکې و یرې نه د جګړې ډګر نه وتښتي، خو د بني اسرائیلو دغو مشرانو د خپل پیغمبر خبره رده کړه] او وو یل: ولې به مونږ د الله په لار کې خپل دښمن سره جګړه نکړو؟ حال

دا چې مونږ د خپلو کورنو، کلیو او د خپل کهول نه په زور شړل سوي یو، نو بیا چې کله د دښمن سره جهاد پر دوی باندې فرض سه [نو بیا دوی کلکې و یرې یا ډار په سر واخستل او دښمن سره د جګړې ډګر نه پر شا سول او وتښتیدل] او د دوی نه ډیر لږ کسان د جهاد په ډکر کې پاتی سول [او د جهاد افتخار یې دښمن سره په برخه سه] او الله پر ظالمانو ښه پوه دئ او هغوی ښه پیژني، یعنی دوی ته به د ظلم او د کفر سزا ورکړي، نو بیا د دغو یهودو پیغمبر دوی ته د پاچا رالیږلو ز یرئ ورکه چې په بیان کې یې الله تعالی فرمایلي دي:

[۲٤۷] او د یهودو دغو مشرانو ته د دوی پیغمبر وو یل: طالوت تاسې ته الله پاچا راولیږه [یعنی هغه یې تاسې ته ټولواک او اعلی قومندان ټاکلئ دئ] نو بیا دوی په ځواب کې وو یل: هغه څنګه زمونږ پر سر پاچا او ټولواک قومندان کیږي، حال دا چې د زمونږ حق په پاچایي کې د هغه نه ورلاندې دئ، ځکه هغه سره نه ډیره دنیا او نه ډیر مال او دولت سته، ترڅو د پاچایي په چارو کې ورڅخه ګټه واخلي، نو بیا دوی ته پیغمبر [په ځواب کې] وو یل: هو! هغه الله یقینا پر تاسې باندې د پاچایي او ټولواکۍ لپاره غوره کړئ دئ، او هغه ته الله په علم، پوهه او په جسم یا په ځان کې لوی والئ ورکړئ دئ [یعني دا چې د طالوت علم او پوهه ډیره ده او د غټ ځان او د لوړې وني یا تنې څښتن دئ، نو ځکه هغه پاچایي ته ښایي] او الله چې خپله پاچایي هرچا ته وغواړي؛ هغه ته یې ورکوي، ځکه الله لوی او ښه پوه ذات دئ، پدې معنا چې د الله لور یني او ورکړې خپلو بنده ګانو ته ډیرې دي او الله چې ښه لوی پوه ذات دئ، نو د هرچا سره د هغه لائق چلند کړي، یعنی په ځانګړو دندو یې ګماري.

قدرمنو عزیزانو! د دې وضاحت او بیان معنا دا ده چې معنوي او مادي لیاقت او ځواک چې په چا کې وې، نو بیا هغه یوې غټې دندې او لویې چارواکۍ لپاره غوره کیږي، او دا شرط یو ډیر اړ ین شرط دئ، نو ځکه د حکومتولۍ په اوسني نړۍ وال نظام کې د ولسونو د تایید شرط ضروري او اړ ین بلل کیږي، ترڅو د واکمن ملا وتړي.

{ د موسى خزانې کندو نجات د طالوت پاچايي نښه وه}

او په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالى د بني اسرائيلو د پيغمبر د خولې نه د طالوت پاچايي نښه يادوه کړې ده، او په بيان کې يې فرمايلي دي:

﴿وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ إِنَّ ءَايَةَ مُلْكِهِۦٓ أَن يَأْتِيَكُمُ ٱلتَّابُوتُ فِيهِ سَكِينَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَبَقِيَّةٌ مِّمَّا تَرَكَ ءَالُ مُوسَىٰ وَءَالُ هَٰرُونَ تَحْمِلُهُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَةً لَّكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٢٤٨﴾﴾

[٢٤٨] او د بني اسرائيلو پيغمبر دوى ته وو يل: د طالوت پاچايي نښه دا ده چې هغه تابوت يا صندوق چې [د ستاسې دښمنانو درځخه په زور اخستئ او ولکه کړئ وه] هغه به ملائکو جګ پر سر نيولئ وي او بيرته به تاسې ته راسي، او په هغه کې د ستاسې رب لخوا درته ډاډ او اطمئنان دئ، ځکه پدې کندو يا صندوق کې تورات او د موسى او هارون کهول نه پاتې ميراث دئ، نو که تاسې اى يهودو! په ر يښتيا سره مومنان وئ [يعنى د خپل پيغمبر په خبرو باور لرئ] نو يقينا پدې کې تاسې ته لو يه نښه ده، يعنى دا کلک دليل دئ چې طالوت تاسې ته الله پاچا غوره کړئ او ټاکلئ دئ، نو د هغه اطاعت پر تاسې باندې فرض دئ.

{د حق او باطل په جګړه کې لږ کسان په ډيرو زورورکيږي}

او په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالى د حق او باطل په جګړه کې د لږو کسانو د بر يا ز يرئ ورکړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿فَلَمَّا فَصَلَ طَالُوتُ بِٱلْجُنُودِ قَالَ إِنَّ ٱللَّهَ مُبْتَلِيكُم بِنَهَرٍ فَمَن شَرِبَ مِنْهُ فَلَيْسَ مِنِّى وَمَن لَّمْ يَطْعَمْهُ فَإِنَّهُۥ مِنِّىٓ إِلَّا مَنِ ٱغْتَرَفَ غُرْفَةًۢ بِيَدِهِۦ فَشَرِبُوا۟ مِنْهُ إِلَّا قَلِيلًا مِّنْهُمْ فَلَمَّا جَاوَزَهُۥ هُوَ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مَعَهُۥ قَالُوا۟ لَا طَاقَةَ لَنَا ٱلْيَوْمَ بِجَالُوتَ وَجُنُودِهِۦ قَالَ ٱلَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُم مُّلَٰقُوا۟ ٱللَّهِ كَم مِّن فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةًۢ بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۗ وَٱللَّهُ مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴿٢٤٩﴾﴾

[۲٤۹] نو بيا چې کله طالوت خپل لښکر د دښمن سره د جګړې ډګر ته رابيل که او ورته راووتل، نو طالوت سر تيرو ته اعلان وکه او ورته يې وو يل: يقينا چې الله تاسې د يوه سيند او بو نه په نه څکلو سره ازمايي، نو چا چې د دې سيند او به وڅکلې هغه د زما ملګرو نه ندئ، او چا چې ونه څکلې هغه د زما ملګرئ دئ، مګر دا چې څوک د لاس په لپه يو غړپ او به وڅکي [يعنی نو دا پروا نه لري] خو د طالوت سرتيرو بيا دغه او به وڅکلې، او ډيرو لږو کسانو د دوی نه او به ونه څکلی، نو بيا چې کله طالوت او ورسره لښکر يې چې ايمان يې راوړئ وه؛ د سيند نه تير سول او د دښمن لوی لښکر يې وليده، نو و يو يل: نن مونږ د جالوت او د هغه لښکرو طاقت او زور نه لرو [نو بيا د دوی په ځواب کې] هغو کسانو چې د الله سره يې په ملاقات او يوځای کيدو باندې باور درلود وو يل: ډيرځله لږ ډله پر ډيره ډله باندې د الله په حکم زوروره سوي ده او بر يا او فتحه يې په برخه سوي ده، او الله د صابرانو سره دئ، يعنی د دوی مل دئ، ځکه دوی ستونزې ګالي، صبر کړي او دښمن پر وړلاندې کلک در يږي.

درندو دوستانو! الله تعالی پدې مبارک آيت کې دا خبره په يقين سره بيان کړي ده چې د دوه لښکرو په منځ کې چې کله دوی د حق او باطل پر سر په جګړه کې وي؛ د فتحې او بر يا معيار او تله هغه قوي او غښتلئ ايمان دئ چې د حق پلو يانو زړونه ور باندې ډا ډه وي او پر الله تعالی باندې په کلک توکل سره د باطل لښکرو سره جنګيږي، نو بيا الله تعالی د دوی مرسته او نصرت کړي او د باطل لښکر ور باندې ماتوي، خو پدې شرط چې صبر او استقامت ولري او د خپل مورچل او سنګر نه په کلک ايمان او په پخه عقيده او په لوی عزم او تصميم سره دفاع وکړي، او د دښمن پر مورچلو باندې د جنت په طمعه حمله او بر يد وکړي، نو ځکه ډير ځله لږ کسان پر لو يو لښکرو باندې د حق او باطل په جګړو کې زورور سوي دي او دوی ته الله فتحه او بر يا ورکړئ ده، او د دغسې بر يا لوی مثال او ساړئ د بدر غزا وه چې رسول الله ﷺ او ملګري يې د مشرکانو پر لښکر بر يالي او زورور سول، که څه هم د دوی شمير د مشرکانو لښکر پر پرتله ډير لږ وه، خو بيا هم د الله تعالی په نصرت

فتحه د رسـول الله ﷺ او د هغه د ملګرو په پرخه سـوه، او په اوسـني عصـر کې يې بيلګې د افغان ولس پر له پسـې جهاد او مقاومت د کفري يرغلګرو شيکلاکونو پر وړاندې په شلمه او يو شتمه ميلادي پيړۍ کې وه چې الله تعالى دا مظلوم مجاهد ولس په درې لو يو امپراتور باندې په يوه پيړۍ کې فاتح که او بر يايې په برخه کړه.

{کافر نو سره په جهاد کې دعاء د پيغمبر انو سنت ده}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى مونږ د طالوت لښکرو دعاء نه خبر کړي يو، کله چې دوی د الله تعالى نه صبر، ثبات، اسـتقامت او پر کافر دښمن باندې بر يا او نصرت وغوښت، او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿وَلَمَّا بَرَزُوا۟ لِجَالُوتَ وَجُنُودِهِۦ قَالُوا۟ رَبَّنَآ أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا وَٱنصُرْنَا عَلَى ٱلْقَوْمِ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٢٥٠﴾ فَهَزَمُوهُم بِإِذْنِ ٱللَّهِ وَقَتَلَ دَاوُۥدُ جَالُوتَ وَءَاتَىٰهُ ٱللَّهُ ٱلْمُلْكَ وَٱلْحِكْمَةَ وَعَلَّمَهُۥ مِمَّا يَشَآءُ ۗ وَلَوْلَا دَفْعُ ٱللَّهِ ٱلنَّاسَ بَعْضَهُم بِبَعْضٍ لَّفَسَدَتِ ٱلْأَرْضُ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ ذُو فَضْلٍ عَلَى ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٢٥١﴾﴾

[۲۵۰] او بيا چې کله د طالوت لښکر د جالوت لښکر سره [د جګړې په ډکر کې مخامخ سـه، نو دعايې وکړه] او و يو يل: ای د زمونږ لو يه ر به! زمونږ په زړونو کې صـبر واچوه او د زمونږ پښـې ټينګې کړه او مونږ ته د کافرانو پر ډله بر يا راکړه او د زمونږ مرستندوی سه!

[۲۵۱] نو بيا د طالوت سرتيرو د الله په حکم جالوت لښکرو ته ماته ورکړه او داوود [چې د طالوت لښـکر يو زړور غازي وه] جالوت يې چې د کافرانو جنګ قومندان ؤ؛ مړکه، او بيا داوود ته الله د بني اسـرائيلو پاچايي سـره يوځای؛ خپله پيغمبری ورکړه او د هرڅه علم چې داوود وغوښـت هغه يې ورزده کړل، او که خلک الله د يو بل نه دفاع ته نه وای هڅولي [يعنی په مومنانو باندې يې د کافرانو او ظالمانو مخه نه وای نيولي] نو ځمکه به د فسـاد او ورانۍ نه ډکه سـوي وه؛ او ظالمان به ور

باندې مسلط سوي ول، خو الله پر ټول عالم او پر ټولو خلکو باندې د فضل او د لو يو پيرزو ينو څښتن دئ، يعنى دوى د يو بل ګواښ او خطر نه ساتي.

{محمد ﷺ پيغمبر وه او ټول پيغمبران سره برابر ندي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى رسوالله ﷺ ته د هغه پيغمبرى ډاډ ورکړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿تِلْكَ ءَايَٰتُ ٱللَّهِ نَتْلُوهَا عَلَيْكَ بِٱلْحَقِّ ۚ وَإِنَّكَ لَمِنَ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿٢٥٢﴾ تِلْكَ ٱلرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ ۘ مِّنْهُم مَّن كَلَّمَ ٱللَّهُ ۖ وَرَفَعَ بَعْضَهُمْ دَرَجَٰتٍ ۚ وَءَاتَيْنَا عِيسَى ٱبْنَ مَرْيَمَ ٱلْبَيِّنَٰتِ وَأَيَّدْنَٰهُ بِرُوحِ ٱلْقُدُسِ ۗ وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ مَا ٱقْتَتَلَ ٱلَّذِينَ مِنۢ بَعْدِهِم مِّنۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ ٱلْبَيِّنَٰتُ وَلَٰكِنِ ٱخْتَلَفُوا۟ فَمِنْهُم مَّنْ ءَامَنَ وَمِنْهُم مَّن كَفَرَ ۚ وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ مَا ٱقْتَتَلُوا۟ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيدُ ﴿٢٥٣﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ أَنفِقُوا۟ مِمَّا رَزَقْنَٰكُم مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِىَ يَوْمٌ لَّا بَيْعٌ فِيهِ وَلَا خُلَّةٌ وَلَا شَفَٰعَةٌ ۗ وَٱلْكَٰفِرُونَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٢٥٤﴾﴾

[٢٥٢] اى پيغمبره! او هغه ټول د الله کتاب (قرآن) آيتونه دي چې مونږ يې پر تا باندې پر حق او ر ښتيا بيانولو سره لولو، او ته يقينا چې د الله نه رالېږل سوو پيغمبرانو نه يې، يعنى د ستا په پيغمبرى کې هيڅ شک او شبه نسته او ته يقينا خپل امت ته د الله استازئ يې.

قدرمنو دوستانو! او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د پيغمبرانو په منځ کې لمړئ تو پير او پر يو بل باندې د لوړتيا او د فضيلت بيان کړئ دئ، او بيا يې فرمايلي دي چې د خلکو په منځ کې اختلافات او جګړې د الله تقديري پر يکره ده، او مومنان الله خيرات ورکولو ته هڅولي او رابللي دي، او دا مبارك آيت چې د در يمې سپارې پيل دئ پکې؛ الله تعالى فرمايلي دي:

[۲۵۳] هو! هغوی ټول درانده پیغمبران ول، او د دوی نه ځینې مونږ پر ځینې نورو باندې غوره کړل [یعنی الله تعالی د دوی مقامونه پر یو بل باندې لوړ کړل] او د دوی نه د ځینو سره الله خبرې وکړې او د ځینو مقام او رتبه یې لوړه کړې ده، او عیسی ابن مر یم ته مونږ د خپل قدرت ښکاره نښې ورکړې او د هغه مرسته او تایید مونږ په جبرئیل باندې وکه، او که الله غوښتي وای، نو د پیغمبرانو نه وروسته کسان چې د الله کتابونو آیتونه دوی ته راغلل؛ دوی به خپل منځ کې یو بل سره نوه جنګیدلي، خو سره د دی په اختلاف کې ولو یدل، نو بیا چا ایمان راوړ او څوک د دوی نه کافران سول او یو بل سره یې جګړې وکړې، او که الله غوښتي وای، نو دوی به یو بل سره جګړې نوې کړې، خو الله خپل کار کړي او څه شئ چې یې خوښه وي؛ هغسې کړي، یعنی د خلکو اختلافات او جګړې د الله تعالی تقدیري پر یکړه ده.

عزتمنو دوستانو! الله تعالی پدې مبارك آیت کې لمړئ د خپلو پیغمبرانو لوی مقام او فضیلت بیان کړئ دئ او بیا یې د دوی په منځ کې پر یو بل باندې لوړتیا، فضیلت او غور یا روښانه کړې ده، او وروسته یې د پیغمبرانو امتونو په منځ کې اختلافات یاد کړي دي او دوی یې په دوه ډلو (مومنانو او کافرانو) سره و یشلي دي، او دا اختلافات د دوی په منځ کې د جګړو او یو بل وژلو یو لوی سبب او عامل ګرځیدلئ دئ، او بیا الله تعالی دا حقیقت پوره روښانه کړئ دئ چې د دغو پیغمبرانو د امتونو په منځ کې اختلافات او خورې ورې جګړې او د یو بل وژل د الله په علم او په تقدیري پر یکړه ترسره کیږي، نو درندو دوستانو! ښایي چې د زمونږ ایمان د الله په تقدیري پر یکړو باندې ښه پوخ وي او پدې حقیقت کلک ایمان او باور ولرو چې هر څه د الله په علم، اراده او حکم ترسره کیږي، او هم ښایي د الله تعالی د دین حکمونه د هغه قضا او قدر سره سم چې هغه د زمونږ ایمان یو لوی رکن دئ؛ پر ځای کړو، نو ځکه په ور پسې مبارك آیت کې مومنان الله تعالی د خپل مال نه زکات او خیرات ورکولو ته الله په لار کې چې هغه جهاد دئ؛ رابللي دي، او فرمایلي دي:

[٢٥٤] ای مومنانو! د هغه مال او دولت نه چې تاسې ته مونږ روزي کړئ دئ؛ خیرات ورکړئ او دغه خیرات مخکې له هغې ورځې راتګ نه ورکړئ چې بیا په هغه ورځ نور سوداګري، خرڅول او اخستل، ملګرتیا او خپلوي، او یو بل ته سپارښتنه او شفاعت نسته، او کافران ظالمان دي، یعنی دوی د الله د دین پر حدودو او پولو باندې تیرئ کړئ دئ، نو تاسې ای مومنانو! د هغوی مقابلې لپاره مالي جهاد وکړئ.

هو! یقینا چې د حق پلو یانو او د باطل خوښونکو په منځ کې به اختلاف او جګړه همداسې د الله په علم او ارادې سره سمه ترقیامت ورځې پورې روانه وي، نو ښایي چې مومنان تل د حق نه دفاع وکړي او د باطل پر وړاندې قر بانئ ته تل چمتو وي او د خپل دین او ناموس نه دفاع وکړي، ترڅو هغه د دښمنانو تیري او یرغل نه کلک وساتي.

{د کرسئ مبارک آیت د توحید ځلانده ستورئ دئ}

او په ور پسې مبارک آیت کې چې آیة الکرسي نومیږي؛ الله تعالی خپل توحید او یو والئ په الوهیت، ر بو بیت او د الله تعالی په نومونو او صفتونو کې مونږ ته ښه روښانه او لنډ بیان کړئ دئ، او فرمایلی دي:

﴿ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡحَيُّ ٱلۡقَيُّومُۚ لَا تَأۡخُذُهُۥ سِنَةٞ وَلَا نَوۡمٞۚ لَّهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ مَن ذَا ٱلَّذِي يَشۡفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذۡنِهِۦۚ يَعۡلَمُ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡۖ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيۡءٖ مِّنۡ عِلۡمِهِۦٓ إِلَّا بِمَا شَآءَۚ وَسِعَ كُرۡسِيُّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَۖ وَلَا يَـُٔودُهُۥ حِفۡظُهُمَاۚ وَهُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡعَظِيمُ ٢٥٥﴾

[٢٥٥] هو! الله هغه لوی معبود دئ چې د هغه نه پرته بل پر حق سره معبود نسته، او الله ژوندئ او پر خپل ځان ولاړ لوی ذات دئ [یعنی الله تعالي هیڅ چا ته محتاج ندئ، او پر ځمکه او په اسمان کې د ټولو مخلوقاتو د چارو پالونکئ او سمبالونکئ؛ لوی خدای دئ، خو ټول عالم الله ته محتاج دئ] او الله نه پر ښاني وړي او نه خوب، او د ځمکې او اسمانو واکمني الله لره ده، او هرڅه او هرڅوک چې په اسمانو او پر

ځمکه کې دي؛ ټول د الله په پاچايي کې دي [يعنی د الله تعالي واک لاندې دي او د هغه قدرتي حکم پکې چليږي] او هغه څوک دئ چې د الله پر وړاندې شفاعت او سپارښت وکړي؟ [يعنی هيڅ څوک دا واک او وسعه نلري] مګر دا چې الله هغه ته اجازه وکړي، او الله د ټولو خلکو پر وړلاندې او وروسته علم لري او ور باندې پوه دئ، خو دا ټول خلک په اسمانو او پر ځمکه د الله پر علم؛ هيڅ ډول احاطه نه لري او نه ور باندې را کړد دي، او د الله علم نه په هيڅ څه خبر ندي؛ پرته د هغه څه نه چې هغه الله وغواړي او دوی پرې پوه کړی، او د الله څوکۍ [چې څرنګه د الله تعالی لوړ مقام سره لائق ده او ورته ښايي] پکې ټول اسمانونه او ځمکه ځايږي، او د اسمان او ځمکې ساتنه پر الله درنده نده او نه الله ور باندې ستړی دئ، او الله لوړ [يعنی پورته په اسمان کې لوی] ذات دئ، يعنی نو ځکه يوازی الله د بنده ګی لائق او ښه پالونکئ لوی څښتن دئ.

ګرانو مومنانو! دا مبارك آيت چې آية الكرسي نومېږي يو لوي او عظيم آيت دئ او په ثواب او فضيلت کې يې د رسول الله ﷺ نه ښه ډير حديثونه روايت سوي دي، امام بخاري په خپل صحيح کې د ابوهر يره رضي الله عنه نه روايت کړئ دئ چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي:" څوک چې د شپې لخوا د ملاستې په وخت کې د کرسۍ آيت ولولي، نو ترسحره به دئ د الله په حفاظت او ساتنه کې وي او هغه ته شيطان ورنژدي کيدای نسي" او همدارنګه د رسول الله ﷺ نه روايت سوي دئ چې فرمايلي دي:"د کرسۍ په آيت کې د الله اسم اعظم او لوی نوم نغښتی دئ" او په يو بل صحيح حديث کې د رسول الله ﷺ نه روايت سوي دئ :"څوک چې آيت کرسي د هر لمانځه نه وروسته ولولي، نو دئ به د بل لمانځه راتګه پورې؛ د الله په حفاظت کې وي" او د همدي حديث په بل روايت کې راغلي دي:"څوک چې د فرض لمانځه نه وروسته آيت کرسي ولولي، نو بيا د هغه او جنت ته د ننوتلو په منځ کې دومره وخت پاتی دئ چې دئ مړ سي." يعنی الله تعالی به دئ پر خپل رحمت سره جنت ته ورننه باسي.

عزتمنو دوستانو! د آيت کرسي مبارك آيت چې په لسو جملو کې راغلي

دئ؛ د الله تعالی توحید پې مونږ ته په ر بو بیت، الوهیت او په صفاتو کې ډیر روڼ او ښه روښانه بیان کړئ دئ، نو ښایي چې هر مسلمان د هغه په معنا کې ژور فکر وکړي او ځان ښـــه پرې پوه کړي او خپل لوی رب الله سبحانه وتعالی هغسی و پیژني چې د الله لوړ مقام سره ښایي او بیا یې په اخلاص سره بنده کې او عبادت وکړي او حکمونو ته یې غاړه کیږدي.

{په دین کی زور نسته د مومنانو مل الله او د کافر انو مل شیطان دئ}

او په ور پســې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د دین منل په زور باندې کلک رد کړي دي، او د الله تعالی ملتیا یې مومنانو سره او د شیطان ملتیا یې کافرانو سره مونږ ته یاده کړې او بیان کړې ده، او فرمایلي دي:

﴿لَآ إِكۡرَاهَ فِي ٱلدِّينِۖ قَد تَّبَيَّنَ ٱلرُّشۡدُ مِنَ ٱلۡغَيِّۚ فَمَن يَكۡفُرۡ بِٱلطَّٰغُوتِ وَيُؤۡمِنۢ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱسۡتَمۡسَكَ بِٱلۡعُرۡوَةِ ٱلۡوُثۡقَىٰ لَا ٱنفِصَامَ لَهَاۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ٢٥٦ ٱللَّهُ وَلِيُّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ يُخۡرِجُهُم مِّنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِۖ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَوۡلِيَآؤُهُمُ ٱلطَّٰغُوتُ يُخۡرِجُونَهُم مِّنَ ٱلنُّورِ إِلَى ٱلظُّلُمَٰتِ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ٢٥٧﴾

[۲۵۶] هو! د دین په منلو کې زور نسته، ځکه سمه لار چې حق ده د کړې لارې نه چې باطل ده؛ بیله سوه، نو څوک چې پر طاغوت کافر سي او یوازې پر الله ایمان راوړي، نو هغه خپله منګل پر ښـــه کلکه کړې کې نښلولې ده چې هغه هیڅ کله نشکیږي، او الله ښه اور یدونکئ او ښه پوه لوی ذات دئ، یعنی د خلکو خبرې اوري او په کړنو یې پوه دئ، ځکه هیڅ څه شئ د الله تعالی نه پټ ندي.

ګرانو عز یزانو! نو کله چې د الله تعالی حق دین اســـلام د باطل دین کفر نه په ښکاره او په قاطع دلیلونو سره بیل سوئ دئ، او هرڅوک ښه پوهیږي چې د طاغوت بنده کې په حقیقت کې د بتانو بنده کې ته ورته باطله بنده کې ده، نو ځکه بیا په دین کې هیڅ ډول زُور ځای نه لري او

دين پر هيڅ چا باندې په زور نه منل کيږي، نو هر پوه او هوښيار انسان ته ښايي چې په خپله خوښه او قناعت سره ايمان راوړي؛ نه په زور او جبر سره، او همدا ده په اسلام کې د عقيدې او فکر ر ينښتينه ازادي، او يقينا چې د زړونو مالك يوازې الله دئ!

[۲۵۷] هو! الله د مومنانو مل او ملګرئ دئ او دوی د کفر تيارونه د اسلام رڼا ته راباسي، او هغه کسان چې پر الله کافران سول او ايمان يې رانوړ؛ د دوی دوست او ملګرئ طاغوت دئ، او طاغوت [چې معنا يې هر ناحقه معبود او سرکښ مخلوق دئ] خپل ملګري د اسلام نور او رڼا نه د کفر تيارو ته را باسي، او دوی د دوزخ اور ملګري دي او هلته به پکې تل کړ يږی، يعنی په سرو لمبو کې بې تل سوز يږي.

{نمرود د ابراهيم استدلال پرورانديې هک پک سه}

او په ور پسې مبارك آيت کې مونږ ته الله تعالی د ابراهيم عليه السلام قصې مرکه او استدلال د هغه وخت کبرجن پاچا سره کړې ده، او دا پاچا نمرود بن کنعان نوميده او په بابل يا اوسني عراق کې واکمن پاچا وه، او الله تعالی رسول الله صلی الله عليه وسلم ته په و ينا کې فرمايلي دي:

﴿أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِي حَآجَّ إِبۡرَٰهِـۧمَ فِي رَبِّهِۦٓ أَنۡ ءَاتَىٰهُ ٱللَّهُ ٱلۡمُلۡكَ إِذۡ قَالَ إِبۡرَٰهِـۧمُ رَبِّيَ ٱلَّذِي يُحۡيِۦ وَيُمِيتُ قَالَ أَنَا۠ أُحۡيِۦ وَأُمِيتُۖ قَالَ إِبۡرَٰهِـۧمُ فَإِنَّ ٱللَّهَ يَأۡتِي بِٱلشَّمۡسِ مِنَ ٱلۡمَشۡرِقِ فَأۡتِ بِهَا مِنَ ٱلۡمَغۡرِبِ فَبُهِتَ ٱلَّذِي كَفَرَۗ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ٢٥٨﴾

[۲۵۸] ای پيغمبره! آيا تا هغه څوک ونه ليده؟ [يعنی د هغه قصې نه خبر نه يې] چې هغه ابراهيم سره د خپل هغه څښتن توحيد په باره کې استدلال او مناظره وکړه چې هغه ته يې واکمني ورکړې وه؟ او دا کله چې ابراهيم هغه ته وو يل: د زما رب او لوی څښتن؛ هغه څوک دئ چې مړي را ژوندي کوي او د ژوندیو نه ساه اخلي او مړه کوي يې [نو بيا دغه کبرجن پاچا ابراهيم عليه السلام ته په ځواب کې] وو يل: زه هم خلک را ژوندي کوم او

مړه کوم يې! [يعنی د زما په حکم ژوندئ ســړئ وژل کيږي او پر چا باندې چې د مرګ حکم سوئ وي؛ هغه ښښم او د يقيني مرګ نه يې خلاصوم] نو بيا ابراهيم ورته وو يل: يقينا چې الله لمر د ختيځ يا شــرق نه راولي، نو ته هغه د غرب يا لو يديځ نه راوله؟ نو بيا دا کافر پاچا هک پک حيران سوئ چوپ سه، ځکه الله ظالم قوم ته پر سمه لار د تګ توفيق نه ورکوي.

قدرمنو دوســتانو! د قرآن کر يم مفســر ين وايي چې پدې مبارك آيت کې او هغه ته ورته په نورو آيتونو کې استفهام تقر يري دئ، يعنی دا چې ته ای پيغمړه! د دغې قصې نه او هغې ته ورته نورو قصونه چې په مخکې تير ســوو آيتونو کې درته تلاوت ســوې؛ خبر ســه او پرې پوه ســه، ځکه پدې قصــو کې تاته او د ســتا امت ته لويې لويې زدکړې دي، يعنی ښــايي د الله تعالی حکمونو نه په دغــې تار يخې پيښــو کې پند واخســتل ســي، ترڅو دغه ترخې پيښــې بيا تکرار نســي او ولســونه پکې ونه کړول ســي، لکه په اوسني عصر کې [د ۱۳۵۲ هجري شمسي کال نه تر ۱۴۰۱هجري شمسي کاله پورې] چې د ســياســت ځينې وړو ســوداګرو ډلو په افغانســتان کې د الله تعالی لارښــودنو نه پند وانخســت او افغان ولس يې پوره نيمه پيړۍ د هجرتونو او جګړو په ستونزو کې وکړا وه!

{د عز ير باور قيامت په ورځ د مړو په راژوندي کيدو کلک سه}

او په ور پســې مبارك آيت کې الله تعالی د قيامت ورځې منکر ينو ته د بني اســرائيلو د يو بل مشــر قصــه کړې ده او هغه دا چې کله دغه مشــر د يوه کنډواله ســوي کلي نه تير ســه، نو په کلي کې مړو ســوو خلکو بيرته راژوندي کيدو ته يې د شك په ستړګه وکتل، نو بيا الله تعالی دئ وازمايه، او د ازمايښت په بيان کې يې الله تعالی فرمايلي دي:

﴿أَوْ كَٱلَّذِى مَرَّ عَلَىٰ قَرْيَةٍ وَهِىَ خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا قَالَ أَنَّىٰ يُحْىِۦ هَٰذِهِ ٱللَّهُ بَعْدَ مَوْتِهَا ۖ فَأَمَاتَهُ ٱللَّهُ مِاْئَةَ عَامٍ ثُمَّ بَعَثَهُۥ ۖ قَالَ كَمْ لَبِثْتَ ۖ قَالَ لَبِثْتُ يَوْمًا أَوْ بَعْضَ يَوْمٍ ۖ قَالَ بَل لَّبِثْتَ مِاْئَةَ عَامٍ فَٱنظُرْ إِلَىٰ طَعَامِكَ

وَشَرَابِكَ لَمْ يَتَسَنَّهْۖ وَٱنظُرْ إِلَىٰ حِمَارِكَ وَلِنَجْعَلَكَ ءَايَةً لِّلنَّاسِۖ وَٱنظُرْ إِلَى ٱلْعِظَامِ كَيْفَ نُنشِزُهَا ثُمَّ نَكْسُوهَا لَحْمًاۚ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُۥ قَالَ أَعْلَمُ أَنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿٢٥٩﴾

[٢٥٩] [ای پیغمبره!] او یا لکه د هغه سړي قصه چې کله دئ د یوه کنډواله سوي کلي نه تیر سه او وې لیدل چې د دې کلي برجونه او جګ جګ کورونه لړنګ سوي دي او کواړې کواړې پراته دي او کلیوال پکې خاورې سوي دي، نو بیا هغه ځان سره په حیرانتیا وو یل: څنګه به د دې کلي مړي الله بیرته راژوندي کړي؟ نو بیا دئ الله سل کاله مړکه، او سل کاله وروسته یې بیرته راژونده که، نو بیا یې و پوښته چې تا دلته څومره وخت تیرکه؟ نو هغه په ځواب کې ورته وو یل: ما یوه ورځ او یا د یوې ورځې څه برخه تیره کړه، نو بیا الله ورته وو یل: نا! تا دلته سل کاله تیر کړل، نو اوس ده خپل خواړه او د څښاک او بو ته وګوره چې هیڅ ندي خوسا سوي؟ او خپل خره ته ده وګوره چې هغه څنګه الله بیرته راژوندئ کړئ دئ؟ او دا ټول د دې لپاره چې تا خلکو ته ښه او بیلګه وګرځوم! [یعنی ته ای عز یره! د الله پر لوی قدرت چې مړي بیرته را ژوندي کوي؛ ښه او ښکاره بیلګه او دلیل یې] او بیا الله ورته وو یل: اوس هغو اډکو ته وګوره چې سره بیل سوي دي، او بیا هغه څنګه مونږ د یو بل سره ښلوو او بیا یې په غوښه پټوو او ژوند یې ورته بیرته را ګرځي؟ [نو بیا چې کله عزیر عليه السلام ته د الله قدرتونو دغه ښې ښکاره او څرګندې سوې او هغه یې په سترګو ولیدلې] نو و یو یل: هو! زه پوهیږم چې الله په هرڅه قادر ذات دئ، یعنی نو پدې ډول عز یر عليه السلام خلکو ته د الله عظمت او قدرتونو ښه وګرځیده.

قدرمنو دوستانو! روایت سوئ دئ چې دا سړئ د بني اسرائیلو د قوم یو پیغمبر عز یر عليه السلام وه چې د بخت نصر په پاچایي کې دئ د خپل قوم سره یوځای د بخت نصر لښکرو د کلک یرغل او تیري لاندې راغلل او کلک وځپل سول او کلي یې کنډواله سول، نو بیا چې کله عز یر عليه السلام د دښمن جیل یا زندان نه راخلاص سه او پر خپل کنډواله سوي کلي را تیر

سه، نو په زړه کې يې دا خبره تيره سوه چې آيا د دې ړنګ سوو کليو مړي به بيرته راژوندي سي؟ نو بيا ځکه دئ الله تعالى سل کاله مړکه او بيا يې بيرته راژوندئ که، ترڅو دا قصه د الله تعالى لوى قدرت يوه بله نښه پاتې سي، او بيا يې هغه عز ير ته وښـــودله، نو بيا عز ير عليه السلام د خپل قوم يهودو په منځ کې لوړ مقام ته ورســـيده، خو د قوم جاهلانو يې هغه ته د اُلوهيت مقام ورکه او و يو يل چې عز ير [العياذ بالله] د الله زوى دئ او د دوى دا خبره کفر او شـــرك وه، ځکه الوهيت يوازى د الله حق دئ او بنده هيڅ کله د الوهيت لوړ مقام ته رسيدلاى نسي.

{د ابراهيم عليه السلام زړه د مرغانو په راغونډيدلو ډاډه سه}

او په ور پسې مبارك آيت کې د بني اسـرائيلو د قوم پيغمبر عز ير عليه السلام قصـــې ته ورته ځواب باندې الله تعالى د ابراهيم عليه السلام پوښـــتنه هم د مړو بيرته را ژوندي کيدو په باره کې؛ ځواب کړې ده، او فرمايلي دي:

﴿وَإِذْ قَالَ إِبْرَٰهِـۧمُ رَبِّ أَرِنِى كَيْفَ تُحْىِ ٱلْمَوْتَىٰ ۖ قَالَ أَوَلَمْ تُؤْمِن ۖ قَالَ بَلَىٰ وَلَٰكِن لِّيَطْمَئِنَّ قَلْبِى ۖ قَالَ فَخُذْ أَرْبَعَةً مِّنَ ٱلطَّيْرِ فَصُرْهُنَّ إِلَيْكَ ثُمَّ ٱجْعَلْ عَلَىٰ كُلِّ جَبَلٍ مِّنْهُنَّ جُزْءًا ثُمَّ ٱدْعُهُنَّ يَأْتِينَكَ سَعْيًا ۚ وَٱعْلَمْ أَنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٢٦٠﴾﴾

[۲٦۰] [ای پيغمبره!] او د ابراهيم هغه غوښـــتنه د هغه لوى څښـــتن الله نه را په ياد کړه، کله چې ابراهيم وو يل: ای لو يه ر به! ما ته د مړو بيرته را ژوندي کيدل په ســـترګو راوو ينه چې ته څنګه مړي بيرته راژوندي کوې؟ [الله تعالى ورته په ځواب کې] وو يل: آيا تا ای ابراهيمه! ايمان ندئ راوړئ او د مړو په بيرته را ژوندي کيدو باور نه لرې؟ ابراهيم وو يل: هو! ما ايمان راوړئ دئ چې مړى الله بيرته راژوندي کوي، خو زه غواړم چې زړه مه ډاډه او مطمئن سي [يعنى دا چې ابراهيم عليه السلام ته د علم اليقين نه وروسـته عين اليقين هم حاصـــل ســـي] نو بيا ابراهيم ته الله وو يل: څلور مرغان راونيســـه او بيا هغه خپل ځان خوا ته اموخته کړه [ترڅو تاته په رابلنې

سره تل راټول سي، او بيا دا مرغان برخه برخه کړه] او د هر يو نه يوه برخه د ستا شاوو خوا پرتو غرونو پر څوکو باندې کيږده، او بيا غږ پرې وکړه او دا مرغان ځان ته را و بوله، نو بيا به دوی ټول په منډو تاته راسي، او ای ابراهيمه! پدې پوه سه چې الله يقينا لوی ځواکمن حکيم ذات دئ، يعنی پر هرڅه قادر او لوی ځواکمن ذات دئ، څه چې وغواړي هغسي کړلای سي او د الله تعالی د کړنو مخه هيڅ څوک نيولای نسي او الله په خپلو کړنو کې د لوی حکمت اوغوره تدبير خاوند دئ.

ګرانو دوستانو! دغه قرآني قصې چې په ر يښتا سره پيښې سوې قصې دي او په پخوانيو امتونو کې د ابراهيمعليه السلام په زمانه کې او بيا وروسته د بنی اسرائيلو په عصر کې عملي پيښې سوې او په سترګو ليدل سوې دي؛ هغه ټولې مونږ ته د الله تعالی د لوی قدرت او د عظمت ښکارندوی دي، او د آخرت ورځې په ژوند باندي يقيني او پاخه دليلونه دي، او هم هغه د حق او د باطل پلو يانو په منځ کې تل پاتی بيلتون او د اختلاف او ټکر څرګندونکې دي، او همدارنګه دا قصې د حق پلو يانو او د لارې لارو يانو ته يې د الهي نصرت او مرستې ز يرې ورکوي، نو ښايې چې پکې ښه ژور فکر وکړو او ورڅخه ګټه واخلو، ځکه هغه الله تعالی مونږ ته په قرآني لارښودنو سره يادې کړې او بيان کړې دي، ترڅو مونږ ته سمه لار رڼا کړي او خپل ايمان ور باندې تجديد کړو او په خپل عملي ژوند کې ورڅخه ګټه واخلو.

{ د الله په لار کې خيرات ورکول سل ځله ثواب لري }

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې مونږ ته الله تعالی پر خپله لار کې د خيرات او زکات ورکولو ثوابونه ياد کړي او بيان کړي دي، او بيا يې ورسره د خيرات کړو ضروروي آداب او احکام هم بيان کړي دي، او فرمايلي دي:

﴿مَّثَلُ ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمۡوَٰلَهُمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ أَنۢبَتَتۡ سَبۡعَ سَنَابِلَ فِي كُلِّ سُنۢبُلَةٖ مِّاْئَةُ حَبَّةٖۗ وَٱللَّهُ يُضَٰعِفُ لِمَن يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ

وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٦١﴾ ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمۡوَٰلَهُمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ثُمَّ لَا يُتۡبِعُونَ مَآ أَنفَقُواْ مَنّٗا وَلَآ أَذٗى لَّهُمۡ أَجۡرُهُمۡ عِندَ رَبِّهِمۡ وَلَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ﴿٢٦٢﴾

[٢٦١] هو! د هغو کسان مثال او بیلګه چې دوی خپل مال او دولت د الله په لار کې ورکوي [یعنی خیراتونه کړي، نو د دوی د خیراتونو ثواب مثال او ساړئ] د غَلې هغې دانې غوندې دئ چې کله دا دانه یا تخم په ځمکه کې وکرل سي، نو بیا اووه وړي راشنه کړي او په هر وړي کې سل دانې وي، او چا ته چې الله وغواړی د هغه ثواب څو ځله ډیروي، ځکه الله د خورو ورو ورکړو لوی خښتن او ښه پوه ذات دئ، یعنی د الله فضل او ورکړې ډیرې او لوېې دي او الله تعالی پر خپلو ټولو بنده ګانو باندې ښه علم لري، نو هرچا ته د هغه نیت او د کړنو سره سم ثواب ورکوي.

درنډو عز یزانو! الله تعالی پدې مبارك آیت کې د الله په لار کې د خیرات کړو ثواب اووه سوه ځله ښودلئ دئ، ترڅو هر مسلمان د دغسې لوی ثواب په طمعه خپل مال د الله تعالی په لار کې خیرات کړي، او په ور پسې مبارك آیت کې یې بیا خیرات ورکونکو ته ښه ز یري ورکړي فرمایلي دي:

[٢٦٢] او هغه کسان چې خپل مال او دولت د الله په لار کې ورکوي او خیراتونه کړي، او بیا پر هغه چا باندې چې خیرات یې ورکړئ دئ؛ احسان نه باروي او منت نه پرې کړی او نې زوروي، نو د دوی خیراتونو ثواب د الله سره محفوظ او ساتل سوئ دئ، او د آخرت په ورځ پر دوی باندې څه و یره نسته او نه غمجن کیږي.

نو ای د الله په لار کې خیرات ورکونکو مومنانو! آیا د دې نه بل کلک ضمانت سته چې هغه تاسې ته الله درکړئ دئ؟ نو مخکې لدې چې تاسې بې وسې سی؛ د الله په لار کې خیراتونه ورکړی او ځان ته توښه تیاره کړی، ترڅو تاسې ته په آخرت کې ګټه ورسوي!

{خوږې خبرې د هغه خيرات نه ښې دي چې ور پسې منت وي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى مومنان د خلکو سره ښو خبرو ته رابللي دي او د منت او ز يان رسولو نه يې ځوابلي او فرمايلي دي:

﴿*قَوْلٌ مَّعْرُوفٌ وَمَغْفِرَةٌ خَيْرٌ مِّن صَدَقَةٍ يَتْبَعُهَآ أَذًى ۗ وَٱللَّهُ غَنِىٌّ حَلِيمٌ ﴿٢٦٣﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تُبْطِلُوا۟ صَدَقَٰتِكُم بِٱلْمَنِّ وَٱلْأَذَىٰ كَٱلَّذِى يُنفِقُ مَالَهُۥ رِئَآءَ ٱلنَّاسِ وَلَا يُؤْمِنُ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ ۖ فَمَثَلُهُۥ كَمَثَلِ صَفْوَانٍ عَلَيْهِ تُرَابٌ فَأَصَابَهُۥ وَابِلٌ فَتَرَكَهُۥ صَلْدًا ۖ لَّا يَقْدِرُونَ عَلَىٰ شَىْءٍ مِّمَّا كَسَبُوا۟ ۗ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٢٦٤﴾ وَمَثَلُ ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَٰلَهُمُ ٱبْتِغَآءَ مَرْضَاتِ ٱللَّهِ وَتَثْبِيتًا مِّنْ أَنفُسِهِمْ كَمَثَلِ جَنَّةٍۭ بِرَبْوَةٍ أَصَابَهَا وَابِلٌ فَـَٔاتَتْ أُكُلَهَا ضِعْفَيْنِ فَإِن لَّمْ يُصِبْهَا وَابِلٌ فَطَلٌّ ۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٢٦٥﴾ أَيَوَدُّ أَحَدُكُمْ أَن تَكُونَ لَهُۥ جَنَّةٌ مِّن نَّخِيلٍ وَأَعْنَٰبٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ لَهُۥ فِيهَا مِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ وَأَصَابَهُ ٱلْكِبَرُ وَلَهُۥ ذُرِّيَّةٌ ضُعَفَآءُ فَأَصَابَهَآ إِعْصَارٌ فِيهِ نَارٌ فَٱحْتَرَقَتْ ۗ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمُ ٱلْءَايَٰتِ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُونَ ﴿٢٦٦﴾*﴾

[٢٦٣] [هو؛ اى مومنانو!] د دود سره سم خوږه خبره چې سوالګر پرې ځوابېږي او د هغه تيروتنې ورته ښېل کېږي؛ د هغه خيرات ورکولو نه غوره او ښه ده چې ز يان رسول او زورونه ور پسې وي، ځکه الله د خلکو خيراتونو نه غني دئ [يعنى الله هيڅ چا ته محتاج ندئ] او الله ښه حليم او د لوېي حوصيلې څښتن دئ، يعنى ګناه کونکو ته ژر سزا نه ورکوي، بلکې صبر ورته کړي، ځکه د بې وزره مسکين او سوالګر زورول؛ د الله تعالى زورنې معنا لري، حال دا چې الله د هيڅا خيرات ته اړ او محتاج ندئ، نو په خيرات ورکولو کې اخلاص پکار دئ، ځکه د مسکين زورول د ر يا معنا لري، نو ځان ساتنه ورڅخه په کلکه سره فرض ده، ترڅو خپل ښه کړل په خپل لاس ضائع نکړو!

او بيا الله تعالى په ور پسې مبارك آيت کې په ډيره روښتيا سره مومنان ګواښلي دي چې خپل خيراتونه ده په منت کړو او بې وزرو فقيرانو او مسکينانو ته په ز يان رسولو سره له منځه نه وړي، او فرمايلي دي:

[٢٦٤] ای مومنانو! تاسې خپل خيراتونه او ثوابي مرسته بي وزرو کسانو سره په احسان بارولو او پر دوی باندې په منت کړو او ورته په ز يان رسولو سره مه باطلوئ [يعنی ثواب يې له منځه مه وړئ] او د هغه چا غوندي مکيږئ چې دئ پر الله او د آخرت پر ورځ ايمان او باور نه لري [خو خپل مال د ځان ښودنې او ر يا لپاره خيراتوي، ترڅو خلک دئ وو يني او بيا يې وستايي او ښه يې ياد کړي] نو د دې ر يا کار سړي ساړئ او بيلکه؛ هغه ښوئ ګټ ته ورته ده چې خاوره ور باندې پرته وي او بيا ښه تيز باران ور باندې راووور يږي او د هغه نه ښوئ ګټ راو باسي، او دغسې ر يا کار کسان د خپلو لاس ته راوړل سوو مالونو نه د ګټې اخستلو هيڅ څه وسعه نه لري [يعنی دوی ته د دوی د خيراتونو ثواب د الله سره ساتل سوئ ندئ، ترڅو يې ګټه دوی ته الله ورکړي] او نه کافرانو ته الله د ثواب ګټلو توفيق ورکوي، يعنی کافران د الله مرستې وړتيا او لياقت نه لري، بلکې ورڅخه محروم دي.

[٢٦٥] او هغه کسان چې خپل مال او دولت د الله رضا لپاره او د خپل نفس او د ځان ډاډ ګيرنې او کلکولو لپاره خيراتوي؛ د دوی مثال او بيلکه هغه باغ ته ورته ده چې په يوه جګه غونډۍ پروت وي او بيا ښه ډير باران ور باندې وور يږي، نو بيا دا باغ دوه برابره ميوه راوړي، نو که پدې باغ باندې ډير باران ونه وور يږي، نو دا لږ نرئ باران يې هم بس دئ [يعنی ښه حاصل به ورکړي] او ای خلکو! تاسې چې څه کړئ الله د هغو ښه ليدونکئ دئ، يعنی نو بيا الله هرچا ته د هغه نيت سره سم ثواب ورکوي.

قدرمنو مومنانو! او په ور پسې مبارك آيت کې د الله تعالى رضا لپاره د خيرات ورکولو ارزښت په يو بل مثال يا بيلکه کې ياد سوئ دئ او يکې الله تعالى فرمايلي دي:

[٢٦٦] ای مومنانو! آیا د ستاسې نه یو څوک دا خوښوي؟ چې د کجورو یا خرما او د انګورو لوی باغ ولري او د خوږو او بو و یالي پکې بهیږي او ټولې میوې پکې وي، خو بیا د باغ څښتن په داسې حال کې زوړ سي چې کهول یې ښه ډیر وي او ټول واړه، ضعیفه او بې وسې ماشومان وي، او بیا د هغه پر دې باغ باندې داسې څپانده سیل آب راسي چې پکې اور وي او دا باغ وسوزوي [نو آیا د باغ څښتن پدې پیښه خوښیږي؟ ځواب: نا! هیڅ څوک دغسې برخلیک نه خوښوي] نو ای مومنانو! الله تاسې ته د خپلو قدرتونو دلیلونه او نښې په همدې ډول بیانوي، ترڅو تاسې پکې ژور فکر وکړئ، او بیا هغه څه وکړئ چې تاسې ته پکې ګټه وي.

ګرانو دوستانو! علماء او پوهان وایي چې پدې مبارک آیت کې استفهام انکاري دئ، یعنی دا چې هیڅ څوک خپل ځان ته دغسې بده راتلونکې او تور برخلیک نه خوښوي، نو هر هغه څوک چې په دنیا کې خپل مال او دولت د الله تعالی رضا لپاره ورنکړي او خیرات ونکړي، نو بیا به د هغه حال د قیامت په ورځ همدې زاړه یا بوډا سړي ته ورته وي چې د میوو نه ډک باغ یې سوز یدلي او لمنځه تللئ دئ، او دئ زوړ او کهول یې ډیر دئ او دوی ټول واړه او بې وسې دي او هیڅ څه شئ نه لري، او دا زوړ سړئ په هغه ورځ بیا نور هیڅ څه کړلای نسي، نو ښایي چې مومنان د دغسې بدې راتلونکې نه ځانو نه په خیرات ورکولو سره کلک وساتي.

{الله تعالی مومنان د خپل مال نه خیرات کړو ته هڅولي دي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی مومنان خیرات کړو ته هڅولي دي او بیا یې د خیرات ورکولو حکمونه او آداب ورته یاد کړي او بیان کړي دي، او فرمایلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَنفِقُواْ مِن طَيِّبَٰتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّآ أَخْرَجْنَا لَكُم مِّنَ ٱلْأَرْضِ ۖ وَلَا تَيَمَّمُواْ ٱلْخَبِيثَ مِنْهُ تُنفِقُونَ وَلَسْتُم بِـَٔاخِذِيهِ إِلَّآ أَن

تُغۡمِضُواْ فِيهِۚ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ غَنِيٌّ حَمِيدٌ ﴿٢٦٧﴾ ٱلشَّيۡطَٰنُ يَعِدُكُمُ ٱلۡفَقۡرَ وَيَأۡمُرُكُم بِٱلۡفَحۡشَآءِۖ وَٱللَّهُ يَعِدُكُم مَّغۡفِرَةٗ مِّنۡهُ وَفَضۡلٗاۗ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٞ ﴿٢٦٨﴾ يُؤۡتِي ٱلۡحِكۡمَةَ مَن يَشَآءُۚ وَمَن يُؤۡتَ ٱلۡحِكۡمَةَ فَقَدۡ أُوتِيَ خَيۡرٗا كَثِيرٗاۗ وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّآ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ ﴿٢٦٩﴾ وَمَآ أَنفَقۡتُم مِّن نَّفَقَةٍ أَوۡ نَذَرۡتُم مِّن نَّذۡرٖ فَإِنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُهُۥۗ وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنۡ أَنصَارٍ ﴿٢٧٠﴾ إِن تُبۡدُواْ ٱلصَّدَقَٰتِ فَنِعِمَّا هِيَۖ وَإِن تُخۡفُوهَا وَتُؤۡتُوهَا ٱلۡفُقَرَآءَ فَهُوَ خَيۡرٞ لَّكُمۡۚ وَيُكَفِّرُ عَنكُم مِّن سَيِّـَٔاتِكُمۡۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِيرٞ ﴿٢٧١﴾

[۲٦۷] ای مومنانو! د خپل هغه حلال او پاک مال او دولت نه چې هغه تاسې خپله کټلئ دئ؛ خیرات ورکړئ، او هم د هغې غلې نه د الله په لار کې خیرات ورکړئ چې هغه مونږ تاسې ته د ځمکې نه را و یستلې ده، او د ناپاکه او حرام مال نه د خیرات ورکولو قصد مکړئ، ځکه که چیرې تاسې ته دغسی ناپاکه مال درکړل سي، نو تاسې هغه نه اخلئ، مګر دا چې سترګې ور باندې پټې کړئ، او ای مومنانو! پدې پوه سئ چې الله غني او ښه ستایل سوئ لوی ذات دئ، یعنی الله تعالی د ستاسې خیراتونو ته اړ او محتاج ندئ، نو ښایي چې تاسې خپل رب الله په خیرات ورکولو سره وستایي او د الله ورکړو او پیرزو ینو نه مننه وکړئ او شکر یې و باسئ.

[۲٦۸] ای مومنانو! شیطان تاسې د فقر او د ولړی نه و یروي او بدو کړنو او فحشاء ته تاسې لمسوي او ورته مو تشو یقوي، او الله د ستاسې خیراتونو په عوض کې درته د خپلې بښنې او د مال ډیر یدلو ز یري او وعدې درکوي، ځکه الله لوی څښتن دئ او ورکړه یې ډیره ده، او الله ښه پوه ذات دئ، یعنی الله تعالی په هرڅه پوهیږي، او هیڅ څه شئ د الله نه پټ ندي، نو ځکه خیرات کونکو ته د دوی ثواب پوره ورکوي.

او بیا په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی پر خپلو مخلصو بنده ګانو باندې د حکمت او د هوښیارئ ورکړو ز یرئ کړئ دئ، ځکه هوښیاران

هغه کســـان دي چې خپلې ټولې کړنې په پوره حکمت ترســـره کوي، او په بيان کې الله تعالى فرمايلي دي:

[٢٦٩] هو! الله چې چا ته وغواړي، نو بيا هغه ته حکمت او هوښياري ورکوي [يعنى د هغه ټولې خبرې او کړنې په خپل ځاى کې ډيرې مناسبې وي] او هرچا ته چې حکمت ورکړل سي، نو هغه ته ډير خير ورکړل سـوئ دئ، او د دغو خبرو نه؛ يوازې هوښـــيارانِ ګټه اخلي، يعنى داځکه چې د دوى زړونه الله پر خپل نور باندې رڼا کړي دي.

او بيا الله تعالى په ور پســـې مبارکو آيتونو کې مومنانو ته د خيرات ورکولو آداب په ښه کړي او بيان کړي دي، او فرمايلي دي:

[٢٧٠] اى مومنانو! او هغه مال چې تاسې د الله رضا لپاره ورکړئ دئ، او يا هغه تاســـې پر خپلو ځانو نذر کړئ دئ، نو يقينا چې الله ور باندې پوهيږي او ثواب يې درکوي، او ظالمان څوک ملګري نه لري، يعنى هغه کسان چې د خپل مال نه خيرات نه ورکوي؛ دوى ظالمان دي او هيڅ څوک ملګري نه لري چې د قيامت په ورځ يې د الله عذاب نه خلاص کړي.

[٢٧١] او اى مومنانو! که تاسې خپل خيرات ښکاره کړئ، نو دا ښه کار دئ، او که هغه پټ کړئ او بې وزرو مسکينانو ته يې ورکړئ، نو هغه تاسې ته ډير ښه دئ او د ستاسې ګناه وې تو يوي، او د ستاسې ټولو کړنو نه الله ښه خبر دئ، يعنى هيڅ څه شئ د الله نه پټ ندي، نو الله هرچا ته د خپل عمل لائق ثواب او سزا ورکوي.

قدرمنو دوســـتانو! دا مبارك آيت پدې دلالت کړي چې د پټ خيرات ثواب د ښـــکاره خيرات نه ډير دئ، ځکه په ښـــکاره خيرات کې د ر يا و يره سته، خو که هغه فرضي وي، لکه زکات، نو ښکاره کول يې پروا نه لري.

{سمې لارې ته هدايت د الله کار دئ نه د پيغمبر}

او په ور پســـې مبارکو آيتونو کې الله تعالى لمړئ دا پوښـــتنه په کنايې ســـره ځواب کړې ده چې آيا کافرانو ته خيرات ورکول روا دي کنه؟ ځواب: هو! محتاجو کافرانو ته خيرات ورکول روا دي، ځکه دوى انسانان دي، نو

د بې وزرو مومنانو غوندې مرسـتې ته اړ دي، او ايمان راوړل يې د پيغمبر کار ندئ، او کفر د انساني مرستې مخه نه نيسي.

او همداسې په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى لمړئ ټينګار کړئ دئ چې حق تـه د خلکو هـدايت پر پيغمبر بـاندې لازم نـدئ، او بيـا يې د خيرات ورکولو نور حکمونه ياد کړې دي، او په بيان کې يې فرمايلي دي:

{د خلکو هدايت اسلام ته پر پيغمبر لازم ندئ}

﴿* لَّيْسَ عَلَيْكَ هُدَىٰهُمْ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَهْدِى مَن يَشَآءُ ۗ وَمَا تُنفِقُواْ مِنْ خَيْرٍ فَلِأَنفُسِكُمْ ۚ وَمَا تُنفِقُونَ إِلَّا ٱبْتِغَآءَ وَجْهِ ٱللَّهِ ۚ وَمَا تُنفِقُواْ مِنْ خَيْرٍ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنتُمْ لَا تُظْلَمُونَ ﴿٢٧٢﴾ لِلْفُقَرَآءِ ٱلَّذِينَ أُحْصِرُواْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ لَا يَسْتَطِيعُونَ ضَرْبًا فِى ٱلْأَرْضِ يَحْسَبُهُمُ ٱلْجَاهِلُ أَغْنِيَآءَ مِنَ ٱلتَّعَفُّفِ تَعْرِفُهُم بِسِيمَٰهُمْ لَا يَسْـَٔلُونَ ٱلنَّاسَ إِلْحَافًا ۗ وَمَا تُنفِقُواْ مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّ ٱللَّهَ بِهِۦ عَلِيمٌ ﴿٢٧٣﴾ ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَٰلَهُم بِٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ سِرًّا وَعَلَانِيَةً فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٢٧٤﴾﴾

[۲۷۲] ای پيغمبره! د کافرانو سمبدل اسلام ته پر تا باندې لازم ندي، خو الله چې څوک وغواړي؛ هغه سـې لارې ته هدايت کوي [يعني د ايمان راوړلو توفيق ورکوي، نو کافرانو ته خيرات ورکول روا دي] او ای مومنانو! تاسې چې څه خيرات ورکوی، نو هغه د خپلو ځانو ګټې لپاره ورکوی [يعنی د خيرات ثواب او ګته تاسـې ته رسـيږی] او هغه خيرات چې تاسـې د الله رضا او خوښی لپاره ورکوی؛ د هغه ثواب تاسې ته پوره درکول کيږي او پر تاسې باندې هيڅ ظلم نکيږي، يعنی د سـتاسـې ثواب الله سـره هيڅکله نه ضائع کيږی او لمنځه نه ځي.

ګرانو دوسـتانو! الله تعالى چې د ټولو خلکو لوی پالونکئ څښـتن دئ،

او ټولو ته روزي ورکوي او د کافر او مومن په منځ کې تو پیر نکړي، نو همداسې یې خپلو مومنو بنده ګانو ته سپارښت کړي دئ چې بې وزرو محتاجو کافرانو ته خیرات ورکړي.

او بیا په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی د الله لارې مجاهدینو ته په خیرات ورکولو باندې کلک سپارښت کړئ دئ، او فرمایلي دي:

[٢٧٣] ای مومنانو! تاسې خپل خیرات هغو مسکینانو او بې وزرو کسانو ته ورکړئ چې دوی د الله په لار کې پر جهاد لګیا دي او پکې کلک حصار او نښتي دي او مزدورئ پسې وتلای نسي، ترڅو خپل خرڅ او نفقه پیدا کړي [یعنی دغه د الله لارې مجاهدین چې په سنګرونو او مورچلو کې پراته دي] پر دوی باندې ناپوه کسان د غنیانو او د مړو کسانو ګمان کړي، ځکه دوی د چا نه څه شئ نه غواړي، او ته ای پیغمبره! دوی د څیرو نه پیژني چې ډیر محتاج دي او هیڅ څه شئ نه لري او د بل چا نه هم څه نه غواړي او سوالګر ندي، او هغه خیرات چې تاسې ای مومنانو! دغو بې وزرو مسکینانو ته ورکوئ؛ یقینا چې االله ور باندې ښه پوه دئ، یعنی ثواب یې بیا الله تعالی په دنیا او آخرت کې تاسې ته درکوي.

[٢٧٤] او هغه کسان چې خپل مال او دولت شپه او ورځ پټ او په ښکاره د الله په لار کې ورکوي او د الله رضا او خوښي غواړي، نو د دوی د خیراتونو ثواب د الله سره محفوظ دئ او پر دوی باندې د آخرت په ورځ هیڅ و یره نسته او نه ده دوی غمجن کیږي، یعنی خیرات ورکول په دنیا کې مومنان د آخرت ورځې سختیو نه کلک ساتي.

ګرانو عز یزانو! په دغو مبارکو آیتونو کې مومنان الله تعالی هڅولي دي چې د الله په لار کې مجاهدینو ته خپل خیراتونه ورکړي، ځکه د الله لارې مجاهدین په جهاد کې لګیا دي او دښمن سره د جګړې په سنګرونو او مورچلو کې پراته دي او هغه ساتي، نو دوی نسي کولای چې کار او یا غر یې پسې لاړ سي او خپل خرڅ پیدا کړی، او هغه څوک چې دا د الله تعالی لارې غاز یان نه پیژني؛ ګمان کړي چې دوی ماړه دي او چا ته اړ او

محتاج ندي، ځکه دوی د خلکو نه څه شئ نه غواړي او سوال نکړي، خو هوښیاران د هغوی په څیرو کې فقر او ولږه و يې، نو ښایې چې مومنان خپل خیرات دغسې کسانو ته چې د الله په لار کې جهاد کړي ورکړي او دوی و پالي، ترڅو مومنان د الله د دین دښمنانو یرغل نه په امن کې سي او مظلوم ولسونه د هغوی ښکیلاک نه ازاد سي او په ډاډ او پوره اطمئنان سره د الله عبادت او بنده ګي وکړي، لکه د افغان ولس جهاد او مقاومت چې د پخوانۍ شوروي اتحاد یرغلګرو لښکرو پر وړاندې په ۱۳۵۸هـ ش کال کې په ولسي مرستو او خیراتونو پیل سه، ترڅو چې بیا د شوروي یرغلګر ملحد لښکر د افغانستان نه په ۱۹۷۸ م کال کې وتلو ته اړ سه، خو دا یرغل بل ځل بیا د۲۰۰۱م کال په اکتو بر کې د ناتو لښکرو پیل که، او بیا د شل کلنې خونړۍ جګړې نه وروسته؛ د الله تعالی په مرسته او د مجاهدینو په بې سار یو قر بانیو وتلو ته اړ سول او افغانستان بیرته الحمد لله د صلیبي ښکیلاک نه هم د ۲۰۲۱م کال د آګست په نیمایي کې ازاد او خپلواک سه، نو دعا کړو چې الله تعالی ده د افغانستان اوسني حکومت ته په اسلامي آدابو، اخلاقو او حکمونو په تطبیق باندې په اخلاص سره د افغانستان مجاهد او کړ یدلي ولس خدمت توفیق ورکړي، ترڅو یوځل بیا د لوی ازمایښت سره مخامخ نسي او د نیابتي جګړو په لومو کې ونښلي.

{سود حرام دئ او هغه د بیعې غوندې ندئ}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د سود خوړلو حکم بیان کړئ دئ، ځکه سودي قرضونه په مشرکینو کې ډیر خواره ول، او بیا چې کله په مدینه منوره کې د اسلام مدني نظام حاکم سه، نو ټولې سودي معاملې یې حرامې اعلان کړې او دا لاندې مبارك آیتونه یې په تحر یم کې را نازل سول، نو لمړئ الله تعالی د سود خورو سوداګرو او تاجرانو هغه ناروا حیله او پلمه غندلې او کلکه رده کړي ده چې دوی به سود بیعې ته ورته باله، او بیا یې د سود خورو بد حال د قیامت په ورځ مونږ ته یاد کړئ او انځور کړی دئ، او مومنان یې سود پر یښودلو ته په ټینګار سره رابللي

دي، او بيا يې د سود سره ترلې نورې قرآني لارښودنې يادې کړې او نبي پوره بيان کړې دي، او فرمايلي دي:

﴿ٱلَّذِينَ يَأۡكُلُونَ ٱلرِّبَوٰاْ لَا يَقُومُونَ إِلَّا كَمَا يَقُومُ ٱلَّذِي يَتَخَبَّطُهُ ٱلشَّيۡطَٰنُ مِنَ ٱلۡمَسِّۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ قَالُوٓاْ إِنَّمَا ٱلۡبَيۡعُ مِثۡلُ ٱلرِّبَوٰاْۗ وَأَحَلَّ ٱللَّهُ ٱلۡبَيۡعَ وَحَرَّمَ ٱلرِّبَوٰاْۚ فَمَن جَآءَهُۥ مَوۡعِظَةٞ مِّن رَّبِّهِۦ فَٱنتَهَىٰ فَلَهُۥ مَا سَلَفَ وَأَمۡرُهُۥٓ إِلَى ٱللَّهِۖ وَمَنۡ عَادَ فَأُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ٢٧٥ يَمۡحَقُ ٱللَّهُ ٱلرِّبَوٰاْ وَيُرۡبِي ٱلصَّدَقَٰتِۗ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ أَثِيمٍ ٢٧٦ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ لَهُمۡ أَجۡرُهُمۡ عِندَ رَبِّهِمۡ وَلَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ٢٧٧ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَذَرُواْ مَا بَقِيَ مِنَ ٱلرِّبَوٰٓاْ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ٢٧٨ فَإِن لَّمۡ تَفۡعَلُواْ فَأۡذَنُواْ بِحَرۡبٖ مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦۖ وَإِن تُبۡتُمۡ فَلَكُمۡ رُءُوسُ أَمۡوَٰلِكُمۡ لَا تَظۡلِمُونَ وَلَا تُظۡلَمُونَ ٢٧٩ وَإِن كَانَ ذُو عُسۡرَةٖ فَنَظِرَةٌ إِلَىٰ مَيۡسَرَةٖۚ وَأَن تَصَدَّقُواْ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ٢٨٠ وَٱتَّقُواْ يَوۡمٗا تُرۡجَعُونَ فِيهِ إِلَى ٱللَّهِۖ ثُمَّ تُوَفَّىٰ كُلُّ نَفۡسٖ مَّا كَسَبَتۡ وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ ٢٨١﴾

[۲۷۵] هو! هغه کسان چې سود خوري؛ دوی به د قیامت په ورځ د خپلو کورونو نه د هغه چا غوندې راجګیږي چې د شیطان په غولونه لیونې سوي ګنګس وي، او دا ځکه چې دوی وو یل: بیعه یقینا د سود غوندې ده [یعنی سود لکه بیعه روا دئ، نو بیا الله تعالی د دوی دا ناسمه پلمه کلکه رده کړې ده،او فرمایلي دي:] نا داسې نده، الله بیعه حلاله کړې او سود یې حرام کړئ دئ، نو بیا چې چا ته د هغه لوی څښتن الله لخوا د سود حرامیدلو حکم او وعظ راغئ،نو بیا دئ نور سود خوړل پر پردي او په هغه څه چې پخوا تیر سوي دي دئ ور باندې نه نیول کیږي او نور کار یې د الله سره دئ، خو هغه څوک چې سود خوړلو ته بیرته

وروګرځيده او د الله حکم يې د سود په ناروا بللو کې د پښو لاندې که، نو هغوی دوزخيان دي او په سرو لمبو کې به کلک کړ يږي.

[٢٧٦] او په سود ګټلې مال او دولت الله له منځه وړي او خيراتونه الله ډيروي [يعنی په پانګه کې يې الله برکت اچوی] او ټول هغه ګناه ګار کافران چې د خپل کفر پر ګناه کلک ولاړ دي؛ دوی پر الله ګران ندي او الله دوی نه خوښوي.

[٢٧٧] او هغو کسانو چې ايمان راوړ او ښه يې وکړل او لمونځ يې ودرا وه او زکات يې ورکه، نو ثواب يې دوی ته د دوی رب الله په يقين سره ورکوي او د آخرت په ورځ پر دوی باندې هيڅ و يره نسته او نه ده غمجن کيږي، يعنی مومنان چې د الله تعالی حکمونه پرځای کوي پر دوی د آخرت په ورځ د دوزخ عذاب نه هيڅ و يره نسته، ځکه دوی جنتيان دي.

[٢٧٨] ای مومنانو! د الله نه وو يره يږی او د سزا نه يې خپل ځانو نه کلک وساتی، او که تاسې په ر ښتيا سره مومنان ياستی، نو د سود پاتې ګټې نورې پر يږدی او هغه مه غواړی، يعنی ای مومنانو! که تاسې په اخلاص سره ايمان راوړئ وي او د الله تعالی حکمونو ته تسليم وی، نور نو سودي ګټې پر يږدی او هغه خوسې کړی.

[٢٧٩] او که بيا تاسې ای مومنانو! دا کار ونکه او د سود نه تير نسوی، نو د الله او پيغمبر سره د جګړې اعلان وکړی [يعنی دغسې يوې لوی يې جګړې ته سترګې په لار سی] او که د سود نه تاسې تو به وايستله او هغه تاسې پر يښود، نو پانګه مو خپله ده، نه به تاسې د سود ګټې په اخستلو سره پر قرضدار او پوروړي ظلم کړی او نه به پر تاسې باندې د پانګې او سرمايې نه په تيريدلو سره ظلم کيږي.

[٢٨٠] او که د ستاسې پوروړي او قرضدار څه نه درلودل، نو هغه ته وخت ورکړی او وې زنډوی، ترڅو د هغه لاس ته مال او دولت ورسي او بيا د ستاسې پور درکړي، او که تاسې خپل پور ورته و ښښی، نو که تاسې پوهيږی، بيا نو دغه د خيرات ورکولو ثواب تاسې ته ډير ښه دئ، يعنی دا

چې خپل قرض پوروړي ته و ښښ او په خيرات کې يې ورته وشميرئ.

درندو مومنانو! الله تعالى د سود حکمونو او د هغه اړوند لارښودنو او پور ورکونکو ته د ز يرو د بيان نه وروسته؛ بيا مومنان د آخرت ورځې کلکې سزا نه کوښلي دي، او فرمايلي دي:

[٢٨١] اى خلکو! او د هغې ورځې عذاب او سزا نه ځانونه وساتئ چې په هغه ورځ بيرته الله ته ورګرځول کيږئ او بيا هرچا ته د خپلو کړنو ثواب او سزا پوره ورکول کيږي او پر دوى باندې هيڅ ظلم نکيږي، يعني د قيامت په ورځ د ټولو خلکو اعمال د الله تعالى د عدالت په تله تلل کيږي او هرچا ته خپل حق ورکول کيږي.

قدرمنو دوستانو! عبد الله بن عباس رضي الله عنه نه روايت سوئ دئ چې دا مبارك آيت د قرآن کر يم وروستئ آيت دئ چې پر رسول الله ﷺ باندې رانازل سوئ دئ.

هو! ګرانوعز يزانو! دا د الله تعالى هغه لارښودنې او حکمونه او خيرات ورکونکو ته ز يري ول چې هغه يې مونږ ته د سود په باره کې بيان کړي دي او د سود ز يانونه يې راته په دنيا او آخرت کې ښودلي او په نښه کړي دي، او همدارنګه الله تعالى د سود نه د خلاصون لارې هم سود خورو ته ښودلې دي، او دا ځکه چې سود په اقتصادي نظام کې ټولنه د ډيرو لو يو ګواښونو او خطرونو سره مخامخ کوي، او د ولسونو په منځ کې طبقاتي ژوند رامنځ ته کوي، ترڅو ټول دولت او پانګه يوازى د څو ګوتو په شمير پانګه والو په ولکه کې وي او نور ټول خلک او ولسي وګړي؛ د يوي مړۍ ډوډۍ لاس ته راوړو لپاره شپه او ورځ د غټو سرمايه دارانو د ولکې لاندې شرکتونو کې په مزدورۍ لګيا وي، او د ستړيا ګټې يې ټولې د بل چا جيب ته ځي، او همدارنګه په سودي نظام کې د ټولنې وګړو په منځ کې د يو بل سره دښمني او کرکه رامنځ ته کيږي او د دوى په منځ کې ورورې او يو بل سره مرسته ورکيږي، نو ځکه اسلام په خپل اقتصادي نظام کې سود حرام کړئ دئ، او هغه يې د الله او پيغمبر سره د جنګ او جګړې

اعلان بللئ دئ، نو نسايي چې اسلامي ټولنه د پانګه وال سودي نظام نه لرې وساتل سي، او د الله تعالى حکمونو ته غاړه کيږدي.

{د پور ساتنه په ليکلو او د شاهدانو په تيرولو سره فرض ده}

او په ور پسې مبارك آيت کې چې د مدايني يا د پور ورکولو په آيت نومول سوئ دئ او په قرآن کې د ټولو نه اوږد آيت دئ؛ الله تعالى مونږ ته پکې د قرض يا پور ورکولو ځانګړي حکمونه او آداب ډير روښانه بيان کړي دي، او فرمايلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا تَدَايَنتُم بِدَيۡنٍ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗى فَٱكۡتُبُوهُۚ وَلۡيَكۡتُب بَّيۡنَكُمۡ كَاتِۢبُۢ بِٱلۡعَدۡلِۚ وَلَا يَأۡبَ كَاتِۢبٌ أَن يَكۡتُبَ كَمَا عَلَّمَهُ ٱللَّهُۚ فَلۡيَكۡتُبۡ وَلۡيُمۡلِلِ ٱلَّذِي عَلَيۡهِ ٱلۡحَقُّ وَلۡيَتَّقِ ٱللَّهَ رَبَّهُۥ وَلَا يَبۡخَسۡ مِنۡهُ شَيۡـٔٗاۚ فَإِن كَانَ ٱلَّذِي عَلَيۡهِ ٱلۡحَقُّ سَفِيهًا أَوۡ ضَعِيفًا أَوۡ لَا يَسۡتَطِيعُ أَن يُمِلَّ هُوَ فَلۡيُمۡلِلۡ وَلِيُّهُۥ بِٱلۡعَدۡلِۚ وَٱسۡتَشۡهِدُواْ شَهِيدَيۡنِ مِن رِّجَالِكُمۡۖ فَإِن لَّمۡ يَكُونَا رَجُلَيۡنِ فَرَجُلٞ وَٱمۡرَأَتَانِ مِمَّن تَرۡضَوۡنَ مِنَ ٱلشُّهَدَآءِ أَن تَضِلَّ إِحۡدَىٰهُمَا فَتُذَكِّرَ إِحۡدَىٰهُمَا ٱلۡأُخۡرَىٰۚ وَلَا يَأۡبَ ٱلشُّهَدَآءُ إِذَا مَا دُعُواْۚ وَلَا تَسۡـَٔمُوٓاْ أَن تَكۡتُبُوهُ صَغِيرًا أَوۡ كَبِيرًا إِلَىٰٓ أَجَلِهِۦۚ ذَٰلِكُمۡ أَقۡسَطُ عِندَ ٱللَّهِ وَأَقۡوَمُ لِلشَّهَٰدَةِ وَأَدۡنَىٰٓ أَلَّا تَرۡتَابُوٓاْ إِلَّآ أَن تَكُونَ تِجَٰرَةً حَاضِرَةٗ تُدِيرُونَهَا بَيۡنَكُمۡ فَلَيۡسَ عَلَيۡكُمۡ جُنَاحٌ أَلَّا تَكۡتُبُوهَاۗ وَأَشۡهِدُوٓاْ إِذَا تَبَايَعۡتُمۡۚ وَلَا يُضَآرَّ كَاتِۢبٞ وَلَا شَهِيدٞۚ وَإِن تَفۡعَلُواْ فَإِنَّهُۥ فُسُوقُۢ بِكُمۡۗ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۖ وَيُعَلِّمُكُمُ ٱللَّهُۗ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ﴾

[٢٨٢] ای مومنانو! کله چې تاسې يو بل ته د ټاکل سوې نيټې پورې قرض يا پور ورکه؛ هغه وليکئ، او څوک چې ليکونکئ دئ هغه ده د ستاسې په منځ کې پر حق او انصاف سره ليکنه وکړي [يعنى پرته لدې چې پکې د حجت او سند ليکونکئ څه شيء ډير او لږ کړي] او ليکونکئ ده د حجت

په لیکلو کې د هغـې لیکنې نه چې هغه ورته الله ورزدکړي او ښـودلې ده؛ ډه ډه نکړي، او څنګه چې ده هغـې دې ولیکي، او پر هغه چا چې قرض دئ هغه ده خپل قرض یا پور په خوله لیکونکي ته ووایي او د خپل خدایه نه ده وو یر یږی او د قرض نه ده هیڅ څه شئ نه کموي، او که چیرې هغه څوک چې ور باندې پور یا قرض دئ؛ کم عقله وه [یعنی په څه نه پوهیده] او یا ضعیف او ماشـوم وه، او یا یې لیکونکئ په خوله نسـه پوه کولای، نو بیا ده د هغه واکمن ولي او خپلوان دا حق په انصـــاف ســـره په خوله لیکونکي ته یاد کړی، ترڅو یې ولیکې، او بیا ده دوه کســه نار ینه پر دغه لیکنه او حجت باندې شاهدان تیر کړي، خو که دوه کسه نار ینه نه ول، نو بیا ده یو نار ینه او دوه ښـځې د هغو کسـانو نه چې تاسـې یې خوښـوی شـاهدان ونیسي، او دوه ښـځې، ځکه چې که د یوی نه خبره هیره سـوه، نو بیا بې یوه بلې ته ور په یاد کړي، او کله چې دغه شاهدان شاهدۍ و یلو ته را وغوښـــتل ســـي، نو دوی ده د شـــاهدۍ ورکولو نه ډ ډه نکړي،او ای مومنانو! د قرض لیکلو نه د هغه ټاکلي وخته پورې، که قرض ډیر وه او که لږ؛ مه ســتړي کیږی او دا ځکه چې د قرض لیکنه او حجت ورکول؛ د الله پر وړاندې ښـــه انصـــاف او عدالت دئ او ښـــه شـــاهدي ور باندې ورکول کیږي، او همدارنګه دا د قرض لیکل د هغه ټاکل سـوي وخته پورې د شك مخه نسي، خو که چیرې د ستاسې په منځ کې ای مومنانو! لاس په لاس سـودا وه او قرض پکې نوه، نو بیا پر تاسـې څه ګناه نسـته چې هغه ونه لیکی، او کله چې تاسې پر یو بل باندې څه شئ خرڅول، نو شـاهدان پرې تیر کړی، او روا نـده چې د حجـت لیکونکي تـه او پـه قرض بـانـدې شـاهدانو ته څه تاوان او ز یان ورسـیږي، او که چیرې تاسـې ای خلکو! د پور یا قرض لیکونکي او شـاهدانو ته څه ضـرر او ز یان ورسـا وه، نو بیا تاسـې فاسـقان یاسـتی [یعنی ځانونه مو د الله بنده ګی او اطاعت نه و یستلي دي او ګناه یې ای مومنانو! د ستاسې پر غاړه ده] او د الله نه وو یر یږی [یعنی د عذاب و یرې نه خپل ټول کارونه د الله حکم سره سم پرځای کړی] او الله تاسې ته هرڅه درزده کوي، ځکه یوازې الله په هرڅه باندې پوه لوی ذات دئ، یعنی هیڅ څه شـئ د الله نه پټ ندي، نو الله د هرڅا ســـره د هغه لائق چلند کړي، ترڅو عدالت په ټولنه خور ســـي او د ظلم مخه ونیول سي.

درندو عز یزانو! لکه څنګه چې مخکې یادونه وسوه؛ دا مبارك آیت په ټول قرآن کې اوږد آیت دئ او په هغه کې الله تعالی مونږ ته په مالي او اقتصادي راکړه ورکړه کې ډیرې ارزښتناکه لارښودنې کړی دي، او د سوداګرۍ هغه غوره نظام او قانون یې راته مخکې ایښي دئ چې د هغه په عملي کولو سره د هرچا حقوق ساتل سوي پاتي کیږي، او د خلکو په منځ کې یو بل سره مرسته او په یو بل باندې د باور او اعتماد کړو روحیه او فضا لا ډیر ښه او پیاوړې کیږي، او هم د هر ډول خپل منځي ستونزو او شخړو نه په ټولنه کې مخنیوئ کیږي، او دا دئ الحمد لله د اوسني عصر نړۍ یوال تجارت او سوداګرۍ نظام؛ د همدې قرآني لارښودنو په عملي کولو سره د یوه اعتمادي او پرمخ تللي اقتصادي نظام څښتن دئ او د ټولو خلکو اقتصادي اړ یکې یې په ژوند کې اسانه کړې دي.

{ګروي یا د پور ضمانت په جنس د خلکو اړتیاوې پوره کوي}

قدرمنو لوستونکو! او په ور پسې مبارکو آیتونو کې همداسې مونږ ته د قرض په ضمانت کې د ګروۍ مشروعیت الله تعالی بیان کړئ دئ، او پوره بیان یې د فقه په کتابونو کې سوئ دئ، او دلته الله فرمایلي دي:

﴿* وَإِن كُنتُمْ عَلَىٰ سَفَرٍ وَلَمْ تَجِدُوا۟ كَاتِبًا فَرِهَٰنٌ مَّقْبُوضَةٌ ۖ فَإِنْ أَمِنَ بَعْضُكُم بَعْضًا فَلْيُؤَدِّ ٱلَّذِى ٱؤْتُمِنَ أَمَٰنَتَهُۥ وَلْيَتَّقِ ٱللَّهَ رَبَّهُۥ ۗ وَلَا تَكْتُمُوا۟ ٱلشَّهَٰدَةَ ۚ وَمَن يَكْتُمْهَا فَإِنَّهُۥٓ ءَاثِمٌ قَلْبُهُۥ ۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ ﴿٢٨٣﴾ لِّلَّهِ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ۗ وَإِن تُبْدُوا۟ مَا فِىٓ أَنفُسِكُمْ أَوْ تُخْفُوهُ يُحَاسِبْكُم بِهِ ٱللَّهُ ۖ فَيَغْفِرُ لِمَن يَشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَن يَشَآءُ ۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿٢٨٤﴾﴾

[۲۸۳] ای مومنانو! او که چیرې تاسې په سفر کې وی [یعنی پردیسي وی] او څه شئ مو په یو بل باندې په پور یا قرض خرڅ کړل، او بیا تاسې څوک لیکونکئ بیانموند چې دا قرض درته ولیکي، نو بیا یو بل ته څه جنس ګرو ورکړی، خو که بیا پر یو بل ډا ډه سوی، نو د پور څښتن ده دا ګرو سوئ امانت پوروړي ته بیرته وسپاري [یعنی د جنس ګرو ورکول د حجت لیکلو ځای نیسي، خو که د ستاسې اعتبار پر یو بل پوخ وه، نو بیا د جنس ګرو ته هم اړتیا نسته] او ګرو اخستونکئ ده د خپل رب الله نه

کلک وو یر یږي او په امانت کې ده خیانت نکړي، او ای شاهدانو! تاسې خپله شاهدي مه پټوي، ځکه چا چې شاهدي پټه کړه، نو د هغه زړه په یقین سره ګناه کړي ده، او الله د ستاسې پر ټولو کړنو باندې ښه پوه دئ، یعنی د الله تعالی نه هیڅ څه شئ پټ ندي، نو په خپل کامل علم سره د هر چا سره حساب کړي او ثواب او سزا ورکوي.

[٢٨٤] او ټول هغه څه چې په اسمانو او په ځمکه کې دي؛ هغه ټول د الله واک لاندې دي [یعنی الله یې پالي او چلوي یې] او ای خلکو! د ستاسې په زړونو کې چې هرڅه دي، نو که هغه ښکاره کړئ او که پټ یې کړئ؛ الله د ستاسې سره حساب کړي، نو بیا چې الله څوک وغواړي بښي یې او چا ته چې وغواړی سزا ورکوي، او الله په هرڅه ښه قادر لوی ذات دئ، یعنی هرڅه کړلای سي او د هرڅه وسعه لري.

درنډو عز یزانو! د یادونې وړ ده چې د نن ورځې په دودیځ ثقافت او فرهنګ کې د زړه پر ځای چې قرآني اصطلاح ده؛ د ضمیر او وجدان کلمې کارول کیږي، لکه دا چې وایی: بې وجدان او بې ضمیره کسان چې زړونه یې ګناه تور کړي دي او د خلکو په امانتونو کې خیانت کړي او هغه غلا کوي، نو دوی ته الله کلکه سزا ورکوي، ځکه الله په هرڅه پوه او قادر ذات دئ.

{ د ایمان پرستنو تکیه وهل د ایمان رواړو نښه ده }

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې چې د البقرې مبارکه سوره ور باندې پای ته رسیدلې ده؛ الله تعالی د ایمان ارکان او څه نوري ضروري لارښودني او سپارښتنې مونږ ته په نښه کړي او بیان کړی دي، او بیا یې په وروستۍ برخه کې مومنانو ته د یوې ډیرې ګټورې دعاء سر لیک او د الله تعالی ذکر ښودلئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿ءَامَنَ ٱلرَّسُولُ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡهِ مِن رَّبِّهِۦ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَۚ كُلٌّ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَمَلَٰٓئِكَتِهِۦ وَكُتُبِهِۦ وَرُسُلِهِۦ لَا نُفَرِّقُ بَيۡنَ أَحَدٖ مِّن رُّسُلِهِۦۚ وَقَالُواْ سَمِعۡنَا وَأَطَعۡنَاۖ غُفۡرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيۡكَ ٱلۡمَصِيرُ ٢٨٥﴾

[٢٨٥] د الله اســتازي پيغمبر(محمد ﷺ) او مومنانو پر هغه کتاب ايمان راوړ چې هغه رسول الله ته د هغه لوی رب لخوا رانازل سوئ دئ، او دوی ټولو پر الله او د هغه پر فرښتو يا ملائکو او د الله پر کتابونو او پر پيغمبرانو باندې ايمان راوړ، او مونږ د الله پيغمبرانو نه د هيڅ يوه په منځ کې فرق نکړو [يعنی دا چې دوی ټول پر حق او ر يښــتيا ســره د الله تعالی رالیږلي پيغمبران دي، او مونږ مومنان د يهودو او نصــاروو غوندی نه يو چې ووايو: دا سـړئ په ر يښـتيا او حق سـره پيغمبر دئ او هغه بل پيغمبر ندئ، او بيا چې کله پيغمبر او مومنانو ته د الله کتاب (قرآن) را نازل سـه] نو دوی وو يل: ای لو يه ر به! مونږ د سـتا نه راغلئ پيغام ښـه واور يده او ورته تسليم سوو او اطاعت يې کړو، او ای د زمونږ لو يه څښـتنه! مونږ د سـتا بښـنې ته په طمعه يو او د زمونږ درتګ تاته دئ، يعنی د قيامت ورځ حق ده او ټول خلک په هغه ورځ الله ته ورتلونکي دي.

{الله هيڅ چا ته د خپلې وسعې نه دروند پيټئ نه ور پشا کوي}

او د البقرې مبارکې ســورې په پای کې الله تعالی دا دعا مومنانو ته د سرليک په مقصد ډالۍ کړی ده، او فرمايلي دي:

﴿لَا يُكَلِّفُ ٱللَّهُ نَفۡسًا إِلَّا وُسۡعَهَاۚ لَهَا مَا كَسَبَتۡ وَعَلَيۡهَا مَا ٱكۡتَسَبَتۡۗ رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذۡنَآ إِن نَّسِينَآ أَوۡ أَخۡطَأۡنَاۚ رَبَّنَا وَلَا تَحۡمِلۡ عَلَيۡنَآ إِصۡرٗا كَمَا حَمَلۡتَهُۥ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِنَاۚ رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلۡنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهِۦۖ وَٱعۡفُ عَنَّا وَٱغۡفِرۡ لَنَا وَٱرۡحَمۡنَآۚ أَنتَ مَوۡلَىٰنَا فَٱنصُرۡنَا عَلَى ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡكَٰفِرِينَ ٢٨٦﴾

[٢٨٦] هو! الله هيڅ څوک د هغه وسعې نه پر وتلي درانده کار يا دنده نه ګماري، او هرڅوک به د خپلو کړنو ثواب او ګټه اخلي، او هرچا ته د هغه د خپلو بدو کړنو او د ګناه وو پيټئ ور پشــا کيږي، نو ته ای د زمونږ لو يه څښـتنه! مونږ په هغه ګناه مه نيسـه چې هغه د زمونږ نه په هيره او يا په تيروتنې او سـهوې سـره پيښـه سـوي ده، او ای د زمونږ لو يه ر به! ته

مونږ ته هغه درونـد پيژئ مه را پشـا کوه چې هغه تا د زمونږ نه پخوا تيرو سـوو ولسـونو ته ور پشـا کړئ وه[يعنى لکه ځينې هغه درانده حکمونه چې بني اسـرائيل ور باندې د دوى د سـرکښـۍ له کبله مکلف سـوي ول، لکه د توبې قبليدو لپاره د ځانو وژل، او ځلورمه برخه مال په زکات کې ورکول، او د پاکۍ لپاره په نجاسـت ککړو جامو پر يکول يا غوڅول، او داسـې نور ډير درانده حکمونه چې بيا يهود ورڅخه عاجز او بې وسـې سـول] او اى د زمونږ لـو يه خدايه! مونږ ته عفوه وکړه او راڅخه تير سـه او مونږ و بښـه او خپل رحمت ده پر مونږ راووروه، او پر مونږ باندې مهر بان سـه، او اى لـو يه ځښـتنه! ته د زمونږ لوى پالونکئ خداى يې، نو ته مونږ ته د کافرانو [پر ټولو هغو ډلو باندې چې دوى د ستا کتاب او پيغمبر نه منکر سـول او هغه يې دروغژن و بلل او ايمان يې رانږ] بر يا را کړه او د زمونږ مرسـته وکړه، يعنى مونږ پر هغوى ټولو باندې زورور کړه او فتحه او نصـرت د زمونږ په برخه کړه! آمين يارب العالمين.

قدرمنو دوسـتانو! د عبد الله بن عباس رضـي الله عنهما نه په روايت سـوي قدسـي حديث کې چې هغه امام مسـلم روايت کړئ دئ راغلي دي چې الله تعالى د دغې دعاء په منلو کې وفرمايل:(قد فعلت) يعنى اى مومنانو! د سـتاسـې دعاء ما قبوله کړه، هو! يقينا چې الله تعالى دا دعاء منظوره کړې ده، نو ځکه د اسـلام ټول شـرعي حکمونه په اسـانتيا ولاړ دي او الله تعالى هيڅ کله مونږ پر داسې يو حکم نه يو مکلف کړې چې هغه زمونږ د وسـعې او طاقت نه وتلئ وي، او همدارنګه د البقرې سـورې د دغو دوه وروسـتيو مبارکو آيتونو په ثواب او فضـيلت کې رسـول اللهﷺ فرمايلي دي:"هر څوک چې دا دوه آيتونه هره شـپه ولولي نو هغه ورته بس او کافي دي، يعنى د شـپې ګواښـونو او خطرونو نه دئ الله سـاتي" او دا مبارك حديث امام بخاري په خپل جامع الصحيح کې روايت کړئ دئ، او د دغو مبارکو آيتونو نور ډير ثوابونه د اذکارو په کتابونو کې ولولئ.

ګرانو عز يزانو! د الفاتحې او بيا د البقرې مبارکو سورو پښـتو معنا او لنډ تفسـير همدلته پاى ته ورسـيده، نو الحمد لله الذي بنعمته تتم الصـالحات وصـلى الله وسـلم على رسـوله الأمين وعلى آله وأصـحابه أجمعين، وسـبحانك اللهم و بحمدك أشـهد أن لا إله إلا أنت اسـتغفرك وأتوب إليك...



د آل عمران سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله په نامه چې د لوی رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي]

{د آل عمران سورې لنډه پیژندنه او لوړ مقصدونه}

قدرمنو دوستانو! د آل عمران مبارکه سوره د هجرت نه وروسته په مدینه منوره کې پر پیغمبرﷺ باندې را نازله سوې ده، نو هغه مدني سوره ده، او په پیل کې الله تعالی پر خپل عظمت او لو یتیا او مخلوقاتو نه پر استغناء باندې ټینګار کړئ دئ، او د خپل مبارك کتاب قرآن د نزول یقیني ز یرئ یې رسول اللهﷺ باندې کړئ دئ او هغه یې د حق او باطل په منځ کې فرقان بللئ دئ، ځکه قرآن مومنانو ته لارښود دستور العمل دئ؛ دوی ته سمه لار ورښیي، لکه څنګه چې تورات او انجیل یې بني اسرائیلو ته لارښود کتابونه را لیږلي ول، یعنی دا چې بشر یت د خپل رب لخوا لارښود قانون ته کلکه اړتیا لري، او بیا الله تعالی پدې مبارکه سوره کې په وار وار سره؛ د اسلام ر ښتینوالئ او حقانیت مونږ ته یاد کړئ او بیان کړی دئ، او همدارنګه یې د اهل کتابو شکونه رد کړی دي او دوی یې د اسلام دین ته چې د الله تعالی نه راغلئ وروستئ کامل او حق دین دئ؛ کلک رابللي دي، او دا مبارکه سوره په آل عمران، ځکه نومول سوې ده چې د (٣٢) آیت نه وروسته آیتونو کې یې؛ د آل عمران قصه ډیره اوږده او په تفصیل سره یاده سوې ده، او د دې مبارکې سورې په پیل کې الله تعالی د اهل کتابو اړوند ډیرې نورې مسئلې هم مومنانو ته؛ یادې کړې او ښودلې دي، ترڅو دوی مومنان ښه و پیژني او د الله تعالی حکم سره سم ورسره وچلیږي، او همدارنګه نورې ښې ډیرې الهي لارښودنې او حکمونه هم مونږ ته الله تعالی پدې سوره کې بیان کړي دي چې عمل کړل پر دغو سپارښتنو یقینا د نیکرغۍ عامل او سبب ګرځي او مومنانو ته په دنیا او

آخرت کې خوښي او ښادي ور ښي.

{مقطعات توري د قرآن بياني اعجاز څرګندوي}

د آل عمران مبارکه سوره، لکه د البقرې سوره د الهجاء په پر یکړل سوو توروبانديې چې په عربي ژ به کې ورته مقطعات توري وايي؛ پيل سوې ده، او پکې الله تعالى فرمايلي دي:

﴿الٓمٓ ۝١ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡحَيُّ ٱلۡقَيُّومُ ۝٢﴾

[١] هوا! د (الف،لام، ميم) غوندې حرفونو يا تورو ته د عربي ژبې په دود ليک کې مقطعات توري وايي، يعنى دا توري د يو بل نه پرې سوي توري دي، او هر يو يې ځان ځان ته پر خپل نامه لوستل کيږي، او په دغسې حرفونو سره الله تعالى ځينې نورې ډيرې سورې هم پيل کړې دي، او لکه څنګه چې مخکې د البقرې په مبارکه سوره کې يادونه وسوه؛ د تفسير ځينې علماء او پوهان د دغو تورو په معنا کې وايي: الله تعالى پر خپل مراد او مقصد ښه پوهيږي، خو د ځينې نورو مفسيرينو غوره و ينا او قول بيا د مقطعاتو تورو په تفسير کې دا دئ چې په مقطعاتو تورو کې چې د قرآن مجيد ګڼ شمير سورې ور باندې پيل سوې دي؛ د قرآن بياني اعجاز ته ښکاره ګوته نيول او اشاره ده، او هغه داسې چې ای د عربي ژبې و يونکو او لوستونکو! د الله تعالى کلام قرآن په همدې تورو چې تاسې پرې خبرې کړی او پرې غږ يږی؛ را نازل سوئ دئ، خو تاسې قرآن ته ورته خبرو د راوړو نه عاجز او بې وسې ياستی او د قرآن آيتونو او سورو غوندې آيتونه او سورې راوړای نسی، نو يقينا چې قرآن پر ر يښتيا او حق سره د الله نه راغلئ کتاب دئ، او ايمان راوړل ور باندې فرض دي!

{د الله تعالى توحيد او په الوهيت کې د يووالي بيان}

د آل عمران مبارکې سورې په پيل کې الله تعالى خپل يو والئ او توحيد په خدايي او الوهيت کې مونږ ته ډير روښ او قاطع بيان کړئ دئ او په دو يم مبارك آيت کې يې فرمايلي دي: ﴿ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡحَيُّ ٱلۡقَيُّومُ ۝٢﴾

[٢] هو! الله لوی ذات دئ او د هغه نه پرته پر حق ســره بل معبود نســته، او الله تل پاتې ژوندئ ذات دئ او پر خپل ځان ولاړ او بســیا دئ [یعنی د خپلو مخلوقاتو پالونکئ لوی څښــتن دئ، ځکه چې الله بل هیڅ چا ته محتاج او اړ ندئ، بلکې د ټولو مخلوقاتو چارو ســمبالونکئ او پالونکئ څښتن؛ یوازې الله دئ او ټول خلک الله ته محتاج دي، ځکه الله يي خالق او پالونکئ خدای دئ.

قدرمنو دوستانو! د رسول الله ﷺ نه روایت سوئ دئ چې دا مبارك آیت د الله تعالی وچت نوم (اســم اعظم) دئ او هرکله چې پدې نامه الله یاد سي او بیا د هغه نه څه شئ وغوښتل سي؛ دعاء قبلیږي، نو دا هغه لوی فضیلت او لوړ مقام دئ چې د آل عمران مبارکې سورې ته الله ورکړئ دئ او دا سوره ور باندې ستائل سوې ده.

{قرآن د حق پیغام او د تورات او انجیل تصدیقونکئ کتاب دئ}

او بیا الله تعالی د قرآن حقانیت او ر یښــتینوالي په بیان ټینګار کړئ دئ او فرمایلي دي چې قرآن د هغه نه وړاندې اسماني کتابونه تصدیقوي:

﴿نَزَّلَ عَلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ بِٱلْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ وَأَنزَلَ ٱلتَّوْرَىٰةَ وَٱلْإِنجِيلَ ﴿٣﴾ مِن قَبْلُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَأَنزَلَ ٱلْفُرْقَانَ ۗ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ ۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ ذُو ٱنتِقَامٍ ﴿٤﴾ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَخْفَىٰ عَلَيْهِ شَىْءٌ فِى ٱلْأَرْضِ وَلَا فِى ٱلسَّمَآءِ ﴿٥﴾ هُوَ ٱلَّذِى يُصَوِّرُكُمْ فِى ٱلْأَرْحَامِ كَيْفَ يَشَآءُ ۚ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٦﴾﴾

[٣-٤] [هو؛ ای پیغمبره! الله چې لوی ذات دئ او پر ټولو غوره او کمالي صــفتونو او لوړو نومونو باندې موصــوف ذات دئ، او د هر ډول عیب او نقصــان نه پاک دئ] هغه دا کتاب (قرآن) [چې د الله تعالی حق کلام دئ او هیڅ شك او شبه پکې نسته] پر تا باندې را نازل کړئ دئ، او قرآن د هغه نه وړاندې را نازل ســوو کتابونو تصــدیق کوي او هغه مني [یعنی ور باندې شــاهد دئ، ځکه] د قرآن نه مخکې کتابونه تورات او انجیل [او نورې ټولې صــحیفې] الله را نازل کړلي دي[تورات يې پر

موسی عليه السلام او انجيل يې پر عيسی عليه السلام را نازل کړئ دئ] او هغه کتابونه ټول خلکو ته لارښود ول او دوی ته يې پر سمه لار چې هغه د الله بنده کې ده لارښودنه کړه، او بيا الله فرقان را نازل که [يعنی قرآن يې رانازل که، او په هغه کې الله تعالی د حق او باطل په منځ کې بيلونکي روښانه دليلونه را نازل کړي دي، او هرڅوک ور باندې پوهيږي، نو ښايي چې ټول خلک ايمان راوړي او حق ومني او د باطل نه ډه ډه وکړي] او يقينا هغه کسان چې د الله پر آيتونو کافران سول او ورڅخه منکر سول؛ دوی ته کلک عذاب دئ، او الله لوی ځواکمن ذات دئ،او د کافرانو نه انتقام اخستونکئ خدای دئ، يعنی دوی ته د دوی د بدو کړنو سزا هرومرو ورکوي.

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی د خپلو لو يو قدرتونو په بيان کې فرمايلي دي:

[٥] يقينا چې د الله نه هيڅ څه شئ په ځمکه او اسمان کې پټ ندي، يعنی الله د هرڅه نه خبر دئ او په هرڅه علم لري او پرې پوهيږي.

[٦] هو؛ ای خلکو! الله هغه لوی ذات دئ چې تاسې د خپلو ميندو په نسونو کې چې څنګه غواړي؛ هغسې څيره کوي او جوړوي مو [يعنی څوک هلک او څوک جلی، څوک ښايسته او څوک بد رنګه، څوک سپين او څوک تور، څوک مومن او څوک کافر...] او د الله نه پرته بل هيڅ څوک په ر يښتيا سره د عبادت او بنده ګی مستحق خداي ندئ، او الله لوی ځواکمن او ښه حکيم ذات دئ، يعنی االله تعالی هرڅه او هرکار په پوره ځواکمنی او په لوی حکمت او تدبير ترسره کوي.

{د قرآن آيتونه ځينې محکم او ځينې متشابه دي}

او په ور پسې مبارک آيت کې الله تعالی د قرآن کر يم آيتونو مقصد او مراد په بيان کې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته فرمايلي دي:

﴿هُوَ ٱلَّذِىٓ أَنزَلَ عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ مِنۡهُ ءَايَٰتٌ مُّحۡكَمَٰتٌ هُنَّ أُمُّ ٱلۡكِتَٰبِ

وَأُخَرُ مُتَشَٰبِهَٰتٞۖ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمۡ زَيۡغٞ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَٰبَهَ مِنۡهُ ٱبۡتِغَآءَ ٱلۡفِتۡنَةِ وَٱبۡتِغَآءَ تَأۡوِيلِهِۦۖ وَمَا يَعۡلَمُ تَأۡوِيلَهُۥٓ إِلَّا ٱللَّهُۗ وَٱلرَّٰسِخُونَ فِي ٱلۡعِلۡمِ يَقُولُونَ ءَامَنَّا بِهِۦ كُلّٞ مِّنۡ عِندِ رَبِّنَاۗ وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّآ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ ٧

[٧] هو؛ ای پیغمبره! الله هغه څوک دئ چې دا کتاب (قرآن) یې پر تا باندې را نازل که او د هغه نه ځینې آیتونه محکم او داسې کلک دي چې هیڅ نه بدلیږي [یعنی معنا یې روښانه ده او هیڅ شك او شبه پکې نسته او هر څوک ور باندې ښه پوهیږي، او دا محکم آیتونه چې نه بدلیږي] د دې کتاب (قرآن) مور غوندې دي [یعنی کلک، پاخه او قاطع دي، او هغه د قرآن ر یښې او بنسټونه دي] خو ځینې نور آیتونه یې د یو بل سره متشابه او سره ورته دي [یعنی پوهیدل یې هرچا ته اسانه ندي] نو هغه کسان چې په زړونو کې یې د حق نه د ککښت او انحراف ناروغي ده؛ دوی د متشابهو آیتونو معنا پسې ګرځي او هغه لټوي، ترڅو د خلکو په زړونو کې شبهې را واچوي او شکونه او فتنې را و پاروي، او بیا دا متشابه آیتونه د خپلو باطلو او ناروا غرضونو لپاره وکاروي او تاو یلونه پکې وکړي، حال دا چې د دغو آیتونو پر معنا او مقصد باندې د الله نه پرته بل هیڅ څوک نه پوهیږي، او د پاخه علم پوهان او علماء وایي: مونږ پر دغو متشابهو آیتونو باندې ایمان راوړئ دئ، او ور باندې باور لرو چې هغه ټول د زمونږ لوی څښتن الله نه راغلي دي، او د دغو متشابهو آیتونو پر معنا پوهیدل د محکمو آیتونو معنا ته چې نه بدلیدونکي او روښانه دي؛ حواله کوو [یعنی د متشابهو آیتونو معنا مونږ د محکمو آیتونو نه اخلو او په رښا کې یې ځانونه د الله تعالی په مقصد او مراد باندې پوه کوو] ځکه د الله کتاب آیتونو په معنا باندې د پوهیدلو نه؛ یوازې هوښیاران چې روغ عقل لري ګټه اخلي، او ناپوهان ورڅخه ګټه نه اخلي، یعنی دا ځکه چې دوی د الله تعالی په پټ مقصد نه پوهیږي.

درندو دوستانو! الله تعالی پدې مبارك آیت کې د اسلامي علومو ستر علماء او پوهان چې د الله تعالی مبارك کلام په معنا ښه پوهیږي او پرې

پوخ علم لري؛ ستايلي دي، او ځيني نور هغه کسان يې غندلي دي چې علم نه لري او د قرآن آيتونه په خامه پوهه لولي او د خپلې هوا او هوس او د خپلې خوښې سره سم يې تفسيروي او بيا يې خپلو ناروا مقصدونو ته (العياذ بالله) د رسيدو وسيله ګرځوي، لکه د اوسنۍ زمانې ځيني کراسوي ملايان او ليکوالان چې د قرآن آيتونه د خپلو مقصدونو او غرضونو سره سم تفسيروي، پرته لدې چې د نورو مفسر ينو تفسير په پام کې ونيسي او ښه ژور علمي تحقيق او څېړنه پکې وکړي.

{مومنانو ته د زړونو پر ټينګښت الله تعالى سپارښت کړئ دئ}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى مومنانو ته پر حق باندې د زړونو د ثبات او ټينګښت دعاء ښودلې ده، او فرمايلي دي چې ووايي:

﴿رَبَّنَا لَا تُزِغْ قُلُوبَنَا بَعْدَ إِذْ هَدَيْتَنَا وَهَبْ لَنَا مِن لَّدُنكَ رَحْمَةً ۚ إِنَّكَ أَنتَ الْوَهَّابُ ﴿٨﴾ رَبَّنَا إِنَّكَ جَامِعُ النَّاسِ لِيَوْمٍ لَّا رَيْبَ فِيهِ ۚ إِنَّ اللَّهَ لَا يُخْلِفُ الْمِيعَادَ ﴿٩﴾﴾

[٨] ای د زمونږ لو يه ر به! وروسته لدې چې تا د زمونږ زړونه په خپل رحمت سره حق ته سم کړل، نو بيا د زمونږ زړونه بل لور ته مه کړه وه، او يقينا چې ته لوی بښونکئ ذات يې، يعنی ورکړې او پيرزو يې ده ښې ډيرې دي او چا ته چې څه وغواړي هغه ورکوې، نو ای لو يه ر به! خپل رحمت ده پر مونږ باندې پيرزو کړه.

[٩] او ای د زمونږ لو يه ر به! يقينا چې ته ټول خلک د قيامت په ورځ چې په راتګ کې يې هيڅ شك نسته را ټولوې، او يقينا چې الله د خپل ټاکلي وخت او وعدې خلاف نکړي، يعنی د قيامت په ورځ د ټولو خلکو نه الله حساب اخلي او هرچا ته په هغه ورځ د هغه عمل نامه يا برئ ليک سپارل کيږي او بيا هرچا ته د هغه لائق ثواب او سزا ورکول کيږي.

{کافران په آخرت کې د دوزخ اور سوز لرګي دي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى کافرانو ته اعلان کړئ دئ

چې دوی په آخرت کې د دوزخ اور د سوخت او د سوز لرکي دي،او فرمايلي دي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَن تُغۡنِيَ عَنۡهُمۡ أَمۡوَٰلُهُمۡ وَلَآ أَوۡلَٰدُهُم مِّنَ ٱللَّهِ شَيۡـٔٗاۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمۡ وَقُودُ ٱلنَّارِ ١٠ كَدَأۡبِ ءَالِ فِرۡعَوۡنَ وَٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا فَأَخَذَهُمُ ٱللَّهُ بِذُنُوبِهِمۡۗ وَٱللَّهُ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ١١﴾

[١٠] هو! يقينا هغه کسان چې کافران سول [يعنی د الله حق دين اسلام يې ونه مانه او ايمان يې رانور] نو دوی د الله عذاب نه د دوی مال، دولت او کهول خلاصولای نسي، او نه ورته څه کټه رسولای سي، او کافران د دوزخ په اور کې د سوزولو لرکې دي، يعنی دوی، لکه لرکې په دوزخ کې سوزي او پکې کړ يږي.

[١١] [او د دغو کافرانو خوی او در يځ د الله تعالی هغه حق دين پر وړالاندې چې دوی ورڅخه منکر سول او هغه يې ونه مانه] لکه د فرعون کورنۍ هغو کسانو خوی غوندې دئ چې پخوا تير سول او دوی ټولو د زمونږ هغه آيتونه [چې هغه مونږ پر پيغمبرانو را نازل کړي ول؛ تکذيب کړل او هغه يې دروغ و بلل] نو بيا دوی الله پر خپله ګناه را ونيول او کلکه سزايې ورکړه او الله کلک سزا ورکونکئ لوی ذات دئ.

{کافر انو د بدر په جګړه کې کلکه ماته وخوړه}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې د مکې کافرانو ته الله تعالی د ماتې او د شکست ګواښ کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿قُل لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ سَتُغۡلَبُونَ وَتُحۡشَرُونَ إِلَىٰ جَهَنَّمَۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمِهَادُ ١٢ قَدۡ كَانَ لَكُمۡ ءَايَةٞ فِي فِئَتَيۡنِ ٱلۡتَقَتَاۖ فِئَةٞ تُقَٰتِلُ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَأُخۡرَىٰ كَافِرَةٞ يَرَوۡنَهُم مِّثۡلَيۡهِمۡ رَأۡيَ ٱلۡعَيۡنِۚ وَٱللَّهُ يُؤَيِّدُ بِنَصۡرِهِۦ مَن يَشَآءُۗ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَعِبۡرَةٗ لِّأُوْلِي ٱلۡأَبۡصَٰرِ ١٣﴾

[١٢] ای پيغمبره! هغو کسانو ته چې کافران سول او ايمان رانور ووايه: تاسې به په جګړه کې خاماخا ماته خوری او د قيامت په ورځ به د

دوزخ اور ته ورغوندېږی او دوزخ بد استوګنځی او د ملاستې بد ځای دی.

[۱۳] [او ای د یهودو کافرانو تاسې ته] په هغو دوه ډلو کې چې د جګړې په ډګر کې مخامخ سره یوځای سول؛ د زدکړې او عبرت اخستلو یوه ښه لو یه نښه او کلک دلیل دی، ځکه د دوی نه یوې ډلې د الله په لار کې جګړه وکړه او بله ډله یې کافره وه، او کافرانو د سترګو په لیدلو سره د الله لارې مجاهدین د خپلو ځانو په پرتله دوه برابره ولیدل، او هرڅوک چې الله وغواړي پر خپله مرسته د هغه نصرت کړي او بر یا یې په برخه کوي، او یقینا چې په دغسې نصرت کې د بصیرت او هوښیارۍ خاوندانو ته ښه پند اخستل دي.

قدرمنو دوستانو! د دغو دوه ډلو په منځ کې د جګړې نه مراد او مقصد د بدر غزا ده چې پکې رسول الله ﷺ او ملګري یې چې د ټولو شمیر (۳۱۳) کسانو په شاوو خوا کې وه؛ د ابوجهل په مشرۍ د کافرانو یو زر کسیزه لښکر هغسې جنګیالیو سره مخامخ سول چې د مکې نه په کلکه اراده او قوي تصمیم سره رسول الله ﷺ او د هغه ملګرو پسې جګړې ته د مدینې منورې په خیرمه بدر ډاګ ته راغلي ول، نو بیا چې کله د دغو دواړو ډلو په منځ کې جګړه ونښته؛ الله تعالی د رسول الله ملګري مومنان د مشرکانو په سترګو کې د دوی دوه برابره وښلول، حال دا چې د مشرکانو لښکر شمیر د مسلمانانو د لښکر په پرتله درې برابره وه، او بیا پدې جګړه کې چې قرآن په (الفرقآن) نومولې ده؛ فتحه او بر یا د الله تعالی پر مرسته؛ د رسول الله ﷺ او د هغه د ملګرو صحابوو کرامو په برخه سوه، نو یقینا چې دا فتحه هوښیارانو ته لوی پند او ښه زدکړه وه، او هغه داچې کله الله تعالی د چا نصرت او بر یا وغواړي، نو بیا هغه ته د فتحې او بر یا اسباب برابر وي او مرسته یې کړي.

عزتمنو دوستانو! او همدارنګه په دغو مبارکو آیتونو کې چې د آل عمران سورې لسم آیت نه تر دیار لسم آیته پورې آیتونه دي؛ الله تعالی خپل هغه ثابت سنت او الهي نظام او د چلند قانون خپلو بنده ګانو سره په لوی امتحان کې مونږ ته بیان کړي دی چې هغه د الله تعالی د مکافاتو او

مجازاتو پر لوی دود او قانون باندې ولاړ دئ، او د دې اسماني نظام تطبیقول دواړه دنیوي او اخروي خوا وې لري، او هیڅ څوک ورڅخه هیڅ چیرته خلاصیدای نسي، او د بشري ټولنو اوږد تار یخ پدې لوی حقیقت باندې ژوندئ شاهد دئ، او قصی یې مونږ ته الله تعالی په خپل اسماني کتاب قرآن کې په وار وارسره کړې دي، نو ښایي چې مونږ مسلمانان د الله تعالی د دغو ثابتو سنتو او د لوی کوني نظام نه ښه ګټه او پند واخلو، خو شرط یې د الله تعالی په کتاب باندې پوهیدل او عمل کړل دي، نو ځکه رسول الله ﷺ په پوره درو یشتو کلونو کې چې هغه د رسول الله ﷺ د پیغمبرۍ کلونه ول؛ دغه د الله تعالی لوی کتاب قرآن خپلو یارانو ته ورزده که او عملي روزنه یې ور باندې ورکړه، او بیا الله تعالی دوی ته د نړۍ د یوې لوېې برخې امامت او خلافت ور په غاړه که او بشر یت یې د ظلم او جهالت تورو تیارو نه را وایست او ورڅخه خلاص یې که، او نړۍ یې د عدالت او علم په هغې نور رڼا کړه چې نبۍ یې مونږ په سترګو و ینو.

ګرانو دوستانو! د کافرانو او مسلمانانو په منځ کې بدر غزا ته ګوته نیولو نه چې پکې د الله لارې غاز یان او مجاهدین الله تعالی د مشرکانو پر لو یو لښکرو باندې بر یالي کړل؛ مقصد دا دئ چې ښایي هوښیاران ورڅخه څه زدکړي او پند واخلي، ځکه د رسول الله ﷺ یارانو په دغې لو یه او نا برابره جګړه کې خپل ځانو نه د الله په لار کې قر بانۍ او سرښندنې ته تیار کړل او د آخرت ورځې ثوابونو او تل پاتې نعمتو ته یې د دنیا پر لنډ او نه پاتې کیدونکي عیش او عشرت باندې ترجیح ورکړه، ځکه د دنیا ژوند ډیر ژر تیریدونکئ ژوند دئ، نو الله تعالی مونږ ته پدې مبارکو آیتو کې د اسلام لارې مجاهدینو دا غوره انتخاب په پوره روښتیا سره یاد کړئ او بیان کړئ دئ، او بیا یې په ور پسې مبارکو آیتونو کې مومنان د الله تعالی نعمتونو نه په جنت کې خوند اخستلو ته رابللی دي، او فرمایلي دي:

{د آخرت نعمتونو نه خوند اخستل د دنيا په پرتله تل پاتې دي}

﴿زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ ٱلشَّهَوَٰتِ مِنَ ٱلنِّسَآءِ وَٱلْبَنِينَ وَٱلْقَنَٰطِيرِ ٱلْمُقَنطَرَةِ مِنَ ٱلذَّهَبِ وَٱلْفِضَّةِ وَٱلْخَيْلِ ٱلْمُسَوَّمَةِ وَٱلْأَنْعَٰمِ وَٱلْحَرْثِ ۗ ذَٰلِكَ مَتَٰعُ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۖ وَٱللَّهُ عِندَهُۥ حُسْنُ ٱلْمَـَٔابِ ﴿١٤﴾ * قُلْ أَؤُنَبِّئُكُم بِخَيْرٍ مِّن ذَٰلِكُمْ ۚ لِلَّذِينَ ٱتَّقَوْا۟ عِندَ رَبِّهِمْ جَنَّٰتٌ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا وَأَزْوَٰجٌ مُّطَهَّرَةٌ وَرِضْوَٰنٌ مِّنَ ٱللَّهِ ۗ وَٱللَّهُ بَصِيرٌۢ بِٱلْعِبَادِ ﴿١٥﴾ ٱلَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَآ إِنَّنَآ ءَامَنَّا فَٱغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ ﴿١٦﴾ ٱلصَّٰبِرِينَ وَٱلصَّٰدِقِينَ وَٱلْقَٰنِتِينَ وَٱلْمُنفِقِينَ وَٱلْمُسْتَغْفِرِينَ بِٱلْأَسْحَارِ ﴿١٧﴾﴾

[١٤] هو! د دنيا خوندونو سره مينه او محبت کړل، لکه د ښځو، کهول، سرو او سپينو زرو ډير دولت، او د څرونکو اسانو او څارو يو (اوښانو، غوايانو، ميږو او د وزو رمو) او د کښتونو او باغونو لو يو بڼونو نه خوند اخستل؛ د خلکو په زړونو کې ښکلي او ښايسته سو ل [يعنی د دوي زړونه ورسره تړل سوي دي] ځکه دا شيان ټول د دنيا ژوند متاع ده، او خلک ورځخه خوند اخلي، خو د الله سره بيا ډيره ښايسته ښه راتلونکې ده او هغه په جنت کې د آخرت ورځې نعمتونو نه خوند اخستل دي.

قدرمنو عز يزانو! نو ښايي چې مومنان د دنيا په دغسې زر تيريدونکو خوندونو ونه غوليږي، بلکې ښايي دوی تل پاتې خوندونو ته په طمعه کار وکړي چې هغه دوی ته الله تعالی تيار کړي دي، او په بيان او ياد کې يې په ور پسې مبارکو آيتونو کې فرمايلي دي:

[١٥] نو ته ای پيغمبره! دغو خلکو ته ووايه: آيا زه تاسې د دنيا دغسې متاع او نعمتونو نه غوره او د ښو خوندورو نعمتونو نه خبر کړم؟ هو! د الله متقيانو بنده ګانو ته چې د خپل رب سزا نه و ير يږي؛ دوی ته خپل

رب الله سره داسې لوی باغونه دي چې د او بو و یالې پکې بهیږي، او دوی به پکې تل اوسیږي، او هم ورته پکې ښې پاکې ښځې (د جنت حورې) دي، او د دې نعمتونو په څنګ کې ورته د الله رضا او خوښي ده چې هغه الله پر دوی باندې پیرزو کوي، او الله پرخپلو بنده ګانو بینا دئ او دوی ښه پیژني.

[١٦] او د الله دغه متقیان بنده ګان هغه کسان دي چې دعاء کړي او وایي: ای د زمونږ لو یه ر به! مونږ یقینا پر تا باندې ایمان راوړئ دئ، نو ته د زمونږ ګناه وې را ته و بښه او مونږ د دوزخ اور عذاب نه وساته.

[١٧] او د الله دغه متقیان بنده ګان ډیر صبرناک او ر یښتونکي دي، او الله ته په اطاعت او بنده ګۍ او عبادت کې تل لګیا دي او د الله رضا لپاره پټ او ښکاره خیراتونه کړي، او د شپې په آخر کې د پیښمې په وخت کې استغفار کړي او د الله نه بښنه او مغفرت غواړي.

قدرمنو دوستانو! پدې مبارکو آیتونو کې الله تعالی مونږ ته ډیرې د پام وړ او ضروري لارښودنې کړې دي، او هغه لمړئ د دنیا ډول ډول نعمتونو سره مینه کړل او ورځخه خوند اخستل دي، او یقینا چې هغه په هر انسان کې؛ یوه طبیعي او فطري غر یزه ده، خو ښایي چې هغه منظمه سي او د الله تعالی د لارښودنو او د شر یعت حکمونو په رڼا کې ترسره سي، ځکه الله تعالی مونږ ته په خپل شر یعت کې حلال او حرام بیان کړي دي او د هغو پولې او حدود یې را ته ټاکلي دي، نو ښایي چې دې ته د زمونږ پام وي چې دا د دنیا متاع ده او خوند اخستل ورځخه ؛ ډیر ژر تر یدونکې دئ، او هغه نعمتونه چې الله تعالی خپلو متقیانو بنده ګانو ته په آخرت کې تیار کړي دي او ورکوي یې؛ هغه ډیر اوچت، غوره او تل پاتې نعمتونه دي، نو نه ښایي چې د الله تعالي متقیان او صالح بنده ګان د دنیا نعمتونو نه خوند اخستلو ته د آخرت پر نعمتونو باندې ترجیح ورکړي او هغه پرې وړاندې کړي، خو په دنیا کې دغسې زهد ته بلنه او تشو یق؛ هیڅ کله د نصاراوو رهبانیت غوندې نده چې مومن بنده پر خپل ځان هرڅه بند کړي، نه خواړه خوړې او نه خوب کړي او نه واده کړي او نه

خپلې کورنۍ او ټولنيزې چارې سمبالوي، بلکې دغسې زاهدان مومنان په ژوند کې د خپل خلافت ټول مسئوليتونه په پوره صداقت سره پر مخ وړي.

او بيا الله تعالى مونږ ته پدې مبارکو آيتونو کې خپل هغه متقيان بنده ګان راپيژندلي دي چې دوی الله تعالى ډير لوړ مقام ته رسولي دي، ترڅو هر مسلمان د هغوی په لار روان سي او د دوی لوړ مقام ته ځان ورسوي او د متقيانو په قطار او ليکه کې ودر يږي.

{علماء د الله په توحيد باندې لکه ملائکې شاهدان دي}

او په ور پسې مبارک آيت کې الله تعالى پر خپل توحيد باندې په ر بو بيت او عبادت کې د ځان سره يوځای د ملائکو او علماوو شاهدي يادې کړې او بيان کړې ده، او فرمايلي دي:

﴿شَهِدَ ٱللَّهُ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ وَأُوْلُواْ ٱلْعِلْمِ قَآئِمًۢا بِٱلْقِسْطِۚ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ١٨﴾

[١٨] هو! الله پر دي شاهدي وو يله چې يقينا د الله نه پرته بل هيڅ ځوک پر حق سره د عبادت مستحق ذات نسته [يعنى الله تعالى په خپل الوهيت کې، لکه په ر بو بيت کې واحد ولا شر يك پالونکئ لوی ذات دئ] او د الله په توحيد او يو والي باندې په الوهيت کې ملائکې، علماء او پوهان هم شاهدان دي [يعنى دوي ټولو د الله پر توحيد باندې چې يوازي الله تعالى پر حق سره معبود دئ؛ ايمان راوړئ دئ او د الله تعالى توحيدي پيغام په الوهيت کې خلکو ته رسوي] او الله پر عدالت ولاړ او منصف لوی ذات دئ [يعنى د خپلو بنده ګانو چارې په پوره برابرۍ سره چلوي] او د الله نه پرته پر حق سره بل معبود نسته، او الله ځواکمن او زورور ذات او د لوی حکمت څښتن دئ، يعنى د الله تعالى ټولې کړنې پر لوی حکمت او په پوره ځواکمنۍ ترسره کيږي.

{اسلام د الله پروړاندې یواز ینئ منل سوئ دین دئ}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی اعلان کړئ دئ چې اسلام د الله پر وړاندې یواز ینئ منل سوئ دین دئ، او فرمایلي دي:

﴿إِنَّ ٱلدِّينَ عِندَ ٱللَّهِ ٱلۡإِسۡلَٰمُۗ وَمَا ٱخۡتَلَفَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ إِلَّا مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَهُمُ ٱلۡعِلۡمُ بَغۡيَۢا بَيۡنَهُمۡۗ وَمَن يَكۡفُرۡ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ فَإِنَّ ٱللَّهَ سَرِيعُ ٱلۡحِسَابِ ١٩ فَإِنۡ حَآجُّوكَ فَقُلۡ أَسۡلَمۡتُ وَجۡهِيَ لِلَّهِ وَمَنِ ٱتَّبَعَنِۗ وَقُل لِّلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡأُمِّيِّـۧنَ ءَأَسۡلَمۡتُمۡۚ فَإِنۡ أَسۡلَمُواْ فَقَدِ ٱهۡتَدَواْۖ وَّإِن تَوَلَّوۡاْ فَإِنَّمَا عَلَيۡكَ ٱلۡبَلَٰغُۗ وَٱللَّهُ بَصِيرُۢ بِٱلۡعِبَادِ ٢٠﴾

[۱۹] هو! یقینا چې د الله پر وړاندې منل سوئ دین؛ یوازې اسلام دئ، او د یهودو او نصارو نه هغه کسان چې دوی ته کتاب ورکړل سوئ دئ چې کله پوه سول اسلام د الله حق دین دئ، نو[بیا یې د ډیر کبر، حسد او کینې نه] سرغړونه او بغاوت وکه او په لوی اختلاف کې ولو یدل او یو بل یې د اسلام سره مخالفت او دښمنۍ ته وهڅا وه [یعنی هر هغه څوک چې د الله تعالی کتاب آیتونو او د هغه لو یو قدرتونو نه منکر یږي او هغه نه مني، نو پدې ده پوه سي] چې الله یقینا ډیر ژر حساب اخستونکئ لوی ذات دئ، یعنی دوی ته به الله تعالی د دوی د کفر سزا ډیره ژر ورکړي، ځکه دوی د الله حق دین اسلام نه منکر کافران دي.

[۲۰] ای پیغمبره! او که د حق بیانولو نه وروسته بیا هم اهل کتابو ستا سره خوسې استدلال وکه [یعنی د جدال او جنجال هڅه یې وکړه] نو ته ورته ووایه: ما خپل مخ الله ته اړولئ دئ، او ما او د زما ملګرو چې ما پسی روان دي؛ مونږ ټولو خپل ځانو نه پر الله سپارلي او ورته تسلیم کړي دي، او د الله حق دین اسلام مونږ منلئ دئ، او ای پیغمبره! اهل کتابو او هغو مشرکانو ته [چې کتاب نه لولي] ووایه: آیا تاسې مسلمانان سوئ او حق مو ومانه کنه؟ نو که بیا دوی اسلام راوړ، نو یقینا چې دوی سمې لارې

او حق دين ته هدايت سوي دي [او هغه د اسلام دين دئ چې الله تعالى ته منل سوئ دئ] او كه چيري دوى اسلام نه واوښتل او مخونه يې شا ته واړول، نو بيا پر تا باندې اى پيغمبره! يوازې تبليغ فرض دئ، ترڅو د الله دين خلكو ته ورسوي او دوى دعوت كړې [يعنى نور نو ته اى پيغمبره! د دوى د كفر پروا مكړه] ځكه الله پر خپلو بنده ګانو بينا دئ او دوى و يې، يعنى هرچا ته د هغه لائق ثواب او سزا وركوي.

{څوک چې د الله آيتونه پټوي هغوى ته عذاب ورځكل كيږي}

او په ور پسې مباركو آيتونو كې الله تعالى زورواكې مشران چې د الله كتابونو آيتونه پټوي او ورځخه منكر يږي؛ په كلكه سزا ګواښلي دي، او په بيان كې فرمايلي دي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكۡفُرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَيَقۡتُلُونَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ بِغَيۡرِ حَقّٖ وَيَقۡتُلُونَ ٱلَّذِينَ يَأۡمُرُونَ بِٱلۡقِسۡطِ مِنَ ٱلنَّاسِ فَبَشِّرۡهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ٢١ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ حَبِطَتۡ أَعۡمَٰلُهُمۡ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِ وَمَا لَهُم مِّن نَّٰصِرِينَ ٢٢﴾

[٢١] هو! يقينا هغه كسان چې د الله كتاب آيتونو باندې كافر يږي [يعنى هغه پټوي] او پيغمبران ناحقه وژني، او هغه كسان هم وژني چې عدالت او انصاف ته بلنه وركوي، نو ته اى پيغمبره! دوى د الله دردونكې عذاب نه وګواښه او كلك يې ورځخه وو يروه، يعنى دا ظالمان ده نور د الله كلك عذاب ته انتظار و باسي.

[٢٢] او دغه كافران؛ هغه كسان دي چې د دوى عملونه نور په دنيا او په آخرت كې ضائع سوي او له منځه تللي دي، او هيڅ څوک مرستندوى نه لري، يعنى د قيامت په ورځ هيڅ څوک ورسره مرسته نكړي.

درندو دوستانو! الله تعالى په دغو مباركو آيتونو كې لمړئ خپل عبادت او بنده ګى په توحيد سره بيان كړې ده، او هغه دا چې يوازې الله پر حق سره د بنده كې او د عبادت مستحق لوى خداى دئ، او د الله

تعالی په خدایي باندې د هغه دا ټولې قدرتي نښې، دلیلونه او د اسماني کتابونو آیتونه شاهدي ورکوي، او همدارنګه په اسمانو کې ملائکې او پر ځمکه علماء او پوهان د الله تعالی پر یو والي او توحید باندې په ر بو بیت او الوهیت کې شاهدان دي، او اسلام د الله یوازنۍ حق دین دئ، او ټولو پیغمبرانو خپل امتونه اسلام ته رابللي دي، او د اسلام معنا یوازې الله ته د اطاعت او بنده ګۍ سر ایښودل او ورته تسلیمیدل دي، ځکه د الله نه پرته بل پر حق سره معبود نسته، او د الله دین ته تبلیغ او د خلکو دعوت د الله تعالی توحیدي عبادت ته؛ د اسلام ستر پیغمبرﷺ او د هغه وارثانو علماوو او اسلام ته دعوت کونکو ملایانو وظیفه او رسالت دئ، او نور بیا د خلکو خپله خوښه چې اسلام مني او کنه؟ ځکه پیغمبرﷺ او د هغه وارثانو علماوو او دعاتو؛ خپل رسالت او دنده پر ځای کړې ده، او کافران به د خپل کفر سزا هرومرو ګالي.

{یهودو او نصاراوو د الله حکمونو نه سرغړونه وکړه}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د اهل کتابو سرغړونې د الله حکمونو نه غندلې دي، او فرمایلي:

﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ نَصِيبًا مِّنَ ٱلْكِتَٰبِ يُدْعَوْنَ إِلَىٰ كِتَٰبِ ٱللَّهِ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ يَتَوَلَّىٰ فَرِيقٌ مِّنْهُمْ وَهُم مُّعْرِضُونَ ﴿٢٣﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا۟ لَن تَمَسَّنَا ٱلنَّارُ إِلَّآ أَيَّامًا مَّعْدُودَٰتٍ ۖ وَغَرَّهُمْ فِى دِينِهِم مَّا كَانُوا۟ يَفْتَرُونَ ﴿٢٤﴾ فَكَيْفَ إِذَا جَمَعْنَٰهُمْ لِيَوْمٍ لَّا رَيْبَ فِيهِ ۖ وَوُفِّيَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿٢٥﴾﴾

[۲۳] ای پیغمبره! آیا تا د یهودو نه هغه کسان چې د اسماني کتاب (تورات) نه څه برخه ورکړل سوئ ده؛ ونه لیدل چې کله دوی د الله کتاب (تورات) ته راغوښتل کیږي، ترڅو د دوی په منځ کې پر یکړه او حکم وکړي؟ [یعنی دوی د محمدﷺ پیغمبرۍ منلو ته رابولي، ځکه هغه په تورات کې بیان سوئ ده چې محمد ﷺ پر حق او ر ښتیا سره د الله

پیغمبر دئ، خو کله چې دوی پوه سي ته د الله پیغمبر يي] نو بیا د یهودو یوه ډله د حق منلو نه په داسې بڼه کې بیرته په شا کیږي چې مخونه يې شا ته اړولي وي، یعنی د تورات حکم نه مني او ورځخه سرکښي کړي!

[۲٤] او دغو یهودو د حق منلو نه، ځکه مخ واړا وه [چې دوی ګمان وکه د دوزخ اور دوی ته نه رسیږي] او و یو یل: د دوزخ اور مونږ ته نه رسیږي، مګر څو شمیرل سوې لنډې ورځې! [یعنی یهود به یوازې څو لنډې ورځې د دوزخ په سره اور کې وکړول سي!] هو! یهود دغسې ناروا تورونو پر خپل دین باندې وغولول، یعنی د حق منلو نه يې محروم کړل.

[۲۵] او کله چې بیا د قیامت په ورځ چې د هغې ورځې په را تلو کې هیڅ شک نسته؛ مونږ ټول خلک راټول کړو، نو هرچا ته به د هغه لاس ته راوړنو حق په هغه ورځ پوره ورکړل سي، او پر دوی باندې ظلم نکیږي [یعنی د هیڅ چا حق نه ضائع کیږي، ځکه د قیامت په ورځ د ټولو خلکو دنیا يي کړنې د الهي عدالت او انصاف په تله تلل کیږي، او هرچا ته د خپلو کړونو ثواب او سزا پوره ورکول کیږي] نو بیا به د دغو کافرانو حال په هغه ورځ څنګه وي؟ یعنی ځواب دا چې کافران به په هغه ورځ په بد حال کې وي، ځکه کلکه سزا ورکول کیږي!

ګرانو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې کافران د آخرت ورځې حسا ب او سختې سزا نه چې هغه دوی ته الله تیاره کړې ده؛ کلک ګواښلي دي، ترڅو هیڅ څوک د قیامت په ورځ ونه وایي چې زه خو خبر نوم، نو ولې د دوزخ په اور کې (العیاذ بالله) کړول کیږم؟

{د عزت او ذلت ر ښتینئ واکمن څښتن الله دئ}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی رسول الله ﷺ ته حکم کړئ دئ چې خلکو ته اعلان وکړې او ورته ووایي چې د عزت او ذلت حقیقي څښتن؛ یوازې الله دئ، او فرمایلي دي:

﴿قُلِ ٱللَّهُمَّ مَٰلِكَ ٱلۡمُلۡكِ تُؤۡتِي ٱلۡمُلۡكَ مَن تَشَآءُ وَتَنزِعُ ٱلۡمُلۡكَ مِمَّن تَشَآءُ وَتُعِزُّ مَن تَشَآءُ وَتُذِلُّ مَن تَشَآءُ بِيَدِكَ ٱلۡخَيۡرُۖ إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ٢٦ تُولِجُ ٱلَّيۡلَ فِي

ٱلنَّهَارِ وَتُولِجُ ٱلنَّهَارَ فِي ٱلَّيۡلِۖ وَتُخۡرِجُ ٱلۡحَيَّ مِنَ ٱلۡمَيِّتِ وَتُخۡرِجُ ٱلۡمَيِّتَ مِنَ ٱلۡحَيِّۖ وَتَرۡزُقُ مَن تَشَآءُ بِغَيۡرِ حِسَابٖ ٢٧

[٢٦] ای پیغمبره! [په داسي حال کې چې ته خپل رب ته لاس په دعاء پې] ووایه:[یا الله او د زما ټولواکه لو یه ر به!] ته د ټولې نړۍ واکمن څښتن پې، او چا ته چې وغواړې واکمني او پاچایي ورکوي، او د چا نه چې وغواړی پاچایي ورڅخه اخلي، او چاته چې وغواړې عزت ورکوي او څوک چې وغواړې خواروې پې، او ټول خیر او ورکړه د ستا په واک کې ده، او یقینا چې ته په هرڅه ځواکمن قادر ذات پې او هرڅه کړای سې.

[٢٧] [او ته ای لو یه ر به! په خپل لوی قدرت سره] شپه په ورځ کې ورننه باسي او ورځ په شپه کې، او ژوندئ د مړي نه راباسې او مړئ د ژوندي نه [لکه څنګه چې د مړې دانې نه بوټي راشنه کوي او مړه هګۍ د چرګې نه راباسي] او ته چې ای لو یه ر به! چا ته وغواړې؛ هغه ته بې شمیره ډیره روزي ورکوي!

عزتمنو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې مونږ ته د رسول الله ﷺ په مناجات کې خپل رب او لوی څښتن الله سره؛ د الله تعالی علم او لوی قدرتونه یاد کړي او ښودلي دي، نو ښایي چې مونږ الله تعالی په دغسې لویې سره چې هغه د الله لوړ مقام سره لائق ده؛ وستایو او کلک باور ولرو چې هرڅه د الله په واک کې دي، او الله تعالی چې څنګه وغواړي هغسې کړي او هیڅ څوک د الله مخه نیولای نسي، او یوازې الله دئ چې چاته عزت او چاته ذلت ورکوي، نو د الله تعالی پر یکړو منل او ورته تسلیمیدل زړونه ډاډه کوي او د اندیښنو نه پې ساتي.

{الله تعالی مومنان د کافر انو ملتیا نه منع کړي دي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی مومنان د کافرانو سره دوستۍ نه کلک منع کړي دي، او فرمایلي دي:

﴿لَّا يَتَّخِذِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٱلۡكَٰفِرِينَ أَوۡلِيَآءَ مِن دُونِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَۖ وَمَن يَفۡعَلۡ

ذَٰلِكَ فَلَيْسَ مِنَ ٱللَّهِ فِي شَيْءٍ إِلَّآ أَن تَتَّقُوا۟ مِنْهُمْ تُقَىٰةً ۗ وَيُحَذِّرُكُمُ ٱللَّهُ نَفْسَهُۥ ۗ وَإِلَى ٱللَّهِ ٱلْمَصِيرُ ﴿٢٨﴾ قُلْ إِن تُخْفُوا۟ مَا فِي صُدُورِكُمْ أَوْ تُبْدُوهُ يَعْلَمْهُ ٱللَّهُ ۗ وَيَعْلَمُ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلْأَرْضِ ۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٢٩﴾ يَوْمَ تَجِدُ كُلُّ نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ مِنْ خَيْرٍ مُّحْضَرًا وَمَا عَمِلَتْ مِن سُوٓءٍ تَوَدُّ لَوْ أَنَّ بَيْنَهَا وَبَيْنَهُۥٓ أَمَدًۢا بَعِيدًا ۗ وَيُحَذِّرُكُمُ ٱللَّهُ نَفْسَهُۥ ۗ وَٱللَّهُ رَءُوفٌۢ بِٱلْعِبَادِ ﴿٣٠﴾

[۲۸] مومنان کافران د مومنانو نه پرته په ملتیا او دوستۍ نه نسي [یعنی مومنان ده د کافرانو سره ملګرتیا نکړي] او هرڅوک چې دا کار وکړي او کافرانو سره په مینه او محبت سره ملګرۍ سي، نو هغه نور د الله سره ارزښت نه لري [ځکه هغه د الله نه لرې سوئ دئ، مګر دا چې تاسې ای مومنانو! د کافرانو نه وو یر یږی او ځانو نه ورڅخه وساتی [یعنی د کافرانو شر رسوني پر وړاندې د خپلو ځانو نه د دفاع وسعه ونه لری، نو بیا درته روا ده چې د کافرانو سره نرمښت وکړی او د شر نه یې خپل ځانو نه وساتی] او ای مومنانو! تاسې الله د خپل ځان غوصې او عذاب نه ګوابنې، نو د الله نه وو یر یږی او د غوصې نه یې ځان وساتی، او ټول خلک الله ته ورتلونکې دي، یعنی هرڅوک به خپل حساب ورکوي، مومنان به ثواب ګټي او جنت ته به ورننوځي او کافران به دوزخ کې سزا ګالي او پکې کړ یږي به.

قدرمنو عز یزانو! الله تعالی پدې مبارك آیت کې مومنان د کافرانو سره د دوستۍ او د مینې او ملګرتیا نه؛ کلک منع کړي دي او د کافرانو سره یې ملتیا ور باندې حرامه کړې ده، مګر دا چې مومنان بې وسې وي او د خپلو ځانو نه دفاع کړای نسي، نو بیا په دغسې حالت کې ورته روا ده چې د کافرانو سره نرمښت وکړي، او په پاخه حکمت او تدبیر ورسره وچلیږي، او خپل ځانو نه د کافرانو شر نه وساتي، خو د نرمښت معنا دا نده چې مسلمان همداسي په ضعف او بې وسۍ کې تل پاتې سي، بلکې پر مسلمانانو باندې فرض ده چې ز یار و باسي او خپله بې وسي او ضعف

په ځواکمنۍ او عزت باندې بدل کړي، او دې مقصد ته د رسیدلو لپاره زمونږ لارښود؛ د اسلام پیغمبرﷺ عملي ژوند دئ، ځکه هغه پوره دیارلس کاله د مکې مشرکانو د لاسه کلکې ستونزې وګاللې، ترڅو چې بیا هغه د الله تعالی په مرسته خپل ځان د ضعف نه په مکه کې؛ ځواکمنۍ او قوت ته په هجرت سره مدیني ته ورسا وه.

درندو دوستانو! او په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی رسول الله ﷺ ته په خطاب کې سپارښت کړئ دئ چې خپل امت ده پوه کړي چې الله تعالی د دوی پر زړونو باندې پوه دئ، او هرچا سره د هغه لائق چلند او معامله کړي، او فرمایلي دي:

[۲۹] ای پیغمبره! مومنانو ته ووایه: هغه څه چې د ستاسې په زړونو کې دي [یعنی هغه د کافرانو سره د دوستۍ هڅه ده] که هغه تاسې پټه کړئ او که ښکاره یې کړئ؛ الله ور باندې پوهیږي [یعنی هیڅ څه شئ د الله نه پټ ندي] ځکه الله په هغه څه چې په اسمانو کې دي او څه چې په ځمکه کې دي؛ پر هغو ټولو باندې پوه دئ او علم ور باندې لري، او الله د هرڅه نه خبر او په هرڅه قادر لوی ذات دئ، یعنی الله چې څه وغواړي هغسې کړلای سي، ځکه هیڅ کار الله ته سخت او نه کیدونکئ ندئ.

او بیا په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی خلک د خپلې سزا نه د قیامت په ورځ کلک ګواښلي دي، او فرمایلي دي:

[۳۰] [ای خلکو!] د قیامت په ورځ [چې د حساب ورکولو او د مجازاتو او مکافاتو ورځ ده] هرڅوک خپل عمل او خپلې کړنې؛ که هغه ښې وي او که بدې په خپل مخکې حاضرې مومي او ترلاسه کوي یې، او بیا په هغه ورځ هیله کړي چې ای کاشکې د ده او د دې عمل نامې د اخستلو په منځ کې ډیر وخت وای، ترڅو یې خپل ځان ورته ښه تیار کړئ وای! او ای خلکو! تاسې الله د خپلې سزا نه ګواښي او د ستاسې پام ورته را اړوي [یعنی نو خپل ځانو نه د الله تعالی غوصې او عذاب نه کلک وساتئ، خو د دې سره سره بیا هم پوه سئ چې] الله پر خپلو بنده ګانو باندې ډیر

نرمښت لري، يعنی پر دوی باندې ښه مهر بان لوی ذات دئ.

{د الله سره مينه رسول اللهﷺ پسې تګ پورې تړلې ده}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی خپله مينه او محبت د رسول الله ﷺ نه متابعت او د هغه نه پيروی سره تړلې ده او مومنان يې د الله او رسول الله ﷺ اطاعت او فرمان وړو ته رابللي، او فرمايلي دي:

﴿قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ ٱللَّهَ فَٱتَّبِعُونِى يُحْبِبْكُمُ ٱللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ ۗ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣١﴾ قُلْ أَطِيعُوا۟ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ ۖ فَإِن تَوَلَّوْا۟ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٣٢﴾﴾

[۳۱] ای پيغمبره! مومنانو ته ووايه: که الله پر تاسې ګران وي، نو پر ما پسې لاړ سی او د زما پيروي وکړی، نو الله به تاسې ګران کړي او ګناه به مو و بښي، ځکه الله لوی بښونکئ او ښه مهر بان ذات دئ.

ګرانو دوستانو! دا مبارك آيت د هغه چا دروغژن محبت د الله سره راپسيره کوي او هغه رسوا کوي چې دئ وايي: الله پر ما ګران دئ، خو د رسول الله ﷺ متابعت او د هغه پر سنتو عمل نکړي، نو ځکه الله تعالی په ور پسې مبارك آيت کې رسول اللهﷺ ته لارښودنه او سپارښت کړئ دئ چې خلک د الله او د پيغمبر اطاعت او فرمان وړو ته راو بولي، او په ټينګار سره يې فرمايلي دي:

[۳۲] ای پيغمبره! نو ته خلکو ته ووايه: تاسې د الله او د هغه پيغمبر اطاعت وکړی او فرمان يې يوسی، نو که بيا دوی مخ واړا وه [يعنی پر شا سول او د الله او پيغمبر حکم يې ونه مانه، نو بيا ده دوی پدې پوه سي] چې يقينا کافران پر الله ګران ندي، يعنی د الله تعالی او د پيغمبرﷺ اطاعت او فرمان وړل؛ د ايمان نښه ده، او هغه څوک چې دا کار نکړي، نو هغه د کافرانو نه دئ او کافران پر الله ګران ندي.

درندو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آيتونو کې خپل محبت او مينه د بنده ګانو سره د دوی متابعت سره د الله او پيغمبرﷺ حکمونو

پورې تړلې ده، او خلکو ته يې امر کړئ دئ چې د الله او د هغه پيغمبر اطاعت وکړي، ځکه د الله او پيغمبر اطاعت او فرمان وړل؛ د ايمان نښه ده او څوک چې اطاعت ونکړي، نو بيا هغه د کافرانو نه شــميرل کيږي او کافران پر الله ګران ندي، يعنى دا ځکه چې دوى د الله تعالى حکمونو نه سرکښي کړي او منلو او عملي کولو ته يې غاړه نږدي!

{پيغمبران د يو بل نسل دئ او د عمران ميرمني ماشوم نذر که}

او په ور پســى مبارکو آيتونو کې الله تعالى د خپلو پخوانيو پيغمبرانو ســتاينه کړې ده او د هغوى لوړل مقام او لو يه رتبه يې د الله تعالى پر وړلاندې يادە کړې او بيان کړې ده، او فرمايلي دي:

﴿*إِنَّ ٱللَّهَ ٱصۡطَفَىٰٓ ءَادَمَ وَنُوحٗا وَءَالَ إِبۡرَٰهِيمَ وَءَالَ عِمۡرَٰنَ عَلَى ٱلۡعَٰلَمِينَ ٣٣ ذُرِّيَّةَۢ بَعۡضُهَا مِنۢ بَعۡضٖۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ٣٤ إِذۡ قَالَتِ ٱمۡرَأَتُ عِمۡرَٰنَ رَبِّ إِنِّي نَذَرۡتُ لَكَ مَا فِي بَطۡنِي مُحَرَّرٗا فَتَقَبَّلۡ مِنِّيٓۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ٣٥ فَلَمَّا وَضَعَتۡهَا قَالَتۡ رَبِّ إِنِّي وَضَعۡتُهَآ أُنثَىٰ وَٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِمَا وَضَعَتۡ وَلَيۡسَ ٱلذَّكَرُ كَٱلۡأُنثَىٰۖ وَإِنِّي سَمَّيۡتُهَا مَرۡيَمَ وَإِنِّيٓ أُعِيذُهَا بِكَ وَذُرِّيَّتَهَا مِنَ ٱلشَّيۡطَٰنِ ٱلرَّجِيمِ ٣٦ فَتَقَبَّلَهَا رَبُّهَا بِقَبُولٍ حَسَنٖ وَأَنۢبَتَهَا نَبَاتًا حَسَنٗا وَكَفَّلَهَا زَكَرِيَّاۖ كُلَّمَا دَخَلَ عَلَيۡهَا زَكَرِيَّا ٱلۡمِحۡرَابَ وَجَدَ عِندَهَا رِزۡقٗاۖ قَالَ يَٰمَرۡيَمُ أَنَّىٰ لَكِ هَٰذَاۖ قَالَتۡ هُوَ مِنۡ عِندِ ٱللَّهِۖ إِنَّ ٱللَّهَ يَرۡزُقُ مَن يَشَآءُ بِغَيۡرِ حِسَابٖ ٣٧﴾

[۳۳] هو! يقينا چې الله آدم، نوح او د ابراهيم کورنۍ او د عمران کورنۍ په نورو ټولو خلکو باندې [په خپل وخت کې] غوره کړل او د دوى نه يې هر يوه ته د نبوت او پيغمبرۍ لوړ مقام و بښــه او دوى يې پر نورو خلکو باندې لوړ کړل او مشران يې وګرځول.

[۳٤] هو! پيغمبران هر يو د يو بل پاک نســل يا کهول نه ول، او الله ښــه اور يدونکئ او ښــه پوه لوى ذات دئ، يعنى هرڅه اوري او په هرڅه پوهيږي، نو دغو پيغمبرانو ته الله د هر يوه مقام سره لائق ثواب ورکوي.

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د مر يم عليها السلام او د هغې زوى عيسى عليه السلام د بې ساري پيدايښت او بيا يې د عيسى نبوت قصه مونږ ته ياده کړې ده، او فرمايلي دي:

[٣٥] [او اى پيغمبره! د عمران ميرمني او د هغې لور مر يم عليها السلام او د مر يم زوي عيسى عليه السلام قصه راپه ياد کړه] او هغه دا چې کله د عمران ښځه الله ته لاس په دعاء سوه او و يو يل: اى لو يه ر به! ما د خپل نس دغه ماشوم تاته نذر کړئ دئ [يعنى هغه ما د ستا عبادت کړو ځاى د الاقصى مسجد خدمت لپاره نذر کړئ دئ] نو ته اى لو يه ر به! هغه د زما له پلوه ومنه او قبول يې کړه، ځکه يقينا چې ته ښه اور يدونکئ او ښه پوه لوى ذات يې، يعنى د زما دعاء ښه اورې او پر مقصد او نيت باندې مه ښه پوهيږې، نو د زما دا نذر ومنه او ثواب يې راکړه.

[٣٦] نو بيا چې کله د عمران ښځې د خپلې ګيډې ماشوم وز يږاوه، نو و يو يل: اى لو يه ر به! دا خو ما جلى وز يږوله! [يعنى داچې جلى خو د اقصا مسجد خدمت ته جوګه او لائق نده] خو الله په هغې ماشومې [چې هغه يې جلى (مر يم) ز يږولې ده] ښه پوه دئ، او نار ينه د ښځې غوندې ندئ [يعنى هر يو خپله ځانګړتيا لري] او د دغې ماشومې نوم ما مر يم کيښود، او اى لو يه ر به! زه د مر يم او د هغې کهول ساتنه د رټل سوي شيطان وسوسو او شر نه پر تا سپارم، يعنى ته اى لو يه څښتنه! د زما دغه ماشومه لور مر يم د هر شر نه وساته.

[٣٧] نو بيا مر يم د هغې رب الله ښه ومنله [يعنى هغه يې چې د خپلې مور نذرانه وه؛ قبوله کړه] او مر يم ته يې ښه روزنه ور په برخه کړه، او د هغې روزنه زکر يا پر غاړه واخستله [ځکه زکر يا نبي وه او د بيت المقدس الاقصى په مسجد کې پر عبادت لګيا وه، او هم زکر يا د عمران ميرمني د خور ميړه وه] او کله چې به زکر يا مر يم ته د هغې محراب ته[يعنى د مر يم عليها السلام عبادت ځانګړې کوټې ته] ورننوت، نو د مر يم په مخکې بې تيار خواړه بيامومندل او د هغې نه بې و پوښتل او وې و يل چې اى مر يمې! دا خواړه تاته د کم ځاى نه راغلي دي؟ نو مر يم به په ځواب کې هغه ته

وو يل: د الله لخوا نه، او يقينا الله چې چاته وغواړي، نو بې شمېره روزي ورکوي، يعنی هغه پر خپلو ټولو نعمتونو باندې نازوي.

{زکر يا عليه السلام د الله تعالی نه پاک کهول وغوښت}

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی د زکر يا عليه السلام د زوی غوښتنې قصه ياده کړې ده، او د هغه دعاء الله قبوله کړه او يحيی عليه السلام په نامه زوی يې ور و باښه، او فرمايلي دي:

﴿هُنَالِكَ دَعَا زَكَرِيَّا رَبَّهُۥ قَالَ رَبِّ هَبْ لِى مِن لَّدُنكَ ذُرِّيَّةً طَيِّبَةً إِنَّكَ سَمِيعُ ٱلدُّعَآءِ ﴿٣٨﴾ فَنَادَتْهُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ وَهُوَ قَآئِمٌ يُصَلِّى فِى ٱلْمِحْرَابِ أَنَّ ٱللَّهَ يُبَشِّرُكَ بِيَحْيَىٰ مُصَدِّقًۢا بِكَلِمَةٍ مِّنَ ٱللَّهِ وَسَيِّدًا وَحَصُورًا وَنَبِيًّا مِّنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٣٩﴾ قَالَ رَبِّ أَنَّىٰ يَكُونُ لِى غُلَٰمٌ وَقَدْ بَلَغَنِىَ ٱلْكِبَرُ وَٱمْرَأَتِى عَاقِرٌ ۖ قَالَ كَذَٰلِكَ ٱللَّهُ يَفْعَلُ مَا يَشَآءُ ﴿٤٠﴾ قَالَ رَبِّ ٱجْعَل لِّىٓ ءَايَةً ۚ قَالَ ءَايَتُكَ أَلَّا تُكَلِّمَ ٱلنَّاسَ ثَلَٰثَةَ أَيَّامٍ إِلَّا رَمْزًا ۗ وَٱذْكُر رَّبَّكَ كَثِيرًا وَسَبِّحْ بِٱلْعَشِىِّ وَٱلْإِبْكَٰرِ ﴿٤١﴾﴾

[۳۸] [نو بيا چې کله زکر يا د الله پاملرنه پر مر يم وليدله] نو هلته يې خپل رب الله ته دعاء وکړه او و يو يل: ای لو يه ر به! ما ته د خپلې لور يې نه پاک کهول را و ښښه، او يقينا چې ته ای لو يه ر به! د دعاء ښه اور يدونکئ لوی څښتن يې، يعنی د خپلو بنده ګانو دعاء اورې او قبلوې.

[۳۹] نو بيا چې کله زکر يا په محراب کې پر لمانځه ولاړ وه؛ ملائکو ور باندې غږ وکه چې ای زکر يا! تاته الله په يقين سره د يحيی د زيږ يدلو ز يرئ درکوي او يحيی به د عيسی بن مر يم چې د الله په حکم بې پلاره پيدا سوئ دئ؛ تصديق کوي [يعنی پيغمبري بې مني] او يحيی به د خپل قوم مشر وي او ځان به د ګناه نه ساتي او د الله صالحو بنده ګانو نه به؛ يو پيغمبر وي.

[٤٠] نو بيا زکر يا د ډيرې خوښۍ نه په تعجب او حيرانتيا سره وو يل:

څنګه به زه زوی ولرم، حال دا چې زه ډیر زوړ یم او ښځه مه شـنډه ده [یعنی بچیان نه راوړي!] نو الله ورته وو یل: هو! همداسې ده، خو الله چې څه وغواړي هغسې کړي، یعنی الله تعالی د هرڅه کړو وسعه لري.

[٤١] او بیا زکر یا وو یل: ای ر به! نو د دې ز یرې په راڅرګندیدو سره ما ته یو څه شئ نښه وګرځوه، نو الله ورته وو یل: د ستا نښه دا ده چې ته به د درې ورځو پورې خلکو سـره خبرې نکړي او په اشـارو به ورسـره غږ یږې، او په دغو ورځو کې خپل رب الله ډیر یاد کړه او هم په دغو شپو او ورځو کې صبا او بیګاه لمونځ وکړه.

قدرمنو دوستانو! په دغو مبارکو آیتونو کې چې پکې الله تعالی مونږ ته د عمران د ښځې د نذر او بیا د مر یم علیها السلام د پیدایښت او د هغې د ښـې روزنې او د غوره تر بیت قصـه د خپلې ترور میړه زکر یاعليه السلام څارنې لاندې کړې ده او بیا یې په ور پسې مبارکو آیتونو کې د مر یم علیها السلام نه بې میړه او بې پلاره د عیسیعليه السلام د ز یږدلو رونې بیان کړئ دئ، او بیا یې زکر یاعليه السلام تـه یحییعليه السلام پـه نـامـه د زوی ورکولو ز یرئ یـاد کړئ دئ، نو د دغو ټولو قصـو نه؛ لوی مقصـد او هدف د نصـاراوو د هغې باطلې دعوا او فاسـدې عقیدې ردول دي چې دوی به پکې عیسیعليه السلام ته (العیاذ بالله) د الله زوی و یل او هغه یې د الله سره په الوهیت کې ګډاوه.

{مر یم علیها السلام الله د نړۍ پر ټولو ښځو غوره کړي وه}

او په ور پسـې مبارکو آیتونو کې الله تعالی مونږ ته د مر یم علیها السـلام لوړ مقام او د عیسیعليه السلام بې پلاره پیدایښت چې لو یه معجزه وه؛ یاد کړئ او بیان کړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿وَإِذْ قَالَتِ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ يَٰمَرْيَمُ إِنَّ ٱللَّهَ ٱصْطَفَىٰكِ وَطَهَّرَكِ وَٱصْطَفَىٰكِ عَلَىٰ نِسَآءِ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٤٢﴾ يَٰمَرْيَمُ ٱقْنُتِى لِرَبِّكِ وَٱسْجُدِى وَٱرْكَعِى مَعَ ٱلرَّٰكِعِينَ ﴿٤٣﴾ ذَٰلِكَ مِنْ أَنۢبَآءِ ٱلْغَيْبِ نُوحِيهِ إِلَيْكَ ۚ وَمَا كُنتَ لَدَيْهِمْ إِذْ يُلْقُونَ أَقْلَٰمَهُمْ أَيُّهُمْ يَكْفُلُ مَرْيَمَ وَمَا كُنتَ لَدَيْهِمْ إِذْ يَخْتَصِمُونَ ﴿٤٤﴾ إِذْ قَالَتِ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ

يَٰمَرۡيَمُ إِنَّ ٱللَّهَ يُبَشِّرُكِ بِكَلِمَةٖ مِّنۡهُ ٱسۡمُهُ ٱلۡمَسِيحُ عِيسَى ٱبۡنُ مَرۡيَمَ وَجِيهٗا فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِ وَمِنَ ٱلۡمُقَرَّبِينَ ﴿٤٥﴾ وَيُكَلِّمُ ٱلنَّاسَ فِي ٱلۡمَهۡدِ وَكَهۡلٗا وَمِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٤٦﴾ قَالَتۡ رَبِّ أَنَّىٰ يَكُونُ لِي وَلَدٞ وَلَمۡ يَمۡسَسۡنِي بَشَرٞۖ قَالَ كَذَٰلِكِ ٱللَّهُ يَخۡلُقُ مَا يَشَآءُۚ إِذَا قَضَىٰٓ أَمۡرٗا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ﴿٤٧﴾

[٤٢] [ای پیغمبره! او هغه وخت راپه یاد کړه] کله چې فرښتو مر یم ته وو یل: یقینا چې ته ای مر یم! الله د خپل اطاعت او بنده ګۍ ته خوښه کړې او د هر ډول ناپاکۍ او د بدو کړنو نه یې پاکه کړې او ته یې د نړۍ پر ټولو ښځو باندې غوره کړې او لوړ مقام یې درکه.

[٤٣] نو ته ای مر یم! په پوره زارۍ سره خپل لوی رب الله ته د اطاعت او بنده ګۍ سر ټیټ کړه او الله ته په سجده ولو یره او د الله رکوع کونکو بنده ګانو سره یوځای سجده او رکوع وکړه، یعنی د الله تعالی د دې لویې پیرزو ینې شکر په ذکر او په لمانځه کړو سره و باسه.

[٤٤] ای پیغمبره! او د مر یم قصه چې د پټو خبرو او قصو نه وه؛ هغه مونږ تاته وحیه کړه او ته مونږ ورځخه خبر کړې، ځکه کله چې د مر یم خپلوانو د هغې پالنې او روزنې پر سر خپل منځ کې اختلاف وکه چې څوک هغه په غاړه واخلي؟ نو ته ای پیغمبره! د دوی سره هلته نه وې، نو بیا دوی پر قلمونو د مر یم پر سر چک واچا وه، یعنی نو بیا چک د ذکر یا علیه السلام په نامه وخوت، ترڅو دئ د مر یم پالنه او روزنه په غاړه واخلي او هغه ښه وروځي.

[٤٥] [او همدارنګه ای پیغمبره! ته هلته نه وې] چې کله ملائکو (جبرئیل علیه السلام) پر مر یم غږ وکه او ورته یې وو یل: ای مر یم! یقینا چې تاته الله د زوی ز یرئ درکوي او هغه د الله په یو حکم سره پیدا کیږي او نوم یې المسیح عیسی د مر یم زوي دئ، او دئ په دنیا او په آخرت کې د لوړ مقام خاوند دئ، او عیسی به د قیامت په ورځ الله ته د ډیرو لنډو کسانو نه وي، یعنی لوی مقام به وګټي.

[٤٦] او المسيح عيسى به چې لا دئ د ځانګو ماشوم دئ؛ د خلکو سره خبرې کړي، او کله چې غټ سه بيا به خلکو ته لاړښود وي، ځکه دئ د صالحانو او د ښو کسانو نه دئ.

قدرمنو دوستانو! او بيا په ور پسې مبارك آيت کې مر يم عليها السلام په ډير تعجب او حيرانتيا سره و پوښتل: څنګه به هغه د ميړه نه پرته ځوی ولري؟

[٤٧] [هو! مر يم عليها السلام په حيرانتيا سره] وو يل: ای لو يه ر به! څنګه به زه ځوی ولرم، حال دا چې د هيڅ سړي لاس پر ما ندئ لږ يدلئ؟ [يعني زه ميړه نه لرم او وا ده مه ندئ کړئ، نو بيا جبرئيل په ځواب کې ورته وو يل:] هو! همداسې ده او الله چې څه وغواړي هغه پيدا کوي، او کله چې الله د چا پيدا پښت پر يکړه وکړی، نو بيا په پوره يقين سره؛ هغه ته وايي: پيدا سه، نو بيا هغه پيدا کيږي، يعنی د [کن فيکون] په و يلو سره هغه پيدا کيږي، او دا د الله تعالی د لوی قدرت نښه ده.

ګرانو عز يزانو! په دغو مبارکو آيتونو کې مونږ ته الله تعالی ډير ضروري او ارزښتناکه حقيقتونه د مر يم او د هغې ځوی عيسی عليهما السلام په باره کې بيان کړي دي، ترڅو د دغو حقيقتونو په رڼا کې د نصاراوو ټول هغه ناحقه باورونه او شرکي عقيده چې عيسی يې د الله ځوی ګڼه او د الله تعالی سره يې په الوهيت او عبادت کې شر يکا وه؛ ښه راښکاره سي او دوی به کلک رسوا سي.

هو! الله تعالی د مر يم بنت عمران عليهما السلام د پيدا ښت نه تر عيسی عليه السلام پيدا ښت پورې د هغې لوړ مقام او ځانګړئ تار يخ مونږ ته راپه ياد کړئ او بيان کړئ دئ او فرمايلي دي چې مر يم ته الله تعالی د هغه وخت نورو ټولو ښځو نه ښه لوړ مقام ورکه او مر يم عليها السلام يې د يو لوی مقصد لپاره خوښه او غوره کړه او ځانګړی روزنه يې ور په برخه کړه، او هغه د زکر يا عليه السلام د عبادتګاه په محراب کې وروزل سوه، او بيا الله تعالی هغې ته د جبرئيل امين عليه السلام په خوله د عيسی بن مر يم عليهما السلام د

پیدایښت او ز یږ یدلو ز یرئ ورکه، خو مر یم علیها السلام دغه ز یرئ د الله تعالی د خلقت او پیدایښت نظام او قانون خلاف ولیده، نو په ډیر تعجب او حیرانتیا سره یې و پوښتل چې څنګه به هغه زوی وز یږوي، حال دا چې د هیڅ نار ینه لاس پر هغې ندئ لږ یدلئ او دا میږه نه لري!

هو؛ ګرانو دوستانو! د عیسی بن مر یم علیهما السلام پیدایښت د آدم علیه السلام پیدایښت ته ور ته وه، آدم علیه السلام الله تعالی د خاورې خټونه یې پلاره او یې مورہ پیدا که او بیا یې حواء د هغه پښتې نه پیدا کړه، او دا دئ اوس الله تعالی خپل لوی قدرت د عیسی په یې پلاره پیدایښت کې د مر یم نه د (کن فیکون) په کلمه وښود، او د دغسې ر یښتینو پیښو نه الله تعالی د اسلام پیغمبر چې هلته د دوی سره نوه؛ په وحی سره خبر که، ترڅو د نصاراوو دروغژن تور د مر یم او عیسی علیهما السلام په باره کې چې عیسی علیه السلام د الله ځوی ګڼي او د خدایي مقام ورکوي؛ رد کړي او هغه د دوی د مغزنو نه راو تلئ پوچ خیال و بولي.

{ عیسی علیه السلام ته الله تعالی لو یې معجزې ورکړې وې }

عزتمنو ورونو او خو یندو! او په ور پسی مبارکو آیتونو کې الله تعالی مر یم علیها السلام ته د لا ډیر ډاډ او اطمئنان په مقصد د عیسی علیه السلام پیغمبرۍ او ورسره د ګڼو معجزو بیان کړئ او فرمایلي دي:

﴿وَيُعَلِّمُهُ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْحِكْمَةَ وَٱلتَّوْرَىٰةَ وَٱلْإِنجِيلَ ﴿٤٨﴾ وَرَسُولًا إِلَىٰ بَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ أَنِّى قَدْ جِئْتُكُم بِـَٔايَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ أَنِّىٓ أَخْلُقُ لَكُم مِّنَ ٱلطِّينِ كَهَيْـَٔةِ ٱلطَّيْرِ فَأَنفُخُ فِيهِ فَيَكُونُ طَيْرًۢا بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۖ وَأُبْرِئُ ٱلْأَكْمَهَ وَٱلْأَبْرَصَ وَأُحْىِ ٱلْمَوْتَىٰ بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۖ وَأُنَبِّئُكُم بِمَا تَأْكُلُونَ وَمَا تَدَّخِرُونَ فِى بُيُوتِكُمْ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَـَٔايَةً لَّكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٤٩﴾﴾

[٤٨] او عیسی ته الله د ورکړل سوي کتاب (انجیل) او پکې نغښتي حکمتونه او اسرار [سره د هوښیاری] ورزده کوي، او تورات [چې پر موسی باندې رانازل سوئ کتاب دئ] او انجیل چې [پر عیسی رانازل سوئ

دئ] هغه ورته ورزده کوي، يعنی الله تعالی عيسی عليه السلام ته دغسې زده کړه ورکوي، ترڅو دئ په بني اسرائيلو کې، لکه موسی عليه السلام پيغمبر کړي او د دوی لارښود مذهبي مشر سي، او د دوی پام خپل دين باندې عمل کړو ته راواړوي، ترڅو خپل رسالت ښه سر ته ورسوي.

او بيا بني اسرائيلو ته د عيسی عليه السلام پيغمبری په باره کې الله تعالی همداسې فرمايلي دي:

[٤٩] او عيسی بني اسرائيلو ته د الله استازئ وه او خپل ولس ته يې په خبرو کې وو يل: يقينا چې تاسې ته ما د ستاسې رب لخوا يوه لو يه نښه او معجزه راوړې ده [يعنی دا چې هغه د زما پيغمبری تصديق کوي] او هغه داسې چې زه تاسې ته د ختو نه د مرغه څيرې غوندې کالبوت جوړوم، او بيا يې پوه کوم او د الله په حکم سره هغه مرغه کړئ، او ړوند زه بينا کوم او پيس روغوم، او مړي د الله په امر بيرته راژوندي کوم، او زه ای خلکو! تاسې د هغو خوړو نه چې په کورو کې يې خورئ، او هغه څه چې صبا ته سپموئ؛ خبروم، نو که تاسې په ر ښتيا سره مومنان ياستئ؛ د زما په د غو ټولو کړنو کې تاسې ته د زما نبوت او پيغمبری د تصديق نښې نغښتې دي، يعنی نو هغه ومنئ او عمل پرې وکړئ!

{عيسی عليه السلام د تورات ځينې حکمو نه بدل کړل}

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی همداسې د عيسی عليه السلام د پيغمبری او رسالت د څرنګوالي په بيان کې فرمايلي دي:

﴿وَمُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ ٱلتَّوْرَىٰةِ وَلِأُحِلَّ لَكُم بَعْضَ ٱلَّذِى حُرِّمَ عَلَيْكُمْ ۚ وَجِئْتُكُم بِـَٔايَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ۝٥٠ إِنَّ ٱللَّهَ رَبِّى وَرَبُّكُمْ فَٱعْبُدُوهُ ۚ هَٰذَا صِرَٰطٌ مُّسْتَقِيمٌ ۝٥١ * فَلَمَّآ أَحَسَّ عِيسَىٰ مِنْهُمُ ٱلْكُفْرَ قَالَ مَنْ أَنصَارِىٓ إِلَى ٱللَّهِ ۖ قَالَ ٱلْحَوَارِيُّونَ نَحْنُ أَنصَارُ ٱللَّهِ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَٱشْهَدْ بِأَنَّا مُسْلِمُونَ ۝٥٢ رَبَّنَآ ءَامَنَّا بِمَآ

أَنزَلْتَ وَٱتَّبَعْنَا ٱلرَّسُولَ فَٱكْتُبْنَا مَعَ ٱلشَّٰهِدِينَ ﴿٥٣﴾

[٥٠] ای بني سرائيلو! زه د زما نه مخکې کتاب تورات؛ تصديق کوم او هغه منم [او دا ځکه چې هغه د الله کتاب دئ او موسی عليه السلام ته لارښود رانازل سوئ وه] او زه تاسې ته ای بني اسرائيلو! ځينې هغه څه چې پر تاسې حرام سوي ول؛ حلالوم او تاسې ته ما د ستاسې رب الله لخوا يوه معجزه او نښه راوړه، نو تاسې د الله سزا نه وو ير يرئ او د زما اطاعت وکړئ او زما خبره ومنئ.

[٥١] او يقينا چې الله د زما او ستاسې رب او لوی څښتن دئ، نو د هغه عبادت او بنده ګي وکړئ او دا سمه لار ده.

[٥٢] نو بيا چې کله عيسی د بني اسرائيلو نه د کفر احساس وکه [يعنی دا چې بني اسرائيل د هغه پيغمبرئ نه مني او ورڅخه منکر دي] نو بيا پې وو يل: د الله په لار کې زما مخلص ملګري څوک دي؟ [يعنی دا چې عيسی عليه السلام نور د ګواښونو سره مخامخ دئ او مخلصو ر يښتينو ملګرو ته محتاج او کلک اړ دئ] نو بيا هغه ته د ده ورلنډو ملګرو وو يل: مونږ د الله پلو يان يو او د ستا مرستې ته تيار يو، مونږ پر الله ايمان راوړئ دئ او د ستا پيغمبري منو، نو ته ای عيسی شاهد اوسه چې مونږ يقينا مسلمانان يو او د الله امر ته تسليم يو او هغه منو او اطاعت پې کړو.

او بيا دغو حوار يونو چې د عيسی عليه السلام مخلص ملګري ول؛ دوی ټولو دعاء وکړه او و يو يل:

[٥٣] ای د زمونږ لو يه ر به! مونږ د ستا په هغه کتاب (انجيل) چې هغه تا رانازل که ايمان راوړ او د ستا پيغمبر پسې (چې عيسی عليه السلام دئ) لاړو او مونږ د هغه متابعت وکه، نو ته ای لو يه ر به! مونږ د شاهدانو سره وليکه، يعنی مونږ ته د ايمان لوړ مقام راکړه!

{بنی اسرائيلو عيسی سره چل وکه خو دا چل الله شنډ که}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی د يهودو مکر او لو يه توطئيه د عيسی عليه السلام پر ضد يادې کړې ده، او فرمايلي دي:

﴿وَمَكَرُواْ وَمَكَرَ ٱللَّهُ ۖ وَٱللَّهُ خَيۡرُ ٱلۡمَٰكِرِينَ ٥٤ إِذۡ قَالَ ٱللَّهُ يَٰعِيسَىٰٓ إِنِّي مُتَوَفِّيكَ وَرَافِعُكَ إِلَيَّ وَمُطَهِّرُكَ مِنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَجَاعِلُ ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوكَ فَوۡقَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِۖ ثُمَّ إِلَيَّ مَرۡجِعُكُمۡ فَأَحۡكُمُ بَيۡنَكُمۡ فِيمَا كُنتُمۡ فِيهِ تَخۡتَلِفُونَ ٥٥ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فَأُعَذِّبُهُمۡ عَذَابٗا شَدِيدٗا فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِ وَمَا لَهُم مِّن نَّٰصِرِينَ ٥٦ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَيُوَفِّيهِمۡ أُجُورَهُمۡۗ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ ٱلظَّٰلِمِينَ ٥٧ ذَٰلِكَ نَتۡلُوهُ عَلَيۡكَ مِنَ ٱلۡأٓيَٰتِ وَٱلذِّكۡرِ ٱلۡحَكِيمِ ٥٨﴾

[٥٤] او بني اسرائيلو پر عيسى چل وواهه [يعنى عيسى عليه السلام ته يې د وژلو دسيسه جوړه کړه] خو د دوى چل او مکر الله شنډ که، ځکه الله د چلونو ښه شنډونکئ خاوند دئ [يعنى الله تعالى د عيسى عليه السلام په څيره کې بل سړئ د قاتل مخې ته راوړاندې که، نو هغه بني اسرائيلو مړکه او بيا يې په دار را زوند که نه عيسى عليه السلام] او دا ځکه چې الله د بل هرچا نه د دسيسو او چلونو په شنډولو ښه پوهيږي او لوى ځواکمن ذات دئ.

هو! قدرمنو عز يزانو! کله چې الله تعالى خپل دا تدبير د عيسى عليه السلام د نجات لپاره په کار واچا وه، نو بيا يې عيسى عليه السلام ته ډاډ او اطمئنان ورکه، او ورته يې وفرمايل:

[٥٥] [هو! اى پيغمبره! هغه وخت را په ياد کړه] کله چې عيسى ته الله وو يل: اى عيسى زه نور د ستا برخه در پوره کوم او تا وفاتوم او د ځمکې نه ده ځان خوا ته راجګوم او د کافرانو د ناپاکۍ نه تا پاکوم، او هغه کسان چې تا پسې لاړل او د ستا ملګري سول [يعنى هغو کسانو چې ايمان يې راوړ] دوى د قيامت ورځې پورې پر هغو کسانو باندې چې کافران سول او ايمان يې رانوړ؛ پسيره کوم او پر کافرانو باندې يې لوړوم، او بيا د ستاسې ټولو راتګ بيرته ما ته دئ، او زه د ستاسې په منځ کې په هغو خبرو

کې چې تاسې د یو بل سره پکې اختلاف درلود پر یکړه کړم.

[٥٦] نو هغه کسان چې کافران سول؛ دوی ته په دنیا او آخرت کې کلکه سزا ورکوم او په هغه ورځ دوی هیڅ څوک مرستندوی نه لري.

[٥٧] او هغو کسانو چې ایمان راوړ او ښه یې وکړل؛ دوی ته الله ثواب پوره ورکوي او ظالمان [چې په کفر سره یې پر خپلو ځانو ظلم او تیرۍ کړۍ دۍ] دوی الله نه خوښوي، یعنی کافران پر الله ګران ندي.

[٥٨] ای پیغمبره! دا وه ځینې آیتونه او د عیسی پیغمبرۍ په باره کې د حکمت نه ډک دلیلونه او زدکړې چې هغه په قرآن کې مونږ پر تا باندې لولو، یعنی په دغو آیتونو کې چې حق او باطل سره بیلوي؛ هیڅ شك نسته او ټول حق او ر ښتیا دي.

قدرمنو دوستانو! په دغو مبارکو آیتونو کې د عیسی علیه السلام پیغمبري بني اسرائیلو ته او بیا د دوی کفر او انکار د عیسی پیغمبرۍ نه او بیا وروسته د عیسی وژلو ته د دوی ملا ټرل او پر دار یې رازوندول؛ الله تعالی مونږ ته یاد کړي او بیان کړي دي، خو د بني اسرائیلو دا ټولې توطئې یا دسیسې الله تعالی شندې کړې او عیسی علیه السلام یې ورڅخه روغ رمټ اسمان ته پورته که، لکه څنګه چې د رسول الله ﷺ په صحي احادیثو کې راغلي دي، او بیا عیسی علیه السلام په آخره زمانه کې د اسمان نه بیرته ځمکې ته د الله تعالی په حکم راکوز یږي، او د اسلام دین حکمونه د خلکو په منځ کې چلوي، او الله تعالی به ټول هغه مومنان د عیسی علیه السلام ملاتړ ملګري کړي چې پر عیسی یې ایمان راوړۍ دۍ، او دوی به په پر ټولو کافرانو باندې برلاسي کړي او فتحه او بر یا به ورکړي، نو یقینا چې دا خبر مخلصو مومنانو ته د عزت ښه لوی ز یرۍ او پیغام دۍ.

{د عیسی په پیدایښت کې چې د آدم غوندې وه مباهله حق وه}

قدرمنو دوستانو! او پدې لاندې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د عیسی علیه السلام پیدایښت د آدم علیه السلام پیدایښت ته ورته بللۍ دۍ، او فرمایلي دي:

﴿إِنَّ مَثَلَ عِيسَىٰ عِندَ ٱللَّهِ كَمَثَلِ ءَادَمَ ۖ خَلَقَهُۥ مِن تُرَابٍ ثُمَّ قَالَ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ﴿٥٩﴾ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّكَ فَلَا تَكُن مِّنَ ٱلْمُمْتَرِينَ ﴿٦٠﴾ فَمَنْ حَآجَّكَ فِيهِ مِنۢ بَعْدِ مَا جَآءَكَ مِنَ ٱلْعِلْمِ فَقُلْ تَعَالَوْا۟ نَدْعُ أَبْنَآءَنَا وَأَبْنَآءَكُمْ وَنِسَآءَنَا وَنِسَآءَكُمْ وَأَنفُسَنَا وَأَنفُسَكُمْ ثُمَّ نَبْتَهِلْ فَنَجْعَل لَّعْنَتَ ٱللَّهِ عَلَى ٱلْكَٰذِبِينَ ﴿٦١﴾ إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ ٱلْقَصَصُ ٱلْحَقُّ ۚ وَمَا مِنْ إِلَٰهٍ إِلَّا ٱللَّهُ ۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٦٢﴾ فَإِن تَوَلَّوْا۟ فَإِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌۢ بِٱلْمُفْسِدِينَ ﴿٦٣﴾﴾

[٥٩] هو! يقينا چې د عيسى بن مر يم د پيداپښت مثال او سارئ، لكه د آدم پيدايښت وه، او آدم الله د خاورې نه پيداكه او بيا يې د (كن فيكون) په يوه كلمه ورڅخه سرئ جوړ كه [او د (كن فيكون) معنا دا ده چې يو څه ته وو يل سي: پيدا سه، نو بيا هغه پيدا كيږي] يعنې نو عيسى هم د آدم غوندې بې پلاره د الله په يوې خبرې سره پيدا سوئ دئ او د آدم غوندې د الله تعالى بنده ګانو نه يو بنده وه، او دا دئ اوس د آدم پر بنده ګې ټول خلک سره متفق دي، او هيڅ څوک آدم عليه السلام د الله سره په خدايي ګې نه ګډوي، نو عيسى هم، لكه آدم د الله بنده دئ او د الله تعالى سره په خدايي ګې شر يك ندئ او څوک چې دئ الله سره ګډوي؛ دوى كافران دي.

[٦٠] او اى پيغمبره! د عيسى په باره ګې د حق او ر يښتيا خبره هغه ده چې تاته د ستا رب الله لخوا بيان سوې ده، نو ته د عيسى په باره ګې د شكمنو نه مكيږه او پر خپل باور او عقيده باندې ټينګ پاتې سه.

[٦١] نو اى پيغمبره! وروسته لدې چې د عيسى ټوله قصه په وحي يې سره تاته راغله او ته ور باندې پوه سوې [خو كه بيا هم څوک ستا سره د عيسى عليه السلام په باره ګې استدلال او بحث كړي] نو ته دوى ته ووايه: راځئ چې مونږ او تاسې سره را ټول سو او د زمونږ او ستاسې زامن او د زمونږ

او ستاسې ښځې او د زمونږ او ستاسې ځانو نه ټول را وغواړو، او بيا خپل مخونه الله ته واړوو [او په ډيرې زارۍ سره الله ته لاس په دعاء سو] او ووايو چې پر دروغژنو ده د الله لعنت وي او الله ده خپل عذاب پر دوی باندې را کوز کړي!

درندو دوستانو! الله تعالى پدې مبارك آيت كې رسول الله ﷺ ته د نجران نه راغلو نصاراوو سره چې عيسى عليه السلام يې د الله سره په الوهيت او خدايي كې ګډا وه؛ د مباهلې لارښودنه كړې ده، خو كله چې د نجران نه راغلئ پلاوئ د رسول الله ﷺ په دغسې وړاندیځ او غوښتنه پوه سه، نو د مباهلې نه په شا سول، ځكه دوی په خپلو زړونو كې پدې باور درلود چې دوی دروغ وايي، نو د الله عذاب به پر دوی باندې راكوز سي، نو ځكه يې د مباهلې نه كلكه ډډه وكړه.

او په ور پسې مبارك آيت كې الله تعالى د مباهلې دغې قصې ر ښتينوالئ د الله تعالى پر توحيد باندې په ر بو بيت او الوهيت كې تاكيد كړئ دئ، او په بيان كې فرمايلي دي:

[٦٢] او يقينا چې دا د عيسى پيدايښت قصه يوه حقيقي قصه او سم ر ښتينئ تار يخي حقيقت دئ، او د الله نه پرته بل په ر ښتيا سره معبود نسته، او يقينا چې الله لوی ځواكمن او ښه حكيم ذات دئ، يعنى هرڅه چې الله وغواړي هغه په پوره ځواكمنۍ او په لوی حكمت او تدبير سره ترسره كولای سي.

[٦٣] نو كه بيا هم كافرانو ايمان رانوړ او د رسول الله پيغمبرۍ منلو نه يې مخ واړا وه، نو يقينا چې الله پر مفسدانو او ورانونكوو باندې ښه پوه دئ او دوي پيژني، يعنى نو دوي ته به د دوی د كفر چې فساد بلل كيږي؛ كلكه سزا وركړي او جهنم بې ځای سي.

{د اهل كتابو بلنه د الله بنده ګۍ ته په توحيد سره فرض ده}

او بيا الله تعالى خپل استازي پيغمبر ﷺ ته سپارښت كړئ دئ چې اهل كتاب يوازې د الله بنده ګۍ ته په توحيد سره راو بولي، او فرمايلي دي:

﴿قُلْ يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ تَعَالَوْا۟ إِلَىٰ كَلِمَةٍ سَوَآءٍۭ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا ٱللَّهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهِۦ شَيْـًٔا وَلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِّن دُونِ ٱللَّهِ ۚ فَإِن تَوَلَّوْا۟ فَقُولُوا۟ ٱشْهَدُوا۟ بِأَنَّا مُسْلِمُونَ ﴿٦٤﴾ يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ لِمَ تُحَآجُّونَ فِىٓ إِبْرَٰهِيمَ وَمَآ أُنزِلَتِ ٱلتَّوْرَىٰةُ وَٱلْإِنجِيلُ إِلَّا مِنۢ بَعْدِهِۦٓ ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٦٥﴾ هَٰٓأَنتُمْ هَٰٓؤُلَآءِ حَٰجَجْتُمْ فِيمَا لَكُم بِهِۦ عِلْمٌ فَلِمَ تُحَآجُّونَ فِيمَا لَيْسَ لَكُم بِهِۦ عِلْمٌ ۚ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿٦٦﴾ مَا كَانَ إِبْرَٰهِيمُ يَهُودِيًّا وَلَا نَصْرَانِيًّا وَلَٰكِن كَانَ حَنِيفًا مُّسْلِمًا وَمَا كَانَ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿٦٧﴾ إِنَّ أَوْلَى ٱلنَّاسِ بِإِبْرَٰهِيمَ لَلَّذِينَ ٱتَّبَعُوهُ وَهَٰذَا ٱلنَّبِىُّ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ۗ وَٱللَّهُ وَلِىُّ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٦٨﴾﴾

[٦٤] ای پیغمبره! [ته پر اهل کتابو غږ وکړه او ورته] ووایه راځئ ټول په یوه داسې کلمه سره راټول سو چې هغه د زمونږ او ستاسې په منځ کې برابره او ګډه کلمه ده [یعنی پر هغې سره اتفاق وکړو] او هغه دا چې د الله نه پرته د بل هیڅ چا عبادت او بنده کې به نکړو او د الله سره به په الوهیت او خدایي کې بل هیڅ څوک نه ګډوو [یعنی بل څوک به د الله تعالی سره په عبادت کې نه شر یکوو] او یو بل به د الله نه پرته په خدایي نه نیسو، نو که بیا هم دغو اهل کتابو مخ واړا وه او په شا واوښتل [یعنی د ستا بلنه یې ای پیغمبره! ونه منله] نو بیا ته دوی ته وو یه: ای اهل کتابو! نو تاسې پدې شاهدي ووایئ چې مونږ مسلمانان یو، یعنی مونږ خپل ځانو نه د الله بنده ګڼو ته سپارلي دي او تسلیم سوي یو.

قدرمنو دوستانو! او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د یهودو او نصاراوو هغه ناحقه دعوا د ابراهیم علیه السلام په باره کې رده کړې ده چې دوی به ابراهیم علیه السلام د خپل ملت او د دین پیروانو نه ګڼه، حال دا چې تورات او انجیل د ابراهیم علیه السلام نه ډیر وروسته رانازل سوي دي، نو ښایيدل چې دوی د ابراهیم علیه السلام پیروي کړې وای، او په بیان کې الله تعالی

فرمايلي دي:

[٦٥] ای د کتاب خاوندانو! (یهودو او نصاراوو) څنګه تاسې د ابراهیم پر سر د یو بل سره دعوا او استدلال کړی؟ [یعنی هره ډله ابراهیم عليه السلام د خپل دین پیرو بولي] حال دا چې تورات او انجیل د ابراهیم نه ډیر وروسته رانازل سوي دي، نو آیا تاسې عقل نه لری او نه پوهیږی؟ یعنی داچې د عقل او پوهې غوښتنه خو دا ده چې ښایي تاسې هیڅ کله دغسې دعوا او استدلال ونکړی، ځکه ابراهیم عليه السلام ډیر پخوا تیر سوئ دئ، نو څنګه به هغه یهودئ او یا نصرانئ وي؟

[٦٦] او دا دئ اوس تاسې [ای یهودو او نصارووا! د اسلام پیغمبر سره] د هغه څه په باره کې چې ښه پرې پوهیږی او علم ور باندې لری؛ استدلال کړی [یعنی دا چې هغه د محمد ﷺ د پیغمبری نښې دې او په تورات او انجیل کې بیان سوې دي] نو بیا ولې په هغه څه کې بحث او استدلال کړی چې هیڅ علم ور باندې نه لرې؟ [لکه د ابراهیم عليه السلام نسبت یهودیت او نصرانیت ته] او یقینا چې الله په هرڅه پوهیږي او تاسې نه پوهیږی! یعنی دا چې د یهودو او نصاراوو دا دعوا بې بنسټه دعوا ده.

[٦٧] هوا! ابراهیم نه یهودئ وه او نه نصرانئ، بلکې ابراهیم د ټولو باطلو ادیانو نه حق دین ته را اوښتئ وه او مسلمان وه [یعنی خپل ځان یې د الله تعالی اطاعت او بنده کی ته سپارلئ وه] او ابراهیم د مشرکانو نه نوه، او بتان یې د الله سره په عبادت کې نه ګډول.

قدرمنو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې چې د نجران نه مدینې منورې ته راغلیو نصاروو په باره کې رانازل سوي دي؛ د هغوی او د یهودو بې بنسټه او بې ځایه بحثونه او استدلال د اسلام پیغمبر ﷺ او بیا د ابراهیم عليه السلام په باره کې په کلکه سره غندلئ او رد کړئ دئ.

[٦٨] او یقینا چې ابراهیم ته ډیر لنډ خلک هغه کسان ول چې ابراهیم پسې ودر یدل او د هغه متابعت یې وکه، او بیا ابراهیم ته لنډ همدا د اسلام پیغمبر او د هغه امت مومنان دي او الله د مومنانو ملګرئ دئ.

{د اسلام نه د مومنانو اوښتل د يهودو او نصاراوو ارمان دئ}

عزتمنو دوستانو! ځيني يهودو او نصاراوو غوښتل چې مسلمانان د خپل حق دين اسلام نه ورک کړي او ټول مرتد سي، خو دوی پدې کار سره خپل ځانو نه ورکول، نو الله تعالى د دوی دغسې شوم نيت او ارمان نه مومنان خبر کړل، ترڅو ور باندې ونه غوليږي، او په ور پسې مبارکو آيتونو کې يې په بيان کې فرمايلي دي:

﴿وَدَّت طَّآئِفَةٌ مِّنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ لَوۡ يُضِلُّونَكُمۡ وَمَا يُضِلُّونَ إِلَّآ أَنفُسَهُمۡ وَمَا يَشۡعُرُونَ ٦٩ يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لِمَ تَكۡفُرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَأَنتُمۡ تَشۡهَدُونَ ٧٠ يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لِمَ تَلۡبِسُونَ ٱلۡحَقَّ بِٱلۡبَٰطِلِ وَتَكۡتُمُونَ ٱلۡحَقَّ وَأَنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ٧١﴾

[٦٩] د اهل کتابو يوې ډلې [کسانو] خوښيدل چې که چيرې تاسې ای مومنانو! د سې لارې نه ورک او بې لارې کړي، خو د دوی پام ندئ چې پدې کار سره خپل ځانو نه بې لارې کوي او د سې لارې نه ورکيږي.

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د يهودو او نصاراوو کفر د اسلام پر پيغمبر باندې؛ د تورات او انجيل په آيتونو کفر بللئ دئ، ځکه هغه د اسلام پيغمبر پر رسالت باندې شاهدان دي، او فرمايلي دي:

[٧٠] ای اهل کتابو! ولې تاسې د الله هغو آيتونو نه منکر يږئ؟ [چې هغه د اسلام پيغمبر محمدﷺ پيغمبرئ تصديق کوي، او دا آيتونه تاسې په خپلو کتابونو کې لولئ] او ور باندې شاهدان ياستئ؟ يعني د ستاسې دا کفر بې بنسټه دئ، او په حقيقت کې هغه پر تورات او انجيل باندې د کفر معنا لري، ځکه د اهل کتابو په دغو کتابونو کې د اسلام پيغمبر نبوت او استازي توب خپل امت ته تصديق سوئ دئ، او هغه د الله تعالى راتلونکئ پيغمبر او استازئ دئ.

[٧١] او ای اهل کتابو! ولې تاسې حق په باطل کې رانغاړئ او حق چې

تاسي پرې پوهيږي پټوي، يعنى اهل كتابو د محمد ﷺ هغه صفتونه پټول چې د دوى په كتابونو كې ياد سوي دي.

{ يهودو يو بل هڅاوه چې صبا ده پر قرآن ايمان راوړي او بيګاه ده بيرته كافران سي }

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې مونږ الله تعالى د يهودو هغو پټو کينو نه خبر کړي يو چې د مومنانو سره يې درلودلې، او فرمايلي دي:

﴿وَقَالَت طَّآئِفَةٌ مِّنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ ءَامِنُوا۟ بِٱلَّذِىٓ أُنزِلَ عَلَى ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَجْهَ ٱلنَّهَارِ وَٱكْفُرُوٓا۟ ءَاخِرَهُۥ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿٧٢﴾ وَلَا تُؤْمِنُوٓا۟ إِلَّا لِمَن تَبِعَ دِينَكُمْ قُلْ إِنَّ ٱلْهُدَىٰ هُدَى ٱللَّهِ أَن يُؤْتَىٰٓ أَحَدٌ مِّثْلَ مَآ أُوتِيتُمْ أَوْ يُحَآجُّوكُمْ عِندَ رَبِّكُمْ ۗ قُلْ إِنَّ ٱلْفَضْلَ بِيَدِ ٱللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَآءُ ۗ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٧٣﴾ يَخْتَصُّ بِرَحْمَتِهِۦ مَن يَشَآءُ ۗ وَٱللَّهُ ذُو ٱلْفَضْلِ ٱلْعَظِيمِ ﴿٧٤﴾﴾

[٧٢] او د اهل كتابو يوې ډلې[چې د تورات پوهان مشران ول] خپلو عوامو ته يې وو يل چې تاسي پر هغه كتاب (قرآن) چې هغه پر مومنانو رانازل سوئ دئ؛ د ورځې په صبا كې ايمان راوړئ او بيا د ورځې په بيګاه بيرته كافران سئ، ترڅو مومنان د خپل ايمان نه بيرته راوركړي، يعني د دوى دا كار به مسلمانان په شك كې واچوي او د خپل ايمان نه به په قرآن باندې لاس واخلي، خو د يهودو دې چل هم هيڅ ګټه ونكړه او د دوى د كينه كښو زړونو پټ چلونه الله تعالى مومنانو ته رسوا كړل.

[٧٣] [او بيا د يهودو دغو مذهبي مشرانو خپلو خلكو ته وو يل:] اى خلكو! د هغه چا نه پرته چې د ستاسې دين يې منلئ دئ [يعنى يهودان دي] پر بل هيڅ چا باندې اعتماد او باور مكړئ! [نو بيا الله تعالى پيغمبره ﷺ ته لارښودنه او سپارښت وكه چې دغو يهودو ته په ځواب كې ووايي:] هو! يقينا چې حق منلو ته هدايت او لارښودنه؛ د الله هدايت او لارښودنه ده، او كله چې هغه الله د چا په برخه كړي؛ هغه وركوي [نه لكه د يهودو

کرکجن در یځ چې حق یې د ځان نه پرته پر بل هیڅ چا نه لور یږي] ځکه یهود و یر یږي که دا حق چې هغه د الله پیرزو ینه ده بل چا ته ورکړي، نو بیا به دوی د الله پر وړاندې پر یهودو اعتراض وکړي چې یهودو حق پټ کړئ وه، یعنی د یهودو دروغ به بیا رسوا سي.

ګرانو دوستانو! او دغسې جملې ته په عربي ادبیاتو کې معترضه جمله وایي، نو ځکه د یهودو مشرانو خپلو عوامو ته وو یل: ای خلکو! هغه علم او پوهه چې د ستاسې سره د پټو شیانو په باره کې ده، لکه په تورات او انجیل (بایبل) کې د رسول الله ﷺ پیغمبري ز یري؛ هغه مسلمانانو ته مه ښکاره کوي، ترڅو دوی پرې پوه نسي، ځکه بیا به دوی ته هم هغه علم او لوړ مقام ورکړل سي چې هغه تاسې ته درکړل سوئ دئ، او بیا به مسلمانان دا علم او پوهه د الله پر وړاندې د قیامت په ورځ ستاسې په خلاف دلیل ونیسي، او هغه لکه داچې تاسې دوی د محمد ﷺ پیغمبرۍ نه خبروی، خو تاسې خپله ایمان رانوړ او دا پوهه تاسې د نورو خلکو نه پټه کړه، نو بیا الله تعالی یوځل بیا خپل پیغمبر ته وو یل: ته یهودو ته په ځواب کې ووایه: یقینا چې ټوله ورکړه او پیرزو ینه د الله په واک او اختیار کې ده، او هغه چې الله چا ته وغواړي هغه ته یې ورکوي، او الله د لوی فضل او د ډیرو لور ینو پالونکئ لوی ځښتن دئ.

[۷٤] [هو! کله چې الله تعالی د دغسې لوی رحمت ځښتن دئ] نو خپل رحمت او فضل چې چا ته وغواړي هغه ته یې ورکوي، ځکه الله د لوی فضل او د ډیرو پیرزو ینو خاوند دئ.

قدرمنو عز یزانو! د الله تعالی لوی فضل نه دلته مقصد د محمد ﷺ پیغمبرۍ لوی نعمت دئ چې هغه یې د ټول بشر یت په برخه کړئ دئ، خو په تورات کې د هغه تصدیق آیتونو پټول د یهودو ناکامه هڅه وه!

هو! په دغو مبارکو آیتونو کې د یهودو کرکجن چلند چې د کینو نه ډک دئ؛ الله تعالی مونږ ته د رسول الله ﷺ او د هغه ملګرو سره بیان کړئ دئ، او د بده مرغه هغه د یهودو تل پاتې خوی ګرځیدلئ دئ، او دوی تل د

حق سره په پټه او ښکاره جګړه کې لګيا دي، او د هر ډول ناروا وسائلو نه خپلو کرکجنو مقصدونو ته رسيدو لپاره کار اخلي، خو دا چې الله تعالى د دوی د زړونو نه خبر وه، نو د دوی ټولې منډې او چلونه يې د اسلام او د پيغمبر پر خلاف تل شنډول او د وحی يې په را نازليدو سره يې رسول اللهﷺ د هرڅه نه خبرا وه او هغه ته يې د دغو کينه کښو ډلو ناحقه استدلال او د تورونو ردولو لپاره غوره ځوابونه ورښودل، او يقينا چې دغه قصې د رسول اللهﷺ د دين لارو يانو او د اسلام تبليغ دعاتو لپاره د باطل پلو يانو سره د مناظرې، استدلا ل او د خبرو اترو په جرګو کې؛ ډيرې غوره لارښودنې دي، او ښايي هغه تل زمونږ په پام کې وي.

{اهل کتاب مومنانو ته د ز يان رسولو روا ګڼل الله پسې تپي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى اهل کتاب په دوه برخو و يشلي دي چې ځينې يې پر خپلو هوکړو ولاړ دي او ځينې نور يې د هوکړو ماتونکي دي او مومنانو ته د ز يان رسولو رابلونکي دي، او فرمايلي دي:

﴿* وَمِنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ مَنۡ إِن تَأۡمَنۡهُ بِقِنطَارٖ يُؤَدِّهِۦٓ إِلَيۡكَ وَمِنۡهُم مَّنۡ إِن تَأۡمَنۡهُ بِدِينَارٖ لَّا يُؤَدِّهِۦٓ إِلَيۡكَ إِلَّا مَا دُمۡتَ عَلَيۡهِ قَآئِمٗاۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ قَالُواْ لَيۡسَ عَلَيۡنَا فِي ٱلۡأُمِّيِّـۧنَ سَبِيلٞ وَيَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَ وَهُمۡ يَعۡلَمُونَ ٧٥ بَلَىٰ مَنۡ أَوۡفَىٰ بِعَهۡدِهِۦ وَٱتَّقَىٰ فَإِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُتَّقِينَ ٧٦ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَشۡتَرُونَ بِعَهۡدِ ٱللَّهِ وَأَيۡمَٰنِهِمۡ ثَمَنٗا قَلِيلًا أُوْلَٰٓئِكَ لَا خَلَٰقَ لَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ ٱللَّهُ وَلَا يَنظُرُ إِلَيۡهِمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَلَا يُزَكِّيهِمۡ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ٧٧ وَإِنَّ مِنۡهُمۡ لَفَرِيقٗا يَلۡوُۥنَ أَلۡسِنَتَهُم بِٱلۡكِتَٰبِ لِتَحۡسَبُوهُ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَمَا هُوَ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَيَقُولُونَ هُوَ مِنۡ عِندِ ٱللَّهِ وَمَا هُوَ مِنۡ عِندِ ٱللَّهِ وَيَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَ وَهُمۡ يَعۡلَمُونَ ٧٨ ﴾

[۷۵] ای پيغمبره! د اهل کتابو نه(يهودو او نصاراوو نه) ځينې داسې ځوک سته چې که دوی ته د ښه ډير مال او دولت خزانه امانت کيږدې

پکې خیانت نکړي او هغه بیرته تاته پوره سپارې، خو د اهل کتابو نه داسې څوک هم ستە چې که د سرو زرو یو دینار هم ورته امانت ورکړې، نو هغه بیرته نه درکوي، مګر دا چې ته د هغه پر سر تل ولاړ وي او خپل امانت غواړې، او دا ځکه چې دوی به و یل: د امیانو په حق کې مونږ باندې څه ګناه نسته[او د امیانو نه یې مقصد عرب ول] او پدې و ینا سره؛ یهود الله پسې دروغ وایي او ښه پوهیږي چې دروغ وایي، یعنی الله تعالی هیڅ کله عر بانو سره خیانت او د دوی غولول یهودانو ته ندې روا کړې.

[۷۶] او د ر ښتیا خبره خو دا ده چې هرچا چې پر خپل ژون او وعده باندې وفاء وکړه او په امانت کې یې خیانت ونکه او د الله نه وو یر یده او تقوا یې وکړه، نو هغه ر ښتینئ متقي دئ، او متقیان یقینا الله خوښوي او دوی پر الله ګران دي، ځکه دوی خیانت نکړي او حرام نه خوري او د الله عذاب نه ځانو نه په اطاعت سره کلک ساتي.

[۷۷] هو! یقینا هغه کسان چې د الله حکمونه، فرمانونه او خپلې لوړې او قسمونه د الله سره په تعهد او ژون کې په لږ بیعه خرڅوي او خپل تعهد ماتوي؛ دوی ته په آخرت کې هیڅ برخه نسته او الله ورسره خبرې نکړي او د قیامت په ورځ دوی ته نه ګوري او نه دوی د ګناه نه پاکوي، او کافرانو ته په آخرت کې دردوونکئ عذاب او کلکه سزا تیاره ده.

[۷۸] او د یهودو نه داسې یوه ډله هم سته چې یقینا خپلې ژبې د تورات په لوستلو کې اړوي را اړوي، ترڅو تاسې ای مومنانو! د دوی دا خبرې د تورات نه و ګڼئ[خو څه چې دوی وایي] هغه د تورات خبرې ندي، که څه هم دوی وایي چې دا خبرې د الله لخوا دي، خو هغه د الله لخوا ندي، او دغه یهود چې الله پسې دروغ وایي په زړو کې پر خپلو دروغو ښه پوهیږي.

درندو دوستانو! دا وه د یهودو دروغژن چلند او کرکجن در یځ چې د رسول الله ﷺ ملګرو سره یې په مدنیه منوره کې چلا وه، او د الله تعالی کتاب تورات یې بدلا وه او دروغ یې و یل، نو ځکه د دوی دروغ او دا دوه مخئ چلند مونږ ته الله تعالی رسوا کړئ دئ، ترڅو د دوي د درغو په لومو

کې وننښلو او هغه هیڅ کله ونه منو، او دا مبارك آیتونه چې مونږ ته یې د یهودو دروغ رسوا کړي دي؛ همدارنګه پدې دلالت کړي چې هرکله یو څوک او یا یوه ډله غواړي چې مومنان د خپلو کتو لپاره وغولوي، نو ښایي چې د دوی پوهان او علماء چې د یهودو پټو دسیسو او د دروغو نه خبر دي؛ خپل ټول خلک او عام ولس هم خبر کړي، ترڅو په ښه ګمان کړو سره؛ د دغو انسي شیطانانو توطئیو ښکار نسي او خپل ځانو نه ورڅخه کلک وساتي، او دا حقیقت هم ښایي په پام کې ولرو چې الله تعالی د دې مبارکو آیتونو په پیل کې یهود په امانت ساتلو کې پر دوه برخو یا دوه ډلو و یشلي دي چې ځینې یې امانت ساتي او ځینې نور یې بیا خیانت کړي او امانت بیرته خپل څښتن ته نه ورکوي، او دغسې بد خوی که څه هم دلته د سیاق سره سم د یهودو په باره کې یاد سوئ دئ، خو هغه د ټولو خلکو خوی دئ، نو ځکه الله تعالی خپل پیغمبران او ورسره کتابونه د خلکو فکري، اخلاقي او سلوکي اصلاح لپاره را لیږلي دي.

{پیغمبران امتونه د الله بنده ګی نه ځان بنده ګی ته نه رابولي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د ځینې اهل کتابو هغه بې بنسټه و یناوې ردې کړې دي چې کله دوی اسلام ته را دعوت سول، نو پیغمبر ﷺ ته یې وو یل آیا ته ای محمده! غواړې مونږ د ستا عبادت او بنده ګي وکړو، لکه څنګه چې نصارا د عیسی بنده ګي او عبادت کړي؟ نو بیا رسول الله ﷺ د دوی دغه بد ګماني رده کړه او په ځواب کې یې دا مبارك آیتونه رانازل سول چې پکې الله تعالی فرمایلي دي:

﴿مَا كَانَ لِبَشَرٍ أَن يُؤْتِيَهُ ٱللَّهُ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْحُكْمَ وَٱلنُّبُوَّةَ ثُمَّ يَقُولَ لِلنَّاسِ كُونُوا۟ عِبَادًا لِّى مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلَٰكِن كُونُوا۟ رَبَّٰنِيِّۦنَ بِمَا كُنتُمْ تُعَلِّمُونَ ٱلْكِتَٰبَ وَبِمَا كُنتُمْ تَدْرُسُونَ ﴿٧٩﴾ وَلَا يَأْمُرَكُمْ أَن تَتَّخِذُوا۟ ٱلْمَلَٰٓئِكَةَ وَٱلنَّبِيِّۦنَ أَرْبَابًا ۗ أَيَأْمُرُكُم بِٱلْكُفْرِ بَعْدَ إِذْ أَنتُم مُّسْلِمُونَ ﴿٨٠﴾﴾

[٧٩] هو! هيڅ انسان ته نه ښايي چې کله هغه ته الله خپل کتاب او د خلکو په منځ کې د حکم کړو واکمني او پيغمبري ورکړي او بيا دې خلکو ته ووايي چې راځئ د الله نه پرته زما بنده ګان شئ، بلکې [دا لارښود پيغمبر خلکو ته وايي:] تاسې د ښه پالونکي ذات الله بنده ګان شئ، ځکه چې تاسې دا درکړل شوئ کتاب نورو خلکو ته ورزده کوئ، او تاسې خپله هم دغه کتاب لولئ او زده کوئ يې، يعنې پيغمبران د الله عبادت او حکم کړو ته لارښودان را ليږل شوي دي نه خپلو ځانو ته، نو دوی هيڅ کله خلک د خپلو ځانو ستاينې او بنده ګۍ ته نه رابولي او د خپلو ځانونو نه خدايان نه جوړوي، ترڅو د دوی بنده ګي وسي.

[٨٠] ای خلکو! پيغمبر تاسې ته امر نکړي چې ملائکې او پيغمبران خپلو ځانو ته پالونکي خدايان ونيسئ [يعنې د الله نه پرته د دوی عبادت او بنده ګي وکړئ] ځکه آيا دا سمه ده چې پيغمبر تاسې وروسته لدې چې مسلمانان شوئ؛ بيرته کفر ته را و بولئ؟ ځواب دا چې: نا! دا سمه نده، يعنې پيغمبر هيڅ کله تاسې ته دغسې بلنه نه درکوي.

ګرانو عز يزانو! خو د بده مرغه ډيرو مذهبي مشرانو په يهوديت او نصرانيت کې د دغسې اسماني حکم خلاف؛ خپل ځانو نه د خپلو ولسونو سره په نه اعلان سوي چلند کې (العياذ بالله) د الله تعالى ځای ناستي ګرځولي دي، او همداسې بد بختانه پدې وروستيو پيړو کې د مسلمانانو ځينې مذهبي مشران هم د يهودو او نصاراوو پيښې او تقليد کړې، او خپل ځانو نه د الله او بنده ګانو په منځ وا سطه بولي او ډير خلک يې ځانو پسې داسې کلک تړلي دي، لکه چې د دوی د څار نه پرته الله ته رسيدلای نسي!

{پخوانيو پيغمبرانو نه الله هوډ اخستئ چې امتونه بې د خاتم المرسلين مرسته کړي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى مونږ د هغه تعهد او هود نه خبر کړي يو چې هغه يې د پخوانيو پيغمبرانو نه اخستئ دئ، او هغه دا چې د

دوی امتونه به د اسلام پیغمبر محمدﷺ خاتم النبیین والمرسلین مرسته کړي، او په بیان کې یې فرمایلي دي:

﴿وَإِذْ أَخَذَ ٱللَّهُ مِيثَٰقَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ لَمَآ ءَاتَيْتُكُم مِّن كِتَٰبٍ وَحِكْمَةٍ ثُمَّ جَآءَكُمْ رَسُولٌ مُّصَدِّقٌ لِّمَا مَعَكُمْ لَتُؤْمِنُنَّ بِهِۦ وَلَتَنصُرُنَّهُۥ ۚ قَالَ ءَأَقْرَرْتُمْ وَأَخَذْتُمْ عَلَىٰ ذَٰلِكُمْ إِصْرِى ۖ قَالُوٓا۟ أَقْرَرْنَا ۚ قَالَ فَٱشْهَدُوا۟ وَأَنَا۠ مَعَكُم مِّنَ ٱلشَّٰهِدِينَ ﴿٨١﴾ فَمَن تَوَلَّىٰ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْفَٰسِقُونَ ﴿٨٢﴾ أَفَغَيْرَ دِينِ ٱللَّهِ يَبْغُونَ وَلَهُۥٓ أَسْلَمَ مَن فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا وَإِلَيْهِ يُرْجَعُونَ ﴿٨٣﴾﴾

[۸۱] [ای پیغمبره! او هغه وخت را په یاد کړه] کله چې الله د ټولو پیغمبرانو نه کلک تعهد واخست او ورته یې وو یل: ای پیغمبرانو! کله چې تاسې ته ما هغسې کتاب او پوهه درکړې ده چې حق او باطل سره بیلوي، نو بیا چې کله بل پیغمبر تاسې پسې را سي، نو هغه به د ستاسې کتابونو تصدیق کوي، نو تاسې به هرومرو پر هغه ایمان راوړئ او د هغه مرسته به کړئ! [او بیا الله تعالی د دوی نه و پوښتل:] آیا تاسې پدې هوکړه او تعهد اقرار وکه او هغه تاسې ومانه او د زما دا کلک تعهد تاسې پر خپل اقرار سره واخست؟ [نو بیا دوی ټولو په ځواب کې پدې هوډ او تعهد اقرار وکه] او و یو یل: هو! مونږ پدې تعهد اقرار کړئ دئ، نو بیا الله دوی ته وو یل: نو تاسې د یو بل پر اقرار باندې شاهدان سئ او زه به هم ستاسې سره د شاهدانو نه یم، یعنی زه به د ستاسې پر تعهد شاهد یم.

ګرانو دوستانو! دا مبارك آیت په پوره روښتیا سره د دې خبرې پوخ دلیل دئ چې الله تعالی پخوا تیر سوو ټولو پیغمبرانو نه دا تعهد او اقرار اخستئ دئ چې د دوی امتونه به د اسلام پر پیغمبرﷺ باندې ایمان راوړي او د هغه پیغمبري به مني، نو بیا ځکه الله تعالی په ور پسې مبارکو آیتونو کې اعلان کړئ دئ، او فرمایلي دي:

[۸۲] نو هرڅوک چې لدې تعهد نه وروسته په شا سه [یعنی د اسلام

پر پيغمبرﷺ يې ايمان رانوړ او د الله حق دين يې ونه مانه] نو هغوی يقينا او په ر ښتيا سره فاسقان دي او د خپل رب بنده ګی نه وتلي دي.

[٨٣] [او آيا دغه د اهل کتابو فاسقان] د الله حق دين نه پرته بل دين غواړي؟ حال داچې ټول هغه مخلوقات چې په اسمانو او په ځمکه کې دي؛ په خپله خوښه او يا په زور الله ته تسليم سوي دي، او دوی ټول بيا الله ته ورګرځول کيږي، يعنی د قيامت په ورځ الله تعالی د ټولو خلکو نه حساب اخلي، نو هرچا چې خپلې هوکړې د پښولاندې کړې؛ دوی ته کلکه سزا ورکول کيږي او د دوزخ په اور کې به کړ يږي.

عزتمنو وروڼو او خو يندو! الله تعالی پدې مبارک آيت کې خپلو ټولو بنده ګانو ته ګوانښ کړئ دئ چې نه ښايي هيڅ څوک د قيامت په ورځ الله ته د اسلام نه پرته په بل دين سره وروګرځي، کنه نو ځای يې د دوزخ اور دئ او هلته به پکې د تل لپاره کړ يږي.

{ محمد ﷺ پخوانی پيغمبران او کتابونه منی }

او بيا الله تعالی په ور پسی مبارک آيت کې د رسول الله ﷺ په خوله دا خبره خلکو ته په پوره باور سره اعلان کړي ده چې د اسلام پيغمبرﷺ او د هغه امت پر تيرو ټولو پيغمبرانو او د دوی پر کتابونو ايمان راوړئ دئ، ځکه هغوی ټول د الله پيغمبران او استازي ول او اسماني کتابونه پر دوی را نازل سوي ول، او فرمايلي دي:

﴿قُلْ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَمَآ أُنزِلَ عَلَيْنَا وَمَآ أُنزِلَ عَلَىٰٓ إِبْرَٰهِيمَ وَإِسْمَٰعِيلَ وَإِسْحَٰقَ وَيَعْقُوبَ وَٱلْأَسْبَاطِ وَمَآ أُوتِىَ مُوسَىٰ وَعِيسَىٰ وَٱلنَّبِيُّونَ مِن رَّبِّهِمْ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّنْهُمْ وَنَحْنُ لَهُۥ مُسْلِمُونَ ﴿٨٤﴾ وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ ٱلْإِسْلَٰمِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِى ٱلْءَاخِرَةِ مِنَ ٱلْخَٰسِرِينَ ﴿٨٥﴾﴾

[٨٤] ای پيغمبره! ته [ټولو خلکو ته اعلان وکه او ورته] ووايه چې مونږ پر الله او پر هغه کتاب باندې چې هغه مونږ ته را نازل سوئ دئ؛ ايمان راوړئ دئ [يعنی د الله تعالی بنده ګان يو او د يوه رب الله نه پرته

بل رب او څښتن نه لرو] او پر هغه کتاب او هغو صحيفو باندې چې هغه الله پر ابراهيم او د هغه پر زامنو اسماعيل، اسحاق او د اسحاق پر زوی يعقوب باندې رانازلې کړې دي؛ مونږ ايمان راوړئ دئ او دوی ټول منو، او هم مونږ پر هغه څه چې پر اسباطو باندې رانازل سوي ول؛ ايمان راوړئ دئ [او د اسباطو نه مراد او مقصد د بني اسرائيلو نور هغه پيغمبران دي چې د يعقوب عليه السلام کهول نه ول] او هم مونږ پر هغو کتابونو باندې چې موسی، عيسی او نورو پيغمبرانو ته د دوی رب الله ورکړي ول؛ ايمان راوړئ دئ، او مونږ د دغو پيغمبرانو په منځ کې هيڅ فرق او تو پير نکړو، دوی ټول د الله استازي ول، او مونږ الله ته په عبادت او بنده کۍ سره تسليم سوي يو او حکمونه يې منو!

قدرمنو دوستانو! نو بيا ځکه الله تعالی په ور پسې مبارك آيت کې په ډير قاطعيت او پر يکنده الفاظو سره ټولو خلکو ته اعلان کړئ دئ چې د اسلام نه پرته بل دين نه منل کيږي، او فرمايلي دي:

[۸۵] او هر هغه څوک چې د اسلام نه پرته بل دين وغواړي، نو دا دين د هغه نه نه منل کيږي او دئ به د آخرت په ورځ د بايلونکو نه وي، يعنی خپلې ټولې ګټې بې بايللې وي او دوزخ ته به ورغورځول کيږي!

{د جنت ګټلو لار د ګران مال نه خيرات ورکول دي}

او په ور پسې مبارك آيت کې چې د قرآن کر يم د څلورمې سپارې پيل دئ؛ مومنان الله تعالی د خپل خدای رضا لپاره خيرات ورکولو ته هڅولي او تشو يق کړي دي، او فرمايلي دي:

﴿لَن تَنَالُواْ ٱلۡبِرَّ حَتَّىٰ تُنفِقُواْ مِمَّا تُحِبُّونَۚ وَمَا تُنفِقُواْ مِن شَيۡءٖ فَإِنَّ ٱللَّهَ بِهِۦ عَلِيمٞ ٩٢ كُلُّ ٱلطَّعَامِ كَانَ حِلّٗا لِّبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ إِلَّا مَا حَرَّمَ إِسۡرَٰٓءِيلُ عَلَىٰ نَفۡسِهِۦ مِن قَبۡلِ أَن تُنَزَّلَ ٱلتَّوۡرَىٰةُۗ قُلۡ فَأۡتُواْ بِٱلتَّوۡرَىٰةِ فَٱتۡلُوهَآ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ٩٣ فَمَنِ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَ مِنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ٩٤ قُلۡ صَدَقَ ٱللَّهُۗ فَٱتَّبِعُواْ مِلَّةَ إِبۡرَٰهِيمَ حَنِيفٗاۖ وَمَا

كَانَ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ٩٥﴾

[۹۲] هو؛ ای مومنانو! تاسې هیڅ کله د ښـو کړنو لوړ مقام لاس ته راوړلای نسی، مګر دا چې د خپل خواړه مال او دولت نه چې هغه پر تاسې ګران دئ؛ یو څه خیرات ورکړی، او هر هغه څه چې تاسې د الله خوښی او رضـا لپاره ورکوی، نو یقینا چې الله ور باندې ښـه پوه دئ، یعنی الله تعالی هرچا ته د هغه ورکړې ثواب پوره ورکوي، او هغه جنت ته ننوتل او د الله تعالی لو یو نعمتونو نه خوند اخستل دي.

قدرمنو دوسـتانو! د الله تعالی دغسـي هڅونه خیرات ورکولو ته چې پرې مومن بنده لوړ مقام چې هغه جنت دئ ګټي؛ د الله تعالی رحمت او لو یه پیرزو ینه ده چې پر خپلو مومنو بنده ګانو باندې یې لوروي، خو د کافرانو خیراتونه او نذرانې که د ځمکې د ډکیدو په اندازه هم وي؛ هغه الله تعالی نه قبلوي، ځکه هغوی د الله تعالی بنده ګی لمړئ شـرط چې ایمان دئ ندئ پوره کړئ او ایمان یې ندئ راوړئ.

او بیا په ور پسـې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د یهودو هغه پوښـتنې ځواب کړې دي چې د رسـول الله ﷺ نه یې پر دوی حرام سـوو خوړو په باره کې کړې، او په بیان کې یې فرمایلي دي:

[۹۳] هو! مخکې له هغې چې تورات را نازل سي؛ بني اسرائیلو ته ټول خواړه حلال ول، او یوازې هغـه خواړه پر دوی حرام ول چې هغـه اسـرائیـل (یعقوب بن اسحاق علیه السلام) خپله پر ځان حرام کړي ول [او یعقوب علیه السلام پر خپل ځان د اوښ غوښـه او شـودې حرامې کړې وې، او د تورات رانازلیدلو نه وروسـته چې بیا پر یهودو باندې کم حلال خواړه حرام سـول؛ د هغو حرمت سـبب او عامل د دوی خپل ظلم ؤ، ځکه دوی د الله حکمونو نه سـرغړونه وکړه، نو بیا دوی ته الله تعالی کلکه سـزا ورکړه او ډیر حلال خواړه یې ور باندې حرام کړل، خو یهودو دا حکم ونه مانه، نو ځکه الله تعالی رسول الله ﷺ ته] وو یل:ای پیغمبره! ته یهودو ته ووایه چې که چیرې تاسې! یقینا د ر یښتیا و یونکو نه یاستی! نو تورات راوړی او هغه ولولی؟

[۹٤] [نو بيا د تورات لوستلو نه وروسته چې حقيقت پکې روښانه سوئ دئ] څوک الله پسې دروغ وايي او افترا کړي، نو دوی پر ريښتيا او حق سره ظالمان دي، يعنی د الله په پاک مقام باندې يې کلک تيرئ کړئ دئ او د هغه حکم يې ندئ منلئ!

[۹۵] ای پيغمبره! او دغو يهودو ته ووايه چې الله ر يښتيا وو يل [نو که تاسې ای يهودو! د ابراهيم عليه السلام سره پر خپل محبت او مينه کې ر يښتيا وايی او د هغه ملت او دين منی] نو ابراهيم پسې سم لاړ سی، ځکه ابراهيم د باطل نه حق ته اوښتئ وه، او دئ د مشرکانو نه نوه، او د ابرهيم دين سم دين دئ، يعنی هغه الله تعالی د محمد صلی الله عليه وسلم په خوله مونږ ته را رسولئ دين دئ او ايمان راوړل ور باندې فرض دي.

{کعبه لمړنئ کور دئ چې خلکو ته الله لارښود ودان کړئ دئ}

درندو دوستانو! يهودو همدارنګه په ناحقه او په ناروا سره دعوا کړه چې د اقصا مسجد په بيت المقدس کې د کعبې مبارکې نه په مکه معظمه کې چې هغه ابراهيم عليه السلام ودانه کړي ده؛ غوره او ور باندې لوړ دئ، ځکه ډير پيغمبران اقصا کې تير سوي او پکې اوسيدلي دي، نو د يهودو په ځواب کې الله تعالی پدې لاندې مبارکو آيتونو کې فرمايلي دي:

﴿إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِي بِبَكَّةَ مُبَارَكًا وَهُدًى لِّلْعَالَمِينَ ﴿٩٦﴾ فِيهِ آيَاتٌ بَيِّنَاتٌ مَّقَامُ إِبْرَاهِيمَ ۖ وَمَن دَخَلَهُ كَانَ آمِنًا ۗ وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا ۚ وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ عَنِ الْعَالَمِينَ ﴿٩٧﴾﴾

[۹٦] هو! يقينا لمړنی کوټه او کور چې خلکو ته [د الله تعالی عبادت او بنده کې په مقصد ودان سوئ دئ] هغه په مکه کې (کعبه معظمه کې) د الله مبارک کور دئ او هغه مبارک ځای دئ [يعنی عبادت او سجده کړل پکې ډير ثواب لري] او کعبه ټولو خلکو ته لارښود ده او دوی يوازې د الله عبادت ته رابولي، يعنی کعبه د مسلمانانو قبله ده او ټول مومنان خپلو

پنځو وختو لمنځونو کې کعبې خوا ته مخونه اړوي او د الله عبادت لپاره بیت الله ته (کعبې معظمې ته) حج او عمرې ته ورځي.

[٩٧] او په بیت الله کې ښې ښکاره نښې دي [یعنی دا چې هغه د ابراهیم علیه السلام ودانۍ څرګندوی دي، او دې کور ته الله خپله لوړ مقام ورکړئ دئ] او د دغو نښو نه یو هم د ابراهیم مقام دئ [او دا د ابرهیم علیه السلام مقام هغه کانۍ یا تیږه ده چې ابراهیم به د کعبې ودانولو په وخت کې ورڅخه د جګیدو لپاره لکه ز ینه کار اخسته او ور باندې در یده به] او هرڅوک چې بیت الله ته ورننوځي، نو په امن کې کیږي [یعنی د زړه ډاډ ورته حاصلیږي] او د الله کور حج د الله لخوا پر خلکو(مومنانو) باندې فرض دئ، خو پدې شرط چې هلته د ورتګ وسعه ولري، او هر هغه څوک چې د بیت الله حج نه منکر سي او هغه ونه مني [نو ښایې دئ ښه پوه سي چې] الله د خلکو نه مستغنی ذات دئ، یعنی الله تعالی د خلکو حج ته محتاج او اړ ندئ، بلکې خلک الله ته محتاج دي چې و ېښې او ګناهونې تویې کړي.

عزتمنو وروڼو او خو یندو! روایت سوئ دئ چې د الله تعالی کور (کعبه معظمه) په لمړي ځل کې فرښتو ودان که او بیا هغه د دو یم ځل لپاره ابراهیم علیه السلام د خپل زوی اسماعیل علیه السلام په مرسته ودان که، او بیا چې کله د ابراهیم وداني سیلآبونو ورانه کړه او د خاورو لاندې سوه، نو بیا د مکې اوسیدونکو قر یشو د کعبې ودانۍ ته د ابراهیم علیه السلام په بنسټونو باندې ملا وترله، خو قر یش د کعبې ټولې ودانۍ خرڅ پوره کولو نه بې وسعې سول، نو بیا یې د کعبې مبارکې ودانۍ باندې په اوسنۍ بڼه کې بسنه وکړه، او د ابراهیم علیه السلام ودانۍ شمالي برخې نه یې چې ورته حطیم وایي نیم دایروي دیوال راتاو که، ترڅو خلک پوه سي چې هغه د کعبې برخه ده، نو ځکه که چیرې اوس څوک هلته په حطیم کې نفلي لمونځ وکړي، نو دا لمونځ د کعبې مبارکې کوټه کې دننه لمونځ شمیرل کیږي، او دا همداسې د الله تعالی تقدیري پر یکړه وه، ځکه په اوسني وخت کې چې حاجیان ښه ډیر سوي دي؛ کعبې ته ورننوتل ډیر ستونزمن کار دئ.

{د محمد پیغمبرې پټولو نه اهل کتاب الله ګواښلي دي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې اهل کتاب (یهود او نصارا) الله تعالی د رسول الله ﷺ پیغمبرې د پټولو ګناه نه کلک ګواښلي دي، او فرمایلي دي:

﴿قُلْ يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ لِمَ تَكْفُرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَٱللَّهُ شَهِيدٌ عَلَىٰ مَا تَعْمَلُونَ ٩٨ قُلْ يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ لِمَ تَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ مَنْ ءَامَنَ تَبْغُونَهَا عِوَجًا وَأَنتُمْ شُهَدَآءُ ۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ٩٩ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِن تُطِيعُوا۟ فَرِيقًا مِّنَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ يَرُدُّوكُم بَعْدَ إِيمَٰنِكُمْ كَٰفِرِينَ ١٠٠ وَكَيْفَ تَكْفُرُونَ وَأَنتُمْ تُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ ءَايَٰتُ ٱللَّهِ وَفِيكُمْ رَسُولُهُۥ ۗ وَمَن يَعْتَصِم بِٱللَّهِ فَقَدْ هُدِىَ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ١٠١﴾

[٩٨] ای پیغمبره! اهل کتابو ته (یهودو او نصاراوو ته) ووایه: ای د کتاب خاوندانو! ولې تاسې د الله کتاب ښکاره آیتونو او روښانه دلیلونو نه منکر یږئ او هغه پټوئ [یعنی هغه نه منئ؟ حال دا چې هغه ټول د اسلام پر حقانیت، صدق او په ر یښتینوالي باندې دلالت کړي] او الله د ستاسې په کړنو باندې شاهد دئ او هغه و یې! یعنی نو کلکه سزا به درکړي.

[٩٩] ای پیغمبره! [او همدارنګه اهل کتابو ته] ووایه: ولې تاسې هغه څوک چې ایمان یې راوړ؛ هغه د الله لارې نه بندوئ؟ [یعنی د هغه مخه نیسئ او نې پر یږدئ چې مسلمان سي؟] او تاسې غواړي چې د الله لار کږه وښیی، سره لدې چې تاسې [د محمد ﷺ پیغمبرې او د اسلام پر حقانیت او ر یښتینوالي باندې چې هغه په خپلو کتابونو کې لولئ] شاهدان یاستئ، او الله د ستاسې دغسې کړنو نه غافل او بې پروا ندئ، یعنی نو تاسې ته به الله تعالی کلکه سزا درکړي!

ګرانو دوستانو! او په ور پسې مباروکو آیتونو کې الله تعالی مومنانو باندې غږ کړئ دئ او دوی یې د اهل کتابو ځینې ډلو خبرو منلو او ملتیا

نه کلک ګواښلي دي، او فرمايلي دي:

[١٠٠] ای مومنانو! که چيرې تاسې د اهل کتابو ځينو ډلو پسې لاړ سی او د دوی غوښتنې ومنی، نو دوی تاسې د خپل ايمان نه بيرته کفر ته اړوی، يعنی تاسې به مرتد سی او يقينا چې ردت او د اسلام پر ښودل؛ ډيره لو يه ګناه ده او سزای يې د دوزخ په اور کې تل پاتې کړ يدل دي.

[١٠١] او ای مومنانو! تاسې څنګه کافران کيږی او حق پټوی؟ حال دا چې پر تاسې د الله آيتونه لوستل کيږي او پيغمبر د ستاسې په منځ کې دئ [او د الله کتاب آيتونه تاسې ته رسوي] او هر هغه څوک چې د الله په دين ټينګ سي او پر الله توکل وکړي، نو سې لارې ته هدايت سوئ دئ، يعنی نو ثواب يې د الله تعالی لوی جنتونه دي.

{تقوا او د الله دين پرپرې منکلې ټينګول فرض دي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی مومنان تقوا ته چې د اسلام ميوه ورکونکې ونه ده رابللي دي او په اتحاد او يو والي سره يې د الله تعالی د دين پرې کلکو نيولو ته هڅولي دي، او فرمايلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ ١٠٢ وَٱعۡتَصِمُواْ بِحَبۡلِ ٱللَّهِ جَمِيعٗا وَلَا تَفَرَّقُواْۚ وَٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ إِذۡ كُنتُمۡ أَعۡدَآءٗ فَأَلَّفَ بَيۡنَ قُلُوبِكُمۡ فَأَصۡبَحۡتُم بِنِعۡمَتِهِۦٓ إِخۡوَٰنٗا وَكُنتُمۡ عَلَىٰ شَفَا حُفۡرَةٖ مِّنَ ٱلنَّارِ فَأَنقَذَكُم مِّنۡهَاۗ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمۡ ءَايَٰتِهِۦ لَعَلَّكُمۡ تَهۡتَدُونَ ١٠٣ وَلۡتَكُن مِّنكُمۡ أُمَّةٞ يَدۡعُونَ إِلَى ٱلۡخَيۡرِ وَيَأۡمُرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَيَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ١٠٤ وَلَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ تَفَرَّقُواْ وَٱخۡتَلَفُواْ مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَهُمُ ٱلۡبَيِّنَٰتُۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٞ ١٠٥﴾

[١٠٢] ای مومنانو! د الله عذاب نه پر حق سره وو ير يږی او خپل ځانو نه ورځخه وساتي او څو چې ژوندي ياستی پر خپل دين ټينګ پاتې سی، ترڅو مسلمانان مړه سی، يعنی د الله حکم ته تسليم سوي د دنيا

نه لاړ سی او د محشر په ورځ سپین مخي د الله تعالی په حضور کې ودر یږی.

ګرانو دوستانو! پدې مبارك آیت کې الله تعالی مومنان د دین نه بیرته کفر ته د اوښتلو نه چې ردت بلل کیږي؛ کلک ګواښلي او منع کړي دي او بیا یې په ور پسې مبارکو آیتونو کې د الله تعالی پر دین باندې کلکو در یدو ته په توحید او یو والي سره را بللي دي او د امر بالمعروف او نهی عن المنکر لویې فر یضې پر ځای کولو ته یې هڅولي دي، او فرمایلي دي:

[١٠٣] او ای مومنانو! تاسې ټول د الله دین پر پرې منګلې کلکې کړی او د یو بل نه مه سره بیلیږی [یعنی ډلې ډلې مکیږی] او د الله هغه نعمت پر خپلو ځانو باندې را په یاد کړی چې هغه یې پر تاسې پیرزو که، او هغه دا چې کله تاسې د یو بل سره دښمنان وی، نو بیا الله د ستاسې په زړونو کې مینه او د یو بل سره محبت واچا وه او د الله په توفیق او مرستې سره ورونه سوی، حال دا چې د هغې نه مخکې تاسې د اور زَور ګړنګ پر څنډه ولاړ وی، خو الله تاسې ته په دغه زور ګړنګ کې د لو یدو نه نجات درکه او ورڅخه خلاص یې کړی، او الله همداسې تاسې ته ای مومنانو! د خپل لوی قدرت نښې بیانوي، ترڅو تاسې سمې لارې ته هدایت سی او پر هغه روان سی، یعنې یوازې د الله عبادت او بنده کې وکړی.

قدرمنو دوستانو! پدې مبارك آیت کې الله تعالی د مدینې منورې اوسیدونکو (اوس او خزرج) ولسونو په منځ کې د اوږدو دښمنیو او کورنیو جګړو ته په اشارې سره چې د اسلام نه مخکې پکې نښتې ول او د خونړ یو جګړو په اور کې سوز یدل؛ الله دوی او نور ټول مومنان د قیامت ورځې راتګ پورې په خپل منځ کې اتفاق او اتحاد ته رابللي دي او د خپل منځې اختلافاتو نه یې کلک ګواښلي دي، نو دا مبارك آیت په اوسني وخت کې چې ډیر اسلامي هیوادونه د کورنیو جګړو اور په لمبو کې کړ یږي؛ اتحاد او وروری ته لوی پیغام دئ، نو ښایي چې مومنان را و یښ سي او خپل ځانو نه د دغسې جګړو د اور نه راو باسي، او یو بل سره د ورونو غوندې یو موټی او متحد ژوند وکړي.

او بيا په ور پسې مبارك آيت کې مومنان الله تعالى د امر بالمعروف او نهى عن المنكر لوى مسئوليت او درانده امانت پر غاړه اخستلو او ترسره کولو ته هڅولي دي، او فرمايلي دي:

[١٠٤] او اى مومنانو! ښايي د ستاسې منځ نه يوه ډله داسې څوک وي چې خلک ښــو کړنو ته را دعوت کړي او په معروف [چې هغه د الله بنده کې او د بدو کړنو او کفر نه لاس اخستل دي] خلکو ته امر وکړي او د منكر نه [چې په ګناه کې لو يدل دي] خلک منع کړي، او دغه مومنان هغه څوک دي چې د جنت په ګټلو بر يالي سوي دي.

قدرمنو عز يزانو! او بيا په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالى مومنان د پخوانيو ولســونو غوندې اختلافاتو نه کلک ګواښــلي دي، او فرمايلي دي:

[١٠٥] او اى مومنانو! تاسې [د يهودو او نصــاراوو] هغو کســانو غوندې مكيږئ چې دوى وروســته له هغې چې ورته د الله لخوا ښــكاره معجزې او دليلونه راغلل او حق يې ښه و پيژاند، نو بيا دوى ډلې ډلې سول او په خپل دين کې د يو بل ســره په اختلاف [او دښــمنۍ کې ولو يدل] نو دوى ته د قيامت په ورځ لوى عذاب تيار سوئ دئ.

{د قيامت په ورځ څوک په سپين مخ او څوک په تور مخ در يږي}

او په ور پســې مباركو آيتونو کې الله تعالى مونږ ته د محشــر ورځې انځور وړاندې کړئ دئ، ځکه په هغه ورځ مومنان الله ته په ســپينو مخونو او كافران پــه تورو مخونو ورځي، او پــه بيــان کې يې الله تعــالى فرمايلي دي:

﴿يَوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوهٌ وَتَسْوَدُّ وُجُوهٌ ۚ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ٱسْوَدَّتْ وُجُوهُهُمْ أَكَفَرْتُم بَعْدَ إِيمَٰنِكُمْ فَذُوقُوا۟ ٱلْعَذَابَ بِمَا كُنتُمْ تَكْفُرُونَ ﴿١٠٦﴾ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ ٱبْيَضَّتْ وُجُوهُهُمْ فَفِى رَحْمَةِ ٱللَّهِ ۖ هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿١٠٧﴾ تِلْكَ ءَايَٰتُ ٱللَّهِ نَتْلُوهَا عَلَيْكَ بِٱلْحَقِّ ۗ وَمَا ٱللَّهُ يُرِيدُ ظُلْمًا لِّلْعَٰلَمِينَ ﴿١٠٨﴾ وَلِلَّهِ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا

فِي ٱلۡأَرۡضِۚ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرۡجَعُ ٱلۡأُمُورُ ﴿١٠٩﴾

[١٠٦] [ای مومنانو! هغه ورځ راپه یاد کړی] کله چې په هغه ورځ د مومنانو مخونه سپینیږي او د کافرانو مخونه تور یږي [او هغه د قیامت ورځ ده چې هرچا ته خپل عملونه په مخ کې ایښودل کیږي] نو د هغو کسانو مخونه چې تور سول د دوی نه پوښتل کیږي چې آیا تاسې د ایمان راوړلو نه وروسته بیرته کافران سوی؟ نو دا دئ اوس د خپل کفر سزا وڅکئ! نعوذ بالله من ذلك.

[١٠٧] او د هغو کسانو مخونه چې سپین سول، نو دوي د الله په رحمت کې دي او جنتیان دي او هلته به پکې تل پاتې اوسیږي، یعنی د الله تعالی لو یو نعمتونو نه به پکې خوند اخلي.

[١٠٨] ای پیغمبره! او دا د الله کتاب آیتونه دي چې هغه پر تا باندې مونږ په ر یښتیا سره لولو، او الله د نړۍ ټولو خلکو نه پر هیڅ چا د ظلم او تیري قصد نه لري، یعنی د خپلو بنده ګانو کړنې د انصاف په تله تلي، نو څوک چې د جنت مستحق سول جنت ته ځي او څوک چې ګناه ګار ول او ایمان یې نوه راوړئ؛ د دوی سزا د دوزخ اور دئ.

[١٠٩] او هر هغه څه چې په اسمانونو کې دي او څه چې په ځمکه کې دي؛ هغه ټول د الله واک لاندې دي [یعنی هغه ټول الله پیدا کړي دي او الله یې چلونکي او پالونکئ لوی څښتن دئ] او بیا د ټولو چارې بیرته الله ته ورګرځول کیږي او الله هرچا ته د هغه عمل ثواب او سزا ورکوي.

{په معروف امر او د منکر نه نهیه د اسلامي امت ځانګړتیا ده}

هو؛ درندو دوستانو! د اسلام قدرمن پیغمبر محمد ﷺ امت مومنان الله تعالی یوه لوی رسالت ته غوره کړي دي، او هغه د خلکو او ټولنې اصلاح او حق ته رابلنه او دعوت، او د فساد او ناروا سره مبارزه ده، او پر دوی باندې یې غږ کړئ فرمایلي دي:

﴿كُنتُمۡ خَيۡرَ أُمَّةٍ أُخۡرِجَتۡ لِلنَّاسِ تَأۡمُرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَتَنۡهَوۡنَ عَنِ

ٱلْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ ۗ وَلَوْ ءَامَنَ أَهْلُ ٱلْكِتَٰبِ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُم ۚ مِّنْهُمُ ٱلْمُؤْمِنُونَ وَأَكْثَرُهُمُ ٱلْفَٰسِقُونَ ﴿١١٠﴾ لَن يَضُرُّوكُمْ إِلَّآ أَذًى ۖ وَإِن يُقَٰتِلُوكُمْ يُوَلُّوكُمُ ٱلْأَدْبَارَ ثُمَّ لَا يُنصَرُونَ ﴿١١١﴾ ضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ ٱلذِّلَّةُ أَيْنَ مَا ثُقِفُوٓا۟ إِلَّا بِحَبْلٍ مِّنَ ٱللَّهِ وَحَبْلٍ مِّنَ ٱلنَّاسِ وَبَآءُو بِغَضَبٍ مِّنَ ٱللَّهِ وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ ٱلْمَسْكَنَةُ ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَانُوا۟ يَكْفُرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَيَقْتُلُونَ ٱلْأَنۢبِيَآءَ بِغَيْرِ حَقٍّ ۚ ذَٰلِكَ بِمَا عَصَوا۟ وَّكَانُوا۟ يَعْتَدُونَ ﴿١١٢﴾

[١١٠] ای مومنانو! [او د اسلام لوی او ستر پیغمبر محمدﷺ امته!] تاسې هغه غوره سوئ دروند امت یاستی چې خلکو ته د ګټې رسولو لپاره راو یستل سوي او کمارل سوي یاستی، او تاسې به خلکو ته په ښو کړنو حکم کړی او د بدو کړنو نه به دوی منعې کوي، ځکه تاسې پر الله او د هغه پر پیغمبر ایمان راوړئ دئ، او که اهل کتابو (یهودو او نصارا وو) هم د ستاسې غوندې ایمان راوړئ وای او د اسلام پیغمبر یې منلئ وای، نو ورته ډیره ښه وه [یعنی د دینا او آخرت نیکمرغي به یې په برخه سوي وه] او د دوی نه ډیرو لږو کسانو ایمان راوړ او نور ډیر د الله اطاعت او فرمان وړونه ووتل، یعنی د اسلام پیغمبرﷺ او د هغه ملګرو سره یې د دښمني لار ونیوله او پر خپل کفر یې ټینګار وکه.

[١١١] او ای مومنانو! [دا د اهل کتاب فاسقان] تاسې ته د خولې لږ زَورولو نه پرته نور څه ډیر ز یان او تاوان رسولای نسي، او که دوی ستاسې سره جنګ او جګړه وکړه، نو په جګړه کې دوی ماته خوري او تاسې ته شا درګرځوي او د جګړې ډګر نه په شاسوي تښتي، او هیڅ څوک بیا د دوی سره مرسته نکړي، یعنی دوی د مختورې ماتې سره مخامخ کیږي.

[١١٢] او دغه د اهل کتاب کافران چې هر چیر ته بیاموندل سي؛ هلته د ذلت، خواری او سپکاوي سره مخامخ کیږي او د خلاصون او نجات لار یې یوازې د الله د دین پرې کلک نیول او د هغه حکمونو منل دي او بیا ورسره د خلکو مرسته ده [یعنی دا چې اهل کتاب کافرانو ته ښایې چې خپل ځانو نه تسلیم کړي او جز یه ورکړي او یا ده د خلکو نه څوک د دوی ضمانت

وکړی، کنه نو بله لار نه لري] ځکه پر دوی د الله قهر او غوصــه رانازله سوې ده، او پر دوی د بد بختۍ او د و يرې او ولړې ټاپه وهل سوې ده، او دا ځکه چې دوی د الله کتاب په آيتونو باندې کافران ســول او ايمان يې را نور، او د اللــه پيغمبران يې پــه نــاحقــه تيري ســره مړه کړل او د دوی د پيغمبرۍ نه منکر ســول او پر ضــد يې د بغاوت او ســرکښۍ لار ونيوله او ښــه کلک تيرۍ کونکي ول، يعنی د يهودو او نصاراوو کافران دغو ټولو بدو کړنو تــه خپلو تيريو او ګناه وو او د اللــه دين پر پولو ورختلو وهڅول او کلک يې ورته تشــو يق کړل.

{اهل کتاب سره بر ابر ندي مخلص مومنان هم لري}

او بيا الله تعالی دا لوی حقيقت بيان کړئ دئ چې ټول اهل کتاب سره برابر ندي، بلکې په دوی کې مخلص مومنان هم ســته، او فرمايلي دي:

﴿۞ لَيْسُواْ سَوَآءً ۗ مِّنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ أُمَّةٌ قَآئِمَةٌ يَتْلُونَ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ ءَانَآءَ ٱلَّيْلِ وَهُمْ يَسْجُدُونَ ﴿١١٣﴾ يُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ وَيَأْمُرُونَ بِٱلْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ ٱلْمُنكَرِ وَيُسَٰرِعُونَ فِى ٱلْخَيْرَٰتِ ۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿١١٤﴾ وَمَا يَفْعَلُواْ مِنْ خَيْرٍ فَلَن يُكْفَرُوهُ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌۢ بِٱلْمُتَّقِينَ ﴿١١٥﴾﴾

[١١٣] [ای مومنانو! اهل کتاب ټول] د يو بل سره برابر ندي او د دوی نه داســي ډله او خلک هم ســته چې د الله پر دين کلک ولاړ دي او د الله کتاب (قرآن مجيد) آيتونه په شپه کې چې کله دوی الله ته په سجده پراته وي لولي، يعنی هغوی کلک عــابدان دي او د شــپې لمنځونه کړي، نو نه ښايي چې ټول سره برابر وشميرل سي.

[١١٤] هو! د اهل کتاب مومنانو پر الله او د آخرت پر ورځ [چې هغه په حق او ر يښــتيا ســره را تلونکې ده] ايمان راوړئ دئ [يعنی د هغې ورځې په ر يښــتينوالي او حقانيت باندې باور لري] او دوی په ښــو کړنو خلکو ته امر کړي او د بدو کړنو نه خلک منعې کوي او دوی خپله هم ښــو کړنو ته

هڅه کړي او منډي وروهي، ځکه دوی ښــه خلک دي او د الله خوښــي غواړي، یعنی ثوابونو ته یې په طمعه دي.

[١١٥] او د دغو مومنو اهل کتابو ښې کړنې د الله نه نه پټیږي [او نه هغه الله تعالی ضائع کوي، بلکې ثوابونه یې پوره ورکوي] او الله پر متقیانو ښــه پوه دئ، یعنی دوی ټول الله ښــه پیژني او د ښــو کړنو ثواب ورکوي، یعنی جنتونو ته یې ورننه باسي.

درندو دوســتانو! الله تعالی پدې مبارکو آیتونو کې لمړئ د اهل کتابو تل پاتې بد خو یونه او کینه کښ در یځونه مومنانو پر وړاندې رسوا کړي دي، ترڅو مومنان د دوی پر وړاندې تل و یښ وي، ترڅو د دوی توطئیو په لومو کې ونښلي، او بیا الله تعالی دا حقیقت یاد کړئ دئ چې ټول اهل کتاب یوخیل ندي او د دوی نه ښــه کلک مومنان هم ســته، او هغوی په اخلاص سره ایمان راوړئ دئ او د مومنانو پلو یان دي، نو د دوی دا ښې کړنې هیڅ کله الله تعالی نه ضائع کوي او ثواب یې پوره ورکوي.

{ کافر انو ته د دوی مال دولت او کهول ګټه نه لري }

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې مونږ الله تعالی خبر کړي یو چې کافرانو ته د قیامت په ورځ د دوی مال او کهول ګټه رسولای نسي، او فرمایلي دي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَن تُغۡنِيَ عَنۡهُمۡ أَمۡوَٰلُهُمۡ وَلَآ أَوۡلَٰدُهُم مِّنَ ٱللَّهِ شَيۡـٔٗاۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ١١٦ مَثَلُ مَا يُنفِقُونَ فِي هَٰذِهِ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا كَمَثَلِ رِيحٖ فِيهَا صِرٌّ أَصَابَتۡ حَرۡثَ قَوۡمٖ ظَلَمُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ فَأَهۡلَكَتۡهُۚ وَمَا ظَلَمَهُمُ ٱللَّهُ وَلَٰكِنۡ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ ١١٧﴾

[١١٦] هو! یقینا هغه کسان چې کافران سول د دوی مال، دولت او کهول ټول د الله عذاب او سزا نه؛ هیڅ څه شئ د کافرانو نه لرې کولای نسي، او قیامت په ورځ دوی د دوزخ ملګري دي او هلته به پکې تل پاتې کړ یږي.

[١١٧] او هغه خرڅونه [یعنی مالي مصــرفونه] چې کافران په دنیا کې د خپلو ګټو لپاره کړي او ډیر مال او دولت لږوي؛ هغه ټول هغې طوفاني

بر بښـــکې تـه ورتـه دي چې ګلې پکې وي، او د داســې يوي ډلې خلکو پر کښـتونو باندې راوور يړي چې دوی پر خپلو ځانو ظلم کړئ دئ، او بيا دا طوفان هغه کښـت ټول له منځه يوسـي او د خاورو لاندې يې کړي، او په دغسـې تباهۍ سـره الله پر کافرانو ظلم او تيرئ ندئ کړئ، بلکې دوی دي چې پر خپلو ځـانونوپې ظلم کړئ دئ، يعنی دا چې دوی ايمـان رانوړ او د الله اطاعت او بنده ګۍ نه يې کلکه سرغړونه وکړه!

{مومنان الله تعالی د کافر انو ملګرتيا نه کلک ګوابلي دي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې مومنان الله تعالی د کافرانو رانزديکولو نه خپلو ځانو ته کلک ګوابـلي دي او د کافرانو د زړونو ژورو کينو نه يې چې مومنانو سـره يې لري؛ خبر کړي دي او د مومنانو نه يې غوښـتي دي چې د هغوی سره ملتيا ونکړي، او فرمايلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُواْ بِطَانَةً مِّن دُونِكُمۡ لَا يَأۡلُونَكُمۡ خَبَالٗا وَدُّواْ مَا عَنِتُّمۡ قَدۡ بَدَتِ ٱلۡبَغۡضَآءُ مِنۡ أَفۡوَٰهِهِمۡ وَمَا تُخۡفِي صُدُورُهُمۡ أَكۡبَرُۚ قَدۡ بَيَّنَّا لَكُمُ ٱلۡأٓيَٰتِۖ إِن كُنتُمۡ تَعۡقِلُونَ ١١٨ هَٰٓأَنتُمۡ أُوْلَآءِ تُحِبُّونَهُمۡ وَلَا يُحِبُّونَكُمۡ وَتُؤۡمِنُونَ بِٱلۡكِتَٰبِ كُلِّهِۦ وَإِذَا لَقُوكُمۡ قَالُوٓاْ ءَامَنَّا وَإِذَا خَلَوۡاْ عَضُّواْ عَلَيۡكُمُ ٱلۡأَنَامِلَ مِنَ ٱلۡغَيۡظِۚ قُلۡ مُوتُواْ بِغَيۡظِكُمۡۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ١١٩ إِن تَمۡسَسۡكُمۡ حَسَنَةٞ تَسُؤۡهُمۡ وَإِن تُصِبۡكُمۡ سَيِّئَةٞ يَفۡرَحُواْ بِهَاۖ وَإِن تَصۡبِرُواْ وَتَتَّقُواْ لَا يَضُرُّكُمۡ كَيۡدُهُمۡ شَيۡـًٔاۗ إِنَّ ٱللَّهَ بِمَا يَعۡمَلُونَ مُحِيطٞ ١٢٠﴾

[١١٨] ای مومنانو! پردي خلک ځانو ته مه رانزدې کوی [يعنی دوی د خپلو پټو رازونو ملګري مګرځوی] ځکه دوی تاسـې ته د ز يان رسـولو نه بسنه نکړي او د ستاسې زور يدل دوی خوښوي، او د هغوی کينه ستاسې سـره د دوی د خولو نه ښـه ښکاره سـوه، او هغه څه چې دوی په زړونو کې پټوي؛ هغه د دوی د ښکاره سـوو کينو نه غټ دي، او ای مومنانو! دا ټول

دلیلونه او ښکاره تاسي ته مونږ بیان کړل، که تاسي د خپل عقل نه کار اخلی، یعنی که تاسي هوښیاران یاستی، نو د دغو لاښودنو نه ګټه واخلی او د خپل دښمن توطئیو نه هیڅ کله بې پروا او غافل نسی!

[۱۱۹] پام کړی ای مومنانو! دا کافران خو پر تاسي باندې ګران دي [یعنی تاسي دوی ته په سترګه ګوری] خو تاسي پر دوی ګران نه یاستی! او تاسي ای مومنانو! په ټولو اسماني کتابونو باندې ایمان راوړئ دئ [خو منافقان او کافران د ستاسي سره دوه مخئ چلند کړي] او کله چې دوی د ستاسي سره یوځای سي وایي: مونږ ایمان راوړئ دئ، خو بیا چې کله د یو بل سره ځان ته سي، نو بیا ستاسي سره د ډیرې غوصې او دښمني نه خپلې ګوتې خوري، نو ته ای پیغمبره! دغو منافقانو [او یهودانو] ته ووایه چې په خپله غوصه او قهر کې مړه سی، او یقینا چې الله د زړونو په پټو رازونو او اسرارو باندې ښه پوه دئ، یعنی نو هرچا ته به د خپل عمل سزا ورکړي.

[۱۲۰] [ای مومنانو! او د دغو کافرانو او منافقانو د دښمنۍ یوه نښه ستاسي سره دا ده] چې کله تاسي ته څه ښه او خیر درورسیږی دوی پرې خفه کیږي او که څه بدي [او ز یان درته پیښ سي] نو دوی ور باندې خوښیږي، نو که تاسي ای مومنانو! پر خپلو کړاوونو صبر وکړی او هغه وزغمی او په تقوا کړو سره د الله سزا نه وو یر یږی، نو د کافرانو او منافقانو توطئې تاسي ته څه ز یان او تاوان رسولای نسي، او یقینا چې الله د کافرانو پر ټولو بدو کړنو باندې را تاو دئ، یعنی د الله علم نه هیڅ څه شئ پټ ندي، نو کافرانو ته به الله تعالی هغسې کلکه سزا ورکړي چې د دوی سره ښایي او ورته لائق ده.

قدرمنو عز یزانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې او هغو ته ورته په نورو ډیرو آیتونو کې مومنان د هغې لویې تار یخي دښمنۍ نه چې هغه د حق او باطل پلو یانو په منځ کې تل پاتې دښمني ده؛ خبر کړي او کلک یې ګواښلي دي، ترڅو د دښمن په لومو کې ونښلې، او همدارنګه الله تعالی مومنانو ته د کافرانو توطئیو او چلونو نه د ځان ساتنې لارې ښودلې دي،

او د دغسې لارښودنو نه چې پکې مونږ ته الله تعالى تار يخې حقيقتون ياد کړي او بيان کړى دي او د حق پالانو دښمنان يې راپيژندلي دي او د دوى بد او کرکجن خو يونه او نښې يې راته ښودلې او يادې کړې دي؛ د دغو ټولو نه لوى مقصد او غرض دا دئ چې هغه يوازې د رسول الله ﷺ او د هغه ملګرو زمانې او عصر پورې تړلي ندي، بلکې هغه تل پاتې دي، خو د هر عصر او د هرې زمانې سره سم خپله جامه بدلوي او ر ينښتينې ځيره او خو يونه او نښې يې؛ هيڅکله هم نه بدليږي، نو وايو چې قرآن عظيم الشان مونږ ته تل پاتې لارښود کتاب دئ، ځکه هغه د الله تعالى نه راغلئ پيغام دئ، او د الله تعالى علم پر ټولو مخلوقات باندې په هروخت او په هرځاى کې را کرد دئ، او پر دوى ټولو باندې کلکه احاطه لري او د هرچا د زړونو پټو اسرارو نه الله خبر دئ، نو بيا د ټولو خلکو سره د دوى لائق چلند کړي او د هرچا نه حساب اخلي او ثواب او سزا ورکوي!

{د بدر او احد غزاګانو قصو کې مومنانو ته ګټورې زدکړې دي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې د بدر او احد غزاګانو قصو په يادولو سره؛ مومنانو ته الله تعالى ګټورې لارښودنې کړې، او فرمايلي دي:

﴿وَإِذْ غَدَوْتَ مِنْ أَهْلِكَ تُبَوِّئُ ٱلْمُؤْمِنِينَ مَقَـٰعِدَ لِلْقِتَالِ ۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿١٢١﴾ إِذْ هَمَّت طَّآئِفَتَانِ مِنكُمْ أَن تَفْشَلَا وَٱللَّهُ وَلِيُّهُمَا ۗ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُؤْمِنُونَ ﴿١٢٢﴾ وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ ٱللَّهُ بِبَدْرٍ وَأَنتُمْ أَذِلَّةٌ ۖ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿١٢٣﴾ إِذْ تَقُولُ لِلْمُؤْمِنِينَ أَلَن يَكْفِيَكُمْ أَن يُمِدَّكُمْ رَبُّكُم بِثَلَـٰثَةِ ءَالَـٰفٍ مِّنَ ٱلْمَلَـٰٓئِكَةِ مُنزَلِينَ ﴿١٢٤﴾ بَلَىٰٓ إِن تَصْبِرُوا۟ وَتَتَّقُوا۟ وَيَأْتُوكُم مِّن فَوْرِهِمْ هَـٰذَا يُمْدِدْكُمْ رَبُّكُم بِخَمْسَةِ ءَالَـٰفٍ مِّنَ ٱلْمَلَـٰٓئِكَةِ مُسَوِّمِينَ ﴿١٢٥﴾ وَمَا جَعَلَهُ ٱللَّهُ إِلَّا بُشْرَىٰ لَكُمْ وَلِتَطْمَئِنَّ قُلُوبُكُم بِهِۦ ۚ وَمَا ٱلنَّصْرُ إِلَّا مِنْ عِندِ ٱللَّهِ ٱلْعَزِيزِ ٱلْحَكِيمِ ﴿١٢٦﴾ لِيَقْطَعَ طَرَفًا مِّنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ أَوْ يَكْبِتَهُمْ فَيَنقَلِبُوا۟ خَآئِبِينَ ﴿١٢٧﴾﴾

[۱۲۱] ای پیغمبره! او هغه وخت راپه یاد کړه، کله چې سحر وخته د جګړې په جامو کې د کوره ووتلې، ترڅو مومنان جګړې ته تیار او چمتو کړې [او د هرچا ځای او دنده دښمن سره د جګړې په ډګر کې وټاکې او هرڅوک پر خپل ځای د مشرکانو یرغلګر لښکر پر وړاندې د احد په غزا کې تیارسئ ودروې] او الله ښه اور یدونکې او ښه پوه ذات دئ، یعنی د هرچا خبرې اوري او په کړنو یې پوهیږي، نو بیا هرچا سره د هغه لائق حساب کړي او ثواب او سزا ورکوي.

[۱۲۲] ای پیغمبره! او هغه پیښه هم راپه یاد کړه، کله چې ستاسې د منځ نه دوه ډلو (بني سلمه او بني حارثه) د ماتې و یرې نه په جګړه کې وغوښتل چې دوی هم د منافقانو غوندې بیرته مدینې ته ستانه سي، خو الله چې د دوی مرستندوی دئ؛ دوی یې د تیښتې نه وساتل، نو مومنان ده پر الله توکل وکړي او ښه ډا ډه ده مخ پر احد وړاندې لاړ سي، یعنی مومنانو ته ښایي چې دوی تل د الله په مرسته کلک باور ولري او هیڅکله د دښمن ډار، و یره او هیبت دوی پسې وانخلي.

ګرانو مومنانو! د احد غزا ډیره درنده جګړه وه او دښمن په ډیر کلک تصمیم او غښتلې اراده چې په ټولو جنګي اسلحو سمبال وه او د لښکرو شمیر یې هم ښه ډیر وه؛ پر رسول الله ﷺ او مومنانو باندې یې په مدینه منوره کې د هجرت په در یم کال یرغل او بر ید وکه، ترڅو د بدر غزا ماتې غچ او انتقام واخلي، نو هغه وه چې د دواړو خواوو لښکر د احد غره په ځیرمه سره مخامخ سول او کافرانو غوښتل چې د رسول الله ﷺ او د هغه ملګرو ر یښې د مدینې منورې نه را و باسي، خو الله تعالی چې د مومنانو مل او مرستندوی وه؛ رسول الله ﷺ او د هغه مشران ملګرې یې د جګړې سرَه اور د منځ نه وروسته د ډیرو شهیدانو؛ ژوندي را وایستل، او د مشرکانو لښکرې بیرته مخ په مکه په شا سولې، پرته لدې چې خپلو شومو اهدافو او مقصدونو ته چې هغه د رسول الله ﷺ وژل او د اسلام له منځه وړل ول؛ ورسیږی، نو ځکه الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې د خپل هغه لوی رحمت او پیرزو ینې یادونه کړی ده چې هغه یې د مومنانو

په برخه کړه، او دا ځکه چې دوی په ډیر سخت حالت او لوی ناور ین کې پر الله توکل او اعتماد وکه او پر خپل دفاعي مورچل کې کلک پاتې سول او د رسول الله ﷺ په ساتنه او حمایت کې یې خپل سرونه قر بان کړل او شهیدان سول، او دا هغه لو یه زدکړه او سبق دئ چې ښایي د اسلام سرتیرئ لښکر او د دفاع اتلان هغه د خپلو ځانو لپاره تل پاتې لاربښود وګرځوي او پر پله یې لاړ سي، ترڅو حق لویې بر یا ته ورسیږي او باطل مختورن مات سي!

درندو دوستانو! او په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی د احد غزا سره پر تړاو د بدر غزا او په هغه کې پر رسول الله ﷺ او د هغه په وړې ډلګې ملګرو او صحابو باندې د خپلې مرستې او بر یا یادونه کړې ده، او په بیان کې فرمایلي دي:

[۱۲۳] ای مومنانو! یقینا چې تاسې ته الله د بدر په غزا کې بر یا او فتحه درکړه او د ستاسې دښمن مات سه، حال دا چې تاسې د لښکر د کمښت له کبله په بې وسۍ او خواری کې وی [یعنی تاسې ای مومنانو! د دښمن سره د مخامخ جګړې قصد او اراده نه درلوده] نو ای مومنانو! د الله سزا نه وو یر یږی او خپل ځانونه ورڅخه کلک وساتی، ترڅو تاسې د الله لو یو نعمتونو او پیرزو ینو شکر و یستلئ وي، یعنی تقوا او د الله حکمونو پرځای کول د بر یا او الهي مرستې اړ ین او لمړئ شرط دئ.

[۱۲٤] ای پیغمبره! او هغه وخت را په یاد کړه، کله چې تا خپلو ملګرو او یارانو ته ډاډ او اطمئنان ورکا وه او ورته و یل ده چې آیا تاسې ته بس نده چې الله د اسمان نه په را کوزو سوو درې زره فرښتو باندې؛ د ستاسې مرسته وکړي؟

[۱۲٥] [ځواب داچې] هو! دا مرسته تاسې ته بس ده، نو که تاسې ای مومنانو! صبر وکړی او دښمن سره په جګړه کې کلک ودر یږی او ورخطا نسی او د الله حکمونو پرځای کولو سره د هغه سزا نه ځانونه وساتی او تقوا ولري [نو بیا به په داسې حال کې چې د مشرکانو مشران د خپلو

جنګي لښکرو سره] ډير ګرځندي ستاسې جګړې ته راغلل، نو بيا د ستاسې رب الله په پنځه زره نښه سوو فرښتو باندې ستاسې مرسته او نصرت وکه، يعنی نو بيا کافران مات سول او مختورن مکې ته وتښتيدل!

[١٢٦] او ای مومنانو! د ملائکو راکوز يدل د ستاسې مرستې ته الله تاسې ته ز يرئ وګرځا وه، ترڅو د ستاسې زړونه پر هغوی ډاډه او مطمئن سي، خو بر يا او مرسته يوازی د الله لخوا ده، ځکه يوازې الله لوی ځواکمن او د حکمت او ښه تدبير څښتن دئ.

[١٢٧] [او ای مومنانو! په بدر کې لدې لپاره الله تعالی د ستاسې مرسته وکړه او دښمن يې درته مات او په ګوندو که چې] ترڅو د کافرانو ځينې مشرانو ر يښې په وژلو سره پرې کړي او دوی لمنځه يوسي او هغه کسان غمجن کړی چې دوی د وژلو نه نجات بياموند، نو بيابه دوی خوار سوي زوند سرونه بيرته مکې ته ستانه سي.

هو! قدرمنو عز يزانو! د بدر په غزا کې چې د يرغلګرو مشرکانو مشري د ابوجهل سره وه؛ الله تعالی د جګړې قومندان ابوجهل سره د ځينې نورو مشرانو ملګرو يې چې شمير يې او يا کسانو ته رسيده؛ ووژل سول او دښمن سرکوزئ مات سه او بيرته مکې ته مختورن ستون سه.

{خلکو ته د سزا ورکولو او ښښې واکمن يوازې الله دئ}

ګرانو دوستانو! د عبد الله بن عمر رضي الله عنه نه په متفق عليه حديث کې روايت سوئ دئ چې د احد په غزا کې پر مومنانو باندې ډيره سخته ورځ وه او د پيغمبر ﷺ مبارك مخ زخمي سه او و ينه پرې را وبهيدله او د خولې وړلانديني مبارك غاښونه يې مات سوي ولو يدل او د رسول الله ﷺ ډير مبارك صحابه پکې شهيدان سول، نو ځکه رسول ﷺ په هغه ورځ مشرکانو مشرانو ته د هلاکت ښيرې وکړې او مومنانو هم پر هغوی لعنت وو يل او بيا دا مبارك آيتونه مومنانو ته د مناسبې لارښودنې او سپارښت په مقصد را نازل سول، نو بيا رسول الله ﷺ کافرانو ته سزا ورکول الله تعالی ته وسپارل، او د دغسې لارښودنو په بيان کې الله تعالی پدې لاندې

مبارکو آیتونو کې رسول الله ﷺ ته داسې فرمایلي دي:

﴿لَيْسَ لَكَ مِنَ ٱلْأَمْرِ شَيْءٌ أَوْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ أَوْ يُعَذِّبَهُمْ فَإِنَّهُمْ ظَٰلِمُونَ ١٢٨ وَلِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلْأَرْضِ ۚ يَغْفِرُ لِمَن يَشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَن يَشَآءُ ۚ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ١٢٩﴾

[۱۲۸] ای پیغمبره! د خلکو برخلیک ټاکلو واکمني تاته نده سپارل سوي [یعنی د دوی واکمن رب الله دئ او هرچا چې تو به وایستله او ایمان یې راوړ] د هغوی تو به الله قبلوي، او څوک چې په خپل کفر کې پاتې سول؛ دوی ته الله سزا ورکوي، ځکه یقینا چې دوی ظالمان دي، یعنی دوی د الله تعالی حکمونو باندې تیرئ کړئ دئ او هغه یې پښو لاندې کړي دي.

[۱۲۹] او هغه څه چې پر ځمکه او اسمانو کې دي؛ ټول د الله واک لاندې دي، نو څوک چې الله وغواړي بښي یې او چا ته چې د الله خوښه وي سزا ورکوي، او الله لوی بښونکئ او ښه مهر بان ذات دئ.

عزتمنو دوستانو! نو یقینا چې دا قرآني لارښودنه هغه بې ساري فرمان دئ چې د خلکو معنوي او مادي حقونو ساتنې لپاره الله تعالی را نازل کړئ دئ، نو هیڅ څوک حق نه لري چې د شرعي قانون نه وتلې سزا چا ته وغواړي، او همدارنګه پدې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د رسول ﷺ او د هغه امت مومنانو پام دې ته را اړولئ دئ چې اسلام ته رابلنه په خیر غوښتنه، عفوه او په بښنه ولاړه ده، نه په غچ اخستلو او انتقام.

{سود خوړل حرام دي او سزا يې د دوزخ اور دئ}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی مومنان د سود خوړلو نه منعې کړي دي او سود خوړونکې یې د الله عذاب نه کلک ګواښلي فرمایلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَأْكُلُوا۟ ٱلرِّبَوٰٓا۟ أَضْعَٰفًا مُّضَٰعَفَةً ۖ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ١٣٠ وَٱتَّقُوا۟ ٱلنَّارَ ٱلَّتِىٓ أُعِدَّتْ لِلْكَٰفِرِينَ ١٣١ وَأَطِيعُوا۟ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ١٣٢ وَسَارِعُوٓا۟ إِلَىٰ مَغْفِرَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ

وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا ٱلسَّمَٰوَٰتُ وَٱلْأَرْضُ أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ ﴿١٣٣﴾ ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ فِي ٱلسَّرَّآءِ وَٱلضَّرَّآءِ وَٱلْكَٰظِمِينَ ٱلْغَيْظَ وَٱلْعَافِينَ عَنِ ٱلنَّاسِ ۗ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿١٣٤﴾ وَٱلَّذِينَ إِذَا فَعَلُوا۟ فَٰحِشَةً أَوْ ظَلَمُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ ذَكَرُوا۟ ٱللَّهَ فَٱسْتَغْفَرُوا۟ لِذُنُوبِهِمْ وَمَن يَغْفِرُ ٱلذُّنُوبَ إِلَّا ٱللَّهُ وَلَمْ يُصِرُّوا۟ عَلَىٰ مَا فَعَلُوا۟ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿١٣٥﴾ أُو۟لَٰٓئِكَ جَزَآؤُهُم مَّغْفِرَةٌ مِّن رَّبِّهِمْ وَجَنَّٰتٌ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا ۚ وَنِعْمَ أَجْرُ ٱلْعَٰمِلِينَ ﴿١٣٦﴾

[١٣٠] ای مومنانو! څو برابره سود مخوری او د الله سزا نه ځانونه کلک وساتئ [یعني کله چې د ستاسې قرض یا پور پر یکول د تاکل سوې نیټې او وخت نه وزنديدل، نو بیا یې کټه او سود څو برابره مه ډیروی او د الله سزا نه کلک وو یر یږی او د الله تعالی حکمونو نه په اطاعت سره خپل ځانونه د سزا نه وساتئ] ترڅو تاسې ای مومنانو! په دنیا او په آخرت کې سر لوړي، بر یالي او بښاد سی.

[١٣١] او ای مومنانو! د دوزخ اور نه چې هغه کافرانو ته تیار سوئ دئ؛ خپل ځانونه کلک وساتئ، یعنی د سود خورو سزا، لکه د کافرانو سزا د دوزخ سوزوونکئ او کړوونکئ اور دئ.

[١٣٢] او ای مومنانو! د الله او د هغه پیغمبر اطاعت وکړئ، ترڅو پر تاسې باندې د الله رحمت ووور یږي.

[١٣٣] او ای مومنانو! د خپل لوی څښتن الله بښنې او مغفرت ته په منډه ورودانګئ، او د الله هغو جنتونو ته په منډه ورسی چې پلن والئ یې د ځمکې او اسمانو پلنوالي غوندې دئ، او هغه متقیانو ته تیار سوئ دئ.

او بیا په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د متقیانو خو یونه او د پیژند نښې او بیلګې مونږ ته یادې کړې او بیان کړې دي، ترڅو یې په پله لاړ سو او اقتدا پسې وکړو، او فرمایلي دي:

[١٣٤] او ای مومنانو! متقیان [چې دوی ته الله لوی لوی جنتونه تیار کړي دي] هغه کسان دي چې په مړښت کې او په ولږه او ناداری کې مسکینانو ته خیراتونه ورکوي او د الله په لار کې لږښتونه کړی او خپلې

غوصې زغمي او د هيڅ چا نه غچ او انتقام نه اخلي او د هغو کسانو نه تيريږي او عفوه ورته کړي چې پر دوی باندې يې تيرئ کړی دئ او هغوی ښې، نو دغه محسنان چې د خلکو سره ښه کړې؛ پر الله ګران دي، يعنی نو ښايي چې مومنان متقيانو پسې لاړ سي، ترڅو د الله محبت او ګرانښت وګټي او د ښو خلکو نه وشميرل سي.

[۱۳۵] [او همدارنګه ای مومنانو! متقيان] هغه کسان دي چې کله بد کار او لو يه ګناه وکړي او پر خپلو ځانو ظلم او تيرئ وکړي، نو بيا يې الله راپه ياد سي [ځکه چې الله تعالي دوی ته د جنتونو ز يري ورکوي او د دوزخ عذاب نه يې کلک ګوابنې] نو بيا دغه ګناه ګار مومنان د خپلو ګناهوو ښنه غواړی او استغفار کړي، ځکه د الله نه پرته بل هيڅ څوک ګناه نه ښې، او متقيان پر خپلو هغو ګناه وو چې دوی پرې پوهيږي ټينګار نکړي، يعنی پر خپلو بدو ګړنو باندې کلک نه پاتې کيږي، ځکه دوی يقينا پوهيږي چې کله تو به و باسي الله يې ښي، ځکه يقين لري چې الله لوی ښونکئ ذات دئ!

[۱۳۶] او د دغو لو يو خو يونو څښتن هغه کسان دي چې ثواب يې د دوی رب لخوا ورته ښنه او هغې جنتونه دي چې پکې و يالې بهيږي او دوی تل پکې اوسيږي، نو د ښو کړنو خاوندانو ته دا ډير ښه ثواب دئ.

درندو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آيتونو کې د خپلو متقيانو بنده ګانو غوره صفتونه مونږ ته په ښه کړي او بيان کړي دي او بيا يې مونږ د دوی ثوابونو او لوړ مقام نه چې په جنت کې يې دوی ته تيار کړئ دئ؛ خبر کړي يو، ترڅو هر مومن او مسلمان بنده په هر وخت کې دوی پسې لاړ سي او ور پسې اقتدا وکړي او خپل ځان د متقيانو لوړ مقام ته په جنت کې ورسوي، ځکه زمونږ ژوند په دنيا کې د امتحان او ازمايښت لپاره موقتي ژوند دئ، او بيا وروسته بيرته الله ته ورتلونکي يو او د زمونږ تل پاتې ښاد ژوند به هلته په آخرت کې وي، نو ځکه الله تعالی په دغسې لارښودنو سره مونږ همدې نيکمرغۍ ته رابللي يو، نو هيله ده چې مونږ غافل نسو او د الله تعالی لارښودنو نه ګټه واخلو، ترڅو سپين مخي او سر لوړي د الله په حضور کې ودر يږو او د هر ډول مختورنې او شرميدلو نه نجات بياومو او د دنيا او آخرت ښادي مو په برخه سي!

{د تاريخ پاڼه د زدکړې لوی کتاب دئ}

او بيا په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالى مومنان د پخوانيو امتونو برم او تار يخ مطالعې ته را بللي دي، ترڅو ورته پند سي، او فرمايلي دى:

﴿قَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلِكُمۡ سُنَنٞ فَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَٱنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُكَذِّبِينَ ١٣٧﴾

[۱۳۷] ای مومنانو! يقينا چې د ستاسې نه پخوا تير سوو ولسونو کې د الله پر يکنده سنت او قانون تير سوئ دئ [او بيا هغه په اړوند پيښو کې چليدلئ او جاري سوئ دئ] نو تاسې ای مومنانو! لاړ سئ او په ځمکه کې وګرځئ [يعنى دا چې ترڅو پدې لو يو تار يخي پيښو کې کنډواله سوي ښارونه او کلي وګورئ او پدې پوه سئ هغو کسانو چې د الله پيغمبران دروغژن و بلل او ايمان پې رانوړ] د هغوی برخليک او راتلونکې څنګه سوه؟ يعنى ټول هلاك سول او لمنځه لاړل او کلي پې کنډواله پاتې سول.

{قرآن مومنانو ته لارښود پيغام او د عزت ز يرئ دئ}

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى مومنانو ته د احد لويې غزا د ناخوالو او د درانده مصيبت او مرګ ژو بلې تسليت ورکړئ دئ، او دوی پې د راتلونکې بر يا او فتحې نه ډاډمن کړي دي، او فرمايلي دي:

﴿هَٰذَا بَيَانٞ لِّلنَّاسِ وَهُدٗى وَمَوۡعِظَةٞ لِّلۡمُتَّقِينَ ١٣٨ وَلَا تَهِنُواْ وَلَا تَحۡزَنُواْ وَأَنتُمُ ٱلۡأَعۡلَوۡنَ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ١٣٩ إِن يَمۡسَسۡكُمۡ قَرۡحٞ فَقَدۡ مَسَّ ٱلۡقَوۡمَ قَرۡحٞ مِّثۡلُهُۥۚ وَتِلۡكَ ٱلۡأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيۡنَ ٱلنَّاسِ وَلِيَعۡلَمَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَيَتَّخِذَ مِنكُمۡ شُهَدَآءَۗ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ ٱلظَّٰلِمِينَ ١٤٠ وَلِيُمَحِّصَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَيَمۡحَقَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ١٤١ أَمۡ حَسِبۡتُمۡ أَن تَدۡخُلُواْ ٱلۡجَنَّةَ وَلَمَّا يَعۡلَمِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ جَٰهَدُواْ مِنكُمۡ وَيَعۡلَمَ ٱلصَّٰبِرِينَ ١٤٢ وَلَقَدۡ كُنتُمۡ تَمَنَّوۡنَ ٱلۡمَوۡتَ مِن قَبۡلِ أَن تَلۡقَوۡهُ فَقَدۡ رَأَيۡتُمُوهُ وَأَنتُمۡ تَنظُرُونَ ١٤٣﴾

[۱۳۸] هو! دا کتاب (قرآن) خلکو ته بیانونکئ لارښود دئ او متقیانو ته د وعظ او نصیحت ښه پیغام دئ، یعنی دا ځکه چې متقیان د الله سزا نه و یر یږي او ځانونه ورڅخه په اطاعت او بنده ګی سره کلک ساتي.

[۱۳۹] او ای په احد کې مصیبت ځپلو مومنانو! تاسې د دښمن سره په جګړه کې پیاوړي سئ او مه سستیږئ او مه غمجن کیږئ، ځکه که تاسې مومنان یاستئ، نو تل بر یالي او سر لوړي یاستئ، یعنی مومنانو ته ښایي چې د الله په لار کې کړاوونه وګالي او هیڅ کله بې وسئ او خوارئ ته په خپلو زړونو کې ځای ورنکړي او په هرحال کې ډاډه، مطمئن او راضي وي، او ورته راپیښ سوي مصیبتونه ماته ونه ګڼي.

[۱٤۰] ای مومنانو! او که تاسې ته [د احد په غزا کې] پرهارونه ورسیدل [یعنی زخمیان او مړه سوئ] نو د ستاسې دښمن هم لګیدلئ او ژو بل سوئ دئ، او دا هغه ورځې دي چې مونږ یې د خلکو په منځ کې اړوو رااړوو [یعنی کله بر یا او فتحه او کله ماته او شکست، او پدې کې د الله تعالی لوي حکمت او پټ سِر پروت دئ] ترڅو الله ر یښتیني مومنان معلوم او ښکاره کړي چې دوی څوک دي؟ [ځواب داچې دوی هغه کسان دي چې د الله په لار کې سر ورکوي او د الله تعالی د دین بر یا او لوړتیا لپاره جګړه کړي او قر بانئ ته چمتو دي؟] او ای مومنانو! د ستاسې نه الله ځینې کسان شهیدان اخلي [یعنی دوی ته د الله په لار کې د شهادت لوړ مقام ور ښني] او ظالمان او کافران پر الله ګران ندي، یعنی دا ځکه چې دوی په کافر یدلو سره پر خپلو ځانو ظلم او تیرئ وکه او د الله تعالی رحمت نه یې خپل ځانونه بې برخې کړل او د رسول اللهﷺ په څنګ کې ونه در یدل او د هغه مرسته یې ونکړه.

[۱٤۱] او ای مومنانو! [د احد غزا بر یا د دې لپاره الله په ماته بدله کړه] ترڅو هغه کسان چې ایمان یې راوړئ دئ او ځانونه مومنان بولي؛ ښه سره چې کړي [یعنی د کلک ایمان خاوندان د ضعیف ایمان خاوندانو او د منافقانو نه بیل کړي] او کافران له منځه یوسي او مختورن یې کړي.

[۱٤۲] او ای مومنانو! آیا تاسې ګمان وکه چې د جنت ښونو ته به مخکې له هغې ورننوځئ چې تر اوسه ستاسې نه الله هغه کسان لا ندي معلوم کړي او بیل کړي چې دوی د دښمن سره په جهاد کې وازمایل سول او خپل صبر او استقامت یې الله ته او بیا مومنانو ته وښود؟ یعنی دا چې جنت ته د ننوتلو شرط د الله تعالی لاړې په جهاد کې سرتیرې ته تیارئ، صبر او استقامت، او د دی لوی امتحان نه بر یالي را وتل دي.

[۱٤۳] او ای مومنانو! یقینا چې تاسې مخکې لدې چې د احد په غزا کې د دښمن سره د جګړې په ډکر کې مخامخ سئ؛ تاسې د الله په لار کې د شهادت مرګ او مړ ینې هیله درلودله، او اوس تاسې یقینا دې مقصد ته ورسیدلئ، یعنی شهیدان تاسې په داسې حال کې په سترګو ولیدل چې دوی یو بل پسې د رسول اللهﷺ نه په دفاع او ساتنه کې د شهادت لوړ مقام ته رسیږي!

قدرمنو عز یزانو! یقینا چې د احد غزا د منافقانو او مومنانو په منځ کې او د کلک ایمان او ضعیف ایمان خاوندانو په منځ کې د چې کولو او یو بل سره د بیلولو؛ ډیر غوره او لوی ازمایښت او ښه تله وه چې دا دوه ډلې یې سره بیلې کړې، لمړئ منافقان او بیا د ضعیف ایمان خاوندان د رسول الله ﷺ ملتیا نه کافرانو سره په جهاد کې بیل سول او د جګړې ډګر نه وتښتیدل، خو د الله په دین مین زلمیان او د رسول الله ﷺ سر تیري ساتونکي ترهغو د مقاومت په ډګر کې او د رسول اللهﷺ نه د دفاع په مورچلو کې کلک ودر یدل، ترڅو چې یې د الله تعالی په مرسته د مومنانو ماته په بر یا واړوله او خپل سرنو یې د الله په لار کې نذرانه کړل او د شهادت لوړ مقام یې وګاټه او حقیقي بر یا ته ورسیدل.

{که پیغمبرﷺ مړ سه نو څوک ده نه مرتد کیږي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د رسول اللهﷺ پیغمبرۍ باندې پر ټینګار سره؛ مومنان د هغه وژلو او مرګ نه وروسته؛ د ردت نه کلک ګواښلي دي، او فرمایلي دي:

﴿وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِ ٱلرُّسُلُ ۚ أَفَإِيْن مَّاتَ أَوْ قُتِلَ ٱنقَلَبْتُمْ عَلَىٰٓ أَعْقَـٰبِكُمْ ۚ وَمَن يَنقَلِبْ عَلَىٰ عَقِبَيْهِ فَلَن يَضُرَّ ٱللَّهَ شَيْـًٔا ۗ وَسَيَجْزِى ٱللَّهُ ٱلشَّـٰكِرِينَ ﴿١٤٤﴾ وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ أَن تَمُوتَ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ كِتَـٰبًا مُّؤَجَّلًا ۗ وَمَن يُرِدْ ثَوَابَ ٱلدُّنْيَا نُؤْتِهِۦ مِنْهَا وَمَن يُرِدْ ثَوَابَ ٱلْـَٔاخِرَةِ نُؤْتِهِۦ مِنْهَا ۚ وَسَنَجْزِى ٱلشَّـٰكِرِينَ ﴿١٤٥﴾﴾

[١٤٤] ای مومنانو! یقینا چې محمد یو پیغمبر دئ او د هغه نه پخوا هم ډیر پیغمبران تیر سوي دي، نو که چیرې دئ مړ سه او یا ووژل سه؛ آیا تاسې پر شا ځئ او د هغه دین نه بیرته اوړئ؟ او هر هغه څوک چې پر شا واوښت او د الله دین یې پر یښود، نو الله ته هغه څه ز یان ندئ رسولئ [بلکې خپل ځان ته یې ز یان رسولي دئ، او هرڅوک چې پر خپل دین ثابت پاتې سول او د الله تعالی د دې لوی نعمت شکر یې وایست] نو الله به دغو کسانو ته چې دوی د الله شکر و یستونکي دي؛ لوی ثواب ورکړي، یعنی جنتونو ته به دوی ورننه باسي.

ګرانو عز یزانو! د رسول الله ﷺ مبارك سیرت په بیان کې روایت سوئ دئ چې کله رسول الله ﷺ وفات سه او خپل رب الله ته یې رحلت وکه، نو عمر بن الخطاب رضي الله عنه د ډیر خفتیان نه خپله توره د تکي نه راوایستله او ګوابن یې وکه و یو یل: محمد ندئ مړ سوئ، بلکې هغه لکه موسی خپل رب سره لیدلو او ملاقات ته تللئ دئ، نو بیا ابو بکرصدیق رضي الله عنه ژر مسجد ته راغئ او د رسول الله ﷺ په منبر ولاړ یې دا مبارك آیت تلاوت که، ترڅو د ټولو صحابوو زړونه ډاډه سي او پدې لوی مصیبت کې صبر وکړي او د زغم نه کار واخلي او بې صبره ورخطا نسي.

او بیا الله تعالی په ور پسې مبارك آیت کې اعلان کړئ دئ چې د مرګ او ژوند پر یکړه او حکم د الله تعالی په واک ده او د الله حکم نه پرته؛ هیڅ څوک نه مري، او فرمایلي دي:

[١٤٥] هو! هیڅ ساه کښې نفس(ځان) د الله حکم نه پرته نه مري او

د هرچا مرګ نیټه ټاکل سوې ده، او څوک چې د دنیا ثواب غواړي؛ هغه ته مونږ د هغې نه برخه ورکوو او څوک چې د آخرت ثواب غواړي؛ هغه ته مونږ د آخرت ثواب ورکوو او شکر و یستونکو ته به ثواب ورکړو.

عزتمنو دوستانو! دا د الله تعالی لو یه پیرزو ینه ده چې د ټولو خلکو برخه روزي یې په دنیا کې ټاکلې ده او هغه ور پوره کوي، نو هرڅوک خپله برخه روزي پوره کوي او بیا مري، نو ځکه په عربي ژ به کې مرګ ته وفات و یل سوئ دئ او معنا یې د برخې پوره کیدل دي.

{د پیغمبر انو ملګري د الله په لار کې کلک جهاد کړي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی مونږ د پخوانیو پیغمبرانو پلو یانو میړانې او اتلولې نه خبر کړي یو، ځکه هغوی د خپلو پیغمبرانو په ملاتړ د الله په لار کې جهاد او مقاومت وکه، او د الله تعالی نه یې د خپلو تیروتنو بښنه او پر کافر دښمن باندې یې د بر یا مرسته وغوښتله، او په بیان کې یې الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَكَأَيِّن مِّن نَّبِيٍّ قَٰتَلَ مَعَهُۥ رِبِّيُّونَ كَثِيرٌ فَمَا وَهَنُواْ لِمَآ أَصَابَهُمْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَمَا ضَعُفُواْ وَمَا ٱسْتَكَانُواْ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلصَّٰبِرِينَ ١٤٦ وَمَا كَانَ قَوْلَهُمْ إِلَّآ أَن قَالُواْ رَبَّنَا ٱغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَإِسْرَافَنَا فِيٓ أَمْرِنَا وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا وَٱنصُرْنَا عَلَى ٱلْقَوْمِ ٱلْكَٰفِرِينَ ١٤٧ فَـَٔاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ ثَوَابَ ٱلدُّنْيَا وَحُسْنَ ثَوَابِ ٱلْءَاخِرَةِ ۗ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلْمُحْسِنِينَ ١٤٨﴾

[١٤٦] [ای مومنانو!] او ډیرو پخوانیو پیغمبرانو سره د دوی روزل سوو ملګرو د الله په لار کې جهاد وکه، او هیڅ کله دوی د الله په لار کې ورته رسیدلو ز یانونو[چې څوک شهیدان او څوک ټپیان سول] بې زړه او سست نکړل او نه دوی خپل قاطع او پر یکنده تصمیم د لاسه ورکه او نه دښمن ته تسلیم سول [یعنی خپل شهادتونه او پرهاررونه یې وګالل او کلک یې ور باندې صبر وکه او د الله تعالی لارې په جهاد کې ثابت او نښه کلک پاتې سول] او الله صابران خوښوي او پرې ګران دي، یعنی الله تعالی

د صابرانو مرسته کړي او بر یا او سرلوړي ور ښني او په جنت کې لوی لوی ثوابونه ورته ورکوي.

[۱٤۷] او د الله لارې د دغو اتلانو خبره؛ یوازې همدا وه چې دعائې کړه او و یل یې: ای د زمونږ لو یه څښتنه! د زمونږ ګناه وې را ته و ښنه او د زمونږ هغو تیروتنو نه چې هغه مونږ په خپل حق کې کړې دي تیر سه او د زمونږ پښې د دښمن سره په جګړه کې کلکې کړه او ثبات او ټینګښت راپه برخه کړه، او کافرانو سره په جګړه کې د زمونږ مرسته وکړه او بر یا راکړه او فتحه مو په برخه کړه.

[۱٤۸] نو بیا دوی ته الله د دنیا ثواب ورکه [یعنی دوی الله تعالی پر دښمن باندې په بر یا سره واکمنا ن کړل او اقتدار یې په برخه سه] او په آخرت کې دوی ته الله ښه غوره مقام ورکه، ځکه د ښو کړنو خاوندان الله خوښوي او پر الله ګران دي، یعنی نو ښایي چې ټول مومنان د دغو محسنانو غوندي پر خپل ایمان ټینګ او کلک سي، ترڅو دوی دغسې لوړ مقام ته ورسیږي، او الحمد لله د مومنانو د قر بانیو تار یخ د دغسې اتلانو نه ډک دئ او دوی د ټول امت لپاره د و یاړ بیلکې دي.

{مومنانو ته نه ښایي چې د کافر انو فرمان ومړونکي سي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالي مومنان کافرانو ته د تسلیمیدو نه کلک ګواښلي دي، او فرمایلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تُطِيعُواْ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يَرُدُّوكُمۡ عَلَىٰٓ أَعۡقَٰبِكُمۡ فَتَنقَلِبُواْ خَٰسِرِينَ ١٤٩ بَلِ ٱللَّهُ مَوۡلَىٰكُمۡۖ وَهُوَ خَيۡرُ ٱلنَّٰصِرِينَ ١٥٠ سَنُلۡقِي فِي قُلُوبِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱلرُّعۡبَ بِمَآ أَشۡرَكُواْ بِٱللَّهِ مَا لَمۡ يُنَزِّلۡ بِهِۦ سُلۡطَٰنٗاۖ وَمَأۡوَىٰهُمُ ٱلنَّارُۖ وَبِئۡسَ مَثۡوَى ٱلظَّٰلِمِينَ ١٥١﴾

[۱٤۹] ای مومنانو! که چیرې تاسې کافرانو پسې لاړ سی او د دوی فرمان یوسی؛ نو کافران تاسې بیرته په شا اړوي [یعنی تاسې بیرته کفر ته

اړوي او د حق نه چې هغه ایمان دئ تاسې منعې کوي] نو بیا تاسې بیرته تاوان ته وراوړي، یعنی ایمان د لاسه ورکوی او ز یانمن کیږی، او کافران هیڅ کله د ستاسې ملګري او دوستان نکیږي.

[١٥٠] بلکې ای مومنانو! الله د ستاسې مل او پالونکئ لوی خدای دئ او الله مو غوره مرستندوی دئ.

درندو دوستانو! نو مومنانو ته ښایي چې پر خپل رب الله تعالی باندې پر وسعه او توکل وکړي، او د کافرانو نه هیڅکله د خیر او ګټې طمعه ونکړي او څه شئ ورڅخه ونه غواړي.

[١٥١] او هغه کسان چې کافران سول؛ مونږ به د دوی په زړونو کې و یره واچوو [یعنی د مومنانو و یرې نه به د دوی زړونه ډګ کړو] ځکه دوی د الله سره په عبادت کې هغه څه شر یك او ګډ کړل چې په خدایي باندې یې الله هیڅ کم دلیل ندئ رانازل کړئ، او د کافرانو او ظالمانو ځای په آخرت کې د دوزخ اور دئ، او دوزخ چې کافران هلته ورتلونکي دي؛ ډیر بد ځای دئ، یعنی د ستونزو نه ډکه مینه او استوګنځئ دئ!

قدرمنو دوستانو! په دغو مبارکو آیتونو کې الله تعالی لمړئ مومنان کافرانو پسې د تګ نه او پر هغوی باندې د اعتماد کړو او پر وسعې نه؛ کلک منعې کړي دي او بیا یې ورته ډاډ ورکړئ دئ چې الله به د کافرانو په زړونو کې د مومنانو نه داسې کلکه و یره او ډار واچوي چې بیا به هیڅ کله دوی پر مومنانو د تیري هڅه ونکړي، او دا اطمئنان او ډاډ د دې لپاره وه چې کافران په مکه او مدینه کې د مومنانو ګاونډیان ول، نو مومنان د کافرانو دښمنې نه تل په و یره او اندیښنه کې ول، او یقینا چې دغسې ډاډ ګیرنه مومنانو ته د الله له پلوه تل پاتې اطمئنان بلل کیږي.

{د احد غزا د پایلو ځلاند انځور او ارزښتناکه زدکړې}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی مونږ ته د احد غزا د یوه ډیر رانه انځور سره یوځای د احد غزا د ترخو پایلو تل پاتې زدکړې هم وړاندې کړئ دي، او فرمایلي ده:

﴿وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ ٱللَّهُ وَعْدَهُۥٓ إِذْ تَحُسُّونَهُم بِإِذْنِهِۦ ۖ حَتَّىٰٓ إِذَا فَشِلْتُمْ وَتَنَٰزَعْتُمْ فِى ٱلْأَمْرِ وَعَصَيْتُم مِّنۢ بَعْدِ مَآ أَرَىٰكُم مَّا تُحِبُّونَ ۚ مِنكُم مَّن يُرِيدُ ٱلدُّنْيَا وَمِنكُم مَّن يُرِيدُ ٱلْءَاخِرَةَ ۚ ثُمَّ صَرَفَكُمْ عَنْهُمْ لِيَبْتَلِيَكُمْ ۖ وَلَقَدْ عَفَا عَنكُمْ ۗ وَٱللَّهُ ذُو فَضْلٍ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٥٢﴾ إِذْ تُصْعِدُونَ وَلَا تَلْوُۥنَ عَلَىٰٓ أَحَدٍ وَٱلرَّسُولُ يَدْعُوكُمْ فِىٓ أُخْرَىٰكُمْ فَأَثَٰبَكُمْ غَمًّۢا بِغَمٍّ لِّكَيْلَا تَحْزَنُوا۟ عَلَىٰ مَا فَاتَكُمْ وَلَا مَآ أَصَابَكُمْ ۗ وَٱللَّهُ خَبِيرٌۢ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿١٥٣﴾ ثُمَّ أَنزَلَ عَلَيْكُم مِّنۢ بَعْدِ ٱلْغَمِّ أَمَنَةً نُّعَاسًا يَغْشَىٰ طَآئِفَةً مِّنكُمْ ۖ وَطَآئِفَةٌ قَدْ أَهَمَّتْهُمْ أَنفُسُهُمْ يَظُنُّونَ بِٱللَّهِ غَيْرَ ٱلْحَقِّ ظَنَّ ٱلْجَٰهِلِيَّةِ ۖ يَقُولُونَ هَل لَّنَا مِنَ ٱلْأَمْرِ مِن شَىْءٍ ۗ قُلْ إِنَّ ٱلْأَمْرَ كُلَّهُۥ لِلَّهِ ۗ يُخْفُونَ فِىٓ أَنفُسِهِم مَّا لَا يُبْدُونَ لَكَ ۖ يَقُولُونَ لَوْ كَانَ لَنَا مِنَ ٱلْأَمْرِ شَىْءٌ مَّا قُتِلْنَا هَٰهُنَا ۗ قُل لَّوْ كُنتُمْ فِى بُيُوتِكُمْ لَبَرَزَ ٱلَّذِينَ كُتِبَ عَلَيْهِمُ ٱلْقَتْلُ إِلَىٰ مَضَاجِعِهِمْ ۖ وَلِيَبْتَلِىَ ٱللَّهُ مَا فِى صُدُورِكُمْ وَلِيُمَحِّصَ مَا فِى قُلُوبِكُمْ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ﴿١٥٤﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ تَوَلَّوْا۟ مِنكُمْ يَوْمَ ٱلْتَقَى ٱلْجَمْعَانِ إِنَّمَا ٱسْتَزَلَّهُمُ ٱلشَّيْطَٰنُ بِبَعْضِ مَا كَسَبُوا۟ ۖ وَلَقَدْ عَفَا ٱللَّهُ عَنْهُمْ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ حَلِيمٌ ﴿١٥٥﴾﴾

[۱۵۲] هو! ای مومنانو! یقینا چې الله د خپلې مرستې او نصرت وعده ستاسې سره ر ښتیا کړه او هغه کله چې کافران تاسې د الله په حکم او مرسته د احد په غزا کې ووژل، او بیا دوی درځخه په تیښته په شا سول، خو بیا وروسته لدې هغه څه چې د ستاسې خوښیدل او هغه د دښمن ماته وه؛ هغه هم الله دروښودل، نو بیا تاسې د خپل مشر حکم نه سرغړونه وکړه او یو بل سره په اختلاف کې ولو یدلی، ځکه د ستاسې نه ځینو کسانو دنیا غوښتله او د غنیمتونو په ټولولو کې ول، اوځینو نورو د آخرت ثواب غوښته، نو په خپلو مورچلو کې کلک پاتې سول، ترڅو چې

دښمن پر تاسې بر يد وکه، نو بيا تاسې ای مومنانو! ماته وخوړه او په زړونو کې مو و يره ولو يده، او بيا تاسې الله د يرغلګرو کافرانو سره د جګړې نه واړولې، ترڅو تاسې وازمايي او د کلک ايمان خاوندان د سست او ضعيفه ايمان کسانو نه بيل کړي، خو يقينا چې بيا الله تاسې ته ای مومنانو! عفوه وکړه او د ستاسې ګناه نه تير سه [يعنی تاسې يې و ښلی] ځکه الله پر مومنان د لو يو پيرز ينو ښه پالونکئ ځښتن دئ!

[١٥٣] ای د پيغمبر ملګرو! او هغه وخت راپه ياد کړی، کله چې د احد غره جګړې نه تاسې په تيښته کې وی او شاته مو هيڅ چاپسې نه کتل او پيغمبر په خپل مورچل يا سنګر کې کلک ولاړ وه او پر تاسې يې غږ وکه او ځان خوا ته يې راو بللی، خو تاسې د هغه غږ نه اور يده او نه تاسې ورکتل، نو بيا تاسې ته الله يوه مصيبت او و ير پسې د بل مصيبت او و ير سزا درکړه، ترڅو تاسې په هغه څه پسې چې هغه د ستاسې د لاسه ووتل غمجن نسئ [يعنی دا چې بر يا مو په ماته بدله سوه او لوی مصيبت او کلکه و يره او و ير درته پيښ سه] ځکه الله د ستاسې پر ټولو کړنو باندې خبر دئ او هيڅ څه شئ د الله نه پټ ندي، يعنی الله تعالی ته د ستاسې ټول حال ښه ښکاره دئ.

ګرانو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آيتونو کې د احد غزا قصه مومنانو ته کړی ده او هغه حالت يې بيان کړی او انځور کړئ دئ چې رسول اللهﷺ او ملګري او ياران يې ورسره مخامخ سول، او د دوی بر يا پر کافرانو باندې په ماته واوښتله، او د دغسې لوی و ير او غميزې دوه غټ عوامل دا ول چې ځينې کسان د رسول اللهﷺ لښکر نه د غنيمتونو لاس ته راوړلو حرص پسې واخستل او د پيغمبرﷺ سپارښت او د آخرت ورځې ثواب يې هير سه، نو د احد په ځيرمه د غچو و يشتونکو غونډه کی پر سر يې خپل مورچل پر ښود او د غنيمت ټولولو او ولکې پسې را کوز سول، او بل دا چې د دغې تيروتنې پر سر د دوی په منځ کې اختلاف پيښ سه او د خپل مشر قومندان (عبدالله بن جبيررضی الله عنه) خبره يې ونه منله او د هغه فرمان وړونه يې سرکښي وکړه، نو ځکه الله تعالی دوی د دې لوی

ازمایښت سره مخامخ کړل او د جګړې لمړۍ بر یا یې په ماته بدله سوه، او د رسول اللهﷺ د یارانو لښکر داسې لویې و یرې پسې واخست چې هیڅ چا شا ته نه کتل او ډیر په منډه په تیښته ول، خو بیا هم الله تعالی چې پر خپل پیغمبرﷺ او پر مومنانو یې لو یه پیرزو ینه او پام وه؛ دوی یې ژر و بښل، او دښمن یې د الله تعالی غیبي پر یکړې سره د جګړې ډکر نور په تیښته پر یښود او بیرته مکې خوا ته په شا سه، او یقینا چې دا د الله تعالی د نصرت لو یه نښه وه چې مومنانو ته یې وښودله.

[۱۵٤] نو بیا ای مومنانو! پر تاسې باندې الله د غمونو او د لوی خفتیان نه وروسته چې د اُحد په غزا کې درته پیښ سول؛ ډاډ او اطمئنان راپرې ایست او د دښمن و یرې نه په ډاډ کې سوی او د خوب پر یښاني پر تاسې باندې راغله او دغې پر یښانۍ د ستاسې یوه ډله په ډاډ پټه کړه [او د دغې ډلې نه مقصد هغه مخلص مومنان ول چې د رسول اللهﷺ نه یې ساتنه کړه، او د رسول الله نه دفاع او حمایت د دوی په زړونو کې ر یښې غزولې وې] خو د دوی هغې بلې ډلې سره یوازې د خپلو ځانو غم وه چې څنګه نجات ورکړي، ځکه دوي پر الله باندې د جاهلیت وخت غوندې بد ګمانه ول، او رسول اللهﷺ ته به یې و یل: آیا د زمونږ لپاره او د زمونږ په لاس کی څه شئ سته؟ [پدې معنا چې مونږ په دغه غزا کې هیڅ لاسته راوړنه نه درلودله، او د رسول الله ﷺ او د اسلام په بر یا کې شکمن ول، نو ځکه الله تعالی رسول اللهﷺ ته په خطاب کې وفرمایل:] ای پیغمبره! دغو شکمنو کسانو ته ووایه: هو! یقینا چې ټول حکم او واک د الله په لاس کې دئ [یعنی د هرڅه پر یکړې او فیصلی الله کړي، او هغه څه چې د اُحد په غزا کې راپیښ سول؛ هغه ټول د الله په تقدیري حکم تر سره سول] او ای پیغمبره! دغه ډله شکمن کسان هغه څه چې د دوی په زړونو کې دي؛ هغه د ستا نه پټوي او تاته یې نه ښکاره کوي [یعنی هغه د دوی پښیماني ستاسې سره په ملګرتیا کې او دغې غزا ته د دوی راوتل دي، ځکه دوی پر خپل دې کار باندې کلک پښیمانه دي] او وایي: که د زمونږ په لاس کې خوښه او اختیار وای، نو مونږ به دلته په اُحد کې نه وو وژل سوي، نو

ته ای پیغمبره! دوی ته ووایه: که تاسې په خپلو کورونو کې ناست پاتې وای، نو چا ته چې مرګ او مړ ینه لیکل سوي وه؛ هغه به خاماخا د خپل مرګ او مړ ینې ځای ته راوتلي وه او هلته به بیا مړ سوی وه، ځکه د مرګ او ژوند پر یکړه او فیصله د الله په لاس کې ده، او پدې پیښه باندې په اُحد کې الله د ستاسې په زړونو کې چې څه ول؛ هغه یې چې کړل او د پاکو زړونو خاندوان یې د ناپاکه زړونو خاوندانو نه بیل کړل، او الله پر زړونو باندې چې په سینو کې دي؛ ښه پوه دئ، یعنی د الله نه هیڅ څه شئ پټ ندي، نو الله تعالي د هرچا سره د هغه لائق چلند کړي.

[۱۵۵] او ای مومنانو! یقینا هغه کسان چې د ستاسې نه د اُحد په غزا کې د دوه ډلو (مومنانو او مشرکانو) نه یو بل سره د مخامخ کیدو په وخت کې د جګړې نه وتښتیدل؛ دوي د خپلو ځینو ګناه وو له کبله شیطان وغلول، خو یقینا چې بیا دوی ته الله عفوه وکړه او و ښښل، ځکه الله په یقین سره ښه بښونکې او ډیر حلیم او د لویې حوصیلې څښتن دئ، یعنی ګناه ګار بنده ته ژر سزا نه ورکوي او پر یږدي یې چې ترڅو تو به و باسي او خپل رب الله ته وروګرځي.

{مومنانو ته نه ښایي چې کافرانو پسې لاړ سي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې مومنان الله تعالی د کافرانو په پله تک او د هغوی تقلید او پیښو نه؛ کلک ګواښلي دي، او فرمایلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَقَالُواْ لِإِخۡوَٰنِهِمۡ إِذَا ضَرَبُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ أَوۡ كَانُواْ غُزّٗى لَّوۡ كَانُواْ عِندَنَا مَا مَاتُواْ وَمَا قُتِلُواْ لِيَجۡعَلَ ٱللَّهُ ذَٰلِكَ حَسۡرَةٗ فِي قُلُوبِهِمۡۗ وَٱللَّهُ يُحۡيِۦ وَيُمِيتُۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ١٥٦ وَلَئِن قُتِلۡتُمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ أَوۡ مُتُّمۡ لَمَغۡفِرَةٞ مِّنَ ٱللَّهِ وَرَحۡمَةٌ خَيۡرٞ مِّمَّا يَجۡمَعُونَ ١٥٧ وَلَئِن مُّتُّمۡ أَوۡ قُتِلۡتُمۡ لَإِلَى ٱللَّهِ تُحۡشَرُونَ ١٥٨﴾

[۱۵۶] ای مومنانو! تاسې چې پر[الله او پیغمبر] باندې مو ایمان راوړئ دئ [یعنی د اسلام په هدایاتو او لارښودنو ښه پوهیږئ او عمل پرې

کړی، نو تاسې] د هغو کافرانو غوندې مه کیږئ چې دوی خپلو هغو پردیسیو مسافرو ورونو په باره کې چې مزدورۍ پسې او یا په کمه غزا کې جهاد ته د کورونو نه وتلي ول [او بیا هلته مړه او یا شهیدان سول، نو بیا دغو کافرانو دوی پسې] وو یل: که هغوی زمونږ سره وای [یعنی د کورونو نه] نه وای وتلي، نو نه به مړه کیدل او نه به وژل کیدل، ترڅو په دغسې خبرو سره د هغوی زړونه مات کړي او لاړیر یې وزوروي او غمجن یې کړي، حال دا چې مرګ او ژوند د الله په واک کې دئ، او الله چې چا ته ژوند وغواړي ژوندئ کوي یې او څوک چې وغواړي وژني یې، او ای مومنانو! الله د ستاسې په کړنو ښه بینا دئ، یعنی هغه و یې، نو بیا هرچا ته د هغه د ښو کړنو ثواب او د بدو کړنو سزا ورکوي، ځکه الله تعالی عادل ذات دئ.

[۱۵۷] او ای مومنانو! که چیرې تاسې! د الله په لار کې په جهاد کې ووژل سوئ او یا په خپل اجل مړه سوئ، نو الله تاسې بښي او خپل رحمت پر تاسې ووروي او د الله دا پیرزو یې پر تاسې باندې د هغه مال او دولت نه چې څوک هغه په دنیا کې راټولوي؛ غوره او ښه ده.

[۱۵۸] او ای مومنانو! که چیرې تاسې په خپلو کورونو کې مړه سوئ او یا د جګړې په ډکر کې ووژل سوئ؛ د ستاسې ټولو ورتګ؛ یوازې الله ته دئ، یعنی د قیامت په ورځ الله تعالی د هرچا نه حساب اخلي او بیا ورته د هغه ښه او بد عمل ثواب او سزا ورکوي، نو ښایي د کافرانو خبرې تاسې غمجن نکړي او زړونه مو مات نکړي.

ګرانو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې د خلکو هغه بشري نیمګړې عقلي انګیرنې ردې کړې دي چې دوی د احد غزا شهیدانو په باره کې وو یل: که دوی په کورونو کې ناست وای، نو نه به وه مړه سوي ! خو حقیقت او ر یښتیا دا ده چې د مرګ او ژوند پر یکړه د الله په واک کې ده، او کله چې د چا اجل پوره سي، نو بیا چې دئ هر چیر ته وي هلته مري او یا وژل کیږي او هیڅ څوک د هغه مرګ مخه نیولای نسي.

{ولسونو سره ښه چلند او مشوره پر واکمنانو فرض ده }

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی خپل کران پیغمبرﷺ ته د مومنانو سره په ښه چلند او په چارو کې ورسره په مشوره کلک سپارښت کړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ ٱللَّهِ لِنتَ لَهُمْ ۖ وَلَوْ كُنتَ فَظًّا غَلِيظَ ٱلْقَلْبِ لَٱنفَضُّوا۟ مِنْ حَوْلِكَ ۖ فَٱعْفُ عَنْهُمْ وَٱسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِى ٱلْأَمْرِ ۖ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُتَوَكِّلِينَ ﴿١٥٩﴾ إِن يَنصُرْكُمُ ٱللَّهُ فَلَا غَالِبَ لَكُمْ ۖ وَإِن يَخْذُلْكُمْ فَمَن ذَا ٱلَّذِى يَنصُرُكُم مِّنۢ بَعْدِهِۦ ۗ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُؤْمِنُونَ ﴿١٦٠﴾﴾

[۱۵۹] ای پیغمبره! نو ته د الله په رحمت او مهر بانۍ سره خپلو ملګرو ته پوست سوې [یعنی په خوږه ژ به د دوی سره خبري کړې، که څه هم ځینې صحابوو د احد په غزا کې د پیغمبر حکم په خپله خوښه تفسیر که او بیا د مرګ و یرې پسې واخستل او د جګړې ډکر نه په تیښته په شا سول] او که ته ای پیغمبره! تر یخ وای او زړه ده کلک وای، نو ملګري به د ستا څنګ او پلو نه لري سوي ول، نو ته د دوی تیروتنو نه ورتیر سه او دوی ته د الله نه بښنه وغواړه او په اړوندو چارو کې ورسره مشوره وکړه، نو بیا چې کله تا د مشوري نه وروسته تصمیم ونیوه او فیصله او پر یکړه ده وکړه، نو بیا پر الله باندې توکل وکړه، ځکه هغه کسان چې خپل ځانو نه پر الله سپاري؛ دوی پر الله کران دي او الله د دوی مرسته کړي.

او بیا په ور پسې مبارك آیت کې د همدي اُحد غزا غمیزې لوبې پیښې په اړوند مومنان الله تعالی باندې توکل ته رابلل سوي دي، او پر دوی غږ سوئ دئ، او الله تعالی فرمایلي دي:

[۱٦۰] ای مومنانو! او که الله د ستاسې مرسته او نصرت وکړي، نو بیا بل هیڅ څوک پر تاسې زورور کیدای نسي، خو که تاسې الله یوازي

څان ته پر يږدي [يعنی مرسته مو ونکړي] نو بيا به د الله نه وروسته بل څوک ستاسې سره مرسته وکړي؟ [يعنی د الله نه پرته بل هيڅ څوک ستاسې مرستندوی ندئ] نو مومنانو ته ښايي يوازې پر الله باندې توکل او اعتماد وکړی، يعنی د الله اسماني لارښودنو او د ژوند په چارو کې د الله تعالی سنتو او منل سوي نظام او قانون سره سم خپلې چارې په مخ يوسي او ښې يې سمبال کړي، او د هغسې کړنو نه کلکه ډ ډه وکړې چې هغه د الله نظام او د خلکو عرف او دود خلاف وي.

درندو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آيتونو کې د اسلام ستر پيغمبرﷺ ښه چلند د خپلو ملګرو سره د احد په لو يه غزا کې او د امت راتلونکې ټاکنې تار يخي پيښو کې؛ ستايلئ دئ او هغه يې پر رسول اللهﷺ باندې د الله فضل او رحمت بللئ دئ چې پر خپل ګران استازي يې ﷺ پيرزو کړئ دئ، او يقينا چې د رسول اللهﷺ دغسې در يځ او غوره چلند د پيغمبر وارثانو او اسلام ته ټولو رابلونکو دعاتو لپاره؛ ښه غوره لارښود پيغام دئ، نو ښايي چې د مسلمانانو ټول مشران د رسول الله ﷺ په سنتو باندې عمل وکړی او د امت ژوندانه په عامو او لو يو چارو کې دوی پيغمبرﷺ خپل امام او لوی لارښود مشر وګرځوي او د امت سره د مشورو نه پرته؛ هيڅ کله تصميم ونه نيسي او د ولس ټولې لويې چارې د هوښيارانو او پوهانو سره په ګډو مشورو او جرګو سمبال کړي او ښې يې و پالي، ترڅو د ژوند چارې ښې په مخ لاړې سي او د پايلو مسئوليت يې يوازې د واکمنانو پر غاړه نه وي.

{پيغمبران خپلو ولسونو سره دوکه او خيانت نکړي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی د احد په غزا کې مومنانو ته ډاډ ورکړئ دئ چې د الله استازي پيغمبران؛ هيڅ کله خپل امت سره خيانت او دوکه نکړي، او فرمايلي دي:

﴿وَمَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَن يَغُلَّ ۚ وَمَن يَغْلُلْ يَأْتِ بِمَا غَلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۚ ثُمَّ تُوَفَّىٰ كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿١٦١﴾ أَفَمَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَ اللَّهِ كَمَن بَاءَ بِسَخَطٍ

مِّنَ ٱللَّهِ وَمَأۡوَىٰهُ جَهَنَّمُۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمَصِيرُ ١٦٢ هُمۡ دَرَجَٰتٌ عِندَ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ بَصِيرُۢ بِمَا يَعۡمَلُونَ ١٦٣

[١٦١] [ای مومنانو! ډاډه او مطمئن اوسئ] چې پیغمبر هیڅکله د خپل امت او خپلو ملګرو سره په غنیمت کې خیانت نکړي [یعنی د ځان لپاره د خپلې برخې نه پرته نور هیڅ څه شئ نه اخلي] او هرڅوک چې په غنیمت کې خیانت وکړي او څه شئ ورڅخه پټ کړي، نو د قیامت په ورځ به هغه غلا سوئ توکئ راوړي [ترڅو غل د ټولو خلکو په مخ کې رسوا سي] او د قیامت په ورځ هرچاته د خپل عمل او د ښو او بدو کړنو ثواب او سزا ورکول کیږي، او پر هیڅ چا باندې ظلم نه کیږي او نه د چا حق د پښو لاندې کیږي.

قدرمنو دوستانو! د الله تعالی د دې ډاډ او اطمئنان نه مقصد دا دئ چې ښایي مومنان هیڅ کله نه د الله پر پیغمبرانو او نه پر خپلو مومنو مشرانو باندې بې باوره سي او خپل اعتماد د لاسه ورکړي، ځکه هغوی هیڅ کله خپلو امتونو او ولسونو سره خیانت نکړي، نو د رسول الله ﷺ ملګرو برخه په غنیمت کې په ضمانت سره ساتل سوې وه او د هیڅ چا حق نه ضائع کیده، نو د احد غونډۍ پر سر غشو و یشتونکو مجاهدینو ته نه ښاییدل چې خپل مورچل پر یږدي او غنیمتونو پسې را کوز سي.

هو! او همدارنګه الله تعالی پدې قرآني پیغام کې د مسلمانانو ټولو مشرانو ته سپارښت کړئ دئ چې دوی ده خپلو ولسونو سره په امانتونو کې خیانت نکړي، ځکه ولسونو پر دوی کلک اعتماد کړئ دئ، او مشران د کشرانو حقوقو او د عامو شتمنیو ساتندوی دي، نه لکه اوسنئ عصر چې د ځینو ډیرو اسلامي ټولنو مشران د ولسونو شتمنیو ته د غنیمت په سترګه ګوري او لوی فساد پکې خور دئ او د ملت شتمني یې ځانو ته غنیمت ګڼي دي!

او په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی مومنان او کافران سره بیل کړي دي او کافرانو ته یې کلک ګواښ کړئ دئ، او فرمایلي دي:

[۱٦۲] [ای مومنانو! آیا هغه دوه کسان سره برابر دي؟] چې یوه یې د الله رضاء خوښه کړه او ور پسې لاړه او بل یې د الله قهر او غوصه پر غاړه واخسته او په ګناه کې ډوب سه، او د هغه استوګنځئ دوزخ دئ او دوزخ د ورستنیدو ډیر بد ځای دئ! [ځواب دا چې: نا! دا دواړه (مومن او کافر، عابد او ګناه ګار) هیڅ کله سره برابر ندي! او د هر یوه راتلونکې د قیامت په ورځ روښانه ده؛ صالحان او مومنان به جنت ته ځي او د کافرانو او ګناه ګارانو ځای دوزخ دئ، یعنی دا ځکه چې دوی د الله حکم او فرمان نه سرغړونه کړې ده.

[۱٦۳] [او هغو کسانو ته چې الله لوړ مقام ورکړئ دئ] دوی هم د الله پر وړاندې د یو بل سره برابر ندي، د چا رتبه ډیره لوړه ده او د چا ټیټه ده او دوی چې څه کړي؛ الله پر دوی ښه بینا دئ او هرڅه و یې، یعنی دا چې بیا الله هرچا ته د خپل عمل ثواب او سزا ورکوي، او هرڅه د الهي عدالت په تله تلي! او دا مبارك آیت همدارنګه د خلکو په منځ کې عدالت چلولو ته کلک دعوت دئ.

{محمدﷺ الله خپلې پیرزو یې سره مومنانو ته پیغمبر راولیږه}

او په ور پسې مبارك آیت کې مونږ ته الله تعالی د اسلام پیغمبرﷺ رسالت او دنده د قرآن په زدکړه کې خپل امت ته، او د دوی روزنه په قرآن او سنتو باندې یاده کړې او بیان کړې ده، او فرمایلي دي:

﴿لَقَدۡ مَنَّ ٱللَّهُ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ إِذۡ بَعَثَ فِيهِمۡ رَسُولٗا مِّنۡ أَنفُسِهِمۡ يَتۡلُواْ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتِهِۦ وَيُزَكِّيهِمۡ وَيُعَلِّمُهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَإِن كَانُواْ مِن قَبۡلُ لَفِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٍ ١٦٤﴾

[۱٦٤] هو! یقینا چې الله پر مومنانو باندې ډیر لوی احسان وکه چې دوی ته یې د دوی د منځ نه پیغمبر راولیږه او دا پیغمبر(محمد ﷺ) مومنانو ته د الله کتاب (قرآن) آیتونه لولي او هغه ورزدکوي، او بیا دوی ور باندې ښه روزي او د الله کتاب، د پیغمبر سنت او حکمت ورزدکوي

[یعنی عملي لارښودنه ورته کړي] که څه هم دوی د پیغمبر راتګ نه وړاندې په ښکاره ورکتیا کې ول، یعنی سمه لار یې ورکه کړې وه او د کفر او شرک په تورو تیارو کې یې شپې صبا کولې، نو ښایي چې مومنان د الله تعالی د دې لوی نعمت شکر و باسي او د الله په دین باندې کلک سي او هغه د خپل ژوند په ټولو چارو کې لارښود دستور وګرځوي او د قرآن سپارښتنې په خپل ژوند کې عملي کړي!

عزتمنو خو یندو او وروڼو! الله تعالی پدې مبارک آیت کې اسلام ته رابلونکو پوهانو او دعاتو ته د دوی رسالت او تګ لاره په نښه کړې او ښودلې ده، او هغه دا چې ښایي دوی قرآن خلکو ته ولولي او ښه یې ورزده کړي، او بیا دوی ور باندې هغسې وروزي، لکه څنګه چې رسول الله ﷺ خپل یاران او درانده صحابه پر قرآني لارښودنو وروزل، ترڅو سرلوړئ امت جوړ سي.

{د احد غزا مومنان او منافقان سره بیل کړل او ښه زدکړه وه}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې د احد غزا لوی و یر او مصیبت تسلیت او ډاډ الله تعالی مومنانو ته ورکړئ دئ، خو ملامتې یې د دوی پر خپله غاړه اچولې ده، ځکه د احد غونډۍ پر سر ډیرو ساتونکو او سرتیرو مجاهدینو د خپل مشر قومندان حکم نه سرغړونه وکړه او مورچل یې د رسول الله ﷺ او د خپل ټولې مشر سپارښت پر خلاف پر ښود او غنیمتونو پسې راکوز سول، او منافقان هم پدې غزا کې ښه ښکاره و پیژندل سول، او په بیان کې یې الله تعالی فرمایلي دي:

﴿أَوَلَمَّآ أَصَٰبَتۡكُم مُّصِيبَةٞ قَدۡ أَصَبۡتُم مِّثۡلَيۡهَا قُلۡتُمۡ أَنَّىٰ هَٰذَاۖ قُلۡ هُوَ مِنۡ عِندِ أَنفُسِكُمۡۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ١٦٥ وَمَآ أَصَٰبَكُمۡ يَوۡمَ ٱلۡتَقَى ٱلۡجَمۡعَانِ فَبِإِذۡنِ ٱللَّهِ وَلِيَعۡلَمَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ١٦٦ وَلِيَعۡلَمَ ٱلَّذِينَ نَافَقُواْۚ وَقِيلَ لَهُمۡ تَعَالَوۡاْ قَٰتِلُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ أَوِ ٱدۡفَعُواْۖ قَالُواْ لَوۡ نَعۡلَمُ قِتَالٗا لَّٱتَّبَعۡنَٰكُمۡۗ هُمۡ

لِلۡكُفۡرِ يَوۡمَئِذٍ أَقۡرَبُ مِنۡهُمۡ لِلۡإِيمَٰنِۚ يَقُولُونَ بِأَفۡوَٰهِهِم مَّا لَيۡسَ فِي قُلُوبِهِمۡۚ وَٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِمَا يَكۡتُمُونَ ١٦٧ ٱلَّذِينَ قَالُواْ لِإِخۡوَٰنِهِمۡ وَقَعَدُواْ لَوۡ أَطَاعُونَا مَا قُتِلُواْۗ قُلۡ فَٱدۡرَءُواْ عَنۡ أَنفُسِكُمُ ٱلۡمَوۡتَ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ١٦٨

[١٦٥] ای مومنانو! او کله چې د احد په غزا کې تاسې ته مصیبت او د مشرکانو په لاس مرګ ژو بله ورسیدله، نو تاسې هم دوی ته د احد نه پخوا د بدر په غزا کې ستاسې دوه برابره ز یان او کلک تاوان اړولئ وه [یعنی د هغوی نه تاسې او یا کسان چې پکې د ابوجهل غوندي مشران ول؛ ووژل او نور او یا کسان تاسې د دوی نه ژوندي برمته کړل، او همدارنګه تاسې ای مومنانو! د احد په غزا کې د جګړې په لمړ یو شیبو کې ګڼ شمیر مشرکان مړه کړل او د دوي د بیرغ ټول سر تیري لمنځه لاړل او بیرغ یې پر ځمکه را ولو یده او لښکر یې په شا واوښت او مخ په تیښته سول، خو د دي سره سره تاسې ای مومنانو! په حیرانتیا سره] وو یل چې ولې مونږ ته دا لوي و یر او مصیبت را پیښ سه [یعنی مونږ ډیر شهیدان ورکړل، حال دا چې مونږ خو مومنا ن یو او د حق نه دفاع کړو؟] نو ته ای پیغمبره! دغو مومنانو ته په ځواب کې ووایه: [دا ټول مصیبت چې تاسې ته ورسیده او لوی و یر پسې واخستی] هغه د ستاسې خپلو ځانو لخوا وه [ځکه د غشو و یشتونکو ډلګی د پیغمبر ﷺ امر نه مخالفت وکه او د خپل مورچل نه د احد غنډکی سر نه را کوز سول او د غنیمت ولکې پر را ټولو لګیا سول] او یقیناچې الله په هرڅه قادر لوی ذات دئ، یعنی هرڅه چې الله وغواړي هغسې کړي او هیڅ څوک الله نه د پوښتنې واک او حق نه لري.

[١٦٦] او ای مومنانو! هغه مصیبت او مرګ ژو بله چې تاسې ته د احد غزا په ورځ د دوه ډلو (مسلمانانو او مشرکانو) جنګیالیو یو بل سره د مخامخ کیدو پر وخت ورسیدله؛ هغه د الله په علم کې تقدیري پر یکړه وه، او الله پدې ازمایښت سره د کلک ایمان څښتن د ضعیف او کاواکه ایمان خاوندانو نه بیل او سره معلوم کړل!

[١٦٧] او [د احد غزا د دې لوی و یر پیښدلو بل مقصد دا وه چې] ترڅو

الله هغه کسان معلوم او په نښه کړي چې منافقان ول، حال دا چې دوی ته وو یل سول چې راځئ د الله په لار کې جګړه وکړئ او یا د زمونږ شا ته ودر یږئ او دفاع وکړئ، خو دغو منافقانو [چې مشر یې عبد الله بن ابئ بن سلول وه؛ مومنانو ته په ځواب کې] وو یل: که مونږ پوه وای چې جنګ او جګړه ده، او د دښمن مخې ته د ستاسې دغسې وردانګلو ته جنګ و یل کیږي؟ نو بیا به مونږ تاسې پسې درغلي وو [خو مونږ د ستاسې دا کار ځان وژنه او تباه کول ګڼو!] نو د منافقانو ځواب دا دئ: نا ! ر یښتیا هغسې نه ده، لکه څنګه چې منافقان وایي؛ دوی په هغه ورځ د ایمان نه کفر ته ورلنډ ول، او دوی په خولو هغه څه وایي چې په زړو کې یې ندي [یعني د خولې او زړه خبره یې سره یوه نده؛ دوی دروغژن دي او څه چې په خوله وایي؛ هغه خوسې بې ځایه پلمه ده] او هغه څه چې دوی په زړو کې پټوي؛ الله ور باندې ښه پوه دئ!

[١٦٨] هو! منافقان هغه کسان ول [چې د بر ید کونکي یرغلګر دښمن سره د جګړې نه په شا سول او په خپلو کورونو کې کیناستیدل، او بیا یې خپلو هغو وروڼو ته چې د احد په غزا کې لږ یدلي او وژل سوي ول] وو یل: که دوی د زمونږ خبره منلې وای؛ نو نه به وژل کیدل، نو ته ای پیغمبره! دغو منافقانو ته په ځواب کې ووایه: که تاسې په خپلو خبرو کې صادق یاستئ او ر یښتیا وایي، نو د خپلو ځانو نه مرګ او مړ ینه لرې کړئ! یعنی خبره هیڅکله هغسې نده، لکه څنګه چې منافقان خیال او ګمان کړي، ځکه د مرګ او ژوند پر یکړه د الله تعالی په لاس کې ده، او الله تعالی د هرچا لپاره د هغه مرګ نیټه او اجل ټاکلئ دئ، نو کله چې د چا اجل راسي، نو بیا هغه وړاندې او وروسته نکیږي، هو! مرګ یو دئ، خو اسباب او عاملونه یې ډیر دي، څوک د دښمن سره په جګړه کې وژل کیږي، او څوک خپل کور کې په خپل اجل چې کله یې نیټه پوره سي مري، او هیڅ څوک او هیڅ څه شئ د مرګ او مړ ینې مخه په خپل ټاکل سوي وخت کې نیولای نسي او هغه وړاندې او وروسته نکیږي.

درندو دوستانو! هیره ده نه وي چې منافقان د احد په غزا کې لمړئ

رسول الله ﷺ سره د مدني ښار منځ نه په ډير تلوار سره احد غره خوا ته راووتل او بيا احد ته د رسيدو نه وړاندې په لار کې ور باندې شپه سوه، او بيا چې کله سحر سه؛ عبدالله بن ابئ بن سلول د منافقانو مشر د درې سوه کسانو سره بيرته مدينې ته ستون سه، او پدې کار سره د مومنانو لښکر په منځ کې لوی بيلتون ولو يده!

هو؛ ګرانو دوستانو! الله تعالى پدې مبارکو آيتونو کې همدا حقيقت تاييد کړئ دئ او د مومنانو زړونه يې مطمئن کړی دي او ورته يې کلک ډاډ او تسليت ورکړئ دئ، او همدارنګه الله تعالى پدې ټولو مبارکو آيتونو کې د احد په غزا کې د لوی ازمايښت يادونه هم کړی ده، او په دغه غزا کې الله تعالى خپل پټ حکمتونه او رازونه مونږ ته څرګند کړي دي چې هغه په دغسې يوه لو يه پيښه کې را ښکاره سول، او هغه دا چې الله تعالى په يقين او ر يښتيا سره د خپلو مخلصو بنده ګانو مرسته کړي او پر دښمن باندې ورته بر يا ورکوي، خو پدې شرط چې د الله بنده ګان د خپل رب سره په بنده ګۍ کې صادق او ر يښتيني وي او د الله تعالى حکم نه سرغړونه ونکړي، او هغسې نه وي، لکه د احد په غزا کې تو پچي ټولې څينې مجاهدين چې د دوی اکثريت د رسول الله ﷺ لارښودنې او سپارښتنې هيرې کړې، او يا يې د ځان نه ورته پلمې جوړې کړې او د مشرکانو لښکرو د شکست او ماتې په لمړ يو شيبو کې يې خپلې مورچلې ژر پر يښودلې او د غنيمتونو راټولو پسې را کوز سول، نو کله چې خالد بن وليد د مشرکانو سپرو قومندان دغه حالت وليده، نو د شانه يې د همدې تو پچي ټولې مورچل غونډه کې نه د رسول الله ﷺ پر ملګرو صحابوو باندې بر يد وکه او عبدالله بن جبير رضي الله عنه د غونډه کې تو پچي ټولې قومندان يې د خپلو لږ پاتې غاز يانو مجاهدينو سره يوځای شهدان کړل او بيا يې خپل بر يد همداسې د رسول الله ﷺ نورو ملګرو پسې مخ پر وړاندې يور، ترڅو چې يې د رسول الله ﷺ صحابوو فتحه او بر يا د جګړې په پيل کې په ماته واړوله، نو ځکه الله تعالى وفرمايل چې د دې لوی مصيبت او و ير سبب او عامل خپله تاسې وی، ځکه تاسې نه د

پیغمبرﷺ امر پرځای کـه او نـه مو د خپـل قومنـدان (عبـدالله بن جبیررضي الله عنه) حکم ومانه!

{د الله لارې شهیدان مړه نه بلکې ژوندي دي روزي ورکول کیږي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د اُحد غزا شهیدان ستایلي دي او د دوی لوړ مقام یې د الله پر ورځلاندې یاد کړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿وَلَا تَحْسَبَنَّ ٱلَّذِينَ قُتِلُوا۟ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ أَمْوَٰتًۢا ۚ بَلْ أَحْيَآءٌ عِندَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ ﴿١٦٩﴾ فَرِحِينَ بِمَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ وَيَسْتَبْشِرُونَ بِٱلَّذِينَ لَمْ يَلْحَقُوا۟ بِهِم مِّنْ خَلْفِهِمْ أَلَّا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿١٧٠﴾ يَسْتَبْشِرُونَ بِنِعْمَةٍ مِّنَ ٱللَّهِ وَفَضْلٍ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٧١﴾ ٱلَّذِينَ ٱسْتَجَابُوا۟ لِلَّهِ وَٱلرَّسُولِ مِنۢ بَعْدِ مَآ أَصَابَهُمُ ٱلْقَرْحُ ۚ لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا۟ مِنْهُمْ وَٱتَّقَوْا۟ أَجْرٌ عَظِيمٌ ﴿١٧٢﴾ ٱلَّذِينَ قَالَ لَهُمُ ٱلنَّاسُ إِنَّ ٱلنَّاسَ قَدْ جَمَعُوا۟ لَكُمْ فَٱخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ إِيمَٰنًا وَقَالُوا۟ حَسْبُنَا ٱللَّهُ وَنِعْمَ ٱلْوَكِيلُ ﴿١٧٣﴾ فَٱنقَلَبُوا۟ بِنِعْمَةٍ مِّنَ ٱللَّهِ وَفَضْلٍ لَّمْ يَمْسَسْهُمْ سُوٓءٌ وَٱتَّبَعُوا۟ رِضْوَٰنَ ٱللَّهِ ۗ وَٱللَّهُ ذُو فَضْلٍ عَظِيمٍ ﴿١٧٤﴾ إِنَّمَا ذَٰلِكُمُ ٱلشَّيْطَٰنُ يُخَوِّفُ أَوْلِيَآءَهُۥ فَلَا تَخَافُوهُمْ وَخَافُونِ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٧٥﴾﴾

[۱۶۹] ای پیغمبره! هغه کسان چې د الله په لار کې ووژل سول؛ هغوي هیڅ کله مړه مه بولـه، دوی ژوندي دي او د خپل رب الله پر وړاندې په درناوئ کیږي او د روزۍ په لو یو نعمتونو نازول کیږي، یعنی د دوی قدر او عزت د الله تعالي په میلمستون کې په ډیر درناوي سره کیږي.

[۱۷۰] او د الله لارې شـهیدان د الله په هغو نعمتونو خوښ دي چې هغه دوی ته الله په خپل فضل او رحمت سره ورکړي دي، او هغو کسانو ته ز یرئ ورکوي چې دوی پسی وروسته دي او لا دوی ته ندي رسیدلي او نه ورسـره یوځای سـوي دي، او ورته وایي چې پر دوی هیڅ و یره نسـته او نده غمجین کیږي، یعنی الله به دوی ته لوړې رتبې ورکړي او سـرلوړي او تل

پاتې خوښي بې په برخه کړي.

[۱۷۱] او همدغه شـهیدان د الله په هغو نعمتونو چې الله پر دوی پیرزو کړي دي؛ خوښـي کړي او هغه پر خپلو ځانو د الله لو یه ورکړه او لور ینه بولي، او یقینا چې الله د مومنانو ثواب نه ضـائع کوي، یعنی دوی ته الله لوی لوی جنتونه ورکوي.

[۱۷۲] او دغه مومنان هغه کسان دي چې د اُحد غزا ټپونو او ماتې نه وروسته یې بیا هم د الله او پیغمبر حکم ومانه او د مشرکانو لښکرو پسې لاړل او هغوی یې د (حمراء الاسـد) سـیمې پورې وځارل او بیا درې ورځې هلته ورته تم سـول، نو د الله لاړې دغو مجاهدینو ته او د ښـو کړنو خاوندانو او متقیانو ته چې ښه یې وکړل؛ د الله لخوا ډیر لوی ثواب دئ.

[۱۷۳] [هو! دغه مومنان چې د کلک ایمان څښـتن دي] دوی هغه کسـان دي چې کله دوی ته ځینو خلکو وو یل: باور وکړئ چې د مشـرکانو لښکر مشـرانو [ابو سفیان او ملګرو یې تصمیم نیولي دئ چې بیرته تاسې پسې را وګرځي او د ستاسې ر ینې و باسي] نو د هغوی نه وو یر یږئ او ځانونه د دوی ګواښ نه وسـاتئ، نو بیا دغسـې خبرو د احد مجاهدینو ایمان لا ټینګ او ډیرکه او وو یل: مونږ ته الله بس او کافي دئ او الله د زمونږ چارو واکمن لوی څښتن دئ.

[۱۷٤] نو بیا دغه مومنان د الله په فضل او رحمت سره د درې ورځو انتظار او تمیدو نه وروسته په (حمراء الأسد) کې بیرته مدینې ته روغ رمټ او سـر لوړي راسـتانه سـول او هیڅ ډول تاوان او ز یان ورته ونه رسـیده، ځکه دوی د الله رضـا او خوښـۍ پسـې لاړل او د هغې پیروي یې وکړه، او الله د لویې ورکړي او پیرزو ینې څښتن دئ، یعنی د اُحد اتلانو ته الله تعالی دغه لو یه سـر لوړي ور په برخه کړه او دوی بیرته خپلو کورونو ته سـر لوړي او سلامت راستانه سول.

[۱۷٥] هو؛ ای مومنانو! یقینا چې دا هغه شیطان دئ چې خپل ملګري او پلو یان و یروي او ګواښـونه ورته کړي، او غواړي چې تاسـې هم ای

مومنانو! د مشرکانو نه وو یروي، او که تاسې په ر یښتیا سره مومنان یاستی، نو بیا یوازې د زما نه وو یر یږی، یعنی د کافرانو نه مه و یر یږی، ځکه کافران نور هیڅ څوک مرستندوی نه لري، خو شیطان دوی د خلکو په سترګو کې ځواکمن ځلوي، او دا د شیطان تل پاتې خوی دئ، کافران تل د مومنانو په سترګو کې ځواکمن بر یښوي، خو هغه حقیقت نه لري، لکه څنګه چې پې د افغان مجاهد او زړور مظلوم ولس څلو یښت کلن جهاد [په شلمه او یو یشتمه پیړۍ کې] د نړۍ سترو یرغلګرو لښکرو پر وړاندې ژوندئ شاهد او بیلګه ده.

{د احد غزا نه وروسته رسول الله ﷺ ته الله تسلیت ورکړئ دئ}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې د احد غزا لوی ناور ین او کړاوونو نه وروسته الله تعالی رسول الله ﷺ ته ډاډ او تسلیت ورکړئ فرمایلي دي:

﴿وَلَا يَحۡزُنكَ ٱلَّذِينَ يُسَٰرِعُونَ فِي ٱلۡكُفۡرِۚ إِنَّهُمۡ لَن يَضُرُّواْ ٱللَّهَ شَيۡـٔٗاۗ يُرِيدُ ٱللَّهُ أَلَّا يَجۡعَلَ لَهُمۡ حَظّٗا فِي ٱلۡأٓخِرَةِۖ وَلَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٌ ١٧٦ إِنَّ ٱلَّذِينَ ٱشۡتَرَوُاْ ٱلۡكُفۡرَ بِٱلۡإِيمَٰنِ لَن يَضُرُّواْ ٱللَّهَ شَيۡـٔٗاۖ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ١٧٧ وَلَا يَحۡسَبَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَنَّمَا نُمۡلِي لَهُمۡ خَيۡرٞ لِّأَنفُسِهِمۡۚ إِنَّمَا نُمۡلِي لَهُمۡ لِيَزۡدَادُوٓاْ إِثۡمٗاۚ وَلَهُمۡ عَذَابٞ مُّهِينٞ ١٧٨ مَّا كَانَ ٱللَّهُ لِيَذَرَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ عَلَىٰ مَآ أَنتُمۡ عَلَيۡهِ حَتَّىٰ يَمِيزَ ٱلۡخَبِيثَ مِنَ ٱلطَّيِّبِۗ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُطۡلِعَكُمۡ عَلَى ٱلۡغَيۡبِ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَجۡتَبِي مِن رُّسُلِهِۦ مَن يَشَآءُۖ فَـَٔامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦۚ وَإِن تُؤۡمِنُواْ وَتَتَّقُواْ فَلَكُمۡ أَجۡرٌ عَظِيمٞ ١٧٩ وَلَا يَحۡسَبَنَّ ٱلَّذِينَ يَبۡخَلُونَ بِمَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضۡلِهِۦ هُوَ خَيۡرٗا لَّهُمۖ بَلۡ هُوَ شَرّٞ لَّهُمۡۖ سَيُطَوَّقُونَ مَا بَخِلُواْ بِهِۦ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ وَلِلَّهِ مِيرَٰثُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِيرٞ ١٨٠﴾

[۱۷۶] ای پیغمبره! او د کافرانو نه هغه کسان چې په کفر کې یو بل سره په سیالۍ کې منډې وهي؛ تا غمجن او خفه نکړي، او یقینا چې دوی

الله ته هیڅ ز یان رسولای نسي [بلکې دوی خپلو ځانونو ته ز یان او تاوان رسـوي] او الله غواړي چې دغو کافران ته په آخرت کې هیڅ برخه ورنکړي [ځکه دوی د حق منلو نه مخونه واړلول] نو دوی ته په آخرت کې لوی عذاب او کلکه سزا تیاره سوې ده.

[۱۷۷] او یقینا هغو کسانو چې کفر د ایمان په بیعه واخسـت [یعنی ایما ن یې پر کفر خرڅ که او پرې و پلوره] دوی الله ته هیڅ تاوان او ز یان رسولای نسې، او دوی ته په آخرت کې دردونکئ عذاب او کلکه سزا ده.

[۱۷۸] او کافران ده داسې نه انګیري چې څه زنډ او مهلت چې دوی ته مونږ ورکوو په هغه کې د دوی ګټه او خیر دئ! نا خبره داسـې نده! هو؛ یقینا چې دوی ته مونږ مهلت ورکوو، ترڅو د دوی ګناه لا ډیره سـي او بیا په آخرت کې کافرانو ته خوارونکئ عذاب تیار سوئ دئ.

قدرمنو دوسـتانو! او په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی مومنان پر لوی ازمایښـت ګواښـلي دي، ترڅو مخلص مومنان د منافقانو نه بیل کړي، او په بیان کې یې فرمایلي دي

[۱۷۹] ای مومنانو! او الله هیڅ کله تاسـې پر هغه حال باندې چې یاستئ نه پرږدي، ترڅو ښه د بد نه بیل کړي [یعنی الله تعالی مومنان د منافقانو نه چې په زړونو کې یې کفر دئ بیلوي] او ای مومنانو! تاسې الله د پټو شیانو نه نه خبروي [بلکې الله تعالی په ازمایښتونو سره ښه د بد نه بیلوي] خو الله چې د خپلو پیغمبرانو نه څوک وغواړي؛ هغه د غیب او د پټو شیانو نه خبروي، نو تاسې ای مومنانو! پر الله او پر پیغمبر یې ایمان راوړئ او ور باندې باور وکړئ، نو که بیا تاسې په پوره صداقت او اخلاص سـره ایمان راوړ او خپل ځانونه مو د الله عذاب او سـزا نه وسـاتل، نو تاسـې ته د الله له لخوا لوی ثواب دئ، یعنی دا چې تاسـې ته د الله تعالی لوی جنتونه دي او هلته به یې د الله تعالی تل پاتې نعمتونو نه خوند اخلئ او تل پاتې به یې اوسیږئ.

هو؛ درندو دوسـتانو! د دنیا ژوند مومنانو ته د لوی ازمایښـت ډګر دئ او

الله تعالی تل خپل مخلص بنده ګان په لوی ازمایښـــت کې اچوي، ترڅو ر یښـــتیني او صـــادق مومنان د منافق خو یه کســـانو نه بیل کړي او بیا مومنـانو تـه لوی ثواب او لوړ مقـام ورکړی، نو دغـه د احـد غزا بـدر غزا فتحې او بر یا نه وروســته مومنانو ته لوی ازمایښـت وه، او پکې الله تعالی منافقان او مخلص مومنان ســره بیل کړل او منافقان ښــه رســوا او مختورن ســول، او دا الهي ســنت او تل پاتې قانون د بشــر یت په اوږده تار یخ کې په وار وار ســره پلئ ســوئ دئ او مخلص مومنان د منافقانو نه تل بیل ســوي دي، او ډیره ځلانده بیلګه یې؛ همدا اوس افغان ولس دئ چې د ځلور ځلو یښـتو کلونو نه را پدیخوا (۱۳۵۷ هـ ش کال د ثور برج نه تر ۱۴۰۰ هـ ش کال د سـنبلې یا وږي برج پورې) د دغسې لوی امتحان سره مخامخ ســه، ترڅو چې بیا الله تعالی د مجاهدینو د ډیرو ســرښــندنو نه وروســته په خپل فضـل او رحمت ســره د طالبانو اسـلامي امارت بر یا ته ورســـا وه او د نړۍ لوی ز بر ځواک امر یکا د ښـــکیلاک ګرو ځواکونو وروســتي عســکر د کابل نه په تیښــته ووتل، نو دعا کړو چې الله تعالی ده نور افغان مظلوم او مجاهد ولس په خپل لوی رحمت ســره د دغسې لوی ازمایښـت نه وسـاتي، او اسـلامي امارت ته الله تعالی د دغې لویې بر یا او فتحې شکر و یستلو توفیق ور په برخه کړي، ترڅو وکولای سي خپل ولس ښاد او هیواد ودان کړي او د نړۍ پرمختللو هیوادونو سره یې سیال کړې، او نړۍ والو ته یې د احتیاج نه نور و باسي او پر خپل ځان یې بسیا کړي!

او بیا به په ور پسې مبارك آیت کې هغه مالدار ماړه مومنان الله تعالی کلک ګواښـلي دي چې د خپل مال زکات نه ورکوي او د الله لارې مجاهدینو سره مرسته نکړي، او فرمایلي دي:

[۱۸۰] او هغه کســان چې د الله فضـل نه په ورکړل ســوو مالونو کې بخیلي کړي او د الله په لار کې څه نه ورکوي؛ دوی ده داسې ګمان او خیال نکړي چې دا بخیلي [یعنی د الله حق نه ورکول؛ د دوی په خیر او په ګټه دي، نا! خبره او حقیقت هیڅکله داسـې ندئ] بلکې دغسـې بخیلي د دوی لپاره شـر او ز یان دئ، او دغه مال او دولت به د قیامت په ورځ د دوی په

غاړو کې د غړوندي په څير راتاو سوئ زوند سي، او د ژوند په پای کې بيا دا ټولې ځمکې او اسمانو نه الله ته په ميراث پاتې دي، او ای خلکو! تاسې چې څه کړی؛ الله ورڅخه خبر دئ، يعنی د ستاسې کړنې د الله تعالی نه پټې ندي او الله هرچا ته د هغه کړنو او د ښه او بد عمل ثواب او سزا ورکوي.

ګرانو دوستانو! الله تعالی پدې مبارك آيت کې هغه کسان کلک ګواښلي دي چې دوی د الله تعالی د فضل او د کرم نه په ورکړل سوي مال کې؛ د الله حق چې زکات دئ نه ورکوي او پر هغه بخيلي کړي، نو دغه مال به د قيامت په ورځ د اور کړی غوندې د دوی په غاړو کې رازوند ډيږي، امام بخاري د ابوهريره رضي الله عنه نه روايت کړئ دئ چې هرچا ته چې الله تعالی مال او دولت ورکړئ وي، خو دئ يې زکات نه ورکوي، نو بيا هغه مال د قيامت په ورځ د مار په څيره کې د هغه په غاړه کې کړی کيږي او ورته وايي: زه د ستا هغه مال يم چې ګنج کړئ ده وم او د الله په لار کې ده نه ورکولم، نو بيا ابوهر يره رضي الله عنه دغه مبارك آيت ولوست.

{الله د يهودو سپکې خبرې هغه پسې غندلې اورسوا کړي دي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی د يهودو هغه سپکې سپورې خبرې د الله تعالی لوړ مقام پورې چې دوی به و يل: الله (العياذ بالله) فقير دئ څه شئ نه لري او مونږ غنيان يو، مال او دولت لرو؛ کلکې غندلې دي، نو يقينا چې دغسې خبرې د الله تعالی لوړ مقام ته سپکا وئ دئ، نو ځکه بيا دوی الله تعالی پر خپل کلک عذاب باندې ګواښلي دي، او فرمايلي دي:

﴿لَّقَدْ سَمِعَ ٱللَّهُ قَوْلَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ فَقِيرٌ وَنَحْنُ أَغْنِيَآءُ سَنَكْتُبُ مَا قَالُواْ وَقَتْلَهُمُ ٱلْأَنۢبِيَآءَ بِغَيْرِ حَقٍّ وَنَقُولُ ذُوقُواْ عَذَابَ ٱلْحَرِيقِ ﴿١٨١﴾ ذَٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيكُمْ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَيْسَ بِظَلَّٰمٍ لِّلْعَبِيدِ ﴿١٨٢﴾ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ عَهِدَ إِلَيْنَآ أَلَّا نُؤْمِنَ لِرَسُولٍ حَتَّىٰ يَأْتِيَنَا بِقُرْبَانٍ تَأْكُلُهُ ٱلنَّارُ قُلْ قَدْ جَآءَكُمْ رُسُلٌ مِّن قَبْلِى بِٱلْبَيِّنَٰتِ وَبِٱلَّذِى قُلْتُمْ فَلِمَ قَتَلْتُمُوهُمْ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿١٨٣﴾ فَإِن كَذَّبُوكَ فَقَدْ كُذِّبَ

رُسُلٌ مِّن قَبْلِكَ جَآءُو بِٱلْبَيِّنَٰتِ وَٱلزُّبُرِ وَٱلْكِتَٰبِ ٱلْمُنِيرِ ﴿١٨٤﴾

[١٨١] هو! يقينا چې الله د هغو کسانو خبرې واورېدلې چې کله دوی وو يل الله په يقين سره فقير دئ او څه شئ نه لري او مونږ غنيان يو مال او دولت لرو! نو هغه څه چې دغو کسانو وو يل هغه به مونږ وليکو [ترڅو د دوی خبرې زمونږ سره ساتلې پاتې سي] او د دوی په لاس د پيغمبرانو ناحقه وژنې به هم مونږ وليکو او بيا ورته وايو چې اوس په دوزخ کې د سوزوونکي اور سزا وڅکۍ، يعنی په دوزخ کې به ښه کلک وکړ يږي، او هيره ده نه وي چا دغه کسان چې الله تعالی يې فقير و باله؛ يهود ول!

[١٨٢] ای يهودو! او دا سزا ستاسې د لاسونو بدو کړنو سزا ده، او يقينا چې الله پر خپلو بنده ګانو ظالم او تيرئ کونکئ ندئ، يعنې الله تعالی د ګناه نه پرته هيڅ چا ته سزا نه ورکوي.

[١٨٣] او د يهودو نه دغه خلک؛ ځينې هغه کسان ول چې کله دوی د اسلام پر پيغمبر باندې ايمان را وړلو ته را و بلل سول، نو و يو يل: زمونږ سره الله يقيني وعده کړې ده چې پر هيڅ پيغمبر باندې ايمان رانوړو، ترڅو مونږ ته د قربانۍ هغه معجزه راوړي چې اور يې خوري [يعنې ښايي دا پيغمبر د ځان سره خيرات راوړي او ووايي چې دغه مال زه د الله رضا لپاره خيراتوم، نو بيا به د اسمان نه د اور لمبه را کوزه سي او دغه خيرات به وسوزوي] نو ته ای پيغمبر! دغو کسانو ته په ځواب کې ووايه: هو! يقينا چې تاسې ته زما نه پخوا پيغمبران د معجزو سره راغلل او څه چې تاسې وايي؛ هغسې معجزې يې هم درته راوړي، نو که تاسي [صادقان او] د ر ښتياو يونکو نه ياستئ، نو بيا ولې تاسې هغه [پخواني] پيغمبران مړه کړل؟ يعنی دغه يهود په خپلو غوښتنو کې دروغژن ول او دوی هيڅ کله ريښتيا نه و يل، ترڅو ور باندې اعتبار وسي!

[١٨٤] ای پيغمبره! نو که ته دغو يهودو تکذيب کړې او دروغژن يې و بللې [يعنی د ستا پيغمبرې يې ونه منله، نو ته مه خفه کيږه] ځکه دوی ستا نه پخوا پيغمبران چې د معجزو او ز بورونو (اسماني کتابونو) سره

ورته راغلل؛ دروغژن و بلل، او دا دئ اوس دغو يهودو رښا کونکئ کتاب [قرآن چې حق دئ؛ هغه] هم دروغ و باله او وې نه مانه!

عزتمنو دوستاتو! دا مبارك آيتونه چې رسول الله ﷺ ته د ډاډ او تسليت پيغام دئ؛ د يهود کرکجن چلند او سپک در يځ يې د الله تعالى ټولو پيغمبرانو او استازو سره، او د الله نه په حق سره را نازل سوو ټولو کتابونو سره ياد کړئ او بيان کړئ دئ، نو ښايي چې مومنان هيڅ کله د يهودو نه د خير هيله ونکړي، ځکه د يهودو تور تار يخ د عهد شکنۍ يا د ټرونونو ماتولو، غدر او خيانت نه او د حق پلو يانو سره د د ښمنۍ او جګړو نه؛ ډک تار يخ دئ، نو دعا کړو چې الله تعالى ده ټول خلک، او په ځانګړې ډول مومنان ښه پوه او هوښيار کړي، او د حق پيژندنې او پر حق ده؛ د عمل کړو توفيق الله ورکړي، ترڅو په دنيا آخرت کې ښاد سي.

{د دنيا ژوند غولونکئ دئ او مونږ ورڅخه تلونکي يو}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د ټولو ژوندیو خلکو حتمي مرګ او مړ ينه يادە کړې او بيان کړې ده، او مومنانو ته يې د يهودو او نورو ټولو کافرانو د ډيرو توطئيو، خيانتونو او د زورونو پر وړاندي؛ ډاډ او تسليت ورکړئ دئ او د دنيا په ژوند کې يې پر زهد او تقوا ورته کلک سپارښت کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ ٱلْمَوْتِ ۗ وَإِنَّمَا تُوَفَّوْنَ أُجُورَكُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ ۖ فَمَن زُحْزِحَ عَنِ ٱلنَّارِ وَأُدْخِلَ ٱلْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ ۗ وَمَا ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَآ إِلَّا مَتَـٰعُ ٱلْغُرُورِ ﴿١٨٥﴾ لَتُبْلَوُنَّ فِىٓ أَمْوَٰلِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ وَلَتَسْمَعُنَّ مِنَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَـٰبَ مِن قَبْلِكُمْ وَمِنَ ٱلَّذِينَ أَشْرَكُوٓا۟ أَذًى كَثِيرًا ۚ وَإِن تَصْبِرُوا۟ وَتَتَّقُوا۟ فَإِنَّ ذَٰلِكَ مِنْ عَزْمِ ٱلْأُمُورِ ﴿١٨٦﴾﴾

[۱۸۵] هو! هر ژوندئ نفس(ساه ښونکئ مخلوق) خاماخا د مرګ او مړ ينې خوند ځکي او مري، او تاسې ته ای مومنانو! د ستاسې ثواب او د

ښه کړنو مزدوري او اجرت د قیامت په ورځ پوره درکول کیږي، نو هر هغه څوک چې د دوزخ اور نه لرې سي [یعنی ورځخه وساتل سي] او بیا جنت ته ورننه و یستل سي، نو هغه بر یالۍ دئ [یعنی خپل مقصد ته رسیدلۍ دئ] او د دنیا ژوند غولونکې متاع او لنډ خوند اخستل دي، یعنی د دنیا ژوند ډیر ژر تیریدونکئ ژوند دئ او خوند اخستل ورځخه ډیره لږ او تیریدونکې متاع ده، ټول خلک غولوي، هیڅ بقاء نه لري او تل پاتې ندئ، نو نه ښایي چې هوښیاران ور باندې وغولیږي، خو دنیا د آخرت نیکمرغۍ او خوښۍ لپاره او د الله تعالی پر وړاندې د لوړ مقام ګټلو لپاره؛ ښه غوره وسیله هم ده او یوازې هوښیاران هغه ښه پیژني او د دنیا په ژوند کې ورځخه په ښو کړنو سره ګټه اخلي.

درندو دوستانو! او په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی په تکرار سره مومنانو ته تسلیت او ډاډ ورکړئ دئ، او فرمایلي دي:

[١٨٦] ای مومنانو! تاسې به د خپلو مالونو او ځانونو په حق کې ښه ډیر وازمایل سی او د کلک امتحان سره به مخامخ سی، او هم به د هغو کسانو نه چې د ستاسې نه پخوا ورته کتاب ورکړل سوئ دئ؛ ډیرې سپکې سپورې خبرې واوری، او مشرکان به هم تاسې ډیر وزوروي، خو که تاسې پر دغو ټولو ستونزو صبر وکړی او هغه وزغمی او د الله نه وو یر یږی [یعنی خپل ځانونه په اطاعت او ښې بنده ګۍ سره د الله سزا نه وساتی] نو یقینا چې دا ډیر لوی کار دئ، یعنی هغه یوازی د کلک تصمیم او د قوي عزم خاوندان کړلای سي، ځکه چې هغه د پیغمبرانو لار ده، نو کلکه اراده او غښتلي تصمیم غواړي.

قدرمنو دوستانو! دا قرآني پیغام او ګټوره لارښودنه او یقیني ز یرئ؛ یوازې د رسول الله ﷺ صحابوو او ملګرو عصر او زمانې پورې خاص ندئ، که څه هم د نزول په وخت کې یې الله تعالی دوی مخامخ مخاطب کړي دی، بلکې دا قرآني سپارښتنې هغو مومنانو ته تل پاتې پیغام دئ چې د الله تعالی رضا د دوی مقصد دئ او اسلام ته په دعوت کې لګیا دي، نو ښایي چې دوی په دغسې پاکه عقیده او په قوي تصمیم او په کلک صبر

سـره حق خوا ته خپل مزل ووهي، ترڅو يي لوړ ارمان په دنيا او په آخرت کې پوره سي، او سـرلوړي او عزتمن سي، او د دنيا او آخرت ښـادي يې په برخه سي او ورڅخه خوند واخلي.

{اهل کتابو الله سره خپلې هوکړې په لږ بيعه خرڅې کړې}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د اهل کتابو دروغژن چلند او کينه کښ در يځ د الله تعالى سره په خپلو تعهداتو او هوکړو کې؛ کلک رسوا کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿وَإِذْ أَخَذَ ٱللَّهُ مِيثَٰقَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ لَتُبَيِّنُنَّهُۥ لِلنَّاسِ وَلَا تَكْتُمُونَهُۥ فَنَبَذُوهُ وَرَآءَ ظُهُورِهِمْ وَٱشْتَرَوْا۟ بِهِۦ ثَمَنًا قَلِيلًا ۖ فَبِئْسَ مَا يَشْتَرُونَ ﴿١٨٧﴾ لَا تَحْسَبَنَّ ٱلَّذِينَ يَفْرَحُونَ بِمَآ أَتَوا۟ وَّيُحِبُّونَ أَن يُحْمَدُوا۟ بِمَا لَمْ يَفْعَلُوا۟ فَلَا تَحْسَبَنَّهُم بِمَفَازَةٍ مِّنَ ٱلْعَذَابِ ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٨٨﴾ وَلِلَّهِ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٨٩﴾﴾

[۱۸۷] [ای پيغمبره! او هغه وخت راپه ياد کړه] کله چې د هغو کسانو نه چې دوی ته کتاب ورکړل سـوئ وه؛ الله تعهد او هوډ واخسـت چې دوی به دا کتاب (تورات) خلکو ته بيانوي او هغه به نه پټوي، خو دوی دغه وعده او تعهد شـا ته وغورځا وه او په ډيره لږ بيعه يې هغه خرڅ که، نو د دوی دغه خرڅول او اخسـتل ډيره بده کړنه وه، يعنی دا ځکه چې دوی ور باندې خپلې وعدې او هوکړې د پښـولاندې کړې.

قدرمنو عز يزانو! نو بيا الله تعالى په ور پسـې مبارك آيت کې دغسـې کسان د آخرت دردونکي عذاب او سزا نه ګوابلي دي، او فرمايلي دي:

[۱۸۸] ای پيغمبره! او هغه کسـان چې پر ورکړل سـوو نعمتونو باندې خوښي کړي، او هم يې خوښيږي چې دوی په هغسې کړنو وستايل سي چې هغه يې ندي کړي، نو ته ای پيغمبره! پر دغسې کسانو داسې ګمان ونکړې چې دوی به د الله عذاب نه په آخرت کې؛ نجات بياموي او خلاص به سي!

[نا! هيڅ کله دوی د هغې ورځې سزا نه خلاصيدای نسي] او د آخرت پر ورځ دوی ته دردونکئ عذاب او کلکه سزا تياره سوئ ده، يعنی د دوزخ په اور کې به هرومرو کړ يږي.

[۱۸۹] او د ځمکې او اسمانو واکمني الله لره ده او الله په هرڅه قادر لوی ذات دئ، يعنی څه چې الله وغواړي هغسې کړلای سي او هيڅ څوک د الله تعالی کړنو مخه نيولای نسي.

ګرنو دوستانو! د الله تعالی پاک کلام په دغو مبارکو آيتونو کې د پند اخستلو ډيرې زدکړې او لارښودنې نغښتې دي، نو ښايي چې هر مسلمان هغه په دقت سره تلاوت کړي او پکې ژور فکر وکړي او ورڅخه ګټه واخلي او په خپل ژوند کې پرې عمل وکړي، ترڅو ښاد او نيکمرغه سي.

{د ځمکې او اسمانو پيدايښت د الله د لويو قدرتونو نښې دي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی لمړۍ مونږ ته پر ځمکه او اسمانو کې د خپل لوی قدرت يادونه کړې ده، او بيا يې د رسول الله ﷺ ملګرو د مناجات ر يښتينئ تصو ير خپل لوی رب الله سره وړاندې کړئ او بيان کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿إِنَّ فِي خَلْقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَٱخْتِلَٰفِ ٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ لَءَايَٰتٍ لِّأُو۟لِى ٱلْأَلْبَٰبِ ﴿١٩٠﴾ ٱلَّذِينَ يَذْكُرُونَ ٱللَّهَ قِيَٰمًا وَقُعُودًا وَعَلَىٰ جُنُوبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَٰذَا بَٰطِلًا سُبْحَٰنَكَ فَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ ﴿١٩١﴾ رَبَّنَآ إِنَّكَ مَن تُدْخِلِ ٱلنَّارَ فَقَدْ أَخْزَيْتَهُۥ ۖ وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنْ أَنصَارٍ ﴿١٩٢﴾ رَّبَّنَآ إِنَّنَا سَمِعْنَا مُنَادِيًا يُنَادِى لِلْإِيمَٰنِ أَنْ ءَامِنُوا۟ بِرَبِّكُمْ فَـَٔامَنَّا ۚ رَبَّنَا فَٱغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَكَفِّرْ عَنَّا سَيِّـَٔاتِنَا وَتَوَفَّنَا مَعَ ٱلْأَبْرَارِ ﴿١٩٣﴾ رَبَّنَا وَءَاتِنَا مَا وَعَدتَّنَا عَلَىٰ رُسُلِكَ وَلَا تُخْزِنَا يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۗ إِنَّكَ لَا تُخْلِفُ ٱلْمِيعَادَ ﴿١٩٤﴾﴾

[۱۹۰] هو! یقینا چې د ځمکې او اسمانو په پیدایښت کې، او د شپې او ورځې په منځ کې د یوې بلې په بیلتون او اختلاف کې [چې یوه د بلې نه پوره تو پیر لرې او ور پسې نښتې راځي] پدې ټولو کې هوښیارنو او د عقل خاوندانو لپاره لویې نښې نغښتې دي، یعنی هغه د الله پر لوی قدرت دلالت کړي، ځکه دا لو یه نړۍ الله تعالی پیدا کړي ده او الله یې پالي او چارې یې چلوي، نو هغو هوښیارانو چې ایمان راوړئ دئ؛ دوی ورځخه ګته اخلي او یوازې د الله تعالی عبادت او بنده ګي کړي.

[۱۹۱] او دغه هوښیاران(مومنان)هغه کسان دي چې په ولاړه او ناسته او په ډ ډه پراته؛ الله یادوي او ذکر کړي او د ځمکې او اسمانونو په پیدایښت او خلقت کې فکر کړی [یعنی پکې ښه ژوره څیړنه کړي او د الله تعالی سره په مناجات کې] وایي: ای د زمونږ لو یه خدایه! دا لو یه نړۍ یا عالم تا خوسې ندئ پیدا کړئ، ځکه ته ای ر به! د هر ډول باطل او د ګټې نه خالي کړنو نه پاک یې، نو ته ای لو یه څښتنه! مونږ د دوزخ اور عذاب او سزا نه وساته، یعنی خپل رحمت ده را باندې ووروه!

[۱۹۲] او ای د زمونږ لو یه خدایه! یقینا هر هغه څوک چې ته د دوزخ اور ته ورننه باسې، نو هغه تا خوار کړئ او سپک کړئ دئ، او کافرانو [چې پر خپلو ځانو یې ظلم او تیرئ کړئ دئ] دوی هیڅ څوک مل او مرستندوی نه لري، ترڅو د قیامت په ورځ د الله عذاب ورځخه لرې کړي.

[۱۹۳] او ای د زمونږ لو یه خدایه! مونږ د یوه رابلونکې غږ واور یده چې خلک ایمان راوړ ته را بولي او وایي: ای خلکو! پر خپل رب الله باندې ایمان راوړئ! نو بیا مونږ ایمان راوړ، نو ته ای لو یه څښتنه! د زمونږ ګناه وې راته و ښه او د زمونږ بدې کړنې راڅخه تویې او پټې کړه، او د زمونږ برخه د دنیا ژوند نه د ښو خلکو سره راپوره کړه، یعنی د مړ ینې په کاروان کې مونږ د ښو خلکو سره ملګري کړه، لکه پیغمبران او پر دوی باور کونکي صالحان او شهیدان.

عزتمنو دوستانو! دغه نیکان هغه کسان ول چې د الله پر استازې

پیغمبر محمد ﷺ پې باور وکه او د هغه پیغمبرۍ پې ومنله او پر الله پې ایمان راوړ او حکمونو ته پې غاړه کیښودله او ورته تسلیم سول، نو بیا دوی دعاء وکړه او و یو یل: ای د زمونږ لو یه خدایه! زمونږ ګناه وپې را ته و بښه او زمونږ بدې کړنې پټې او توپې کړه، او د مړ ینې او مرګ نه وروسته مونږ د ښو خلکو سره په جنتونو کې یوځای او ملګري کړه.

[۱۹٤] او ای د زمونږ لو یه ر به! هغه وعدې چې تا زمونږ سره د خپلو پیغمبرانو په خوله کړې دي؛ هغه مونږ ته را پوره کړه او د قیامت په ورځ مونږ مه سپکوه، او یقینا چې ته ای لو یه خدایه! د خپلو هوکړو او وعدو نه نه په شا کیږي او هغه نه هیروې!

قدرمنو عز یزانو! دا وه د أولی الألبابو(هوښیارانو) مناجات او د خپل رب سره د دوي پټه مرکه او خبرې، او دوی د اسلام پیغمبر ﷺ هغه یاران او ملګري ول چې د رسول الله ﷺ دعوت پې ومانه او ایمان پې راوړ، او د مشرکانو او منافقانو پر وړاندې د رسول الله ﷺ په څنګ کې ښه کلک ودر یدل او د خپل رب بلنه پې حق ته چې د الله دین اسلام دئ؛ ومنله او بیا پې په ډیرې زارۍ او اخلاص سره د الله په حضور کې دعاء وکړه چې د دوی ایمان قبول کړي او د قیامت ورځې سپکاوي او رسوایي نه دوی وساتي او په جنت کې د صالحانو ملګرتیا د دوی په برخه کړي، نو درنډو دوستانو! مونږ هم دعاء کړو چې الله ده مونږ ته د هغوی پر لار د تګ توفیق راکړي او مونږ ده الله یوځای ورسره حشر کړي، انه سمیع مجیب.

{څوک چې د الله په لارکې ستونزې ګالي ثواب پې څکي}

نو بیا الله تعالی په ور پسې مبارك آیت کې هغو صحابوو ته ز یرئ ورکړئ دئ چې د دوی دعاوې پې قبولې کړې، او فرمایلي دي:

﴿فَٱسۡتَجَابَ لَهُمۡ رَبُّهُمۡ أَنِّي لَآ أُضِيعُ عَمَلَ عَٰمِلٖ مِّنكُم مِّن ذَكَرٍ أَوۡ أُنثَىٰۖ بَعۡضُكُم مِّنۢ بَعۡضٖۖ فَٱلَّذِينَ هَاجَرُواْ وَأُخۡرِجُواْ مِن دِيَٰرِهِمۡ وَأُوذُواْ فِي سَبِيلِي وَقَٰتَلُواْ وَقُتِلُواْ لَأُكَفِّرَنَّ عَنۡهُمۡ سَيِّـَٔاتِهِمۡ وَلَأُدۡخِلَنَّهُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي

مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ ثَوَابٗا مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ عِندَهُۥ حُسۡنُ ٱلثَّوَابِ ١٩٥﴾

[١٩٥] نو بيا يې دعاء د دوی رب الله قبوله کړه [يعنی غوښتنې يې ومنلې] او و يو يل: ای مومنانو! يقينا چې زه د ستاسې هيڅ نار ينه او ښځې ښه عمل نه ضائع کوم، او تاسې ټول د يو بل ځان ټوټه ياستی، نو هغو کسانو چې هجرت وکه او د خپلو کورونو او کليو نه وشړل سول او د زما په لار کې وزورول سول او جګړه يې وکړه او ووژل سول؛ نو زه به د هغوي ټولو ګناه په يقين سره تو يوم [يعنی دوی به د ګناه نه پاکوم] او يقينا چې زه به دوی هغسې جنتونو ته ورننه باسم چې د او بو و يالې پکې بهيږي؛ او دوی ته دا ورکړه د الله له لوري ثواب او لو يه پيرزو ينه ده، او الله سره نور ښه ډير ثوابونه هم سته.

قدرمنو عز يزانو! دا د الله تعالی هغه لو يه پيرزو ينه او ورکره ده چې خپلو مخلصو، صادقو ر يښتينو بنده ګانو مومنانو ته يې ور په برخه کړه، ځکه دوی ايمان راوړ او بيا يې د الله په لار کې هجرتونه وکړل او د الله تعالی رضا لپاره يې خپل کور، کهول او کلئ پر ښود او مهاجر سول، او بيا يې د الله په حکم او د هغه رضا او خوښی لپاره مسلح جهاد وکه او پکې ووژل سول او شهيدان سول، نو په بدل کې يې الله تعالی دوی ته په آخرت کې ډير ثوابونه و بښل او دوی يې ور باندې ونازول.

{ د کافرانو په زور واکی ده مومنان نه غولیږي }

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی يوځل بيا رسول الله ﷺ ته تسليت ورکړئ دئ او ورته يې پدې لاندې مبارکو آيتونو کې فرمايلي دي ای پيغمبره! پام کړه چې د کافرانو زورواکی خوندونه په دنيا کې تا ونه غولوي:

﴿لَا يَغُرَّنَّكَ تَقَلُّبُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فِي ٱلۡبِلَٰدِ ١٩٦ مَتَٰعٞ قَلِيلٞ ثُمَّ مَأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُۚ وَبِئۡسَ ٱلۡمِهَادُ ١٩٧ لَٰكِنِ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ رَبَّهُمۡ لَهُمۡ جَنَّٰتٞ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا نُزُلٗا مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِۗ وَمَا عِندَ ٱللَّهِ خَيۡرٞ لِّلۡأَبۡرَارِ ١٩٨﴾

[۱۹۶-۱۹۷] ای پیغمبره! او[د کافرانو عیش او نوش، مزې او چړچې او د دنیا ژوند نه خوند اخستل] چې دا کافران دلته او هلته پکې غوړ غوړ اوړي را اوړي؛ تا ونه غولي او په خپل دعوت کې ده ناهیلې نکړي، ځکه دا د دنیا ژوند لږ ژوند او تیریدونکې متاع ده چې کافران ورڅخه خوند اخلي، او بیا د دوی ځای جهنم دئ، او هغه بد استوکنځئ او تل پاتې مینه ده.

[۱۹۸] خو هغو کسانو چې خپل ځانونه د عذاب نه وساتل او تقوا یې وکړه؛ د هغوی لپاره داسې جنتونه یا بڼونه تیار سوي دي چې و یالې پکې بهیږي او دوی به هلته تل د الله ملیمانه وي، او دغه ورکړې د الله له خوا مومنانو ته لویې ډالۍ او انعامونه دي [یعنی دا چې دوی د الله په لار کې ډیر کړاوونه او سختۍ وګالل، او د الله تعالی حق دین اسلام د لوړتیا او عزت لپاره یې جهاد وکه او پکې ووژل سول او شهیدان سول، او د کافرانو سزا په جهنم کې سور اور دئ] او هغه ښیکڼې چې د الله سره دي؛ هغه د ښو کړنو خاوندانو ته غوره او ډیرې ښې او خوندورې دي، یعنی جنتیان به ورڅخه تل پاتې خوند اخلی.

{ځینې اهل کتابو ایمان راوړ او پر خپل دین یې سودا ونکړه}

او په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی مومنانو ته د اهل کتابو ځینې کسانو د ایمان راوړو ډاډ او ز یرئ ورکړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿وَإِنَّ مِنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ لَمَن يُؤْمِنُ بِٱللَّهِ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْكُمْ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْهِمْ خَٰشِعِينَ لِلَّهِ لَا يَشْتَرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ ثَمَنًا قَلِيلًا ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ لَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ سَرِيعُ ٱلْحِسَابِ ﴿١٩٩﴾﴾

[۱۹۹] ای مومنانو! یقینا چې د اهل کتابو(یهودو او نصاراوو) نه ځینې داسې کسان هم سته چې دوی پر الله ایمان راوړئ دئ، او پر هغه کتاب (قرآن) یې هم ایمان راوړئ دئ چې هغه تاسې ته رانازل سوي دئ، او همداسې دوی پر خپلو کتابونو چې دوی ته رانازل سوي ول؛ ایمان راوړئ دئ، او دوی په ډیرې زاړې سره الله ته تسلیم سوي دي او الله ته یې غاړه

ایښي دي او د الله کتاب آیتونه په لږ بیعه نه خرڅوي [یعنی ور باندې سودا نکړي او هغه نه پلوري] او د دوی ثواب د دوی رب الله سره محفوظ او ساتل سوئ دئ، او یقینا چې الله ژر حساب اخستونکئ لوی ذات دئ، یعنی الله تعالی هرچا ته د هغه ښه عمل ثواب او د بد عمل سزا ورکوي.

قدرمنو دوستانو! د دغسې اهل کتابو بیلګې د یهودو او نصاروو نه هغه کسان دي چې دوی پر قرآن او رسول الله ﷺ باندې هغسې ایمان راوړ او هغه یې ومنل، لکه څنګه چې یې پر تورات او انجیل باندې ایمان راوړئ وه، او د اهل کتابو د دغو مومنانو نه وتلې او مخلص کسان عبد الله بن سلام په مدینه منوره کې او نجاشي رضي الله عنهما په حبشه کې ول، او په صحیح حدیث کې روایت سوئ دئ چې کله د حبشې پاچا نجاشي رضي الله عنه وفات سه، نو رسول الله ﷺ پر هغه باندې د غائب جنازه وکړه او ځینو مومنانو بیا نیوکه وکړه، نو په ځواب کې یې دا مبارک آیت رانازل سه، او یقینا چې اسلام د الله حق دین دئ او ټول هوښیاران پر هغه ایمان راوړي او دنیا او آخرت خیر کټي او د الله تعالی لوی لوی جنتونه یې په برخه کیږي او تل یاتې خوند ورڅخه اخلي.

{تقوا سره د صبر مومنانو ته د بر یا شرطونه دي}

عزتمنو دوستانو! د آل عمرآن مبارکې سورې په پای کې الله تعالی یوځل بیا مومنان صبر او زغم ته او په ستونزو کې د الله پر دین باندې ټینګار ته کلک رابللي دي، او فرمایلي دي.

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱصۡبِرُواْ وَصَابِرُواْ وَرَابِطُواْ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ٢٠٠﴾

[۲۰۰] ای مومنانو! د الله پر اطاعت او بنده ګۍ باندې صبر وکړئ او کړاوونه وګالئ او د خپل دښمن پر وړاندې کلک ودر یږئ [یعنی د جهاد په مورچلو او سنګرونو کې ټینګ پاتې سئ، او د الله تعالی سزا نه تل او په هر حال کې وو یر یږئ او د عذاب نه یې خپل ځانو نه په ښې بنده ګۍ سره وساتئ] ترڅو بر یا او سر لوړي ستاسې په برخه سي.

قدرمنو دوستانو! یقینا چې پر ستونزو صبر او ورسره مقاومت کړل او پر خپل ایمان او عقیده ټینګ در یدل؛ د بر یا او د سر لوړې او هدف ته د رسیدو لمړئ شرط دئ، نو ځکه، کله چې د اسلام پیغمبرﷺ او د هغه ملګرو (صحابوو) په خپلو پرله پسې غزاګانو کې د دښمن سره په جګړه کې صبر وکه او هر ډول سرښندنې ته تیار سول، نو بیا الله تعالی دوی ته د ډیرو کړاوونو ګاللو نه وروسته؛ بر یا او فتحه ورکړه او ښه سر لوړي او عزتمن خپل کلي او کور ته چې مکه معظمه وه او دوی ورځخه په زور شړل سوي ول؛ بیرته ورستانه سول او د خپلو صبرونو او ستونزو ګاللو خوندیې وځاکه او سر لوړي او بر یالي سول.

او دا دئ الحمد لله د افغانستان مجاهد ولس هم په شلمه او بیا ور پسې په یو یشتمه میلادي پیړیو کې د دوه لو یو نړۍ والو ښکیلاکونو پر وړاندې بر یا ته ورسیده، او مهاجر ین او مجاهدین یې سر لوړي خپلو کلیو او مینو ته واکمن را ستانه سول، نو دعا کړو چې الله تعالی یې همداسې د اسلامي نظام په سوري کې عزتمن کړي.

ګرانو دوستانو! هو! الله تعالی پدې مبارك آیت کې چې د آل عمران مبارکې سورې وروستئ آیت دئ؛ مومنانو ته په صبر او زغم او باطل سره د جګړې په مورچلو کې پر ثبات او کلکو در یدو او د الله تعالی نه په و یره او تقوا سپارښت کړئ دئ او هغه یې د دوی د بر یا او د سر لوړې لپاره شرط ایښئ دئ، او همدارنګه الله تعالی پدی مبارك آیت کې د الله تعالی د دین نصرت په لار کې پر اخلاص باندې کلک ټینګار کړئ دئ، او مومنانو ته یې لارښودنه او سپارښت کړئ دئ چې ښایي دوی خپلې ټولې مندې او هلې ځلې؛ د الله تعالی رضا او خوښۍ لپاره وګرځوي او د ځاني ګټو لپاره پکې څه شئ ونه غواړي، نو ښایي چې اسلام ته رابلونکي دعات پر دغو الهي لارښودنو عمل وکړي، ترڅو عزتمن سي او د دنیا او آخرت دواړو نیکمرغي وګټي او بیا سپین مخي د الله تعالی په حضور کې ودر یږي.

والحمد لله رب العالمین وصلی الله وسلم علی رسوله الأمین وعلی آله وأصحابه أجمعین، وسبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت

استغفرك وأتوب إليك.



﴿د النساء سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر﴾

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله په نامه چې د لوی رحمت څښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي]

{د النساء سورې لنډه پیژندنه او لوی پیغامونه}

الحمد لله الذي خلق الناس جميعاً من نفس واحدة وصلى الله وسلم على نبيه ورسوله الأمين محمد بن عبد الله الهاشمي القرشي، وعلى آله وصحبه وسلم تسليماً كثيرا.

عزتمنو دوستانو! د النساء مبارکه سوره چې پکې د ښځو حقوق او نکاح په باره کې الله تعالی مومنانو ته خپل ښه ډیر حکمونه او سپارښتنې یادې کړې او بیان کړې دي؛ یوه لو یه مدني سوره ده، یعنی دا مبارکه سوره پر رسول الله ﷺ باندې په مدینه منوره کې د هجرت نه وروسته را نازله سوې ده، نو پدې مبارکه سوره کې الله تعالی مونږ ته د اسلامي ټولنې کورنۍ نظام، ټولنیز حقوق، د یتیمانو حقونه، میراث او د نورو مالي حقونو ساتنه او حفاظت بیان کړئ دئ، او په ځانګړې ډول یې د ښځو او یتیمانو حقونو پر بیان باندې په ډیرې رونتیا سره ټینګار کړئ دئ، نو یقینا چې دغه ارزښتناکه لارښودنې او اسماني حکمونه او سپارښتنې اسلامي ټولنې لپاره ډیر غوره دستور او ښه لارښود پیغام دئ، او په عملي کولو سره یې ټولنه د هر ډول ظلم او بې عدالتۍ نه په امن کې کیږي، او اتحاد او وروروليِ پکې د تل لپاره ر ینبې غزوي او د مومنانو په منځ کې مینه او محبت خور یږي.

{ټول خلک چې د آدم اوحواء کهول دئ الله تقوا ته رابللي دي}

قدرمنو دوستانوو! د النساء مبارکې سورې په پیل کې الله تعالی پر ټولو خلکو باندې غږ کړئ دئ او د دوی د پیدایښت پیل تار یخ یې چې ټول یې د

آدم عليه السلام او حواء نه پيدا كري دي؛ ياد كړئ دئ، او دوی ټول الله تعالى د خپل عذاب نه و يرولي او ځان ساتنې ته يې رابللي دي، او فرمايلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِي خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٖ وَٰحِدَةٖ وَخَلَقَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَبَثَّ مِنۡهُمَا رِجَالٗا كَثِيرٗا وَنِسَآءٗۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِي تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلۡأَرۡحَامَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيبٗا ١﴾

[١] ای خلکو! تاسې ټول د خپل هغه رب او خالق نه ووير يرئ چې تاسې يې د يوه نفس نه [يعنى د يوه پلار نه چې آدم عليه السلام دئ] پيدا كړي ياستى، او د آدم نه يې بيا د هغه جوړه (ميرمن حواء) پيدا كړه، او د دوی دواړو نه يې بيا ډير نار ينه او ښځې د ځمكې پر سر خواره كړل او پكې وې شندل، نو تاسې ای خلكو! د الله نه ووير يرئ [يعنى د الله تعالى سزا نه د هغه حكمونو نه په اطاعت سره؛ خپل ځانونه كلك وساتى] ځكه الله هغه څوك دئ چې تاسې د هغه په نامه [او هغه ته په درنښت او قدر كړو سره چې هغه د ستاسې په زړو كې دئ] د يو بل نه هر څه غواړى، او ای خلكو! خپلوانو سره د خپلوى او صله رحم شكولو او پر يكولو نه كلك ووير يرئ [يعنى خپل ځانونه ورځخه وساتى!] او پدې پوه سئ چې يقينا الله پر تاسې څارن دئ، يعنى دا چې الله تعالى د ستاسې كړنو نه كلكه څارنه كړي او ور باندې ناظر دئ، او بيا هرچا سره حساب كړي او د هغه لائق ثواب او سزا وركوي.

درندو دوستانو! الله تعالى د النساء مباركه سوره د خلكو په رابلنې سره د الله عبادت او بنده ګى ته او د الله عذاب او سزا نه په و يرولو او ګواښلو سره پيل كړي ده، او بيا يې مونږ ته د تقوا او د الله و يرې نه د ځان ساتلو عامل او دليل ياد كړئ دئ، او هغه دا چې ټول خلك الله تعالى د يوه پلار او د يوې مور نه پيدا كري دي، او بيا يې دوی د ځمكې پر سر د نړى په ګوډ ګوډ كې خواره واره شيندلي دي، نو ښايي چې مونږ د خپل لوى څښتن او د پيدا كونكي رب عذاب او سزا نه په اطاعت او بنده ګى سره خپل ځانو نه كلك وساتو، او په ټولنيز ژوند كې د يو بل حق ښه و پيژنو

او هغه پرځای کړو او د یو بل حق ونخورو او یو پر بل باندې تجاوز او تیرۍ ونکړو او حقوق یې د پښو لاندې نکړو.

{د یتیمانو میراث ساتنه فرض ده او ولور ښځې حق دئ}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د یتیمانو حقوق بیان کړی دي او ښځو ته یې په ولور یا مهر ورکولو سره چې هغه د دوی حق دئ؛ ټینګار کړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿وَءَاتُواْ ٱلۡيَتَٰمَىٰٓ أَمۡوَٰلَهُمۡۖ وَلَا تَتَبَدَّلُواْ ٱلۡخَبِيثَ بِٱلطَّيِّبِۖ وَلَا تَأۡكُلُوٓاْ أَمۡوَٰلَهُمۡ إِلَىٰٓ أَمۡوَٰلِكُمۡۚ إِنَّهُۥ كَانَ حُوبٗا كَبِيرٗا ٢ وَإِنۡ خِفۡتُمۡ أَلَّا تُقۡسِطُواْ فِي ٱلۡيَتَٰمَىٰ فَٱنكِحُواْ مَا طَابَ لَكُم مِّنَ ٱلنِّسَآءِ مَثۡنَىٰ وَثُلَٰثَ وَرُبَٰعَۖ فَإِنۡ خِفۡتُمۡ أَلَّا تَعۡدِلُواْ فَوَٰحِدَةً أَوۡ مَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُكُمۡۚ ذَٰلِكَ أَدۡنَىٰٓ أَلَّا تَعُولُواْ ٣ وَءَاتُواْ ٱلنِّسَآءَ صَدُقَٰتِهِنَّ نِحۡلَةٗۚ فَإِن طِبۡنَ لَكُمۡ عَن شَيۡءٖ مِّنۡهُ نَفۡسٗا فَكُلُوهُ هَنِيٓـٔٗا مَّرِيٓـٔٗا ٤﴾

[٢] ای د یتیمانو خپلوانو! د یتیمانو هغه میراث [چې د دوی د پلرونو مرګ او مړ ینې نه وروسته د ستاسې په لاسونو کې پاتې دئ] هغه یتیمانو ته ورکړئ او د دوی ښه او پاک مال د ستاسې په ناکاره مال باندې مه بدلوئ [یعني دا چې د یتیمانو ښه مال تاسې واخلئ او بیا خپل ناکاره مال د هغه پرځای یتیمانو ته ورکړئ!] او د یتیمانو مال خپل مال سره په ګډولو سره مخورئ، او یقینا چې دا د یتیمانو میراث خورل؛ لو یه ګناه ده، یعنی د دې مال خوړونکي به په دنیا او آخرت کې سخت ځواب ورکوی.

قدرمنو دوستانو! او بیا په ور پسې مبارک آیت کې مومنانو ته الله تعالی یتیمانو سره د عدالت په هیله د دوی خپلوانو نه پرته؛ نورو ښځو سره د یوې نه ترځلورو میرمنو پورې واده کړل روا کړي، او فرمایلي دي:

[٣] ای مومنانو! او که چیرې تاسې د دې نه و و یر یدلئ [چې که چیرې تاسې د هغو یتیمانو کونډې میندې چې ستاسې لاس لاندې دي؛ خپلو ځانو ته نکاح کړئ] نو بیا به د یتیمانو سره عدالت او انصاف ونسئ

کړای، نو دا کونډې پر یږدی او د نورو ښځو نه چې خوک د ستاسې خوښیږي او تاسې ته روا دي د دوه دووو سره، او یا د درې در یوو سره، او یا د څلورو سره وا ده وکړی، خو که چیرې و و یر یدلی چې د دوی په منځ کې به عدالت ونسی چلولای، نو بیا د یوې میرمنې سره وا ده وکړی، او یا د خپلو مینځو سره وا ده وکړی، ځکه دا تاسې ته ای مومنانو! غوره او ښه ده، ترڅو ظلم او تیرئ ونکړئ، یعني د دغسې الهي لارښودنو عملي کول؛ تاسې د ظلم او بې عدالتی نه کلک ساتي.

او بیا په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی میړو ته حکم کړئ دئ چې خپلو ښځو ته مهر یا ولور ورکړي، او فرمایلي دي:

[٤] ای میړو! او خپلو هغو ښځو او میرمنو ته چې تاسې ورسره وا ده کړئ دئ؛ د دوی مهر یا ولور [چې هغه د دوی فرضي حق دئ] په خوښی سره ورکړی، خو که بیا دوی په خپله خوښه د خپل مهر او ولور نه تاسې ته بیرته څه شئ ډالی کړل، نو هغه درته روا دئ، او په ښه خوند سره هغه پرته د کم ضرر او ز یان نه ډاډمن وخوری.

{مشران خپلوان د یتیمانو میراث چلونکي واکمنان دي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې د ناپوهو یتیمانو مال او دولت ساتنه الله تعالی د دوی پر مشرانو خپلوانو باندې فرض کړې، او فرمایلي دي:

﴿وَلَا تُؤْتُوا۟ ٱلسُّفَهَآءَ أَمْوَٰلَكُمُ ٱلَّتِى جَعَلَ ٱللَّهُ لَكُمْ قِيَٰمًا وَٱرْزُقُوهُمْ فِيهَا وَٱكْسُوهُمْ وَقُولُوا۟ لَهُمْ قَوْلًا مَّعْرُوفًا ۝٥ وَٱبْتَلُوا۟ ٱلْيَتَٰمَىٰ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغُوا۟ ٱلنِّكَاحَ فَإِنْ ءَانَسْتُم مِّنْهُمْ رُشْدًا فَٱدْفَعُوٓا۟ إِلَيْهِمْ أَمْوَٰلَهُمْ ۖ وَلَا تَأْكُلُوهَآ إِسْرَافًا وَبِدَارًا أَن يَكْبَرُوا۟ ۚ وَمَن كَانَ غَنِيًّا فَلْيَسْتَعْفِفْ ۖ وَمَن كَانَ فَقِيرًا فَلْيَأْكُلْ بِٱلْمَعْرُوفِ ۚ فَإِذَا دَفَعْتُمْ إِلَيْهِمْ أَمْوَٰلَهُمْ فَأَشْهِدُوا۟ عَلَيْهِمْ ۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ حَسِيبًا ۝٦﴾

[٥] او ای د ناپوهو او کم عقله یتیمانو مشرانو خپلوانو او د دوی میراث ساتونکو او چلونکو! تاسې خپل هغه مالونه چې تاسې یې الله ساتونکي کړځولي یاستی؛ هغو کسانو ته مه ورکوی چې دوی ناپوهه او

سـاده ګان دي [يعنى خپل مال او دولت سـم نسـي چلولاى، ځکه دغه مال او دولت تاسې ته الله تعالى] د ژوندانه چارو سـمبالولو وسـيله ګرځولئ ده [يعنى تاسې د خپل ژوند چارې پدې مال سره سمبالوى] خو د همدې مال نه يتيمانو ته خواړه، څښـاک او جامي واخلى، او دغو سـاده او ناپوهو يتيمانو ته چې د سـتاسـې لاس لاندې دي؛ د دود سـره سـم خوړې خبرې (مينه) ورکړى او ښـه ورسـره وکړى، ترڅو دوى د سـتاسـې نه خوښ سـي، يعنى ډاډمن ژوند وکړي او تاسې خپلو پلرونو غوندې وګڼي!

[٦] اى د يتيمانو واکمنو مشـرانو! او کله چې يتيمان د وا ده عمر ته ورسـيدل او زلميان سـول، نو بيا پې وازمايي، نو که بيا چيرې تاسې په دوى کې دا لياقت او وړتيا وليدله چې دوى نور خپلې چارې په هوښـارى سـره سـمبالولاى سي، نو خپل ميراث پې ورته وسـپارى، او اى د يتيمانو واکمنو مشـرانو! د يتيمانو د مال او دولت په مصـرف او خرڅ کې اسـراف مکړى [يعنى هغـه د خپلې اړتيـا نـه ډيـر مـه لږوى او مې مصـرفوى، او د دغو يتيمانو د لو يدلو نه وړاندې؛ د ميراث خوړلو هڅه پې ونکړى، او د يتيمانو واکمنانو نه که څوک غني وي [يعنى د يتيم مال نه مزدورى اخستلو ته اړ او محتاج نه وي] نو دوى ده د يتيمانو مال نه خپل ځان وسـاتي، خو که څوک د يتيمانو واکمنانو نه مسکين وه او څه شئ پې نه درلودل، نو هغه ده د دود سـره سـم د يتيم مال نه خپل خرڅ او مزدوري وا خلي او ودې خوري، او اى د يتيمانو پالونکو واکمنانو! کله چې تاسې يتيمانو ته د دوى ميراث وسـپاره، نو شـاهدان ور باندې تير کړى، ترڅو دوى ته د دوى د حقوقو د رسـيدلو ضـمانت وسـي، او هم د دوى په منځ کې د اختلاف او خفتيان مخه ونيسى، او الله تاسې ته د حساب اخستلو لپاره بس او کافي دئ، يعنى د دغو يتيمانو حقوقو حساب الله درسره کړي!

قدرمنو دوسـتانو! دا دي هغه غوره او ارزښـتناکه اسـماني لارښـودنې او سـپارښـتنې چې پکې الله تعالى د يتيمانو د ښـې پالنې او دوى ته د پلرونو نه پاتې ميراث په سـاتلو کې؛ د دوى واکمنو خپلوانو ته کړې دي، نو هيله ده چې هر مسـلمان ځان ښـه پرې پوه کړي او پرخپلو يتيمانو باندې ښـه

پاملرنه وکړي، او کله چې يتيمان زلميان سول مال دې ورته وسپاري.

{د ميراث و يش الله کړئ او د يتيم مال خوړونکي يې ګواښلي دي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې د مړوسوو کسانو نه پاتې ميراث و يش د دوی وراثانو په منځ کې خپله الله تعالى کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿لِّلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ ٱلْوَٰلِدَانِ وَٱلْأَقْرَبُونَ وَلِلنِّسَآءِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ ٱلْوَٰلِدَانِ وَٱلْأَقْرَبُونَ مِمَّا قَلَّ مِنْهُ أَوْ كَثُرَ ۚ نَصِيبًا مَّفْرُوضًا ۝٧ وَإِذَا حَضَرَ ٱلْقِسْمَةَ أُوْلُواْ ٱلْقُرْبَىٰ وَٱلْيَتَٰمَىٰ وَٱلْمَسَٰكِينُ فَٱرْزُقُوهُم مِّنْهُ وَقُولُواْ لَهُمْ قَوْلًا مَّعْرُوفًا ۝٨ وَلْيَخْشَ ٱلَّذِينَ لَوْ تَرَكُواْ مِنْ خَلْفِهِمْ ذُرِّيَّةً ضِعَٰفًا خَافُواْ عَلَيْهِمْ فَلْيَتَّقُواْ ٱللَّهَ وَلْيَقُولُواْ قَوْلًا سَدِيدًا ۝٩ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَٰلَ ٱلْيَتَٰمَىٰ ظُلْمًا إِنَّمَا يَأْكُلُونَ فِى بُطُونِهِمْ نَارًا ۖ وَسَيَصْلَوْنَ سَعِيرًا ۝١٠﴾

[٧] هغه مال چې مور او پلار د خپلې مړ ينې نه وروسته په ميراث پر ښودې؛ په هغه کې، که ډير وه او که لږ؛ د مړي نار ينه خپلوانو او ښځينه خپلوانو ته ټاکل سوې برخه ده، يعنى د مور او پلار نه پاتې مال ميراث د دوی مشران او کشران زامن او لونه او د دوی نور لنډ خپلوان هر يو خپله ټاکل سوې برخه ميراث وړي، او د هرچا برخه په ميراث کې الله تعالى معلومه کړې او و يشلې ده.

ګرانو دوستانو! د اسلام نه پخوا ښځو او وړو ماشومانو ته ميراث نه ورکول کيده، ځکه د دوی خواړه، ځښاک او جامې د کورنۍ نار ينوو مشرانو پر غاړه ول، خو پدې دود کې انصاف نه وه، نو بيا الله تعالى دا مبارك آيت رانازل کړ او په ميراث کې يې ښځې او ماشومان ټول شر يك کړل او د دوی برخه او حق يې په ميراث کې وټاکه او هغه يې معلوم کړ.

او بيا په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالى سپارښت کړئ دئ چې ای مومنانو! د مړي ميراث تقسيم يا و يش په وخت کې چې کله څه نور

خپلوان، يتيمان او مسکينان حاضر ول؛ دوی هم په څه ورکړې سره و پالی، او فرمايلي دي:

[۸] او د ميراث و يش په وخت کې چې کله نور څه لنډ خپلوان چې په ميراث کې برخه نه لري؛ حاضر سول، او هم که پکې يتيمان او مسکينان حاضر سول، نو دوی ټولو ته د ميراث و يش نه مخکې څه برخه د خوړو او څښاک لپاره ورکړی او د دود سره سم دوی ته خوږې او ښې خبرې وکړی، يعني دا چې دوی ته ډاډ ګيرنه ورکړی او مړي ته يې دعاء وکړی، او که پر مړي د چا څه پور يا قرض وه؛ هغه ده ورته و ښي او د مغفرت دعاء ده ورته وکړي.

[۹] او هغه کسان چې د يتيمانو چارو واکمنان دي ښايي دوی په خپل ذهن او فکر کې؛ هغه حالت پام ته راولي چې که چيرې د دوی نه يې کهول بې وسې يتيمان پاتې سي، نو دوی به پر هغوی باندې د ظلم او زورولو نه [ښه کلک] و ير يږي! نو د يتيمانو دغو واکمنو مشرانو ته ښايي چې د الله نه [ښه کلک] وو ير يږي او خپلو لاس لاندې يتيمانو باندې ده زړه سواندئ ولري، او د دوی د حقوقو ساتونکي ده وي او د پلار نه پاتې ميراث دې ورته ښه کلک وساتي او دوی ده ښه وروزي او تل ده ورته ښه پاملرنه وکړي او ګټورې خبرې او ښه نصيحتونه ده ورته وکړي.

[۱۰] هو! يقينا هغه کسان چې د يتيمانو پر مال او دولت تيرئ کړي او هغه په ظلم سره خوري، نو هغوی، لکه چې په خپلو ګيډو کې اور خوري او د قيامت په ورځ به دوی د دوزخ اور په لمبو کې کړ يږي.

ګرانو عز يزانو! دا هغه لوی ګواښ دئ چې الله تعالی د يتيمانو حقوقو او ميراث خوړونکو ته کړئ دئ او دوی يې د دغسې کلک عذاب نه و يرولي دي، نو ښايي چې مونږ ورځخه ښه پند واخلو او خپل ځانو نه د دغسې سوزونکې او کړوونکې سزا نه کلک وساتو، او هيڅ کله د الله تعالی نيولو نه غافل او په امن کې نسو.

{د ميراث برخې د الله تعالى عدالت په تله و يشل سوې دي}

او بيا الله تعالى د ميراث و يش او تقسيم د لا ډير وضاحت په باره کې مونږ ته سپارښت کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿يُوصِيكُمُ ٱللَّهُ فِيٓ أَوۡلَٰدِكُمۡۖ لِلذَّكَرِ مِثۡلُ حَظِّ ٱلۡأُنثَيَيۡنِۚ فَإِن كُنَّ نِسَآءٗ فَوۡقَ ٱثۡنَتَيۡنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَۖ وَإِن كَانَتۡ وَٰحِدَةٗ فَلَهَا ٱلنِّصۡفُۚ وَلِأَبَوَيۡهِ لِكُلِّ وَٰحِدٖ مِّنۡهُمَا ٱلسُّدُسُ مِمَّا تَرَكَ إِن كَانَ لَهُۥ وَلَدٞۚ فَإِن لَّمۡ يَكُن لَّهُۥ وَلَدٞ وَوَرِثَهُۥٓ أَبَوَاهُ فَلِأُمِّهِ ٱلثُّلُثُۚ فَإِن كَانَ لَهُۥٓ إِخۡوَةٞ فَلِأُمِّهِ ٱلسُّدُسُۚ مِنۢ بَعۡدِ وَصِيَّةٖ يُوصِي بِهَآ أَوۡ دَيۡنٍۗ ءَابَآؤُكُمۡ وَأَبۡنَآؤُكُمۡ لَا تَدۡرُونَ أَيُّهُمۡ أَقۡرَبُ لَكُمۡ نَفۡعٗاۚ فَرِيضَةٗ مِّنَ ٱللَّهِۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمٗا ١١ * وَلَكُمۡ نِصۡفُ مَا تَرَكَ أَزۡوَٰجُكُمۡ إِن لَّمۡ يَكُن لَّهُنَّ وَلَدٞۚ فَإِن كَانَ لَهُنَّ وَلَدٞ فَلَكُمُ ٱلرُّبُعُ مِمَّا تَرَكۡنَ مِنۢ بَعۡدِ وَصِيَّةٖ يُوصِينَ بِهَآ أَوۡ دَيۡنٖۚ وَلَهُنَّ ٱلرُّبُعُ مِمَّا تَرَكۡتُمۡ إِن لَّمۡ يَكُن لَّكُمۡ وَلَدٞۚ فَإِن كَانَ لَكُمۡ وَلَدٞ فَلَهُنَّ ٱلثُّمُنُ مِمَّا تَرَكۡتُمۚ مِّنۢ بَعۡدِ وَصِيَّةٖ تُوصُونَ بِهَآ أَوۡ دَيۡنٖۗ وَإِن كَانَ رَجُلٞ يُورَثُ كَلَٰلَةً أَوِ ٱمۡرَأَةٞ وَلَهُۥٓ أَخٌ أَوۡ أُخۡتٞ فَلِكُلِّ وَٰحِدٖ مِّنۡهُمَا ٱلسُّدُسُۚ فَإِن كَانُوٓاْ أَكۡثَرَ مِن ذَٰلِكَ فَهُمۡ شُرَكَآءُ فِي ٱلثُّلُثِۚ مِنۢ بَعۡدِ وَصِيَّةٖ يُوصَىٰ بِهَآ أَوۡ دَيۡنٍ غَيۡرَ مُضَآرّٖۚ وَصِيَّةٗ مِّنَ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَلِيمٞ ١٢ تِلۡكَ حُدُودُ ٱللَّهِۚ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ يُدۡخِلۡهُ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ وَذَٰلِكَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ١٣ وَمَن يَعۡصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَتَعَدَّ حُدُودَهُۥ يُدۡخِلۡهُ نَارًا خَٰلِدٗا فِيهَا وَلَهُۥ عَذَابٞ مُّهِينٞ ١٤﴾

[١١] ای مومنانو! الله تاسې ته ستاسې د کهول (لونو او زامنو) په باره کې سپارښت او وصیت کړئ دئ [چې کله د ستاسې نه څوک مړ سه او ورځخه نار ینه او ښځینه کهول پاتې سه؛ هغوی ټول د ده کهول دئ او په میراث کې حق لري] او د نار ینه کهول برخه د ښځینه کهول برخې په پرتله دوه برابره ده، او که ټول کهول یې لونه وې او زوی یې نه درلود، او لونه یې دوه او یا د دوه وو نه ډیرې وې، نو د هغوی حق په میراث کې دوه برخې د درې برخو نه دي، او که یوازي یوه لور ورځخه پاتې وه، نو د هغې برخه نیمایي میراث ده، او هغه مړئ چې کهول (لونه او زامن) لري نو مور او پلار ته یې شپږمه برخه د ټول میراث نه رسیږي، خو که کهول یې نه درلود او یوازې مور او پلار یې ورځخه میراث ایوړ، نو مور ته یې در یمه برخه د ټول میراث نه رسیږي او پاتې ټول میراث د پلار حق دئ، او که چیرې ورونه یې درلودل، نو مور ته یې شپږمه برخه رسیږي، خو دا تقسیم او د میراث دا و یش د مړي وصیتونو او د پور او قرض د پر یکولو نه وروسته ترسره کیږي، او ای مومنانو! تاسې نه پوهیږئ چې ستاسې د پلرونو او زامنو نه څوک درته په ګټه رسولو کې لنډ او نزدې دي؟ او د میراث دا و یش د الله له خوا پرتاسې فرض دئ، او یقینا چې الله ښه پوه او لوی حکیم ذات دئ، یعنی د میراث و یش یې په پوره علم او لوی حکمت سره کړئ دئ او د هر چا برخه یې ښه روښانه معلومه کړې ده.

درندو ورونو او خو یندو! الله تعالی د زمونږ پالونکئ څښتن او خالق دئ، او د لوی علم، پوهې او د پاخه حکمت څښتن دئ، نو د میراث تقسیم او و یش یې په پوره عدالت سره کړئ دئ، او د زمونږ خوښې او اختیار ته یې ندئ پرې ایښئ، نو ځکه د دې مبارك آیت په وروستۍ برخه کې الله تعالی فرمایلي دي: ای مومنانو! تاسې نه پوهیږئ چې څوک د ستاسې پلرونو او زامنو نه تاسې ته په ګټه رسولو کې را لنډ او درته نزدې دي؟ نو د میراث دغسی و یش که چیرې د خلکو په خوښه وای؛ دوی به د عاطفې تاثیر لاندې په بې عدالتۍ کې لو یدلې ول، او د دوی وارثانو نه به هرچا خپل حق پوره نوه تر لاسه کړئ.

قدرمنو دوستانو! او په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالى همداسې د نورو وارثانو برخه په ميراث کې ټاکلې او بيان کړې ده، او فرمايلي دي:

[۱۲] ای میړو! او د ستاسې برخه خپلو مړو سوو میرمنو نه په پاتې سوي میراث کې، که دوی کهول نه درلود؛ نیمایي ترکه ده، او که کهول یې درلود، نو بیا د ستاسې برخه د دوی نه په پاتې میراث کې څلورمه برخه ده، او دا برخه میرث وړونکو ته د مړي د وصیتونو پرځای کولو نه وروسته پر دوی و یشل کیږي، او همداسې هغه دوی د پورونو یا قرضونو ورکولو او پر یکولو نه وروسته سره و یشي، او ای میړو! که تاسې کهول نه درلود، نو د ستاسې میرمنو حق ستاسې نه په پاتې میراث کې څلورمه برخه ده، او که تاسې کهول درلود، نو بیا د دوی برخه په میراث کې اتمه برخه ده، او دا برخه به د ستاسې د وصیتونو نافذولو او پر تاسې باندې د قرضونو یا پورونو د ادا کولو او پر یکولو نه وروسته ورته ورکول کیږي، او که چیرې مړۍ داسې نار ینه یا ښځه ؤ چې میراث یې وړونو او خو یندو ته پاتې ؤ، او دی مړي پلار، مور او کهول نه درلود، او یوازې یو ورور او یوه خوریې درلوده، نو د هغوی هر یوه برخه په میراث کې شپږمه ده، او که خو یندې او وړونه یې ډیر ول، نو بیا دوی ټول د میراث په در یمه برخه کې ګډ دي.

[۱۳] او دغه د میراث برخو و یش حکمونه چې دلته بیان سول؛ هغه د الله د حکمونو حدود او پولې دي چې خپلو مومنو بنده ګانو ته یې ښودلې او ټاکلې دي، او هرڅوک چې د الله او د هغه پیغمبر فرمان یوسي، نو دوی الله هغې جنتونو ته ورننه باسي چې پکې د روانو او بو و یالې بهیږي، او دوی به هلته پکې تل اوسیږي، او دا ورکړه او انعام لو یه بر یا او لاسته راوړنه ده، یعنی هغه مومنانو ته الله تعالى د آخرت په ورځ ور په برخه کوي او دوی به هلته د لو یو جنتونو نه خوند اخلي.

[۱٤] او هر هغه څوک چې د الله او د هغه پیغمبر نافرماني وکړي او د الله حلالو او حرامو حدودو او پولو نه واوړي او هغه د پښولاندې کړي، نو دا کس الله د دوزخ اور ته ورننه باسي او بیا به هلته پکې تل کړ یږي او دوزخیانو ته سپکونکئ عذاب تیار سوئ ده!

درندو دوستانو! الله تعالى په دغو مبارکو آيتونو کې د ميراث اړوند ټول حکمونه، لارښودنې او سپارښتنې مونږ ته يادې کړې او په ډيرې روښتيا سره يې بيان کړې دي، ترڅويې په عملي کولو سره په ټولنه کې د يتيمانو، ښځو او په ميراث کې د ټولو مستحقو کسانو حقوق په پوره عدالت سره وساتل سي، او هر بې وسعې او بې وزره غړي ته يې خپل حق ورکړل سي، او پدې کار سره په ټوله اسلامي ټولنه کې مينه، محبت، ورورې او عدالت ټينګيږي او د کورنيو په منځ کې د کينو، کرکو او نفرت راپار يدلو مخنيوئ کيږي او خپلوي پکې ښه ټينګيږي.

{د زنا تور ثبوت لپاره څلور شاهدان پکار دي}

قدرمنو ورونو، خو يندو! او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د هغو ښځو په باره کې چې په فحشاء تورنې سوې دي؛ قضايي حکمونه او لارښودنې او بيا يې د ګناه نه د توبې و يستلو حکمونه او آداب بيان کړی دي، او فرمايلي دي:

﴿وَٱلَّٰتِي يَأۡتِينَ ٱلۡفَٰحِشَةَ مِن نِّسَآئِكُمۡ فَٱسۡتَشۡهِدُواْ عَلَيۡهِنَّ أَرۡبَعَةٗ مِّنكُمۡۖ فَإِن شَهِدُواْ فَأَمۡسِكُوهُنَّ فِي ٱلۡبُيُوتِ حَتَّىٰ يَتَوَفَّىٰهُنَّ ٱلۡمَوۡتُ أَوۡ يَجۡعَلَ ٱللَّهُ لَهُنَّ سَبِيلٗا ١٥ وَٱلَّذَانِ يَأۡتِيَٰنِهَا مِنكُمۡ فَـَٔاذُوهُمَاۖ فَإِن تَابَا وَأَصۡلَحَا فَأَعۡرِضُواْ عَنۡهُمَآۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ تَوَّابٗا رَّحِيمًا ١٦﴾

[١٥] ای مومنانو! او د ستاسې ښځو نه چې هرڅوک زنا وکړي، نو پر دوی باندې د ستاسې نه څلور شاهدان تير کړی، نو بيا چې دغو شاهدانو ور باندې د زنا شاهدي وو يله، نو بيا دوی په کورونو کې کينوی، ترڅويې مرګ مړې کړي او يا دوی ته الله د خلاصون لار بيامومي، يعنی يا الله تعالى د زنا په تور دغو ښځو ته کمه بله سزا وټاکي.

ګرانو ورونو، خو يندو! زنا کونکو ښځو ته دغه سزا د اسلام په لمړ يو کلونو کې الله تعالى ټاکلې ؤ ترڅو چې بيا د دې مبارک آيت وروستۍ برخې شرط سره سم زنا کونکو ښځو ته د الله لخوا د جيل يا بندی خانې

نه د خلاصـون لار رانازله سـي، نو بيا د نورو مبارکو آيتونو په را نازليدو سره دغه په کورونو کې د کينولو سزا زنا کارو ښځو ته منسوخه سوه، او د زنا کونکو پيغلو سـزا سـل دورې وهل وتآکل سـول، او د ميړونښـو زنا کونکو ښځو سـزا رجم يا سـنګ سـار وتاکل سـه، لکه څنګه چې د امام مسلم په صحيح کې او د نورو محديثنو په کتابونو کې روايت سـوئ دئ، هوا! عبادة بن الصامت رضي الله عنه د رسـول الله صلى الله عليه وسلم نه روايت کړئ دئ چې رسـول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: دا حکم زما نه واخلئ! نو پدې سره دغو زنا کونکو ښځو ته الله د خلاصـون لار پيدا کړه، او که چيرې زلمي د پيغلې سـره زنا وکړه، نو هر يو سـل درې وهل کيږي او بيا زلمئ يو کال د خپل کلي او کور نه بل لرې ځای ته شـړل کيږي [او دغه د کلي نه شـړلو سـزا اوس په زاندان يا جيل کې په اچولو بدله سـوې ده] خو د امام ابوحنيفه په مذهب کې زنا کونکي زلمئ د کلي نه نه شـړل کيږي، بلکې يوازې په درو وهل کيږي، او که د واده څښتن نار ينه ميړونې ښځې سره زنا وکړه، نو دواړه په تيګو يا کانو سره و يشتل کيږي، او د رجم سزا ور باندې جاري کيږي، يعنی محصن زنا کونکي، نر او ښځه؛ د تيګو په و يشتلو سره سنګسار يږي او وژل کيږي.

او په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالى زنا کوونکو ته د توبې و يستلو ور يا دروازه همداسې پرانيستې پرې ايښې ده، او فرمايلي دي:

[١٦] ای مومنانو! او هغه نار ينه او ښځه چې د ستاسې نه په فاحشه ګناه کې لو يږي [يعنی د يو بل سره زنا کړي] نو دوی دواړو ته سزا ورکړی، نو که بيا دوی دواړو تو به وايستله او اصلاح سول او د بدو کړنو نه پې لاس واخسـت، نو بيا دوی ته د سـزا ورکولو نه نور تير سی، او يقينا چې الله ښه تو به قبلونکئ او ښه مهر بان لوی ذات دئ.

قدرمنو وروڼو او خو يندو! د دې مبارك آيت حکم چې زنا کونکو ته سزا ورکول دي؛ دا هم د مخکې تير سـوي آيت حکم غوندې د نورو آيتونو په رانازليدلو سره چې د زنا فاحشې سزا په درو وهل او يا رجم دئ؛ منسوخ سـوئ دئ، او هغسې سـزا ورکول چې وهل او بندي کول ول؛ هغه د اسلام په لمړ يو کلونو کې ول، او بيا دا مبارك آيتونه په تلاوت کې همداسې پاتې

سول، خو حکم يې منسوخ سه، او د تلاوت ګټه يې دا ده چې ترڅو مونږ پدې پوه سو چې په اسلام کې شرعي حکمونه او حدود ورو ورو په تدريج سره راغلي دي، او الله تعالى په خپل لوی علم او په پاخه حکمت سره دا حکمونه د حالاتو سره سم رانازل کړي دي، نو ښايي چې اسلام ته رابلونکي دعات دغسې نزاکتونه تل په پام کې ونيسي او په پوره حکمت، هوښارۍ او په تدريج سره د شرعي حدودو چلولو غوښتونکی سي.

{په ناپوهۍ سره د ګناه کړونکي تو به ژر قبليږي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى هغو ګناهکارانو ته چې په ناپوهۍ کې يې ګناه کړې وي؛ ز يرئ ورکړئ دئ چې د دوی تو به د ګناه نه ډيره ژر قبليږي، او په بيان کې الله تعالى فرمايلي دي:

﴿إِنَّمَا ٱلتَّوۡبَةُ عَلَى ٱللَّهِ لِلَّذِينَ يَعۡمَلُونَ ٱلسُّوٓءَ بِجَهَٰلَةٖ ثُمَّ يَتُوبُونَ مِن قَرِيبٖ فَأُوْلَٰٓئِكَ يَتُوبُ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمۡۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمٗا ١٧ وَلَيۡسَتِ ٱلتَّوۡبَةُ لِلَّذِينَ يَعۡمَلُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ حَتَّىٰٓ إِذَا حَضَرَ أَحَدَهُمُ ٱلۡمَوۡتُ قَالَ إِنِّي تُبۡتُ ٱلۡـَٰٔنَ وَلَا ٱلَّذِينَ يَمُوتُونَ وَهُمۡ كُفَّارٌۚ أُوْلَٰٓئِكَ أَعۡتَدۡنَا لَهُمۡ عَذَابًا أَلِيمٗا ١٨﴾

[۱۷] هو! يقينا چې پر الله د هغو کسانو د توبې قبليدو او منلو حق دئ چې دوی په ناپوهۍ سره بد کړي او په ګناه کې لو يږي، خو بيا د ګناه نه ډير ژر او په لنډ وخت کې تو به باسي، نو همدا کسان دي چې الله يې تو به قبلوی، ځکه الله ښه پوه او لوی حکيم ذات دئ.

هو! درندو دوستانو! الله تعالى د دغسې کسانو تو به قبلوي، ځکه چې دوی د ګناه بد عاقبت او سختې سزا نه غافل او بې خبره ول، خو کله چې يې پام سه کوري چې دوی په لو يه ګناه کې لو يدلي دي او الله تعالى پر دوی باندې په غوصه دئ، نو بيا يې ژر الله ته مخ واړا وه او د خپلې ګناه نه پښيمانه سول او تو به يې وايستله.

[۱۸] او د توبې د غسې قبليدل هغو کسانو لپاره ندي چې دوی تر

هغې ورځې پورې بد کړي چې ترڅو بيا د دوی هر يوه پرسر مرګ او مړ ينه ودر يږي، نو بيا وايي چې ما خو اوس تو به وايستله! او د هغو کسانو توبه هم نه قبليږي چې دوی په کفر کې مړه سي، ځکه دوی هغه کسان دي چې مونږ ورته دردونکئ عذاب تيار کړئ دئ!

قدرمنو وروڼو او خو يندو! هرڅوک چې د مرګ او مړ ينې وخت را رسيدلو پورې په ګناه کې لګيا او پکې ډوب وي، نو الله تعالى د دوی تو به نه قبلوی، او همدارنګه الله تعالى د هغو کسانو تو به نه قبلوي چې دوی په خپل کفر کې مړه سي او ايمان را نوړي، او دغو ګناه ګارانو او هغو کافرانو ته چې بې ايمانه د دنيا نه لاړ سي؛ الله تعالى کلکه سزا او دردونکئ عذاب په دوزخ کې تيار کړئ دئ، نو دعاء کړو چې الله ده مونږ مومنان د دغسې تور سر نوشت او بد برخليک نه په خپل فضل سره وساتي.

{د ميړو خپلوان د دوی کونډې په ميراث وړای نسي}

قدرمنو وروڼو او خو يندو! او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د اسلام نه پخوا د جاهليت زمانې هغه ناروا دودونه حرام اعلان کړي دي چې د خلکو په منځ کې يې رواج درلود او هرچا به د خپلوانو کونډې ميرمنې ځان ته ميراث ګڼلې او په زور بې ورسره وا ده که، او يا بې دغه کونډې په کور کينولې او پرديو سره بې وا ده ته نه پر يښودلې، او فرمايلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا يَحِلُّ لَكُمۡ أَن تَرِثُواْ ٱلنِّسَآءَ كَرۡهٗاۖ وَلَا تَعۡضُلُوهُنَّ لِتَذۡهَبُواْ بِبَعۡضِ مَآ ءَاتَيۡتُمُوهُنَّ إِلَّآ أَن يَأۡتِينَ بِفَٰحِشَةٖ مُّبَيِّنَةٖۚ وَعَاشِرُوهُنَّ بِٱلۡمَعۡرُوفِۚ فَإِن كَرِهۡتُمُوهُنَّ فَعَسَىٰٓ أَن تَكۡرَهُواْ شَيۡـٔٗا وَيَجۡعَلَ ٱللَّهُ فِيهِ خَيۡرٗا كَثِيرٗا ١٩ وَإِنۡ أَرَدتُّمُ ٱسۡتِبۡدَالَ زَوۡجٖ مَّكَانَ زَوۡجٖ وَءَاتَيۡتُمۡ إِحۡدَىٰهُنَّ قِنطَارٗا فَلَا تَأۡخُذُواْ مِنۡهُ شَيۡـًٔاۚ أَتَأۡخُذُونَهُۥ بُهۡتَٰنٗا وَإِثۡمٗا مُّبِينٗا ٢٠ وَكَيۡفَ تَأۡخُذُونَهُۥ وَقَدۡ أَفۡضَىٰ بَعۡضُكُمۡ إِلَىٰ بَعۡضٖ وَأَخَذۡنَ مِنكُم مِّيثَٰقًا غَلِيظٗا ٢١﴾

[١٩] هوا! ای مومنانو! تاسې چې پر الله او د هغه پر پيغمبر باندې

ایمان راوړئ دئ [یعنی د الله تعالی د شـر یعت حکمونه منئ، نو درته روا نده چې د خپلوانو مړو نه پاتې سـوې کوندې میرمني په زور ځانو ته] په میراث یوسئ، او دغه کوندې بل چا سـره د وا ده کړلو نه مه منعې کوئ، ترڅو تاسـې د دوی مهر او ولور نه چې هغه تاسـې دوی ته ورکړئ دئ؛ څه برخه بیرته لاس ته راوړئ، خو که د دغو کوندو ښځو نه څوک په ښکاره فحشاء باندې تورنې سي [یعنی نو بیا دوی ته سزا ورکول او په کور کینول تاسـې ته روا دي] او ای مومنانو! خپلو میرمنو سـره د دود سـره سـم ښـه چلند وکړئ او که د دوی نه د ستاسې کرکه کیدله او خوښې مو نوې، نو هغه وګالئ، ځکه کیدای سـي چې د یو څه نه سـتاسـې کرکه راسـي او هغه ستاسې خوښ نه وي، خو الله پکې ډیر خیر او ګټه واچوي.

[۲۰] او ای مومنانو! که تاسـې وغوښـتل چې د خپلې ښـځې پرځای بله ښځه وکړئ او هغې ته تاسې ډیر مهر او ولور ورکړئ وي، نو د هغې مهر نه هیڅ څه شئ بیرته وانخلئ، او یا دا چې تاسې غواړئ په پلمو او بهتان سـره [چې هغه ښـکاره ګناه ده] د دغې میرمنې د ولور نه څه شـئ بیرته واخلئ؟ ځواب: نا! یعنی تاسې ته نه ښایې چې د هغوی ولور نه څه شئ بیرته واخلئ!

[۲۱] هو! څنګه به تاسـې ای مومنانو! دا ولور بیرته واخلئ، حال دا چې تاسـې د یو بل سـره یوځای سـوي یاسـئ او سـره ملاسـت یي، او دغو میرمنو د سـتاسـې نه کلک هوډ اخسـتئ دئ چې تاسـې به د دوی سـره ښـه کړئ، یعنی هیڅ کله به پردوی باندې ظلم او تیرئ نکړئ!

عزتمنو ورونو، خو یندو! یقینا چې دا قرآني لارښودنې او الهي اعلان د ښـځو حقوقو نه د سـاتنې او ورڅخه د دفاع په ډګر کې؛ هغه غوره او عظیم اعلان دئ چې د بشـري ټولنو په تار یخ کې سـارئ او بیلګه نه لري، او دا دئ اوس اوس سلهاوو کاله وروسته د نن ورځې په غیر اسلامي ټولونو کې دا پیغام داسـي بدرګه سـوئ دئ، لکه چې یوازې دوی د ښـځو حقوقو ساتونکي او پالونکي دي، حال دا چې قرآن کر یم د ښځو دا حق سلهاوو کلونه پخوا اعلان کړئ دئ، خو د دې سره سره بیا هم د کافرانو په ټولنو کې د ښځو لوړ مقام او انساني حیثیت په ډیرو برخو کې د بې پولو آزادیو په انګړ کې ضـائع سـوئ دئ، او د ښـځې او نار ینه په منځ کې د مطلق مساوات او برابرئ تر شعار لاندې؛ دا حقوق د پښـو لاندې سـوي دي!

{د محرمو ښځو سره چې څوارلس ميرمنې دي واده روا ندئ}

درندو وروڼو، خو يندو! او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى په ډير روښتيا او تفصيل سره مونږ ته هغه څوارلس محرمې ښځې چې د زمونږ خپلوانې دي او نکاح ورسره روا نده؛ را پېژندلې دي، او فرمايلي دي:

﴿وَلَا تَنكِحُواْ مَا نَكَحَ ءَابَآؤُكُم مِّنَ ٱلنِّسَآءِ إِلَّا مَا قَدۡ سَلَفَۚ إِنَّهُۥ كَانَ فَٰحِشَةٗ وَمَقۡتٗا وَسَآءَ سَبِيلًا ٢٢ حُرِّمَتۡ عَلَيۡكُمۡ أُمَّهَٰتُكُمۡ وَبَنَاتُكُمۡ وَأَخَوَٰتُكُمۡ وَعَمَّٰتُكُمۡ وَخَٰلَٰتُكُمۡ وَبَنَاتُ ٱلۡأَخِ وَبَنَاتُ ٱلۡأُخۡتِ وَأُمَّهَٰتُكُمُ ٱلَّٰتِيٓ أَرۡضَعۡنَكُمۡ وَأَخَوَٰتُكُم مِّنَ ٱلرَّضَٰعَةِ وَأُمَّهَٰتُ نِسَآئِكُمۡ وَرَبَٰٓئِبُكُمُ ٱلَّٰتِي فِي حُجُورِكُم مِّن نِّسَآئِكُمُ ٱلَّٰتِي دَخَلۡتُم بِهِنَّ فَإِن لَّمۡ تَكُونُواْ دَخَلۡتُم بِهِنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡكُمۡ وَحَلَٰٓئِلُ أَبۡنَآئِكُمُ ٱلَّذِينَ مِنۡ أَصۡلَٰبِكُمۡ وَأَن تَجۡمَعُواْ بَيۡنَ ٱلۡأُخۡتَيۡنِ إِلَّا مَا قَدۡ سَلَفَۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ٢٣﴾

[٢٢] ای مومنانو! او د خپلو پلرونو ښځو (ميرو) سره واده مکړئ، خو هغه څه چې مخکې په جاهليت کې تير سوي دي پر هغو تاسې نه نيول کيږئ، او يقينا چې دا [د پلرونو کونډو سره واده کړل] ډيره کرکجنه کړنه او ناوړه لار او دود وه.

[٢٣] او ای مومنانو! پر تاسې باندې خپلې ميندې، لوڼې، خوندې او د مور او پلار لـه پلوه تروړکانې (عمې او خالې) او ور يرې او خورځې حرامې دي، او هم پر تاسې باندې د ستاسې رضاعي ميندې او خو يندې حرامې دي، او هم در باندې خوابنې حرامه ده، او هم د ستاسې د ميرمنو پخوانيو ميړو نه پاتې لوڼې (برکتې) چې ستاسې سره اوسيږي در باندې حرامې دي، خو پدې شرط چې تاسې د خپلو دغو ميرمنو سره ملاست وئ او که ورسره ملاست نه وئ، نو بيا پروا نکړي چې د دوئ لوڼو سره واده

وکړي، او هم د خپلو سکه زامنو ښځې (نکندې) پر تاسې باندې حرامې دي، او هم د دوه خو يندو سره يوځای په يوه وخت کې نکاح پر تاسې باندي حرامه ده، خو هغه څه چې د اسلام نه پخوا تير سوي دي او يو چا د دوه خو يندو سره يوځای واده کړئ وي، نو پر هغه نه نيول کيږي، او يقينا چې الله لوی بښونکئ او ښه مهر بان ذات دئ، او هرڅوک چې د خپلې پخوانۍ ګناه نه تو به و باسي الله پې بښي او هيڅ څوک الله د خپلې وسعې نه په وتلو او په ډيرو کړنو نه ګماري.

ګرانو دوستانو! او همدا راز رسول الله ﷺ نه په روايت سوي مبارک حديث کې د ور يرې او خورځې يوځای کول په نکاح کې د دوی عمې او خالې سره حرام دي.

{ مينځو سره واده روا دئ او هغه متعه نده }

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی ميړوښو ښځو سره وا ده حرام کړئ دئ، او بيا پې هغو کسانو ته چې د پاکو ازادو ښځو سره د واده کړو وسعه نه لري؛ د مينځو سره وا ده روا کړئ دئ او دغو مينځو ته مهر ورکول متعه يا مؤقتي نکاح نه ګڼل کيږي، او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿وَٱلْمُحْصَنَٰتُ مِنَ ٱلنِّسَآءِ إِلَّا مَا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُكُمْ ۖ كِتَٰبَ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ ۚ وَأُحِلَّ لَكُم مَّا وَرَآءَ ذَٰلِكُمْ أَن تَبْتَغُوا۟ بِأَمْوَٰلِكُم مُّحْصِنِينَ غَيْرَ مُسَٰفِحِينَ ۚ فَمَا ٱسْتَمْتَعْتُم بِهِۦ مِنْهُنَّ فَـَٔاتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ فَرِيضَةً ۚ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا تَرَٰضَيْتُم بِهِۦ مِنۢ بَعْدِ ٱلْفَرِيضَةِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿٢٤﴾ وَمَن لَّمْ يَسْتَطِعْ مِنكُمْ طَوْلًا أَن يَنكِحَ ٱلْمُحْصَنَٰتِ ٱلْمُؤْمِنَٰتِ فَمِن مَّا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُكُم مِّن فَتَيَٰتِكُمُ ٱلْمُؤْمِنَٰتِ ۚ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِإِيمَٰنِكُم ۚ بَعْضُكُم مِّنۢ بَعْضٍ ۚ فَٱنكِحُوهُنَّ بِإِذْنِ أَهْلِهِنَّ وَءَاتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ بِٱلْمَعْرُوفِ مُحْصَنَٰتٍ غَيْرَ مُسَٰفِحَٰتٍ وَلَا مُتَّخِذَٰتِ أَخْدَانٍ ۚ فَإِذَآ أُحْصِنَّ فَإِنْ أَتَيْنَ بِفَٰحِشَةٍ فَعَلَيْهِنَّ نِصْفُ مَا عَلَى

ٱلْمُحْصَنَٰتِ مِنَ ٱلْعَذَابِ ۚ ذَٰلِكَ لِمَنْ خَشِىَ ٱلْعَنَتَ مِنكُمْ ۚ وَأَن تَصْبِرُوا۟
خَيْرٌ لَّكُمْ ۗ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٢٥﴾ يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيُبَيِّنَ لَكُمْ وَيَهْدِيَكُمْ
سُنَنَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ وَيَتُوبَ عَلَيْكُمْ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿٢٦﴾ وَٱللَّهُ
يُرِيدُ أَن يَتُوبَ عَلَيْكُمْ وَيُرِيدُ ٱلَّذِينَ يَتَّبِعُونَ ٱلشَّهَوَٰتِ أَن تَمِيلُوا۟
مَيْلًا عَظِيمًا ﴿٢٧﴾ يُرِيدُ ٱللَّهُ أَن يُخَفِّفَ عَنكُمْ ۚ وَخُلِقَ ٱلْإِنسَٰنُ ضَعِيفًا ﴿٢٨﴾

[٢٤] ای مومنانو! او د میړونښو ښځو سره نکاح ټړل پر تاسې باندې حرام دي، خو که دوی د ستاسې مینځې سوې [یعنی که دغه میړونښې ښځې د دښمن نه په جګړه کې برمته سوې او په غاز یانو باندې وو یشل سوې او د دوی مینځې سوې، نو بیا د هغوی سره واده کړل روا دي، ځکه دغه ښځې چې کله مینځې سي، نو بیا د خپلو پخوانیو میړو نه په خپل سر خوسې کیږي او خپل بادر یا څښتن ته روا کیږي، خو البته په اوس وخت کې دغه د مینځو دود په نوي نړ یوال نظام کې له منځه تللئ دئ، نو مریي او مینځې په اوسنۍ ټولنه کې نسته] او ای مومنانو! او د دغو محرمو ښځونه پرته [یعنی هغه چې په وړاندې مبارکو آیتونو کې یې بیان وسه] د نورو ټولو پاکو لمنو میرمنو سره د خپل مال په ورکولو سره؛ وا ده وکړۍ او هغوی وغواړۍ، خو پدې شرط چې د ستاسې مقصد په وا ده کې د زنا نه ځان ساتنه وي، یعنی د مینځو سره د تل پاتې نکاح په مقصد وا ده وکړۍ نه موقتی وا ده، او کله چې تاسې ای مومنانو! په دغسې شرعي نکاح سره د دوی نه خوند واخست، نو دوی ته یې فرضي مهر یا ولور ورکړۍ، او د فرضي مهر نه وروسته که په کم بل څه باندې سره جوړ او موافق سوۍ، نو پر تاسې څه ګناه نسته [یعنی د فرضي مهر ټاکنې نه وروسته کولای سۍ نور کم څه پکې ورډیر او یا یې را کم کړۍ] او یقینا چې الله د خپلو بنده ګانو پر حال ښه پوه دئ، او د چارو په چلولو کې یې ښه پوهه او علم لري، او الله لوی حکیم ذات دئ، یعني د الله تعالی ټول حکمونه په لوی علم او پوره حکمت او ښه تدبیر سره بیان سوي او روا سوي دي.

[٢٥] ای مومنانو! او هغه څوک چې د ستاسې نه مالي وسعه نه لري،

ترڅو پاکو لمنو آزادو مومنو میرمنو سره واده وکړي او مهر یې ورکړی، نو بیا ده دئ د خپلو مینځو نه د مومنو پیغلو سره واده وکړي او مهر دې ورکړي، او الله د ستاسې په ایمان ښه پوه دئ، او تاسې د یو بل برخه یاستی، نو د یو بل سره د واده کړو نه ډ ډه مکړی، او کله چې تاسې دغو ښځو سره واده وکه، نو بیا د هغوی مهر یا ولور د دود سره سم ورکړی، او دغه مینځې چې تاسې ورسره واده کړی ښایي پاکې وي [یعنی زنا کاري نه وي او بل څوک لونډه ونه لري] او کله چې د دغو مینځو عفت او پاکې په واده کړو سره خوندي سي، نو که بیا دوی زنا وکړه؛ د دوی سزا د پاکو ازادو پیغلو ښځو سزا په پرتله [چې سل درې وهل دي] نیمایي ده [یعنی پیغله مینځه پنځوس درې وهل کیږي] او ای مومنانو! د مینځو سره واده کړل د ستاسې نه هغه چا ته روا دئ چې دئ ډیر په تکلیف وي او پر خپل ځان باندې د زنا نه و یر یږي، خو که تاسې صبر وکه او ځانونه مو وساتل، نو دغسې صبر او زغم تاسې ته ښه دئ او پکې خیر دئ، یعني د مینځو سره د واده کړو نه په صبر کې تاسې ته ای مومنانو! خیر دئ، او الله لوی بښونکئ او ښه مهر بان ذات دئ، نو ځکه یې دا حکمونه تاسې ته ای مومنانو! روا کړي دي، ترڅو ښاد او خوښ ژوند ولری.

هو؛ درندو وروښو او خو یندو! دا حقیقت ښه روښانه دئ چې د وا ده نه مقصد د کورنۍ جوړول دي، نو ښایي د ناوې په خوښولو کې ژور فکر وسي او مومنان پکې تلوار ونکړي او د ناپاکو ښځو سره وا ده ونکړي، ترڅو یې نسل همداسې پاک وز یر یږي او ښه صالح کهول یې په برخه سي چې دنیا او آخرت یې پرې ښاد سي.

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی مومنان په وا ده کې د خپلو دغسې حکمونو مقصد نه خبر کړي او ډاډمن کړي دي، او فرمایلي دي:

[٢٦] ای مومنانو! او الله غواړي چې د دغو حکمونو په بیانولو سره تاسې ته د خپل دین سمه لار وښیي او تاسې د هغو کسانو درندو دودونو نه چې پخوا تیر سوي دي؛ پوره خبر کړي او د ستاسې توبې قبولې کړې [یعنی د ګناه نه تاسې پاک کړی] ځکه الله ښه پوه لوی حکیم ذات دئ،

يعنی پرخپله ښه پوهه او لوی حکمت سره يې تاسې ته دغه حکمونه بيان کړي او ښودلې دي، ترڅو تاسې ورڅخه ګټه واخلی.

[٢٧] او ای مومنانو! الله غواړي چې د ستاسې توبې قبولې کړي او د ستاسې تيروتنو نه تير سي او عفوه درته وکړي، خو هغه کسان چې د خپلو ځاني غوښتنو، خواهشاتو او د هغو نه خوند اخستلو پسې ځي؛ دوی غواړي چې تاسې د الله دين حکمونو نه بلې خوا ته واړوي او د سې لارې نه تاسې ښه ډير ورک کړي، يعنې کافران چې د الله حق دين نه مني؛ غواړي مومنان هم د سې لارې نه ورک کړي، نو مومنانو ته ښايي چې کافرانو پسی لاړ نسي، او پر سمه لار چې هغه د ټولو پخوانيو پيغمبرانو لار ده لاړ سي او په هغه کلک ودر يږي.

[٢٨] او ای مومنانو! الله غواړي چې د ستاسې ژوند پيټۍ درڅخه سپک کړي، ځکه انسان ضعيفه پيدا سوئ دئ، يعنی ډير ژر د دنيا ژوند خوندو پسې ځي او غوليږي!

هو؛ قدرمنو ورونو او خو يندو! الله تعالی چې د زمونږ پيدا کونکئ او پالونکئ لوی ځښتن دئ، نو د خپلو بنده ګانو په حال ښه پوهيږي او د دوی د وسعې سره سم يې دين او شر يعت ورته را ليږلی دئ، خو که د دې سره سره بيا هم څوک ګناه وکړي او بيا ژر تو به و باسي او پر خپله ګناه پښيمانه سي، نو الله يې بښي او تو به يې قبلوي!

{په مومنانو باندې د يو بل پر سر او مال تيرئ حرام دئ}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی د مال او نفس پر ساتنه ټينګار کړئ دئ او تيرئ يې ور باندې لو يه ګناه ګڼلې ده، او فرمايلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَأۡكُلُوٓاْ أَمۡوَٰلَكُم بَيۡنَكُم بِٱلۡبَٰطِلِ إِلَّآ أَن تَكُونَ تِجَٰرَةً عَن تَرَاضٖ مِّنكُمۡۚ وَلَا تَقۡتُلُوٓاْ أَنفُسَكُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِكُمۡ رَحِيمٗا ٢٩ وَمَن يَفۡعَلۡ ذَٰلِكَ عُدۡوَٰنٗا وَظُلۡمٗا فَسَوۡفَ نُصۡلِيهِ نَارٗاۚ وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرًا ٣٠ إِن تَجۡتَنِبُواْ كَبَآئِرَ مَا تُنۡهَوۡنَ

عَنْهُ نُكَفِّرْ عَنكُمْ سَيِّـَٔاتِكُمْ وَنُدْخِلْكُم مُّدْخَلًا كَرِيمًا ﴿٣١﴾

[٢٩] اى هغو كســانو چې تاســې پر الله او پر پيغمبر باندې ايمان راوړئ دئ [يعنى د خپل دين په حكمونو او ســپارښــتنو باندې عمل كړى] نو تاســې د يو بل مال او حق په ناوړا ســره مخورئ، مګر دا چې د يو بل سره په خوښه تجارت او سودا كړي وكړئ [يعنى په تجارت كې د يو بل نه ګټه وكړئ] او اى مومنانو! خپل ځانونه مه وژنئ [يعني يو بل مه وژنئ او هغــې څه مكړئ چې د ســتاســې هلاكت او د مرګ ســبب وكړئ] او يقينا چې الله پر تاســې باندې ښــه مهر بان او لوى خداى دئ، يعنى نو څكه يې دا لارښودنې تاسې ته كړې دي، او په ناحقه سره يې د يو بل مال خوړل او ځان وژل پر مومنانو باندې حرام كړي دي.

او بيا الله تعالى په ور پسې مبارك آيت كې فرمايلي دي:

[٣٠] او هر هغه څوك چې په ظلم او تيري ســره دغه ناروا كارونه وكړي، نو دئ به د دوزخ اور په لمبو كې وكړوو، او دغــې ســزا وركول الله ته اسانه دي.

هو؛ درندو دوستانو! د لويې ګناه سزا د دوزخ اور په لمبو كې كړ يدل دي، او وړې ګناه وې الله تعالى تو يوي او ګناه كونكئ ښئي، لكه څنګه چې يې په بيان كې په ور پسې مبارك آيت كې فرمايلي دي:

[٣١] او اى مومنانو! كه چيرې تاســې د دغــې لو يو ګناه وونه چې تاســې ورځخه منع ســوي ياســتئ؛ خپل ځانو نه وســاتئ، نو مونږ به د ستاسې نورې ګناه وې چې هغه وړې ګناه وې دي درځخه لرې او تويې كړو او تاسې به د عزت او پالنې ځاى ته چې جنت دئ ورننه باسو.

{مومنان الله د كينو او حسد نه منع كړي دي}

او په ور پســې مباركو آيتونو كې الله تعالى مومنان د حســد او د كينو نه په كلكه سره منع كړې دي، او فرمايلي دي:

﴿وَلَا تَتَمَنَّوْا۟ مَا فَضَّلَ ٱللَّهُ بِهِۦ بَعْضَكُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ ۚ لِّلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا

ٱكۡتَسَبُواْۖ وَلِلنِّسَآءِ نَصِيبٞ مِّمَّا ٱكۡتَسَبۡنَۚ وَسۡـَٔلُواْ ٱللَّهَ مِن فَضۡلِهِۦٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٗا ٣٢ وَلِكُلّٖ جَعَلۡنَا مَوَٰلِيَ مِمَّا تَرَكَ ٱلۡوَٰلِدَانِ وَٱلۡأَقۡرَبُونَۚ وَٱلَّذِينَ عَقَدَتۡ أَيۡمَٰنُكُمۡ فَـَٔاتُوهُمۡ نَصِيبَهُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ شَهِيدًا ٣٣

[٣٢] ای مومنانو! او هغه څه چې [الله تعالی په خپلو ورکړو سره] د ستاسې نه ځینې کسان پر ځینو نورو باندې لوړ کړي او پورته کړي دي؛ تاسې د هغو هیله او طمعه مکړئ [یعنی هغه خپلو ځانو ته مه غواړئ، او هغه دا چې ځینو کسانو ته الله تعالی پر ځینو نورو باندې ډیر مال او دولت، لوړ مقام او عزت ورکړئ دئ، نو تاسې ای مومنانو! دغسې مال او عزت چې الله بل چا ته ورکړئ دئ؛ ځان ته مه غواړئ، ځکه] هرچا چې د نار ینوو نه څه کټلي دي په هغه کې د دوی خپله برخه ده، او هم د ښځو نه چې چا څه کټلي دي؛ هغه د دوی خپله برخه ده [یعني هرڅوک خپله برخه اخلي او هرچا ته د خپل عمل ثواب او سزا ورکول کیږي، او هر څوک که نار ینه وي او که ښځه د خپلو کړنو او د خپل عمل پایله او کټه لاس ته راوړي] نو تاسې ای مومنانو! د الله نه د هغه فضل او ورکړې وغواړئ، ترڅو هغه تاسې ته الله درکړي، او یقینا چې الله په هرڅه ښه پوه دئ، نو بیا هرچا ته چې څه ښایي او د هغه لائق وي؛ هغه ورکوي.

قدرمنو وروڼو، خو یندو! د مور او پلار نه پاتې میراث د دوی د زامنو، لوڼو او د نورو لنډو خپلوانو حق دئ، او په بیان کې الله تعالی په ور پسې مبارك آیت کې فرمایلي دي:

[٣٣] او ای مومنانو! ستاسې هر یوه ته مونږ خپل خپلوان درکړي دي [یعنی دوی د خپلې مور او پلار نه او هم د خپلو نورو لنډو خپلوانو نه میراث وړي] او هغو کسانو ته چې تاسې یې د ملګرتیا لوړه کړې ده [یعنی هغوی تاسې د خپلو ځانو سره ګډ کړې دي] د هغوی برخه ورکړئ، او یقینا چې الله په هرڅه باندې شاهد دئ، یعنی هرڅه الله و یې او د څار لاندې یې دي.

ګرانو دوستانو! مفسر ینو روایت کړئ دئ چې د دغو ائتلافي ملګرو برخه په میراث کې د اسلام په لمړ یو ورځو کې د جاهلیت زمانې دود وه،

خو بيا وروسته د ميراث آيتونو په را نازليدلو سره؛ دا برخه منسوخه او لغوه سوه، ځکه د پردیو سره د ملګرتيا ټړونونو دود؛ اسلام لغوه که او يوازې نسبي خپلوي پاتې سوه، خو د دغسې منسوخ سوو ځينې آيتونو تلاوت همداسې په قرآن کر يم کې پاتې دئ.

{نار ينه ده کورنۍ شخړې پر جرګو او مرکو حل کړي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې د نار ينوو واکمني په کورونو کې سره د کورني ژوند جنجالونو د حل لارې مونږ ته الله تعالى ښودلې او بيان کړې دي، او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿ٱلرِّجَالُ قَوَّٰمُونَ عَلَى ٱلنِّسَآءِ بِمَا فَضَّلَ ٱللَّهُ بَعۡضَهُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖ وَبِمَآ أَنفَقُواْ مِنۡ أَمۡوَٰلِهِمۡۚ فَٱلصَّٰلِحَٰتُ قَٰنِتَٰتٌ حَٰفِظَٰتٞ لِّلۡغَيۡبِ بِمَا حَفِظَ ٱللَّهُۚ وَٱلَّٰتِي تَخَافُونَ نُشُوزَهُنَّ فَعِظُوهُنَّ وَٱهۡجُرُوهُنَّ فِي ٱلۡمَضَاجِعِ وَٱضۡرِبُوهُنَّۖ فَإِنۡ أَطَعۡنَكُمۡ فَلَا تَبۡغُواْ عَلَيۡهِنَّ سَبِيلًاۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيّٗا كَبِيرٗا ٣٤ وَإِنۡ خِفۡتُمۡ شِقَاقَ بَيۡنِهِمَا فَٱبۡعَثُواْ حَكَمٗا مِّنۡ أَهۡلِهِۦ وَحَكَمٗا مِّنۡ أَهۡلِهَآ إِن يُرِيدَآ إِصۡلَٰحٗا يُوَفِّقِ ٱللَّهُ بَيۡنَهُمَآۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا خَبِيرٗا ٣٥﴾

[٣٤] [اى مومنانو!] نار ينه پر ښځو باندې د دوى د چارو چلونکي او پالونکي مشران دي، او دا ځکه چې الله د دوى نه ځينې پر ځينو نورو باندې لوړ کړي دي [يعني الله تعالى نار ينوو ته داسې معنوي او جسمي ځانګړي صفتونه ورکړي دي چې دوى يې ور باندې پر ښځو لوړ کړي دي، او د کورني ژوند مشرتابه لائق يې ګرځولي دي] او هم پر هغو نار ينوو باندې چې دوى ميړونه دي؛ د خپلو ميرمنو نفقه او خرڅ فرض دئ، نو هغه ده دوى ته ورکړي، او ښې ښځې د خپل رب الله حکم او فرمان ته تابع وي او هغه مني او هم د خپلو ميړو خبره مني او د الله په مرسته او ساتنې سره د خپلو ميړو په غياب کې چې کله يې ميړونه په کورو کې نه وي؛ د هغوى حقونه ساتي، يعني خپل عزت او پت او د ميړه مال او دولت چې د

دوی سره امانت دئ؛ کلک ساتي، او ای مومنانو! که تاسې د خپلو ښځو یا میرمنو نه وو یر یږی چې دوی به د ستاسې نه سر غړونه وکړي، نو هغوی ته نصیحت وکړی [چې خپل ځان و پېژني او د میړه نافرماني ونکړي، خو که نصیحت یې وانور یده، نو بیا ورسره مه ځملی [یعني ځان ورځخه خفه کړی، او که دې کار هم ګټه ونکړه] نو بیا یې ووهی [خو داسې وهل نه چې په ځان کې یې داغ پاتې سي] نو بیا که چیرې دغو ښځو د ستاسې خبره ومنله، نور نو ور باندې تیري او ظلم مکړی، او یقینا چې الله لوړ او لوی ذات دئ، یعنی هرچا ته د هغه لائق ثواب او سزا ورکوي.

[۳۵] او ای د میړه او ښځې مشرانو خپلوانو! که چیرې تاسې د دوی دواړو په منځ کې د خفتیان نه وو یر یدلئ [یعنی دا چې هغه به د بیلتون او د طلاق سبب او عامل وګرځي؟ نو بیا ده د دوی په منځ کې د روغې جوړې لپاره] یو واکمن روغونکئ مشر د میړه کورنی نه او یو هم د ښځې کورنی نه ورولیږی، ترڅو د دوی په منځ کې روغه جوړه وکړي، نو که بیا دوی دواړه د پخلاینې اراده ولري؛ الله به دوی سره جوړ کړي، ځکه یقینا چې الله ښه پوه او د هرڅه نه ښه خبر پالونکئ ځښتن دئ، یعنی د میړه او میرمنې زړونه به د یو بل سره جوړ او خواږه کړي او خفتیان بې لرې سي.

قدرمنو ورونو، خو یندو! الله تعالی پدې مبارکو آیتونو کې لمړئ مونږ ته د میړه او د ښځې په منځ کې د یو بل ځای او مقام پېژندلو او د حقوقو په باره کې لنډه لارښودنه کړې ده، او بیا یې را ته د ښو او دینداره او امانت ساتونکو ښځو ارزښتانکه مقام او لوړ شخصیت ستایلئ دئ، او بیایې همداسې د کورنې ژوند په باره کې چې کله د میړه او ښځې یا میرمنې په منځ کې خفتیان راپیښ سي؛ ډیرې کټورې لارښودنې کړي دي چې عملي کول یې کورنئ ژوند د هر ډول ټوټه کیدو او د بیلتون ګواښونو او خطرونو نه خوندي کوي او کلک یې ورځخه ساتي.

{د الله بنده ګي او د مور او پلار خدمت فرض دئ}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې مومنان الله تعالی خپل عبادت ته په

توحيد سره او د مور او پلار سره ښه کړنه ته، او د لنډو خپلوانو او نورو بې وزره مسکينانو او شا وخوا ګاونډيانو سره؛ ښه کړه او نيکۍ ته رابللې دي، او کبرجن او بخيل کسان يې کلک غندلي، او فرمايلي دي:

﴿۞وَٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَلَا تُشۡرِكُواْ بِهِۦ شَيۡـٔٗاۖ وَبِٱلۡوَٰلِدَيۡنِ إِحۡسَٰنٗا وَبِذِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَٱلۡيَتَٰمَىٰ وَٱلۡمَسَٰكِينِ وَٱلۡجَارِ ذِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَٱلۡجَارِ ٱلۡجُنُبِ وَٱلصَّاحِبِ بِٱلۡجَنۢبِ وَٱبۡنِ ٱلسَّبِيلِ وَمَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُكُمۡۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ مَن كَانَ مُخۡتَالٗا فَخُورًا ٣٦ ٱلَّذِينَ يَبۡخَلُونَ وَيَأۡمُرُونَ ٱلنَّاسَ بِٱلۡبُخۡلِ وَيَكۡتُمُونَ مَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضۡلِهِۦۗ وَأَعۡتَدۡنَا لِلۡكَٰفِرِينَ عَذَابٗا مُّهِينٗا ٣٧ وَٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمۡوَٰلَهُمۡ رِئَآءَ ٱلنَّاسِ وَلَا يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَلَا بِٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِۗ وَمَن يَكُنِ ٱلشَّيۡطَٰنُ لَهُۥ قَرِينٗا فَسَآءَ قَرِينٗا ٣٨ وَمَاذَا عَلَيۡهِمۡ لَوۡ ءَامَنُواْ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَأَنفَقُواْ مِمَّا رَزَقَهُمُ ٱللَّهُۚ وَكَانَ ٱللَّهُ بِهِمۡ عَلِيمًا ٣٩ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَظۡلِمُ مِثۡقَالَ ذَرَّةٖۖ وَإِن تَكُ حَسَنَةٗ يُضَٰعِفۡهَا وَيُؤۡتِ مِن لَّدُنۡهُ أَجۡرًا عَظِيمٗا ٤٠﴾

[٣٦] اى مومنانو! د الله عبادت او بنده کي وکړئ او د الله سره هيڅ څه شئ په عبادت کې مه ګډوئ او د مور او پلار سره احسان او ښه وکړئ، او هم د خپلوانو يتيمانو او مسکينانو سره، او خپلوانو ګاونډيانو او د څنګ ګاونډيانو او ملګرو ګاونډيانو سره، او په مسافرت کې بې وزرو کسانو سره او خپلو مر يانو سره احسان او مرسته وکړئ، او يقينا هغه کبرجن سړئ چې په نورو خلکو باندې فخر کړي او ځان ور باندې جګ بولي؛ پر الله ګران ندئ او هغه د الله نه خوښيږي.

[٣٧] [او دغه کبرجن کسان هغه څوک دي] چې په ورکړه کې بخيله او ممسک وي، او نور خلک هم کنجوسئ او بخيلئ ته رابولي، او هغه مال او دولت چې دوی ته الله ورکړئ دئ؛ هغه پټوي، نو دغسې کسانو ته چې دوی پر خپلو ځانو د الله نعمتونه او پيرز يې پټوي او ورڅخه منکر وي؛ دوي ټولو ته مونږ خوارونکئ عذاب او کلکه سزا تياره کړې ده.

[٣٨] [او همدا کبرجن کسـان چې د الله نعمتونو نه منکر دي] دوی هغه کسـان دي چې خپل مال او دولت خلکو ته د ځان ښـودنې او ر یاء لپاره لګوي او ښـه ډیر خرڅ کړي [ترڅو خپل ځانو نه خلکو ته داسـې وښـيي چې دوی ډوډۍ مار دي] خو دوی پر الله او د آخرت پر ورځ باندې ایمان نه لري او نه ور باندې باور کړي، او شـیطان چې د چا په څنګ کې ملګرئ وي [لکه منافقان] نو هغه ډیر بد مل او بد انډیوال دئ، یعنی کبرجن بخیله کسـان د شـیطان په وسـوسـه پر الله تعالی او د قیامت په ورځ باور نه لري، ځکه دوی تل یوازې خپلو ځاني ګټو لپاره لګیا وي، نو په دوی کې څه خیر نسته چې چا ته یې ګټه او خیر ورسیږي!

[٣٩] او دغو کسـانو ته به څه تاوان رسـیدلئ وه؛ که دوی پر الله او د آخرت پر ورځ ایمـان راوړئ وای، او هغـه مـال او دولـت چې دوی تـه الله ورکړئ دئ؛ هغه یې خیرات کړئ وای؟ [یعنی پدې کار کې دوی ته هیڅ تاوان نسـته او نه دوی ز یانمن کوي، خو دوی د شـیطان پر لمسـون کفر، کبر او بخیلي غوره کړه او شـیطان پسـې لاړل او د الله په لار کې یې د خیرات ورکولو نه؛ کلکه ډډه وکړه] او الله پر دوی ښـه پوه وه، یعنی نو ځکه یې دوی تـه د ایمـان راوړو توفیق ورنکـه او د قیـامت په ورځ بـه دوی مختورن محروم وي.

[٤٠] او یقینا چې الله یوه ذره ظلم هم پرچا باندې نکړي او که هر څوک لږ نیکې هم ولري؛ هغه الله ورته څو برابره کوي او د ځان له لوري ورته لوی ثواب هم ورکوي، یعنی چې هغه د الله تعالی جنت دئ.

درندو دوسـتانو! الله تعالی پدې مبارکو آیتونو کې مومنان هڅولي دي چې خپلو محتاجو او بې وسـې خپلوانو او د ټولنې نورو بې وزره محتاجو کسـانو سره مالي مرسته وکړي، ترڅو دوی د فقر او ولږې نه خلاص سي، او په ټولنه کې د ورورګلوی اړ یکي غښـتلې او کلکې سـي، او د مالدارانو او بډایانو سره د غر یبانو او بی وزرو کسـانو د کینو کلک مخنیوئ وسي، او بیا په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی مالدار کسان د خپلې غنا او بډا یې د پټولو نه کلک ګواښلي دي، او همدارنګه یې د دوی د بخیلۍ هغه هڅې

غندلې دي چې نور خلک هم د بې وزرو محتاجو کسانو سره د مرستې نه منعې کوي او ورته وايي چې هغوی سره مرسته مکړئ او خيرات مه ورکوئ، حال دا چې هغه کسان کلک وړي وي او خيرات ته ډيره اړتيا لري.

هو! د دې حقيقت يادول هم دلته د پام وړ دي چې بې وزرو محتاجو کسان سره د مرستې څرنګوالئ ښايي د هر عصر او زمانې او د هر کلي او هر هيواد عيني شرائطو سره سم؛ د ټولنې واکمنانو لخوا داسې تنظيم او عملي سي چې ټولنه د فقر نه پکې خلاصه سي، لکه د نئ ورځې په ډيرو پرمختللو هيوادونو کې چې د مرستندو يو ټولنو اړوند قوانين؛ ټول د فقر او اوزګارئ سره مبارزه کړي او ولس ته د خپلې حلالې روزئ پيدا کولو مناسب فرصتونه تياروي، ترڅو ټولنه د اوزګارئ، فقر او ولړې نه بر يالئ ووځي او ټول خلک د هوسا او عزتمن ژوند څښتن سي.

{د اسلام پيغمبر قيامت په ورځ د نړۍ پر امتونو شاهدي و ايي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى مونږ ته د رسول الله ﷺ لوړ مقام د قيامت په ورځ بيان کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِن كُلِّ أُمَّةٍۭ بِشَهِيدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ شَهِيدًا ۝٤١ يَوْمَئِذٍ يَوَدُّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَعَصَوُا۟ ٱلرَّسُولَ لَوْ تُسَوَّىٰ بِهِمُ ٱلْأَرْضُ وَلَا يَكْتُمُونَ ٱللَّهَ حَدِيثًا ۝٤٢﴾

[٤١] ای پيغمبره! نو د قيامت په ورځ به څه حال وي؟ چې کله د هر ولس او هر امت نه يو شاهد راسي [يعنى د خپل قوم پر بدو کړنو او پر کفر باندې شاهدي ورکړي] او بيا به مونږ تا ای پيغمبره! پر دغو ټولو امتونو باندې شاهد ودروو، يعنى د اسلام پيغمبر به پر تيرو ټولو امتونو او ولسونو باندې شاهدي وايي چې دوی ته د الله پيغمبران راغلل، خو دوی د خپلو پيغمبرانو خبرې ونه منلې او ورڅخه منکر سول، نو هغه ورځ به ډيره هولناکه، درنده ورځ وي او هرڅوک به په کلک ډار او و يره کې وي او کلک به انديښمن وي!

[٤٢] او هغه کسان چې کافران سول او د خپل پيغمبر غوښتنې يې

ونه منلې او سرغړونه يې ورڅخه وکړه؛ دوی به د قیامت په ورځ هیله کړي چې ای کاشکې ځمکه وچوي او دوی پکې خښ سوي د خاورو لاندې سي! ځکه دوی اوس هیڅ کمه خبره د الله نه پټولای نسي، یعنی د دوی خولې نورې ټاپه سوې دي او د ځانونو ټول غړي يې ور باندې شاهدي وايي!

نو ښايي ګرانو دوستانو چې په ډیرې زارۍ سره دعاء وکړو چې الله تعالی ده د دغسې ورځې سزا نه مونږ په خپل فضل او رحمت سره وساتي او سپین مخي ده الله مونږ په خپل حضور کې ودروي او د محشر ورځې شرم او تور مخی نه ده الله تعالی مونږ په خپل لطف او لوی رحمت سره وژغوري.

{د شرابو په مستۍ کې لمونځ روا ندي او تیمم اودس دئ}

او په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی مومنانو ته حکم کړې دئ چې د شرابو څکلو په وخت کې او په جنابت کې ده لمونځ نکړي، ځکه شراب څکونکئ د نیشې په مستۍ کې وي، نو په هیڅ څه نه پوهیږي چې دئ څه کړي او څه وايي، او بیا د او بو په نشتوالي کې مونږ ته الله تعالی تیمم روا کړئ دئ او د دې مسئلو په بیان کې الله تعالی فرمایلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَقۡرَبُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَأَنتُمۡ سُكَٰرَىٰ حَتَّىٰ تَعۡلَمُواْ مَا تَقُولُونَ وَلَا جُنُبًا إِلَّا عَابِرِي سَبِيلٍ حَتَّىٰ تَغۡتَسِلُواْۚ وَإِن كُنتُم مَّرۡضَىٰٓ أَوۡ عَلَىٰ سَفَرٍ أَوۡ جَآءَ أَحَدٞ مِّنكُم مِّنَ ٱلۡغَآئِطِ أَوۡ لَٰمَسۡتُمُ ٱلنِّسَآءَ فَلَمۡ تَجِدُواْ مَآءٗ فَتَيَمَّمُواْ صَعِيدٗا طَيِّبٗا فَٱمۡسَحُواْ بِوُجُوهِكُمۡ وَأَيۡدِيكُمۡۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَفُوّٗا غَفُورًا ٤٣﴾

[٤٣] ای مومنانو! کله چې تاسې د شرابو څکلو په مستۍ کې وی، نو لمانځه ته مه ورنژدې کیږی [یعنی پر لمانځه مه در یږی] ترڅو پوه سی چې تاسې په لمانځه کې څه وايي، او همدارنګه په جنابت کې [چې کله غسل در باندې اوښتئ وه؛ لمانځه ته او د لمانځه کړو ځای مسجد ته مه ورځی] مګر داچې پر مسجد د ستاسې تیریدلو لار وه او یوازې

تيريدلې [يعنى نو بيا تيريدل په مسـجد کې جنب ته روا دي] او دا تر هغو چې غسل وکړئ او خپل ټول ځان وو ينځئ، خو که ناروغ وې او يا په سفر کې پرديسي وې، او يا د ستاسې نه څوک په تشناب کې د قضاى حاجت نه راغئ، او يا د خپلو ميرمنو سـره په ملاسـتې سـره غسـل پر تاسـې باندې واوښـت او بيا تاسـې او به بيانموندلې، نو [د دې ټولو عذرونو په وخت کې]په پاکه خاوره تيمم ووهئ او خپل دواړه لاسـونه پر دغه پاکه خاوره ووهئ او بيا هغه په خپلو مخونو او لاسونو باندې وموښئ او ور باندې يې راکش او مسح کړئ، او يقينا چې الله لوى تيريدونکئ او ښه ښښونکئ ذات دئ، يعنى د بنده ګانو ګناه وې ښيي او د تيروتنو نه ورته عفوه کړي.

قـدرمنو مومنـانو! الله تعـالى پـدې مبـارك آيـت کې خپلو مومنو بنـده ګانو ته دوه ډيرې اړ ينې او ارزښـتناکه لارښـودنې کړې دي او پکې دوى ته د لمانځه او د نورو عبادتونو پرځاى کولو کې ښـه ډيره اسـانتيا ده، او هغه دا چې کله يو مومن بنده د خپل رب عبادت کړو نه په هغسـې ځانګړې او خاصه طر يقه چې هغه په شـر يعت کې ورته ښـودل سـوې ده؛ عاجز سي، نو بيا دغه تکليف ورځخه لرې کيږي او پرځاى يې بله ښـه اسـانه کړنه يا طر يقه ورته ښـودل سـوې او روا سـوې ده، لکه تيمم د اوداسـه او غسـل پرځاى، او د شـرابو څکلونه وروسـته د لمانځه زنډول، ترڅو دا سـړئ په سـد سـي او اوښ يې سـر ته راسـي، او يقينا چې دا لارښـودنې مونږ ته دا حقيقت پوره روښـانه کوي چې شـرعي حکمونه پر واقعيتونو ولاړ دي او يو مومن بنده هيڅ کله په هغو کړنو چې وسـعه يې نه لري مکلف ندئ، نو ښـايي چې دغسـې لارښـودنې مونږ ته د لارې ځلاند چراغ وې او په ژوند کې ګټه ورځخه واخلو او د الله حکمونه پرخلکو سخت او ستونزمن نکړو.

{يهود د سمې لارې نه ورکتيا په بيعه اخلي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د اهل کتابو (يهودو او نصاراوو) هغه دښمنې او کينې رسوا کړې دي چې دوى يې د مومنانو سره لري، او په بيان کې الله تعالى فرمايلي دي:

﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ أُوتُواْ نَصِيبًا مِّنَ ٱلْكِتَٰبِ يَشْتَرُونَ ٱلضَّلَٰلَةَ وَيُرِيدُونَ أَن تَضِلُّواْ ٱلسَّبِيلَ ﴿٤٤﴾ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِأَعْدَآئِكُمْ ۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَلِيًّا وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ نَصِيرًا ﴿٤٥﴾ مِّنَ ٱلَّذِينَ هَادُواْ يُحَرِّفُونَ ٱلْكَلِمَ عَن مَّوَاضِعِهِۦ وَيَقُولُونَ سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا وَٱسْمَعْ غَيْرَ مُسْمَعٍ وَرَٰعِنَا لَيًّۢا بِأَلْسِنَتِهِمْ وَطَعْنًا فِى ٱلدِّينِ ۚ وَلَوْ أَنَّهُمْ قَالُواْ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا وَٱسْمَعْ وَٱنظُرْنَا لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ وَأَقْوَمَ وَلَٰكِن لَّعَنَهُمُ ٱللَّهُ بِكُفْرِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُونَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٤٦﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلْكِتَٰبَ ءَامِنُواْ بِمَا نَزَّلْنَا مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَكُم مِّن قَبْلِ أَن نَّطْمِسَ وُجُوهًا فَنَرُدَّهَا عَلَىٰٓ أَدْبَارِهَآ أَوْ نَلْعَنَهُمْ كَمَا لَعَنَّآ أَصْحَٰبَ ٱلسَّبْتِ ۚ وَكَانَ أَمْرُ ٱللَّهِ مَفْعُولًا ﴿٤٧﴾ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِۦ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُ ۚ وَمَن يُشْرِكْ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱفْتَرَىٰٓ إِثْمًا عَظِيمًا ﴿٤٨﴾﴾

[٤٤] ای پیغمبره! هغه کسان چې دوی ته د اسماني کتاب نه څه برخه ورکړل سوې ده [یعنی ځانونه اهل کتاب بولې] آیا دوی تا ونه لیدل؟ چې د سمې لارې نه ورکتیا په بیعه اخلي [یعنې غواړي چې تاسې هم ای مومنانو! د سمې لارې نه واوړی او د دوی غوندې پر کږه لار روان سی!]نو آیا ته ای پیغمبره د یهودو په ناندرو نه پوهیږې او هغه نه و یې؟ ځواب دا چې ښایي مومنان یهود ښه و پیژني، ترڅو یې د توطئیو په لومو کې ونښلي او د دوی پیښې او تقلید ونکړي.

[٤٥] هو؛ ای مومنانو! الله د ستاسې پر دښمنانو ښه پوه دئ او هغوی پیژني، نو د الله ملتیا او مرسته تاسې ته بس ده، ځکه الله د مومنانو کلک مرستندوی او ملاتړ لوی څښتن دئ.

[٤٦] او د یهودو نه ځینې کسان پر دې لګلیا دي چې د الله کلام خپلې معنا نه بلې خوا ته واړوي [یعنی بدلون پکې راولي او هغه تحر یف کړي، او یهود الله پسې دروغ وایي او د اسلام پیغمبرﷺ ته] وایي: مونږ د ستا خبره واور یدله، خو د ستا حکم نه مونږ سرغړونه کړو او هغه نه منو، او ته هغه څه واوره چې نده دي اور یدلې [یعني دا چې یهود په خپلو دغسې خبرو سره د رسول الله ﷺ اهانت او سپکاوئ کړي] او د خپلو ژ بو پر تاوولو

سره وايي:(راعينا) مونږ ته پام وکړه[خو قصد يې پيغمبر ته کنځل او د هغه د دين سپکاوئ دئ] او که دغو يهودو رسول الله ته و يلي واى چې د ستا خبرې مونږ واور يدلې او هغه منو او ته هم د زمونږ خبره وواره او راته وګوره، نو پدې کې دوى ته خير وه او دا ورته سمه وه، نو بيا الله يهود د دوى د کفر له کبله چې ايمان يې رانور؛ د خپل رحمت نه وشړل، او د يهودو نه ډيرو لږو کسانو ايمان راوړ، يعنى د اسلام پيغمبر محمدﷺ پيغمبرې يهودو ونه منله، نو بيا په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالى پر يهودو غږ کړئ دئ چې په ر يښتيا سره ايمان راوړي، او فرمايلي دي:

[٤٧] اى هغو کسانو چې تاسې ته کتاب درکړل سوئ دئ! [يعنى اى يهودو!] پر هغه کتاب (قران) ايمان راوړئ چې هغه مونږ د ستاسې کتاب (تورات) لپاره تصديق کوونکئ رانازل کړئ دئ، نو هغه ومنئ، او دا کار مخکې د هغې نه وکړئ چې د ستاسې مخونه مونږ له منځه يوسوو او بدل يې کړو او پر شاپې واړوو، او بيا دوى د خپل رحمت نه هغسې وشړو، لکه څنګه چې د هفتې ورځې پلمه کوونکې يهود مونږ وشړل، او اى يهودو! پدې پوه سئ چې د الله حکم پلئ کيدونکئ او چليدونکئ دئ! يعنې د الله تعالى تقديرې پر يکړو مخه هيڅ څوک نيولاى نسي او هغه هرومرو نافذيږي.

هو؛ درندو دوستانو! الله تعالى د هفتې ورځې ښکار کونکي يهود چې د الله فرمان نه يې سرغړونه وکړه؛ مختورن کړل او څيرې يې د بيزوګانو څيرو غوندې وګرځولې او مسخه سول، او بيا د مسخې نه وروسته؛ دوى ټول ډير ژر الله تعالى هلاك کړل او له منځه يې ايوړل.

او په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالى مشرکان غندلي دي او د خپل رحمت نه يې رټلي اعلان کړي دي، او فرمايلي دي:

[٤٨] هو! يقينا هر هغه څوک چې د الله سره بل څوک په عبادت او بنده ګۍ کې شر يك کړي؛ هغه الله نه بښي، خو د شرك نه پرته نورې ګناه وې چې الله چا ته وغواړي بښي يې، ځکه هر څوک چې د الله سره بل څوک په خدايي کې کډ کړي، نو يقينا چې هغه الله پسې لوى تور پورې کړئ دئ، يعنى الله پسې يې دروغ و يلي دي، ځکه الله تعالى لوى ذات دئ او هيڅ څوک شر يك او مل نه لري.

{ نه ښايي مومنان د ځان ستاينه وکړي او يهودو ده وپيژني }

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى مومنان د خپلو ځانو ستاينې او صفايي نه کلک منعې کړي دي، او د يهودو خو يونو پيژندنې ته يې رابللي دي او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ يُزَكُّونَ أَنفُسَهُم بَلِ ٱللَّهُ يُزَكِّي مَن يَشَآءُ وَلَا يُظْلَمُونَ فَتِيلًا ﴿٤٩﴾ ٱنظُرْ كَيْفَ يَفْتَرُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلْكَذِبَ ۖ وَكَفَىٰ بِهِۦٓ إِثْمًا مُّبِينًا ﴿٥٠﴾ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ نَصِيبًا مِّنَ ٱلْكِتَٰبِ يُؤْمِنُونَ بِٱلْجِبْتِ وَٱلطَّٰغُوتِ وَيَقُولُونَ لِلَّذِينَ كَفَرُوا۟ هَٰٓؤُلَآءِ أَهْدَىٰ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ سَبِيلًا ﴿٥١﴾ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَعَنَهُمُ ٱللَّهُ ۖ وَمَن يَلْعَنِ ٱللَّهُ فَلَن تَجِدَ لَهُۥ نَصِيرًا ﴿٥٢﴾ أَمْ لَهُمْ نَصِيبٌ مِّنَ ٱلْمُلْكِ فَإِذًا لَّا يُؤْتُونَ ٱلنَّاسَ نَقِيرًا ﴿٥٣﴾ أَمْ يَحْسُدُونَ ٱلنَّاسَ عَلَىٰ مَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ ۖ فَقَدْ ءَاتَيْنَآ ءَالَ إِبْرَٰهِيمَ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْحِكْمَةَ وَءَاتَيْنَٰهُم مُّلْكًا عَظِيمًا ﴿٥٤﴾ فَمِنْهُم مَّنْ ءَامَنَ بِهِۦ وَمِنْهُم مَّن صَدَّ عَنْهُ ۚ وَكَفَىٰ بِجَهَنَّمَ سَعِيرًا ﴿٥٥﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا سَوْفَ نُصْلِيهِمْ نَارًا كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُودُهُم بَدَّلْنَٰهُمْ جُلُودًا غَيْرَهَا لِيَذُوقُوا۟ ٱلْعَذَابَ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَزِيزًا حَكِيمًا ﴿٥٦﴾ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ سَنُدْخِلُهُمْ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا ۖ لَّهُمْ فِيهَآ أَزْوَٰجٌ مُّطَهَّرَةٌ ۖ وَنُدْخِلُهُمْ ظِلًّا ظَلِيلًا ﴿٥٧﴾﴾

[٤٩] اى پيغمبره! آيا تا هغه کسان ونه ليدل؟ [يعنى د دوى د حال نه خبر نسوې] چې دوى د خپلو ځانو ستاينه کړي، حال دا چې يوازى الله دئ چې څوک وغواړي د هغه ستاينه کړي او سپيڅلئ يې بولي [يعنى دا ځکه چې الله تعالى د هرچا پټ او ښکاره حال نه ښه خبر دئ] او پر دوى باندې [د کجورې يا خرما زړي] د يوه نري تار په اندازه ظلم او تيرئ نکيږي.

قدرمنو دوستانو! دغه ځان ستاینه یهودو کړه او و یل یې چې مونږ د الله زامن یو او پر الله ګران یو، خو دوی په خپلو دغو خبرو کې دروغژن ول او ر ښتیني نه ول، نو بیا الله تعالی د دوی دروغ رسوا کړل، او ځان ستانیه او تزکیه چې هرڅوک کړي؛ هغه یې کلکه وغندله، ځکه یوازي الله دئ چې د هرڅه نه خبر دئ او د هرچا په حال باندې علم لري، نو څوک چې الله وغواړي د هغه ستاینه او صفت کړی، ځکه الله عادل او منصف لوی ذات دئ، او یوه ذره ظلم هم پر هیڅ چا نکړي او هرڅوک خپل حق ته رسوي.

او همداسې په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د یهودو دروغژنې خبرې او و ینا وې غندلې دي، او فرما یلي دي:

[٥٠] او ای پیغمبره! د دغو دروغژنو کسانو حال ته په تعجب او حیرانتیا سره وګوره چې دوی څنګه الله پسې د دروغو افترا کړي! نو همدا ښکاره ګناه چې دوی الله پسې دروغ وایي؛ دوی ته بس ده، یعنی الله به دوی ته د د غو تورونو کلکه سزا ورکړي او مختورن بې کړي.

[٥١] او ای پیغمبره! آیا ته هغه کسان چې دوی ته د اسماني کتاب (تورات) نه څه برخه ورکړل سوې ده؛ نه و یې؟ چې دوی په بتانو او د الله نه پرته پر ټولو ناحقه معبودانو باندې ایمان راوړ او باور یې ور باندې وکه، او دغه اهل کتاب مشرکانو ته [یعنی هغو کسانو ته چې د محمدﷺ پیغمبرۍ نه منکر سول] وایي: مشرکان د مومنانو نه ښه پر سمه لار روان دي! [العیاذ بالله]

[٥٢] او یهود هغه کسان دي چې الله لعنت کړي دي او د خپل رحمت نه یې رټلي او شړي دي، او هغه څوک چې الله رټلئ وي هغه لپاره ته ای پیغمبره! بل هیڅ څوک مرستندوی نه مومې، یعنی د الله رحمت نه محروم د هرڅه نه محروم دئ.

[٥٣] او آیا دغه کسان (یهود) په پاچایي او واک کې څه برخه لري؟ [ځواب دا چې: نا! هیڅ څه شئ د دوی په واک کې نسته] او که چیرې د

دوی سره څه وای، نو د کجورې یا خرما د زړي سر قدر څه ې هم نورو خلکو ته نوه ورکړي، یعنی دوی ډیر کنجوس بخیله خلک دي!

[٥٤] بلکې دغه یهود د نورو خلکو سره [یعنی د اسلام ستر پیغمبر (محمد ﷺ) سره د هغه څه پر سر حسد او سیالي کړي] چې هغه ورته الله د خپل فضل نه ورکړي دي [او دغه پیرزو ینه الله خپل پیغمبر ته غوره کړې ده] او یقینا چې پخوا هم د ابراهیم کورنۍ ته مونږ کتابونه او لوی لوی حکمتونه ورکړل، اوهمدارنګه هغوی ته مونږ لو یه پاچایي ورکړه.

[٥٥] نو بیا د دغو [یهودو نه چې د تورات څه لږ پوهه ورسره سته ځینو کسانو] د اسلام پر پیغمبر باندې ایمان راوړ او هغه یې ومانه، خو ځینې نور ورڅخه منکر سول او ایمان رانوړ، او نور خلک یې هم د ایمان راوړو نه منعې کړل، نو د جهنم سوزونکې وړانګې دوی ته بس دي.

[٥٦] او یقینا هغه کسان چې د زمونږ پر آیتونو کافران سول؛ دوی به په اور کې داسي وکړوو چې کله یې پوستکي پاخه سي، نو بیا به نور پوستکي وروا‌چوو، ترڅو یې سزا وڅکي، او یقینا چې الله لوی ځواکمن او د حکمت (هوښیارۍ) څښتن دئ.

[٥٧] او هغو کسانو چې ایمان راوړ او ښه یې وکړل؛ دوی به داسې جنتو ته ورننه باسو چې د روانو او بو و یالې به یې بهیږي او دوی به یې تل اوسیږي، او په جنت کې به دوی ته پاکې ښځې وي [د جنت حورې] او دوی به جنت ته همداسې د درانده سوري لاندې ننه باسم.

ګرانو وروڼو او خو یندو! په دغو مبارکو آیتونو کې الله تعالی مونږ د یهودو بد چلند او کرکجنو خو یونو او بدو کړنو او د هغې کرغیړنې دښمني نه چې د اسلام پیغمبر ﷺ او د هغه ملګرو صحابوو سره یې درلوده؛ خبر کړي یو، او بیا یې د دوی دغه کرکجن او بد در یځ د اسلام پر وړاندې غندلئ دئ، او همدارنګه هرڅوک چې د حق پالانو سره چې دوی د پیغمبر ﷺ وارثان دي؛ دغسې بد چلند وکړي؛ دوی به هم د یهودو

غوندې د الله تعالى رحمت نه رټل سوي وي او بل هيڅ څوک به مرستندوی او پلوئ نه لري، ترڅو دوی د الله سزا نه وساتي او نجات ورکړي.

{د امانتونو سپارل مومنانو ته او د مشر اطاعت فرض دئ}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى مومنانو ته حکم کړئ دئ چې امانتونه او دندې؛ هغو کسانو ته وسپاری چې متعهد او په کار پوه وي، او د سمو چلولو لياقت پې لري، او بيا پې مومنانو ته حکم کړئ دئ چې د الله او د هغه پيغمبرﷺ او د خپلو واکمنانو مشرانو فرمان يوسی:

﴿۞ إِنَّ ٱللَّهَ يَأۡمُرُكُمۡ أَن تُؤَدُّواْ ٱلۡأَمَٰنَٰتِ إِلَىٰٓ أَهۡلِهَا وَإِذَا حَكَمۡتُم بَيۡنَ ٱلنَّاسِ أَن تَحۡكُمُواْ بِٱلۡعَدۡلِۚ إِنَّ ٱللَّهَ نِعِمَّا يَعِظُكُم بِهِۦٓۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ سَمِيعَۢا بَصِيرٗا ٥٨ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ وَأُوْلِي ٱلۡأَمۡرِ مِنكُمۡۖ فَإِن تَنَٰزَعۡتُمۡ فِي شَيۡءٖ فَرُدُّوهُ إِلَى ٱللَّهِ وَٱلرَّسُولِ إِن كُنتُمۡ تُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِۚ ذَٰلِكَ خَيۡرٞ وَأَحۡسَنُ تَأۡوِيلًا ٥٩﴾

[۵۸] ای مومنانو! الله تاسې ته په يقين سره حکم کړئ دئ هغه امانتونه چې ستاسې سره دي؛ هغه خپلو متعهدو او په کار پوه لائقو کسانو ته چې وړتيا پې لري وسپاری، او کله چې تاسې ای مومنانو! د خلکو په منځ کې حکم او پر يکړه کړی، نو پر عدالت او انصاف پر يکړه وکړی [يعنی د هرچا حق خپل څښتن ته وسپاری] او يقينا چې الله اور يدونکئ او ليدونکئ لوی ذات دئ، يعنی ای مومنانو! الله تعالى د ستاسې خبرې ښې اوري او کړنې مو ښې و يني، ځکه د الله نه هيڅ څه شئ پټ ندي، نو بيا الله تعالى ستاسې سره کلک حساب کړي، د ښو کړنو خاوندانو ته ثواب ورکوي او د بدو کړنو کسانو ته کلکه سزا ورکوي!

او په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالى مومنان د الله او د هغه پيغمبر او د خپلو واکمنو مشرانو اطاعت او فرمان وړو ته رابللي، او فرمايلي دي:

[٥٩] ای مومنانو! که تاسې په ر ښتیا سره پر الله او د آخرت پر ورځ ایمان راوړئ وي [او د الله تعالی او د پیغمبر حکمونه منئ او د آخرت ورځې په راتګ باور لرئ] نو د الله او د هغه پیغمبر اطاعت وکړئ [او حکمونه یې ومنئ او هغه پرځای کړئ] او د خپلو واکمنو مشرانو خبرې او حکمونه ومنئ او اطاعت یې وکړئ، او کله چې تاسې د کم څه پر سر اختلاف وکه، نو د حل لپاره یې دا اختلاف د الله کتاب (قرآن) ته او د پیغمبر سنتو او پر یکړو ته [چې د رسول اللهﷺ په احادیثو کې راغلې دي] وسپارئ [یعنی دا چې ترڅو پکې فیصله وکړي، ځکه یقینا چې پدې کې ای مومنانو!] که تاسې پر الله او د آخرت پر ورځ ایمان راوړئ وي؛ د ستاسې ګټه او خیر دئ، او هم د دغسې پر یکړو راتلونکې تاسې ته ښه او غوره ده.

قدرمنو عز یزانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې مونږ ته ډیرې ارزښتناکه لارښودنې او غوره سپارښتنې کړې دي چې پکې د زمونږ ګټه ده او د زمونږ دنیا او آخرت را ته نیکمرغه کوي او خوښي رابښي.

هو؛ درندو دوستانو! الله تعالی په لمړي آیت کې د امانتونو پر سپارلو باندې خپلو خاوندانو او د امانت وړتیا لرونکو کسانو ته حکم او سپارښت کړئ دئ، او د امانتونو معنا دلته عامه ده او هرډول امانتونه پکې شامل او ګډ دي، مخصوصا دا چې ښایي هر ټولینیز کار او دنده ښو متعهدو او لائقو کسانو ته چې وړتیا یې لري او ښه ور باندې پوهیږي وسپارل سي، ځکه په یوه ټولنه کې چې کله امانتونه ضائع سي، نو بیا دا خلک د قیامت ورځې راتګ ته سترګې په لار وي، لکه څنګه چې مونږ رسول اللهﷺ ورڅخه کلک ګوابسلي یو، او فرمایلي دي: (إذا ضاعت الأمانة فانتظروا الساعة) هو! کله چې امانت د پښولاندې سه، نو بیا تاسې ای خلکو! د قیامت ورځې راتګ ته انتظار و باسئ!

ګرانو عز یزانو! او همدارنګه الله تعالی پدې مبارک آیت کې مونږ مومنانو ته حکم کړئ دئ چې د خلکو په منځ کې پر عدالت او انصاف سره قیصله او پر یکړه وکړو، او هرچا ته د هغه خپل حق وسپارو او د مظلوم حق د ظالم نه واخلو او ټولنه ښاده او نیکمرغه کړو.

او بيا په ور پسې مبارك آيت کې مونږ مومنان الله تعالى خپل اطاعت او د هغه پيغمبرﷺ اطاعت ته رابللي يو، او هم يې را ته حکم او سپارښت کړئ دئ چې د خپلو مشرانو واکمنانو حکم ته غاړه کيږدو، او د الله تعالى معصيت او ګناه نه پرته؛ هغه په هرڅه کې ومنو او سرغړونه ورڅخه ونکړو، او کله چې د زمونږ په منځ کې په کومه پيښه او په کم کار کې اختلاف راسي، نو ښايي هغه د الله شر يعت ته چې په قرآن کې او د رسول اللهﷺ په سنتو او احاديثو کې يې بيان راغلئ دئ؛ حواله کړو او د اسلامي شر يعت فيصلې چې د الله فيصلې دي پر خپلو ځانو ومنو او پرې پلې يې کړو، ځکه پدې کې مونږ ته خير او نيکمرغي ده، يعنى د زمونږ دنيا او آخرت دواړه ښاديږي او خوښي او سعادت مو په برخه کيږي.

{د يهودو منافقان چې شيطان غولولي ول الله رسوا کړل}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى خپل پيغمبرﷺ او مومنانو ته د يهودو منافقانو بد خو يونه او بدې کړنې رسوا کړې دي، او فرمايلي دي:

﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ ءَامَنُوا۟ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُوٓا۟ إِلَى ٱلطَّٰغُوتِ وَقَدْ أُمِرُوٓا۟ أَن يَكْفُرُوا۟ بِهِۦ وَيُرِيدُ ٱلشَّيْطَٰنُ أَن يُضِلَّهُمْ ضَلَٰلًۢا بَعِيدًا ﴿٦٠﴾ وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا۟ إِلَىٰ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ وَإِلَى ٱلرَّسُولِ رَأَيْتَ ٱلْمُنَٰفِقِينَ يَصُدُّونَ عَنكَ صُدُودًا ﴿٦١﴾ فَكَيْفَ إِذَآ أَصَٰبَتْهُم مُّصِيبَةٌۢ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ ثُمَّ جَآءُوكَ يَحْلِفُونَ بِٱللَّهِ إِنْ أَرَدْنَآ إِلَّآ إِحْسَٰنًا وَتَوْفِيقًا ﴿٦٢﴾ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ يَعْلَمُ ٱللَّهُ مَا فِى قُلُوبِهِمْ فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ وَعِظْهُمْ وَقُل لَّهُمْ فِىٓ أَنفُسِهِمْ قَوْلًۢا بَلِيغًا ﴿٦٣﴾﴾

[٦٠] ای پيغمبره! آيا ته دغو منافقانو ته نه ګورې؟ [چې دوی ځانونه اهل کتاب بولي او دوه مخې چلند کړي] دوی ګمان يا خيال کړي [او په دروغژنو خولو وايي چې دوی يقينا پر هغه کتاب چې هغه پر تا باندې رانازل سوئ دئ؛ ايمان راوړئ دئ او هغه مني! او همدارنګه دوی د ستانه

مخکې پر پخوانيو را نازل سوو کتابونو (تورات او انجيل) باندې هم ايمان راوړئ دئ، خو د بلې خوا دوی غواړي چې خپلې پر يکړې د الله کتاب نه پرته د طاغوت (شيطان) په خوله [چې هغه د الله حکم مخالف دئ] وکړي! حال دا چې دوی ته د الله لخوا حکم سوئ دئ چې پر طاغوت [يعنی په شيطان باندې] کافران سي او هغه ونه مني او د دغو منافقانو دا دوه مخ چلند او در يځ د شيطان غوښتنه ده او شيطان غواړي چې دوی د سمې لارې نه ورک کړي او ورڅخه پې واړه وي.

[٦١] او بيا چې کله دوی ته وو يل سي [يعنی نصيحت ورته وسي] چې هغه څه ته چې هغه الله رانازل کړي دي راسی او د پيغمبر په سنتو باندې عمل وکړی! [نو بيا ته ای پيغمبره! منافقان و يې چې په خوله يو څه وايي او په زړو کې يې بل څه دي] او خلک د ستا نه بلې خوا ته اړوي، يعنی په ډير زور او ځواک سره پدې لار کې منډې وهي!

[٦٢] او کله چې دغو منافقانو ته د دوی د خپلو بدو کړنو نه څه مصيبت او تاوان ورسيږي، نو بيا به بل څه وايي؟ او ای پيغمبره! نو بيا دغه منافقان تاته راغلل او پر الله يې لوړې وکړې او و يل يې چې مونږ د خلکو په منځ کې د ښو کړنو او د روغې جوړې نه پرته بل څه نه غوښتل!

[٦٣] هو! دوی هغه کسان دي چې الله پوهيږي د دوی په زړو کې څه شئ دي؟ نو ته ای پيغمبره! د دوی نه مخ واړوه او ورته وعظ او نصيحت وکړه او دوی ته د دوی د ځانو په باره کې ښه سپينه او ګواښونکې خبره وکړه، يعنی د خپلو بدو او دوه مخه کړنو نه يې کلک وو يروه، ترڅو عبرت وا خلي او څه زده کړي!

{د پيغمبر انو اطاعت او خبره منل يې فرض دي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی مومنان د پيغمبرانو فرمان وړو او اطاعت ته رابللي دي او د سرغړونو نه يې ګواښلي، او فرمايلي دي:

﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا لِيُطَاعَ بِإِذۡنِ ٱللَّهِۚ وَلَوۡ أَنَّهُمۡ إِذ

ظَلَمُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ جَآءُوكَ فَٱسۡتَغۡفَرُواْ ٱللَّهَ وَٱسۡتَغۡفَرَ لَهُمُ ٱلرَّسُولُ لَوَجَدُواْ ٱللَّهَ تَوَّابٗا رَّحِيمٗا ٦٤ فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤۡمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيۡنَهُمۡ ثُمَّ لَا يَجِدُواْ فِيٓ أَنفُسِهِمۡ حَرَجٗا مِّمَّا قَضَيۡتَ وَيُسَلِّمُواْ تَسۡلِيمٗا ٦٥ وَلَوۡ أَنَّا كَتَبۡنَا عَلَيۡهِمۡ أَنِ ٱقۡتُلُوٓاْ أَنفُسَكُمۡ أَوِ ٱخۡرُجُواْ مِن دِيَٰرِكُم مَّا فَعَلُوهُ إِلَّا قَلِيلٞ مِّنۡهُمۡۖ وَلَوۡ أَنَّهُمۡ فَعَلُواْ مَا يُوعَظُونَ بِهِۦ لَكَانَ خَيۡرٗا لَّهُمۡ وَأَشَدَّ تَثۡبِيتٗا ٦٦ وَإِذٗا لَّأٓتَيۡنَٰهُم مِّن لَّدُنَّآ أَجۡرًا عَظِيمٗا ٦٧ وَلَهَدَيۡنَٰهُمۡ صِرَٰطٗا مُّسۡتَقِيمٗا ٦٨ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ فَأُوْلَٰٓئِكَ مَعَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِم مِّنَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ وَٱلصِّدِّيقِينَ وَٱلشُّهَدَآءِ وَٱلصَّٰلِحِينَۚ وَحَسُنَ أُوْلَٰٓئِكَ رَفِيقٗا ٦٩ ذَٰلِكَ ٱلۡفَضۡلُ مِنَ ٱللَّهِۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ عَلِيمٗا ٧٠

[٦٤] او ای پیغمبره! هیڅ استازئ مونږ ندئ را لیږلئ، مګر دا چې د الله په حکم باندې د هغه اطاعت کیږي [یعنی نو خلکو ته ښایي چې پر پیغمبر ایمان راوړي او حکم یې ومني] او کله چې دغو کسانو یقینا پر خپلو ځانو باندې ظلم وکه، نو بیا تاته ای پیغمبره! راغلل [او تو به یې وایستله] او د خپلو ګناهوو ښښنه یې د الله نه وغوښتله او پیغمبر هم دوي ته د الله نه ښښنه وغوښتله، نو الله دوی ښه لوی تو به قبلونکئ او ښه مهر بان خدای بیاموند چې تو به قبلوي او ګناه ښنې.

او بیا په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی د پیغمبرﷺ حکمونو پر منلو باندې ټینګار کړئ دئ، او فرمایلي دي:

[٦٥] نو ای پیغمبره! د ستا پر رب باندې لوړه او قسم دئ؟ چې دغه کسان ترهغو ر یښتیني مومنان نه ګڼل کیږي، ترڅو تا په خپل منځي شخړو او جګړو کې حاکم او قاضي ونه کړئوي؟ او بیا چې کله ته د دوی په منځ کې حکم او پر یکړه وکړې، نو بیا ښایي چې د ستا حکم نه په خپلو زړونو کې په تنګ او ناخوښه نسي او هغه ته پوره تسلیم سي، یعنی د رسول اللهﷺ په حکم خوښ او راضي وي.

درندو دوستانو! دا حکم د رسول اللهﷺ په ژوند کې وه، او بیا د هغه مړ ینې او وفات نه وروسته هم د الله او د پیغمبر شر یعت منل پر مونږ باندې فرض دي او د رسول اللهﷺ په حکمونو او پر یکړو باندې ښایي راضي او خوښ وو، او د طاغوت (شیطان) فیصلو پسې چې قرآن او سنتو سره په مخالفت کې د بشري خوښو پر یکړې دي؛ لاړ نسو، یعنی ښایي د مسلمان ژوند ټول قوانین د قران په رڼا کې تصو یب سي او وچلیږي!

[٦٦] او ای پیغمبره! که چیري مونږ پر دغو منافقانو باندي دا فرض کړو چې ای منافقانو! خپل ځانونه ووژني او د خپلو کورونو او کلیو او باندو نه ووځي، نو ډیر لږ کســان به د دوی نه پدې حکم عمل وکړي او هغه به پرځای کړي، خو که چیرې دوی یقینا په دغســي وعظونو او نصیحتو چې دوی ته کیږي عمل وکړي، نو دوی ته پکې خیر دئ او د دوی ایمان به ښه کلک کړي.

[٦٧-٦٨] او بیا به مومنانو ته مونږ ښه ډیر ثواب ورکړو او سمي لاری ته به یې برابر کړو.

[٦٩] او هر هغه څوک چې د الله او د هغه پیغمبر اطاعت وکړي [یعنی خبره یې ومني] نو دوی به د هغو کســانو ملګري ســي چې الله پر هغوی بانــدې خپل نعمت لورولئ او پیرزو کړئ دئ[او دغه د الله نعمتونو مستحق کسان] پیغمبران او پر پیغمبرانو باندې باور کونکي مومنان او د الله په لار کی شهیدان، نیکان او صالحان دي، او د هغوی ملګرتیا ښه ملګرتیا ده، یعنی دا چې د الله جنتونه به د دوی په برخه سي، او دا د الله تعالی لخوا پر دوی باندې لو یه پیرزو ینه ده، او د الله علم او پوهه پر خپلو بنده ګانو باندي کافی او بس ده، یعنی نو الله تعالی د خپل علم سره سم هرچاته چې د ثواب لائق وي؛ ثواب ورکوي.

قدرمنو دوســتانو! دا مبارك آیتونه چې د (٥٩- ٧٠) پورې آیتونه دي، که څه هم د یوه مومن او د یوه منافق په منځ کې د دعوا هغه حکم او پر یکړې په باره کې رانازل سوي دي چې هغه پر یکړه رسول اللهﷺ وکړه،

نو بيا دې منافق د رسـول الله حکم ونه مانه او د يهودو مشـر حکم غوښتونکئ سه، خو د الله تعالی د دغو مبارکو لارښودنو حکم يو تل پاتې حکم دئ او عملي کول يې پر مومنانو باندې فرض دي، ځکه الله تعالی په دغو مبارکو آيتونو کې مونږ ته د منافقانو کرکجن خو يونه او د دوی دوه مخئ چلند بيان کړئ دئ، او بيا يې هغه کلک غندلئ دئ او دوی يې د الله تعالی په شـر يعت باندې عمل کړو او د ګناه نه تو به و يسـتلو ته رابللي دي، او د توبې قبليدو ز يرئ يې ورکړئ دئ، او د رسول اللهﷺ په اطاعت او د حکمونو په منلو يې ټينګار کړئ دئ، او هر هغه څوک چې د الله او د پيغمبر اطاعت وکړي، او شر يعت يې ومني او عمل پری وکړي، نو هغه ته الله تعالی د آخرت په ورځ پيغمبرانو سـره د ملګرتيا ز يرئ ورکړئ دئ، نو ښـايي ګرانو ورونو او خو يندو! چې مونږ مومنان په پوره صـداقت او اخلاص سـره د الله شـر يعت ته غاړه کيږدو او هغه پر ځان پلئ او عملي کړو او د رسول اللهﷺ په لار روان سو او د منافقت او دوه مخي چلند نه خپل ځانونه په کلکه سـره وسـاتو، ترڅو د دنيا او آخرت نيکمرغي زمونږ په برخه سـي او د قيامت په ورځ سـپين مخي او سـر لوړي د الله تعالی په حضور کی ودر يږو.

{ د دښمن سره په جګړه کې ځان ساتنې ته پاملرنه فرض ده }

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی مومنانو ته د دښمن سره په جګړه کې د غوره امنيتي تګ لارې جوړولو سپارښت کړئ دئ، فرمايلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ خُذُواْ حِذۡرَكُمۡ فَٱنفِرُواْ ثُبَاتٍ أَوِ ٱنفِرُواْ جَمِيعٗا ٧١ وَإِنَّ مِنكُمۡ لَمَن لَّيُبَطِّئَنَّ فَإِنۡ أَصَٰبَتۡكُم مُّصِيبَةٞ قَالَ قَدۡ أَنۡعَمَ ٱللَّهُ عَلَيَّ إِذۡ لَمۡ أَكُن مَّعَهُمۡ شَهِيدٗا ٧٢ وَلَئِنۡ أَصَٰبَكُمۡ فَضۡلٞ مِّنَ ٱللَّهِ لَيَقُولَنَّ كَأَن لَّمۡ تَكُۢنۢ بَيۡنَكُمۡ وَبَيۡنَهُۥ مَوَدَّةٞ يَٰلَيۡتَنِي كُنتُ مَعَهُمۡ فَأَفُوزَ فَوۡزًا عَظِيمٗا ٧٣﴾

[٧١] ای مومنانو! د دښمن سره مخامخ کيدلونه وړاندې تيارسئ سی او خپل امنيت ته کلکه پاملرنه وکړی، او د دښـمن سـره د جګړې ډګر ته

ټولګئ ټولګی او یا یوځای او په ډلیز ډول ورودانګی، یعنی د جګړې څرنګوالي سره مناسبه تګ لاره غوره کړی.

[۷۲] او ای مومنانو! یقینا چې د ستاسې منځ نه داسې څوک هم سته چې دښمن سره په جګړه کې د مخامخ کیدولو نه؛ ځان زنډوي [یعنی د جګړې ډګر ته نه درسره ځي او نور کسان هم دی ته هڅوي چې یرغلګر دښمن سره مخامخ جګړې ته لاړ نسي] نو بیا چې کله تاسې ته ای مومنانو! د دښمن لخوا څه مصیبت ورسیږي او ز یانمن سی، نو بیا دغه کس وایي: پر ما باندې الله خپله پیرزو ینه وکړه چې زه د دوی سره په جګړه کې نه وم، یعنی که زه ورسره وای، نو زه به هم ز یانمن سوئ وم او د کلک ګواښ سره به مخامخ سوئ وم!

[۷۳] او که چیرې پرتاسې باندې ای مومنانو! پدې جګړه کې د الله لخوا څه فضل وسي [یعنی دښمن ته ماته ورکړی او غنیمت لاس ته راوړی] نو بیا به دا کس پښیمانئ کړي او وایي به چې کاشکې زه هم ورسره وای او لو یه لاس ته راوړنه به زما په برخه سوی وه، لکه دا چې د ستاسې او هغه په منځ کی د دې نه مخکې هیڅ اړ یکه او مینه نه وه، یعنی تاسې یو بل نه سره پیژندل!

هو؛ درندو عز یزانو! دغسې کسان په ټولنه کې تل وي او د ګواښ یا خطر په وخت کې غواړي ځان ګوښه کړي، خو کله چې خطر لرې سي او د غنیمت و یش وخت راسي، نو بیا ځان په توره کې شر یك بولي، نو یقینا چې دوی منافقانو ته ورته خوی لري، نو هغوی سره چلند کلکه و یښتیا غواړي، ترڅو مخلص کسان په دغسې منافق خو یه کسانو باندې ونه غولیږي او د دوی د پستو خبرو او غوړه ماری ښکار نسي.

{د الله لارې مجاهدین دنیا ژوند د آخرت په ژوند خرڅوي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی مومنان د الله په لار کې مسلح جهاد ته رابللي دي، ترڅو بې وسې مومنان د کافرانو ظلم او ز برځواکی نه خوندي پاتې سي، او فرمایلي دي:

﴿* فَلْيُقَٰتِلْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ٱلَّذِينَ يَشْرُونَ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا بِٱلْءَاخِرَةِ ۚ وَمَن يُقَٰتِلْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَيُقْتَلْ أَوْ يَغْلِبْ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا ﴿٧٤﴾ وَمَا لَكُمْ لَا تُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱلْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ ٱلرِّجَالِ وَٱلنِّسَآءِ وَٱلْوِلْدَٰنِ ٱلَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَآ أَخْرِجْنَا مِنْ هَٰذِهِ ٱلْقَرْيَةِ ٱلظَّالِمِ أَهْلُهَا وَٱجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ وَلِيًّا وَٱجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ نَصِيرًا ﴿٧٥﴾ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ۖ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِ ٱلطَّٰغُوتِ فَقَٰتِلُوٓا۟ أَوْلِيَآءَ ٱلشَّيْطَٰنِ ۖ إِنَّ كَيْدَ ٱلشَّيْطَٰنِ كَانَ ضَعِيفًا ﴿٧٦﴾ *﴾

[٧٤] [ای مومنانو!] نو هغه کسان ده د الله په لار کې جګړه وکړي چې دوی د دنیا ژوند د آخرت په ژوند باندې پلوري او پرې خرڅوي يې [یعنی د دنیا ژوند خوند نه تیریږی، ترڅو د آخرت ژوند خوند وڅکي] او هر هغه څوک چې د الله په لار کې جنګیږي او بیا وژل کیږي او یا يې بر یا په برخه کیږي، نو هغه ته به مونږ لوی ثواب ورکړو، یعنی جنت به ورکړو او هلته به دئ د تل پاتې خوند اخستلو نه برخمن سي.

[٧٥] ای مومنانو! تاسې ولې د الله په لار کې جګړه نکړئ او د ځپل سوو ضعیفو مظلومانو نه دفاع نکړئ؟ حال دا چې نار ینه، ښځې او واړه ماشومان چیغې وهي او وایي: ای د زمونږ لو یه ر به! مونږ د دې کلي او ښار نه چې اوسیدونکی يې ظالمان دي و باسه او مونږ ته د خپل پلو نه څوک ملګرئ او مرستندوی وګرځوه!

[٧٦] هو! هغو کسانو چې ایمان راوړئ دئ؛ دوی د الله په لار کې جګړه کړي او هغه کسان چې کافران سول؛ دوی د طاغوت (شیطان) په لار کې جنګیږي، نو د شیطان ملګرتیا مه کړئ او ورسره وجنګیږئ، او یقینا چې د شیطان چلونه او توطئې کاواکه او کمزوري دي، یعنی مومنان به خاماخا پر کافرانو باندې زورور کیږي.

ګرانو دوستانو! په دغو مبارکو آیتونو کې الله تعالی هغو مومنانو ته د پوره تیارسي لارښودنې کړې دي چې دوی د کافرانو هغسې یو لوی جګړمار

لښکر سره په مسلح جهاد کې مخامخ سول چې دښمن يې په اسلحه سمبال لښکر د مکې نه مديني ته راخوځولې وه، او همدارنګه الله تعالى مومنان د ضعيف ايمانه او منافق خو يه کسانو موجوديت او شتون نه د مومنانو په منځ کې خبر کړي دي، او بيا يې مومنان د الله په لار کې جګړې او جهاد ته رابللي دي او د مظلومانو نه دفاع يې پر دوی باندې فرض کړې ده، او دوی ته يې حکم کړئ دئ چې د الله په لار کې او د زَورول سوو مظلومو نار ينو، ښځو او وړو ماشومانو نه د دفاع او د دوی د خلاصون لپاره ده دښمن سره وجنګيږي، او بيا الله تعالى مومنانو ته کلک ز يرئ او ډاډ ورکړي دئ چې د دوی جهاد د الله په لار کې دئ او دښمن يې د شيطان په لار کې جنګيږي، او د شيطان چلونه او پلانونه کاواکه او ضعيفه دي، نو د کافرانو ماته او د جګړې ډګر نه مختورنه تيښته؛ يقيني او حتمي ده، او يقينا چې دغه ارزښتناکه الهي لارښودنې مومنانو ته تل پاتې ځلانده چراغونه دي، ځکه دوی ته د جګړې په ډګر کې د حق لار د باطل پر وړاندې رښا کوي، ترڅو په دغسې لار لاړ سې او خپل دښمن د الله په توفيق مات کړي.

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د هغو کسانو حال بيان کړئ دئ چې د هجرت نه پخوا په مکه معظمه کې پر دوی باندې د ايمان راوړو نه وروسته؛ يوازې لمونځ کړل او د بې وزرو کسانو سره مرسته کول فرض ول او جهاد ور باندې فرض نه وه، خو دوی د کافرانو سره د جګړې او جهاد غوښتونکي ول، نو بيا چې کله پر دوی باندې دښمن سره جهاد فرض سه، نو د دغو مومنانو نه د ځينو کسانو په زړونو کې د کافرانو نه ډار او و يره د خداى و يرې نه ډيره ولو يده، نو بيا دوی پر الله باندې نيوکه وکړه او و يو يل چې ای لو يه ر به! ولې تا پر مونږ باندې جګړه فرض کړه؟ نو بيا الله تعالى د دوی اعتراضونه ځواب کړي، او فرمايلي دي:

{مرګ په جګړه کې نه بلکې برجونو کې ناستو پسې هم ورځي}

هو؛ درندو عز يزانو! د دغو مبارکو آيتونو په پيل کې الله تعالى خپل

پيغمبر ته سپارښت کړئ دئ چې مومنان ډاډمن کړي، ځکه مرګ او ژوند د الله په واک کې دئ او کله چې د چا اجل پوره سي، نو په لوړو برجونو کې ميشت کسان هم د مرګ نه خلاصون نه لري او ملک الموت (عزرائيل) هغوی پسې ورځي او ساه يې اخلي، او فرمايلي دي:

﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ قِيلَ لَهُمْ كُفُّوٓاْ أَيْدِيَكُمْ وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ ٱلْقِتَالُ إِذَا فَرِيقٌ مِّنْهُمْ يَخْشَوْنَ ٱلنَّاسَ كَخَشْيَةِ ٱللَّهِ أَوْ أَشَدَّ خَشْيَةً ۚ وَقَالُواْ رَبَّنَا لِمَ كَتَبْتَ عَلَيْنَا ٱلْقِتَالَ لَوْلَآ أَخَّرْتَنَآ إِلَىٰٓ أَجَلٍ قَرِيبٍ ۗ قُلْ مَتَٰعُ ٱلدُّنْيَا قَلِيلٌ وَٱلْءَاخِرَةُ خَيْرٌ لِّمَنِ ٱتَّقَىٰ وَلَا تُظْلَمُونَ فَتِيلًا ﴿٧٧﴾ أَيْنَمَا تَكُونُواْ يُدْرِككُّمُ ٱلْمَوْتُ وَلَوْ كُنتُمْ فِى بُرُوجٍ مُّشَيَّدَةٍ ۗ وَإِن تُصِبْهُمْ حَسَنَةٌ يَقُولُواْ هَٰذِهِۦ مِنْ عِندِ ٱللَّهِ ۖ وَإِن تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَقُولُواْ هَٰذِهِۦ مِنْ عِندِكَ ۚ قُلْ كُلٌّ مِّنْ عِندِ ٱللَّهِ ۖ فَمَالِ هَٰٓؤُلَآءِ ٱلْقَوْمِ لَا يَكَادُونَ يَفْقَهُونَ حَدِيثًا ﴿٧٨﴾ مَّآ أَصَابَكَ مِنْ حَسَنَةٍ فَمِنَ ٱللَّهِ وَمَآ أَصَابَكَ مِن سَيِّئَةٍ فَمِن نَّفْسِكَ ۚ وَأَرْسَلْنَٰكَ لِلنَّاسِ رَسُولًا ۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدًا ﴿٧٩﴾ مَّن يُطِعِ ٱلرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ ٱللَّهَ ۖ وَمَن تَوَلَّىٰ فَمَآ أَرْسَلْنَٰكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظًا ﴿٨٠﴾﴾

[٧٧] ای پيغمبره! آيا هغو کسانو ته نه کورې چې کله دوی ته په مکه کې وو يل سول چې خپل لاسونه د مشرکانو زور ز ياتي مخنيوي نه ونيسی، او ورته ووايه چې تاسې يوازې لمونځ وکړی او د محتاجو بې وزره کسانو سره مالي مرسته وکړی او زکات ورکړی [ترڅو تاسې د ذاتي او معنوي ځواکمنۍ څښتن سی، خو دوی د جګړې او مقاومت غوښتونکي ول] نو بيا چې کله پر دوی باندې کافرانو سره مسلح جهاد او مقاومت فرض سه، نو دا دئ اوس د دوی نه يوه ډلکی د هغو خلکو نه چې د دوی دښمنان ول؛ داسې وو يې يدل، لکه د خدای او رب العالمين نه چې کلک و يې يرې، بلکې د هغې نه هم ډيرې و يرې پسې اخستې ول، او لاس په دعائې و يل: ای د زمونږ لو يه څښتنه! ولې ده پر مونږ باندې دښمن سره جګړه فرض کړه؟ او ولې ده مونږ د څه لنډ وخته پوړې ونه زنډولو؟ نو ته ای پيغمبره!

دغو کسانو ته سپارښت وکړه او ورته ووايه: د دنيا متاع او ورڅخه خوند اخستل لږ دي او د آخرت ورځې ثواب هغه چاته چې د عذاب نه ځان ساتي ښه غوره دئ او پکې خير دئ، او پر تاسې باندې ای خلکو! د يوه ايښته قدر ظلم نکيږي او هرچاته د خپل عمل ثواب او سزا ورکول کيږي.

[٧٨] [او ای د مرګ و يرې پسې اخستو کسانو!] تاسې چې هر چيرته ياستئ مرګ در پسې دئ او تاسې لاندې کوي، که څه هم په لوړو ودانيو او په پخو کلاګانو او برجونو کې وئ! او کله چې دغو کسانو ته ښيګنه او ګټه ورسيږي، نو بيا وايي: دا احسان د الله له پلوه دئ، خو که چيرې ستونزه او سختي ورته ورسيږي، نو بيا وايي: ای پيغمبره! دا مصيبت او ستونزه مونږ ته د ستا لخوا ده! نو ته ای پيغمبره! دوی ته ووايه: دا ټول د الله لخوا دي [يعني هرڅه د الله په تقديري پر يکړه تر سره کيږي او د الله په واک او اختيار کې دي] نو ولې دغه کسان تر اوسه په خبره نه پوهيږي؟

قدرمنو دوستانو! الله تعالى په دغو مبارکو آيتونو کې د دغسې ناپوهو کسانو اعتراضونه پرالله تعالى باندې کلک غندلي او رد کړي دي، نو مومنانو ته ښايي چې خپلې خولې د دغسې خبرو نه کلکې وساتي.

[٧٩] او ای پيغمبره! هغه څه چې تاته [او د ستا امت ته] د خير او ښيګنې نه رسيدلي دي؛ هغه د الله له پلوه دي [يعنى هغه د الله تقد يري حکم او پر يکړې سره سم پر تاسې د الله تعالى پيرزو ينه ده] خو هغه څه چې د ستونزو او تاوان نه درته رسيدلي دي؛ هغه ستاسې د خپلو ځانونونه دي [يعنى دا مصيبت د خپل اماره بالسؤ نفس نه وانګيرى، ځکه هرڅوک د خپلو کړنو نه مسئول دئ او پوښتنه ورڅخه کيږي] او ته ای پيغمبره! مونږ خلکو ته استازئ راليږلئ يې، نو د الله شاهدي تاته بس ده، يعنى ښه او بد، خير او شر په اصل خلقت او پيدايښت کې د الله کار دئ، خو پيښدل يې د زمونږ په ژوند کې اسبابو سره تړلي دي او هغه هم د الله تعالى د لوی کوني نظام يوه برخه ده، او هره پيښه خپل ځانګړي اسباب لري، خو د خلکو کړنو سره تړلي دي، نو لکه هغه مشهور مثال(متل) چې

وايي: څه چې کري هغه به ر يي، يعنی چاچې غنم کرلي دي غنم به ر يي او که ور بشې وي، نو بيابه ور بشې ريي او حاصل بې اخلي!

ګرانو عز يزانو! رسول اللهﷺ چې د خپل قوم قر يشو لخوا په ډول ډول پلمو وزورول سه، نو الله تعالی ورته پدې مبارك آيت کې کلک ډاډ او تسليت ورکړئ دئ.

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی د محمدﷺ پيغمبری باندې ټينګار کړئ دئ او د هغه نه فرمان ورل يې د الله نه فرمان ورل او اطاعت بللي دي، او فرمايلې دي:

[٨٠] او هر څوک چې د پيغمبر اطاعت وکړي [يعنی خبره يې ومني] نو يقينا چې هغه د الله اطاعت کړئ دئ، او هرڅوک چې په شا واوښت او د پيغمبر نه يې مخ واړا وه [يعنی د الله او د پيغمبر خبره يې ونه منله] نو بيا ته ای پيغمبره! مونږ پر دوی باندې ساتونکئ او څارونکئ نه يې را لېږلي، يعنی دا چې پيغمبرﷺ ته او د هغه وارثانو علماوو ته چې خلک اسلام ته رابولي؛ نبايي چې د خلکو په کفر او د حق نه د دوی په ورکتيا باندې ځانونو نه ونه زوروي، ځکه د دوی دنده او رسالت يوازې تبليغ دئ، خو کله چې اسلامي ټولنه جوړه سي او مومنان بيعت وکړي، نو بيا د شرعي حکمونو او د نظام پلي کولو او تطبيق نه څار پرحکومت فرض دئ.

{منافقان ځانونه مسلمان بولي خو په زړو کې توطئې جوړوي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی پيغمبرﷺ د منافقانو پټو مقصدونو نه خبر کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿وَيَقُولُونَ طَاعَةٌ فَإِذَا بَرَزُوا۟ مِنْ عِندِكَ بَيَّتَ طَآئِفَةٌ مِّنْهُمْ غَيْرَ ٱلَّذِى تَقُولُ ۖ وَٱللَّهُ يَكْتُبُ مَا يُبَيِّتُونَ ۖ فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ وَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِ ۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلًا ﴿٨١﴾ أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ ٱلْقُرْءَانَ ۚ وَلَوْ كَانَ مِنْ عِندِ غَيْرِ ٱللَّهِ

لَوَجَدُواْ فِيهِ ٱخۡتِلَٰفٗا كَثِيرٗا ﴿٨٢﴾

[٨١] ای پیغمبره! [او دغه منافق صفته کسان چې د ستا اطاعت او خبرو منلو نه يې مخ اړولئ دئ؛ دوی د ستا په مجلس کې] وايي: مونږ اطاعت کړو [یعنی د پیغمبر خبرې منو] خو کله چې د ستا مجلس نه ووځي، نو بیا د دوی نه یوه ډلکي د هغو خبرو نه پرته چې په ښکاره يي و يلې؛ بل څه په شپه کې غوټه کوي او الله د دوی دغه په شپه کې غوټه سوې پټې توطئې ليکي، نو ته ای پیغمبره! د دغو کسانو نه مخ واړه وه او پروايې مکړه او پر الله توکل او پروسعه وکړه، او الله چې د ستا لاس نیونکئ لوی څښتن دئ؛ درته کافي او بس دئ.

قدرمنو دوستانو! هو؛ دغو کسانو چې د پیغمبرﷺ سره يې دوه مخئ چلند کاوه؛ دوی منافقان ول، او په اسلامي ټولنه کې دغسې منافق کسان تل موجود وي او په ښکاره دوی د اطاعت او فرمان وړلو خبره کړي، خو په زړو کې د شیطان چلونه او توطئې د حق پالانو پر ضد جوړوي، نو مومنانو ته ښايي چې هیڅ کله د دغسې ډلګيو شیطانی نه غافل او بې پروا نسي او تل و ینې وي او پر الله تعالی ده توکل وکړی، او د منافقانو مکرنو او شیطاني توطئیو پر وړاندې ده؛ ښه کلک ودر يږي او شندې دې کړي.

[٨٢] او آیا دغه [منافق خو يه کسان] د قرآن په معنا کې ژور فکر نکړي؟ [یعني ښايي دوی د قرآن په معنا کې ښه ژور فکر وکړي، ترڅو يې باور راسي چې قرآن د الله کتاب دئ او پر خپل پیغمبر محمدﷺ باندې يې را نازل کړئ دئ] او دا ځکه چې که دا د قرآن خبرې د الله نه پرته د بل چا لخوا وای، نو یقینا چې دوی به پکې ډیر اختلاف موندلئ وه [خو الحمد لله په قرآن کې هیڅ ډول اختلاف نسته، نه يې په آیتونو کې او نه يې په حکمونو کې د یو بل سره تضاد سته او ټول یو بل سره ترلې دي، نو یقینا چې دا د قرآن په ر ښتینوالي او حقانیت باندې چې د الله تعالی حق کتاب دئ؛ پوخ دلیل او ځلاند حجت دئ]

{د ژوند په نو يو پېښو کې فتوا ورکول د علماوو کار دئ}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى مومنانو ته سپارښت کړئ دئ چې په نو يو پېښو کې په تلوار سره ژر حکم مکړي، بلکې ښايي هغه علماوو او پوهانو ته وسپاري، ترڅو مناسبه فتوا پکې ورکړي او ټولنه د ګواښونو او خطرونو نه وساتي، او فرمايلي دي:

﴿وَإِذَا جَآءَهُمۡ أَمۡرٞ مِّنَ ٱلۡأَمۡنِ أَوِ ٱلۡخَوۡفِ أَذَاعُواْ بِهِۦۖ وَلَوۡ رَدُّوهُ إِلَى ٱلرَّسُولِ وَإِلَىٰٓ أُوْلِي ٱلۡأَمۡرِ مِنۡهُمۡ لَعَلِمَهُ ٱلَّذِينَ يَسۡتَنۢبِطُونَهُۥ مِنۡهُمۡۗ وَلَوۡلَا فَضۡلُ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ وَرَحۡمَتُهُۥ لَٱتَّبَعۡتُمُ ٱلشَّيۡطَٰنَ إِلَّا قَلِيلٗا ٨٣ فَقَٰتِلۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۚ لَا تُكَلَّفُ إِلَّا نَفۡسَكَۚ وَحَرِّضِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَۖ عَسَى ٱللَّهُ أَن يَكُفَّ بَأۡسَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْۚ وَٱللَّهُ أَشَدُّ بَأۡسٗا وَأَشَدُّ تَنكِيلٗا ٨٤﴾

[٨٣] هو! کله چې دغو کسانو ته [يعنى دغو کم علمه او منافق صفته کسانو ته چې ايمان يې کمزورئ دئ] يو داسې خبر راسي چې پکې د امنيت ز يرئ او يا پکې د و يرې ګواښ وي، نو هغه دوى خوروي، خو که هغه دوى پيغمبر ته او خپلو مشرانو ته وړاندې کړئ واى، نو هغه کسان چې پوهان او علماء دي؛ دوى به يې حکم راو يستلئ وه [يعنى ښاييدل چې دا خبر همداسې پټ ساتل سوئ واى، ترڅو يې شرعي حکم پيژندل سوئ واى، خو دوى هغه خورکه، او که چيرې دوى دا نوئ خبر او پېښه د پيغمبر احاديثو ته وړاندې کړې واى او يا يې خپلو هغو مشرانو علماوو ته چې په خبره پوهيږي وړاندې کړې واى، نو د دوى دغه پوهان به چې د خبرونو نه مغز را و يستلاى سي؛ ور باندې پوه سوي به ول چې د دې خبرو شاته څه غرض او مقصد پټ دئ؟] هو؛ اى د ضعيف ايمان خاوندانو! که چيرې پر تاسې باندې د الله ورکړې او رحمت نه واى، نو تاسې به شيطان پسې تللي وى او ستاسې نه به ډير لږ کسان د شيطان وسوسونه روغ پاتې سوي ول.

ګرانو دوستانو! الله تعالى پدې مبارك آيت کې مونږ ته دوه ډيرې ضروري او اړ يني لارښودنې کړې دي چې ښايي هر مومن بنده هغه په پام کې ونيسي او عمل پرې وکړي؛ لمړئ دا چې ښايي قرآن مجيد په معنا خپل

ځانونه ښــه پوه کړو او پکې ښــه ژور فکر وکړو، ترڅو د الله تعالى دا لارښود کتاب قرآن د زمونږ ژرونه رڼا کړي، او د الله تعالى پر سمه لار چې قرآن ورته رابللي يو روان سو، او دو يمه لارښودنه داچې کله مونږ د مهمو پيښو او خبرونو سره مخامخ کيږو او ورڅخه خبريږو، نو ښايي چې هغه د خپل ځان ســره وســاتو، او بيا يې خپلو مشــرانو پوهانو او علماوو ته ورسوو او د دوی نه د دغسې خبرونو په باره کې پوښتنې وکړو او د شــرعي حکم فتوا ورڅخــه واخلو، ځکــه هغوی چې علمــاء دي د هرې خبرې او پيښــې اصــلي غرض او مقصــد را و يســتلای ســي او په شــرعي حکم يې پوهيږي، نو بيــا مونږ د اللــه تعــالى حکم نــه خبروي، او د پــام وړ ده چې اوســنۍ عامې رســنۍ، راديو تلو يزون، مطبوعات او بر يښــنايي ټولينيزې رسنۍ چې کله يو نوئ خبر يا پيښــه ترلاســه کړي، نو بيا پوهان او شــنونکي ســره کينوي او د همدې قرآني لارښــودنو نه په الهام ســره؛ نوئ خبر او پيښــه څيړي او په رڼا کې يې ټول پوهنه خوروي.

قدرمنو عز يزانو! او په ور پســې مبارك آيت کې الله تعالى پيغمبرﷺ ته په و ينا کې فرمايلي دي چې ته د الله په لار کې جهاد وکړه، او مقصــد يې د مســلح يا وســلوال جهاد پيل دئ، ترڅو د بر يدګرو کفري لښــکرو؛ مخنيوئ وسي او ښکيلاک مات سي، او په بيان کې فرمايلي دي:

[٨٤] نو ته ای پيغمبره! د الله په لار کې جهاد او جګړه وکړه او پر تا باندې يوازې د خپل ځان مکلفيت دئ [يعنى د بل هيڅ چا پوښــتنه ســتانه نکيږي، او ته د ټول امت ذمه وار او مسئول نه يې] خو ته مومنان وهڅوه، چې د ظالم کافر سره جنګ وکړي [يعنى د ظالم پر وړاندې کلک ودر يږي او مقاومت وکړي] ترڅو الله د کافرانو لښکرو تيرئ ستاسې نه لرې کړي، او تاسې د دوی يرغل نه خوندي وساتي، او يقينا چې الله ډير ځواکمن او کلک سزا ورکونکې لوی ذات دئ.

{د خلکو اړتياوو حل لپاره شفاعت او سلام اچول ثواب لري}

او په ور پســې مبارکو آيتونو کې اللــه تعــالى مومنــان يو بل تــه پــه سپارښت او شفاعت ته هڅولي دي، او فرمايلي دي:

﴿مَّن يَشْفَعْ شَفَٰعَةً حَسَنَةً يَكُن لَّهُۥ نَصِيبٌ مِّنْهَا ۖ وَمَن يَشْفَعْ شَفَٰعَةً

سَيِّئَةً يَكُن لَّهُۥ كِفۡلٞ مِّنۡهَاۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ مُّقِيتًا ﴿٨٥﴾ وَإِذَا حُيِّيتُم بِتَحِيَّةٖ فَحَيُّواْ بِأَحۡسَنَ مِنۡهَآ أَوۡ رُدُّوهَآۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٍ حَسِيبًا ﴿٨٦﴾ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۚ لَيَجۡمَعَنَّكُمۡ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ لَا رَيۡبَ فِيهِۗ وَمَنۡ أَصۡدَقُ مِنَ ٱللَّهِ حَدِيثٗا ﴿٨٧﴾

[٨٥] هرڅوک چې چاته ښه سپارښت او شفاعت وکړي، نو په ثواب کې يې شر يك دئ، او هغه څوک چې چاته بد سپارښت وکړي [يعنی په بد کار کې چاته وا سطه سي او سپارښت وکړي او بيا د هغه په سپارښت بل چاته ز يان او تاوان ورسيږي] نو سپارښت کونکئ په ګناه کې شر يك دئ، او الله په هرڅه قادر لوی ذات دئ، نو هرچاته د خپلو ښو کړنو ثواب او د بدو کړنو سزا ورکوي، يعنی د قيامت په ورځ هيڅ څوک د الله حساب نه خلاصيدای نسي.

[٨٦] ای مومنانو! او کله چې پر تاسې چا سلام واچا وه، نو تاسې يې ځواب د هغه نه ښه ورکړی، او يا د هغه غوندې بالمثل ځواب ورکړی [يعنی کله چې پر تاسې باندې چا سلام وچا وه او و يو يل: السلام عليكم، نو تاسې يې په ځواب کې ووايي: عليكم السلام ورحمة الله وبركاته] او يقينا چې الله پر هرڅه څارونکئ او حساب اخستونکئ لوی ذات دئ، يعنی الله تعالی هرچا ته د خپلو ښو کړنو ثواب اود بدو کړنو سزا ورکوي، ترڅو پدې ډول د الله تعالی عدالت خپلو بنده ګانو سره په چلند کې؛ زمونږ لپاره په ژوند کې د عدالت چلولو لارښود پيغام وي.

[٨٧] [او ای خلکو! پدې پوه سی چې] د الله نه پرته بل په ر ښتيا سره معبود نسته او د قيامت په ورځ چې په راتلو کې يې هيڅ شك نسته؛ تاسې ټول الله راټولوي [يعنی د هرچا سره حساب کيږي او ثواب او سزا ورکول کيږي] او هيڅ څوک د الله نه په خپلو خبرو کې ښه صادق او ر ښتينئ ندئ، يعني الله تعالی چې څه وايي هغسې کړي، ځکه الله د هرڅه کړو وسعه او طاقت لري او لوی قادر ذات دئ.

{د منافقانو پرورالاندې مناسب در یځ غوره کول فرض دي}

قدرمنو دوستانو! دا لاندې مبارك آیتونه د احد په غزا کې رانازل سوي دي او پکې الله تعالی مومنانو ته د منافقانو سره په چلند کې ډیرې تل پاتې ارزښتناکه لارښودنې او سپارښتنې کړې دي، او په پیل کې یې فرمایلي دي:

﴿* فَمَا لَكُمْ فِي ٱلْمُنَٰفِقِينَ فِئَتَيْنِ وَٱللَّهُ أَرْكَسَهُم بِمَا كَسَبُوٓاْ ۚ أَتُرِيدُونَ أَن تَهْدُواْ مَنْ أَضَلَّ ٱللَّهُ ۖ وَمَن يُضْلِلِ ٱللَّهُ فَلَن تَجِدَ لَهُۥ سَبِيلًا ٨٨ وَدُّواْ لَوْ تَكْفُرُونَ كَمَا كَفَرُواْ فَتَكُونُونَ سَوَآءً ۖ فَلَا تَتَّخِذُواْ مِنْهُمْ أَوْلِيَآءَ حَتَّىٰ يُهَاجِرُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ۚ فَإِن تَوَلَّوْاْ فَخُذُوهُمْ وَٱقْتُلُوهُمْ حَيْثُ وَجَدتُّمُوهُمْ ۖ وَلَا تَتَّخِذُواْ مِنْهُمْ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا ٨٩ إِلَّا ٱلَّذِينَ يَصِلُونَ إِلَىٰ قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُم مِّيثَٰقٌ أَوْ جَآءُوكُمْ حَصِرَتْ صُدُورُهُمْ أَن يُقَٰتِلُوكُمْ أَوْ يُقَٰتِلُواْ قَوْمَهُمْ ۚ وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ لَسَلَّطَهُمْ عَلَيْكُمْ فَلَقَٰتَلُوكُمْ ۚ فَإِنِ ٱعْتَزَلُوكُمْ فَلَمْ يُقَٰتِلُوكُمْ وَأَلْقَوْاْ إِلَيْكُمُ ٱلسَّلَمَ فَمَا جَعَلَ ٱللَّهُ لَكُمْ عَلَيْهِمْ سَبِيلًا ٩٠ سَتَجِدُونَ ءَاخَرِينَ يُرِيدُونَ أَن يَأْمَنُوكُمْ وَيَأْمَنُواْ قَوْمَهُمْ كُلَّ مَا رُدُّوٓاْ إِلَى ٱلْفِتْنَةِ أُرْكِسُواْ فِيهَا ۚ فَإِن لَّمْ يَعْتَزِلُوكُمْ وَيُلْقُوٓاْ إِلَيْكُمُ ٱلسَّلَمَ وَيَكُفُّوٓاْ أَيْدِيَهُمْ فَخُذُوهُمْ وَٱقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ ۚ وَأُوْلَٰٓئِكُمْ جَعَلْنَا لَكُمْ عَلَيْهِمْ سُلْطَٰنًا مُّبِينًا ٩١﴾

[٨٨] ای مومنانو! نو ولې تاسې د منافقانو پر ورالاندې دوه ډلې سوی؟ [یعنی ځینو د منافقانو سره د جګړې غوښتنه وکړه او ځینې نورو یې مخالفت وکه] او منافقان الله د خپلو بدو کړنو په ګناه مختورن کړل [یعنی بیرته کفر ته واوښتل] او ای مومنانو! آیا تاسې غواړی هغه څوک چې الله د سمې لارې نه ورک که؛ هغه بیرته سمې لارې ته راوګرځوی؟ نا! هغه څوک چې د سمې لارې نه الله ورک که، نو بیا ته ای مومنه! هغه ته سمه لار موندلای نسې، یعنی هغه به همداسې په کږه لار روان وي!

[٨٩] ای مومنانو! او د منافقان خوښیدل چې کاشکې تاسې هم د دوی غوندې کافران سی، نو بیا به ټول سره برابر سی، نو تاسې ای مومنانو! د دغو منافقانو نه هیڅ څوک ملګرئ مه نیسی [یعنی ورسره دوستي مکړی] ترڅو دوی د الله په لار کې هجرت وکړي، نو که بیا چیرې دوی بیرته په شاو واوښتل[یعنی د ستاسې بلنه یې ونه منله او هجرت یې ونکه] نو بیا چې دوی چیرته لاس ته درغلل را و ینیسی او مړه یې کړی، او د منافقانو نه هیڅ څوک ملګرئ او ځان ته مرستندوی مه نیسی، یعنی دا منافقان که په مدینه کې دي او که په مکه کې؛ ترهغو د مومنانو ملګري نکیږي، ترڅو چې په ر یښتیا سره او د زړه له کومي عملي ایمان راوړي او بیا د مکې نه مدینې ته د الله رضا لپاره مهاجر سي، نو مومنانو ته ښایي چې ښه هوښیار اوسي او هیڅ کله پر کافر او منافق باندې ونه غولیږي او د هغه په غوږه مارئ تیر نوئي!

[٩٠] ای مومنانو! خو د کافرانو نه هغه کسان مه وژنئ چې دوی د هغه قوم او ډلې سره اړ یکي لري چې د ستاسې او هغوی په منځ کې ائتلاف او تړون دئ [یعنی دوی د خپلو متحدینو په خاطر مه وژنئ] او هم ای مومنانو! د دغو منافقانو نه هغه کسان مه وژنئ چې زړونه یې نور د جګړې نه ستاسې سره او د خپل قوم سره؛ په تنګ سوي دي [یعنی هغوی د جنګ او جګړې نه نور ستړي دي او نه غواړي چې نور د چا سره جګړه وکړي] هو؛ ای مومنانو! که الله غوښتي وای نو [کافران او منافقان] بې پر تاسې مسلط کړي ول او دوی به ستاسې سره جنګیدلي ول، نو کله چې دوی د ستاسې نه بیل سول او تاسې یې پریښودلئ او درسره ونه جنګیدل او بیا یې پر تاسې باندې سلام واچا وه او امنیت یې وغوښت، نور نو تاسې ته ای مومنانو! الله پر کافرانو باندې د جګړې هیڅ لار نده پرې ایښې، یعنی نور د دغو کافرانو او منافقانو سره جګړه مکړئ او د کډ ژوند هوکړې سره وکړئ.

[٩١] ای مومنانو! او دغسې کسان به نور هم د دغو منافقانو نه بیامومئ چې ستاسې نه امان غواړي او د خپل قوم نه هم امان غواړي

[يعنى هرې خوا ته به وايي: چې مونږ د ستاسې سره يو، ترڅو هيڅ څوک ورسره کار ونه لري او دوی په ډاډ کې سي] خو کله چې دوی بيرته کفر او شرك ته وروکرځول سي، نو بيا به په بد ازمايښت او کفر کې ولو يږي، نو که بيا دغه منافقان د ستاسې نه بيل سول او د جګړې نه يې لاس وانخست او صلحه يې ونه غوښتله او تسليم نسول، نو بيا چې دوی چيرته د ستاسې لاس ته درغلل راو ينسى او مړه يې کړى، ځکه دوی هغه کسان دي چې مونږ تاسې ای مومنانو! پر دوی باندې ښکاره واکمن کړي ياستى، يعنى مومنانو ته روا ده چې دغسې کسان چې د يرغلګرو کافرانو پلو يان دي راونيسي او مړه يې کړي او ر يښې و باسي.

ګرانو عز يزانو! الله تعالى پدې مبارکو آيتونو کې د احد غزا نه وروسته مومنانو ته چې کله دوی د مکې منافقانو سره په چلند کې خپل منځ کې سره اختلاف وکه؛ دغه ارزښتناکه لارښودنې کړي دي او د دوی دښمنان يې په څو برخو و يشيلي دي، ترڅو د هرې ډلې سره ځانګړئ مناسب چلند وسي، او دا چې تار يخ تل تکرار يږي، نو مومنانو ته ښايي چې دغه تل پاتې سپارښتنې ښې په دقت سره ولولي او ځان ته يې لارښود وګرځوي او په رښا کې يې د دښمنانو سره مناسب چلند وکړي، لکه څنګه چې يې بيلګې همدا اوس په هغو اسلامي هيوادونو کې و ينو چې ولسونه يې د کافرانو پټو توطئيو په لمسون په خپل منځي جګړو کې ښکيل دي!

او همدارنګه الله تعالى پدې مبارکو آيتونو کې لمړئ د مومنانو خپل منځي اختلاف د منافقانو په باره کې غندلئ دئ او مومنان يې د منافقانو پټو کرغيړنو مقصدونو نه ګواښلي دي، او بيا الله تعالى د هغوی سره د مناسب چلند لارښودنې کړي دي، او فرمايلي دي ای مومنانو! د منافقانو بدو نيتو نه هيڅ کله غافل او بې پروا نسى، او همدغه منافقان چې چيرته لاس ته درغلل راو ينيسى او مړه يې کړى، ترڅو منافقان د کافرانو سره ملګرتيا پر يږدي، او د الله په لار کې هجرت وکړي، او خپله ملتيا او دوستي د مومنانو سره په عمل کې ثابته کړي، او بيا الله تعالى مومنان د هغو منافقانو نيولو او وژلو نه کلک منع کړي دي چې دوی د مومنانو

نورو متحدينو سره چې هغوی کافران دي؛ اړ يکې لري او يا دوی نور خپله د جګړې نه په تنګ سوي او ستړي سوي دي او هيڅ چا سره جنګ نه غواړي، نو د دغو مبارکو آيتونو په پای کې الله تعالی يوځل بيا مومنانو ته حکم کړئ دئ چې د منافقانو نه ده يوازې هغه کسان را ونيسي او کلک دې وځپي چې دوی لا تر اوسه د منافقانو نه ندي بيل سوي او نه يې د جګړې نه لاس اخستئ دئ او نه يې د سلام اچولو او امنيت غوښتني غږ پورته کړئ دئ، او الله تعالی په پوره يقين او باور سره مومنانو ته و يلي دي چې دا د ستاسې حق دئ چې دغه دښمنه ډله منافقان د خپل ځار لاندې وساتی او بيا مو چې چيرته بياموندل را و ينيسی او مړه يې کړئ او خپل ځانونه د دوی شر نه خوندي کړی، او يقينا چې دا حکمونه ټول د دښمن سره جګړې پورې تړلي حکمونه دي، او د جګړې پای ته رسيدلو نه وروسته بيا د صلحې ترون سره سم هغه بدليږي، لکه څنګه چې د الحديبې په صلحه کې همداسې وسول.

عزتمنو دوستانو! نو يقينا چې دغه اسماني لارښودنې د تل لپاره مسلمانانو ته ځلانده چراغونه دي او دوی ته خپله لار د دښمن سره په جګړه کې ژبا کوي، نو ښايي چې مونږ مسلمانان خپل ځانونه په دغسې ازرښتناکه لارښودنو او سپارښتنو ښه پوه کړو او ورڅخه په عمل کې ګټه واخلو او خپله ټولنه ښاده کړو.

{ د مومن ناحقه قتل لويه ګناه ده او پر قاتل ديت فرض دئ }

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې مونږ ته الله تعالی د تيروتنې قتل د قصاص حکم بيان کړئ دئ او ناحقه وژنه يې لو يه ګناه بللې ده، او فرمايلي دي:

﴿وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ أَن يَقْتُلَ مُؤْمِنًا إِلَّا خَطَـًٔا وَمَن قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَـًٔا فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ وَدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ إِلَىٰٓ أَهْلِهِۦٓ إِلَّآ أَن يَصَّدَّقُوا۟ فَإِن كَانَ مِن قَوْمٍ عَدُوٍّ لَّكُمْ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ

مُّؤۡمِنَةٖۚ وَإِن كَانَ مِن قَوۡمِۭ بَيۡنَكُمۡ وَبَيۡنَهُم مِّيثَٰقٞ فَدِيَةٞ مُّسَلَّمَةٌ إِلَىٰٓ أَهۡلِهِۦ وَتَحۡرِيرُ رَقَبَةٖ مُّؤۡمِنَةٖۖ فَمَن لَّمۡ يَجِدۡ فَصِيَامُ شَهۡرَيۡنِ مُتَتَابِعَيۡنِ تَوۡبَةٗ مِّنَ ٱللَّهِۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمٗا ٩٢ وَمَن يَقۡتُلۡ مُؤۡمِنٗا مُّتَعَمِّدٗا فَجَزَآؤُهُۥ جَهَنَّمُ خَٰلِدٗا فِيهَا وَغَضِبَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِ وَلَعَنَهُۥ وَأَعَدَّ لَهُۥ عَذَابًا عَظِيمٗا ٩٣

[٩٢] او هيڅ مومن او مسلمان ته روا نده چې بل مومن مړ کړي، مګر دا چې په خطا او تيروتنې سره وي [يعنى قاتل سره د مقتول وژلو قصد نه وي، خو په تيروتنې سره هغه ورڅخه ووژل سي] او هرچا چې يو مومن په تيروتنه او په خطا کې مړکه، نو کفارت يې دا ده چې يو مومن مريي ازاد کړي او د مړي خپلوانو ته د هغه و ينې بيعه يا ديت ورکړي، مګر دا چې دوی د خپل مړي ديت ورته و بښي [يعنى ورڅخه تير سي، او هغه د مړي په خيرات کې وشميري] او ای مومنانو! که چيرې دغه مړئ د ستاسې دښمنانو له ډلې نه وه او مومن نه وه، نو بيا د يوه مومن مريي ازادول پر قاتل فرض دي، خو که چيرې دا مړئ د داسې يوه قوم نه وه چې ستاسې او هغوی په منځ کې د را کړې ورکړې تړون وه، نو بيا پر قاتل باندې د مړي ديت ورکول د هغه خپلوانو ته فرض دي، او په کفارت کې دې يو مومن مريي ازاد کړي، نو که چا مريي بيانموند، نو دوه مياشتي ده پرله پسې روژه ونيسي، ترڅو الله دئ و بښي او تو به يې قبوله کړي،او الله ښه پوه او لوی حکيم ذات دئ، يعنى خپل بنده ګان ښه پيژني، نو د دوی د وسعې سره سم حکمونه يې ورته روا کړي دي، ترڅو يې په پلي کولو او تطبيق سره د دوی غاړې خلاصې سي او ګناه وې تويې سي.

او بيا په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالى د قصدي ناحقه قاتل لو يه سزا د قيامت په ورځ بيان کړې ده، او فرمايلي دي:

[٩٣] او هر هغه څوک چې يو مومن او مسلمان بنده په قصد سره ناحقه مړ کړي، نو د قاتل سزا د دوزخ اور دئ او دئ به پکې د تل لپاره سوز يږي او د الله قهر، غوصه او لعنت به ور باندې اور يږي، او هغه ته

الله لوی عذاب او درنده سزا تیاره کړي ده، یعنی هغه د دوزخ اور دئ.

قدرمنو دوستانو! یقینا چې د انسان ناحقه وژل لو یه ګناه ده، ځکه هغه د الله تعالی پر حق باندې چې د خپلو بنده ګانو د مرګ او ژوند حقیقي مالك او څښتن دئ؛ لوی تیرئ دئ، ځکه ناحقه قتل او وژل الله تعالی حرام کړي دي او هغه یې د ایمان سره په ټکر کې بللئ دي، نو د ظالم او کافر نه پرته؛ بل هیڅ څوک دغسې لویې ګناه ته ملا نه تړي او خپل ایمان د پښو لاندې نه کوي او د دوزخ سره اور په کړنګ کې ځان نه لاهو کوي، مګر دا چې قاتل جاهل مسلمان او یا ظالم کافر وي چې د الله تعالی عذاب نه و یره نه لري او د سزا پروا یې نکړي، او د ځان نه یې اجرتي قاتل جوړ کړی وي، لکه په نني افغانستان کې [یعنی د ۲۱ میلادي پیړۍ د دو یمې لسیزې پای نه او د در یمې لسیزې په پیل کې چې هره ورځ په هدفي قتلونو کې لسهاوو کسه علماء، دعات او ژورنالستان وژل کیدل] ځکه یوازې ایمان او د الله و یره سړئ د ناحقه قتل نه منعه کوي، او دا د پیغمبر ﷺ د هغې خبرې او و ینا مصداق دئ چې فرمایلي دي:"ای مومنانو! د زما نه وروسته بیرته مه کافران کیږی، ځکه چې بیا به د یو بل سرونه الوزوی" نو روښانه ده چې ناحقه قتل عملي کفر دئ او د شرك نه وروسته؛ هغه لو یه ګناه ده او سزا یې د دوزخ اور دئ او قاتل یې د الله تعالی رحمت نه رټل سوئ ملعون قاتل دئ او الله تعالی ور باندې کلک په غوصه او په قهر دئ، خو د بده مرغه په اوسني وخت کې اجرتي قاتلان په ځینې جګړه ځپلو اسلامي هیوادونوکې، لکه د ۲۱ پیړۍ لمړ یو لسیزو افغانستان کې؛ دومره ډیر دي چې په ډیره لږه بیعه یو بیګناه مسلمان وژني، نو دعاء کړو چې الله تعالی ده پر مومنانو باندې ورحمیږي او د دغسې لو یو فتنو نه ده الله نجات ورکړي، او صلحه او امنیت ده الله تعالی په خپل فضل او رحمت سره په ټولو اسلامي هیوادونو کې راولي!

{سلام اچول د ایمان نښه او د امنیت پیغام دئ}

ګرانو دوستانو! او په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی مومنانو ته د

جهاد په ډګر کې چې د کافرانو سره په مخامخ جګړه کې یوځای کیږي؛ ډیرې ارزښتناکه لارښودنې او سپارښتنې کړي دي، ترڅو چې مومنان د دښمن په پیژندلو کې د پوره دقت نه کار واخلي او د قاطع او پر یکنده دلیل او نښو نه پرته پر چا باندې د کفر فتوا ورنکړی، او فرمایلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا ضَرَبۡتُمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَتَبَيَّنُواْ وَلَا تَقُولُواْ لِمَنۡ أَلۡقَىٰٓ إِلَيۡكُمُ ٱلسَّلَٰمَ لَسۡتَ مُؤۡمِنٗا تَبۡتَغُونَ عَرَضَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا فَعِندَ ٱللَّهِ مَغَانِمُ كَثِيرَةٞۚ كَذَٰلِكَ كُنتُم مِّن قَبۡلُ فَمَنَّ ٱللَّهُ عَلَيۡكُمۡ فَتَبَيَّنُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِيرٗا ٩٤﴾

[٩٤] ای مومنانو! کله چې د الله په لار کې جهاد ته ووتلی، نو خپل جهادي هدفونه ځان ته ښه معلوم او په نښه کړی [یعنی دا چې د چا سره ښایي جهاد وکړی؟ او څوک ښایي پر یردی او جګړه ورسره ونکړی] او هغه چا چې پر تاسې ای مومنانو سلام واچا وه [او و یو یل چې زه مسلمان یم] نو بیا هغه ته مه وایي چې ته مسلمان نه یې! [ځکه کیدای سي چې هغه په زړه کې مومن وي، خو د و یرې نه یې خپل ایمان پټ ساتل وي، او که چیرې تاسې پدې خبرې کړو سره چې ته مومن نه یې!] د دنیا ژوند مال، متاع او غنیمت غواړی! نو پدې ده پوه سی چې د الله سره ډیر غنیمتونه سته او هغه به ستاسې په برخه کړي او غنیان به سی، او ای مومنانو! تاسې پخوا د اسلام په پیل کې همداسې وی [یعنی خپل ایمان به تاسې د خپل مشرك قوم د زور ځواکی او د دوی د ظلم و یرې نه پټا وه] نو بیا الله پر تاسې باندې خپل احسان وکه او په ایمان سره یې عزت، بر یا او نصرت درکه، نو ای مومنانو! خپل مقابل لور ښه معلوم کړی او په پیژندلو کې یې د پوره څیړنې او دقت نه کار واخلی، او یقینا چې الله د ستاسې کړنو نه ښه خبر دئ، یعنی الله تعالی تاسې ښه څاري او بیا په آخرت کې هرچا ته د هغه لائق ثواب او سزا ورکوي.

قدرمنو دوستانو! الله تعالی پدې مبارك آیت کې اسلام ته رابلونکو

مجاهدينو او دعاتو ته ډيره ارزښـتناکه او اړ ينه لارښـودنه کړې ده چې ښـايي وربانـدې عمل وکړي او هغه د قيامت ورځې پورې د هر مخلص، صادق او ر ښتيني مجاهد او اسلامي ټولنې او نظام ته رابلونکې؛ تک لاره وي او هيڅکله ورڅخه غافل نسي، ترڅو الله تعالى د هغه لوى ارمان پوره کړي او د هغـــې اســـلامي نظام واکمني يې په برخه ســـي چې هغه ورته د پيغمبرانو نه په ميراث پاتې دئ.

{د الله په لار کې جهاد لوى فضيلت اولوړ مقام لري}

او په ور پسـې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د جهاد لوى فضـيلت مونږ ته بيان کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿لَّا يَسْتَوِي ٱلْقَٰعِدُونَ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ غَيْرُ أُوْلِي ٱلضَّرَرِ وَٱلْمُجَٰهِدُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ بِأَمْوَٰلِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ ۚ فَضَّلَ ٱللَّهُ ٱلْمُجَٰهِدِينَ بِأَمْوَٰلِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ عَلَى ٱلْقَٰعِدِينَ دَرَجَةً ۚ وَكُلًّا وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلْحُسْنَىٰ ۚ وَفَضَّلَ ٱللَّهُ ٱلْمُجَٰهِدِينَ عَلَى ٱلْقَٰعِدِينَ أَجْرًا عَظِيمًا ﴿٩٥﴾ دَرَجَٰتٍ مِّنْهُ وَمَغْفِرَةً وَرَحْمَةً ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿٩٦﴾﴾

[٩٥-٩٦] ای مومنانو! هغه کسـان چې د سـتاسـې نه پرته د کم عذره په خپلو کورونو کې ناسـت دي؛ دوى د الله لارې هغو مجاهدينو سـره چې پر خپل سـر او مال جهاد کړي؛ برابر ندي، او الله د خپلې لارې مجاهدين چې پر سـر او مال جهاد کړي په کورونو کې ناسـتو کسـانو باندي چې جهاد نکړي؛ لوړ کړي دي [يعنى دوى ته الله تعالى لوى مقام په جنت کې ورکړئ دئ] او الله د ټولو مومنانو سـره په آخرت کې د جنتونو وعده کړې ده، او د الله لارې مجاهدين يې د لوى ثواب په ورکړې سـره په کورونو کې ناسـتو کسـانو باندې لوړ کړي دي[يعنى د لوړو مقامونو لائق يې ګرځولي دي، او دا لوړې رتبې او درجې دوى ته د الله لخوا تيارې ســوې دي] او الله خپله بښـنه او رحمت هم د دوى په برخه کړئ دئ، او الله لوى بښـونکئ او ښـه مهر بان ذات دئ.

{بې وزره مومنان ده د ظالم واکمنۍ نه هجرت وکړي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې بې وسې او بې وزره مومنان الله تعالی د مکې نه مدینې ته؛ هجرت کړو ته هڅولي دي، او فرمایلي دي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ تَوَفَّىٰهُمُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ ظَالِمِىٓ أَنفُسِهِمْ قَالُوا۟ فِيمَ كُنتُمْ ۖ قَالُوا۟ كُنَّا مُسْتَضْعَفِينَ فِى ٱلْأَرْضِ ۚ قَالُوٓا۟ أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ ٱللَّهِ وَٰسِعَةً فَتُهَاجِرُوا۟ فِيهَا ۚ فَأُو۟لَٰٓئِكَ مَأْوَىٰهُمْ جَهَنَّمُ ۖ وَسَآءَتْ مَصِيرًا ﴿٩٧﴾ إِلَّا ٱلْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ ٱلرِّجَالِ وَٱلنِّسَآءِ وَٱلْوِلْدَٰنِ لَا يَسْتَطِيعُونَ حِيلَةً وَلَا يَهْتَدُونَ سَبِيلًا ﴿٩٨﴾ فَأُو۟لَٰٓئِكَ عَسَى ٱللَّهُ أَن يَعْفُوَ عَنْهُمْ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَفُوًّا غَفُورًا ﴿٩٩﴾ * وَمَن يُهَاجِرْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ يَجِدْ فِى ٱلْأَرْضِ مُرَٰغَمًا كَثِيرًا وَسَعَةً ۚ وَمَن يَخْرُجْ مِنۢ بَيْتِهِۦ مُهَاجِرًا إِلَى ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ثُمَّ يُدْرِكْهُ ٱلْمَوْتُ فَقَدْ وَقَعَ أَجْرُهُۥ عَلَى ٱللَّهِ ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿١٠٠﴾﴾

[۹۷] هو! هغه کسان چې د دوی ساه وې یقینا روح اخستونکو فرښتو په داسې حال کې واخستلې او مړه سول [چې دوی په خپلو کورونو کې د کافرانو واکمنۍ لاندې ناست ول او هجرت او جهاد ته نه وه وتلي] او پدې کارسره یې پر خپلو ځانو باندې ظلم کړئ وه، نو دوی ته همدې فرښتو وو یل: تاسې په څه حال کې وی؟ [یعنی خپل دین سره تاسې څه وکړل؟ آیا تاسې د خپل دین په ساتلو کې هجرت او جهاد ته ملا وترله کنه؟] نو بیا دوی ورته [په تیتو سترګو] وو یل: مونږ خو په ځمکه کې بې وزري او بې وسې وو، نو بیا فرښتو ورته وو یل: آیا د الله ځمکه لو یه نه وه چې تاسې پکې هجرت کړئ وای او د خپلو کورونو نه کډه سوي او تښتیدلي وای؟ [یعنی تاسې خپل ځانونه او خپل دین خوندي کړئ وای؟] نو کافران هغه کسان دي چې ځای یې جهنم دئ او جهنم بده راتلونکې او بد برخلیک دئ! یعنی نو دعا کړو چې الله تعالی ده د دغسې تورې راتلونکې نه مونږ په خپل فضل او لوی رحمت سره وساتې.

[۹۸] خو هغه نار ینه، ښځې او ماشومان چې ر یښتیا بې وسې او

ضعيفه ول او هيڅ څه پې کړای نسول او نه پې د تيښتې لار موندله، نو يعنی دوی د دغسې کلکې سزا نه معاف دي او پدې ګناه چې هجرت پې ندئ کړئ نه نيول کيږي.

[٩٩] نو دغه بې وسې کسان؛ هغه مستضعفان دي چې الله به دوی ته عفوه وکړي او و بې ښې، ځکه الله لوی تيريدونکئ او ښه ښونکئ او پالونکئ ذات دئ.

درندو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آيتونو کې د الله لارې مجاهدينو لوړ مقام ستايلئ دئ، او په کورونو کې پې هغه ناست کسان غندلي دي چې هيڅ پلمه پې نه درلودله، خو بيا پې هم ځانو نه بې وسې او مستضعف ګڼل، نو دوی الله تعالی هجرت ته هڅولي دي، او دغه حالت د اسلام په پيل کې وه، کله چې رسول اللهﷺ او د هغه ملګرو د مکې معظمې نه د مشرکانو زورځواکې شر نه د خلاصون په مقصد مدينې منورې ته هجرت وکه او د مکې نه کډه سول، او بيا پې د اسلام عزت ساتنې او نصرت لپاره او د مشرکانو لښکرو د يرغل مخنيوي په مقصد د الله په حکم د دښمن پر وړاندې مسلح جهاد پيل که، خو ځينې مسلمانان بيا هم همداسې د مشرکانو په څنګ کې په مکه کې پاتې سول، نه پې هجرت وکه او نه جهاد، او د کم عذر نه پرته په خپلو کورونو کې کيناستيدل او د الله په لار کې هجرت او جهاد ته ونه وتل، نو ځکه الله تعالی دوی غندلي دي او د بدې راتلونکې نه پې په آخرت کې چې هغه د جهنم اور دئ کلک ګواښلي دي.

قدرمنو عز يزانو! د الله تعالی دا حکمونه مکې ته ورته حالاتو باندې تل نافذ او پلي کيږي، لکه د افغانستان حالت چې د ميلادی تار يخ شلمې پيړۍ د (١٩٧٧ کال نه تر١٩٨٧م کاله) پورې د پخواني شوروي اتحاد سرو لښکرو د يرغل لاندې راغئ او يرغمل سه، نو په هغه وخت کې په ټول ولس باندې هجرت، جهاد او مقاومت فرض سه، نو د چا چې وسعه کيده هجرت پې وکه او جهاد ته پې کلکه ملا وتړله او د يرغلګرو پر وړاندې په ميړانه ودر يدل او مقاومت پې په خپلو لږو اسلحو پيل که،

ترڅو چې بيا د اوږده جهاد او مقاومت نه وروسته الله تعالى فتحه او بر يا مجاهدينو ته ور په برخه کړه او د شوروى اتحاد يرغلګرو لښکرو نور افغانستان پر يښود او ورڅخه مختورن ووتل.

ګرانو دوستانو! او په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالى يوځل بيا د الله لارې مهاجر ينو لوړ مقام د مشرکانو زور ځواکې ولکې نه د اسلام واک لاندې سيمو ته ستايلئ دئ او د هجرت ثوابونه يې بيان کړي دي، او په بيان کې فرمايلي دي:

[١٠٠] او هرڅوک چې د الله په لار کې هجرت وکړي، نو د الله ځمکې پر سر به ډير لوى ځاى او استوکنځئ او لوى لوى نعمتونه بياموميې، او هرڅوک چې د الله او پيغمبر په لار کې مهاجر سي او د خپل کور نه ووځي او بيا په لار کې مړ سي، نو د هغه ثواب پر الله باندې حق دئ او الله لوى بښونکئ او ښه مهربان پالونکئ ذات دئ.

{په سفر کې لمونځ لنډيږي او د خوف لمونځ ځانګړې بڼه لري}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالې مومنانو ته په مسافرى کې د قصر او د خوف لمانځه حکمونه او څرنګوالئ په ډيره روښتيا سره بيان کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿وَإِذَا ضَرَبْتُمْ فِي ٱلْأَرْضِ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَن تَقْصُرُواْ مِنَ ٱلصَّلَوٰةِ إِنْ خِفْتُمْ أَن يَفْتِنَكُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِنَّ ٱلْكَٰفِرِينَ كَانُواْ لَكُمْ عَدُوًّا مُّبِينًا ﴿١٠١﴾ وَإِذَا كُنتَ فِيهِمْ فَأَقَمْتَ لَهُمُ ٱلصَّلَوٰةَ فَلْتَقُمْ طَآئِفَةٌ مِّنْهُم مَّعَكَ وَلْيَأْخُذُوٓاْ أَسْلِحَتَهُمْ فَإِذَا سَجَدُواْ فَلْيَكُونُواْ مِن وَرَآئِكُمْ وَلْتَأْتِ طَآئِفَةٌ أُخْرَىٰ لَمْ يُصَلُّواْ فَلْيُصَلُّواْ مَعَكَ وَلْيَأْخُذُواْ حِذْرَهُمْ وَأَسْلِحَتَهُمْ وَدَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوْ تَغْفُلُونَ عَنْ أَسْلِحَتِكُمْ وَأَمْتِعَتِكُمْ فَيَمِيلُونَ عَلَيْكُم مَّيْلَةً وَٰحِدَةً وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِن كَانَ بِكُمْ أَذًى مِّن مَّطَرٍ أَوْ كُنتُم مَّرْضَىٰٓ

أَن تَضَعُوٓاْ أَسۡلِحَتَكُمۡ وَخُذُواْ حِذۡرَكُمۡۗ إِنَّ ٱللَّهَ أَعَدَّ لِلۡكَٰفِرِينَ عَذَابٗا مُّهِينٗا ١٠٢ فَإِذَا قَضَيۡتُمُ ٱلصَّلَوٰةَ فَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ قِيَٰمٗا وَقُعُودٗا وَعَلَىٰ جُنُوبِكُمۡۚ فَإِذَا ٱطۡمَأۡنَنتُمۡ فَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَۚ إِنَّ ٱلصَّلَوٰةَ كَانَتۡ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ كِتَٰبٗا مَّوۡقُوتٗا ١٠٣ وَلَا تَهِنُواْ فِي ٱبۡتِغَآءِ ٱلۡقَوۡمِۖ إِن تَكُونُواْ تَأۡلَمُونَ فَإِنَّهُمۡ يَأۡلَمُونَ كَمَا تَأۡلَمُونَۖ وَتَرۡجُونَ مِنَ ٱللَّهِ مَا لَا يَرۡجُونَۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ١٠٤

[۱۰۱] ای مومنانو! او کله چې تاسې د الله په ځمکه کې په سفر ووتلئ او پردیسي سوئ، نو پر تاسې څه ګناه نسته چې لمنځونه لنډ کړئ [یعنی څلور رکعتي لمونځ دوه رکعته وکړئ] او دا په هغه وخت کې چې کله تاسې د کافرانو یرغل نه وو یر یدلئ، ځکه یقینا چې کافران د ستاسې ښکاره دښمنان دي، یعني نو ښایي چې هیڅ کله یې د شر نه ډا ډه نسئ.

عزتمنو دوستانو! د لمانځه قصر حکم د اسلام په پیل کې روا سوئ دئ، ځکه د مومنانو سفرونه به تل د کافرانو نه د و یرې ګواښ لاندې ول، نو بیا دا د قصر حکم چې د امنیت لپاره روا سوئ وه؛ همداسې پاتې سه او هغه د رسول الله ﷺ سنت دئ، ځکه رسول الله ﷺ به په سفر کې خپل څلور رکعتي فرض لمونځونه لنډول، او یقینا چې دا شرعي حکم د اسلام ټولو حکمونو د اسانیتا لوی دلیل او ښه روښانه بیلګه او نښه ده.

او په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی یر پیغمبر ﷺ باندې غږ کړئ دئ او فرمایلي دي:

[۱۰۲] ای پیغمبره! او کله چې ته د خپلو ملګرو سره [د دښمن پر وړاندې جګړې په ډګر کې په و یره کې وې او غوښتل ده چې لمونځ خپلو ملګرو ته په جماعت سره ورکړې] نو یو ټولګئ ده د دوی نه ستا سره په لمانځه ودر یږي او خپله اسلحه ده د ځان سره واخلي او تیارسئ ده وي، او کله چې دوی په لمانځه ولاړ وه، نو بل ټولګئ ده د ستاسې شا ته پیره او

ساتنه وکړي او بيا ده په دو يم رکعت کې هغه بل ټولګئ چې په پيره کې وه راسي او د ستا سره ده ای پيغمبره! دو يم رکعت لمونځ وکړي، او پام ده کړي او خپله اسلحه ده د ځان سره واخلي، او لمړئ ټولګئ ده پيره او څار وکړي، او دا ځکه چې کافران غواړي تاسې د خپلو اسلحو او سامان نه بې پروا سی او پام مو بلې خواته واوړي، او بيا دوی پر تاسې باندې ناڅاپه بر يد وکړي او تاسې لمنځه يوسي او مړه مو کړي، او ای مومنانو! که چيرې تاسې د باران اور يدلو نه په ستونزه کې وی او يا ناروغان وی، نو پر تاسې باندې هيڅ ګناه نسته چې خپله اسلحه په ځمکه کيږدی، خو په تيارسئ کې اوسيږی او دښمن ته پام کړی، او يقينا چې الله کافرانو ته خوارونکې سزا برابره کړې ده.

[١٠٣] ای مومنانو! او کله چې تاسې خپل لمونځ وکه، نو بيا الله په ولاړه او په ناسته او په ملاستې سره ياد کړی، او کله چې مطمئن او ډاډه سوی [يعنی د ستاسې و يره د دښمن نه لرې سوه] نو بيا خپل ټول لمنځونه په ځای کړی [يعنی هر لمونځ په خپل وخت کې وکړی] ځکه يقينا چې لمونځ په خپلو وختونو کې پر مومنانو فرض دئ، يعنی ښايي لمونځ د خپل ټاکلي شرعي وخت نه وړاندې او وروسته نسي.

او په ور پسې مبارک آيت کې الله تعالی د مومنانو روحې او نفسي قوت لوړولو په مقصد؛ دوی د دښمن پر وړاندې مقاومت ته کلک هڅولي دي، او فرمايلي دي:

[١٠٤] او ای مومنانو! د کافر دښمن سره په جګړه کې مه کاواکه کيږی [يعنی ای مومنانو! د يرغلګر کافر دښمن سره په جګړه کې خپل همت د لاسه ورنکړی او سست او ستړي نسی!] ځکه که تاسې د جګړې ستونزو او دردونو نه زور يږی، نو يقينا چې کافران هم زور يږي او دردول کيږي، خو تاسې د الله نه هغو ثوابونو ته په طمعه ياستی چې کافران ورته طمعه نه لري، او الله ښه پوه او لوی حکيم ذات دئ، يعنی هرچا ته الله د هغه لايق ثواب او سزا ورکوي، مومنان جنت ته او کافران دوزخ ته ورننه باسي، ترڅو مومنان ښاد او سپين مخي سي او کافران مختورن سي.

قدرمنو دوستانو! الله تعالى په دغو مبارکو آيتونو کې مونږ ته د خوف يا د وېرې په حال کې په جماعت سره د لمانځه کړو سپارښت کړئ دئ او د خوف لمانځه څرنګوالئ يې په ځانګړې ډول را ته بيان کړئ دئ، او بيا د زمونږ فقهاوو د خوف لمانځه پوره بيان د فقه په کتابونو کې راته کړئ دئ، او الله تعالى همدارنګه پدې مبارکو آيتونو کې ډير ز يرې راکړې دي او هغه دا چې د کافرانو راتلونکئ برخليک دوی ته د الله عذاب او لو يه سزا ده، او مومنان چې د کافرانو سره د الله په حکم جهاد کړي؛ دوی ته الله ډير ثوابونه ورکوي او سپين مخي يې ښادوي.

{قرآن په حق او انصاف سره د پر يکړو لارښود پيغام دئ}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى رسول اللهﷺ د خلکو په منځ کې د قرآن په رښا کې حکم کړو ته په عدالت سره راباللئ دئ او د خائنانو دفاع نه يې کلک ګوابښولئ دئ، او فرمايلي دي.

﴿إِنَّآ أَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ لِتَحۡكُمَ بَيۡنَ ٱلنَّاسِ بِمَآ أَرَىٰكَ ٱللَّهُۚ وَلَا تَكُن لِّلۡخَآئِنِينَ خَصِيمٗا ١٠٥ وَٱسۡتَغۡفِرِ ٱللَّهَۖ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ١٠٦ وَلَا تُجَٰدِلۡ عَنِ ٱلَّذِينَ يَخۡتَانُونَ أَنفُسَهُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ مَن كَانَ خَوَّانًا أَثِيمٗا ١٠٧ يَسۡتَخۡفُونَ مِنَ ٱلنَّاسِ وَلَا يَسۡتَخۡفُونَ مِنَ ٱللَّهِ وَهُوَ مَعَهُمۡ إِذۡ يُبَيِّتُونَ مَا لَا يَرۡضَىٰ مِنَ ٱلۡقَوۡلِۚ وَكَانَ ٱللَّهُ بِمَا يَعۡمَلُونَ مُحِيطًا ١٠٨ هَٰٓأَنتُمۡ هَٰٓؤُلَآءِ جَٰدَلۡتُمۡ عَنۡهُمۡ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا فَمَن يُجَٰدِلُ ٱللَّهَ عَنۡهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ أَم مَّن يَكُونُ عَلَيۡهِ وَكِيلٗا ١٠٩ وَمَن يَعۡمَلۡ سُوٓءًا أَوۡ يَظۡلِمۡ نَفۡسَهُۥ ثُمَّ يَسۡتَغۡفِرِ ٱللَّهَ يَجِدِ ٱللَّهَ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ١١٠ وَمَن يَكۡسِبۡ إِثۡمٗا فَإِنَّمَا يَكۡسِبُهُۥ عَلَىٰ نَفۡسِهِۦۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمٗا ١١١ وَمَن يَكۡسِبۡ خَطِيٓـَٔةً أَوۡ إِثۡمٗا ثُمَّ يَرۡمِ بِهِۦ بَرِيٓـٔٗا فَقَدِ ٱحۡتَمَلَ بُهۡتَٰنٗا وَإِثۡمٗا مُّبِينٗا ١١٢ وَلَوۡلَا فَضۡلُ ٱللَّهِ عَلَيۡكَ وَرَحۡمَتُهُۥ لَهَمَّت طَّآئِفَةٞ مِّنۡهُمۡ أَن يُضِلُّوكَ وَمَا يُضِلُّونَ إِلَّآ أَنفُسَهُمۡۖ وَمَا يَضُرُّونَكَ

مِن شَيۡءٖۚ وَأَنزَلَ ٱللَّهُ عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَعَلَّمَكَ مَا لَمۡ تَكُن تَعۡلَمُۚ وَكَانَ فَضۡلُ ٱللَّهِ عَلَيۡكَ عَظِيمٗا ١١٣

[١٠٥] ای پیغمبره! یقینا چې دا کتاب (قرآن) تاته مونږ پر حق سره راکوز کړئ دئ، ترڅو ته د خلکو په منځ کې په هغه څه حکم او پر یکړه وکړې چې هغه تاته الله درښودلي دئ، او ته ای پیغمبره! د خائنانو پلوئ نسي، یعنی هیڅ کله هم د خائنانو نه دفاع ونکړې او ملګرتیا یې ونه کړې.

[١٠٦] ای پیغمبره! او د الله نه بښنه وغواړه، او یقینا چې الله لوی بښونکئ او ښه مهر بان ذات دئ، یعنی څوک چې د الله نه بښنه وغواړي؛ الله یې بښي او تو به یې قبلوي.

[١٠٧] او ای پیغمبره! ته د هغو کسانو نه چې دوی د خپلو ځانو سره په ګناه کړو خیانت کړي؛ دفاع مکړه، ځکه یقینا هغه څوک چې خیانت کونکئ او ګناه ګار وي؛ هغه الله نه خوښوي، یعنی هغه پر الله ګران ندئ او عزت نه ورکوي.

[١٠٨] او دغسې کسان د خلکو شرم نه خپل بد کارونه پټوي، خو د الله نه څه شئ نه پټوي، حال دا چې الله [په خپل علم سره] د دوی سره دئ، او کله چې دغه کسان شپې لخوا کمې داسې یوې خبرې تصمیم نسي چې هغه د الله نه خوښیږي، نو الله ور باندې پوهیږي او الله د دوی پر کړنو باندې چې څه کړي پوره راګرد دئ، یعنی د بنده ټولې کړنې د الله تعالی پام لاندې دي او هغه کلکې څاري.

[١٠٩] او دا دئ ای مومنانو! تاسې خو د دغو خائنانو نه د دنیا په ژوند کې دفاع وکړه؟ نو د قیامت په ورځ به د دوی نه [چې پر خپلو ځانو یې په ګناه کړو سره خیانت کړئ دئ] څوک دفاع وکړي؟ او یا به څوک د دوی اسـتا زئ وي او سـپارښـت یې کړي؟ یعنی دا چې خائنان او غله د قیامت په ورځ هیڅ څوک ملګرئ او مرستندوی نه لري.

[١١٠] خو هغه څوک چې بد وکړي او پر خپل ځان باندې ظلم او تیرئ وکړي، او بیا د الله نه بښنه وغواړي، نو الله به دوی لوی بښونکئ او

ښه مهر بان پالونکئ څښتن بياموي، يعنی دا چې الله تعالی غفور او رحيم لوی ذات دئ او د توبې و يستونکو او پښيمانه سوو کسانو دعاء او استغفار قبلوي او دوی بښي.

[۱۱۱] او هغه څوک چې ګناه کړي، نو هغه خپل ځان ته ز يان رسوئ دئ، او الله ښه پوه او لوی حکيم ذات دئ، يعنی د خپلو بنده ګانو پر حال باندې الله تعالی ښه علم او پوره پوهه لري او په لوی حکمت او ښه تدبير ورسره چليږي او په منځ کې يې پيريکړې کړي او خپل حکمونه پرې جاري کوي او چلوي.

[۱۱۲] او هر هغه څوک چې بد کار او ګناه وکړي او بيا يو بل بيګناه کس ور باندې تورن کړي، نو هغه بهتان کړئ دئ او دئ ښکاره ګناه ګار دئ، يعنی نو الله تعالی به د هغه سره ښه کلک حساب وکړي او د ناحقه تور سزا به ورکړي!

[۱۱۳] ای پيغمبره! او که پر تا باندې د الله فضل، پيرزو ينه او لوی رحمت نه وای [يعنی که ته الله تعالی د پيغمبری په برکت نه وای ساتلئ] نو د دغو خائنانو يوې ډلې غوښتل چې تا د سمې لارې نه ورک کړي او تا د حق نه واړوي، خو دوی [په حقيقت کې په دغسی توطئيو سره] خپل ځانو نه ورکوي او تاته ای پيغمبره! هيڅ ز يان او تاوان رسولای نسي او پر تا باندې ای پيغمبره! الله خپل کتاب او حکمت [چې هغه قرآن او ښه پوهاوئ دئ] رانازل کړي دي، او تاته يې هغه څه درښودلي دي چې ته پخوا ور باندې نه پوهيدلې او علم ده ور باندې نه درلود، او د الله پيرزو ينه او فضل پر تا ډير لوی وه، يعنی د نبوت او پيغمبری لوړ مقام يې پر تا باندې پيرزو کړئ دئ او تاته يې وحيه کړې ده.

قدرمنو دوستانو! د(۱۰۵آيت نه تر۱۱۳آيت پورې) مبارکو آيتونو د رانازليدلو په سبب کې روايت سوی دئ چې په مدينه منوره کې د يوه کور نه غلا وسوه، او کله چې څيړنه او پلټنه پيل سوه، نو د غلا سوي سامان (چې ځينې يې اسلحه وه) غل په نښو سره و پيژندل سه او پرې ګوته

کیښودل سوه، نو بیا غله ژر ژر خپل تر برونه راټول کړل او پیغمبرﷺ ته یې ولیږل، ترڅو د هغه نه دفاع وکړي او دئ او د هغه ټوله کورنۍ د دې تور نه پاک کړي، نو بیا دوی د رسول اللهﷺ په حضور کې د غله نه دفاع وکړه او هغه یې ډیر وستایه، نو لنډه وه چې رسول اللهﷺ هم د دوی دغه غوړې دروغژنې خبرې ومني او غله ته براءت ورکړي، نو بیا پیغمبرﷺ الله تعالی د ظالم په څنګ کې د در یدلو نه وساته، او دا مبارك آیتونه پر هغه رانازل سول چې پکې الله تعالی ډیرې ګټورې او تل پاتې لارښودنې؛ د یوه مسلمان لارښود او واکمن قاضي لپاره کړي دي، ترڅو یې په رنا کې خپل ولس د هر ډول ناحقه ظلم نه وساتي او په ګناه کې د چا ملاتړ ونکړي.

هو؛ درندو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې لمړئ په عامو خبرو سره د دغو کسانو هغه ناروا دعوا غندلې ده چې غوښتل یې پیغمبرﷺ په خپلو غوړو خبرو سره وغولوي او په ناروا کې یې په خپل څنګ کې ودروي، ځکه بل لور تورن یو یهودئ وه، خو الله تعالی ډیر ژر پیغمبرﷺ د هغوی پټې دسیسې نه خبر که او د دوی ملتیا او تایید نه یې منعې کړه، او همدارنګه الله تعالی دغه ظالمان د قیامت ورځې کلک حساب او سزا نه ګوابنلي دي، ځکه په هغه ورځ هیڅ څوک؛ د دوی نه دفاع نکړي، خو بیا الله تعالی د دې سره سره د دغو ظالمانو پر وړاندې د توبې ایستلو ورونه پرانستئ او بیرته پرې ایښئ دي، او د بښنې ز یرئ یې ورکړئ دئ، او په پوره ډاډ سره یې دا خبره کړي ده چې هرڅوک بد کړي او د بل چا مال او سر ته بد نیت لري، نو ز یان یې خپله هغه ته رسیږي، او الله ورته کلکه سزا ورکوي، ځکه ناحقه تور او ناروا دعوا لو یه ګناه ده.

او بیا الله تعالی د دغو مبارکو آیتونو په پای کې خپله هغه پیرزو ینه پر پیغمبرﷺ باندې؛ یاده کړی ده چې که د الله تعالی فضل پر رسول اللهﷺ باندې نه وای، نو ده به د دغسې ډلې یا کړی؛ د توطئې او چل بښکار ګرځیدلئ وه او په کره لار به ورسره تللئ وه، خو الله تعالی په خپل فضل او رحمت سره رسول اللهﷺ وساته، او د دغې ساتنې لوی عامل او دلیل او لو یه نښه دا ده چې پر رسول الله باندې یې خپل کتاب (قرآن) او

حکمت چې د رسول اللهﷺ سنتو عملي بیان دئ رانازل کړي دي، او یقینا چې د قرآن او د رسول اللهﷺ سنتو په ژبا کې حق د باطل نه سره بیلیږي، نو ښایي ګرانو وروڼو!چې دا تل پاتې قراني لارښودنې د هر مسلمان او د عادل حاکم او قاضي په مخکې تل پرتې ایښې وي، ترڅو یې په ژبا کې حق او عدالت په ټولنه کې پلئ کړي او هیڅ کله د ظالمانو ملکرتیا ونکړي او د ملتیا نه یې خپل ځان په کلکه سره وساتي!

{پټې جرګې او د روغې جوړې غونډې د خلکو په منځ کې روا دي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د پورتنیو آیتونو په تړاو د هغو پټو جرګو روا کښل یاد کړي دي چې مقصد یې د خلکو په منځ کې روغه جوړه او صلحه وي، او فرمایلي دي:

﴿۞لَّا خَيۡرَ فِي كَثِيرٖ مِّن نَّجۡوَىٰهُمۡ إِلَّا مَنۡ أَمَرَ بِصَدَقَةٍ أَوۡ مَعۡرُوفٍ أَوۡ إِصۡلَٰحِۭ بَيۡنَ ٱلنَّاسِۚ وَمَن يَفۡعَلۡ ذَٰلِكَ ٱبۡتِغَآءَ مَرۡضَاتِ ٱللَّهِ فَسَوۡفَ نُؤۡتِيهِ أَجۡرًا عَظِيمٗا ١١٤ وَمَن يُشَاقِقِ ٱلرَّسُولَ مِنۢ بَعۡدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ ٱلۡهُدَىٰ وَيَتَّبِعۡ غَيۡرَ سَبِيلِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ نُوَلِّهِۦ مَا تَوَلَّىٰ وَنُصۡلِهِۦ جَهَنَّمَۖ وَسَآءَتۡ مَصِيرًا ١١٥﴾

[١١٤] د دغو خلکو په ډیرو پټو ناستو او جرګو کې څه خیر او ګټه نسته، مګر دا چې د جرګه مارانو نه څوک په خیرات ورکولو او د دود سره سم په ښو کړنو سپارښت وکړي، او یا د خلکو په منځ کې روغه جوړه وکړي او دوی سره په خولا کړي، او هرڅوک چې دغه ښه کارونه د الله خوښۍ او رضا لپاره وکړي، نو هغه ته به لوی ثواب ورکړو.

[١١٥] او هر هغه څوک چې د حق او سمې لارې پیژندلو او ښکاره کیدلونه وروسته بیا هم د پیغمبر مخالفت کړي او د مومنانو لارې نه پرته په بله لار ځي [یعنی د حقپالانو ملتیا نه وځي] نو بیا چې دئ کمې خوا ته اوښتئ دئ مونږ یې هم هغې خوا ته اړوو [یعنی هغ به د باطل په تیارو کې ډو بیږي] او بیا یې د دوزخ په اور کې کړوو او دوزخ د ورتګ او استوګنې ډیر

بد او کرکجن ځای او مینه ده.

نو دعاء کړو چې الله ده مومنان د دوزخ اور نه په خپل فضل او رحمت سره وساتي او جنت ته د تګ لاره ده راته خوښه کړي.

هو؛ قدرمنو وروڼو او خو ږندو! الله تعالى همدارنګه پدې مبارکو آیتونو کې د رسول الله ﷺ پر یکړو سره مخالف کسان په کلکه سزا ګواښلي دي، نو مومنانو ته ښایي چې د رسول الله ﷺ سنتو او لارښودنو پر وړاندې ډیر محتاط وي او دوی ده ټول سره کډ پر سمه لار چې هغه د حق لار ده لاړ سي، ترڅو ښاد او نیکمرغه سي.

{مشرکان الله نه بښي ځکه شرك په کفر کې ورکتیا ده}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالى شرك کلک غندلې دئ او هغه یې د حق او سمې لارې نه ډیره لرې ورکتیا بللې ده، او فرمایلي دي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغۡفِرُ أَن يُشۡرَكَ بِهِۦ وَيَغۡفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُۚ وَمَن يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَقَدۡ ضَلَّ ضَلَٰلَۢا بَعِيدًا ١١٦ إِن يَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦٓ إِلَّآ إِنَٰثٗا وَإِن يَدۡعُونَ إِلَّا شَيۡطَٰنٗا مَّرِيدٗا ١١٧ لَّعَنَهُ ٱللَّهُۘ وَقَالَ لَأَتَّخِذَنَّ مِنۡ عِبَادِكَ نَصِيبٗا مَّفۡرُوضٗا ١١٨ وَلَأُضِلَّنَّهُمۡ وَلَأُمَنِّيَنَّهُمۡ وَلَأٓمُرَنَّهُمۡ فَلَيُبَتِّكُنَّ ءَاذَانَ ٱلۡأَنۡعَٰمِ وَلَأٓمُرَنَّهُمۡ فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلۡقَ ٱللَّهِۚ وَمَن يَتَّخِذِ ٱلشَّيۡطَٰنَ وَلِيّٗا مِّن دُونِ ٱللَّهِ فَقَدۡ خَسِرَ خُسۡرَانٗا مُّبِينٗا ١١٩ يَعِدُهُمۡ وَيُمَنِّيهِمۡۖ وَمَا يَعِدُهُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ إِلَّا غُرُورًا ١٢٠ أُوْلَٰٓئِكَ مَأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُ وَلَا يَجِدُونَ عَنۡهَا مَحِيصٗا ١٢١﴾

[١١٦] هو! یقینا هغه څوک چې پر الله مشرك سي [یعنی د الله سره په خدایي او بنده ګۍ کې بل څوک ګډ کړي] هغه الله نه بښي، خو د شرك نه ټیټې نورې ګناه وې چې الله چا ته وغواړي بښي یې، او هر هغه څوک چې پر الله مشرك سي او بل څوک د الله سره په خدایي کې ګډ کړي، نو هغه یقینا چې د حق نه ډیر لرې سوئ دئ، یعنی د باطل پلوتیا یې خوښه

کړي ده او د حق لارې نه کوږ سوئ دئ.

[١١٧] [او دغه د عر بانو مشرکان د الله نه پرته] د ښځو په نومونو نومول سوي بتان (لات، مناة او عزا) خپلو ځانو ته غواړي [او هغه خپل خدایان ګڼي] او دوی [د خپلو اړتیاوو لاس ته راوړ لپاره د الله نه پرته] د سرکښ شیطان خبرې منې، یعنی د هغه نه خپلې اړتیاوې او حاجتونه غواړي او ور پسې ځي او فرمان یې وړي!

[١١٨-١١٩] نو دغه رټل سوئ شیطان الله د خپل رحمت نه وشړه [خو بیا هغه لعین لوړه وکړه او قسم یې وخوړه] او و یو یل: ای خدایه! زه به ستا د بنده ګانو نه خپله ټاکل سوې برخه واخلم او دوی به خپل ملګرې کړم، یعنی دوی به د شیطان لښکر سي او د هغه حکمونه به په خلکو کې چلوي او دوی به د سمې لارې نه اړوي، او ای ر به! دوی به د حق لارې نه ورک کړم او په طمعه بې کړم [یعنی وبې غولوم] او ورته به حکم وکړم چې د خپلو ځارو یو غوږونه پیرې کړي [یعنی خپل حلال ځاروي به په نښه کړي او بیا به هغه پر خپلو ځانو حرام کړي] او هم به ورته حکم وکړم چې د الله پیدا کړې ځیرې بدلې کړې [یعنی د هغوی په ظاهري ځیره کې او هم یې په دننه کې بدلون راولې، خو آیا تاسې به ای د الله بنده ګانو! پدې پوه سې؟ چې] هر هغه څوک چې د الله نه پرته شیطان ځان ته ملګرئ نسي، نو هغه ښکاره تاوان کړئ دئ او خپل ځان یې ز یانمن کړئ دئ.

[١٢٠-١٢١] هو! شیطان خلکو ته دروغژنې وعدې ورکوي [یعنی سرو او سپینو زرو ته یې په طمعه کوي] خو د شیطان وعدې ټولې غولونکې دي، او د دغو خلکو تل پاتې ځای یا استوګنځې په آخرت کې د دوزخ اور جهنم دئ، او د هغه نه د خلاصون او وتلو لار او چاره نه لري، یعنی دا ځکه چې دوی د شیطان پلو یان ول.

قدرمنو عز یزانو! په دغو مبارکو آیتونو کې الله تعالی لمړئ ټولې پټې خبرې، پر یکړې او فیصلې غندلې دي، ځکه ځینې کسانو او ډلو هغه د

خپلو ناروا کتو او تر بکنیو لپاره د حق پر وړاندې کړي، لکه په تیرو مبارکو آیتونو کې چې بیان سوې، خو بیا الله تعالی هغه پټې خبرې او جرګې استثنا کړې او ستایلي دي چې پکې خلکو ته د خیر رسولو اراده او قصد موجود وي، او د یو بل سره خفه کسان او خپل منځي جنګي ډلې سره په خولا کوي او د دوی په منځ کې صلحه غواړي، او بیا الله تعالی د خپل عذاب نه هغه کسان کلک ګواښلي دي چې دوی د رسول الله ﷺ او مسلمانانو سره مخالفت او د ښمني ته کلکه ملا ترلې ده او د باطل پالانو په څنګ کې در یدلي دي او د شیطان ملتیا کړي، حال دا چې لعین شیطان الله تعالی د خپل رحمت نه رټلئ او شړلئ دئ.

ګرانو دوستانو! خو د دې ټولو ګناه وو سره سره بیا هم الله تعالی د توبې و یستلو ورونه یا دروازې خپلو هغو ګناه ګارو بنده ګانو پر مخ پرانیستې پرې ایښې دي چې دوی الله په توحید او په یو والي سره پیژني او کافران ندي، او هم الله تعالی خپل بنده ګان د شیطان وسوسو ته چې په ډول ډول پلمو یې غولوي متوجه کړي دي او کلک یې ورڅخه ګواښلي دي.

{د ښو کړنو خاوندانو انعام په آخرت کې لوی جنتونه دي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی مومنانو او صالحانو ته د لوړ مقام او د ډیرو انعامونو ز یري ورکړي دي، او فرمایلی دي:

﴿وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ سَنُدۡخِلُهُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۖ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٗاۚ وَمَنۡ أَصۡدَقُ مِنَ ٱللَّهِ قِيلٗا ١٢٢ لَّيۡسَ بِأَمَانِيِّكُمۡ وَلَآ أَمَانِيِّ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِۗ مَن يَعۡمَلۡ سُوٓءٗا يُجۡزَ بِهِۦ وَلَا يَجِدۡ لَهُۥ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلِيّٗا وَلَا نَصِيرٗا ١٢٣ وَمَن يَعۡمَلۡ مِنَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ مِن ذَكَرٍ أَوۡ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤۡمِنٞ فَأُوْلَٰٓئِكَ يَدۡخُلُونَ ٱلۡجَنَّةَ وَلَا يُظۡلَمُونَ نَقِيرٗا ١٢٤ وَمَنۡ أَحۡسَنُ دِينٗا مِّمَّنۡ أَسۡلَمَ وَجۡهَهُۥ لِلَّهِ وَهُوَ مُحۡسِنٞ وَٱتَّبَعَ مِلَّةَ إِبۡرَٰهِيمَ حَنِيفٗاۗ وَٱتَّخَذَ ٱللَّهُ إِبۡرَٰهِيمَ خَلِيلٗا ١٢٥ وَلِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ وَكَانَ ٱللَّهُ بِكُلِّ شَيۡءٖ

مُّحِيطًا ﴿١٢٦﴾

[۱۲۲] او هغو کسانو چې ایمان راوړ او ښه یې وکړل [یعنی عبادتونه یې وکړل، لکه لمونځ، روزه، حج، زکات او نور نفلي عبادتونه] نو دوی د آخرت په ورځ هغې جنتونو او باغونو ته ورننه باسو چې و یالې پکې بهیږي او دوی به پکې تل اوسیږي، او د الله وعدې حق دي، او بل څوک د الله نه په خپله و ینا کې ډیر ر ښتینئ او صادق دئ؟

هو! استفهام دلته انکاري دئ، یعنی ځواب دا چې هیڅ څوک د الله نه په خپله و ینا او وعده کې ډیر صادق ندئ.

[۱۲۳] ای مومنانو! [دغه د الله تعالی لو یو لور ینو جنتونو ته ورننوتل] نه تاسې ته او نه اهل کتابو ته په خپلو خوسې هیلو درکول کیږي [یعنی دغسې ورکړې ر ښتینئ ایمان او صالح عمل غواړي] او هغه څوک چې بد وکړي سزا ورکول کیږي، او ګناه ګار د الله نه پرته بل هیڅ څوک مرستندوي نه مومي، یعنی دا چې ترڅوپې ملاتړ وکړي.

[۱۲٤] او هر هغه نار ینه او ښځه چې مومن وي او ښه وکړي، نو دوی جنت ته ورننوځي، او د یوه بڅرکي په اندازه ظلم پر دوی نکیږي.

[۱۲۵] او بل څوک د هغه چانه په خپل دین کې کلک دئ چې هغه خپل ځان پر الله سپارلئ دئ، او دئ د ښو کړنو خاوندانو نه دئ، او د ابراهیم دین سمې لارې تابع دئ؟ [ځواب دا چې: بل هیڅ څوک د هغه نه پر خپل دین کلک ندئ، ځکه استفهام دلته تقر یري دئ] او ابراهیم الله ځان ته خپل خلیل ونیوه، یعنی ابراهیم علیه السلام پر الله داسې ګران وه، لکه د پټو اسرارو ملګرئ چې هرڅه ورسره شر یکیږي.

او استفهام دلته هم تقر یري دئ، نو ځواب دا چې: هیڅ څوک د دغسې مومن بنده نه غوره او مخلص مومن ندئ، ځکه دغه مومن بنده چې د ښو کړنو څښتن دئ؛ په ډیر اخلاص سره یې خپل ځان الله ته تسلیم کړئ دئ او د ابراهیم علیه السلام توحیدي دین پیرو دئ.

[۱۲٦] ټول هغه څه چې په اسمانونو کې دي او هغه څه چې په ځمکه

کې دي؛ دا ټول مخلوقات د الله واک لاندې دي [یعنی الله په پالونکئ او چلونکئ لوی څښتن دئ] او الله پر هرڅه راګرد دئ، یعنی د هرڅه نه الله تعالی خبر دئ او په هرڅه پوهیږي، نو هیڅ څه د الله علم نه پټ ندي.

{کونډو ښځو او یتیمانو ته پاملرنه د ژوند ښادي ده}

قدرمنو دوستانو! او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د ښځو ځینې حقونه په میراث او د کورني ژوند د چارو په سمبال کې مونږ ته یاد کړي او بیان کړي دي، او فرمایلي دي:

﴿وَيَسْتَفْتُونَكَ فِي ٱلنِّسَآءِ ۖ قُلِ ٱللَّهُ يُفْتِيكُمْ فِيهِنَّ وَمَا يُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ فِي ٱلْكِتَٰبِ فِي يَتَٰمَى ٱلنِّسَآءِ ٱلَّٰتِي لَا تُؤْتُونَهُنَّ مَا كُتِبَ لَهُنَّ وَتَرْغَبُونَ أَن تَنكِحُوهُنَّ وَٱلْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ ٱلْوِلْدَٰنِ وَأَن تَقُومُوا۟ لِلْيَتَٰمَىٰ بِٱلْقِسْطِ ۚ وَمَا تَفْعَلُوا۟ مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِهِۦ عَلِيمًا ﴿١٢٧﴾﴾

[۱۲۷] ای پیغمبره! او خلک د ستا نه د ښځو په باره کې پوښتنې کړي [یعنی فتوا غواړي او پوښتی چې د ښځو حقوق په میراث کې څه شئ دي؟ نو ته ای پیغمبره!] دوی ته ووایه: الله تاسې ته د ښځو [حقونو په باره کې] فتوا درکوي او هغه درته بیانوي، هو! د هرچا حقونه هغه څه دي چې تاسې باندې په همدې کتاب [قرآن کې د النساء سورې په لمړ یو آیتونو کې] د یتیمانو جنکیو په په باره کې لوستل کیږي [یعنی داچې په دغو تلاوت سوو آیتونو کې الله تعالی د ښځو حقوق تاسې ته بیان کړي دي] او دغه یتیمې جنکې هغه ښځې دي چې دوی ته تاسې هغه حق چې ورته لیکل سوئ او ټاکل سوئ دئ؛ نه ورکوئ [یعنی د دغو یتیمانو جنکیو حق چې میراث دئ او د خپلو مړو سوو پلرونو نه ورته پاتې دئ او یا د دوی د واده مهر یا ولور دئ؛ هغه تاسې اخلئ او دوی ته څه شئ نه ورکوئ] او تاسې غواړئ چې دغو بې پلاره پیغلو سره خپله واده وکړئ [او بیا د دوی حقونه لاندې کړئ او دوی ته څه شئ ورنکړئ] او هم ای د یتیمانو خپلوانو! الله تاسې ته د هغو ضعیفو او بې وسې وړو یتیمانو په باره کې حکم کړئ دئ چې د

دوی ښه پالنه وکړی، او عدالت د دوی په حق کې وچلوی او پر دوی ظلم مکړی، او هغه ښــه کارونه چې تاسې کړی؛ الله ښــه ور باندې پوه دئ، یعنی نو تاسې ته به یې ثوابونه درکړي.

قدرمنو وروڼو او خو یندو! پدې مبارك آیت کې الله تعالی د یتیمانو او په ځانګړي ډول د ښــځینه یتیمانو حقونو په باره کې چې د دوی خپلوانو به د رسـول اللهﷺ نه پوښـتنې کړې؛ ډیرې روښـانه او ګټورې لارښـودنې یادې کړې دي، او د یتیمانو خپلوانو ته یې حکم کړئ دئ چې د هغوی ټول حقوق په میراث کې د قرآن حکمونو سره سم چې په همدې النساء سوره کې بیان سوي دي ورکړي، او هم ښایي د هغوی په منځ کې عدالت وچلوي او هرچا ته په میراث کې خپل حق ورکړي.

عزتمنو وروڼو او خو یندو! دا دي د الله تعالی د دین ښــه پر یکنده حکمونه او ســپارښــتنې چې هغه یې مونږ ته د یتیمو جنکیو (انجونو) په باره کې بیان کړي دي، او عملي کول یې پر هر مومن بنده باندې فرض دي، نو ښــایي چې دوی د خپلو یتیمانو هلکانو او جنکیو حقوق د پښــولاندې نکړي او پر هغوی ظلم او تیرئ ونکړي او په میراث کې د دوی حق په پوره انصاف سره ورکړي او دوی ورځخه محروم نکړي.

{د میړه او ارتیني په منځ کې روغه جوړه د دوی په خیر ده}

او په ور پســې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د کورنۍ ژوند اختلافاتو د حل لپاره پرخولاینه او صلحه باندې سپارښت کړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿وَإِنِ ٱمۡرَأَةٌ خَافَتۡ مِنۢ بَعۡلِهَا نُشُوزًا أَوۡ إِعۡرَاضٗا فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡهِمَآ أَن يُصۡلِحَا بَيۡنَهُمَا صُلۡحٗاۚ وَٱلصُّلۡحُ خَيۡرٞۗ وَأُحۡضِرَتِ ٱلۡأَنفُسُ ٱلشُّحَّۚ وَإِن تُحۡسِنُواْ وَتَتَّقُواْ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِيرٗا ١٢٨ وَلَن تَسۡتَطِيعُوٓاْ أَن تَعۡدِلُواْ بَيۡنَ ٱلنِّسَآءِ وَلَوۡ حَرَصۡتُمۡۖ فَلَا تَمِيلُواْ كُلَّ ٱلۡمَيۡلِ فَتَذَرُوهَا كَٱلۡمُعَلَّقَةِۚ وَإِن تُصۡلِحُواْ وَتَتَّقُواْ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ غَفُورٗا

رَّحِيمًا ﴿١٢٩﴾ وَإِن يَتَفَرَّقَا يُغْنِ ٱللَّهُ كُلًّا مِّن سَعَتِهِۦ وَكَانَ ٱللَّهُ وَٰسِعًا حَكِيمًا ﴿١٣٠﴾

[١٢٨] [ای مومنانو!] او که چیرې یوه ښځه د دې نه وو یر یده چې د هغې حق به په کورني ژوند کې میړه ورنکړي او میړه به د هغې نه مخ واړوي [یعنی پام به ورته نکړي، ځکه هغه یې خوښه نده] نو پر دوی دواړو باندې څه ګناه نسته چې سره روغه جوړه وکړي او یو بل ته د خپلو ځینې حقونو نه تیر سي، مخصوصا هغه ښځه چې میړه ورته هیڅ نه ګوري، نو دا میرمن ده د خپلو ځینو حقونو نه ورتیره سي او میړه سره ده روغه وکړي، ځکه دغه روغه جوړه ورته ښه ده او پکې خیر دئ، هو! بخیلي او نه لور ینه په زړونو کې تل وي او پکې ژورې ر یښې لري، نو که چیرې تاسې ای مومنانو! د یو بل سره ښه وکړئ او تقوی ولرئ او د الله عذاب نه خپل ځانونه وساتئ، او د الله حکمونه او لارښودنې په خپل کورني ژوند کې عملي کړئ، نو یقینا چې الله د ستاسې کړنو نه ښه خبر دئ او هر چاته د هغه ښه عمل ثواب او د بد عمل سزا ورکوي.

او بیا په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی دا حقیقت یاد کړئ دئ چې میړه هیڅ کله د خپلو میرمنو په منځ کې پوره عدالت او برابري چلولای نسي، نو ورته ښایي خپله ناخوښه میرمن بیخې پرې نږدي او دوی دواړه ده پر یو څه باندې سره جوړ سي، او فرمایلي دي:

[١٢٩] ای د څو ښځو میړونو! [پدې پوه سئ چې که تاسې هر څومره هڅه وکړئ چې د خپلو میرمنو په منځ کې عدالت وچلوئ] خو بیا هم د خپلو ټولو ښځو یا میرمنو په منځ کې عدالت کړلای نسئ! [البته د عدالت نه دلته مقصد د زړه مینه او محبت دئ چې هغه د میړه په واک کې ندي] نو ای میړو! د خپلې هغې ښځې نه چې هغه په زړه کې در باندې ګرانه نده؛ بیخې بلې خوا ته پام مه اړوئ [یعنی دا چې د ستاسې دا میرمن داسې ښکاره سي، لکه چې هغه میړوښه نده، بلکې پدې کور کې خدمتکاره ده] خو که تاسې دواړه سره جوړ سئ او یو بل سره روغه جوړه وکړئ او د الله سزا او

حساب نه وو یر یږی او د عذاب نه یې ځانونه وساتی، نو یقینا چې الله لوی ښونکئ او ښه مهربان خدای دئ.

[۱۳۰] او که چیرې دغه میړه او ښځه بیا د یو بل نه [په طلاق او په خلعې] سره بیل سول، نو الله به د خپلې لویې وسعې او ورکړې نه هر یو د دوی غني کړي، یعني الله تعالی به دوی ته د دوی د خوښې میړه او ښځه په نصیب کړي، ځکه الله د هر څه لرونکي او ښه حکیم پالونکئ ذات دئ او هیڅ څوک بې برخې نه پر یږدي.

ګرانو دوستانو! دغه قرآني لارښودنې د کورنۍ ژوند ښه جوړښت لپاره چې پکې خوښي او نیکمرغي وي؛ ډیرې ازرښتناکه الهي لارښودنې دي چې مونږ مومنان الله تعالی ور باندې نازولي یو، نو ښایي چې خپل ځانونه ښه ور باندې پوه کړو او بیا یې په خپل ژوند کې عملي کړو.

{د سزا نه په ځان ساتنه کې مومنانو ته د الله سپارښت}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د خپل عظمت او لویې واکمنۍ بیان په اسمانونو او ځمکه کې کړئ دئ او مومنانو ته یې په تقوا او د خپلې سزا نه په ځان ساتنې باندې سپارښت کړئ، او فرمایلي دي:

﴿وَلِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ وَلَقَدۡ وَصَّيۡنَا ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ مِن قَبۡلِكُمۡ وَإِيَّاكُمۡ أَنِ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ وَإِن تَكۡفُرُواْ فَإِنَّ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ وَكَانَ ٱللَّهُ غَنِيّٗا حَمِيدٗا ١٣١ وَلِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلًا ١٣٢ إِن يَشَأۡ يُذۡهِبۡكُمۡ أَيُّهَا ٱلنَّاسُ وَيَأۡتِ بِـَٔاخَرِينَۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ ذَٰلِكَ قَدِيرٗا ١٣٣ مَّن كَانَ يُرِيدُ ثَوَابَ ٱلدُّنۡيَا فَعِندَ ٱللَّهِ ثَوَابُ ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِۚ وَكَانَ ٱللَّهُ سَمِيعَۢا بَصِيرٗا ١٣٤﴾

[۱۳۱]ای مومنانو! هغه څه چې په اسمانو کې دي او څه چې په ځمکه کې دي؛ هغه ټول د الله واک لاندې دي، او یقینا هغو کسانو ته چې د ستاسې نه مخکې اسماني کتابونه ورکړل سوي دي [لکه یهود او

نصارا] او تاسې ته ای مومنان! نو مونږ درته سپارښت او حکم کړئ دئ چې د الله نه کلک وو یر یږی او د عذاب نه یې خپل ځانو نه وساتی، او که تاسې کافران سوی [یعنی د الله حکمونو نه منکر سوی نو پدې پوه سی چې] یقینا هغه څه چې په اسمانو کې دي او څه چې په ځمکه کې دي؛ هغه ټول د الله په واک کې دي [یعنی الله یې مالك او څښتن دئ، او پدې پوه سی چې الله د ستاسې نه] غني دئ او الله هیڅ چاته محتاج او اړ ندئ او الله ښه ستایل سوئ پالونکئ ذات دئ، یعنی د الله ټولې کړنې د ستاینې وړ دي.

[١٣٢] هو! پر ځمکه او په اسمانو کې خواره واره ټول مخلوقات د الله واکمنۍ لاندې دي او د ټولو سمبال او چلولو ته الله بس او کافي دئ.

[١٣٣] ای خلکو! او که الله وغواړي، نو تاسې به له منځه یوسي او ستاسې پرځای به نور خلک راولي، او دا کار الله کړای سي او زور یې لري.

[١٣٤] ای خلکو! او هرڅوک چې د ستاسې نه د دنیا ګټې او ثوابونه غواړي [نو پدې ده پوه سي]چې د الله سره د دنیا او د آخرت دواړو ثوابونه او ګټې سته، او الله ښه اور یدونکې او ښه لیدونکې لوی ذات دئ، یعنی هرڅه اوری او هرڅه و یني، نو هرچاته د هغه لائق ثواب او سزا ورکوي.

ګرانو عز یزانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې مونږ ته د خپل عظمت او لو یتیا [چې ټول مخلوقات یې د واک لاندې دي] بیان کړئ دئ، او مونږ یې خپل مسئولیت او په ژوند کې د خپل رسالت او دندي سر ته رسولو ته چې هغه د الله تعالی اطاعت او بنده ګي او په توحید سره د الله عبادت دئ رابللي یو، او همدارنګه یې د الله تعالی عبادت او بنده ګۍ نه د سرغړونې په ګناه په هلاکت او لمنځه وړلو باندي کلک ګواښلي یو!

{عدالت چلول او د هوس نه ځان ساتل فرض دي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی مومنان عدالت او انصاف چلولو ته رابللي دي او د منافقانو خو یونو بد عاقبت نه چې خپلو خوښو او هوسو پسې تګ دئ؛ کلک ګواښلي دي، او په بیان کې یې فرمایلي دي:

﴿۞يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُونُواْ قَوَّٰمِينَ بِٱلۡقِسۡطِ شُهَدَآءَ لِلَّهِ وَلَوۡ عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمۡ أَوِ ٱلۡوَٰلِدَيۡنِ وَٱلۡأَقۡرَبِينَۚ إِن يَكُنۡ غَنِيًّا أَوۡ فَقِيرٗا فَٱللَّهُ أَوۡلَىٰ بِهِمَاۖ فَلَا تَتَّبِعُواْ ٱلۡهَوَىٰٓ أَن تَعۡدِلُواْۚ وَإِن تَلۡوُۥٓاْ أَوۡ تُعۡرِضُواْ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِيرٗا ١٣٥ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ ءَامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَٱلۡكِتَٰبِ ٱلَّذِي نَزَّلَ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ وَٱلۡكِتَٰبِ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ مِن قَبۡلُۚ وَمَن يَكۡفُرۡ بِٱللَّهِ وَمَلَٰٓئِكَتِهِۦ وَكُتُبِهِۦ وَرُسُلِهِۦ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ فَقَدۡ ضَلَّ ضَلَٰلَۢا بَعِيدًا ١٣٦﴾

[١٣٥] ای مومنانو! [تاسې چې پر الله او د هغه پر پیغمبر (محمدﷺ) او پر کتاب (قرآن) باندې ایمان راوړئ دئ او هغه منئ] نو په عدالت سره وچلیږئ او خپله شاهدي د الله رضاء او خوښئ لپاره ورکړئ، که څه هم دا شاهدي د ستاسې پر ځانو باندې وي او یا د ستاسې پر مور او پلار باندې وي او یا د ستاسې پر خپلوانو باندې وي، او هغه څوک چې تاسې ور باندې شاهدي وایي که غني وي او که فقیر او مسکین؛ الله دوی دواړو ته ډیر غوره او ور لنډ دئ [یعنی پر دوی مهر بان او د حال نه یې خبر دئ] نو ای مومنانو! تاسې خپل هوس او هوا پسې مځئ، ترڅو خپله شاهدي بدله کړئ او یا ورڅخه مخ واړوئ [یعنی دا چې پر حق او عدالت سره شاهدي ورنکړئ، او ای مومنانو! پدې پوه سئ] چې الله یقینا د ستاسې ټولو کړنو نه خبر دئ، یعنی بیا به تاسې ته الله تعالی د ستاسې ښو کړنو ثواب او د بدو کړنو سزا درکړي.

او په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی د ایمان په پنځو ستنو او لو یو رکنونو باندې ټینګار کړئ دئ، او فرمایلی دي:

[١٣٦] ای مومنانو! تاسې چې ایمان راوړئ دئ؛ په خپل ایمان باندې پر الله او د هغه پر پیغمبر او پر کتاب (قرآن) باندې چې هغه یې [پر خپل پیغمبر محمدﷺ باندې رانازل کړئ دئ] ټینګ سئ، او هم پر هغو کتابونو ایمان راوړئ چې هغه مخکې رانازل سوي دي، او هرڅوک چې پر الله او د هغه پر ملائکو او کتابونو او پر پیغمبرانو او د آخرت پر ورځ

باندې کافر يږي او هغه نه مني، نو سمې لارې نه ډير لرې ورک سوئ دئ.

{څوک چې د ايمان نه وروسته بيا بيا مرتد سي الله پې نه بښي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د مرتدانو محروميت د الله بښنې نه اعلان کړئ دئ او منافقان يې د آخرت ورځې کلک عذاب نه ګوابلي دي، او فرمايلي دي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ثُمَّ كَفَرُواْ ثُمَّ ءَامَنُواْ ثُمَّ كَفَرُواْ ثُمَّ ٱزۡدَادُواْ كُفۡرٗا لَّمۡ يَكُنِ ٱللَّهُ لِيَغۡفِرَ لَهُمۡ وَلَا لِيَهۡدِيَهُمۡ سَبِيلَۢا ١٣٧ بَشِّرِ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ بِأَنَّ لَهُمۡ عَذَابًا أَلِيمًا ١٣٨ ٱلَّذِينَ يَتَّخِذُونَ ٱلۡكَٰفِرِينَ أَوۡلِيَآءَ مِن دُونِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَۚ أَيَبۡتَغُونَ عِندَهُمُ ٱلۡعِزَّةَ فَإِنَّ ٱلۡعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا ١٣٩﴾

[١٣٧] هو! يقينا هغو کسانو چې ايمان راوړ، خو بيا بيرته کافران او مرتدان سول، او بيا يې ايمان راوړ، خو بيا بيرته مرتدان سول، او بيا يې کفر لا ډير سه [يعنى په در يم ځل همداسې په کفر کې کلک ورننوتل او کفر يې لا ډير سه او پکې ډوب سول] نو د الله شان او سنت دا ندئ چې دغسې کسان بيا و بښي او يا يې سمې لارې ته هدايت کړي، يعنى جنت ته د ننوتلو سمه لار چې ايمان دئ؛ دوى ته وښيي، خو دا ټول په هغه صورت کې چې دغسې کسان پر خپل کفر همداسې ټينګار وکړي او کافران د دنيا نه لاړ سي، خو که څوک پر خپل کفر اصرار ونکړي او ژر پښيمانه سي، نو د الله تعالى پر وړاندې د توبې و يستلو ورونه د ژوند تر وروستۍ سلګۍ پورې بيرته دي، او د ګناهګار بنده تو به الله تعالى قبلوي، لکه څنګه چې د رسول الله ﷺ نه روايت سوئ دئ فرمايلي دي:(من كان آخر كلامه من الدنيا كلمة لا إله إلا الله دخل الجنة... الحديث رواه ابوداود فى السنن واحمد فى المسند بسند صحيح) هو! د هرچا د تګ وروستۍ خبره او و ينا د دنيا نه چې: لا اله الا الله وي جنت ته ورننوځي.

قدرمنو ورونو او خو يندو! د دې مبارك آيت حكم عام دئ كه څه هم ځينې مفسر ين وايي چې د دې آيت مصداق هغه بنى اسرائيل دي چې دوى

پر موسی عليه السلام ایمان راوړ، خو بیا د خوسي په عبادت سره بیرته کافران سول او وروسته يې بیا ایمان راوړ، خو کله چې عیسی عليه السلام راغئ پر هغه يې ایمان رانوړ، او بیا وروسته پر محمد صلى الله عليه وسلم باندې هم کافران سول او د هغه پیغمبري يې ونه منله او کفر يې همداسې ډیر سه او دوی پکې ډوب سول، نو ځکه الله تعالی دغسې کسان نه بښي او پر سمه لار د تګ توفیق نه ورکوي او د جنت لائق يې نه بولي، او همدارنګه د تفسیر ځینې نور پوهان او مفسرین بیا وایي چې: د دې مبارك آیت مقصد منافقان دي، ځکه په ور پسې آیت کې منافقانو ته کلک ګواښ سوئ دئ.

او بیا په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی پیغمبر صلى الله عليه وسلم ته حکم کړئ چې منافقان د آخرت ورځې کړوونکي عذاب نه خبر کړي، او فرمایلي دي:

[١٣٨-١٣٩] ای پیغمبره! او منافقان وګواښه او خبر يې کړه چې دوی ته دردونکئ عذاب تیار سوئ دئ، او منافقان هغه کسان دي چې کافران يې د مومنانو نه پرته ملګري او دوستان نیولي دي او ملتیا يې کړي، نو آیا دوی د کافرانو په ملګرتیا کې ځانو ته عزت غواړي؟ حال دا چې یقینا ټول عزت او سرلوړي الله سره ده.

ګرانو عز یزانو! او د دغو مبارکو آیتونو تفسیر په تړاو د دې لوی حقیقت یادونه هم دلته د پام وړ ده چې د اوسنۍ زماني یا عصر سیکولران او بی دینه کسان چې ځانونه په ټولنه کې پوهان او روشنفکران بولي؛ دوی پروني منافقان دي، ځکه منافقان د کافرانو ملګري ول او د هغوی سره يې دوستي کړه، خو په ښکاره يې ځانونه مومنان بلل، ترڅو ریښتیني او مخلص مومنان وغولوي او د علم، تخصص او اوږدې تجربې د پوښښ لاندې پر دوی باندې واکمنان سي او د خپلو ځانو او خپلو انډیوالانو ګټې خوندي کړي، نو مومنانو ته ښایي چې تل و یښ وي او د دغسې دروغژنو لیوانو په ولکه کې ونلو یږي او په غوړه ماري يې ونه غولیږي!

{څوک چې د قرآن سپکاوئ کړي او یې ورسره حرامې دي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې مومنانو ته الله تعالی لارښودنه او

سپارښت کړئ دئ چې خپلې اړ یکې د هغو کسانو سره وشکوي او پرې یې کړي چې دوی د الله کتاب قرآن د آیتونو سپکاوئ کړي، او فرمایلي دي:

﴿وَقَدْ نَزَّلَ عَلَيْكُمْ فِي ٱلْكِتَٰبِ أَنْ إِذَا سَمِعْتُمْ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ يُكْفَرُ بِهَا وَيُسْتَهْزَأُ بِهَا فَلَا تَقْعُدُوا۟ مَعَهُمْ حَتَّىٰ يَخُوضُوا۟ فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِۦٓ إِنَّكُمْ إِذًا مِّثْلُهُمْ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ جَامِعُ ٱلْمُنَٰفِقِينَ وَٱلْكَٰفِرِينَ فِي جَهَنَّمَ جَمِيعًا ﴿١٤٠﴾ ٱلَّذِينَ يَتَرَبَّصُونَ بِكُمْ فَإِن كَانَ لَكُمْ فَتْحٌ مِّنَ ٱللَّهِ قَالُوٓا۟ أَلَمْ نَكُن مَّعَكُمْ وَإِن كَانَ لِلْكَٰفِرِينَ نَصِيبٌ قَالُوٓا۟ أَلَمْ نَسْتَحْوِذْ عَلَيْكُمْ وَنَمْنَعْكُم مِّنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ۚ فَٱللَّهُ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۗ وَلَن يَجْعَلَ ٱللَّهُ لِلْكَٰفِرِينَ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ سَبِيلًا ﴿١٤١﴾﴾

[١٤٠] ای مومنانو! او یقینا چې د ستاسې رب الله پر تاسې باندې په کتاب (قرآن) کې دا حکم رانازل کړئ دئ چې کله تاسې واور یدل چې ځینې خلک د الله کتاب آیتونو نه منکر یږي او ملنډې ور باندې وهي او سپکاوئ یې کړي [یعنی خپل ځانونه ور باندې کفر ته باسي] نو تاسې د هغوی سره په حجره یا مجلس کې مه کینئ، ترڅو چې دوی نورې خبرې وکړي [یعنی دا چې تاسې ای مومنانو! د الله کتاب آیتونو سپکاوي مجلس نه ووئ او هغه پر یږدئ] ځکه که تاسې د دغو کسانو په مجلس کې کیناستیدلئ، نو بیابه تاسې د دوی غوندې یاستئ، او یقینا چې الله منافقان او کافران ټول د دوزخ په اور کې سره راغونډوي او د جهنم په سرو لمبوکې یې کړوي.

نو درندو دوستانو! دعا کړو چې الله تعالی ده مونږ او ټول مومنان ورڅخه په خپل فضل او رحمت سره وساتي.

[١٤١] ای مومنانو! او دغه منافقان هغه کسان دي چې تاسې ته په انتظار کې ناست دي او ګوري چې تاسې ته څه راپیښیږي؟ نو که چیرې د الله لخوا فتحه او بر یا د ستاسې په برخه سوه، نو بیا به وایي: آیا مونږ د ستاسې سره نه وو؟ خو که بر یا د کافرانو په برخه سوه، نو بیا کافرانو ته وایي: آیا مونږ د ستاسې شا وخوا واکمن نه وو؟ او آیا تاسې مونږ د

مومنانو بر یدونو نه؛ نه ساتلی؟ نو ای خلکو! ټول پدې پوه سی چې یوازې الله دئ چې د قیامت په ورځ ستاسې په منځ کې حکم او پر یکړې کړي، او الله هیڅ کله کافرانو ته پر مومنانو باندې لار نه ورکوي، یعنی الله تعالی کافران پر مخلصـــو مومنانو باندې چې په خپل ایمان کې کلک وي؛ نه برلاسي کوي، لکه څنګه چې د دوی زرغون تار یخ ور باندې شاهد دئ.

ګرانو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې مونږ د منافقانو دوه مخې چلند نه خبر کړي او ګواښـــلي یو او د دوی د ملتیا نه پې کلک منعې کړي یو، ځکه دوی په خپلو مجلســـونو کې د الله کتاب (قرآن) آیتونو او حکمونو ســـپکاوئ کړي، او تل د تلې ســـر ته ګوري چې کله هرڅوک زورور سول؛ خپل ځانونه د هغوی ملګري او پلو یان بولي، خو د دې ســـره ســـره الله تعالی مومنانو ته ز یرئ ورکړئ دئ چې الله هیڅ کله کافران پر مومنانو باندې نه برلاسي کوي، خو دا پدې شـرط چې مومنان اخلاص ولري او د الله تعالی ټول حکمونه عملي کړي.

{منافقان په خو یونو او صفتونو پیژندل کیږي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی مومنانو ته منافقان د دوی په خو یونو او صفتونو ور پیژندلي دي، او فرمایلي یلي:

﴿إِنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ يُخَٰدِعُونَ ٱللَّهَ وَهُوَ خَٰدِعُهُمۡ وَإِذَا قَامُوٓاْ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ قَامُواْ كُسَالَىٰ يُرَآءُونَ ٱلنَّاسَ وَلَا يَذۡكُرُونَ ٱللَّهَ إِلَّا قَلِيلٗا ١٤٢ مُّذَبۡذَبِينَ بَيۡنَ ذَٰلِكَ لَآ إِلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ وَلَآ إِلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِۚ وَمَن يُضۡلِلِ ٱللَّهُ فَلَن تَجِدَ لَهُۥ سَبِيلٗا ١٤٣﴾

[۱٤۲] یقینا چې منافقان غواړي الله وغولوي [یعنی ورسره ټکي وکړي، او دا د هغوی خوی دئ، منافقان په ښکاره ځانو نه مسلمانان بولي، خو په زړو کې کافران دي او داســې انګیري، لکه چې الله تعالی پر دوی نه پوهیږي] خو الله د دوی د غولولو او د تکی ســزاء ورکوي، او دا منافقان چې کله لمانځه ته جګ ســي، نو په ډیرې لټې او ناراســتي ســره جګیږي او خلکو ته ځانونه داســې ښــکاره کوي، لکه چې دوی لمونځ کړي، خو الله دوی ډیر لږ یادوي، یعنی ژر ژر لمونځ کړي، او قومه او جلسـه پې نه سـره

بيليږي او په لمانځه کې طمأنينه نه پرځای کوي.

[١٤٣] او دغه منافقان تل په تردد او حيرانيتا کې وي [يعنی د مومنانو او کافرانو په منځ کې زړه نا زړه وی] نه د مومنانو سره وي او نه د کافرانو سره، او هر هغه څوک چې الله د سمې لارې نه ورک کړي، نو ته ای پيغمبره! هغه ته د حق رابللو لار نه مومي، يعني حق په سمه لار باندې د تللو توفيق د الله په واک کې دئ، نو د الله نه پرته بل څوک هيڅ څه کړای نسي، او د دعاتو او حق ته رابلونکو کسانو دنده پيغام رسول او د ديني پوهاوي خورول او مومنان ور باندې په عمل کې روزل دي.

{ مومنانو پر خلاف کافرانو سره ائتلاف حرام دئ }

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې مومنان الله تعالی د کافرانو ملتيا نه او ورسره د ائتلاف نه د نورو مومنانو پر ضد منعی کړي دي، او فرمايلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُواْ ٱلۡكَٰفِرِينَ أَوۡلِيَآءَ مِن دُونِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَۚ أَتُرِيدُونَ أَن تَجۡعَلُواْ لِلَّهِ عَلَيۡكُمۡ سُلۡطَٰنٗا مُّبِينًا ١٤٤ إِنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ فِي ٱلدَّرۡكِ ٱلۡأَسۡفَلِ مِنَ ٱلنَّارِ وَلَن تَجِدَ لَهُمۡ نَصِيرًا ١٤٥ إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُواْ وَأَصۡلَحُواْ وَٱعۡتَصَمُواْ بِٱللَّهِ وَأَخۡلَصُواْ دِينَهُمۡ لِلَّهِ فَأُوْلَٰٓئِكَ مَعَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَۖ وَسَوۡفَ يُؤۡتِ ٱللَّهُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ أَجۡرًا عَظِيمٗا ١٤٦ مَّا يَفۡعَلُ ٱللَّهُ بِعَذَابِكُمۡ إِن شَكَرۡتُمۡ وَءَامَنتُمۡۚ وَكَانَ ٱللَّهُ شَاكِرًا عَلِيمًا ١٤٧﴾

[١٤٤] ای مومنانو! [تاسې چې پر الله او د هغه پر پيغمبر ايمان راوړئ دئ او د الله دين ټولو حکمونو او پر يکړو ته مو غاړه ايښې ده] نو کافران د مومنانو نه پرته په ملګرتيا مه نيسئ [يعنی د هغوی سره دوستي او ائتلاف مکړئ] او آيا تاسې ای مومنانو! د دغو کافرانو سره [چې دوی د الله دښمنان دي؛ په دوستي سره] غواړئ چې د الله ښکاره دليل ستاسې په ټکې باندې په ايمان کې حجت وکړئ او هغه پر ځان ثابت کړئ؟

[١٤٥-١٤٦] او يقينا چې د منافقانو ځای د دوزخ اور په تل کې دئ، او ته ای پيغمبره! دوی ته په دوزخ کې بل هيڅ څوک مرستندوی نه مومي،

يعنی منافقان د الله نه پرته بل څوک مرسـتندوی نه لري، خو چاچې د منافقانو نه تو به وايستله او اصلاح سول [يعنی خپل پټ او ښکاره حال يې سره يو کړل] او د الله پر دين يې خپلې منګولې کلکې کړې او خپله بنده کې يې يوازي الله ته وګرځوله، نو هغوی نور د مومنانو سـره دي، او الله به مومنانو ته ثواب ورکړي.

[١٤٧] هو! ای منافقانو! که تاسې شکر وايست او اصلاح سوی او د زړه له کومې مو ايمان راوړ، نو بيا الله تاسې ته په عذاب او سـزا درکولو څه کړي؟ او الله لوی شاکر او ښه پوه خدای دئ، يعنی د خپلو بنده ګانو په پټ او ښکاره حال باندې علم لري او ور باندې ښه پوه دئ، نو هرچاته د هغه لائق ثواب او سزا ورکوي او مننه يې کړي.

عزتمنو دوسـتانو! الله تعالی پدې مبارکو آيتونو کې مونږ مومنان د منافقانو خو يونو او د بدو صفتونو نه ښه خبر کړي يو، او بيا يې مونږ د دوی سره د ملګرتيا او دوستۍ نه کلک منعې کړي يو، او هم يې منافقان د سـختې سـزا ورکولو نه چې د دوزخ اور سـرې سـکروټې دي؛ کلک کواښـلي دي، خو دا چې الله تعالی پر خپلو بنده ګانو ډير مهر بان دئ، نو بيا يې منافقانو ته ز يرئ ورکړئ فرمايلي دي: چاچې تو به وايسـتله او الله ته وروګرځيده او زړه د تل نه يې په اخلاص سـره ايمان راوړ، نو دوی به د مومنانو ملګري سي، او الله به ورته ډير ثوابونه او لوړې رتبې ورکړي.

{د ظالم رسوا کول مظلوم ته روا دي}

او په ور پسـې مبارکو آيتونو کې الله تعالی مظلوم ته اجازه کړي ده چې د خپل مظلوميت غږ پورته کړي او د ظالم بدي او پر مظلوم تيرئ ياد او رسوا کړي، او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿۞ لَّا يُحِبُّ ٱللَّهُ ٱلْجَهْرَ بِٱلسُّوٓءِ مِنَ ٱلْقَوْلِ إِلَّا مَن ظُلِمَ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ سَمِيعًا عَلِيمًا ﴿١٤٨﴾ إِن تُبْدُوا۟ خَيْرًا أَوْ تُخْفُوهُ أَوْ تَعْفُوا۟ عَن سُوٓءٍ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَفُوًّا قَدِيرًا ﴿١٤٩﴾﴾

[١٤٨] هو! د بدې و ينا خورول الله نه خوښـوي، مګر دا چې پر چا ظلم سـوئ وي [يعنى دا چې مظلوم ته روا ده خپل غږ پورته کړي او خپل حق د ظالم نه وغواړي] او الله ښـه اور يدونکئ او ښـه پوه پالونکئ ځښـتن دئ، يعنى د ظالم رسـوا کول او د ځان نه دفاع او د ظلم لرې کولو غوښـتنه او خپل حق لاس ته راوړل؛ د هر مظلوم منل سوئ حق دئ او دا حق مظلوم ته الله ورکړئ دئ، ځکه الله تعالى د مظلوم مل دئ او غږ يې ښـه اوري او پر مظلوميت يې پوه او ور باندې ښـه مهر بان لوى ذات دئ.

درندو دوسـتانو! دا قرآني پيغام د مظلوم نه د دفاع هغه سـپارښـت دئ چې پر رسـول اللهﷺ باندې د اسمان نه په هغسې يوه عصر او زمانه کې رانازل سـوئ دئ چې هيڅ چا په هغه وخت کې د بشـر حقوق نه پيژندل او عـام خلـک د داړه مارانو او مافيـايي کړ يو په ولکـه کې برمتـه سـوي غلامان او مر يان ول.

[١٤٩] اى خلکو! خو که تاسې خير ښـکاره کړئ او که يې پټ کړئ او د بدو نه تير سئ او بد کارانو ته عفوه وکړئ [نو بيا هم ښـايي چې پدې پوه سـي] چې يقينا الله لوى ځواکمن او ښـه تيريدونکې او عفوه کونکئ ذات دئ، يعنى الله تعالى د ټول ځواک او قدرت سره سره بيا هم عفوه کړي او د هغه ګناه ګار بنده نه چې د خپلې ګناه نه پښـيمانه سـي تيريږي، او که ګناه يې پر بل چا ظلم وه، نو ورته ښـايي چې د مظلوم نه بښـنه وغواړي او هغه راضـي کړى، او همدارنګه ښـايي چې د الله بنده ګان ټول يو بل ته بښـنه او عفوه وکړي او د غچ اخسـتلو نه تير سي، ترڅو د خپل حق نه د تر يدو ثواب وګټي.

{هغه يهود چې الله او پيغمبران يې سره بيلوي کافران دي}

او په ور پسـې مبارکو آيتونو کې الله تعالى هغه يهودان چې د الله ټول پيغمبران نه مني؛ کافران بللي دي، او فرمايلي دي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكۡفُرُونَ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ وَيُرِيدُونَ أَن يُفَرِّقُواْ بَيۡنَ ٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ وَيَقُولُونَ نُؤۡمِنُ بِبَعۡضٖ وَنَكۡفُرُ بِبَعۡضٖ وَيُرِيدُونَ أَن يَتَّخِذُواْ بَيۡنَ ذَٰلِكَ

سَبِيلًا ﴿١٥٠﴾ أُولَٰئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ حَقًّا ۚ وَأَعْتَدْنَا لِلْكَافِرِينَ عَذَابًا مُّهِينًا ﴿١٥١﴾ وَالَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ وَلَمْ يُفَرِّقُوا بَيْنَ أَحَدٍ مِّنْهُمْ أُولَٰئِكَ سَوْفَ يُؤْتِيهِمْ أُجُورَهُمْ ۚ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿١٥٢﴾

[١٥٠-١٥١] هو! يقينا هغه کسان [د يهودو او نصاروو نه] چې پر الله او د هغه پر پيغمبرانو باندې کافر ان سول [يعنى د الله او د هغه پيغمبرانو نه منکر سول] او غواړي چې د الله او د هغه پيغمبرانو په منځ کې فرق وکړي [يعني پر الله ايمان راوړي، خو پيغمبران يې نه مني] او وايي چې مونږ پر ځينې پيغمبرانو باندې ايمان را وړئ دئ او د ځينې نورو نه منکر يو، او غواړي چې پدې منځ کې ځان ته د خپلې خوښې لار غوره کړي [يعنى په کږه لار لاړ سي] نو هغوى يقينا چې په ر ښتيا سره کافران دى، او کافرانو ته مونږ سپکونکئ عذاب تيار کړئ دئ، يعنى نو دوى به پکې تل پاتې کړ يږي.

قدرمنو دوستانو! په دغو مبارکو آيتونو کې الله تعالي د اهل کتاب کافران چې ځانونه مومنان بولي، خو د الله پيغمبرانو په منځ کې تو پير کړي، ځينې مني او ځينې نور نه مني؛ رسوا کړي دي او بيا يې د قيامت ورځې په کلکه سزا ګواښلي دي.

او په ور پسې مبارك آيت کې ر ښتيني مومنان الله تعالى ستايلي دي، او فرمايلي دي:

[١٥٢] او هغو کسانو چې پر الله او د هغه پر پيغمبرانو باندې ايمان راوړ او دوى يې ټول ومنل او د دوى نه يې د هيڅ يوه په منځ کې فرق ونکه، نو هغوى ته به ثوابونه ورکړل سي، او الله لوى بښونکې او ښه مهر بان پالونکئ ذات دئ.

{د يهودو کينه کښ در يځ د پيغمبر پرور اندې الله غندلئ دئ}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى په يثرب کې (مدينه منوره کې) د ميشتو يهودانو غوښتنې د معجزو په راکوز يدو سره پر رسول الله ﷺ باندې يادې کړې دي، او د هغوى دا کينه کښ در يځ يې کلک غندلئ دئ، او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿يَسْـَٔلُكَ أَهْلُ ٱلْكِتَٰبِ أَن تُنَزِّلَ عَلَيْهِمْ كِتَٰبًا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ ۚ فَقَدْ سَأَلُوا۟ مُوسَىٰٓ أَكْبَرَ مِن ذَٰلِكَ فَقَالُوٓا۟ أَرِنَا ٱللَّهَ جَهْرَةً فَأَخَذَتْهُمُ ٱلصَّٰعِقَةُ بِظُلْمِهِمْ ۚ ثُمَّ ٱتَّخَذُوا۟ ٱلْعِجْلَ مِنۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ ٱلْبَيِّنَٰتُ فَعَفَوْنَا عَن ذَٰلِكَ ۚ وَءَاتَيْنَا مُوسَىٰ سُلْطَٰنًا مُّبِينًا ﴿١٥٣﴾ وَرَفَعْنَا فَوْقَهُمُ ٱلطُّورَ بِمِيثَٰقِهِمْ وَقُلْنَا لَهُمُ ٱدْخُلُوا۟ ٱلْبَابَ سُجَّدًا وَقُلْنَا لَهُمْ لَا تَعْدُوا۟ فِى ٱلسَّبْتِ وَأَخَذْنَا مِنْهُم مِّيثَٰقًا غَلِيظًا ﴿١٥٤﴾ فَبِمَا نَقْضِهِم مِّيثَٰقَهُمْ وَكُفْرِهِم بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَقَتْلِهِمُ ٱلْأَنۢبِيَآءَ بِغَيْرِ حَقٍّ وَقَوْلِهِمْ قُلُوبُنَا غُلْفٌ ۚ بَل طَبَعَ ٱللَّهُ عَلَيْهَا بِكُفْرِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُونَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿١٥٥﴾ وَبِكُفْرِهِمْ وَقَوْلِهِمْ عَلَىٰ مَرْيَمَ بُهْتَٰنًا عَظِيمًا ﴿١٥٦﴾ وَقَوْلِهِمْ إِنَّا قَتَلْنَا ٱلْمَسِيحَ عِيسَى ٱبْنَ مَرْيَمَ رَسُولَ ٱللَّهِ وَمَا قَتَلُوهُ وَمَا صَلَبُوهُ وَلَٰكِن شُبِّهَ لَهُمْ ۚ وَإِنَّ ٱلَّذِينَ ٱخْتَلَفُوا۟ فِيهِ لَفِى شَكٍّ مِّنْهُ ۚ مَا لَهُم بِهِۦ مِنْ عِلْمٍ إِلَّا ٱتِّبَاعَ ٱلظَّنِّ ۚ وَمَا قَتَلُوهُ يَقِينًۢا ﴿١٥٧﴾ بَل رَّفَعَهُ ٱللَّهُ إِلَيْهِ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا ﴿١٥٨﴾ وَإِن مِّنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ إِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهِۦ قَبْلَ مَوْتِهِۦ ۖ وَيَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ يَكُونُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا ﴿١٥٩﴾ فَبِظُلْمٍ مِّنَ ٱلَّذِينَ هَادُوا۟ حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ طَيِّبَٰتٍ أُحِلَّتْ لَهُمْ وَبِصَدِّهِمْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ كَثِيرًا ﴿١٦٠﴾ وَأَخْذِهِمُ ٱلرِّبَوٰا۟ وَقَدْ نُهُوا۟ عَنْهُ وَأَكْلِهِمْ أَمْوَٰلَ ٱلنَّاسِ بِٱلْبَٰطِلِ ۚ وَأَعْتَدْنَا لِلْكَٰفِرِينَ مِنْهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿١٦١﴾﴾

[۱۵۳] ای پیغمبره! او اهل کتاب (یهود) د ستا نه غواړي چې پر دوی باندې د اسمان نه داسې کتاب راکوز کړې [چې هغه د ستا معجزه وي او د ستا پیغمبري تصدیق کړي، یعنی هغه لکه د موسی علیه السلام کتاب په لوحو یا نر یو تختو کې لیکل سوئ کتاب وي] او دغو یهودو موسی نه د دغسې معجزې نه غټه معجزه وغوښتله او و یو یل: ای موسی! الله پر مونږ باندې ښکاره وو ینه! [یعنی دا چې الله ده راښکاره سي، ترڅو دئ مونږ په سترګو وو ینو] نو بیا دوی د خپل ظلم او تیري له وجهې تندر راونیول او بې اوښه سول [نو کله چې بیا دا یهود بیرته په اوښ سول او الله تعالی را ژوندي کړل او د موسی علیه السلام معجزه یې ولیدله، نو په ځای د دې چې الله ته

د شکر ابسـتلو پر سـجده ولو يږي] خوسـکئ يې ځانو ته خداى ونيوه [يعنى هغه ته يې د خدايي سجده وکړه، خو د دې سره سره] بيا هم مونږ دوى ته عفوه وکړه او ورځخه تير سـوو، او موسـى ته مونږ خپلې ښـکاره معجزې چې د هغه رسالت او پيغمبرۍ تصديق يې کا وه؛ ورکړې.

[١٥٤] او بيا د طور غونډۍ مونږ د يهودو پر سـر راجګه کړه، ځکه دوى خپل پوخ تعهد چې پر تورات عمل کړل ول؛ مات که [نو په سـزا کې الله د طور غونډۍ د دوى پر سـرونو باندې راجګه کړه او دوى يې ور باندې وګواښـل] او بيا دوى ته مونږ وو يل: پر مخې ولو يږئ [يعنى په سجده پراته مسجد الاقصى په لو يو ورونو ورننوځئ، خو يهود په کُناټيو ناسـت وروښـو ييدل] نو بيا دغو يهودو ته مونږ وو يل چې د هفتې يا خالي پر ورځ [چې هغه سـتاسـې د دمې ورځ ده] تيرئ مکړئ او ښـکار ته مه وځئ، او د دوى نه مونږ کلک تعهد او پوخ هوډ واخسـت، خو يهودو خپل تعهد مات که، يعنى د هفتې يا خالي ورځ باندې يې کبانو ښـکار ته پلمه جوړه کړه.

[١٥٥] نو بيا يهودو د دغو تعهدونو او هوډونو د ماتولو له کبله او دا چې د الله د کتابونو آيتونو نه منکر سـول او پيغمبران يې مړه کړل او و يو يل چې د زمونږ زړونه تړل سـوي دي [يعنى پرده ور باندې پرته ده، نو نو اى پيغمبره! سـتا په خبره مونږ نه پوهيږو، نو بيا الله دوى د خپل رحمت نه وشـړل] ځکه د دوى پر زړونو باندې الله د کفر ټاپې لږولې دي، نو دوى ډير لږ ايمان راوړي، يعنى نو د يهودو دا لږ ايمان دوى ته هيڅ ګټه نکړي او د قيامت په ورځ يې د الله سزا نه خلاصولاى نسي.

[١٥٦] او همدارنګه يهود د دوى د کفر له امله او دا چې مر يم پسـې يې لوى تور او بهتان وکه؛ الله د خپل رحمت نه ورټل، يعنى مختورن او کلک رسوا سول.

[١٥٧-١٥٨] [او همدارنګه يهودو د مسـيح عيسـى بن مر يم عليهما السلام زوى وژلو ته ملا وتړله] او وو يل: مسيح عيسى بن مر يم چې د الله

پیغمبر وه؛ مونږ مړکه، خو دوی په ر ښتیا سره عیسی نه مړ کړئ دئ او نه یې پر دار را زوند کړي دئ، بلکې دوی ته بل څوک د عیسی په څیره کې رابنکاره سه [ځکه روایت سوئ دئ چې هغه وژل سوئ سړئ د عیسی علیه السلام د حوار یونو نه یو کس وه، او یهودو هغه مړکه او پر دار یې راژوند که] نو یقینا هغه کسان د یهودو نه چې دوی خپل منځ کې په اختلاف کې ولو یدل؛ دوی ټول شکمن سول چې آیا دا کس چې دوی مړکه عیسی دئ کنه؟ او یهودو سره د عیسی په وژلو کې د ګمان او خیال نه پرته بل هیڅ یقیني علم نوه، نو یقینا چې عیسی دوی ندئ مړ کړئ، بلکې عیسی الله خپلې خوا ته په اسمان کې پورته که، ځکه الله لوی ځواکمن او د پاخه حکمت څښتن دئ، یعنی د الله تعالی ټولې کړنې په لوی ځواک، او په پاخه حکمت او ښه تدبیر ترسره کیږي.

[١٥٩] [هو! کله چې عیسی علیه السلام په آخره زمانه کی بیرته ځمکی ته راکوز سي] نو هیڅ څوک به د اهل کتابو نه پاتې نسي، مګر دا چې پر عیسی به د هغه مړ یني نه مخکی ایمان راوړي، نو بیا به عیسی د قیامت په ورځ پر دوی شاهد وي، یعنی دا چې دوی پر عیسی علیه السلام ایمان راوړ.

[١٦٠] او همدارنګه د یهودو د کفر په سزا کې [چې دوی د الله حکمونه د پښو لاندې کړل او ایمان یې رانوړ] پر دوی مونږ هغه پاک خواړه چې دوی ته حلال سوي ول؛ حرام کړل او دا سزا دوی ته مونږ د دې لپاره ورکړه چې دوی د الله لارې نه ډیر خلک منعې کړل.

[١٦١] او دغو یهودو چې د سود نه منعې سوي ول؛ سود یې هم وخوړه او د خلکو مالونه یې په ناروا او باطل سره وخوړل، او د یهودو کافرانو ته مونږ دردونکې عذاب تیار کړئ دئ.

قدرمنو عز یزانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې یوځل بیا مومنان لمړئ د یهودو د بدو کړنو نه خبر کړي دي او د هغوی خیانتونه او د ټرنونو ماتول یې د الله تعالی سره بیان کړي دي، او بیا یې د عیسی علیه السلام د وژلو او پر دار د هغه رازوندولو دروغ یې چې د کلیسا پاپان لا تر اوسه د

نصـاراوو عوام ور باندې غولوي؛ کلک رسـوا کړي دي، نو يقينا چې الله تعالى پدې مبارکو آيتونو کې دا حقيقت مونږ ته بيان کړي دئ چې يهودو عيسـى عليه السلام نه وژلي دئ او نه يې پر دار رازوند کړئ دئ، بلکې عيسـى عليه السلام الله تعالى اسـمان ته پورته که او په آخره زمانه کې بې بيا بيرته ځمکې ته راکوز کړي او پر اسـلام به حکم وکړي، او ټول اهل کتاب به مخکې لدې چې مړه سي پر عيسـى عليه السلام؛ ايمان راوړي او بيا به دوی ټول جنت ته ورننه باسي، لکه څنګه چې دا بيان د بخاري او مسلم متفق عليه رواياتونو کې د ابوهر يره رضي الله عنه نه راغلئ دئ، او په ور پسې مبارک آيت کې الله ياد کړئ دئ.

{د يهودو ر يښتينو علماوو او مومنانو پر قرآن ايمان راوړ}

او په ور پسـې مبارکو آيتونو کې الله تعالى مومنان د يهودو مخلصـو علماوو د ايمان راوړو نه پر قرآن خبر کړي دي، او فرمايلي دي:

﴿لَّٰكِنِ ٱلرَّٰسِخُونَ فِي ٱلۡعِلۡمِ مِنۡهُمۡ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَ يُؤۡمِنُونَ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبۡلِكَ وَٱلۡمُقِيمِينَ ٱلصَّلَوٰةَ وَٱلۡمُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِۚ أُوْلَٰٓئِكَ سَنُؤۡتِيهِمۡ أَجۡرًا عَظِيمًا ١٦٢﴾

[١٦٢] ای پيغمبره! خو د يهودو ر يښـتينو او په حق سـره پوهانو او وتلو علماوو او مخلصـو مومنانو پر هغه کتاب ايمان راوړئ دئ چې هغه پر تا را نازل سـوئ دئ، او همدا دوی پر هغه کتاب (تورات) ايمان راوړئ دئ چې هغه د سـتا نه مخکې را نازل سـه، او دوی د خپلو لمنځونو درووونکي او د زکات ورکونکي دي، او پر الله او د قيامت پر ورځ مومنان دي، نو دوی ته به مونږ لوی ثواب ورکړو، يعنی او دا ثواب د قيامت په ورځ د الله جنتونه دي چې د يهودو مومنانو ته الله تيار کړي او ور ښې يې.

{ټولو پيغمبرانو ته الله تعالى خپل پيغام وحيه کړئ دئ}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې دا لوی حقيقت الله تعالى ښه روښانه کړئ دئ چې ټولو پيغمبرانو تـه الله يو پيغـام وحيـه کړئ دئ، نو ځکـه ټول پيغمبران د الله تعالى توحيد ته په عبادت او بنده ګی رابلونکي ول، او په

بيان كې الله تعالى فرمايلي دي:

﴿*إِنَّآ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ كَمَآ أَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ نُوحٖ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ مِنۢ بَعۡدِهِۦۚ وَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَإِسۡمَٰعِيلَ وَإِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَ وَٱلۡأَسۡبَاطِ وَعِيسَىٰ وَأَيُّوبَ وَيُونُسَ وَهَٰرُونَ وَسُلَيۡمَٰنَۚ وَءَاتَيۡنَا دَاوُۥدَ زَبُورٗا ١٦٣ وَرُسُلٗا قَدۡ قَصَصۡنَٰهُمۡ عَلَيۡكَ مِن قَبۡلُ وَرُسُلٗا لَّمۡ نَقۡصُصۡهُمۡ عَلَيۡكَۚ وَكَلَّمَ ٱللَّهُ مُوسَىٰ تَكۡلِيمٗا ١٦٤ رُّسُلٗا مُّبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى ٱللَّهِ حُجَّةُۢ بَعۡدَ ٱلرُّسُلِۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمٗا ١٦٥ لَّٰكِنِ ٱللَّهُ يَشۡهَدُ بِمَآ أَنزَلَ إِلَيۡكَۖ أَنزَلَهُۥ بِعِلۡمِهِۦۖ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ يَشۡهَدُونَۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدًا ١٦٦ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَصَدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ قَدۡ ضَلُّواْ ضَلَٰلَۢا بَعِيدًا ١٦٧ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَظَلَمُواْ لَمۡ يَكُنِ ٱللَّهُ لِيَغۡفِرَ لَهُمۡ وَلَا لِيَهۡدِيَهُمۡ طَرِيقًا ١٦٨ إِلَّا طَرِيقَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۚ وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٗا ١٦٩﴾

[١٦٣] اى پيغمبره! يقينا چې تاته مونږ وحيه وکړه، لکه څنګه چې نوح ته او د هغه نه وروسته پيغمبرانو ته همداسې مونږ وحيه کړې وه، او ابراهيم، اسماعيل، اسحاق، يعقوب، اسباط، عيسى، ايوب، يونس، هارون او سليمان ته هم مونږ همداسې وحيه کړې وه [يعنى هر يو د دوى مونږ خپلو امتونو او ولسونو ته پيغمبر را ليږلى وه] او داوود ته مونږ ز بور ورکه، يعنى چې ترڅو ور باندې حکم وکړي.

عزتمنو دوستانو! دغو ټولو پيغمبرانو ته الله تعالى د دې لپاره وحيه کړې وه چې ترڅو دوى د الله پيغام خپلو ولسونو ته ورسوي او دوى د الله تعالى اطاعت او په توحيد سره بنده کى ته را و بولي او الله سره يې د شرك او کفر نه وساتي، نو د اسلام پيغمبر محمدﷺ باندې د وحى يې رانازليدل؛ څه نوئ پيغام نوه، ځکه د هغه نه پخوا هم الله تعالى نېه ډير پيغمبران را ليږلي دي چې نوح او ابراهيم عليهما السلام يې د مشرانو نه ول، او د اسباط نه مقصد د يعقوبعليه السلام لمسيانو نه هغه پيغمبرانو ول چې هر يو يې د بني اسرائيلو دولسو ډلو ته را ليږل سوئ وه.

[١٦٤] ای پیغمبره! او دغسي استازي او پیغمبران د ستا نه پخوا مونږ را لیږلي دي او بیا د ځینو قصې تاته مونږ کړي دي او د ځینې نورو قصې تاته مونږ ندې کړې، او د موسی سره الله خبرې وکړې، یعنی خو دا مخامخ خبرې هغې خبرې وې چې د الله مقام سره لائق او ورسره ښاییدلې او هغه پر موسی علیه السلام باندي د الله تعالی لویې پیرزو ینې څرګندونه وه.

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی فرمایلي دي چې دغه پیغمبران ټول خلکو ته ز یري ورکونکي او ګواښونکي را لیږل سوي ول، او د اسلام پیغمبر ته د قرآن پر را لیږلو الله شاهد دئ او ملائکې هم ور باندې شاهدان دي، او فرمایلي دي:

[١٦٥] هو! پیغمبران مونږ مومنانو ته د ثوابونو(جنتونو) ز یري ورکونکي او کافرانو ته د سزا نه [چې هغه د دوزخ اور دئ] و یرونکې را لیږلي دي، ترڅو خلک د پیغمبرانو را لیږلو نه وروسته بیا پر الله څه نیوکه ونکړي؟ [یعنی ونه وایي چې ولې یې مونږ ته استازئ او پیغمبر نه وه را لیږلي؟] او الله لوی ځواکمن او ښه حکیم ذات دئ، یعنی نو خپل حکمونه پر خپلو بنده ګانو باندې په پوره ځواکمنۍ او ښه حکمت سره چلوی.

[١٦٦] ای پیغمبره! [او ځینې خلکو پر تا باندې را نازل سوئ کتاب (قرآن) ونه مانه او ورڅخه منکر سول] خو الله پر هغه کتاب چې هغه یې پر تا رانازل کړئ دئ؛ شاهد دئ، او دا کتاب یې پر خپل علم او پوهې سره را نازل کړئ دئ او ملائکې هم ور باندې شاهدي وایي، او تاته ای پیغمبره! د الله شاهدي بس او کافي ده، یعنی دا چې ته ای پیغمبره! نور ډا ډه اوسه او د کافرانو سپکو سپورو خبرو پروا مکړه او ځان ده پر الله وسپاره او خپل دعوت په اطمئنان او په پوره ډاډ سره پر مخ یوسه او امت ده د کفر تیارو نه را و باسه.

[١٦٧] هو؛ ای پیغمبره! هغه کسان چې کافران سول او د ستا پیغمبري یې ونه منله او خلک یې د الله لارې نه منع کړل، نو دوی یقنا او

په ر ښتيا سره د سمې لارې نه ورک او لرې سوي دي.

[١٦٨] او يقينا هغه کسان چې کافران سول او بيا په کفر کې په پاتې کيدو سره يې پر خپلو ځانو ظلم وکه، نو د الله دوديځ چلند دا ندئ چې دوی ته ده کفر او ظلم و ښنې، او نه دا چې دوی ده سمې لارې ته هدايت کړي، يعنی دغه د الله دين دښمنان به همداسې په کږه لار په مخ ځي، ترڅو هلاك او تباه سي، يعنی دوی د دوزخ په اور کې تل پاتې کړ يږي.

[١٦٩] خو دغو کافرانو ته يوازې د جهنم لار چې د دوزخ اور دئ خلاصه ده او دوی به هلته پکې پاتې وي او تل به پکې کړ يږي، او دغسې سزا ورکول الله ته اسانه دي، يعنی دا ځکه چې الله لوی ځواکمن ذات دئ، او د هيڅ ډول کړنو نه بې وسې او عاجز ندئ او هرڅه چې الله وغواړي هغسې کړای سي، يعنی دا چې الله تعالی لوی خواکمن خدای دئ.

درندو دوستانو! الله تعالی په دغسې روښانه او قاطع بيان سره کافران د خپل کفر او ظلم د بدې راتلونکې نه کلک ګواښلي دي او هغه دا چې دوی نور نه ښنې او نه ورته پر سمه لار د تګ توفيق ورکوي او د دوی سزا د دوزخ په سره اور کې کړ يدل دي او هلته به پکې تل پاتې وي.

{د محمد ﷺ پر پيغمبرۍ ايمان راوړل پر خلکو فرض دي}

او په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالی ټول خلک پر محمد رسول الله ﷺ باندي ايمان راوړلو ته رابللي دي، او فرمايلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدۡ جَآءَكُمُ ٱلرَّسُولُ بِٱلۡحَقِّ مِن رَّبِّكُمۡ فَـَٔامِنُواْ خَيۡرٗا لَّكُمۡۚ وَإِن تَكۡفُرُواْ فَإِنَّ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمٗا ١٧٠﴾

[١٧٠] ای خلکو! يقينا چې دغه پيغمبر (محمد ﷺ) تاسې ته ستاسې د رب او لوی څښتن لخوا حق دين سره راغئ، نو پر هغه ايمان راوړئ [يعنی د هغه پيغمبرۍ ومنئ] او تاسې ته پدې کې خير دئ، او که کافران سوئ [يعنی ايمان مو رانوړ، نو پدې پوه سئ چې ټول هغه مخلوقات] چې پر ځمکه او اسمانو کې دي؛ دوی يقينا د الله واک لاندې دي او الله ښه پوه

او لوی حکیم ذات دئ [نو تاسې ته ای خلکو! ښایي چې د الله واکمنۍ او لو یتیا ته داسې تسلیم سی؛ لکه څنګه چې اسمانو نه او ځمکه الله ته تسلیم سوي دي، او پر الله او پیغمبر باندې ایمان راوړۍ او حکمونه یې ومنۍ، ترڅو ټول مخلوقات الله ته په تسلیمۍ کې سره بر بر سي، یعنی دا چې د الله تعالی عظمت او واکمني به پر مخلوقاتو ښکاره وځلیږي.

{په دین کې د ځان نه خبرو جوړول او پکې افراط حرام دي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې اهل کتاب په خپل دین کې د افراط نه او د ځان نه پکې د خبرو ډیرولو نه الله تعالی کلک منعې کړي، او فرمایلي دي:

﴿يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لَا تَغۡلُواْ فِي دِينِكُمۡ وَلَا تَقُولُواْ عَلَى ٱللَّهِ إِلَّا ٱلۡحَقَّۚ إِنَّمَا ٱلۡمَسِيحُ عِيسَى ٱبۡنُ مَرۡيَمَ رَسُولُ ٱللَّهِ وَكَلِمَتُهُۥٓ أَلۡقَىٰهَآ إِلَىٰ مَرۡيَمَ وَرُوحٞ مِّنۡهُۖ فَـَٔامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦۖ وَلَا تَقُولُواْ ثَلَٰثَةٌۚ ٱنتَهُواْ خَيۡرٗا لَّكُمۡۚ إِنَّمَا ٱللَّهُ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞۖ سُبۡحَانَهُۥٓ أَن يَكُونَ لَهُۥ وَلَدٞۘ لَّهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلٗا ١٧١ لَّن يَسۡتَنكِفَ ٱلۡمَسِيحُ أَن يَكُونَ عَبۡدٗا لِّلَّهِ وَلَا ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ ٱلۡمُقَرَّبُونَۚ وَمَن يَسۡتَنكِفۡ عَنۡ عِبَادَتِهِۦ وَيَسۡتَكۡبِرۡ فَسَيَحۡشُرُهُمۡ إِلَيۡهِ جَمِيعٗا ١٧٢ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَيُوَفِّيهِمۡ أُجُورَهُمۡ وَيَزِيدُهُم مِّن فَضۡلِهِۦۖ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ ٱسۡتَنكَفُواْ وَٱسۡتَكۡبَرُواْ فَيُعَذِّبُهُمۡ عَذَابًا أَلِيمٗا وَلَا يَجِدُونَ لَهُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ وَلِيّٗا وَلَا نَصِيرٗا ١٧٣﴾

[۱۷۱] ای د کتاب خاوندانو (یهودو او نصاراوو!) په خپل دین کې څه شئ مه ډیروی او الله پسې د حق نه پرته بل څه مه وایی، او یقینا چې مسیح عیسی بن مریم د الله پیغمبر او استازئ وه، او دئ د الله هغه خبره وه چې مریم ته یې راواچوله او مسیح عیسی (علیه السلام) د الله روح دئ [معنا دا چې االله تعالی عیسی علیه السلام په خپل لوی قدرت سره د مریم په

نس کې د جبرئيل په وسيله پوکه او بيا عيسى پکې د الله په يوه خبره چې (کن فيکون) کلمه وه؛ پيدا سه] نو ای اهل کتابو! پر الله او د هغه پر پيغمبرانو باندې ايمان راوړئ، او درې خدايان (الله، مر يم او عيسى) مه وايي او د دغسې خبرو نه لاس واخلئ، پدی کې درته خير دئ، او يقينا چې الله پر حق سره يو معبود دئ، او الله د دی نه پاک دئ چې څوک ځان ته زوی ونيسي، او د ځمکې او اسمانو واکمني د الله ده او الله پکې ټولواک دئ، او الله د خپلو ټولو مخلوقاتو چارو سمبالولو ته بس دئ، يعنی الله تعالى بل هيڅ چا ته اړ او محتاج ندئ، ځکه الله تعالى لوی غني ذات دئ.

[١٧٢] هو! المسيح (عيسى بن مر يمعليه السلام) د الله بنده کې نه ځان لوړ نه بولي او نه الله ته لنډې ملائکې يا فرښتې د الله بنده کې نه ځانونه اوچت بولي، او هرڅوک چې د الله بنده کې نه ځان پورته و بولي او کبر وکړي، نو [هغه ده پوه سي] چې الله به دوی ټول خپل ځان خوا ته راغونډ کړي، يعنی الله تعالى د قيامت په ورځ هرچا ته د هغه لائق ثواب او سزا ورکوي او پر هيڅ چا باندې ظلم نکيږي.

ګرانو دوستانو! الله تعالى پدې مبارکو آيتونو کې نصارا د خپلې شرکي عقيدې نه چې مسيح عيسى بن مر يم او د هغه مور مر يم عليهما السلام د الله سره په خدايي کې شر يکوي؛ کلک منع کړي دي، ځکه د دوی دغسې شرکي عقيده په دين کې غلو او ډيرول، افراط او د ځان نه پکې ز يادت دئ، او بيا الله تعالى دوی ته خپل توحيد او يو والئ په ر بو بيت او عبادت کې ښه روښانه بيان کړي دئ، ځکه الله تعالى د هر ډول شرك نه پاک دئ، او هيڅ څوک شر يك نه لري، او پر ځمکه او اسمانو کې سته مخلوقات؛ ټول د الله واک لاندې دي او الله تعالى يې د چارو چلولو او سمبال ته بس دئ، او الله بل هيڅ چا ته اړ او محتاج ندئ، او مسيح عيسىعليه السلام او الله ته لنډې ټولې ملائکې د الله بنده کې نه سرغړونه نکړي، بلکې تل ورته سلامي دي.

درندو عز يزانو! دا وضاحت دلته پکار دئ چې المسيح د عيسىعليه السلام لقب دئ او معنا يې:(د ګناه نه پاک سوئ) ده، ځکه دئ الله

تعالى د هر ډول ګناه نه پاک کړئ ساتلئ وه.

او په ور پسې مبارك آيت کې مومنان چې ښه کړي الله تعالى ستايلي دي او د ثوابونو ز يري ورکړي دي او کافران چې د الله په بنده ګې باندې کبر کړي؛ کلک کوښلي او و يرولي دي، او فرمايلي دي:

[١٧٣] نو هغو کسانو چې ايمان راوړ او ښه يې وکړل، نو دوی ته به الله ثوابونه پوره ورکړي او د خپل فضل نه به هم څه ثواب ور ډير کړي، او هغو کسانو چې د ايمان راوړو نه ډه ډه وکړه او کبر يې وکه او ځانونه يې د الله بنده ګې نه لوړ و بلل، نو الله به دوی ته دردونکئ عذاب او کلکه سزا ورکړي، او دوی د الله نه پرته بل هيڅ څوک مل او مرستندوی نه مومي، يعنى داچې ترڅو دوی د عذاب نه خلاص کړي او نجات ورکړي.

{پيغمبرﷺ الله خلکو ته لارښود او قران يې رښا راليږلې دئ}

قدرمنو لوستونکو! الله تعالى مونږ ته رسول اللهﷺ لارښود او قرآن رښا را ليږلې ده، او فرمايلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدۡ جَآءَكُم بُرۡهَٰنٞ مِّن رَّبِّكُمۡ وَأَنزَلۡنَآ إِلَيۡكُمۡ نُورٗا مُّبِينٗا ١٧٤ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱللَّهِ وَٱعۡتَصَمُواْ بِهِۦ فَسَيُدۡخِلُهُمۡ فِي رَحۡمَةٖ مِّنۡهُ وَفَضۡلٖ وَيَهۡدِيهِمۡ إِلَيۡهِ صِرَٰطٗا مُّسۡتَقِيمًا ١٧٥﴾

[١٧٤] ای خلکو! تاسې ته د ستاسې لوی څښتن الله لخوا حجت او شاهد راغئ [او هغه د الله پيغمبر او استازئ محمدﷺ دئ] او قرآن مونږ تاسې ته روښانه رښا او څراغ رانازل کړه، يعنى قرآن چې د الله کتاب دئ؛ هغه يې خلکو ته لارښود را ليږلئ دئ.

ګرانو دوستانو! الحمد لله چې دا لنډ تفسير ما [د قرآن رښا] په نامه د همدې مبارك آيت او هغه ته ورته څو نورو آيتونو نه په الهام سره چې په سر يزه کې يې يادونه سوې ده؛ ونوما وه.

[١٧٥] نو هغو کسانو چې پر الله ايمان راوړ او پر خپل ايمان کلک سول، نو دوی به الله په خپل رحمت او پيرزو ينو کې ورننه باسي او سمه

لار به وروښي، يعنى نو هغه همدا د جنت لار ده.

{د هغه مړي ميراث و يش چې لونې اوزامن ورڅخه پاتې نه وي}

او په ور پسې مبارك آيت كې چې د النساء سورې وروستئ آيت دئ؛ الله تعالى د (الكلالة) نه ميراث وړونكو ته د هر يوه برخې و يش ياد كړئ دئ، او په بيان كې فرمايلي دي:

﴿يَسْتَفْتُونَكَ قُلِ ٱللَّهُ يُفْتِيكُمْ فِي ٱلْكَلَٰلَةِ ۚ إِنِ ٱمْرُؤٌا۟ هَلَكَ لَيْسَ لَهُۥ وَلَدٌ وَلَهُۥٓ أُخْتٌ فَلَهَا نِصْفُ مَا تَرَكَ ۚ وَهُوَ يَرِثُهَآ إِن لَّمْ يَكُن لَّهَا وَلَدٌ ۚ فَإِن كَانَتَا ٱثْنَتَيْنِ فَلَهُمَا ٱلثُّلُثَانِ مِمَّا تَرَكَ ۚ وَإِن كَانُوٓا۟ إِخْوَةً رِّجَالًا وَنِسَآءً فَلِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ ٱلْأُنثَيَيْنِ ۗ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمْ أَن تَضِلُّوا۟ ۗ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌۢ ﴿١٧٦﴾﴾

[١٧٦] اى پيغمبره! مومنان د ستا نه فتوا غواړي او پوښتي چې د (الكلالة) ميراث حكم څه شئ دئ؟ او هغه څنګه و يشل كيږي؟ نو ته دوى ته د الكلاله ميراث په ځواب كې ووايه: اى مومنانو! الله تاسې ته د الكلاله په ميراث كې فتوا دركوي او هغه داچې كه يو څوك مړ سه او لونه او زامن پې نه درلودل [او مور او پلار يې هم د هغه نه وراندې مړه ول] او دې مړي يوازې يوه خور درلوده، نو دغه خور يې د ميراث نه نيمه برخه وړي، خو كه خور يې د هغه نه مخكې مړه سوه او كهول يې نه درلود، نو بيا يې ټول ميراث ورور وړي، او كه چيرې دوه خوندې وي، نو دوى دواړه د خپل ورور ميراث نه دوه برخې د درې برخو نه وړي، او كه چيرې د مړي ميراث وړونكي ورونه او خو يندي، نار ينه او ښځې وي، نو بيا د نار ينه برخه د ښځې برخې په پرتله دوه برخې ده، او دا حكمونه تاسې ته اى مومنانو! الله بيان كړي دي، ترڅو تاسې په ميراث كى د حق نه ورك او بې لارې نسى، او الله په هرڅه ښه پوه دئ، نو خپلو بنده ګانو ته خير غواړي، يعنى الله تعالى غواړي چې هيڅ څوك پر يو بل تيرئ ونكړي او هر چاته خپله برخه وركړه سي او د تيري مخنيوئ وسي!

ګرانو دوستانو! دا وه د الكلالة مړي پيژندنه او د هغه نه پاتې ميراث

تقسيم او و يش چې هغه مونږ ته الله تعالى په پوره روښتيا سره بيان کړئ دئ، او د دغسې مړي ميراث يې د هغه خو يندو او وروڼو ته و يشلئ دئ، ترڅو په ټولنه کې عدالت تامين سي او د هيڅ چا حق د پښو لاندې نسي.

والحمد لله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله وصحبه أجمعين، وسبحانك اللهم و بحمدك استغفرك وأتوب إليك.



﴿د المائدې سورې پښتو معنا اولنډ تفسير﴾

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالى په نامه چې د لوى رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پيل کيږي]

{د المائدې سورې لنډه پيژندنه او لوى پيغام}

قدرمنو دوستانو! د المائدې مبارکه سوره چې د قرآن کر يم په ترتيب کې د پيل نه پنځمه سوره ده؛ مدني سوره ده او د حجة الوداع په کال چې د هجرت لسم کال وه را نازله سوې ده، او پدې مبارکه سوره کې مونږ ته الله تعالي د حلالو او حرامو په باره کې خپل ډير حکمونه او پر يکړې يادې کړې او بيان کړي دي، او مومنان يې پر دغو حکمونو او پر خپلو هوکړو او ټرونونو باندې عمل کړو ته په کلکه سره رابللي دي، او دا مبارکه سوره په (المائده) څکه نومول سوې ده چې پکې د عيسى عليه السلام ملګرو د المائدې قصه چې معنا يې دسترخوان ده ؛راغلې او بيان سوې ده.

{په ټرون يا تعهد در يدل او حلال او حرام پيژندل فرض دي}

د المائدې مبارکې سورې په پيل کې مومنان الله تعالى خپلو هوکړو پوره کولو او پرځای کولو ته په ټينګار سره رابللي دي، او بيا يې حلال او حرام خواړه ورته په نښه کړي او بيان کړي دي، او فرمايلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَوۡفُواْ بِٱلۡعُقُودِۚ أُحِلَّتۡ لَكُم بَهِيمَةُ ٱلۡأَنۡعَٰمِ إِلَّا مَا يُتۡلَىٰ عَلَيۡكُمۡ غَيۡرَ مُحِلِّي ٱلصَّيۡدِ وَأَنتُمۡ حُرُمٌۗ إِنَّ ٱللَّهَ يَحۡكُمُ مَا يُرِيدُ ١ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تُحِلُّواْ شَعَٰٓئِرَ ٱللَّهِ وَلَا ٱلشَّهۡرَ ٱلۡحَرَامَ وَلَا ٱلۡهَدۡيَ وَلَا ٱلۡقَلَٰٓئِدَ وَلَآ ءَآمِّينَ ٱلۡبَيۡتَ ٱلۡحَرَامَ يَبۡتَغُونَ فَضۡلٗا مِّن رَّبِّهِمۡ وَرِضۡوَٰنٗاۚ وَإِذَا حَلَلۡتُمۡ فَٱصۡطَادُواْۚ وَلَا يَجۡرِمَنَّكُمۡ شَنَـَٔانُ قَوۡمٍ أَن

صَدُّوكُمْ عَنِ ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ أَن تَعْتَدُوا۟ ۘ وَتَعَاوَنُوا۟ عَلَى ٱلْبِرِّ وَٱلتَّقْوَىٰ ۖ وَلَا تَعَاوَنُوا۟ عَلَى ٱلْإِثْمِ وَٱلْعُدْوَٰنِ ۚ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ ﴿٢﴾

[١] ای مومنانو! [تاسې چې پر الله او د هغه پر کتاب (قرآن) او پر پیغمبر(محمدﷺ) باندې ایمان راوړئ دئ او هغه منئ] نو پرخپلو ټولو هغو هوکړو او ټړونونو باندې [چې هغه تاسې د الله او د پیغمبر سره کړې دي او یا هغه تاسې په خپل منځ کې په را کړه ورکړه کې د یو بل سره کړې دي] کلک ودر یږئ او وفاء پرې وکړئ [یعنی پر خپلو هوکړو باندې ټینګ پاتې سئ او هغه پلې کړئ، او هم ای مومنانو! پدې پوه سئ چې په شرعي طر یقې سره د حلال سوو یا ذبح سوو] څارو یو غوښه تاسې ته حلاله ده [او دا څاروي (اوښان، غوایې او پسونه) دي خو د هغو څارو یو غوښه درته حلاله نده] چې حرمت یې تاسې ته د راتلونکو آیتونو په تلاوت کې بیان سوئ دئ [لکه مردار سوي څاروي چې حلال سوي نوي، او د خوږ یا خرس غوښه، او د څارو یو شارګونو نه را ښهیدلې و ینه] او ای مومنانو! کله چې تاسې د حج او عمرې په احرام کې وئ، نو بیا ښکار کړل در باندې حرام دي، او یقینا الله چې څه وغواړي، نو پکې د خپل حکمت سره سم حکم او پر یکړه کړي، یعنی دغه د حلالو او حرامو خوږو حکمونه د الله لوی حکمت سره سم مونږ ته د ښېګڼې او خیر غوښتنې حکمونه دي.

او بیا په ور پسې مبارك آیت کې مومنان د الله دین شعائرو پالنې او درناوي ته الله تعالی کلک رابللي دي، او په قاطع حکم سره یې فرمایلي دي:

[٢] ای مومنانو! د الله شعائر چې[هغه د دین نښې دي] خپلو ځانو ته مه حلالوئ [یعنی هغه د پښولاندې مکوئ] او هم ای مومنانو! په حرامو میاشتو کې چې هغه (ذوالقعدة، ذوالحجة، محرم او رجب میاشتې دي] د دښمن سره جګړه مکړئ او هغه ځان ته مه روا کوئ، او هم د حج او عمري قر بانیو پسونه ځانو ته مه حلالوي او تیرئ ور باندې مکړئ، او پر

هغو څارو یو هم تیرئ مکړئ چې په غاړو کې یې غړوندي اچول سوي او په نښه سوي دي [یعنی دا چې ترڅو معلوم سي دا څاروي د قربانۍ څاروي دي او څښتن یې د حج نیت کړئ دئ] او د هغو کسانو سره هم جګړه مکړئ چې دوی د بیت الله حج کړو قصد لري او د خپل رب خوښي او ثواب غواړي [یعنی ای مومنانو! د بیت الله شعایف حرمت د پښو لاندې نکړئ، او کله چې تاسې د حج او عمرې احرام نه ووتلئ او خپل ځانونه مو حلال کړل، نو بیا ښکار کړل درته روا دي، او ای مومنانو! هغه قوم سره دښمني او کرکه چې تاسې یې د مسجد الحرام نه منع کړئ او پرې نښودلئ چې بیت الله ته ورسیږئ او عمره وکړئ؛ تاسې دې ته ونه هڅوي چې پر دوی باندې تیرئ وکړئ! او ای مومنانو! په ښو کړنو کې او د الله سزا نه په ځان ساتلو او تقوا کې د یو بل سره مرسته وکړئ، خو په ګناه کې او پر یو بل باندې په ناروا سره ټینګې کې؛ د هیچ چا سره مرسته مکړئ، او د الله حکمونو مخالفت نه ځانونه کلک وساتئ، ځکه یقینا چې د الله سزا ډیره سخته ده، یعنی د قیامت په ورځ ګناه کونکو کسانو ته الله تعالی کلکه سزا ورکوي او هغه د جهنم کړونکئ اور دئ، نو الله ده مونږ په خپل فضل او رحمت سره ورڅخه وساتي.

درندو دوستانو! دغسې الهي لارښودنو ته مومنان د اسلام په لمړ یو بر یاوو کې چې فتحه یې په برخه سوې وه او مشرکان یې مات کړي ول؛ کلک اړ ول، ترڅو پر زاړه دښمن باندې څوک ټینګ ونکړي، خو الله تعالی خپل دغه حکمونه او لارښودنې او سپارښتنې په عامو الفاظو سره رانازلې کړې دي، ترڅو ټول مومنان ورڅخه تل ګټه واخلي او د قیامت ورځې پورې عمل پرې وکړئ او هیڅ کله یې د پښو لاندې نکړي، لکه څنګه چې کله په افغانستان کې د څه باندې څلو یښت کلنې اوږدې جګړې او جهاد نه وروسته د کافرانو ښکیلاک دوه لوی نړئ وال لښکرې او فوزونه مات سول او مجاهدینو ته الله تعالی لو یه فتحه او بر یا ورکړه، نو بیا مجاهد افغانان د ښکیلاک نه پاتې د هغوی افغاني پلو یانو سره په داسې حال کې مخامخ سول چې دوی کلکه ماته خوړلې وه، نو الحمد لله د جهاد فاتح

لښکر مشـرانو د همدې مبارکو قرآني لاښـودنو سـره سـم او د رسـول اللهﷺ د سنتو او سيرت په زنا کې عمومي عفوه اعلان کړه، او د ښکيلاک نه پاتې جګړه مار افغاني نظامي او ملکي پلو يان يې و ښـل او د غچ اخسـتلو مخنيوئ يې وسـه،او اوس ټول افغان ولس د يو بل په څنګ کې ژوند کړي.

{د خوړ غوښه او په خپل سر مړه سوي څاروي غوښه حرامه ده}

او په ور پسې مبارك آيت کې د هغو څارو يو د غوښـو خوړلو حرمت الله تعالى بيان کړي دي چې خوړل يې مومنانو ته روا ندي، او فرمايلي دي:

﴿حُرِّمَتۡ عَلَيۡكُمُ ٱلۡمَيۡتَةُ وَٱلدَّمُ وَلَحۡمُ ٱلۡخِنزِيرِ وَمَآ أُهِلَّ لِغَيۡرِ ٱللَّهِ بِهِۦ وَٱلۡمُنۡخَنِقَةُ وَٱلۡمَوۡقُوذَةُ وَٱلۡمُتَرَدِّيَةُ وَٱلنَّطِيحَةُ وَمَآ أَكَلَ ٱلسَّبُعُ إِلَّا مَا ذَكَّيۡتُمۡ وَمَا ذُبِحَ عَلَى ٱلنُّصُبِ وَأَن تَسۡتَقۡسِمُواْ بِٱلۡأَزۡلَٰمِۚ ذَٰلِكُمۡ فِسۡقٌۗ ٱلۡيَوۡمَ يَئِسَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن دِينِكُمۡ فَلَا تَخۡشَوۡهُمۡ وَٱخۡشَوۡنِۚ ٱلۡيَوۡمَ أَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِينَكُمۡ وَأَتۡمَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ نِعۡمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلۡإِسۡلَٰمَ دِينٗاۚ فَمَنِ ٱضۡطُرَّ فِي مَخۡمَصَةٍ غَيۡرَ مُتَجَانِفٖ لِّإِثۡمٖ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٣﴾

[٣] ای مومنانو! د مردار سوي څاروي غوښه پر تاسي حرامه ده، او هم د هغې و يې خوړل حرام دي چې هغه د څارو يو شـارګونو نـه د حلاليدو يا ذبح کيدو په وخت کې راوځي او بهيږي، او د خوک يا خنزير غوښـه هم حرامه ده، او د هغه څاروي غوښـه حرامه ده چې د الله نامه نه پرته د بل چا په نامه حلال سـوئ او ذبحه سـوئ وي، او هم د هغه څاروي غوښه حرامه ده چې په ستوني کې د ساه بندولو او په خفه کولو سـره مړ سـوئ وي، او يا يو څاروئ د بل څاروي په وهلو سـره مړ سـوئ وي، او يا هغه د غوښـو خوړونکو ځناورو [لکه: ليوه، زمري او پړانګ...] خوړئ وي، خو که دغه دارې سوي څاروئ د ساه ختلو نه مخکې په چاره حلال سـوئ وي، نو بيا هغه حلال دئ، او ای مومنانو! او همدارنګه هغه څاروي پر تاسې حرام دي چې د بتانو په نامه او يا د غشـو اچولو په چک

کې حلال سوي وي، نو هرهغه څوک چې دغه ټولې حرامې غوښې وخوري، نو دئ يې په خوړو سره فاسقيږي، يعنی د الله بنده ګی او فرمان وړو نه وځي.

هو؛ ای مومنانو! نن ورځ [چې هغه د حجة الوداع ورځ ده او د اسلام او مسلمانو معنوي ځواکمني پکې وځليده] کافران د ستاسې دين نه نور ناهيلې سول [يعنی دا چې تاسې مومنان به د اسلام نه بيرته راوګرځئ او العياذ بالله مرتدان به سی او د خپلې خوښې دين به پر يږدی] نو تاسې ای مومنانو! نور د کافرانو نه مه و يږی او يوازې د زما نه چې زه د ستاسې پالونکئ څښتن او خدای يم؛ وو يږی، او ای مومنانو! نن ما د ستاسې دين درته پوره او کامل که او ما خپل نعمت او پيرزو ينه پر تاسې باندې پوره کړه، او اسلام تاسې ته ما دين غوره او خوښ که، او ای مومنانو! که څوک د سختې وږې نه؛ مردارې غوښې خوړو ته اړ سه او د الله ګناه کړو قصد يې نه درلود، نو بيا ورته روا ده چې هغه مردارې غوښې چې وړاندی يادې او بيان سوې؛ وخوري، ترڅو ژوندئ پاتې سي، او يقينا چې الله لوی بښونکئ او ښه مهر بان ذات دئ.

قدرمنو عز يزانو! د دې مبارك آيت په آخر کې الله تعالی لمړئ پر مومنانو باندې د اسلام دين کمال او د هغه حکمونو د پوره کيدو ز يرئ کړئ دئ، او هغه دا چې مومنانو ته الله تعالی د دوی د دين ټولې لارښودنې او حکمونه چې پکې حلال او حرام معلوم دي؛ پوره کړي دي او هيڅ شئ پکې ناقص پاتې ندي، او دا دين اسلام الله تعالی د مومنانو ښه ژوندانه لپاره په دنيا او په آخرت کې ښه لارښود غوره کړئ او خوښ کړئ دئ، ترڅو دوی په هغه باندې عمل وکړي او خپل ځانو نه په دنيا او آخرت کې نيکمرغه او خوښ کړي، او د خپل ژوند ټولې چارې د همدې اسماني لارښودنو په رنا کې سمبال کړي، نو درندو دوستانو! يقينا چې د اسلام دين شر يعت حکمونه او لارښودنې تل پاتې دي او په هر عصر او زمان کې او په ټوله نړۍ کې د خلکو لپار غوره قانون او لارښود دستور دئ، نو الله ده مونږ ته د خپل دين پر حکمونو باندې د عملي کولو توفيق راکړي.

درنډو دوســتانو! او بيا الله تعالى د مردار ســوو څارو يو غوښــو حراميدلو په اړوند هغو کسانو ته ز يرئ ورکړئ دئ چې که پر دوی باندې د ډيرې ولږې نه د مرګ و يره وي، نو د مرداړ غوښې خوړل ورته د خپلې اړتيا او ضــرورت په اندازه روا دي، ترڅو ژوندي پاتې ســي او د ولږې نه د مړ ينې خطر سره مخامخ نسي.

{ټول پاک خواړه او د ښکار غوښې مومنانو ته حلالې دي}

او په ور پســي مبارکو آيتونو کې الله تعالى رســول اللهﷺ ته د مومنانو پوښتنو په ځواب کې فتوا ورکړې ده، او فرمايلي دي:

﴿يَسْـَٔلُونَكَ مَاذَآ أُحِلَّ لَهُمْۖ قُلْ أُحِلَّ لَكُمُ ٱلطَّيِّبَٰتُ وَمَا عَلَّمْتُم مِّنَ ٱلْجَوَارِحِ مُكَلِّبِينَ تُعَلِّمُونَهُنَّ مِمَّا عَلَّمَكُمُ ٱللَّهُۖ فَكُلُواْ مِمَّآ أَمْسَكْنَ عَلَيْكُمْ وَٱذْكُرُواْ ٱسْمَ ٱللَّهِ عَلَيْهِۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَرِيعُ ٱلْحِسَابِ ۝٤ ٱلْيَوْمَ أُحِلَّ لَكُمُ ٱلطَّيِّبَٰتُۖ وَطَعَامُ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلْكِتَٰبَ حِلٌّ لَّكُمْ وَطَعَامُكُمْ حِلٌّ لَّهُمْۖ وَٱلْمُحْصَنَٰتُ مِنَ ٱلْمُؤْمِنَٰتِ وَٱلْمُحْصَنَٰتُ مِنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلْكِتَٰبَ مِن قَبْلِكُمْ إِذَآ ءَاتَيْتُمُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ مُحْصِنِينَ غَيْرَ مُسَٰفِحِينَ وَلَا مُتَّخِذِيٓ أَخْدَانٍۗ وَمَن يَكْفُرْ بِٱلْإِيمَٰنِ فَقَدْ حَبِطَ عَمَلُهُۥ وَهُوَ فِي ٱلْءَاخِرَةِ مِنَ ٱلْخَٰسِرِينَ ۝٥﴾

[٤] ای پيغمبره! [ستا ملګري او قدرمن صحابه ده] د ستا نه پوښتنې کړي چې کم يا څه شيان دوی ته حلال سوي او روا دي؟ [نو ته دوی ته په ځواب کې] ووايه: ټول پاک خواړه تاســې ته حلال او روا دي، او د هغو داړونکو [يعنی د ســپيو او د ټونګورو او ګونجو پنجو مرغانو (بازانو) په خولو او په پنجو ښــکار ســوي او داړل ســوي څاروي او مرغان هم درته حلال دي، ځکه تاســې ای مومنانو! دغو ښــکارچيو داړونکو او په ټونکه وښــونکو سپيو او بازانو ته د ښکار کړو هغه څه ورزده کړي دي چې هغه تاســي ته الله درزده کړي دي، نو د دغو ښــکار ســوو څارو يو او مرغانو غوښې چې هغه پې تاسي ته نيولې او ښکار کړي دي؛ وخورئ او د الله نوم (بســم الله) ور باندې په خوړلو کې ووايي، او ای مومنانو! د الله نه وو

يريږي او په روا او ناروا کې د هغه حکمونو په چلولو سره خپل ځانونه د سزا نه وساتي، او پدې پوه سي چې يقينا الله ژر حساب اخستونکي لوی ذات دئ، يعنی الله د هغه حکمونو باندې تيرئ کونکو ته کلکه سزا ورکوي.

او بيا په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالی مومنانو ته د خپلو نعمتونو پوره کولو په بيان کې؛ ز يرئ ورکړئ دئ چې دوی ته د اهل کتابو پاکو خوړو خوړل او د هغوی پاکو ښځو سره وا ده کړل روا دي، او په بيان کې يې پر مومنانو غږ کړئ دئ فرمايلي دي:

[٥] ای مومنانو! نن تاسې ته ما پاک توکي حلال او روا کړل او د اهل کتابو (يهودو او نصاراوو) پاک خواړه تاسې ته حلال دي او د ستاسې خواړه هم دوی ته حلال دي، او تاسې ته ای مومنانو! پاک لمنې مومنې ميرمنې حلالې دي، ترڅو ورسره واده وکړی، او همدارنګه د هغو کسانو پاک لمنې ښځې درته روا دي چې دوی ته د ستاسې نه مخکې کتابونه (تورات او انجيل) ورکړل سوي دي، خو په دې شرط چې دوی ته مهر ورکړی او ستاسې مقصد د واده نه زنا نه بلکې د خپلو ځانو ساتنه وي، او يوازي د اندېوالی او ملګرتيا قصد ونه لری [يعنی دا چې د ستاسې هدف او مقصد د کورنۍ جوړول وي نه يوازې جنسي خوند اخستل، لکه د اهل تشيع صيغه...] او هغه څوک چې د ايمان غوښتنو نه منکر سي، نو د هغه ښه عمل باطليږي او له منځه ځي، او د آخرت په ورځ به دئ د بايلونکو نه وي!

درندو دوستانو! په دغو مبارکو آيتونو کې الله تعالی مونږ مومنانو ته د حلالو او حرامو په باره کې ډيرې هغه ارزښتناکه او اړ ينې مسئلې يادې کړې او بيان کړي دي چې د مومنانو نيکمرغي ورسره په دنيا او آخرت کې کلکه تړي ده، لکه د اهل کتابو سره د را کړې ورکړې مسئلې او د دوی پاک لمنو ښځو سره د وا ده مسئلې چې مقصد يې د مومنانو نيکمرغي ده، او دا دئ اوس خو نړی وال يو بل سره داسې نښتي دي چې د خلاصون لار نه

لري، نو الله ده مومنانو ته د الله تعالی د دین پر شریعت او قانون باندې د عمل توفیق ورکړي، ترڅو په دنیا او آخرت کې ښاد او هوسا سي.

{ د اوداسه، غسل او د تیمم حکمونه او څرنګوالئ }

او په ور پسې مبارك آیت کې د اوداسه، غسل او د تیمم حکمونه او څرنګوالئ الله تعالی مونږ ته بیان کړي دي، او فرمایلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا قُمۡتُمۡ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ فَٱغۡسِلُواْ وُجُوهَكُمۡ وَأَيۡدِيَكُمۡ إِلَى ٱلۡمَرَافِقِ وَٱمۡسَحُواْ بِرُءُوسِكُمۡ وَأَرۡجُلَكُمۡ إِلَى ٱلۡكَعۡبَيۡنِۚ وَإِن كُنتُمۡ جُنُبٗا فَٱطَّهَّرُواْۚ وَإِن كُنتُم مَّرۡضَىٰٓ أَوۡ عَلَىٰ سَفَرٍ أَوۡ جَآءَ أَحَدٞ مِّنكُم مِّنَ ٱلۡغَآئِطِ أَوۡ لَٰمَسۡتُمُ ٱلنِّسَآءَ فَلَمۡ تَجِدُواْ مَآءٗ فَتَيَمَّمُواْ صَعِيدٗا طَيِّبٗا فَٱمۡسَحُواْ بِوُجُوهِكُمۡ وَأَيۡدِيكُم مِّنۡهُۚ مَا يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيَجۡعَلَ عَلَيۡكُم مِّنۡ حَرَجٖ وَلَٰكِن يُرِيدُ لِيُطَهِّرَكُمۡ وَلِيُتِمَّ نِعۡمَتَهُۥ عَلَيۡكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ٦﴾

[٦] ای مومنانو! کله چې تاسې د لمانځه کړو ته جګ سوی او غوښتل مو چې لمونځ وکړی، نو لمړئ اودس وکړی، او هغه داسې چې خپل مخونه پرې مینځی او بیا لاسونه ترځنګلو پورې پرې مینځی او بیا پرخپلو سرو باندې لاس راکش کړی او مسحه یې کړی، او بیا مو پښې د ښنګرو پورې پرې مینځی، او که تاسې ای مومنانو! جنب وی او غسل در باندې اوښتئ وه، نو غسل وکړی او خپل ټول ځان پرې مینځی، خو که چیرې تاسې ناروغ وی او یا پردیسي مسافر وی او تشناب ته په تګ سره د ستاسې اودس مات سه، او یا خپلو ښځو سره په ملاستې سره پر تاسې غسل واوښت، خو بیا مو او به بیانمودلې، ترڅو اودس او غسل ور باندې وکړی، نو په پاکه خاوره تیمم ووهی، او هغه داسې چې خپل لاسونه په پاکه خاوره وموښی او بیا په لاسو باندې خپل مخونه او لاسونه مسحه کړی او ور پورې یې وموښی، او ای مومنانو! الله نه غواړي چې پرتاسې څه سختي وکړی، بلکې الله غواړي چې تاسې پاک سی، او الله خپل نعمت او پیرزو ینه پرتاسې پوره کوي، ترڅو یې تاسې شکر و باسی، یعنی ای مومنانو! د الله تعالی د دغسې لو یو نعمتونو چې پرتاسې یې پیرزو کړي

دي شکر و باسی، او هغه دا چې د ستاسې پاکۍ لپاره يې درته په پاکو او بو باندې اودس او غسل روا کړئ دئ، او که او به نه وې، نو بيا يې درته په پاکه خاوره تيمم روا کړئ دئ، نو د دغو نعمتونو کلکه مننه په ښې بنده کې سره وکړی او د الله شکر و باسی.

قدرمنو عز يزانو! الله تعالى پدې مبارك آيت کې مومنانو ته د اوداسه، غسل او د تيمم غټ غټ رکنو نه چې په فقه کې ورته فرضونه وايي بيان کړي دي، او بيا رسول الله ﷺ په خپل اودس، غسل او تيمم کړو سره د دغو مسئلو سنتونه هم بيان کړي دي، او دا دئ الحمد الله مونږ مومنانو هغه زده کړي دي او عمل پرې کړو، ترڅو د الله عبادت په پاکۍ سره وکړو.

{د الله سره د ټرون ځار او عدالت چلول فرض دي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى مومنان د خپلو هغو ټرونونو ځارنې ته رابللي دي چې د الله سره يې کړي دي، او بيا يې عدالت چلولو ته کلک هڅولي دي، او فرمايلي دي:

﴿وَٱذۡكُرُواْ نِعۡمَةَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ وَمِيثَٰقَهُ ٱلَّذِي وَاثَقَكُم بِهِۦٓ إِذۡ قُلۡتُمۡ سَمِعۡنَا وَأَطَعۡنَاۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ٧ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُونُواْ قَوَّٰمِينَ لِلَّهِ شُهَدَآءَ بِٱلۡقِسۡطِۖ وَلَا يَجۡرِمَنَّكُمۡ شَنَـَٔانُ قَوۡمٍ عَلَىٰٓ أَلَّا تَعۡدِلُواْۚ ٱعۡدِلُواْ هُوَ أَقۡرَبُ لِلتَّقۡوَىٰۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرُۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ ٨ وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُم مَّغۡفِرَةٞ وَأَجۡرٌ عَظِيمٞ ٩ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَكَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَآ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَحِيمِ ١٠﴾

[٧] ای مومنانو! د الله ټول هغه نعمتونه او پيرزو يې راپه ياد کړئ چې پر تاسې باندې يې لورولې دي، او هم د الله هغه ټرون راپه ياد کړی چې تاسې يې په وټرلې [يعنی دا چې هغه پر الله او د هغه پر کتاب او پيغمبر

باندې ایمان راوړل ول] نو بیا تاسې وو یل: مونږ دا ټرون واور یده او هغه مونږ ومانه او عمل ور باندې کړو، او ای مومنانو! د االله نه وو یر یږی او د سزا نه یې ځانو نه وساتی، او یقینا چې الله د ستاسې په زړونو باندې پوه دئ، یعنی نو بیا ستاسې سره برابر چلند کړي .

درندو دوستانو! که څه هم ځینې مفسرین وایي چې د دې ټرون نه مقصد هغه ټرون دئ چې هغه د مدینې نه مکې ته راغلي پلاوي د اوس او خزرج ولسونو په استازولی د رسول اللهﷺ سره په بیعة العقبة کې وکه، خو د دې مبارك آیت ښکاره مقصد د ایمان راوړو په وخت کې د ټولو مومنانو ټرون رسول اللهﷺ سره دئ، او بیا هغه همداسې پر ټولو مومنانو باندې د قیامت ورځې پوري فرض دئ.

او بیا په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د دوست او دښمن په منځ کې پرعدالت چلولو باندې ټینګار کړئ دئ، او هغه یې پرمومنانو باندې فرض کړئ دئ او د لو یو ثوابونو وعده یې ورسره کړې ده، او فرمایلي دي:

[٨] ای مومنانو! د الله فرمان وړو ته تل تیار ښئ اوسیږی، او پرحق او ر یښتیا او په عدالت سره شاهدان ښی، او د کم قوم یا ډلې سره دښمني تاسې دیته ونه هڅوي چې د دوی سره بې عدالتي وکړی [یعنی د دوی حقوق د پښو لاندې کړی، بلکې ټولو خلکو سره په انصاف او عدالت وچلیږی] ځکه عدالت تقوا ته چې هغه د الله عذاب نه ځان ساتل دي؛ لنډ دئ، او د الله عذاب نه وو یر یږی، او یقینا چې الله ستاسې پر کړنو ښه خبر دئ، یعنی د محشر په ورځ الله تعالی هرچاته د هغه ښه او بد عمل ثواب او سزا ورکوي.

[٩] او الله هغو کسانو سره چې ایمان یې راوړ او ښه یې وکړل؛ وعده او هوډ کړئ دئ چې دوی به ښې او لوی ثواب به ورکوي، یعنی دوی ته به لوی لوی جنتونه ورکړي.

[١٠] او هغه کسان چې کافران سول [یعنی د الله تعالی توحید نه

منکر سـول] او د زمونږ کتابونو آیتونه او د قدرتونو نښې او معجزې یې دروغ و بللې؛ دوی د دوزخ ملګرې دي، یعنی ځای یې دوزخ دئ او هلته به پکې تل پاتې کږ یږي.

{مومنان اوپیغمبر الله د دښمن بر ید نه خوندي وساتل}

او په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی مومنان همداسې د خپلو نعمتونو شکر و یستلو ته رابللي دي، او فرمایلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ إِذۡ هَمَّ قَوۡمٌ أَن يَبۡسُطُوٓاْ إِلَيۡكُمۡ أَيۡدِيَهُمۡ فَكَفَّ أَيۡدِيَهُمۡ عَنكُمۡۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ١١﴾

[١١] ای مومنانو! [نو تاسې چې پرالله او د هغه پرکتاب (قرآن) او پرپیغمبر باندې ایمان راوړئ دئ] د الله هغه نعمت او پیرزو ینه پرتاسې باندې راپه یاد کړی، کله چې یوې ډلګی (د بني نضیر یهودو) وغوښتل چې خپل لاسونه تاسې ته دراوږده کړي او بر ید در باندې وکړي، نو بیا الله د دوی لاسونه ستاسې نه لنډ کړل [یعنی د دوی شیطانی توطئه الله تعالی شنډه کړه او خپل شوم مقصد ته ونه رسیدل] نو ای مومنانو! د الله سزا نه خپل ځانونه وساتی او پرالله توکل، اعتماد او پروسعه وکړی او ځانونه ور باندې وسپاری.

قدرمنو مومنانو! پدې مبارك آیت کې الله تعالي د بني نضیر یهودو یوې ډلګی هغې دسیسې ته اشاره کړي ده چې غوښتل یې پر رسول اللهﷺ باندې یوغټ کټ یا تیږه راوغورځوي او پیغمبرﷺ مړ کړي، خو الله تعالی ډیر ژر رسول الله خبر که، نو بیا رسول اللهﷺ د خپل ځای نه ډیر زر جګ سه او ګرندئ بیرته مدینې ته ستون سه.

{د مومنانو ګناه الله په ایمان او عبادت تو یوي او بښي یې}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی اهل کتابو (یهودو او

نصاراوو) ته او مومنانو ته د الله حکمونو پرځای کولو سره د ګناه ښښې ز یرئ ورکړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿*وَلَقَدْ أَخَذَ ٱللَّهُ مِيثَٰقَ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ وَبَعَثْنَا مِنْهُمُ ٱثْنَىْ عَشَرَ نَقِيبًا ۖ وَقَالَ ٱللَّهُ إِنِّى مَعَكُمْ ۖ لَئِنْ أَقَمْتُمُ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَيْتُمُ ٱلزَّكَوٰةَ وَءَامَنتُم بِرُسُلِى وَعَزَّرْتُمُوهُمْ وَأَقْرَضْتُمُ ٱللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا لَّأُكَفِّرَنَّ عَنكُمْ سَيِّـَٔاتِكُمْ وَلَأُدْخِلَنَّكُمْ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ ۚ فَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ مِنكُمْ فَقَدْ ضَلَّ سَوَآءَ ٱلسَّبِيلِ ﴿١٢﴾ فَبِمَا نَقْضِهِم مِّيثَٰقَهُمْ لَعَنَّٰهُمْ وَجَعَلْنَا قُلُوبَهُمْ قَٰسِيَةً ۖ يُحَرِّفُونَ ٱلْكَلِمَ عَن مَّوَاضِعِهِۦ وَنَسُوا۟ حَظًّا مِّمَّا ذُكِّرُوا۟ بِهِۦ ۚ وَلَا تَزَالُ تَطَّلِعُ عَلَىٰ خَآئِنَةٍ مِّنْهُمْ إِلَّا قَلِيلًا مِّنْهُمْ ۖ فَٱعْفُ عَنْهُمْ وَٱصْفَحْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿١٣﴾﴾

[١٢] او په یقین سره الله د بني اسرائیلو نه تعهد او هوډ واخست، او د دوی نه دولس کسه استازي مونږ ولیږل او ورته الله وو یل: چې زه یقینا د ستاسې مل یم، نو که تا سې لمونځ ودراوه او زکات مو ورکه او د زما پرپیغمبرانو مو ایمان راوړ او د دوی مرسته مو وکړه او الله ته تاسې ښه پُور (حسنه قرض) ورکه، نو زه د ستاسې ګناه تو یوم او بیا تاسې هغسې جنتونو یا بنونو ته ورننه باسم چې د او بو و یالې تر لاندې بهیږي، خو که لدې نه وروسته بیا د ستاسې نه څوک کافر سه، نو یقینا چې هغه سمه لار ورکه کړه، یعنی په کړه لار چې د الله رحمت نه محرومیت دئ؛ تللئ دئ.

هو؛ ګرانو دوستانو! الله تعالی د بني اسرائیلو نه تعهد واخست او دولس کسه استازي یې چې هر یو یې د بني اسرائیلو د دولسو ښښو یا د خپلو خیلو استاز یتوب کا وه ورولیږل، او دوی ته یې وو یل: چې زه د ستاسې سره یم او مرسته مو کړم او تاسې ساتم، خو په دې شرط چې تاسې لمنځونه وکړئ [یعنی هر لمونځ په خپل وخت کې ودروئ او زکات ورکړئ او د زما پر پیغمبرانو باندې ایمان راوړئ او مرسته یې وکړئ او

الله ته حسنه قرض یا پور ورکړی، یعنی د الله په لار کې تاسې خپل مال ولږوی، نو بیا زه د ستاسې ګناه یقینا تو یوم او تاسې پاکوم، او بیا تاسې داسې جنتونو ته ورننه باسم چې و یالې پکې بهیږي، خو که د دغسې هوډ نه وروسته بیا څوک د ستاسې نه کافر سه او خپل تعهد یې مات که، نو هغه د حق سمې لارې نه ورک سوئ دئ او په کږه لار چې د شیطان لار ده تللئ دئ، خو یهودو بیا خپله هوکړه ماته کړه، نو دوی خپل ځانونه د الله لعنت وړ وګرځول او د هغسې سزا مستحق سول چې په بیان کې یې په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی فرمایلي دي:

[۱۳] نو بیا چې کله دغو یهودو خپلې هوکړې او تعهدونه مات کړل؛ دوی مونږ لعنت کړل او د خپل رحمت نه مو وشړل او د دوی زړونه مونږ کلک کړل، او بني اسرائیلو د الله هغه خبرې [چې پرموسی علیه السلام باندې رانازل سوي کتاب تورات کې وي] د خپل ځای نه بدلولې او هغه برخه خبرې چې دوی ته پکې د حق یادونه او لارښودنه سوې وه؛ هغه یې هیرې کړې، او ای پیغمبره! ته به تل د یهودو خیانتونو نه خبریږي او د یهودو نه ډیر لږ کسان په دغو خیانتونو او د هوکړو په ماتولو کې بې برخې دي، نو ته ای پیغمبره! د یهودو تیروتنو نه تیر سه او عفوه ورته وکړه، ځکه یقینا چې د ښو کړنو څښتن او محسنان پرالله ګران دي.

قدرمنو دوستانو! دا د الله تعالی هغه غوره لارښودنې دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې د یهودو سره په چلند کې د پام وړ بللې دي، خو بیا هم الله تعالی پیغمبر صلی الله علیه وسلم د دوی د تیریو لویې ګناه نه تیریدو او بښي ته رابللي دئ، نو ښایي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم دین ته رابلونکي علماء او ملایان خپلو هغو ولسونو سره چې دوی حق لارې ته رابولي، خو هغوی ورسره خیانت کړي او خپلې هوکړې ماتوي او هغه ده پښو لاندې کوي؛ همدغسې چلند وکړي او تل د هغوی سره د عفوې او بښنې نه کار واخلي، ځکه چې دغه اسلام ته رابلونکي علماء او دعات هیڅ کله هم د خپل دعوت نه ځاني ګټې نه غواړي، او مقصد یې یوازې د الله تعالی حکم په چلولوه سره؛ خپل ولس ته د خیر غوښتنه او د هغوی ښادي په دنیا او آخرت کې ده!

{د الله سره تعهدونو ماتولو سزا د کينوز يږ يدل دي}

او په ور پسې مبارك آيت کې همدارنګه مومنان الله تعالى د ځينې په نامه نصاراوو د تعهدونو ماتولو کلکې سزا نه چې خپل منځي کينې ز يږوي؛ خبر کړي دي، ترڅو خپل ځانونه د هغوى شر نه وساتي، او فرمايلي دي:

﴿وَمِنَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ إِنَّا نَصَٰرَىٰٓ أَخَذۡنَا مِيثَٰقَهُمۡ فَنَسُواْ حَظّٗا مِّمَّا ذُكِّرُواْ بِهِۦ فَأَغۡرَيۡنَا بَيۡنَهُمُ ٱلۡعَدَٰوَةَ وَٱلۡبَغۡضَآءَ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِۚ وَسَوۡفَ يُنَبِّئُهُمُ ٱللَّهُ بِمَا كَانُواْ يَصۡنَعُونَ ١٤﴾

[١٤] [اى مومنانو!] او د هغو کسانو نه چې دوى ځانونه نصارا بولي او وايي چې مونږ نصارا يو [يعنى پرعيسى عليه السلام مونږ ايمان راوړئ دئ او مرسته يې کړو] د دغو کسانو نه مونږ هوکړه او تعهد واخست، خو بيا د دوى نه [يوى ډلې او ځينې کسانو] هغه لارښودنې او سپارښتنې چې دوى ته مونږ کړې وې؛ هيرې کړې [نو بيا دوى ته مونږ سخته سزا ورکړه او هغه دا چې] د دوى په منځ کې مونږ د قيامت ورځې پورې دښمني او کينې واچولې [يعنى دوى به د يو بل سره تل په دښمني کې وي] او د قيامت په ورځ به الله دوى د خپلو بدو کړنو نه خبر کړي، يعنى په هغه ورځ به بيا الله دغو اهل کتابو ته د دوى د بدو کړنو کلکه سزا ورکړي!

عزتمنو دوستانو! دا دئ د الله تعالى تل پاتې نظام او قانون چې هيڅ بدلون نه لري، نو هرهغه څوک چې د الله سره خپله هوکړه او تعهد ماتوي؛ الله به هغه ته په دنيا او آخرت کې کلکه سزا ورکړي، او دوى به ډلې وړې کړي او سره پخه تل پاتې دښمني به د دوى په منځ کې واچوي او يو بل به وژني، لکه څنګه چې د يهودو او نصاراوو خپل منځي دښمنۍ اوږد تار يخ او د نصارواو ډول ډول ډلو [اورتزکس، کاتوليک او پروتستان]خپل منځي دښمني پردغسې اوږدې دښمنۍ باندې شاهد او ګواه دئ، او هغوى پرخپل منځي جګړو کې ډير کسان سره مړه کړل، او په معاصر تار يخ کې يې ژوندۍ بيلګه دوه نړۍ والې جګړې دي چې مليونهاوو کسان پکې ووژل سول، نو مومنانو ته ښايي چې هيڅ کله د الله تعالى دغسې تل پاتې قانون

نه بې پروا او غافل نسي.

درندو ورونو، او خو يندو! هو؛ پدې مبارکو آيتونو کې الله تعالى مونږ ته کلک ګوابنې کړئ دئ چې ښايي خپلې ايماني هوکړې د االله تعالى سره ماتې نکړو او د يهودو او نصاراوو په پله لاړ نسو او تقليد يې ونکړو، کنه نو بيا به مونږ هم د دوى غوندې پرخپل منځي دښمنۍ کې ولو يږو او په جګړو کې به يو بل وژنو، لکه د ځينې اسلامي هيوادونو اوسنۍ خپل منځي خورې ورې جګړې په عراق، سوريه، يمن، ليبيا او صوماليا کې چې د شلمې ميلادي پيړۍ د نوي يمې لسيزې نه پيل سوې دي او تر اوسه چې(٢٠٢٤م) کال پيل دئ؛ همداسې په ځينو هيوادونو کې رواني دي او اوس اوس د سودان داخلي جګړه هم ورز ياته سوې ده، نو ښايي چې مسلمانان د الله په کتاب ځانونه ښه پوه کړي او عمل پرې وکړي او د الله عذاب نه ځانونه کلک وساتي او خپل زړونه او مغزونه په قرآني لارښودنو باندې رڼا او تينګ کړي، ترڅو ښاد او نيکمرغه سي!

{د اسلام پيغمبر ﷺ اهل کتابو ته رڼا کونکئ پيغام قرآن راوړ}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى اهل کتابو (يهودو او نصاراوو) ته د اسلام پيغمبر رونې او ځلانده پيغام قرآن چې هغه يې دوى ته را ليږلئ دئ؛ ياد کړئ او بيان کړئ دئ، او فرمايلي:

﴿يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ قَدۡ جَآءَكُمۡ رَسُولُنَا يُبَيِّنُ لَكُمۡ كَثِيرٗا مِّمَّا كُنتُمۡ تُخۡفُونَ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَيَعۡفُواْ عَن كَثِيرٖۚ قَدۡ جَآءَكُم مِّنَ ٱللَّهِ نُورٞ وَكِتَٰبٞ مُّبِينٞ ١٥ يَهۡدِي بِهِ ٱللَّهُ مَنِ ٱتَّبَعَ رِضۡوَٰنَهُۥ سُبُلَ ٱلسَّلَٰمِ وَيُخۡرِجُهُم مِّنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ بِإِذۡنِهِۦ وَيَهۡدِيهِمۡ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ١٦﴾

[١٥] اى د کتاب خاوندانو! تاسې ته د زمونږ پيغمبر[محمدﷺ] په يقين سره راغئ، او دئ تاسې ته د ستاسې کتاب (بايبل يا د تورات او

انجيل) ډير هغه آيتونه را پسيره کوي چې هغه تاسې پټول [يعنی د اسلام پيغمبرﷺ پټ حقيقتونه خلکو ته بيانوي] او د ډيرو نورو نه تيريږي [ځکه په بيانولو کې يې څه ګټه نسته] هو! يقينا چې تاسې ته ای اهل کتابو! د الله لخوا رڼا او روښانه کتاب راغئ، يعنی هغه د الله نه راغلئ حق کتاب قرآن دئ، نو ښايي چې تاسې قرآن ومنئ او ايمان راوړئ او د قرآن پرحقانيت او ر يښتينوالي باندې باور او عمل وکړئ.

[١٦] او په دې کتاب (قرآن) باندې الله هغه څوک ډاډمنو لارو ته سموي او د کفر تيارونه يې رڼا ته را باسي او پرسمه لار يې بيايي، يعنی ترڅو دوی د الله رضا او خوښئ لارو يان سي.

ګرانو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آيتونو کی اهل کتاب چې ځانو ته د تورات او انجيل پيروان وايي؛ د اسلام پيغمبر محمدﷺ او پر هغه را نازل سوي کتاب قرآن باندې ايمان راوړو او منلو ته يې رابللي دي او هغه يې دوی ته د الله سزا نه د خلاصون يواز يني لار ښودلې ده، او دغه دعوت دوی ته الله تعالی مخکې د رسول الله بعثت او د قرآن نزول نه په تورات او انجيل کې هم ياد کړئ او بيان کړئ وه، خو هغه دوی پټا وه، نو بيا په قرآن کې الله تعالی دا بلنه او دعوت په وار وار سره تکرار کړه، ترڅو اهل کتاب په خپل خير ښه پوه سي او هغه و پيژني او ايمان راوړي او خپلو ځانو ته د الله تعالی کلکې سزا نه نجات ورکړي.

{عيسى عليه السلام ته خداى و يل کفر دئ}

او په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالی اعلان کړئ ده چې عيسىعليه السلام ته خداى و يل کفر دئ، او فرمايلي دي:

﴿لَّقَدْ كَفَرَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْمَسِيحُ ٱبْنُ مَرْيَمَۖ قُلْ فَمَن يَمْلِكُ مِنَ ٱللَّهِ شَيْـًٔا إِنْ أَرَادَ أَن يُهْلِكَ ٱلْمَسِيحَ ٱبْنَ مَرْيَمَ وَأُمَّهُۥ وَمَن فِي ٱلْأَرْضِ جَمِيعًاۗ وَلِلَّهِ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَاۚ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ

شَيۡءٖ قَدِيرٞ ١٧﴾

[١٧] هو! يقينا هغه کسان کافران سول چې وو يل: مسيح بن مر يم (عيسى عليه السلام) خداي دئ، نو ته اى پيغمبره! [دغو ناپوهانو ته] ووايه: که الله وغواړي چې مسيح د مر يم زوى او مور يې مر يم هلاك او مړه کړي، او هم ټول هغه څوک چې په ځمکه کې دي؛ هلاك کړي او لمنځه يې يوسي، نو څوک به د الله مخه ونيسي؟ [هو! استفهام دلته تقر يري دئ، او ځواب دا چې: هيڅ څوک د الله تعالي د پر يکړو مخه نيولاى نسي] ځکه د ځمکې او اسمانو او د دوى دواړو په منځ کې پرتو ټولو مخلوقاتو واکمن څښتن الله دئ، او الله چې څه غواړي هغه پيدا کوي او ور باندې قادر دئ، يعنى الله تعالي هرڅه کړاى سي، ځکه الله د ټولو مخلوقاتو واکمن ټولواک او لوى پالونکئ او چلوونکئ څښتن دئ.

درندو عز يزانو! نو د نصاراوو دا و ينا او خبره چې المسيح بن مر يم عليه السلام [العياذ بالله] خداى دئ؛ شرك او کفر دئ، ځکه الله تعالى واحد او لاشر يك واکمن پالونکئ ذات دئ، او بل هيڅ څوک د هغه مل ندئ، او ځمکه او اسمانو نه او پکې سته ټول مخلوقات الله پيدا کړي دي او الله پکې واکمن دئ، او عيسى عليه السلام د الله بنده او پيغمبر وه، او دئ الله تعالى د مر يم عليها السلام نه بې پلاره پيدا که، لکه د آدم عليه السلام پيدايښت چې الله تعالى د خاورې نه بې پلاره او بې مورې پيدا که، نو هرڅوک چې عيسى بن مر يم عليه السلام الله وګڼي؛ هغه کفر ته وځي او د مشرکانو نه شميرل کيږي!

{اهل کتاب لکه نورخلک د الله بنده ګان دي نه د الله زامن}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د يهودو او نصاراوو هغه ځان پالنې غندلې دي چې دوى به و يل: مونږ د الله زامن يو، او فرمايلي دي:

﴿وَقَالَتِ ٱلۡيَهُودُ وَٱلنَّصَٰرَىٰ نَحۡنُ أَبۡنَٰٓؤُاْ ٱللَّهِ وَأَحِبَّٰٓؤُهُۥۚ قُلۡ فَلِمَ يُعَذِّبُكُم بِذُنُوبِكُمۖ بَلۡ أَنتُم بَشَرٞ مِّمَّنۡ خَلَقَۚ يَغۡفِرُ لِمَن يَشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَن يَشَآءُۚ وَلِلَّهِ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَاۖ وَإِلَيۡهِ ٱلۡمَصِيرُ ١٨ يَٰٓأَهۡلَ

ٱلۡكِتَٰبِ قَدۡ جَآءَكُمۡ رَسُولُنَا يُبَيِّنُ لَكُمۡ عَلَىٰ فَتۡرَةٖ مِّنَ ٱلرُّسُلِ أَن تَقُولُواْ مَا جَآءَنَا مِنۢ بَشِيرٖ وَلَا نَذِيرٖۖ فَقَدۡ جَآءَكُم بَشِيرٞ وَنَذِيرٞۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ١٩

[١٨] او يهودو او نصاراوو وو يل: مونږ د الله زامن يو او پر الله ګران يو! [نو ته اى پيغمبره!] دوى ته ووايه: نو ولې الله تاسي ته د ستاسې ګناه په سزا کې عذاب درکوي؟ بلکې تاسي اى يهودو او نصاراوو! د الله نورو هغو بنده ګانو غوندې چې الله پيدا کړي دي؛ انسانان ياستى او الله په خپله خوښه څوک بښي او چاته په خپله خوښه سزا ورکوي، ځکه الله د ځمکې او اسمانو او د دوى دواړو په منځ کې د ټولو مخلوقاتو واکمن پالونکئ څښتن دئ او د ټولو خلکو ورتګ الله ته دئ، يعنى د قيامت په ورځ ټول خلک الله ته ورتلونکي دي، او بيا الله تعالى د هرچا سره حساب کړي، مومنانو ته په ثواب کې جنتونه ورکوي او کافران دوزخ ته ورننه باسي، يعنى هلته پکې سزا ورکوي او په جهنم کې به کړ يږي.

او په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالى د کتاب پرخاوندانو غږ کړئ دئ چې د اسلام پيغمبرﷺ اطاعت وکړى، ځکه هغه تاسې ته د زمونږ استازئ راغئ، او فرمايلي دي:

[١٩] اى د کتاب خاوندانو! (يهودو او نصاراوو) يقينا چې د زمونږ پيغمبر (محمد بن عبد اللهﷺ) د پيغمبرانو را ليږلو لړى د در يدلو نه لږ څه زيات وروسته تاسې ته راغئ او هغه تاسې ته پرسمه لار تګ بيانوي، ترڅو تاسې اى اهل کتابو! بيا ونه وايي چې مونږ ته خو هيڅ څوک ز يرئ راکونکئ او و يرونکئ رانغئ؟ نو دا دئ اوس تاسې ته په يقين سره؛ يو کلک ز يرئ درکونکئ او ښه و يرونکئ راغئ، او الله په هرڅه قادر لوى ذات دئ، يعنى هرڅه چې الله وغواړي؛ هغسي کړلاى سي او د نوي استازي را ليږل الله ته ډير اسانه دي.

قدرمنو دوستانو! دا مبارك آيت د محمدﷺ پيغمبرى باندې يهودو او نصاراوو ته ډير پر يکنده دليل دئ، نو د هغه پيغمبرى منل او ور باندې

ايمان راوړ پرېښودو او نصاراوو باندې فرض دي او انکار ورڅخه کفر دئ.

{د الله پيرزو يې پر بني اسرائيلو بې ساري وې}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د موسى عليه السلام مرکه خپل قوم بني اسرائيلو سره چې کله دئ د دوى سره ښه ډير وزور يده؛ مونږ ته د پند اخستلو په مقصد يادې کړي ده، او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِۦ يَٰقَوْمِ ٱذْكُرُوا۟ نِعْمَةَ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ جَعَلَ فِيكُمْ أَنۢبِيَآءَ وَجَعَلَكُم مُّلُوكًا وَءَاتَىٰكُم مَّا لَمْ يُؤْتِ أَحَدًا مِّنَ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٢٠﴾ يَٰقَوْمِ ٱدْخُلُوا۟ ٱلْأَرْضَ ٱلْمُقَدَّسَةَ ٱلَّتِى كَتَبَ ٱللَّهُ لَكُمْ وَلَا تَرْتَدُّوا۟ عَلَىٰٓ أَدْبَٰرِكُمْ فَتَنقَلِبُوا۟ خَٰسِرِينَ ﴿٢١﴾ قَالُوا۟ يَٰمُوسَىٰٓ إِنَّ فِيهَا قَوْمًا جَبَّارِينَ وَإِنَّا لَن نَّدْخُلَهَا حَتَّىٰ يَخْرُجُوا۟ مِنْهَا فَإِن يَخْرُجُوا۟ مِنْهَا فَإِنَّا دَٰخِلُونَ ﴿٢٢﴾ قَالَ رَجُلَانِ مِنَ ٱلَّذِينَ يَخَافُونَ أَنْعَمَ ٱللَّهُ عَلَيْهِمَا ٱدْخُلُوا۟ عَلَيْهِمُ ٱلْبَابَ فَإِذَا دَخَلْتُمُوهُ فَإِنَّكُمْ غَٰلِبُونَ ۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَتَوَكَّلُوٓا۟ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٢٣﴾ قَالُوا۟ يَٰمُوسَىٰٓ إِنَّا لَن نَّدْخُلَهَآ أَبَدًا مَّا دَامُوا۟ فِيهَا فَٱذْهَبْ أَنتَ وَرَبُّكَ فَقَٰتِلَآ إِنَّا هَٰهُنَا قَٰعِدُونَ ﴿٢٤﴾ قَالَ رَبِّ إِنِّى لَآ أَمْلِكُ إِلَّا نَفْسِى وَأَخِى ۖ فَٱفْرُقْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ ٱلْقَوْمِ ٱلْفَٰسِقِينَ ﴿٢٥﴾ قَالَ فَإِنَّهَا مُحَرَّمَةٌ عَلَيْهِمْ أَرْبَعِينَ سَنَةً ۛ يَتِيهُونَ فِى ٱلْأَرْضِ ۗ فَلَا تَأْسَ عَلَى ٱلْقَوْمِ ٱلْفَٰسِقِينَ ﴿٢٦﴾﴾

[٢٠] [ای د اسلام پیغمبره!] او هغه وخت راپه یاد کړه، کله چې موسی خپل قوم ته وو ویل: د الله هغه نعمتونه او لور یې پرتاسې را په یاد کړی، کله چې په تاسي کې الله پیغمبران پیدا کړل او تاسې یې پاچایان کړی او تاسې ته یې هغه څه درکړل چې بل چاته یې په نړۍ کې نه وه ورکړي!

[٢١] او ای د زما قومه او عز یزانو! هغې مقدسي او پاکې خاورې ته چې هغه تاسي ته الله لیکلې او غوره کړې ده ورننوځی او د هغې نه بیرته په شا مه راګرځئ [ځکه که تاسې بیرته په شا لاړی] نو بیا به تاسي ز یانمن او تاوانیان په شا اوښتي وی، یعنی بیت المقدس خوا ته په شام کې پر مخ لاړ سی او د و یرې نه بیرته په شا مه راګرځئ، ځکه بیا به تاسې کلک تاوان کړی وي او ز یانمن به وی او د الله نعمتونه به تاسې د لاسه ورکړي وي.

[٢٢] [نو بیا بنې اسرائیلو موسی ته په ځواب کې] وو ویل: ای موسی! په بیت المقدس کې یقینا زور واکي میشت دي او مونږ د هغوی زور نه لرو، نو مونږ هلته نه ورننوځو، ترڅو دوی د دې ښار نه ووځي، او کله چې دوی ووتل، نو بیا به مونږ ورننوځو.

[٢٣] نو بیا د موسی قوم نه دوه کسه نار ینوو چې د الله حکم مخالفت عذاب نه و یر یدل او پردوی دواړو الله خپل اطاعت او بنده کي پیرزو کړې وه؛ دوی بني اسرائیل وهڅول او ورته یې وو یل: پردغو زور واکانو باندې د ښار لوی ورنه ورننوځی! او کله چې تاسي ورننه وتلی، نو بیا به یقینا چې تاسې پر دوی زورور کیږی [یعنی په زورواکانو باندې به بر یا ته رسیږی،

او دښمن به درته تسلیم سي] نو که تاسي ای بني اسرائیلو! په ر ښتیا سره مومنان یاستی پرالله توکل او پروسعه وکړی، یعنی یوازې د الله نه مرسته وغواړی او پردښمن بر ید وکړی، ترڅو بر یالي او سر لوړي سی او لوی عزت مو په برخه سي!

[٢٤] خو دغو بني اسرائیلو موسی ته وو یل: ترڅو چې دغه زور واکي هلته دي؛ مونږ هیڅ کله نه ورننوځو او ته ای موسی لاړ سه او ته او

خدای ده دغو زورواکانو سره وجنګیږی او مونږ دلته ناست یو!

[٢٥] نو بیا موسی خپل رب سره په مناجات کې وو یل: ای د زما لو یه څښتنه! زه پرته د خپل ځان او د خپل ورور هارون نه؛ د بل چا واک نه لرم، نو ته ای لو یه ر به! د زمونږ او د دې فاسق قوم په منځ کې [چې د الله اطاعت نه وتلې دئ] خپل حکم او پر یکړه وکړه او مونږ سره بیل کړه!

[٢٦] او بیا الله وو یل: نو دغه پاکه خاوره (بیت المقدس) نوره پریږدو حرامه ده او دوی به څلویښت کاله پردغه ځمکه سرګردانه او اندیښمن ورک سوي ګرځي را ګرځي، او ته ای موسی! نور پردې فاسق قوم مه خفه کیږه، یعنی دا چې کله دوی د الله اطاعت او فرمان وړو نه وتلي ول، نو بیا دوی ته الله تعالی کلکه سزا ورکړه.

ګرانو دوستانو! د دغې قصې په پای کې الله تعالی موسی علیه السلام ته تسلیت ورکړي دئ چې دئ ده د خپل قوم په دغه سرغړونه چې د الله او پیغمبر نه یې وکړه نه خفه کیږي او پر یهودو باندې ده زړه نه سوزي، ځکه یهودو چې کله د الله حکم نه بغاوت وکه، نو د دغسې کلکې سزا وړ او مستحق وګرځیدل او څلو یښت کاله د اوسني مصر (سینا) په لوی ډاګ کې حیران سوي او سرکردانه ګرځیدل را ګرځیدل، ځکه لار ورځخه ورکه وه، ترڅو چې د یهودو دغه نسل ټول پکې هلاک او مړه سول، او د یوشع بن نون علیه السلام په مشري د یهودو نوی نسل بیا فاتحانه بیت المقدس ته ورننوت، نو دغه تسلیت د حق لارې هر دعوت کونکي لپاره د پام وړ دئ، او دوی ده هیڅ کله هم د خپل قوم پرسرغړونو نه خفه کیږي.

قدرمنو عز یزانو! الله تعالی همدارنګه په دغه قصه کې د یهودو سرغړونه د الله حکم نه چې دوی ته یې په بیت المقدس کې د کافرانو سره په مسلح جهاد امر کړي وه؛ رسوا کړي ده او هغه یې کلکه غندلي ده، او بیا یې دوی ته په دنیا کې د دوی د دې بغاوت او سر غړونې کلکه سزا ورکړي ده، ترڅو هرچاته پند او عبرت ورکړئ او د یهودو غوندې نسي.

{د هابيل وژل قابيل په لاس د ناروا وژنو پيل وه او سزا يې ګالي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د آدم عليه السلام د دوه زامنو هابيل او قابيل قصه ياده کړې ده چې د ناحق قتل لو يه ګناه او کړوونکې سزا پکې ښه روښانه انځور سوې ده او پکې ځليږي، او فرمايلي دي:

﴿*وَٱتۡلُ عَلَيۡهِمۡ نَبَأَ ٱبۡنَيۡ ءَادَمَ بِٱلۡحَقِّ إِذۡ قَرَّبَا قُرۡبَانٗا فَتُقُبِّلَ مِنۡ أَحَدِهِمَا وَلَمۡ يُتَقَبَّلۡ مِنَ ٱلۡأٓخَرِۖ قَالَ لَأَقۡتُلَنَّكَۖ قَالَ إِنَّمَا يَتَقَبَّلُ ٱللَّهُ مِنَ ٱلۡمُتَّقِينَ ٢٧ لَئِنۢ بَسَطتَ إِلَيَّ يَدَكَ لِتَقۡتُلَنِي مَآ أَنَا۠ بِبَاسِطٖ يَدِيَ إِلَيۡكَ لِأَقۡتُلَكَۖ إِنِّيٓ أَخَافُ ٱللَّهَ رَبَّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٢٨ إِنِّيٓ أُرِيدُ أَن تَبُوٓأَ بِإِثۡمِي وَإِثۡمِكَ فَتَكُونَ مِنۡ أَصۡحَٰبِ ٱلنَّارِۚ وَذَٰلِكَ جَزَٰٓؤُاْ ٱلظَّٰلِمِينَ ٢٩ فَطَوَّعَتۡ لَهُۥ نَفۡسُهُۥ قَتۡلَ أَخِيهِ فَقَتَلَهُۥ فَأَصۡبَحَ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ٣٠ فَبَعَثَ ٱللَّهُ غُرَابٗا يَبۡحَثُ فِي ٱلۡأَرۡضِ لِيُرِيَهُۥ كَيۡفَ يُوَٰرِي سَوۡءَةَ أَخِيهِۚ قَالَ يَٰوَيۡلَتَىٰٓ أَعَجَزۡتُ أَنۡ أَكُونَ مِثۡلَ هَٰذَا ٱلۡغُرَابِ فَأُوَٰرِيَ سَوۡءَةَ أَخِيۖ فَأَصۡبَحَ مِنَ ٱلنَّٰدِمِينَ ٣١﴾

[٢٧] اى پيغمبره! او د آدام دوه زامنو(هابيل او قابيل) قصه چې د حق او ر ښتيا قصه ده؛ بني اسرائيلو ته ولوله؛ هو! کله چې دوى دواړو د الله حضور ته قر باني (خيرات) ورلاندې کړه، نو بيا د يوه قر باني [چې هغه هابيل وه] ومنل سوه او د بل قر باني [چې قابيل وه] قبوله نسوه [نو د قابيل په زړه کې د حسد اور لمبه بله سوه] او هابيل ته يې وو يل: زه به تا خاماخا مړ کړم! هابيل ورته وو يل: يقينا چې الله يوازې د متقيانو قر باني قبلوي، يعنى دا ځکه چې دوى د الله نه و ير يږي او د عذاب نه يې په فرمان ورو سره ځان ساتي او قر باني کړي.

[٢٨] [نو بيا هابيل په ځواب کې ورته وو يل:] که چيرې تا ماته لاس را اوږد که، ترڅو ما مړ کړي، نو زه خپل لاس تاته نه دراوږدوم، ترڅو تا مړ کړم، ځکه زه د الله نه چې د ټول عالم پالونکئ خداى دئ؛ و ير يږم، يعنى دا ځکه چې ناروا قتل لو يه ګناه ده او قاتل ته الله کلکه سزا ورکوي!

[٢٩] او زه يقينا غواړم چې ته [اى قابيله!] د زما ګناه او خپله ګناه پشا کړې او الله ته ور وګرځي، نو بيا به د دوزخيانو ملګرو نه وي او دوزخ د ظالمانو تيري کونکو کسانو سزا ده.

[٣٠] نو بيا (قابيل) ته د هغه نفس او هوس د خپل ورور(هابيل) وژل اسانه کړل او هغه يې مړکه، نو دئ د ز يانمنو نه سه، يعنى غټه ګناه يې وکړه، نو بيا قابيل نه پوهيده چې اوس د خپل ورور په مړي څه وکړي؟

[٣١] نو بيا يو کارغه الله را ولېږه چې ځمکه زوروي، ترڅو دا کارغه قابيل ته وروښـــي چې څنګه د خپل ورور مړئ پټ او خښ کړي، نو بيا قابيل وو يل: زما په حال ده آه او افسوس وي چې دومره بې وسې سوم او د دې کارغه غوندې هم نه يم؟ ترڅو د خپل ورور مړئ خښ کړم، نو بيا هغه د پښـــيمانه ســـوو کســـانو نه وه، يعنى د خپل ورور په وژلو کلک پښـــيمانه ســـه او د خپل ورور مړئ يې د کارغه په لاربښـــودنه خښ که، نو هغه ته به الله د ناروا قتل کلکه سزا ورکړي.

قدرمنو دوســتانو! دا د هابيل او قابيل قصــه چې د دوه وروڼو په منځ کې د حســد پيل وه؛ مونږ ته د زدکړې او پند اخســتلو ســبقونو نه ډکه قصــه ده، او پکې الله تعالى د قابيل بې ځايه او ناحقه ســيالي او حســد د خپل ورور هابيل سره؛ غندلئ دئ، ځکه د قر بانۍ او خيرات قبليدل او نه قبليدل په خپله خيرات ورکونکې پورې اړه لري، که د هغه نيت او مقصــد ســم وه او د الله نه و ير يده او متقي وه، نو خيرات يې الله مني او قبلوي يې، خو که داسې نوه او د ر يا او ځان ښــودنې لپاره يې خيرات کړي وه او په زړه کې يې تقوا او د الله و يره او ثواب ته يې اميد نوه، نو الله تعالى چې د پټو زړونو نه خبر دئ او په هرڅه پوهيږي د ر يا کارانو خيرات هيڅکله نه قبلوي، يعنى د دوى خيرات ثواب نه لري.

{ناحقه قتل د ټولو خلکو وژلو او ورانې خورولو حکم لري}

قدرمنو دوســتانو! نو الله تعالى د قابيل د دغــې لوى جنايت د تکرار مخنيوي لپاره او ناحقه قاتل ته يې په دنيا کې د ســزا ورکولو په مقصــد؛

قصاص فرض کړئ دئ، او په ور پسې مبارک آیت کې الله فرمایلي دي:

﴿مِنْ أَجْلِ ذَٰلِكَ كَتَبْنَا عَلَىٰ بَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ أَنَّهُۥ مَن قَتَلَ نَفْسًۢا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِى ٱلْأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ ٱلنَّاسَ جَمِيعًا وَمَنْ أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَآ أَحْيَا ٱلنَّاسَ جَمِيعًا ۚ وَلَقَدْ جَآءَتْهُمْ رُسُلُنَا بِٱلْبَيِّنَٰتِ ثُمَّ إِنَّ كَثِيرًا مِّنْهُم بَعْدَ ذَٰلِكَ فِى ٱلْأَرْضِ لَمُسْرِفُونَ ﴿٣٢﴾﴾

[٣٢] او له همدې کبله [یعنی د ناحقه او ناروا انسان وژلو د مخنیوي لپاره] مونږ بني اسرائیلو ته حکم وکه چې یقینا هر هغه چا چې یو ساه ښکونکئ کس پرته د قصاص نه او پرته لدې چې پر ځمکه یې ورانئ کړئ وي؛ مړکه، نو لکه دا چې هغه ټول خلک وژلي وي، او هرچا چې یو کس را ژوندئ که [یعنی د وژلو نه یې وژغوره] لکه ټول خلک چې یې راژوندي کړي وي، او بني اسرائیلو ته د زمونږ پیغمبران ښکاره معجزو او روښانو دلیلونو سره راغلل [یعنی دغو معجزو د الله تعالی د استازو پیغمبرۍ تصدیق کا وه] خو بیا لدې نه وروسته یقینا ډیر بني اسرائیل پرځمکه تیرئ کونکي سول، یعنی د الله د دین پولي او حدود یې پرځمکه د پښو لاندې کړل او تیرئ یې وکه او د الله تعالی پرحکمونو یې عمل ونکه.

{د الله او پیغمبر سره جګړه مارو مفسدانو سزا رازوندول دي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د لارو شکونکو او د خلکو تښتونکو ډاله مارانو غلو سزا چې وژل او په دار را زوندول دي اعلان کړې ده، او فرمایلي دي:

﴿إِنَّمَا جَزَٰٓؤُا۟ ٱلَّذِينَ يُحَارِبُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَسْعَوْنَ فِى ٱلْأَرْضِ فَسَادًا أَن يُقَتَّلُوٓا۟ أَوْ يُصَلَّبُوٓا۟ أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُم مِّنْ خِلَٰفٍ أَوْ يُنفَوْا۟ مِنَ ٱلْأَرْضِ ۚ ذَٰلِكَ لَهُمْ خِزْىٌ فِى ٱلدُّنْيَا ۖ وَلَهُمْ فِى ٱلْءَاخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿٣٣﴾ إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُوا۟ مِن قَبْلِ أَن تَقْدِرُوا۟ عَلَيْهِمْ ۖ فَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣٤﴾﴾

[٣٣] هو! يقينا هغه کسان چې د الله او د هغه پيغمبر(محمدﷺ) سره جګړه کړي [يعنی د الله او د پيغمبر حکمونو نه سرغړونه کړي او زورواکي چلوي] او پرځمکه د فساد او وراني هلې ځلې کړي [يعنی خلک وژني او مال او دولت يې په زور لوټوي او ورځخه يې اخلي، نو د دغسې لارو شکوونکو غلو سزا] دا ده چې ووژل سي او په دار رازوند سي، او يا يې ښئ لاس او کينه پښه پرې سي او يا بل ځای ته وشړل سي [يعنی تبعيد يا بنديان سي او په زندان کې واچول سي، ترڅو اصلاح سي] او دغه سزا دوی ته په دنيا کې خواري او رسوايي ده او په آخرت کې ورته لوی عذاب تيار سوئ دئ، يعنی ترڅو نورو خلکو ته د عبرت اخستلو بيلګې وګرځي.

[٣٤] خو که د دغو لارو شکوونکو کسانو نه چا مخکې لدې چې تاسې دوی ونيسی [او د عدالت منګلو ته يې وسپاری] تو به وايستله [او پښيمانه سول او ځانونه يې تسليم کړل] نو دوی ده پدې پوه سي چې يقينا الله لوی بښونکئ او ښه مهربان پالونکئ ذات دئ، يعنی دا چې الله تعالی دوی بښي او د حرابې سزا نه خلاصيږي، او دغه د حرابې شرعي حد پردوی نه جاری کيږي، او د دې مسئلې وضاحت علماوو د فقهې په کتابونو کې په تفصيل سره کړئ دئ.

درندو دوستانو! الله تعالی پدې مبارکو آيتونو کې مونږ ته د لارو شکوونکو ډاله مارانو سزا يادە کړې او بيان کړې ده، ځکه دوی د خلکو پر سر او مال باندې تيرئ کړي او امنيت خراپوي او خلک تښتوي او لارې نيسي، او دا سزا د دوی وژل او اعدامول او پر دار رازوندول دي، ترڅو ټول خلک د دغسي مفسدو کسانو د شر نه په امن کې سي او ډاډمن ژوند وکړي، او د الله نه پرته د بل هيڅ چانه ونه و ير يږي!

قدرمنو دوستانو! امنيت او د خلکو سر او مال ساتنه په ټولنه کې د پام وړ ده او هغه پر واکمنانو او حکومت باندې فرض ده، نو ځکه الله تعالی يې د حفاظت لپاره شرعي حدود او سزاګانې روا کړې دي، لکه دغه د ډاله مارانو حرابې حد او د غلو لاس پر يکولو شرعي حد چې په ډير قاطع

ډول په قران کې بيان سوئ دئ او هغه په ټولنه کې د جرمونو د مخنيوي لپاره ښه پر يکنده قاطع نظام او قانون دئ، نو جاري کول يې د ځانګړو شرطونو او حالاتو په نظر کې نيولو سره؛ ډاډ رامنځ ته کوي او د ولسونو پرمخ د ترقۍ او پانګې اچولو ورونه پرانيزي او ټولينز اقتصاد ته ښه وده ورکوي او د فقر او ولږې او بې روزګارۍ مخه نيسي.

{د الله حکمونو تطبيق او د سزا نه ځان ساتل فرض دي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى مومنان د الله حکمونو پلي کولو او د الله په لار کې جهاد کړو ته رابللي دي، او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَٱبۡتَغُوٓاْ إِلَيۡهِ ٱلۡوَسِيلَةَ وَجَٰهِدُواْ فِي سَبِيلِهِۦ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ٣٥ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوۡ أَنَّ لَهُم مَّا فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗا وَمِثۡلَهُۥ مَعَهُۥ لِيَفۡتَدُواْ بِهِۦ مِنۡ عَذَابِ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ مَا تُقُبِّلَ مِنۡهُمۡۖ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ٣٦ يُرِيدُونَ أَن يَخۡرُجُواْ مِنَ ٱلنَّارِ وَمَا هُم بِخَٰرِجِينَ مِنۡهَاۖ وَلَهُمۡ عَذَابٞ مُّقِيمٞ ٣٧﴾

[٣٥] ای مومنانو! تقوا وکړئ [يعنى د الله عذاب نه خپل ځانونه په اطاعت او بنده ګۍ سره؛ کلک وساتئ] او الله ته تقرب او ورلټيدو لپاره وسيله وغواړي [يعنى د الله حکمونه پرځای او تطبيق کړئ] او د الله په لار کې جهاد وکړئ [او په ښو کړنو چې بيلګې يې په ټولنه کې ښې ډيرې دي؛ ځانونه ستړي کړئ] ترڅو بر يالي سئ، يعنى سر لوړي او ښاد سئ او د دنيا او آخرت نيکمرغي مو په برخه سي.

عزتمنو دوستانو! داخبره د پام وړ ده چې دلته ځينې خلک وسيله په واسطه تفسيروي، او بيا وايي چې د الله او بنده په منځ کې د رابطې او اړ يکو جوړولو لپاره واسطه پکار ده او هغه د مشرانو سره بيعت دئ، خو دا تفسير د قرآن کر يم نورو آيتونو سره په تضاد کې دئ، ځکه الله تعالى ته د رسيدلو لنډه لار او وسيله يا واسطه؛ ايمان او ښه عمل دئ او د ښه عمل بيان د اسلام په ارکانو کې په ډيره روښتيا سره سوئ دئ، لکه

څنګه چې الله تعالى فرمايلي دي:"وإذا سألك عبادي عني فإني قريب أجيب دعوة الداع إذا دعان فليستجيبوا لي وليؤمنوا بي " (البقره:٢٨) هو؛ ای پیغمبره! کله چې د زما بنده ګانو ستانه پوښتنه وکړه [چې الله چیرته دئ؟ ترڅو یې د خپل ځان مرستې ته راوغواړو؟ نو په ځواب کې ورته الله فرمايلي دي:] هو! زه لنډیم او د رابلونکي دعاء چې کله ما وغواړي ځوابوم، نو د زما بلنه ده ومني او پر ما باندې ده ایمان راوړي او د زما بنده ده سي، یعنی دا چې ښایي ټول خلک خپل رب االله په توحید او یو والي سره و پیژني او عبادت او بنده ګي یې په اخلاص سره وکړي.

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالى کافران خبر کړي دي چې که دوی خپل ټول مال او دولت د قیامت ورځې سزا نه د خلاصون په مقصد ورکړي؛ هغه نه قبلیږي، او فرمايلي دي:

[٣٦] او یقینا هغه کسان چې کافران سول [یعنی د الله بنده ګی نه په توحید سره او د الله تعالى پر پیغمبر باندې د ایمان راوړو نه منکر سول] نو که بیا دا ټوله دنیا د دوی په لاس کې وي او د هغې غوندې نور دولت هم ورسره وي او هغه ټول د قیامت ورځې عذاب نه د ځانو خلاصون لپاره نذرا نه ورکړي، نو د دوی نه به دا نذرا نه او خیرات قبول نسي او د دوی لپاره د قیامت په ورځ دردونکی عذاب تیار سوئ دئ.

[٣٧] او کافران غواړي چې د دوزخ اور نه را ووځي، خو د هغه نه را وتلای نسي، او دوی ته هلته تل پاتې عذاب دئ، یعنی د دوزخ اور په لمبو کې تل کړ یږي او کلکه سزا ورکول کیږي.

ګرانو ورښو، او خو یندو! نو الله تعالى ده مونږ د دغسې بد حال او د تورې راتلونکې نه په خپل فضل او رحمت سره وساتي او د کلک ایمان او ښه عمل چې د نجات یوازنی لار ده؛ توفیق راکړي او د هر ډول تور مخ نه ده الله مونږ وساتي او نجات ده را کړي.

{د غلو لاسونو پر یکول چې کلکه سزا ده فرض دي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې د نار ینه غله او د ښځې غلې سزا په

دنيا کې الله تعالى بيان کړي ده او بيا يې دوى ته ز يرئ ورکړئ دئ چې که چيرې دوى تو به و باسي، نو تو به يې قبليږي، او فرمايلي دي:

﴿وَٱلسَّارِقُ وَٱلسَّارِقَةُ فَٱقْطَعُوٓاْ أَيْدِيَهُمَا جَزَآءًۢ بِمَا كَسَبَا نَكَٰلًا مِّنَ ٱللَّهِ ۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٣٨﴾ فَمَن تَابَ مِنۢ بَعْدِ ظُلْمِهِۦ وَأَصْلَحَ فَإِنَّ ٱللَّهَ يَتُوبُ عَلَيْهِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣٩﴾ أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ ٱللَّهَ لَهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ يُعَذِّبُ مَن يَشَآءُ وَيَغْفِرُ لِمَن يَشَآءُ ۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿٤٠﴾﴾

[٣٨] ای مومنانو! د غله او غلې دواړو لاسونه پر يکړئ او دا دوى ته د الله لخوا د غلا کړو سزا ده [يعنى دا ځکه چې دوى لو يه ګناه کړې ده او پردئ مال او دولت يې غلا کړي دئ] او دغسې سزا الله غلو ته ځکه ورکوي چې ترڅو هغه نورو خلکو ته پند او زدکړه وګرځي [يعنى بيا نور ځوک غلا ته زړه نه سه نکړي] او الله ښه ځواکمن او د لوى حکمت او د ښه تدبير پالونکئ څښتن دئ، يعنى خپل حکم په پوره قوت او په لوى حکمت سره چلوي او ټولې لپاره پکې خير او ښادي ده.

[٣٩] او هرچا چې د خپل ظلم او د بدو کړنو نه وروسته بيا تو به وايستله او اصلاح سه [يعنى پر سمه لار روان سه او د غلا نه يې لاس واخست] نو يقينا چې الله د هغه تو به مني، ځکه الله په پوره يقين سره لوى بښونکئ او ښه مهر بان ذات دئ، يعنى د خپلو بنده ګانو تو به قبلوي او ګناه يې بښي.

[٤٠] ای پيغمبره! او آيا ته نه پوهيږې چې د ځمکې او اسمانو واکمني يقينا الله لره ده [يعنى الله پکې ټولواک او بې سياله حاکم دئ] نو الله چې چاته وغواړي سزا ورکوي او چاته چې وغواړي هغه بښي، ځکه الله هرڅه کړای سي او لوى ځواکمن ذات دئ، يعنى د الله سزا نه هيڅ ځوک ځان خلاصولای نسي.

ګرانو مومنانو! دا دئ د زمونږ پالونکئ رب او لوى څښتن چې دا ټوله

نړۍ پې پیدا کړې ده او هغه پې د واک لاندې ده او هیڅ څوک د الله واک او قدرت نه د تیښتې لار نه لري، نو د الله تعالی قدرتي حکمونه او فرمانونه پرتولو خلکو نافذ دي او چلیږي، نو ښایي چې د خپل رب فرمان ته په پوره اخلاص سره غاړه کیږدو او حکمونه پې ومنو او هیڅکله ورڅخه د سرغړونې فکر ونکړو، او د الله تعالی شرعي حدود او نظام پرخپلو ځانو پلئ او عملي کړو، ترڅو په دنیا او په آخرت کې نیکمرغه او سر لوړې سو او په ډاډمن امنیت کې ژوند وکړو.

{مومنان ده د کافرانو او منافقانو پر دښمنۍ نه غمجن کیږي}

او په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی رسول اللهﷺ ته او ورسره مومنانو ته د کافرانو او منافقانو د دښمنۍ نه ډاډ او کلک اطمئنان ورکړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿۞ يَٰٓأَيُّهَا ٱلرَّسُولُ لَا يَحۡزُنكَ ٱلَّذِينَ يُسَٰرِعُونَ فِي ٱلۡكُفۡرِ مِنَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ ءَامَنَّا بِأَفۡوَٰهِهِمۡ وَلَمۡ تُؤۡمِن قُلُوبُهُمۡۛ وَمِنَ ٱلَّذِينَ هَادُواْۛ سَمَّٰعُونَ لِلۡكَذِبِ سَمَّٰعُونَ لِقَوۡمٍ ءَاخَرِينَ لَمۡ يَأۡتُوكَۖ يُحَرِّفُونَ ٱلۡكَلِمَ مِنۢ بَعۡدِ مَوَاضِعِهِۦۖ يَقُولُونَ إِنۡ أُوتِيتُمۡ هَٰذَا فَخُذُوهُ وَإِن لَّمۡ تُؤۡتَوۡهُ فَٱحۡذَرُواْۚ وَمَن يُرِدِ ٱللَّهُ فِتۡنَتَهُۥ فَلَن تَمۡلِكَ لَهُۥ مِنَ ٱللَّهِ شَيۡـٔٗاۚ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَمۡ يُرِدِ ٱللَّهُ أَن يُطَهِّرَ قُلُوبَهُمۡۚ لَهُمۡ فِي ٱلدُّنۡيَا خِزۡيٞۖ وَلَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ٤١﴾

[٤١] ای پیغمبره! هغه کسان چې په کفر کې یو بل سره په منډو دي او د ستا پیغمبرۍ نه په منکر یدو کې هلې ځلې کړي؛ د دوی دا منډې تا خفه نکړي او ته مه غمجن کیږه، ځکه دوی هغه کسان دي چې په خولو یې وو یل: مونږ ایمان راوړئ دئ، خو زړونو یې ایمان ندئ راوړئ [یعنی دوی منافقان دي او د ستا پر پیغمبرۍ باندې په زړونو کې باور نه لري او هغه نه مني، او ای پیغمبره! د ستا پیغمبرۍ نه منکر کسان نور] هغه

کسان دي چې يهودان سول او دروغو ته کلک غوږ باسي [يعنی د يهودو مذهبي مشران] هغې ډلې خبرو ته غوږ باسي چې دوی لا تر اوسه د ستا مجلس ته ندي راغلي [او دغه د يهودو مشران] د الله خبرې په تورات کې د خپلو ځايو نه بدلوي او بيا خلکو ته وايي: که تاسي ته [محمدﷺ] دغه خبرې چې هغه مونږ درته لولو راوړي، نو هغه واخلئ او و يمنئ، خو که دغسي خبرې يې تاسې ته را نوړي، نو بيا پام کړئ [يعنی د هغه نه ځان وساتئ او خبرې يې مه منئ! او ای پيغمبره! پدې هم پوه سه چې که الله د چا ازمايلو او بې لارې کولو] اراده او پر يکړه وکړي، نو بيا ته د هغه نه د الله ارادې نافذيدو مخه نيولای نسې، او دا منافقان او يهود چې د ستا پيغمبري نه مني؛ دوی هغه کسان دي چې الله د دوی زړونو ته د کفر نه د پاکئ قصد او اراده نده کړې، او د دوی ته په دنيا کې رسوايي او په آخرت کې لوی عذاب تيار سوئ دئ، يعنی نو هلته پکې تل پاتې کړ يږي.

ګرانو دوستانو! دا مبارك آيت د الله تعالی لخوا اسلام ته رابلونکي مبلغ او دعوتګر ته د تسليت او ډاډ تل پاتې پيغام دئ، ځکه ده تل د الله دين ته په دعوت کړو سره د الله تعالی په لار کې جهاد او مبارزه کړي او ښه کلک پکې ستړئ دئ، خو خبره يې څوک نه مني، بلکې ورسره دښمني او مخالفت کړي، نو دئ ده د دغسې کينه کښو دښمنانو پروا نکړي او خپل دعوت ده په مخ وړي او دغسې کسانو سره چلند ده؛ الله ته وسپاري، ځکه الله تعالی دوی ته په دنيا او آخرت کې کلکه سزا ورکوي.

{دروغ ويل او حرام خوړل د يهودو تل پاتې خوی دئ }

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی د يهودو خو يونه مونږ ته ښه روښانه بيان کړي دي، او بيا يې رسول اللهﷺ ته د دوی په منځ کې د حکم کړو لپاره ډيرې ارزښتناکه لارښودنې کړې دي، او فرمايلي دي:

﴿سَمَّٰعُونَ لِلۡكَذِبِ أَكَّٰلُونَ لِلسُّحۡتِۚ فَإِن جَآءُوكَ فَٱحۡكُم بَيۡنَهُمۡ أَوۡ أَعۡرِضۡ عَنۡهُمۡۖ وَإِن تُعۡرِضۡ عَنۡهُمۡ فَلَن يَضُرُّوكَ شَيۡـٔٗاۖ وَإِنۡ حَكَمۡتَ فَٱحۡكُم بَيۡنَهُم بِٱلۡقِسۡطِۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُقۡسِطِينَ ٤٢﴾

وَكَيْفَ يُحَكِّمُونَكَ وَعِندَهُمُ ٱلتَّوْرَىٰةُ فِيهَا حُكْمُ ٱللَّهِ ثُمَّ يَتَوَلَّوْنَ مِنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ ۚ وَمَآ أُو۟لَٰٓئِكَ بِٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٤٣﴾

[٤٢] هو! دغه يهودان تل دروغ اوري او ورته کلک غوږ باسي او دوی د حرامو خوړونکي دي، نو که دوی تاته ای پیغمبره! راغلل او په خپل منځي شخړو او دعواګانو کې یې د ستا حکم او پر یکړه غوښتله [نو د ستا خوښه] یا د دوی په منځ کې حکم وکړه او یا د دوی نه مخ واړوه [او روغه جوړه یې مکړه] خو که مخ ده ورڅخه واړا وه او فیصله ده ورته ونکړه، نو تاته دوی هیڅ ز یان رسولای نسي [یعنی نو پروایې مکړه] او که د دغو یهودو په منځ کې تا حکم او فیصله وکړه، نو بیا پر عدالت او انصاف سره د دوی په منځ کې حکم وکړه، او یقینا چې عدالت چلونکي پر الله ګران دي، یعنی عدالت چلونکي واکمنان الله تعالی خوښوي، ځکه عدالت د الله حکم دئ.

[٤٣] ای پیغمبره! او څنګه یهود خپل منځ کې تا قاضي ګرځوي [یعنی د ستا حکم او پر یکړه غواړي] حال دا چې د دوی سره تورات سته او په هغه کې د الله حکم بیان سوئ دئ [یعنی حال دا چې یهود پرتورات ایمان لري، خو پرتا ایمان نه لري! نو یقینا چې د یهودو دغسې دوه مخې چلند حیرانونکئ دئ؟ او بیا چې کله ته د دوی په منځ کې حکم وکړې، خو که چیرې هغه د دوی خوښ نسي] نو بیا بیرته ورڅخه ګرځي او شا وراړوي، ځکه یهود په ر یښتیا سره مومنان ندي، یعنی یهود نه پرالله ایمان لري او نه یې د الله تعالی پرکتابونو او پیغمبرانو باندې د زړه نه په ر یښتا او خلاص سره ایمان را وړئ دئ!

{تورات د الله پیغام دئ او پر آیتونو یې حکم نکړل کفر دئ}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د یهودو په منځ کې د تورات ساتل سوو آیتونو حکمونو پرجاري کول؛ کلک ټینګار کړئ دئ، او په بیان

کې فرمايلي دي:

﴿إِنَّآ أَنزَلۡنَا ٱلتَّوۡرَىٰةَ فِيهَا هُدٗى وَنُورٞۚ يَحۡكُمُ بِهَا ٱلنَّبِيُّونَ ٱلَّذِينَ أَسۡلَمُواْ لِلَّذِينَ هَادُواْ وَٱلرَّبَّٰنِيُّونَ وَٱلۡأَحۡبَارُ بِمَا ٱسۡتُحۡفِظُواْ مِن كِتَٰبِ ٱللَّهِ وَكَانُواْ عَلَيۡهِ شُهَدَآءَۚ فَلَا تَخۡشَوُاْ ٱلنَّاسَ وَٱخۡشَوۡنِ وَلَا تَشۡتَرُواْ بِـَٔايَٰتِي ثَمَنٗا قَلِيلٗاۚ وَمَن لَّمۡ يَحۡكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡكَٰفِرُونَ ٤٤ وَكَتَبۡنَا عَلَيۡهِمۡ فِيهَآ أَنَّ ٱلنَّفۡسَ بِٱلنَّفۡسِ وَٱلۡعَيۡنَ بِٱلۡعَيۡنِ وَٱلۡأَنفَ بِٱلۡأَنفِ وَٱلۡأُذُنَ بِٱلۡأُذُنِ وَٱلسِّنَّ بِٱلسِّنِّ وَٱلۡجُرُوحَ قِصَاصٞۚ فَمَن تَصَدَّقَ بِهِۦ فَهُوَ كَفَّارَةٞ لَّهُۥۚ وَمَن لَّمۡ يَحۡكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ٤٥﴾

[٤٤] هو! يقينا چې تورات مونږ را نازل کړئ دئ او په هغه کې لارښودنې او رڼا ده، او د بني اسرائيلو هغه پيغمبران چې د الله حکمونو ته تسليم دي؛ دوی د تورات پر آيتونو باندې يهودو ته حکم کړي او د الله کتاب (تورات) ر ښتيني پوهان يا احبار [چې د خلکو ښه روزنه کړي او دين ژوندئ ساتي] دوی هم پر تورات حکم کړي، ځکه د دې کتاب (تورات) ساتنه د دوی سره امانت ده [او عمل کړل ور باندې پر دوی فرض دئ] او هم دغه د يهودو مذهبي مشران پدې شاهدان دي چې پيغمبرانو يې پرتورات حکمونه کړل [نو ای د يهودو پوهانو او قاضيانو!] د خلکو نه مه و ير يږئ؛ يوازې د زما نه وو ير يږئ، او د زما کتاب آيتونه په لږ بيعه مه خرڅوئ، او هرهغه څوک چې د الله نه پر را نازل سوي کتاب (تورات) حکم نکړي، نو دوی کافران دي، يعنی د الله حکم يې پټ کړئ دئ، نو د آخرت په ورځ د دوی نه کلکه پوښتنه کيږي او سزا ورکول کيږي، ځکه دوی د الله کتاب تورات باندې حکم ندئ کړئ.

او په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالی د قصاص حکم چې په تورات کې فرض سوئ دئ؛ بيان کړئ دئ، او فرمايلي دي:

[٤٥] او په تورات کې پر يهودو باندې مونږ دا فرض کړه چې يقينا د

هرساه ښکونکي قاتل وژل کيږي، او سترکه پرسترکه و يستل کيږي او پوزه پر پوزې پر يکيږي او غوږ پرغوږ غوڅيږي او غاښ پرغاښ و يستل کيږي، او د زخمونو يا پرهارونو قصاص اخستل کيږي، نو بيا چې هرڅوک خپل حق خيرات کړي او قصاص وانخلي، نو هغه يې د ګناه کفاره ده [يعنی ګناه يې تو يوي] او هرهغه څوک چې د الله نه په را نازل سوی کتاب (تورات) حکم ونکړي، نو دوی ظالمان دي، يعنی د الله پر شر يعت يې تيرئ کړئ دئ او د هغه حدود يې د پښو لاندې کړي دي.

درندو دوستانو! دغه الهي حکمونه چې په تورات کې الله تعالی را نازل کړي دي او په عملي کولو باندې يې د يهودو مشران او پوهان مکلف ول، نو همداسې دغه شرعي حکمونه او د نورو جرمونو او جنايتونو د قصاص حکم هم الله تعالی په قرآن کې را نازل کړئ دئ او پکې د تورات تاييد سوئ دئ او الله تعالی فرمايلي دي: (يا أيها الذين آمنوا كتب عليكم القصاص في القتلى...الاية البقرة: ١٧٨) ای مومنانو! د قصاص جاري کول پر مومنانو باندې فرض دي، نو هرڅوک چې ورڅخه منکر سي او دا شرعي حکمونه جاري نکړي، نو هغه د کافرانو نه دئ، او پرخپل ځان يې ظلم او تيرئ کړئ دئ، ځکه د الله حکم يې ندئ جاري کړئ.

{په عيسی عليه السلام را نازل سوي کتاب د تورات تصديق کاوه}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی پرعيسی عليه السلام باندې د انجيل د را نازليدو يادونه کړې ده، او فرمايلي دي:

﴿وَقَفَّيْنَا عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِم بِعِيسَى ٱبْنِ مَرْيَمَ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ ٱلتَّوْرَىٰةِ ۖ وَءَاتَيْنَٰهُ ٱلْإِنجِيلَ فِيهِ هُدًى وَنُورٌ وَمُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ ٱلتَّوْرَىٰةِ وَهُدًى وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِينَ ﴿٤٦﴾ وَلْيَحْكُمْ أَهْلُ ٱلْإِنجِيلِ بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فِيهِ ۚ وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْفَٰسِقُونَ ﴿٤٧﴾﴾

[٤٦] او د بني اسرائيلو پيغمبرانو پسې وروسته عيسی بن مر يم مونږ را وليږه او عيسی د هغه نه مخکې [کتاب] تورات تصديق کونکئ وه، او

عیسی ته مونږ انجیل ورکه [یعنی انجیل مونږ پرعیسی باندې را نازل که] او په انجیل کې لارښـــودنې او رښا وه او هغه د وړلانـدې (کتـاب) تورات تصـــدیق کونکئ وه، او انجیل لارښـــود وه او متقیانو ته د الله عذاب نه ګوښونکې وه، یعنی ترڅو دوی د الله تعالی پرحکمونو عمل وکړي او د سزا نه یې خپل ځانونه کلک وساتي.

[٤٧] او ترڅو د انجیل خاوندان [چې ځانونه نصـــارا بولي] د الله نه رانازل ســوي کتاب (انجیل) پر حکمونو باندې پر یکړې او فیصلې وکړي، او هرهغه څوک چې پرهغه کتاب چې الله را نازل که؛ حکم نکړي، نو دوی فاسقان دي، یعنی د الله حکم نه وتلي دي او سرغړونه یې کړې ده.

ګرانو دوســـتانو! په دغو مبارکو آیتونو کې کفر او ظلم کله پرخپله حقیقي معنا دئ، او کله هم په مجازي معنا، او هغه دا چې که حاکم د شرعي حکمونو نه منکر وه، نو کافر او ظالم دئ، او که منکر نوه، خو په شرعي حکمونو باندې یې عمل نکا وه، نو بیا ګناه ګار او فاسق دئ، خو د اسلام نه ندئ وتلئ.

{قرآن چې پر محمدﷺ رانازل سوئ پخوانې کتابونه مني}

او په ور پســې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د قرآن کر یم نزول پر حقانیت او ر یښتینوالی باندې ټینګار کړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿وَأَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ مُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَمُهَيۡمِنًا عَلَيۡهِۖ فَٱحۡكُم بَيۡنَهُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُۖ وَلَا تَتَّبِعۡ أَهۡوَآءَهُمۡ عَمَّا جَآءَكَ مِنَ ٱلۡحَقِّۚ لِكُلّٖ جَعَلۡنَا مِنكُمۡ شِرۡعَةٗ وَمِنۡهَاجٗاۚ وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ لَجَعَلَكُمۡ أُمَّةٗ وَٰحِدَةٗ وَلَٰكِن لِّيَبۡلُوَكُمۡ فِي مَآ ءَاتَىٰكُمۡۖ فَٱسۡتَبِقُواْ ٱلۡخَيۡرَٰتِۚ إِلَى ٱللَّهِ مَرۡجِعُكُمۡ جَمِيعٗا فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ فِيهِ تَخۡتَلِفُونَ ٤٨ وَأَنِ ٱحۡكُم بَيۡنَهُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ وَلَا تَتَّبِعۡ أَهۡوَآءَهُمۡ وَٱحۡذَرۡهُمۡ أَن يَفۡتِنُوكَ عَنۢ بَعۡضِ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ إِلَيۡكَۖ فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَٱعۡلَمۡ أَنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ أَن يُصِيبَهُم بِبَعۡضِ ذُنُوبِهِمۡۗ وَإِنَّ كَثِيرٗا

مِّنَ ٱلنَّاسِ لَفَٰسِقُونَ ﴿٤٩﴾ أَفَحُكْمَ ٱلْجَٰهِلِيَّةِ يَبْغُونَ ۚ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ ٱللَّهِ حُكْمًا لِّقَوْمٍ يُوقِنُونَ ﴿٥٠﴾

[٤٨] ای پیغمبره! او دا کتاب (قرآن) چې هغه تاته مونږ پرحق او ر یښتیا سره را کوز که؛ هغه مخکیني کتابونه [لکه تورات او انجیل] مني او تصدیق یې کړي [یعنی دا څکه چې دغه کتابونه ټول الله رانازل کړي دي، نو هغه ټول اسماني کتابونه دي] او قرآن پر پخوانیو کتابونو باندې څارونکئ واکمن کتاب دئ [یعنی دا چې قرآن د پخوانیو کتابونو ساتل سوي حکمونه مني او بدل سوي حکمونه یې رسوا کوي] نو ته ای پیغمبره! د هغو یهودو په منځ کې [چې د ستا حکم غواړي] په هغه کتاب حکم وکړه چې هغه الله پرتا باندې رانازل کړئ دئ، او دغه تاته راغلئ حق د یهودو خوښولو لپاره مه پر یږده او یهودو پسې مځه [څکه ځینې یهود غواړي تا د هغه حق نه چې په قرآن کې درته راغلئ دئ؛ بلې خوا ته واړوي] او ای د پیغمبرانو امتونو! د ستاسې هر امت ته مونږ ځانکړئ شر یعت او روښانه تګ لاره غوره کړې او ښودلې ده [یعني د هرچا خپل دین او خپل شر یعت دئ] خو که الله غوښتي وای، نو تاسې به یې ټول یو امت ګرځولي وی، نو الله غواړي چې تاسې پرهغو شر یعتونو او حکمونو باندې وازما یي چې هغه تاسې ته راغلي دي، ترڅو ښه روښانه او معلومه سي چې څوک حق مني او څوک یې نه مني؟ نو ای مومنانو! په څه کې چې د ستاسې ګټه او خیر دئ؛ هغه ومنئ او یو د بل سره په سیالئ او منډو سره ورودانګئ [او دغه ګټه لاس ته راوړئ] او تاسې ټول الله ته ورګرځیدونکې یاستئ، نو بیا به الله تاسې د هغه څه نه خبر کړي چې تاسې پکې یو بل سره اختلاف درلود، یعنی بیا به هرچا ته الله د خپل عمل لائق ثواب او سزا ورکړي.

قدرمنو عز یزانو! او په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی په ټینګار سره رسول الله ﷺ د یهودو توطئیو او چلونو نه ګواښلئ دئ او ورته یې حکم کړئ دئ چې د یهودو په منځ کې پرقران حکم وکړي، او فرمایلي دي:

[٤٩] ای پیغمبره! او د یهودو په منځ کې پرهغو لارښودنو حکم وکړه

چې هغه الله رانازلې کړې او رالیږلې دې، او د یهودو خوښـیو او هوسـونو پسې مځه [یعنی غوښتنې یې مه منه] او ای پیغمبره! پام کړه چې یهود تا د الله نه در باندې رانازل سـوو ځینو حکمونو نه بل لور ته وانه ړوي [یعنی د الله تعالی حکم چلولو په لار کې خنډ نسي] نو که یهود بیا په شا واوښتل [یعنی د سـتا حکم یې ای پیغمبره! ونه مانه] نو بیا ته پوه سـه چې الله غواړي یهودو ته د دوی د ځینې ګناه ګانو سـزا ورکړي، او یقینا چې ډیر خلک د الله اطاعت نه وتلي فاسـقان دي، یعنی د الله حکمونو ته ندي تسلیم سوي او هغه نه مني.

او بیا په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی د اسـلام نه مخکې کافرانو دودیزو حکمونو چلول غندلي دي او هغه یې کلک رد کړي دي، ځکه هغه د اسلام سره مخالف دي، او په بیان کې فرمایلي دي:

[٥٠] او آیا دغه یهود غواړي چې د جاهلیت حکمونه پردوی جاري سـي؟ [یعنی ای پیغمبره! یهود د سـتا نه غواړي چې د دوی په منځ کې د مشرکانو پر دودیزو پر یکړو باندې حکم وکړې؟ نو دغسې غوښتنې د حق نه ډیرې لرې دي!] او څوک د الله حکم نه ښه او غوره حکم کړي؟ ځواب دا چې: د الله حکم نه د بل هیڅ چا حکم هغو متقیانو ته چې د الله سـزا نه ځانونه سـاتي؛ ښه حکم ندئ، نو ښایي چې یوازې د الله حکم جاري سي او د مومنانو په منځ کې وچلیږي.

ګرانو عز یزانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې خپل پیغمبر محمدﷺ د یهودو خوښیو او هوسونو منلو نه کلک ګواښلئ دئ، ځکه دوی غوښتل رسـول اللهﷺ د دوی په منځ کې د الله تعالی رانازل سـوي کتاب (قرآن) حکمونو نه پرته د مشرکانو د دودونو سره سم حکم وکړي، او بیا ور پسې الله تعالی د هغه نه رانازل سـوو قرآني حکومونو سـتاینه کړي ده او هغه یې د عدالت سمبول او بیلګه بللې ده، چې د بشر وضعي قانون هیڅ کله ورسره نه برابر یږي، نو د نظام او قانون جوړوونکو ته په اسـلامي هیوادونو کې ښایي چې په اسـلامي فقه او قانون کې ژوره پوهه ولري، ترڅو د اوسـني عصـر ټولنو لپاره د اسـلامي شـر یعت کلیاتو او

اصولو سره موافق قوانين جوړ کړي، او ټول هغه قوانين چې د اسلامي فقهې بنسټونو سره په مخالفت کې دي؛ هغه باطل او بې اعتباره اعلان کړي.

ګرانو دوستانو! د الله تعالى د دغو ګواښونو او باخبرتيا حکم رسول الله ﷺ ته او بيا همداسې د اسلام ټولو واکمنانو او فقهاوو او پوهانو ته متوجه دئ، ترڅو دوی هيڅ کله د کافرانو او د هغوی تبليغاتو په لومو کې ونښلي او د الله تعالى د دين قاطع حکمونه او حدود د پښو لاندې نکړي، او پرځاى يې هغه وضعي قوانين چې د اسلامي شريعت سره ښکاره مخالف وي؛ جاري نکړي، خو که چيرې د اسلامي فقهې د پخوانيو مجتهدينو ځينې اجتهادي حکمونه او فتاوا وې چې هغه په قرآن او د رسول الله ﷺ په سنتو کې قاطع او ښکاره دليل نه لري او د اوسني عصر شرايطو سره اړخ نه لګوي، نو ښايي چې د اوسني عصر علماء او فقهاء هغه ښې تنظيم کړي، بلکې د ځينو قوانينو نوې ليکنه او تنظيمول؛ يو ضروري او اړين کار دئ، ځکه د هرهيواد او د هرعصر خپلې اړتيا وې او ځانګړتياوې دي چې ورسره سم اجتهادي حکمونه او فتاوا وې هم بدليږي، ترڅو د اوسني ژوند او زماني پوښتنو او غوښتنو ته ښه مناسب او لائق ځواب و يونکې وي، او په ټولنه کې خير خوندي کړي او د شر نه يې وساتي.

{ يهودو او نصاراوو سره مينه او ملتيا پر مومنانو حرامه ده }

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى مومنان د يهودو او نصاروو سره د دوستۍ او ملتيانه په کلکه سره منع کړي دي، او فرمايلي دي:

﴿* يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُواْ ٱلۡيَهُودَ وَٱلنَّصَٰرَىٰٓ أَوۡلِيَآءَۘ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٖۚ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمۡ فَإِنَّهُۥ مِنۡهُمۡۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ٥١ فَتَرَى ٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٞ يُسَٰرِعُونَ فِيهِمۡ يَقُولُونَ نَخۡشَىٰٓ أَن تُصِيبَنَا دَآئِرَةٞۚ فَعَسَى ٱللَّهُ أَن يَأۡتِيَ بِٱلۡفَتۡحِ أَوۡ أَمۡرٖ مِّنۡ عِندِهِۦ فَيُصۡبِحُواْ عَلَىٰ مَآ أَسَرُّواْ فِيٓ أَنفُسِهِمۡ نَٰدِمِينَ ٥٢ وَيَقُولُ

ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَهَٰٓؤُلَآءِ ٱلَّذِينَ أَقۡسَمُواْ بِٱللَّهِ جَهۡدَ أَيۡمَٰنِهِمۡ إِنَّهُمۡ لَمَعَكُمۡۚ حَبِطَتۡ أَعۡمَٰلُهُمۡ فَأَصۡبَحُواْ خَٰسِرِينَ ٥٣

[٥١] ای هغو کسانو چې تاسې ایمان راوړئ دئ! یهود او نصارا خپل دوستان او ملګري مه نیسئ، ځکه دوی د یو بل دوستان او ملګري دي [یعنی هغوی هیڅ کله هم د مومنانو ر یښتیني دوستان او ملګري نکیږي] او هرڅوک چې د ستاسې نه ای مومنانو! د دوی سره دوستي او ملګرتیا وکړي، نو هغه د یهودو او نصاراوو د ډلې نه دئ، او یقینا چې د ظالمانو ډله او قوم الله پرسمه لار نه بیایي، یعنی د هدایت توفیق نه ورکوي، ځکه دوی د الله پرحکمونو باندې تیرئ کړئ دئ او هغه یې پټ کړي دي، نو کافران دي، یعنی ښایي چې مومنان هیڅکله د دوی ملتیا ونکړي او د خپل دین پرسر ورسره معامله ونکړي، خو یقینا هغو کافرانو سره چې د مومنانو سره په صلح کې ژوند کړي او ورسره په جګړه کې ښکیل ندي؛ هغوی سره دنیایي اړ یکې او چلند په راکړه ورکړه او معامله کې؛ روا دئ ، لکه څنګه چې الله تعالی فرمایلي دي: (لاینهاکم الله عن الذین لم یقاتلوکم فی الدین ولم یخرجوکم من دیارکم أن تبروهم وتقسطوا إلیهم إن الله یحب المقسطین.. الأیة ٨ سورة المتحنة) معنا: ای مومنانو! تاسې الله د هغو کسانو سره د ښو کړنو نه او ورسره په انصاف سره چلیدو نه نه منعې کوي، ځکه دوی ستاسې سره په دین کې جګړه نده کړې او نه یې تاسې د خپلو کلیو نه شړلي او و یستلي یاستئ، او یقینا چې عدالت چلونکي پرالله ګران دي او دوی د الله خوښیږي.

[٥٢] نو آیا ته ای پیغمبره! هغه کسان چې په زړو کې یې د نفاق ناروغي ده و یې [چې د یهودو او نصاراوو سره د ملګرتیا او دوستي لپاره] یو بل سره په منډو او سیالۍ کې دي؟ او وایي: مونږ و یر یږو که د یهودو او نصاراوو ملګرتیا ونکړو [نو بیا چې کله دوی پرمونږ باندې واکمنان سي] نو دوی به مونږ ته ز یان او تاوان ورسوي [نو الله تعالی دغو منافقانو ته په ځواب کې وایي:] کیدای سي چې الله فتحه او بر یا راولي [یعنی الله تعالی

به مومنان پرخپلو دښمنانو باندې چې کافران دې زورور کړي] او یا به الله د خپل پلو نه بل څه راوړي [یعنی د یهودو ځواکمني به ختمه کړي او کافران به مومنانو ته تسلیم سي] نو بیا به منافقان د یهودو سره پرخپله پټه دوستۍ باندې پښیمانئ کړي.

[٥٢] او مومنان به یو بل ته وایي: آیا دا هغه کسان نه ول چې پرالله پې کلک قسمونه خوړل او لوړې پې کړی چې دوی د ستاسې سره دي؟ [یعنی د مومنانو ملګري دي؟ خو حقیقت او ر یښتیا داسې نه وه، هغوی د کافرانو ملګري ول، نو ځکه چاچې د کافرانو سره په پټه ملتیا او دوستي کړه] د دوی ښې کړنې له منځه لاړې او ضائع سوې، نو دوی په دنیا او په آخرت کې ز یانمن سول، یعنی دنیا او آخرت پې دواړه بایلودل.

قدرمنو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې خپل مومن بنده ګان د کافرانو سره چې مشرکان، یهود او نصارا دي؛ د دوستي او ملګرتیا نه کلک ګواښلي او منعې کړي دي، او بیا پې په ټولنه کې منافقان رسوا کړي دي، ځکه دوی په ښکاره ځانو ته مسلمانان وایي، خو په پټه کې د مشرکانو، یهودو او نصاراوو سره دوستي کړي؛ بې خبره لدې چې کیدای سي الله تعالی حالات بدل کړي او مومنانو ته فتحه او بر یا ورکړي او بیابه د دغو منافقانو ټولې ښې کړنې ضائع سي او دوی به رسوا او مختورن سي.

هو؛ عزتمنو دوستانو! دا مبارك آیتونه که څه هم په مدینه منوره کې رانازل سوي دي او منافقان پې چې دوی په ښکاره ځانونه مومنان بلل؛ د مدینې میشتو یهودو سره د ملتیا او دوستۍ نه کلک ګواښلي دي، خو د دې مبارکو آیتونو لارښودنو حکم مومنانو ته تل پاتې حکم دئ، نو مومنانو ته ښایي چې تل و یښ وي او خپل دښمنان ښه و پېژني او هیڅ کله هغوی سره د زړه نه ملتیا ونکړي، او یوازې د ژوند اړ ینو اړتیاوو او ضرورتونو لاس ته راوړو لپاره ورسره داسې ګډې راکړې ورکړې ولري چې پکې د مومنانو دیني ځانګړتیاوې ساتل سوې پاتې سي، او دوی د کافرانو په ټولینز کلتور او دودونو کې ولې سوي هضم نسي، او خپل ځانګړئ

اسلامي هو يت د لاسه ورنکړي.

{هرڅوک چې مرتد سي ځای ناستئ يې الله تکړه مومن ګرځوي}

او په ور پســي مبارکو آيتونو کې الله تعالی مومنانو تـه ډاډ او پوره اطمئنان ورکړی دئ چې هيڅکله ده د هغو کسانو پروا نکړي چې دوی خپل دين پر يږدي او مرتد کيږي او د اســلام نه بيرته کفر تـه اوړي، او فرمايلي دي.

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَن يَرۡتَدَّ مِنكُمۡ عَن دِينِهِۦ فَسَوۡفَ يَأۡتِي ٱللَّهُ بِقَوۡمٖ يُحِبُّهُمۡ وَيُحِبُّونَهُۥٓ أَذِلَّةٍ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ يُجَٰهِدُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلَا يَخَافُونَ لَوۡمَةَ لَآئِمٖۚ ذَٰلِكَ فَضۡلُ ٱللَّهِ يُؤۡتِيهِ مَن يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ٥٤ إِنَّمَا وَلِيُّكُمُ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱلَّذِينَ يُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَهُمۡ رَٰكِعُونَ ٥٥ وَمَن يَتَوَلَّ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ فَإِنَّ حِزۡبَ ٱللَّهِ هُمُ ٱلۡغَٰلِبُونَ ٥٦﴾

[٥٤] ای مومنانو! تاسي چې [پرالله، قرآن او پيغمبرﷺ باندې] ايمان راوړئ دئ [پدې پوه سی] هرڅوک چې د ستاسي نه د خپل دين نه بيرته واوړي او مرتد سي [پروايې مکړی] ځکه الله به د دوی پرځای بله داسي ډله راولي چې پرالله به ګران وي او الله به پردوی ګران وي، او دغه نوې ډله به مومنانو سره په خپل چلند کې تواضع کړي او د دوی سره به مينه لري، خو د کافرانو پر وړاندې به عزت النفس او ايماني لوړتيا لري او پروا بې نکړي، او دغه نوې ډله مومنان به د الله په لار کې جهاد کړي او د هيڅ ملامت کونکي ملامتی نه به نه و ير يږي [يعنی د خلکو و يناوو پروا به نکړي] او دا د الله ورکړه او فضل دئ چې چاته وغواړي هغه ته يې ورکوي او الله د لو يو ورکړو ځښتن او ښه پوه پالونکئ ذات دئ، يعنی خپل مخلص بنده ګان ښه پالي.

[٥٥] ای مومنانو! او يقينا چې د ستاسي مل، مولا او دوست، يوازې الله او د هغه پيغمبر(محمدﷺ) دئ او بيا هغه کسان د ستاسي ملګري

او دوستان دي چې ايمان يې راوړ او خپل لمنځونه کړي [يعنى پنځه وخته لمنځونه په خپل وخت کې په جماعت سره دروي] او زکات ورکوي او الله ته دوى تل په رکوع ولاړ دي زاري کړي.

[٥٦] او هرڅوک چې د الله سره او د الله پيغمبر او مومنانو سره دوستي او ملتيا کړي [يعنى مينه او محبت ورسره لري؛ دوى د الله تعالى پلو يانو نه دي] نو يقينا چې د الله حزب، ډله او پلو يان برلاسي دي.

هو؛ درندو دوستانو! مومنانو ته دغه درونده پيغام د الله تعالى لخوا د ډاډ ګيرنې لوى ز يرئ دئ، نو مومنانو ته او په ځانګړي ډول اسلام پالو دعاتو ته ښايي چې د شپې تورو تيارو پسې د رڼا او ځلانده صبا راختلو ته په پوره ډاډ سره سترګې په لار او هيله مند وي او هيڅ کله هم نازړه او ناهيلې نسي، ځکه ستونزو او سختيو پسې اسانتيا هرومرو راتلونکې ده، او هغه مومنانو سره د الله هوډ او تعهد او د بر يا او فتحې لوى ز يرئ دئ.

{ څوک چې د مومنانو دين سپکاوئ کړي ملګرتيا يې ناروا ده }

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى مومنان د هغو کسانو سره د مليتا او دوستۍ نه کلک منع کړي دي چې دوى د اسلام دين سپکا وئ کړي، او فرمايلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُواْ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ دِينَكُمۡ هُزُوٗا وَلَعِبٗا مِّنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ مِن قَبۡلِكُمۡ وَٱلۡكُفَّارَ أَوۡلِيَآءَۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ٥٧ وَإِذَا نَادَيۡتُمۡ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ ٱتَّخَذُوهَا هُزُوٗا وَلَعِبٗاۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ قَوۡمٞ لَّا يَعۡقِلُونَ ٥٨﴾

[٥٧] اى مومنانو! د اهل کتابو نه هغه کسان په دوستۍ مه نيسئ چې دوى ته د ستاسې نه مخکې کتاب (تورات او انجيل) ورکړل سوئ دئ [لکه يهود او نصارا] او بيا دوى ستاسې پردين ملنډې وهي او سپکاوئ يې کړي [يعنى دغو کسانو سره ملتيا، مينه او محبت مکړئ] او هم د هغو نورو کافرانو سره دوستي مکړئ [چې دوى هم ستاسې پر دين باندې

ملنډي وهي] او ای مومنانو! د الله نه وو یر یږی، او که تاسي په حق او ر ښتیا سره مومنان یاستی، نو تقوا وکړی او د الله سزا نه ځانو نه د الله حکمونو نه په اطاعت سره کلک وساتی.

[٥٨] هو؛ ای مومنانو! کله چې تاسي خلک لمانځه ته رابولی [یعنی اذان کړی] نو کافران پرتاسې باندې ملنډې وهي او ستاسې سپکاوئ کړي، ځکه دوی یوه ناپوهه ډله ده، یعنی د الله تعالی بنده ګی په ارزښت باندې نه پوهیزي، نو درناوئ یې نکړي او د سپکاوي هڅه یې کړي!

درندو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې مومنانو ته په ټینګار سره حکم کړئ دئ چې د منافقانو او کافرانو سره ده ملتیا او دوستي نکړي، ځکه کافران د مومنانو پردین ملنډې وهي او سپکاوئ یې کړي، نو د دوی سره ملګرتیا او دوستي روا نده، ځکه دغه کافران او د هغوی پلو یان نه پوهیږي، یعنی هوښیاران ندي او خپلې ګټې نه پیژني، خو دا یادونه ګرانو دوستانو دلته د پام وړ ده چې اوسني ډیر کافران او د هغوی پلو یان ښه هوښیار سوي دي او د نړی په نوي جوړښت کې دیني ارزښتو ته پام کړی او د ادیانو سپکاوي قانون غندي، ترڅو د نړی ټول ولسونه د یو بل سره ښې اړ یکې ولري او د یو بل سره یې راکړه ورکړه د ټولو ګټې خوندي کړي، نو دا نوې تک لاره چې پکې دیني آزادي محفوظه ده؛ د ټولو په ګټه ده او د اسلام حکمونو سره هم په ټکر او تضاد کې نده، ځکه نړی واله صلحه او امنیت ټولو ته اړ ین دئ، او دا حقیقت هم ښایي په پام کې وي چې ځینې لو یدیځ پال لیکوالان او هم ځینې لږ غربي واکمنان؛ کله کله خپلې پټې کینې را پسیره کوي او د اسلام او مسلمانانو سره د دښمنۍ غږ پورته کوي، لکه د ناتو لښکرو لخوا د افغانستان وروستۍ اشغال، نو بیا ښایي چې د هغوی سره بالمثل معامله وسي، خو په دې شرط چې مسلمانان خپل منځي اتحاد او وروري کلکه و پالي!

{د یهودو توطئیو رسوا کول مومنان د دوی د شر نه ساتي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی مومنانو ته د یهودو پټه

کرغېړنه څېره رسوا کړي ده، ترڅو مومنان د هغوی شر نه خپل ځانونه کلک وساتي، او فرمايلي دي:

﴿قُلْ يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ هَلْ تَنقِمُونَ مِنَّآ إِلَّآ أَنْ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْنَا وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبْلُ وَأَنَّ أَكْثَرَكُمْ فَٰسِقُونَ ٥٩ قُلْ هَلْ أُنَبِّئُكُم بِشَرٍّ مِّن ذَٰلِكَ مَثُوبَةً عِندَ ٱللَّهِ ۚ مَن لَّعَنَهُ ٱللَّهُ وَغَضِبَ عَلَيْهِ وَجَعَلَ مِنْهُمُ ٱلْقِرَدَةَ وَٱلْخَنَازِيرَ وَعَبَدَ ٱلطَّٰغُوتَ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ شَرٌّ مَّكَانًا وَأَضَلُّ عَن سَوَآءِ ٱلسَّبِيلِ ٦٠ وَإِذَا جَآءُوكُمْ قَالُوٓا۟ ءَامَنَّا وَقَد دَّخَلُوا۟ بِٱلْكُفْرِ وَهُمْ قَدْ خَرَجُوا۟ بِهِۦ ۚ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا كَانُوا۟ يَكْتُمُونَ ٦١ وَتَرَىٰ كَثِيرًا مِّنْهُمْ يُسَٰرِعُونَ فِى ٱلْإِثْمِ وَٱلْعُدْوَٰنِ وَأَكْلِهِمُ ٱلسُّحْتَ ۚ لَبِئْسَ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ٦٢ لَوْلَا يَنْهَىٰهُمُ ٱلرَّبَّٰنِيُّونَ وَٱلْأَحْبَارُ عَن قَوْلِهِمُ ٱلْإِثْمَ وَأَكْلِهِمُ ٱلسُّحْتَ ۚ لَبِئْسَ مَا كَانُوا۟ يَصْنَعُونَ ٦٣﴾

[٥٩] ای پیغمبره! اهل کتابو ته ووایه چې ای د کتاب لرونکو (یهودو او نصارو)! آیا تاسي د زمونږ نه د دې لپاره په سپکو سپورو خبرو غچ اخلئ [یعنی دښمنی راسره کړئ] چې مونږ پرالله او پرهغه کتاب (قرآن) باندې ایمان راوړئ دئ چې هغه مونږ ته را نازل سوئ دئ؟ او هم مونږ پرهغو کتابونو ایمان لرو او هغه منو چې هغه پخوا را نازل سوي ول [لکه تورات او انجیل] او یقینا چې د ستاسي نه ای اهل کتابو! ډیر کسان فاسقان دي او د الله اطاعت او سمې لارې نه وتلي دي.

[٦٠] او ای پیغمبره! دغو یهودو او نصاراوو ته ووایه: آیا تاسې د هغو کسانو ګناه نه په یقین سره خبر کړم چې د دوی سزا د دغې ګناه سزا نه چې هغه تاسې زمونږ لپاره عیب بولئ؛ ډیره بده ده؟ [هو! دغه لو یه او بده ګناه د یهودو په نیکونو کې تیره سوې د هغو کسانو ګناه ده] چې بیا دوی الله پر هغه ګناه باندې د خپل رحمت نه وشړل، ځکه الله پردوی کلک په غوصه سه او د دوی ځینې کسان بیا الله مسخه کړل او بیزوګان او خوکان یې وګرځول، ځکه دوی د طاغوت (بوت) عبادت او بنده ګې وکړه [یعنی د الله عبادت یې هیرکه] نو د هغوی ځای ډیر بد ځای دئ [یعنی

هغه د دوزخ اور دئ] ځکه دوی د سمې لارې نه ورک سوي ول.

قدرمنو دوستانو! دا مبارك آیتونه د یهودو هغو سپکو سپورو خبرو په ځواب کې رانازل سوي دي چې دوی به هغه اسلام او مسلمانانو پسې کړې، نو بیا الله تعالی دغه مبارك آیتونه رانازل کړل او یهودو ته یې کلک ځواب دئ، او همدارنګه دښمنانو ته دغسې ځوابونه؛ اسلام ته رابلونکو دعاتو لپاره ډیر غوره لارښود پیغامونه دي.

[٦١] ای مومنانو! او کله چې [دغه د یهودو منافقان] تاسي ته راغلل، نو و یو یل: مونږ ایمان راوړئ دئ، خو په حقیقت او ر یښتیا کې دوی د خپل کفر سره تاسي ته رانغوتل او بیا بیرته د کفر سره ووتل او الله پرهغه څه چې دوی یې پټوي؛ ښه پوه دئ، یعنی هغه کفر دئ چې د منافقانو په زړونو کې یې ر یښې غزولې دي.

[٦٢] ای پیغمبره! او ته د یهودو د دغو منافقانو نه ډیر کسان و یې چې په ګناه کړو او د الله په حدودو باندې په تیري کې او د حرامو په خوړو کې یو بل سره په سیالۍ کې منډې وهي او د دوی دا کړنې؛ ډیرې بدې او کرکجنې کړنې دي.

[٦٣] او ولې د یهودو ښو مخلصو پالونکو او مذهبي پوهانو دغه کسان د ګناه نه ډکو خبرو او و یناوو نه او د حرامو خوړلو نه منع نکړل؟ حال دا چې د دوی دغسې کړنې ډیرې بدې وې.

هو! ګرانو عز یزانو! د یهودو مذهبي پوهانو او مشرانو دغه کمښت چې خپل قوم یې د ګناه او د بدو کړنو نه منع نکه؛ ډیره بده کړنه وه، یعني دا چې دوی خپل رسالت او دنده چې په ښو کړنو امر کړل او د بدو کړنو نه د خلکو منع کول وه؛ پرځای نکړه، نو د یهودو مذهبي مشرانو دغسې چو پټیا د حق و یلو نه ډیره بده وه، او د قیامت په ورځ به د دوی نه کلکه پوښتنه کیږي او سزا بې ګالي.

قدرمنو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې د یهودو هغه پټه توره ځیره او بد خو یونه او دوه مخئ چلند مومنانو سره؛ مونږ ته

رسـوا کړئ او بيان کړي دئ، او مونږ يې د دوی د تور تار يخ نه خبر کړي يو، کله چې دوی د الله تعالی حکمونو پر پولو تيرئ وکه او پرې را واوښـتل او د بتانو عبادت يې وکه، او همدارنګه الله تعالی د يهودو مذهبي پوهان غندلي دي، ځکه دوی خپل رسـالت او دنده پرځای کړي نده، ترڅو يهود مونږ ښـه و پيژنو او بيا مونږ د دوی غوندې نسـو، او د دوی د دغو پټو چلونو او مکرونو نه خپل ځانو نه کلک وسـاتو او ور باندې ونه غوليږو، او همدارنګه ښـايي چې د زمونږ علماء او پوهان خپل ځانو نه د يهودو مذهبي مشرانو د خو يونو نه کلک وساتي، او په تبليغ کې د حق په بيانولو سـره او په امر بالمعروف او نهي عن المنکر باندې تل ټينګار وکړي او خپل رسالت او الهي دنده هغسې سر ته ورسوي، لکه څنګه چې الله تعالی دوی ور باندې مکلف کړي دي، او دا لوی رسـالت يې ورته سـپارلئ دئ، ترڅو خپله ټولنه د هر ډول فتنونه او ناخوالو نه وساتي.

{د يهودو شيطاني توطئې الله غندلئ او رسوا کړې دي}

او په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالی همداسې د يهودو ځينې نور بد خو يونه مونږ ته بيان کړي او رسوا کړي دي، او فرمايلي دي:

﴿وَقَالَتِ ٱلۡيَهُودُ يَدُ ٱللَّهِ مَغۡلُولَةٌۚ غُلَّتۡ أَيۡدِيهِمۡ وَلُعِنُواْ بِمَا قَالُواْۘ بَلۡ يَدَاهُ مَبۡسُوطَتَانِ يُنفِقُ كَيۡفَ يَشَآءُۚ وَلَيَزِيدَنَّ كَثِيرٗا مِّنۡهُم مَّآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ مِن رَّبِّكَ طُغۡيَٰنٗا وَكُفۡرٗاۚ وَأَلۡقَيۡنَا بَيۡنَهُمُ ٱلۡعَدَٰوَةَ وَٱلۡبَغۡضَآءَ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِۚ كُلَّمَآ أَوۡقَدُواْ نَارٗا لِّلۡحَرۡبِ أَطۡفَأَهَا ٱللَّهُۚ وَيَسۡعَوۡنَ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَسَادٗاۚ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ٦٤﴾

[٦٤] [هو! کله چې يهود د ولږې او قحطئ سره مخامخ سـول، نو الله تعالی يې په بخيلۍ تورن که] او و يو يل: د الله لاسـونه (العياذ بالله) تړل سـوي دي [يعنی پرمونږ خيرات نکړي، نا! حقيقت هغسـې ندئ لکه څنګه چې يهود ګمان کړي، بلکې] د يهودو لاسـونه تړل سـوي دي او دوی د خپلو بدو و يناوو په سزا د الله رحمت نه شړل سوي او رټل سوي دي، او د الله

لاسونه خلاص او خواره دي او الله چې څنګه وغواړي هغسې خپلې ورکړي خلکو ته ورکوي، او ای پیغمبره! ډیر یهود به د ستا پالونکې څښتن الله لخوا پرتا باندې را نازل سوي کتاب (قرآن) نه په بغاوت او سرغړونه کې همداسې ډوب کړي، او مونږ د یهودو په منځ کې د یو بل سره تر قیامت ورځې پورې دښمني او کرکه اچولې ده، او یهودو چې کله د جګړې اور بل کړئ دئ؛ هغه الله مړ کړئ دئ، او یهود تل پرځمکه د ورانۍ او فساد خورولو هلې ځلې کړي، او مفسدان پرالله ګران ندي او نې خوښیږي، یعنی یهود به الله تل همداسې د خپل رحمت نه محروم کړي او شړلې پر یږدي، ترڅو تل خوار ذلیل او سپک وي.

ګرانو دوستانو! الله تعالی پدې مبارك آیت کې د یهودو لو یه سپین ستړکي او بې حرمتي د الله تعالی لوړ مقام پر وړلاندې مونږ ته ښه ځلانده او روښانه یاده کړې ده او بیا یې هغه غندلې او رده کړي ده، او د الله تعالی خورې ورې ورکړې یې خلکو ته یادې کړې او بیان کړي دي.

هو؛ عزتمنو دوستانو! پدې مبارك آیت کې همداسې رسول اللهﷺ او د هغه ملګرو ته الله تعالی ډاډ، اطمئنان او ز یرئ ورکړئ دئ چې الله تعالی پرخپل تقدیري علم او پوهې سره د یهودو په منځ کې د یو بل سره تل دښمني او کرکه اچولې ده، او کله چې یهودو د مومنانو په منځ کې د فتنو اور بل کړئ دئ، نو هغه الله تعالی په خپل فضل او رحمت سره مړ کړي دئ، او الله تعالی تل د دوی توطئې شنډوي، لکه څنګه چې یې د احد او د احزابو په غزاګانو کې ژوندي مثالونه او بیلګې په قرآن کې لولو، او بیا دوی ټول مختورن او خوار سوي د مدینې منورې نه وشړل سول، نو مومنانو ته ښایي چې تل و یښ وي او د یهودو پټې دسیسې یې تل د پام لاندې وي او ځانو نه ورڅخه کلک وساتي، ترڅو د هغوي په شیطاني لمو کې ونښلي او د یهودو غوندې مختورن نسي.

{اهل کتابو ته د ایمان اوجنتونو ته د ننوتلو ورونه ییرته دي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی یوځل بیا پراهل کتابو باندې غږ کړئ دئ چې که چیرې یهود ایمان راوړي، نو مونږ به دوی زرغونو جنتونو ته ورننه باسو، او فرمایلي دي:

﴿وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ ءَامَنُوا۟ وَٱتَّقَوْا۟ لَكَفَّرْنَا عَنْهُمْ سَيِّـَٔاتِهِمْ وَلَأَدْخَلْنَٰهُمْ جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ ﴿٦٥﴾ وَلَوْ أَنَّهُمْ أَقَامُوا۟ ٱلتَّوْرَىٰةَ وَٱلْإِنجِيلَ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْهِم مِّن رَّبِّهِمْ لَأَكَلُوا۟ مِن فَوْقِهِمْ وَمِن تَحْتِ أَرْجُلِهِمْ ۚ مِّنْهُمْ أُمَّةٌ مُّقْتَصِدَةٌ ۖ وَكَثِيرٌ مِّنْهُمْ سَآءَ مَا يَعْمَلُونَ ﴿٦٦﴾﴾

[٦٥] او یقینا که چیرې د کتابونو خاوندان (یهود او نصـار) ایمان راوړي [یعنی قرآن او پیغمبر ومني] او تقوا وکړي او د الله نه وو یر یږي [یعنې د الله تعالی سزا نه خپل ځانو نه په اطاعت او فرمان وړو سره کلک وسـاتي] نو مونږ به د دوی ګناه وې توپې او پټې کړو او د نعمتونو نه ډکو جنتونو ته به دوی ورننه باسو.

[٦٦] او که اهل کتاب (یهود او نصـار) د تورات او د انجیل او د نورو هغو کتابونو حکمونه چې د دوی پالونکې څښـتن الله لخوا دوی ته رانازل سـوي دي؛ پرځای کړي او عمل پرې وکړي، نو یقینا چې دوی به پاس د اسمان نه راپر یوتي نعمتونه او هم د دوی د پښو لاندې د ځمکې نعمتونه وخوري، او د دغو اهل کتابو نه یوه انصـاف غوښـتونکې حقپاله ډله هم سـته، خو د دوی نه ډیر کسـان بد کړي، یعنی دا چې سـمه لار د هغوی نه ورکه ده او په کږه لار شیطان پسې ځي.

درندو دوسـتانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې یوځل بیا اهل کتابو(یهودو او نصـاراوو) باندې غږ کړئ دئ او ز یرئ یې ورکړئ دئ چې که دوي د دغو ټولو سـرغړونو او بدو کړنو سـره سـره؛ بیا هم دوی ته په رانازل سـوو کتابونو باندې د زړه له کومې او په اخلاص سـره ایمان راوړي او د خپلو کتابونو لارښـودنې او پکې الهي حکمونه عملي کړي، نو الله به

دوی ته د اســمان نه را پر یوتي او د ځمکې نه راوتلي خپل ټول نعمتونه ورکړي او لوبې پیرزو یې به ورته ډالۍ کړي او جنتونو ته یې ورننه باسي، او دا د الله تعالی هغه د احســان نه ډک ز یرئ دئ چې هغه یې خپلو ټولو ګناه ګارو بنده ګانو ته د توبې و یســتلو په شــرط ورکړئ دئ، خو د بده مرغه انسـان ډیر سـرکښ او ناپوه مخلوق دئ او د الله تعالی پیرزو یې یې ډیرې ژر هیریږي، نو همداســې به په کړه لار روان وي، لکه څنګه چې یې بیلګې په خپل ژوند کې په نړۍ کې و ینو او د بشـریت اوږد تار یخ ور باندې شاهد او ښکاره ګواه دئ.

{د پیغمبر رسالت د قرآن رسول ول او الله یې ساتونکئ وه}

او په ور پسې مبارك آیت کی الله تعالی خپل اسـتازي او پیغمبر محمدﷺ ته حکم کړئ دئ چې پرتا را نازل سـوئ کتاب (قرآن) خلکو ته ورسـوه او تا الله د خلکو نه ساتی، او فرمایلي دي:

﴿۞ يَٰٓأَيُّهَا ٱلرَّسُولُ بَلِّغۡ مَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ مِن رَّبِّكَۖ وَإِن لَّمۡ تَفۡعَلۡ فَمَا بَلَّغۡتَ رِسَالَتَهُۥۚ وَٱللَّهُ يَعۡصِمُكَ مِنَ ٱلنَّاسِۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ٦٧﴾

[٦٧] ای پیغمبره! هغه حکمونه چې تاته د ســتا رب الله لخوا رانازل سـوي دي؛ هغه خلکو ته ورسـوه او تبلیغ یې کړه، او که ته دا کار ونکړي، نو بیا تا د خپل پالونکي څښـتن پیغام ندئ رسـولئ، او ډا ډه اوسـیږه چې تا االله د خلکو نه سـاتي [یعنی ای پیغمبره! د الله تعالی نه پرتا باندې رانازل سـوي پیغام (قرآن) په تبلیغ کې د هیڅ چانه مه و یر یږه، ځکه الله د ستا ســاتونکي او مرســتندوی دئ او تا د خلکو شــر نه ســاتي، نو په پوره اطمئنان او ډاډ ســره د الله پیغام خلکو ته ورســوه] او یقینا چې الله د کافرانو ډلې ته پرسمه لار د تګ توفیق نه ورکوي او مرسته یې نکړي.

قدرمنو دوســتانو! یقینا چې رســول اللهﷺ د الله تعالی ټول هغه آیتونه چې پرده باندې رانازل سـوي ول؛ هغه یې په پوره امانت سـره خپل قوم او امت ته ورســول، خو دا چې هغه ډیرو خلکو ونه منل او کافران

سول، نو رسول الله ﷺ يې مسوول نوه، ځکه پرسمه لار د تګ توفيق د الله تعالى هغه لو يه پيرزو ينه ده چې يوازې خپلو مخلصو بنده ګانو ته يې ورکوي او کافرانو ته الله تعالى دا توفيق نه ورکوي، ځکه دوی د حق منلو نه منکر دي، نو د توفيق ورکولو لائق ندي.

ګرانو عز يزانو! نو اسلام ته رابلونکو دعاتو او ملايانو ته ښايي پدې پوه سي چې د دوی رسالت او دنده خلکو ته د الله دين بيانول او ورزده کول دي، نه دا چې خاماخا به ټول کافران ايمان راوړي او حق به مني، ځکه د مسلمانۍ او د ايمان راوړو توفيق د الله تعالى په واک کې دئ، او الله تعالى د خپلو بنده ګانو پټ او ښکاره حال نه ښه خبر دئ، نو څوک چې د هدايت لائق وي؛ هغه ته الله توفيق ورکوي او څوک چې يې لائق نه وي هغه همداسې پر يردي، ترڅو د خپل کفر سزا وګالي.

{پر قرآن ايمان راوړل پر يهودو او نصاراوو فرض دي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى يهودو او نصاراوو ته حکم کړئ دئ چې پرقرآن لکه پرتورات او انجيل؛ ايمان راوړي، او په بيان کې يې ورته فرمايلي دي:

﴿قُلْ يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ لَسْتُمْ عَلَىٰ شَىْءٍ حَتَّىٰ تُقِيمُوا۟ ٱلتَّوْرَىٰةَ وَٱلْإِنجِيلَ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْكُم مِّن رَّبِّكُمْ ۗ وَلَيَزِيدَنَّ كَثِيرًا مِّنْهُم مَّآ أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ طُغْيَٰنًا وَكُفْرًا ۖ فَلَا تَأْسَ عَلَى ٱلْقَوْمِ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٦٨﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَٱلَّذِينَ هَادُوا۟ وَٱلصَّٰبِـُٔونَ وَٱلنَّصَٰرَىٰ مَنْ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ وَعَمِلَ صَٰلِحًا فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٦٩﴾﴾

[٦٨] ای پيغمبره! اهل کتابو ته ووايه: ای د کتابونو خاوندانو! [يعنی يهودو او نصاراوو] تاسې چې ترڅو پرتورات او انجيل باندې عمل ونکړی؛ تاسې هيڅ څه شئ نه ياستی [يعنی دا چې ترڅو تاسې د تورات او انجيل لارښودنې عملي نکړی؛ د ستاسې يهوديت او نصرانيت هيڅ اعتبار او ګټه

نه لري] او بيا پرهغه کتاب ايمان راوړی او هغه ومنی چې هغه تاسې ته د ستاسې پالونکي لوی څښتن الله نه رانازل سوئ دئ [يعنی پرقرآن باندې ايمان راوړی، ځکه هغه رسول اللهﷺ ته د ټولو خلکو هدايت لپاره رانازل سوئ کتاب دئ] او ای پيغمبره! هغه څه چې د ستا رب لخوا پر تا باندې را نازل سوي دي [يعنی د قرآن آيتونه] هغه به ډير اهل کتاب په لا ز يات کفر، بغاوت او د الله حکم نه په سرغړونه کې ورننه باسي، نو ته ای پيغمبره! د دغسې کافرانو په کفر باندې [چې دوی د ستا پيغمبری نه منکر سول او قرآن يې ونه مانه] مه خفه کيږه او پروايې مکړه، يعنی دا ځکه چې دا د دوی بد شامت دئ او هغه ورته په تقدير کې ليکل سوئ دئ.

قدرمنو دوستانو! الله تعالی پدي مبارك آيت کې د اسلام پيغمبر محمدﷺ د پيغمبری جهانيت يا عالميت بيان کړئ دئ، او هغه دا چې الله تعالی رسول اللهﷺ ټولو خلکو ته سره د هغو کسانو چې دوی پر پخوانيو اسماني کتابونو باندې ايمان درلود؛ پيغمبر را ليږلئ دئ، نو پر رسول اللهﷺ باندې ايمان راوړل پر ټولو يهودو او نصاراوو باندې فرض دي، او دا حکم دوی ته په تورات او انجيل کې هم بيان سوئ دئ، نو ترڅو چې يهود او نصارا د تورات او انجيل حکمونه پرځای نکړي او پر قرآن ايمان را نوړي؛ د دوی يهوديت او نصرانيت هيڅ ارزښت او اعتبار نه لري او ورته ګټه نکړي، يعنی د دوی يهوديت او نصرانيت د الله سره معتبر نه شميرل کيږي، ځکه دوی د الله حکم او امر نه په تورات او انجيل کې سرغړونه کړې ده، او عمل يې ور باندې ندئ کړئ.

او په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالی ټولو هغو مومنانو ته چې پخوا د هر دين او مذهب پيروان ول؛ د خوښی ز يرئ ورکړي دئ، او فرمايلي دي:

[٦٩] او يقينا هغو کسانو چې ايمان راوړ [او د محمدﷺ پيغمبري يې ومنله] او هم هغه کسان چې يهودان او نصارا سول او يا د يهوديت او نصرانيت نه بل دين ته واوښتل او صابيان سول؛ د دوی نه چې هرچا پر الله او د آخرت پر ورځ ايمان راوړ او ښه يې وکړل [يعنی د الله تعالی حکمونه يې ومنل او عمل يې ور باندې وکه] نو پردوی باندې د الله عذاب

و يره او ډار نسته او دوی ده نه غمجن کيږي، يعنی دا چې دوی خپل ايمان او ښه عمل د الله تعالی عذاب او سزا نه ساتي.

{يهودو د پيغمبر انو په وژلو او تکذيب خپلې هوکړې ماتې کړې}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې يوځل بيا الله تعالی مومنان د يهودو بدو خو يونو او د ټرونونو ماتولو نه خبر کړي دي، ترڅو مومنان تل و يښ وي او د يهودو په خوږو او غوړو خبرو باندې ونه غوليږي، او فرمايلي دي:

﴿لَقَدْ أَخَذْنَا مِيثَٰقَ بَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ وَأَرْسَلْنَآ إِلَيْهِمْ رُسُلًا ۖ كُلَّمَا جَآءَهُمْ رَسُولٌۢ بِمَا لَا تَهْوَىٰٓ أَنفُسُهُمْ فَرِيقًا كَذَّبُوا۟ وَفَرِيقًا يَقْتُلُونَ ﴿٧٠﴾ وَحَسِبُوٓا۟ أَلَّا تَكُونَ فِتْنَةٌ فَعَمُوا۟ وَصَمُّوا۟ ثُمَّ تَابَ ٱللَّهُ عَلَيْهِمْ ثُمَّ عَمُوا۟ وَصَمُّوا۟ كَثِيرٌ مِّنْهُمْ ۚ وَٱللَّهُ بَصِيرٌۢ بِمَا يَعْمَلُونَ ﴿٧١﴾﴾

[٧٠] هو! يقينا چې مونږ د بني اسرائيلو نه تعهد او هوډ واخست [چې دوی به د الله تعالی هغه حکمونه چې په تورات کې را نازل سوي دي؛ مني او عمل به ور باندې کړي] او بيا مونږ دوی ته پيغمبران را وليږل [ترڅو د الله حکمونه ورته ورسوي او هغه ورزده کړي، خو دوی دغه تعهدونه او هوکړې ماتې کړې او د پښو لاندې يې کړې] او کله چې به دوی ته يو پيغمبر راغئ او داسې پيغام به يې ورته راوړ چې هغه به د دوی خوښ نه وه، نو بيا يې ځينې پيغمبران دروغژن وګڼل او ځينې نور يې ووژل!

[٧١] هو! دغو [تيرئ کونکو يهودو داسې] وانګيرله چې دوی به نه ازمايل کيږي او نه به دوی ته سزا ورکوله کيږي، نو دوی د حق ليدلو او اور يدلو نه ړلانده او کانه سول [يعنی همداسې پرخپله سرغړونه کې د الله اطاعت او بنده ګۍ نه ډوب پاتې سول، ترڅو چې د الله عذاب پردوی باندې راپر يوت او وځپل سول، نو بيا د خپلو بدو کړنو نه پښيمانه سول او تو به يې وايستله] نو بيا الله د دوی تو به ومنله او دوی يې و بښل، خو د دوی نه بيا ډير کسان بيرته د حق نه ړلانده او کانه سول، خو الله د دوی په کړنو باندې ښه ليدونکئ لوی ذات دئ، يعنی هغه و يې، نو بيا

هرچا ته د هغه ښـو او بدو کړنو ثواب او سـزا ورکوي، يعنی مومنان جنت ته او کافران دوزخ ته ورننباسي.

درنـدو عز يزانو! الله تعـالی په دغو مبارکو آيتونو کې مومنـانو تـه د يهودو بد خو يونه او بدې کړنې ښې روښـانه رسـوا کړي او بيان کړې دي، او هم يې دوی د خپلو بدو کړنو کلکو سـزاګانو نه ګواښـلي دي، ترڅو چې بيا يهود د خپلو بدو کړنو نه پښـيمانه سـول او تو به يې وايسـتله، نو بيا الله تعالی د دوی تو به قبوله کره او دوی يې و بښل، نو ښـايي چې مومنان د يهودو نـه پوره پنـد واخلي او د هغوی غونـدې نسـي، کنـه نو د يهودو غوندي تورې را تلونکې ته ده په طمعه وي او د سزا انتظار ده و باسي!

{څوک چې عيسی عليه السلام ته خدای و ايي کافران دي}

او په ور پسـي مبارکو آيتونو کې الله تعالی د نصـاراوو کفر په ډير ټينګار سـره مونږ ته ياد کړئ او بيان کړئ دئ، او د دوی د کفر دليلونه يې هم را ته ښـه روښـانه په نښـه کړي دي، او بيا الله تعالی د عيسی بن مر يم عليهما السـلام پيژندنه کړی ده، يعنی دا چې عيسـی عليه السلام څوک وه؟ نو مومنانو ته يې عيسـی عليه السلام ښـه سـپين او روښـانه معرفي کړئ او ور پيژندلئ دئ، او هم الله تعالی ټول اهل کتاب د افراطيت نه او په دين کې د ځان نه د خبرو ډيرولو نه؛ کلک منع کړي او ګواښلي دي، او بيا يې د دوی ټولې سرغړونې د الله تعـالی حکمونو نـه بيـان کړې دي، ترڅو مومنـان خپـل ځـانونـه د هغوی پيښـو او تقليد نه کلک وساتي او ور پسې لاړ نسي، او فرمايلي دي:

﴿لَقَدْ كَفَرَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْمَسِيحُ ٱبْنُ مَرْيَمَۖ وَقَالَ ٱلْمَسِيحُ يَٰبَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ٱعْبُدُواْ ٱللَّهَ رَبِّي وَرَبَّكُمْۖ إِنَّهُۥ مَن يُشْرِكْ بِٱللَّهِ فَقَدْ حَرَّمَ ٱللَّهُ عَلَيْهِ ٱلْجَنَّةَ وَمَأْوَىٰهُ ٱلنَّارُۖ وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنْ أَنصَارٍ ٧٢ لَّقَدْ كَفَرَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ ثَالِثُ ثَلَٰثَةٍۘ وَمَا مِنْ إِلَٰهٍ إِلَّآ إِلَٰهٌ وَٰحِدٞۚ وَإِن لَّمْ يَنتَهُواْ عَمَّا يَقُولُونَ لَيَمَسَّنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنْهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ٧٣﴾

أَفَلَا يَتُوبُونَ إِلَى ٱللَّهِ وَيَسْتَغْفِرُونَهُۥ ۚ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٧٤﴾ مَّا ٱلْمَسِيحُ ٱبْنُ مَرْيَمَ إِلَّا رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِ ٱلرُّسُلُ ۖ وَأُمُّهُۥ صِدِّيقَةٌ ۖ كَانَا يَأْكُلَانِ ٱلطَّعَامَ ۗ ٱنظُرْ كَيْفَ نُبَيِّنُ لَهُمُ ٱلْآيَٰتِ ثُمَّ ٱنظُرْ أَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ ﴿٧٥﴾ قُلْ أَتَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَلَا نَفْعًا ۚ وَٱللَّهُ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴿٧٦﴾ قُلْ يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ لَا تَغْلُوا۟ فِى دِينِكُمْ غَيْرَ ٱلْحَقِّ وَلَا تَتَّبِعُوٓا۟ أَهْوَآءَ قَوْمٍ قَدْ ضَلُّوا۟ مِن قَبْلُ وَأَضَلُّوا۟ كَثِيرًا وَضَلُّوا۟ عَن سَوَآءِ ٱلسَّبِيلِ ﴿٧٧﴾

[٧٢] هو! يقينا هغه کسان کافران سول چې دوی وو يل: المسيح بن مر يم يقينا الله دئ، ځکه المسيح عيسى بن مر يم بنى إسرائيلو ته وو يل: د الله چې دئ د زما او ستاسې پالونکئ ځښتن دئ؛ عبادت او بندګي وکړئ، او هرڅوک چې الله سره بل څوک په خدايي کې شر يك کړي، نو پر هغه باندې جنت الله يقينا حرام کړئ دئ، او د هغه ځاي به د دوزخ اور وي، او دغه ظالمان چې مشرکان دي د آخرت په ورځ هيڅ څوک مرستندوي نه لري، ترڅو دوی د الله سزا نه خلاص کړي.

[٧٣] او هغه کسان په يقين سره کافران سول چې وو يل: الله در يم د در يوو خدايانو نه دئ [يعني الله جل جلاله، عيسى او مور يې مر يم عليهما السلام، والعياذ بالله من ذلك] حال دا چې پر حق سره معبود او خداى؛ يو دئ او شر يك نه لري، او که چيرې دغه کسان د خپلو دغو خبرو نه لاس وانخلي [يعنى تو به ونه باسي] نو د غو کافرانو ته به دردونکې عذاب ورسيږي، يعنى کلکه سزا به ورکړه سي او مختورن به سي.

[٧٤] [او آيا دغه د نصاراوو کافران] بيرته الله ته نه ورګرځي او تو به نه باسي او د الله نه بښنه نه غواړي؟ [يعنى دا چې ښايي دوی د خپل کفر او شرك نه تو به و باسي او د الله تعالى نه بښنه وغواړي، ترڅو الله دوی و بښي] او الله ښه بښونکې او لوی پالونکئ ذات دئ، يعنى که هغوی په اخلاص سره تو به و باسي او د ګناه نه لاس وا خلي الله يې بښي.

[٧٥] او المسيح بن مريم (عيسى عليه السلام) د الله پيغمبر وه، او د هغه نه پخوا هم پيغمبران تير ســوي دي، نو هغه [يعنى عيســى عليه السلام د هغوى غوندې يو پيغمبر وه] او مور يې (مريم بنت عمران عليهما الســلام) يوه ډيره صادقه او ر ښتينې ښځه وه [يعنى د دوى ټولې كړنې په پوره صداقت ولاړې وې] او دوى دواړو (مور او زوى) ډوډۍ خوړله [يعنى دوى، لكه نور خلك خوړو ته اړ ول، نو څنګه به دوى خدايان ســي، ځكه الله تعالى د مخلوق غوندې ندئ چې خوړو ته محتاج او اړ وي] نو اى پيغمبره! وګوره چې څنګه دغو كافرانوته مونږ د الله يو والي نښي او دليلونه بيانوو؟ او بيا وګوره! چې دغه كافران څنګه د حق نه اوړي؟ يعنى پر باطل باندې اصــرار كړي او ور پورې كلك نښــتي دي، يعنى دوى هرڅــه تــه په خپلــه نيمګړې پوهه ګوري او پام يې ندئ چې خالق مخلوق ته ورته ندئ!

[٧٦] اى پيغمبره! [او ته د اهل كتابو دغو كافرانو ته] ووايه چې: آيا تاســې د الله نه پرته د بل داســې يو بوت عبادت او بنده ګي كړى چې هغه تاسې ته د ګټې او ز يان رسولو واك نه لري، او الله ښه اور يدونكئ او ښه پوه پــالونكئ ذات دئ، يعنى الله تعــالى هرڅــه اوري او په هرڅــه بانــدې پوهيږي او هيڅ څه د الله نه پټ ندي.

[٧٧] اى پيغمبره! [او همدارنګه پردغو اهل كتابو باندې غږ وكړه او ورتــه] ووايــه: اى د كتــاب خاونــدانو! په خپــل دين كې د حق پولونــه تيرئ مكړى [يعنى د ځان نه پكې څه شئ مه ډيروى] او پكې افراط مكړى، يعنى عيسى او مور يې مريم عليهما السلام د الله ســره په خدايي كې مه ګډوى او د هغه قوم هوســو پســې مځئ چې دوى د ســمې لارې نه پخوا ورك ســوي دي، او حق نه پيژني.

ګرانو دوســتــانو! الله تعــالى پــه دغو مبــاركو آيتونو كې مومنــان د نصــاراوو ځينې هغو ډلو د كفر او شــرك نه خبر كړي دي چې هغوى په خپل دين كې د ځان نه په عيســى او مريم عليهما الســلام كې د الوهيت عقيده ز ياته كړې ده او هغه دواړه يې د الله ســره په خدايي كې شــر يك كړي دي، او بيا الله تعالى دوى په دين كې د ځان نه د ډيرولو نه چې هغه

په دين کې افراطيت دئ، کلک منع کړي دي، او بيا الله تعالى د عيسى او مريم عليهما السلام د بې وسۍ او بنده ګۍ نښې، لکه خَواړه او څښاک؛ يادې کړې دي، او دا خبرې ټولې نصاراوو ته د مناظرې په بڼه کې سوئ دي، نو يقينا چې هغه اسلام ته رابلونکو دعاتو لپاره ګټورې لارښودنې او د بيلګو ښه غوره تک لاره ده چې ښايي دوی ورڅخه په دعوت کې کار واخلي.

{د بني اسرائيلو کافران خپلو پيغمبرانو لعنت کړي دي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى مونږ د خپل لعنت نه د يهودو پر کافرانو باندې؛ خبر کړي يو، او فرمايلي دي:

﴿لُعِنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۢ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ عَلَىٰ لِسَانِ دَاوُۥدَ وَعِيسَى ٱبۡنِ مَرۡيَمَۚ ذَٰلِكَ بِمَا عَصَواْ وَّكَانُواْ يَعۡتَدُونَ ٧٨ كَانُواْ لَا يَتَنَاهَوۡنَ عَن مُّنكَرٖ فَعَلُوهُۚ لَبِئۡسَ مَا كَانُواْ يَفۡعَلُونَ ٧٩ تَرَىٰ كَثِيرٗا مِّنۡهُمۡ يَتَوَلَّوۡنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْۚ لَبِئۡسَ مَا قَدَّمَتۡ لَهُمۡ أَنفُسُهُمۡ أَن سَخِطَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمۡ وَفِي ٱلۡعَذَابِ هُمۡ خَٰلِدُونَ ٨٠ وَلَوۡ كَانُواْ يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلنَّبِيِّ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيۡهِ مَا ٱتَّخَذُوهُمۡ أَوۡلِيَآءَ وَلَٰكِنَّ كَثِيرٗا مِّنۡهُمۡ فَٰسِقُونَ ٨١﴾

[٧٨] هغه کسان چې د بني اسرائيلو نه کافران سول؛ د داوود او د مريم زوی عيسى په خوله لعنت سول [يعنى د الله رحمت نه وشړل سول] او دا ځکه چې دوی د الله حکم نه سرغړونه وکړه او تيرئ کونکي ول، يعنى د الله حکمونه يې د پښو لاندې کړل او ورڅخه يې کلکه سرکښي وکړه، نو د الله رحمت نه د لعنت او رټلو وړ وګرځيدل.

[٧٩] هو! يهودو يو بل د هغو بدو او ناروا کړنو نه چې دوی کړل؛ منع کا وه، او هغه څه چې دوی کړل ډير بد ول.

[٨٠] او ته ای پيغمبره! د دغو يهودو نه ډير کسان و يې چې دوی د

هغو کسانو سره چې کافران سول؛ ملتیا او دوستي کړي، او دغسي دوستي چې دوی ته د دوی هوسونو او ځاني کتو ورلاندې کړې ده؛ ډیره کرکجنه دوستي او ملتیا ده، او الله پر دوی باندې په غوصه دئ، نو دوی به تل په عذاب کې پاتې وي، یعنی د دوزخ په اور کې به تل کړ یږي.

[٨١] او که چیرې دغو یهودو پر الله او پیغمبر (محمدﷺ) باندې، او پر هغه رانازل سوي کتاب (قرآن) باندې ایمان راوړئ وای، نو کافران به دوی دوستان نوه نیولي [یعنی د هغوی سره بې ملګرتیا نکړه] خو د یهودو ډیر کسان فاسقان دي، یعنی د الله اطاعت او بنده ګی نه وتلي دي.

درندو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې د منکراتو او بدو او ناروا کړنو نه په ټولنه کې سترګې پټول او ورځخه چوپ پاتې کیدل؛ لو یه ګناه بللې ده او د یهودو ملګرتیا او دوستي یې د مکې کافرانو او مشرکانو سره کلکه غندلي ده، او یقینا چې د الله تعالی مقصد د دغو حقیقتونو بیانولو او یادونې نه په قرآن کې؛ دا دئ چې نبایي مومنان د بني اسرائیلو کافرانو غوندې نسي او پرې نږدي چې منکرات د دوی په منځ کې خواره سي، او دوی ده د کافرانو سره د مینې او ملتیا نه کلکه ډ ډه وکړي، او د حق پر ضد ده د کافرانو ملتیا نکړي او د خپل ایمان نه ده د دنیایي ګټو لپاره هیڅ کله نه تیریږي او خپل دیني ارزښتونه ده د پښو لاندې نکوي او نده هغه سپکوي.

{یهود د نصاراوو پرپرتله د مومنانو کلک دښمنان دي}

او په ور پسي مبارکو آیتونو کې الله تعالی مومنان د یهودو او مشرکانو دښمنۍ نه د دوی سره خبر کړی دي، او د نصاراوو در یځ یې د مومنانو پر ورلاندې چې ډیر نرم وه؛ بیان کړي دئ، او فرمایلي دي:

﴿*لَتَجِدَنَّ أَشَدَّ ٱلنَّاسِ عَدَٰوَةً لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱلۡيَهُودَ وَٱلَّذِينَ أَشۡرَكُواْۖ وَلَتَجِدَنَّ أَقۡرَبَهُم مَّوَدَّةً لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ إِنَّا نَصَٰرَىٰۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّ مِنۡهُمۡ قِسِّيسِينَ وَرُهۡبَانٗا وَأَنَّهُمۡ لَا

يَسْتَكْبِرُونَ ﴿٨٢﴾ وَإِذَا سَمِعُوا۟ مَآ أُنزِلَ إِلَى ٱلرَّسُولِ تَرَىٰٓ أَعْيُنَهُمْ تَفِيضُ مِنَ ٱلدَّمْعِ مِمَّا عَرَفُوا۟ مِنَ ٱلْحَقِّ ۖ يَقُولُونَ رَبَّنَآ ءَامَنَّا فَٱكْتُبْنَا مَعَ ٱلشَّٰهِدِينَ ﴿٨٣﴾ وَمَا لَنَا لَا نُؤْمِنُ بِٱللَّهِ وَمَا جَآءَنَا مِنَ ٱلْحَقِّ وَنَطْمَعُ أَن يُدْخِلَنَا رَبُّنَا مَعَ ٱلْقَوْمِ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٨٤﴾ فَأَثَٰبَهُمُ ٱللَّهُ بِمَا قَالُوا۟ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا ۚ وَذَٰلِكَ جَزَآءُ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٨٥﴾ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَكَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَآ أُو۟لَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلْجَحِيمِ ﴿٨٦﴾

[٨٢] ای پیغمبره! مومنانو سره به په دښمنۍ کې هغه خلک ډیر کلک در یځه بیامومې چې دوی یهود دي، او هم به هغه کسان چې مشرکان دي د مومنانو کلک دښمنان بیامومې، خو هغه کسان به مومنانو ته په دوستۍ کې ډیر لنډ بیامومې چې دوی وو یل: مونږ یقینا نصارا یو، یعنی د عیسی علیه السلام پلو یان یو، او دا ځکه چې د دوی نه ځینې کسان پوهان او علماء دي او ځینې نور یې عابدان دي [یعنی شپه او ورځ د الله تعالی په عبادت کې لګیا دي او په دنیایې چارو کې د چا سره کار نه لري] او یقینا چې دوی کبرجن ندي، یعنی د حق پر وړاندې ځانو نه غټ نه بولي.

[٨٣] او کله چې دغو نصاراوو د قرآن آیتونه چې پر پیغمبر (محمد صلی الله علیه وسلم) باندې رانازل سوي دي؛ واور یدل، نو دوی به و یني چې اوښکې یې د سترګو نه بهیږي، ځکه دوی حق و پیژاند او پوه سول چې قرآن حق دئ [یعنی د الله تعالی نه را نازل سوئ ر ښتینئ کتاب دئ] نو بیا دوی دعاء کړي او وایي: ای د زمونږ پالونکیه لو یه خدایه! مونږ ایمان راوړ، نو مونږ د شاهدانو سره ولیکه، یعنی د قیامت په ورځ د محمد صلی الله علیه وسلم د امت شاهدی و یلو افتخار پر نورو امتونو باندې د زمونږ په پرخه کړه!

[٨٤] او بیا وایي: ولې به مونږ پر الله او د هغه پر حق کتاب (قرآن) چې مونږ ته راغلئ دئ ایمان نه راوړو؟ یعنی مونږ ته ښایي چې ایمان راوړو،

ځکه مونږ طمعه او هیله لرو چې د زمونږ پالونکئ څښتن الله مونږ د ښو خلکو او د صالحانو سره چې مومنان دی یوځای جنت ته ورننه باسي.

[٨٥] نو بیا به دوی ته الله د دغو و یناوو او د دعاګانو په ثواب کې داسي جنتونه او بڼونه ورکړي چې د او بو و یالې پکې بهیږي او دوی به پکې تل پاتې وي [یعنی تل پاتې خوند به ورڅخه اخلي] او هغه د ښو کړنو خاوندانو ثواب دئ، یعنی د مومنانو ځای تل پاتې جنت دئ.

[٨٦] او هغه کسان چې کافران سول او د زمونږ کتاب آیتونه یې دروغ و بلل [یعنی ورڅخه منکر سول] هغوی د دوزخ ملګري دي، یعنی هلته به پکی تل کړ یږي.

ګرانو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې مومنان د یهودو او د مشرکانو د سختې دښمنۍ نه چې د دوی سره یې لري ګواښلي دي، ترڅو خپل دښمنان ښه و پیژني او د شر نه یې خپل ځانو نه کلک وساتي، او همدارنګه الله تعالی مومنان د هغو کسانو د دوستۍ نه خبر کړي دي چې وو یل مونږ نصارا یو، ځکه کله چې دغو نصاراوو د قرآن آیتونو تلاوت واور یده، نو د حق په پیژندلو سره یې د سترګو نه اوښکې جاري سوي او خپل ایمان یې اعلان که او دعاء یې وکړه چې الله تعالی دوی د محشر په ورځ د مومنانو په لیکه کې ودروي، ترڅو پر نورو ولسونو شاهدان سي.

قدرمنو وروڼو، او خو یندو! د تفسیر پوهانو او علماوو روایت کړي دئ چې د دغو نصاراوو نه مراد او مقصد نجاشي د حبشې امپراتور او د هغه پلو یان دي، ځکه کله چې دوی د مکې نه ورغلیو مهاجر ینو نه د الله تعالی کلام آیتونه چې پر محمد ﷺ باندې رانازل سوي ول؛ واور یدل، نو اوښکې یې د سترګو نه وبهیدلې او د قرآن په ر یښتینوالي یې چې د الله کلام دئ ایمان راوړ او مومنان سول، نو ځکه بیا چې کله رسول الله ﷺ د نجاشي رضی اللہ عنہ مړ ینې نه خبر سه پر هغه یې د غائبانه جنازې لمونځ وکه، نو دعا کړو چې الله تعالی دې په خپل رحمت کې پټ کړي او د مومنانو په صف او لیکو کې دې حشر کړي.

{د الله حلالې روزۍ حرامول روا ندي او د لوړو کفاره فرض ده}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د مومنانو نه پر هغو کسانو باندې غږ کړئ دئ چې دوی غوښتل پر خپلو ځانو باندې د الله تعالی حلال نعمتونه او ورکړې حرامې کړي او د حلالو غوښو خوړلو او د وا ده کړو نه خپل ځانو نه لرې وساتي، او فرمایلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تُحَرِّمُواْ طَيِّبَٰتِ مَآ أَحَلَّ ٱللَّهُ لَكُمۡ وَلَا تَعۡتَدُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلۡمُعۡتَدِينَ ٨٧ وَكُلُواْ مِمَّا رَزَقَكُمُ ٱللَّهُ حَلَٰلٗا طَيِّبٗاۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِيٓ أَنتُم بِهِۦ مُؤۡمِنُونَ ٨٨ لَا يُؤَاخِذُكُمُ ٱللَّهُ بِٱللَّغۡوِ فِيٓ أَيۡمَٰنِكُمۡ وَلَٰكِن يُؤَاخِذُكُم بِمَا عَقَّدتُّمُ ٱلۡأَيۡمَٰنَۖ فَكَفَّٰرَتُهُۥٓ إِطۡعَامُ عَشَرَةِ مَسَٰكِينَ مِنۡ أَوۡسَطِ مَا تُطۡعِمُونَ أَهۡلِيكُمۡ أَوۡ كِسۡوَتُهُمۡ أَوۡ تَحۡرِيرُ رَقَبَةٖۖ فَمَن لَّمۡ يَجِدۡ فَصِيَامُ ثَلَٰثَةِ أَيَّامٖۚ ذَٰلِكَ كَفَّٰرَةُ أَيۡمَٰنِكُمۡ إِذَا حَلَفۡتُمۡۚ وَٱحۡفَظُوٓاْ أَيۡمَٰنَكُمۡۚ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمۡ ءَايَٰتِهِۦ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ٨٩﴾

[٨٧] ای مومنانو! [یعنی ای هغو کسانو! چې تاسې پر الله او د هغه پر کتاب (قرآن) او پر پیغمبر(محمدﷺ) باندې ایمان راوړئ دئ] تاسې هغه پاک خواړه [او کړل] چې هغه تاسې ته الله حلال کړي دي؛ پر خپلو ځانو مه حراموی، او د الله حکمونو پر پولو باندې په حلالو او حرامو کې تیرئ مکړی، او یقینا هغه کسان چې تیرئ کړي؛ الله دوی نه خوښوي او پر الله باندې ګران ندي، یعنی الله تعالی مونږ ته د ډیرو پاکو خوړو خوړل او واده کړل روا کړي دي، نو که څوک هغه د الله حکم نه پرته پر ځان باندې حراموي؛ نو دوی د الله تعالي حکم پښو لاندې کړئ دئ.

[٨٨] او هغه پاک او حلال خواړه چې تاسې ته ای مومنانو! الله روزي کړي دي؛ هغه وخورئ او د الله نه چې تاسې ور باندې ایمان راوړي دئ وو یر یږئ، یعنی د الله تعالی حکمونه په حلالو او حرامو کې پرځای کړئ

او خپل ځانو نه د الله سزا او عذاب نه کلک وساتئ!

[٨٩] ای مومنانو! او الله تاسې پر هغو لوړو او قسمونو باندې نه نیسي؛ چې هغه تاسې پرته د قصد نه خوړلي وي [لکه والله، بالله، تاالله، ځکه دا لوړې هغه کلمې دي چې د ځینې کسانو تکیه کلام ګرځیدلي دي، نو ځکه لغوه ګڼل کیږي] خو تاسې ای مومنانو! الله پر هغو لوړو نیسي چې خپله خبره ور باندې د زړه نه وتړئ [خو بیا هغسې ونکړئ او په لوړه کې حانث سئ] نو بیا د دغسې لوړې ګناه د لرې کولو کفاره دا ده چې لسو مسکینانو ته د خپلې کورنۍ سره برابر د یو وخت خواړه ورکړئ، او یا دغو لسو کسانو ته یوه یوه جوړه جامې ورکړئ، او یا یو مریئ ازاد کړئ [خو البته په اوس وخت کې د مریې نیولو قانون په نړۍ وال منشور کې منع سوئ دئ، نو غلامان نسته] او هر چاچې دغه شیان بیانموندل او وسعه یې نه کیده، نو بیا ده دئ د لوړې حانثیدو په کفاره کې درې ورځې روژه ونیسي، او ای مومنانو! دغه [خیراتونه] د ستاسې هغو لوړو کفاره ده چې تاسې ور باندې قسمونه وخوړل، خو بیا تاسې خپلې لوړې عملي نکړئ او پکې حانث سوئ [نو دا کفاره د ستاسې ګناه پټوي او هغه تو یوي] او همدارنګه ای مومنانو! خپل قسمونه وساتئ [یعنی بې ځایه او ناحقه لوړئ مکړئ او په هرڅه کې قسمونه مخورئ] هو؛ ای مومنانو! الله تاسې ته د خپل دین حکمونه او د کتاب آیتونه همداسې بیانوي، ترڅو تاسې ښه شکر و باسئ، یعنی دا ځکه چې الله تعالی سمه لار درښودلې ده او پر هغه لار یې د تګ توفیق درکړئ دئ، او پدې کې د ستاسې لپاره؛ ډیر خیر او ګټه ده، نو عمل پرې وکړئ.

{د شرابو څکل قمار د بتانو عبادت او چک اچول حرام دي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی مومنان د شرابو چکلو، قمار وهلو، د بتانو عبادت کړو او پر غشو باندې د چک اچولو نه کلک منع کړي دي، او فرمایلي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّمَا ٱلۡخَمۡرُ وَٱلۡمَيۡسِرُ وَٱلۡأَنصَابُ وَٱلۡأَزۡلَٰمُ رِجۡسٞ مِّنۡ

عَمَلِ ٱلشَّيۡطَٰنِ فَٱجۡتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ٩٠ إِنَّمَا يُرِيدُ ٱلشَّيۡطَٰنُ أَن يُوقِعَ بَيۡنَكُمُ ٱلۡعَدَٰوَةَ وَٱلۡبَغۡضَآءَ فِي ٱلۡخَمۡرِ وَٱلۡمَيۡسِرِ وَيَصُدَّكُمۡ عَن ذِكۡرِ ٱللَّهِ وَعَنِ ٱلصَّلَوٰةِۖ فَهَلۡ أَنتُم مُّنتَهُونَ ٩١ وَأَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ وَٱحۡذَرُواْۚ فَإِن تَوَلَّيۡتُمۡ فَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّمَا عَلَىٰ رَسُولِنَا ٱلۡبَلَٰغُ ٱلۡمُبِينُ ٩٢

[٩٠] ای مومنانو! یقینا چې شراب، قمار، بتان او د غشو په اچولو باندې چک اچول؛ دا ټول چټرلي ده او د شیطان کار دئ، نو ځانو نه ورځخه وساتئ، ترڅو بر یالي او سر لوړي سئ، یعنی خوښي او بر یا د ستاسې په برخه سي او ښاد سوي سپین مخي سئ.

[٩١] او ای مومنانو! یقینا چې شیطان غواړي د ستاسې په منځ کې د شرابو څکلو او قمار وهولو پر سر دښمني او کینه را واچوي، او شیطان تاسي د الله ذکر او لمانځه کړو نه منعې کوي، نو آیا تاسې ای مومنانو! د دغو کارونو نه لاس اخستونکي یاستي کنه؟ یعنی د دغسې بدو کړنو نه چې هغه د شیطان غوښتنې دي او د ستاسې په منځ کې دښمني اچوي؛ ځانونه په کلکه سره وساتئ.

[٩٢] ای مومنانو! او د الله او د هغه پیغمبر (محمدﷺ) اطاعت وکړئ، او پام کوئ چې د الله او د هغه پیغمبر مخالفت ونکړئ او شیطان تاسې ونه غلوي! [خو که چیرې تاسې ای مومنانو! بیرته په شا سوئ، نو پدې پوه سئ] چې د زمونږ پیغمبر دنده او رسالت تاسې ته د روښانه او ځلاند پیغام رسول دي، یعنی دا چې پیغمبرﷺ خپله دنده او رسالت نور سر ته رسولئ دئ او د ستاسې کفر نه دئ مسئول ندئ.

درندو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې مومنان د هغې کړنو نه منعې کړي او کلک ګواښلي دي چې هغه د دوی په منځ کې دښمني او کینې را پاروي، لکه د شرابو څکل او قمار وهل، او دا پیغام خلکو ته رسول اللهﷺ رسولئ دئ، ځکه د هغه رسالت یوازې پیغام رسول ول، نو

بيا د رسـول اللهﷺ نه د الله تعالى حكمونو عملي كولو پوښـتنه نه كيږي او دئ د خلكو كړنو مسـئول ندئ، نو د الله تعالى دا حكم اسـلام ته را بلونكو دعاتو لپاره لوى ډاډ او د لارښودنې ستر پيغام دئ، ځكه دوى خپل رسالت په تبليغ سره سر ته رسولئ دئ، او د شرعي حدودو او د سزاګانو تطبيقول د واكمنانو كار دئ، ځكه هغوى دا دنده پر غاړه اخستې ده.

{د الله حكمونو تبليغ نه مخكې څوک په ګناه نه نيول كيږي}

او په ور پسې مبارك آيت كې الله تعالى مومنانو ته لارښودنه كړې ده چې د تبليغ او بيان نه مخكې؛ هيڅ څوک په ګناه نه محاسـبه كيږي او پوښتنه ورڅخه نكيږي، او فرمايلي دي:

﴿ لَيْسَ عَلَى ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ جُنَاحٌ فِيمَا طَعِمُوٓاْ إِذَا مَا ٱتَّقَواْ وَّءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ ثُمَّ ٱتَّقَواْ وَّءَامَنُواْ ثُمَّ ٱتَّقَواْ وَّأَحْسَنُواْۗ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٩٣﴾ ﴾

[٩٣] هو! هغو كسانو چې ايمان راوړ او ښه يې وكړل، خو شراب يې د حراميدو نه مخكې څكلي ول؛ نو پر دوى باندې څه ګناه نسـته [يعنى دا ځكه چې د شـرابو څكل بيا د حراميدو نه وروسـته؛ دوى پر يښـودل او ځانو نه يې ورڅخه وسـاتل] او د الله تعالى نه وو ير يدل او ايمان يې راوړ او د الله په حكم يې باور وكه او هغه يې ومانه او ښـه كارونه يې وكړل او تقوا يې وكړه او خپل ايمان يې كلك كه، او د ايمان سره يې خپل ځانو نه د احسان رتبې ته هم ورسول او د ښو كړنو څښتن سول، او د ښو كړنو كسان الله خوښوي او دوى پر الله ګران دي.

قدرمنو دوسـتانو! الله تعالى په دغو مباركو آيتونو كې خپل ښـه ډير شـرعي حكمونه او ګټوري لارښـودنې خپلو مومنو بنده ګانو ته بيان كړې دي او دوى يې د الله تعالى پر حكمونو باندې عمل كړو ته كلك رابللې دي او د شيطان غولونو نه يې د شرابو په څكلو، قمار وهلو، د بتانو عبادت كړو او پر غشـو باندې د پال اچولو نه؛ كلك منع كړې دي، او د الله تعالى او د هغه پيغمبرﷺ اطاعت او فرمان وړو ته يې را بللي دي او د مخالفت نه يې كلك ګواښـلي دي، نو ښـايي ګرانو وروڼو او خو يندو! چې

مونږ د الله کتاب پر آیتونو باندې په قرآن کې چې هغه د الله تعالی حکمونه دي او مونږ ته یې را ښولي دي؛ خپل ځانو نه ښه پوه کړو او هغه زده کړو او عمل ور باندې وکړو او خپل ژوند په دنیا او آخرت ور باندې ښاد او نیکمرغه کړو.

{ د حاجي منعې کول په احرام کې د ښکار نه لوی ازمایښت دئ }

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د حج اړوند ځینې حکمونه مومنانو ته بیان کړي دي، او فرمایلي دي:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَيَبۡلُوَنَّكُمُ ٱللَّهُ بِشَيۡءٖ مِّنَ ٱلصَّيۡدِ تَنَالُهُۥٓ أَيۡدِيكُمۡ وَرِمَاحُكُمۡ لِيَعۡلَمَ ٱللَّهُ مَن يَخَافُهُۥ بِٱلۡغَيۡبِۚ فَمَنِ ٱعۡتَدَىٰ بَعۡدَ ذَٰلِكَ فَلَهُۥ عَذَابٌ أَلِيمٞ ٩٤ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَقۡتُلُواْ ٱلصَّيۡدَ وَأَنتُمۡ حُرُمٞۗ وَمَن قَتَلَهُۥ مِنكُم مُّتَعَمِّدٗا فَجَزَآءٞ مِّثۡلُ مَا قَتَلَ مِنَ ٱلنَّعَمِ يَحۡكُمُ بِهِۦ ذَوَا عَدۡلٖ مِّنكُمۡ هَدۡيَۢا بَٰلِغَ ٱلۡكَعۡبَةِ أَوۡ كَفَّٰرَةٞ طَعَامُ مَسَٰكِينَ أَوۡ عَدۡلُ ذَٰلِكَ صِيَامٗا لِّيَذُوقَ وَبَالَ أَمۡرِهِۦۗ عَفَا ٱللَّهُ عَمَّا سَلَفَۚ وَمَنۡ عَادَ فَيَنتَقِمُ ٱللَّهُ مِنۡهُۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٞ ذُو ٱنتِقَامٍ ٩٥ أُحِلَّ لَكُمۡ صَيۡدُ ٱلۡبَحۡرِ وَطَعَامُهُۥ مَتَٰعٗا لَّكُمۡ وَلِلسَّيَّارَةِۖ وَحُرِّمَ عَلَيۡكُمۡ صَيۡدُ ٱلۡبَرِّ مَا دُمۡتُمۡ حُرُمٗاۗ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِيٓ إِلَيۡهِ تُحۡشَرُونَ ٩٦ ﴾

[٩٤] ای هغو کسانو چې تاسې ایمان راوړئ دئ او مومنان یاستی! تاسې به الله د ښکار هغو څارو یو په څه برخه باندې چې د ستاسې لاسونه او غشي ورته رسیږي او د هغو ښکار کولای سی؛ وازمایي، ترڅو الله ته څرګنده او روښانه سي چې څوک د الله نه په پټه کې و یر یږي؟ [یعنی د عذاب نه یې ځان ساتي، ځکه په پټه کې خو تاسې د الله نه پرته بل هیڅ څوک نه و یني، نو معلومه به سي چې آیا تاسې د الله تعالی حکمونه پرځای کوی او کنه؟] نو بیا که چا لدې نه وروسته تیرئ وکه او

د الله حکم پې پرځای نکه [یعنی ښکار يې وکه] نو ورته دردونکې سزا ده.

او په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی مومنان د حج او عمرې په احرام کې د ښکار نه منع کړي دي، او فرمایلي دي:

[۹۵] ای مومنانو! کله چې تاسي په احرام کې وی ښکاري څاروي او مرغان مه وژنی، او هرچا چې ستاسې نه د ښکاري څاروئ په قصد سره مړکه، نو سزا يې د مړه سوي څاروي غوندې بل څاروئ ده، او هغه به د ستاسې نه دوه انصاف پاله کسان؛ غوره کوي او حکم به پرې کړي، او بیا به هغه تاسي کعبې ته په رسولو سره ډالی کوي [یعنی دا د کفارت څاروئ به کعبې ته په مکه کې رسوی او هلته بې د الله په نامه حلالوی او غوښه بې مسکینانو ته خیرات ورکوی] او یا به د دې څاروي د بیعې په قیمت خوراکي توکې اخلی او د مکې مسکنانو ته به خواړه ورکوی، او یا به د هر مسکین یوه وخت خوړو سره برابر روژه نیسی، ترڅو د الله امر نه سر غړونکئ حاجي د خپل بد عمل او نافرمانۍ سزا وڅکي او الله د هغه دغې ګناه او تیري نه تیرسي او عفویې کړي، خوکه بیا څوک بیرته په شا واوښت او نافرماني يې وکړه، نو بیا الله د هغه نه غچ او انتقام اخلي او سزا ورکوي، ځکه الله لوی ځواکمن غچ اخستونکې ذات دئ، او هیڅ څوک د الله سزا مخه نیولای نسي.

[۹۶] ای مومنانو! او د سمندر ښکار او خواړه تاسې ته حلال سول، او هغه تاسې ته او نورو ټولو پردیسیو کاروانیان ته د خوند اخستلو توښه ده، او د وچې ښکار پر تاسي تر هغو چې په احرام کې یاستی حرام دئ، او ای مومنانو! د الله نه وو یر یږی او د سزا او عذاب نه يې ځانونو نه وساتی، ځکه تاسې الله ته ورغونډول کیږی، یعنی الله تعالی ته ورتلونکي یاستی او الله هرچا ته د هغه ښه عمل ثواب او د بد عمل سزا ورکوي او پر هیڅ چا ظلم نکیږي!

قدرمنو مومنانو! الله تعالی د حج او عمرې عبادت او د بیت الله مبارك عظمت او لو یتیا قدر کړو لپاره حاجیان د ښکار نه منع کړي

دي، که څه هم ښکار د حج او عمرې احرام نه پرته روا دئ، او بيا الله تعالى د دې ګناه د کفارت او پاکې لپاره د هر حاجي وسعې سره سمه سزا ټاکلې ده او هغه د ښکار سوي څاروي (اوښ،غوايي او پسه) غوندي سزا ده، او حاجي به همدغسې يو څاروئ اخلي او کعبې معظمې په څيرمه حرم کې به هغه حلالوي او غوښه يې د حرم مسکينانو ته خيراتوي، او که حاجي څاروئ بيانموند، نو په بيعه يا قيمت دې د خوړو توکې واخلي او د حرم پر مسکينانو باندې ده هغه وو يشي، او که د خوراکي توکو اخستلو وسعه يې نه درلوده، نو د هر مسکين يو وخت خوړو په اندازه ده يوه ورځ روژه ونيسي، ځکه الله تعالى د خپلو بنده ګانو نه هر څوک خپلې وسعې سره سم په يوه حکم ګماري، لکه څنګه چې يې فرمايلي دي:(لا يكلف الله نفساً إلا وسعها) هيڅ څوک الله د خپلې وسعې نه په ډير او درانده کار نه ګماري، ځکه تکليف د وسعې په اندازه وي.

{کعبه د الله کور او په توحيد سره د بنده ګي درنده نښه ده}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى لمړئ د کعبې معظمې او د حرم مياشتې عظمت او حرمت ياد کړئ او په نښه کړئ دئ، او بيا يې د رسول الله ﷺ رسالت څانګړتيا چې خلکو ته د الله تعالى د دين پيغام رسول دي؛ په ټينګار سره بيان کړې دئ، او فرمايلي دي:

﴿جَعَلَ ٱللَّهُ ٱلۡكَعۡبَةَ ٱلۡبَيۡتَ ٱلۡحَرَامَ قِيَٰمٗا لِّلنَّاسِ وَٱلشَّهۡرَ ٱلۡحَرَامَ وَٱلۡهَدۡيَ وَٱلۡقَلَٰٓئِدَۚ ذَٰلِكَ لِتَعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَأَنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٌ ٩٧ ٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ وَأَنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٩٨ مَّا عَلَى ٱلرَّسُولِ إِلَّا ٱلۡبَلَٰغُۗ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ مَا تُبۡدُونَ وَمَا تَكۡتُمُونَ ٩٩ قُل لَّا يَسۡتَوِي ٱلۡخَبِيثُ وَٱلطَّيِّبُ وَلَوۡ أَعۡجَبَكَ كَثۡرَةُ ٱلۡخَبِيثِۚ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ يَٰٓأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ١٠٠﴾

[٩٧] کعبه چې د الله معظم او مقدس کور حرم دئ؛ هغه الله خلکو ته د [عبادت] او د هوسا ژوند درلودلو او جوړولو؛ ډاډمنه زانګو کړځولې

ده [یعنی هلته جګړه او پر یو بل باندې تیرئ لو یه ګناه ده] او حرامې میاشتې [ذولقعدة، ذولحجة، محرم او رجب هم الله تعالی خلکو ته د ډاډمن ژوند لپاره حرامې کړې دي او جګړه او تیرئ پکې روا نه دئ] او همداسې د حج قربانۍ پر هغو څاروو یو باندې تیرئ حرام دئ چې هغه په نښه سوي دي، او دا ټول د دې لپاره چې تاسې ای مومنانو! یقینا پوه سئ چې الله پر ټولو هغو مخلوقاتو باندې ښه پوه دئ چې هغه په اسمانو او پر ځمکه کې دي، یعنی الله د ټول عالم پالونکئ او څارونکئ واکمن دئ.

[۹۸] ای مومنانو! او پدې هم پوه سئ چې الله یقینا کلک سزا ورکونکئ ذات دئ، او هم الله په یقین سره لوی بښونکئ او ښه مهر بان ذات دئ.

درندو عز یزانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې د کعبې معظمې حرمت مومنانو ته بیان کړئ دئ او هغه یې د خلکو عبادت لپاره د امنیت او د ډاډ کور ګرځولئ دئ، او هیڅ چا ته روا نده چې هلته پر بل چا باندې تیرئ وکړئ، لکه څنګه چې الله تعالی د حج سورې په (۲۵) آیت کې مونږ د ګناه او ظلم نه په حرم کې کلک ګواښلي یو، او فرمایلي دي:"ومن یرد فیه بإلحاد بظلم نذقه من عذاب ألیم" او هرڅوک چې د کعبې په حرم کې د ظلم او ګناه قصد وکړي، نو هغه ته مونږ دردونکې عذاب او سزا ورڅکو، نو ښایي چې هر مسلمان د الله تعالی کور کعبې مبارکې په حرمت او درونده والي باندې خپل ځان ښه پوه کړي او تعظیم یې وکړي او د هرې ګناه نه په حرم کې ځان کلک وساتي، ترڅو د الله عذاب نه په امن کې سي او د الله رحمت نه برخمن سي ا و د دنیا او آخرت نیکمرغي یې په برخه سي.

او په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی د پیغمبرﷺ دنده او رسالت چې د دین تبلیغ وه؛ بیان کړئ دئ، او فرمایلي دي:

[۹۹] ای خلکو! او پدې پوه سئ چې پر پیغمبر باندې د الله دین د رسولو او تبلیغ نه پرته؛ بله ګمارنه او دنده نسته [یعنی د پیغمبر نه الله تعالی د خلکو هدایت سې لارې ته او یا یې د دوی ورکتیا او بې لار یتوب پوښتنه نکړي، ځکه پر سمه لار د تګ توفیق او منل یې؛ د الله کار دئ،

او ای خلکو!] هر هغه څه چې تاسې په عمل کې ښکاره کوی او څه چې په زړونو کې پټوی؛ پر هغو ټولو باندې الله پوهیږي، یعنی نو بیا الله تعالی هرچا ته د ښو کړنو ثواب او د بدو کړنو سزا ورکوي.

[۱۰۰] ای پیغمبره! [او خلکو ته اعلان وکړه او ورته] ووایه چې پاک او چټل (ایمان او کفر) سره برابر ندي، که څه هم د چټلې ډیروالئ تا حیران کړي! نو ای هوښیارانو او د عقل څښتنو! د الله نه کلک وو یر یږی، ترڅو بر یا ته ورسیږی، یعنی د الله سزا نه ځانو نه په اطاعت سره وساتی، ترڅو بر یالي سی او خپل مقصد ته چې جنت دئ ورسیږی.

درندو عز یزانو! الله تعالی پدې مبارك آیت کې دا حقیقت مونږ ته روښانه کړئ دئ چې د حق او باطل، د خیر او شر، او د پاکی او چټلې تله او ډیروالئ سره برابر ندي، که څه هم د باطل او د کفر تله درنده سي او ډیروالئ یې یو څوک وغولوي او په حیرانتیا کې یې واچوي، ځکه د حق او پاکی پالونکي که لږ هم وي، خو دوی غوره او بر یالي دي، او د باطل او چټلې لښکرې که ډیرې هم وي؛ سر کوزي او خوار دي.

نو ګرانو دوستانو! دا مبارك آیت حق پالانو ته چې دوی خلک پر الله باندې ایمان راوړو ته رابولي؛ د ډاډ ګیرنې لوی ز یرئ او د تسلیت پیغام دئ، او ښایي دوی خپل دعوت په پوره اطمئنان سره په مخ یوسي او د باطل لښکرو ځواکمني دوی ونه و یروي او شا تک ته یې اړ نکړي!

{هغه پوښتنې چې پوهیدل یې په دین کې اړ ین نه وي روا ندي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی مومنان په دین کې د بې ځایه پوښتونو نه کلک منع کړي دي او دغسې پوښتنې یې د ایمان خلاف بللې دي، او په بیان کې فرمایلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَسۡـَٔلُواْ عَنۡ أَشۡيَآءَ إِن تُبۡدَ لَكُمۡ تَسُؤۡكُمۡ وَإِن تَسۡـَٔلُواْ عَنۡهَا حِينَ يُنَزَّلُ ٱلۡقُرۡءَانُ تُبۡدَ لَكُمۡ عَفَا ٱللَّهُ عَنۡهَاۗ وَٱللَّهُ غَفُورٌ حَلِيمٞ ١٠١ قَدۡ سَأَلَهَا قَوۡمٞ مِّن قَبۡلِكُمۡ ثُمَّ أَصۡبَحُواْ بِهَا كَٰفِرِينَ ١٠٢﴾

[١٠١] ای مومنانو![تاسې چې پر الله او د هغه پر کتاب (قرآن) او پر پیغمبر باندې ایمان راوړئ دئ او هغه منئ] نو د هغو پیښــو حکم نه چې لا تر اوســه ندي پیښې ســوې؛ پوښـتنه مکړئ، ځکه که چیرې تاسې ته د دغو پیښـو حکم [چې لا ندي پیښې ســوې] ښـکاره ســي، نو تاسې به خفه کړئ، او که تاسي د قرآن را نازلیدو په وخت کې پوښـتنې وکړئ، نو ځواب یې تاسې ته ښـکاره کیږي، خو الله ورځخه تیر ســوئ دئ [یعنی تاسې یې معاف کړي یاستئ] او الله ښـه ښـونکئ او ډیر حلیم او د لویې حوصـلې څښـتن دئ، یعنی نو کله چې یو څوک د الله حکم نه ســر وغړوي او ګناه وکړئ او بیا د زړه له کومي تو به و باسي الله یې بښي او سزا نه ورکوي.

[١٠٢] ای مومنانو! یقینا چې د ســتاسې نه پخوا یوه قوم [یعنی ځیني خلکو] دغسې پوښـتنې وکړې، خو بیا چې کله د خپلو پوښـتنو ځوابونو په حکمونو وګمارل سول، نو بیا ورځخه منکر او ور باندې کافران سول او د الله حکمونه یې ونه منل، نو تاســې ای مومنانو! پام کړئ چې د هغوی غوندې نسئ!

هو؛ ګرانو دوســتانو! ښــایي هر مومن بنده د الله تعالی حکمونو او لارښــودنو ته لاس په غوږ وي او د خپل پالونکي رب الله حکمونه ښــه واوري او عمل پرې وکړئ او هیڅ کله ځان په ډیرو او په بې ځایه پوښـتنو ستړئ نکړي، ځکه الله تعالی خپل بنده ګان ښه پیژني، نو د دوی د اړتیاوو سره سم یې سپارښتنې کړې دي.

{د کافرانو حکمونه د حلالو په حرامولو کې الله غندلي دي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی مشـرکانو ته د دوی د نیکونو نه پاتې هغـه دودونـه رد کړي او غنـدلي دي چې دوی پر خپلو ځـانو د ځیني اوښانو نه ګټه اخستل حرام کړي ول، او فرمایلي دي:

﴿مَا جَعَلَ ٱللَّهُ مِنۢ بَحِيرَةٍ وَلَا سَآئِبَةٍ وَلَا وَصِيلَةٍ وَلَا حَامٍ وَلَٰكِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يَفۡتَرُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَۖ وَأَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡقِلُونَ ١٠٣ وَإِذَا قِيلَ لَهُمۡ

تَعَالَوْا۟ إِلَىٰ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ وَإِلَى ٱلرَّسُولِ قَالُوا۟ حَسْبُنَا مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ ءَابَآءَنَآ ۚ أَوَلَوْ كَانَ ءَابَآؤُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ شَيْـًٔا وَلَا يَهْتَدُونَ ﴿١٠٤﴾

[١٠٣] د حلالو څارو يو نه؛ الله نه کم څاروئ بحيره کړځولئ دئ، نه سائبه، نه وصيله او نه حام، خو هغه کسان چې کافران سول؛ دوی الله پسې په درغو تور لږوي، ځکه د دغو کافرانو نه ډير کسان په هيڅ څه نه پوهيږي، يعنی د حلال او حرام او د روا او ناروا حکمونه يو بل نه بيلولای نسي، نو هغه دودونه چې دوی ته د حلالو څارو يو په حرامولو کې په ډول ډول پلمو سره د خپلو نيکونو نه پاتې دي؛ هغه ټول خوسې د دوی د هوسونو نه دي او هيڅ اعتبار نه لري، ځکه د الله حکمونه ندي!

قدرمنو دوستانو! د عر بانو مشرکانو ځينې څارو يو نه کټه اخستل په نامه ده [بحيره، حام، سايبه او وصيله] پر خپلو ځانو باندې حرام کړل او هغه يې ځينې بتانو ته نذرانه کړل، او بحيره دوی هغه اوښې بللې چې څو نسه بې وز يږول، نو بيا يې د هغې غوږونه د پيژندلو او يوې بلې نه د بيلتون په مقصد پيريکول او هغه يې همداسي خوسې کوله او هيڅ کټه يې ورڅخه نه اخستله، او سايبه: هغه اوښه وه چې بتانو ته يې نذرانه ورکوله، او وصيله هغه اوښه وه چې څو نسه پرله پسې يې ښځينه جونګی ز يږولي وه، او حام هغه اوښ وه چې د هغه شانه به څو اوښان ز يږ يدلي ول [يعنی هغه به د څو اوښانو پلار وه] او مشرکانو به د دغسې اوښانو نه د کټې اخستلو حرمت پر خپلو ځانو باندې الله ته منسو با وه، يعنی دا چې هغه الله پر دوی حرام کړي دي، نو ځکه الله تعالی د دوی دا دروغژن تور او شرکي دود کلک غندلئ او رسوا کړئ دئ.

او بيا الله تعالی په ور پسې مبارك آيت کې د مشرکانو ړوند تقليد د خپلو پلرونو او نيکونو نه ياد کړئ دئ، او فرمايلي دي:

[١٠٤] او دغو مشرکانو ته چې به کله وو يل سول؛ راسې هغه حکمونه او پر يکړې په حلالو او حرامو کې ومنی چې هغه الله را نازل کړلي دي، او پيغمبر ته راسئ چې حلال او حرام يې درته بيان کړي دي، نو دوی

به وو يل: هغه څه چې مونږ خپل پلرونه ور باندې موندلي دي [يعنی هغه څه چې د نيکونو نه را ته په ميراث پاتې دي] هغه مونږ ته بس دي، که څه هم د دوی پلرونه په هيڅ څه نه پوهيدل او نه حق ته سميدل! يعنی حلال او حرام يې نه پيژندل، نو څنګه به هوښيارانو د دغسې ناپوهو پلرونو او نيکونو پسې لاړ سي او د هغوی نه پاتې دودونو باندې به عمل وکړي؟ نو يقينا چې دا د ناپوهانو کار او پر دوی کې خور دود دئ!

عزتمنو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آيتونو کې د مشرکانو هغه ناروا دودونه په حلالو او حرامو کې چې هيڅ شرعي او عقلي دليل يې نه درلود او په دروغو يې الله ته نسبت کا وه؛ رد کړي دي، نو ځکه مونږ ته چې ځانونه مومنان بولو هيڅ کله روا نده چې خپل ناروا دودونه دين پورې وتپو او بيا کلک ور پورې ونښلو، ځکه پر مونږ فرض ده چې حلال او حرام د خپل دين نه چې هغه په قرآن او په احاديثو کې بيان سوي دي؛ واخلو، او هغه دود او رواج چې د الله تعالی حکمونو سره په ټکر کې ندئ او نه په ټولنه کې د چا پر حق باندې تيرئ بلل کيږي؛ هغه ومنو او ګټه ورڅخه واخلو، ځکه هغه روا دود دئ، نو په عمل کړو کې ور باندې څه ستونزه او ګناه نسته.

{د الله پر حکمونو عمل مومنان د کافر انو زيان نه ساتي}

او په ور پسې مبارک آيت کې مومنان الله تعالی ډاډمن کړي دي چې کله دوی د الله تعالی د دين پر حکمونو عمل وکړي، نو کافران دوی ته څه تاوان او زيان رسولای نسي، او فرمايلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ عَلَيۡكُمۡ أَنفُسَكُمۡۖ لَا يَضُرُّكُم مَّن ضَلَّ إِذَا ٱهۡتَدَيۡتُمۡۚ إِلَى ٱللَّهِ مَرۡجِعُكُمۡ جَمِيعٗا فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ١٠٥﴾

[١٠٥] ای مومنانو! پر تاسې باندې د خپلو ځانو ساتنه [او د الله تعالی حکمونو اطاعت] فرض دئ، او کله چې تاسې حق ته هدايت سوی، نو بيا هغه څوک چې د سې لارې نه ورک سوي دي؛ هغوی تاسي ته څه ز يان او تاوان رسولای نسي [يعنی دا ځکه چې تاسې د الله تعالی حکمونه

پر ځای کړي دي او الله د ر ښـــتينو مومنانو مل دئ] او ای مومنانو! تاسي ټول الله ته ورتلونکې ياستې، نو بيا الله تاسي د خپلو هغو کړنو نه چې په دنيا کې تاســې کړي دي خبروي، يعنی نو بيا هرچاته الله تعالی د خپلو ښو کړنو ثواب او د بدو کړنو سزا ورکوي.

قدرمنو دوستانو! الله تعالی پدې مبارك آيت کې مومنان د خپلو ځانو په اصــلاح کولو باندې په ټينګار ســره مامور کړي دي، نو ښــايي چې هر مومن بنده د الله تعالی پر حکمونو باندې په روا او ناروا کې؛ کلک ســي او پر سمه لار چې د حق لار ده وخوځيږي او د الله ټول حکمونه پرځای کړي او نور خلک ده هم ســمې لارې ته را و بولي او د ګمراهۍ نه دې کلک منع کړي، نو بيا چې څوک د سمې لارې نه ورک سه او کافر او فاسق سه؛ هغه مومنانو ته څه ز يان رسولای نسي.

ګرانو دوســتانو! ځينې کســان د دې مبارك آيت نه داســي پوهيږي چې مومنان پر امر بالمعروف او نهي عن المنکر باندې مکلف ندي، او هر څوک به خپل کار کوي، خو حقيقت داســې ندئ، ځکه الله تعالی په همدې مبارك آيت کې فرمايلي دي:[إذا اهتديتم] کله چې تاسې پر سمه لار چې الله ورته را بللي ياستۍ؛ روان سوی، يعني تاسې ای مومنانو! ښو کړنو ته دعوت او بلنه ورکړۍ او د بدو کړنو نه خلک منع کړۍ، نو د بدو کړنو نه د خلکو منع کول او ورته نصــيحت کړل؛ د هر مومنانو بنده رســالت او په ژوند کې لو يه دنده ده، ځکه دوی ســمې لارې ته چې هغه د الله حکمونه دي هدايت ســوي دي، لکه څنګه چې د پيغمبرﷺ لمړي خليفه ابو بکر صــديقرضي الله عنه نه علماوو روايت کړي دئ چې فرمايلي دي:(ای خلکو! تاســې دا آيت لولۍ، خو په هغه باندې به د خپل ځان په باره کې عمل نکړۍ، ځکه ما د رسول اللهﷺ نه اور يدلي دي چې وفرمايل: کله چې خلک يو بد کار وو يې او بيا هغه منع نکړي، نو ژر ده چې د الله عذاب پر دوی ټولو باندې را نازل سي) دا حديث امام ترمذي او نورو محدثيونو روايت کړئ دئ، خو که چيرې د فتنو داسي وخت او زمانه راغله چې هيڅ چا حق ته غوږ نه نيوه، نو بيا ده هر مومن بنده خپل ځان وساتي او د بل

چا پروا ده نکړي، لکه څنګه چې يې ځينې نښې په اوسني عصر کې په سترګو کيږي.

{په وصيت باندې د شاهدانو تيرول فرض دي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د مړ ينې يا د مرګ په وخت کې د مومن بنده پر وصيت باندې د شاهدۍ و يلو حکمونه او څه نور ضروري احکام مونږ ته ياد کړي او بيان کړي دي، او فرمايلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ شَهَٰدَةُ بَيۡنِكُمۡ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ ٱلۡمَوۡتُ حِينَ ٱلۡوَصِيَّةِ ٱثۡنَانِ ذَوَا عَدۡلٖ مِّنكُمۡ أَوۡ ءَاخَرَانِ مِنۡ غَيۡرِكُمۡ إِنۡ أَنتُمۡ ضَرَبۡتُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَأَصَٰبَتۡكُم مُّصِيبَةُ ٱلۡمَوۡتِۚ تَحۡبِسُونَهُمَا مِنۢ بَعۡدِ ٱلصَّلَوٰةِ فَيُقۡسِمَانِ بِٱللَّهِ إِنِ ٱرۡتَبۡتُمۡ لَا نَشۡتَرِي بِهِۦ ثَمَنٗا وَلَوۡ كَانَ ذَا قُرۡبَىٰ وَلَا نَكۡتُمُ شَهَٰدَةَ ٱللَّهِ إِنَّآ إِذٗا لَّمِنَ ٱلۡأٓثِمِينَ ١٠٦ فَإِنۡ عُثِرَ عَلَىٰٓ أَنَّهُمَا ٱسۡتَحَقَّآ إِثۡمٗا فَـَٔاخَرَانِ يَقُومَانِ مَقَامَهُمَا مِنَ ٱلَّذِينَ ٱسۡتَحَقَّ عَلَيۡهِمُ ٱلۡأَوۡلَيَٰنِ فَيُقۡسِمَانِ بِٱللَّهِ لَشَهَٰدَتُنَآ أَحَقُّ مِن شَهَٰدَتِهِمَا وَمَا ٱعۡتَدَيۡنَآ إِنَّآ إِذٗا لَّمِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ١٠٧ ذَٰلِكَ أَدۡنَىٰٓ أَن يَأۡتُواْ بِٱلشَّهَٰدَةِ عَلَىٰ وَجۡهِهَآ أَوۡ يَخَافُوٓاْ أَن تُرَدَّ أَيۡمَٰنُۢ بَعۡدَ أَيۡمَٰنِهِمۡۗ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَٱسۡمَعُواْۗ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡفَٰسِقِينَ ١٠٨﴾

[١٠٦] ای مومنانو! کله چې د ستاسې نه د يوچا د مړ ينې وخت راغئ [يعنې د مرګ نښې يې را ښکاره سوې] او دئ د کور نه بهر پردیسۍ وه او د مرګ دا مصيبت او و يې ورته ورسيده، نو پر خپل وصيت باندې ده د ستاسې نه ای مومنانو! او يا د ستاسې نه پرته د نورو خلکو نه[د کافرانو نه]دوه ښه عادل کسان [مومنان يا کافران چې ښه خلک وي او په دروغو تورن نه وي] شاهدان ونيسي، او که بيا چيرې تاسې پر دغو دوه شاهدانو باندې شکمن سوئ، نو د لمانځه نه وروسته دوی دواړه ودروی چې پر الله قسم وخوري او لوړه وکړی ووايي چې مونږ دا شاهدي په پيسو باندې نه خرڅوو، که څه

هم هغه د زمونږ خپلوان ول، او هغه دا چې مونږ د الله [په حکم او د هغه رضا لپاره خپله شاهدي] نه پټوو [او که مونږ خپله دا لوړه ماته کړه او شاهدي مو خرڅه کړه] نو بیا به مونږ د ګناه ګارانو نه یو!

[١٠٧] نو که بیا چیرې [د دغسې لوړو او قسمونو نه وروسته؛ د دوی په شاهدۍ کې داسې څه پیدا سول، لکه چې دوی ځانونه ګناه ګار کړي دي [یعنی خیانت یې کړئ دئ] نو بیا ده دوه کسان د مړي خپلوانو نه د دغو شاهدانو پرځای ودر یږي او د الله په نامه ده لوړه وکړي او په خپله لوړه کې ده ووایي: د زمونږ شاهدي د دغو شاهدانو شاهدي نه ښه پر حق او ر یښتیا سره ده، او مونږ په خپله شاهدۍ کې د حق نه تیرئ نکړو او که بیا مونږ تیرئ وکه، نو بیا به مونږ یقینا د ظالمانو نه یو، یعنی د الله د دین حدود او پولې به مونږ د پښو لاندې کړې وي!

[١٠٨] او هغه د دې لپاره [چې د دغسې قانوني کړنو جاري کول پر دغو شاهدانو باندې د شکمن کیدو په وخت کې] ډیر غوره او مناسب کار دئ، ترڅو شاهدان په ر یښتیا سره شاهدي ووایي او لدې نه وو یر یږي چې د دوی د دروغو لوړې او قسمونه یو بل پسې رد نسي، او ای مومنانو! د الله نه وو یر یږئ [یعنی دغه پر سمه لار د تګ نصیحتونه واورئ او پدې پوه سئ چې] د الله حکم او اطاعت نه وتلې ډله (فاسقان) الله حق لارې ته نه سموي، یعنی دوی ته د حق پر لار الله د تګ توفیق نه ورکوي.

ګرانو دوستانو! د الله تعالی دغه قرآني لارښودنې چې په وصیت باندې د شاهدانو تیرولو په باره کې دی؛ هغه ډیرې ارزښتناکه لارښودنې دي، نو ښایي چې مونږ مومنان خپل ځانونه ور باندې ښه پوه کړو او عمل پرې وکړو، ترڅو د هرچا حقوق وساتل سي او د هر ډول خپل منځي خفتیان او شخړو او دعواګانو نه ځانونه کلک وساتو.

{د عیسی علیه السلام د پیغمبرۍ معجزو بیان او یادښت}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی مونږ د قیامت ورځې هغې

اوږدې مرکې نـه خبر کړي یو چې د خپلو ټولو پیغمبرانو پـه مخ کې یې د عیسی علیه السلام سـره کړي او هغه معجزې ور په یادوي چې د عیسی علیه السلام نبوت تصدیق یې کا وه، او په پیل کې یې فرمایلي دي:

﴿* يَوْمَ يَجْمَعُ ٱللَّهُ ٱلرُّسُلَ فَيَقُولُ مَاذَآ أُجِبْتُمْ ۖ قَالُوا۟ لَا عِلْمَ لَنَآ ۖ إِنَّكَ أَنتَ عَلَّٰمُ ٱلْغُيُوبِ ﴿١٠٩﴾ إِذْ قَالَ ٱللَّهُ يَٰعِيسَى ٱبْنَ مَرْيَمَ ٱذْكُرْ نِعْمَتِى عَلَيْكَ وَعَلَىٰ وَٰلِدَتِكَ إِذْ أَيَّدتُّكَ بِرُوحِ ٱلْقُدُسِ تُكَلِّمُ ٱلنَّاسَ فِى ٱلْمَهْدِ وَكَهْلًا ۖ وَإِذْ عَلَّمْتُكَ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْحِكْمَةَ وَٱلتَّوْرَىٰةَ وَٱلْإِنجِيلَ ۖ وَإِذْ تَخْلُقُ مِنَ ٱلطِّينِ كَهَيْـَٔةِ ٱلطَّيْرِ بِإِذْنِى فَتَنفُخُ فِيهَا فَتَكُونُ طَيْرًۢا بِإِذْنِى ۖ وَتُبْرِئُ ٱلْأَكْمَهَ وَٱلْأَبْرَصَ بِإِذْنِى ۖ وَإِذْ تُخْرِجُ ٱلْمَوْتَىٰ بِإِذْنِى ۖ وَإِذْ كَفَفْتُ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ عَنكَ إِذْ جِئْتَهُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ فَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِنْهُمْ إِنْ هَٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴿١١٠﴾﴾

[١٠٩] [ای خلکو! هغه ورځ چې د قیامت ورځ ده را په یاد کړی] کله چې په هغه ورځ الله ټول پیغمبران راټولوي [او د هغوی نه د دوی د امتونو په باره کې پوښتنې کړي] او پیغمبرانو ته الله وایي چې د ستاسې د دعوت او را بلنې منه څنګه او په څه وسوه؟ [یعنی د ستاسې ولسونو څه درسره وکړل؟ نو بیا پیغمبران په ځواب کې وایي: مونږ نه پوهیږو! او یقینا چې ته ای لو یه ر به پر ټولو پټو شیانو باندې ښه علم لري او پرې پوهیږي.

[١١٠] هو! کله چې د قیامت په ورځ عیسی بن مر یم ته الله وو یل: ای عیسی! د زما نعمتونه او پیرزو یني پر تا او د ستا پر مور باندې را په یاد کړه، کله چې مونږ د پاک روح (جبرئیل امین) په لاس د ستا مرسته وکړه! او تا په ځانګو کې او بیا ده په پاخه عمر کې خلکو سره خبرې وکړې، او کله چې ته بیا را لوی سوې د خلکو سره ده خبري وکړې [یعنی تا دوی د الله عبادت ته را و بلل] او تاته ما کتاب او حکمت، انجیل او توارت درزده کړل [یعنی عیسی علیه السلام ته الله تعالی لیک او لوست او پخه پوهه او هوښیاري د الله دین ته د دعوت په لار کې ورزده کړي وه] او ای عیسی!

هغه وخت هم را په یاد کړه، کله چې تا زما په حکم د خټې نه د مرغه څیره جوړه کړه، نو بیا هغه تا پوه کړه او هغه د زما په حکم مرغه وګرځیده، او تا ای عیسی! د زما په اجازه لوړند او پیس ناروغ جوړا وه، او د زما په حکم به تا مړي د ګورونو نه راو یستل او را ژوندي کول به ده [یعنی ای عیسی! د زما هغه نعمت او ورکړه پر خپل ځان باندې را په یاد کړه کله چې] د بني اسرائیلو مخه ما د ستا نه ونیوله [یعنی دوی غوښتل چې تا مړ کړي] ځکه ته دوی ته د معجزو ســره راغلي [یعنی نو بیا تا دوی خپلې پیغمبري ته را و بلل او دعوت ده کړل] نو بیا هغو کســانو چې کافران ســول وو یل: دا [یعنی د عیســی په لاس کې نښــي او معجزې] ټولې کودې دي، یعنی دا چې هغه د عیسی علیه السلام پیغمبرۍ د تصدیق معجزي او دلیلونه ندي!

او په ور پســې مبارکو آیتونو کې همداســې الله تعالی خپله اوږده مرکه د عیسی علیه السلام سره مونږ ته یاده کړې او بیان کړې ده، او فرمایلی دي:

﴿وَإِذْ أَوْحَيْتُ إِلَى ٱلْحَوَارِيِّـۧنَ أَنْ ءَامِنُوا۟ بِى وَبِرَسُولِى قَالُوٓا۟ ءَامَنَّا وَٱشْهَدْ بِأَنَّنَا مُسْلِمُونَ ﴿١١١﴾ إِذْ قَالَ ٱلْحَوَارِيُّونَ يَٰعِيسَى ٱبْنَ مَرْيَمَ هَلْ يَسْتَطِيعُ رَبُّكَ أَن يُنَزِّلَ عَلَيْنَا مَآئِدَةً مِّنَ ٱلسَّمَآءِ ۖ قَالَ ٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١١٢﴾ قَالُوا۟ نُرِيدُ أَن نَّأْكُلَ مِنْهَا وَتَطْمَئِنَّ قُلُوبُنَا وَنَعْلَمَ أَن قَدْ صَدَقْتَنَا وَنَكُونَ عَلَيْهَا مِنَ ٱلشَّٰهِدِينَ ﴿١١٣﴾ قَالَ عِيسَى ٱبْنُ مَرْيَمَ ٱللَّهُمَّ رَبَّنَآ أَنزِلْ عَلَيْنَا مَآئِدَةً مِّنَ ٱلسَّمَآءِ تَكُونُ لَنَا عِيدًا لِّأَوَّلِنَا وَءَاخِرِنَا وَءَايَةً مِّنكَ ۖ وَٱرْزُقْنَا وَأَنتَ خَيْرُ ٱلرَّٰزِقِينَ ﴿١١٤﴾ قَالَ ٱللَّهُ إِنِّى مُنَزِّلُهَا عَلَيْكُمْ ۖ فَمَن يَكْفُرْ بَعْدُ مِنكُمْ فَإِنِّىٓ أُعَذِّبُهُۥ عَذَابًا لَّآ أُعَذِّبُهُۥٓ أَحَدًا مِّنَ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١١٥﴾﴾

[۱۱۱] [او ای عیسی! هغه وخت هم را په یاد کړه] کله چې ما د ستا ځانګړو ملګرو (حوار یونو) ته پټ خبر ورکه [یعنی د دوی نه ما په وحی پې سره وغوښتل] چې تاسې پر ما او د زما پر پیغمبر ایمان راوړی، نو بیا دوی [په ځواب کې را ته] وو یل: مونږ ایمان راوړ او ته [ای د زمونږ لو یه

خدایه!] شاهد اوسه چې مونږ یقینا مسلمانان یو.

[١١٢] [او ای عیسی! هغه وخت هم را په یاد کړه] کله چې دغو ملګرو ده تاته وو یل: ای عیسی د مر یم زو یه! آیا د ستا رب او لوی څښتن کولای سي چې مونږ ته د اسمان نه تیار خوړا او د ډوډۍ نه ډک دسترخوان را کوز کړې؟ نو بیا عیسی دوی ته په ځواب کې وو یل: که تاسي ای ملګرو! مومنان یاستی؟ نو د الله نه وو یر یږی، یعنی دغسي غوښتنې د الله تعالی نه مکړی، ځکه نه چې د ستاسې پیټۍ درونده سي!

قدرمنو دوستانو! د پام وړ ده چې د المائدې سورې نوم د همدې آیت نه اخستل سوئ دئ، او د المائده معنا په فارسي او په پښتو کې دسترخوان ده چې پکې ډوډۍ ایښودل کیږي.

[١١٣] او بیا دغو حوار یونو وو یل: مونږ غواړو چې پدې دسترخوان کې تیاره ډوډۍ وخورو او د زمونږ زړونه ولږ یږي او ډا ډه سي او پدې پوه سو چې تا ای عیسی مونږ ته ر یښتیا و یلي دي او بیا مونږ د ستا پر صداقت باندې چې ته د الله نه را لیږل سوئ پیغمبر یې شاهدان سو.

[١١٤] نو بیا عیسی بن مر یم دعاء وکړه او و یو یل: ای د زمونږ لو یه خدایه! پر مونږ باندې د تیارې ډوډۍ دسترخوان د اسمان نه را کوز کړه او هغه به د زمونږ لپاره او د زمونږ را تلونکو لپاره د اختر ورځ وي [یعنی هر کال به یې پالو] او هم به [دا د اسمان نه د ستا را کوز سوئ دسترخوان ای لو یه څښتنه! د زما پیغمبرۍ د تصدیق معجزه وي، او ای لو یه ر به! مونږ ته روزي را کړه، ځکه ته ښه روزي ورکونکئ او پالونکئ لوی ذات یې!

[١١٥] [او بیا د عیسی علیه السلام دعاء قبوله سوه، او په ځواب کې یې] الله وو یل: هو! زه په یقین سره دغه د ډوډۍ نه ډک دسترخوان پر تاسې باندې ای د عیسی ملګرو! را کوزوم، خو که بیا د ستاسې نه څوک کافر سه، نو بیا به یقینا چې زه هغه ته داسي سزا ورکړم چې هغسې سزا ما د ټولو خلکو نه هیڅ چا ته نده ورکړې!

ګرانو دوستانو! الله تعالی خپله وعده د عیسی علیه السلام سره پوره کړه، او

د الله تعالى ميلمه پالنې نه ډک دسترخوان يې ورته د اسمان نه را کوز که، او د عيسى پيغمبرى د تصديق لو يه معجزه را ښکاره او ثابته سوه، خو د هغه قوم نه ځينې کسانو کبر وکه او د دغې لويې پيرزو ينې شکريې ونه و يست او کافران سول، نو بيا الله تعالى دوى ته کلکه سزا ورکړه او دوى مسخ سول او بيزوکان ورڅخه جوړ سول.

عزتمنو دوستانو! عيسى عليه السلام سره د الله تعالى د اوږدې مركې دا قصه د المائدې سورې؛ هغه لو يه د پام وړ قصه ده چې دا مبارکه سوره ور باندې نومول سوئ ده، نو ښايي چې هغه هر مومن ته تل پاتې زدکړه وي او ورڅخه ښه عبرت او ګټه واخلي.

{عيسى عليه السلام د هيڅ چا نه ندي غوښتي چې دئ او موريې خدايان ونيسي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د عيسى عليه السلام براءت د خپلې خدايي نه اعلان کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿وَإِذْ قَالَ ٱللَّهُ يَٰعِيسَى ٱبْنَ مَرْيَمَ ءَأَنتَ قُلْتَ لِلنَّاسِ ٱتَّخِذُونِي وَأُمِّيَ إِلَٰهَيْنِ مِن دُونِ ٱللَّهِ ۖ قَالَ سُبْحَٰنَكَ مَا يَكُونُ لِيٓ أَنْ أَقُولَ مَا لَيْسَ لِي بِحَقٍّ ۚ إِن كُنتُ قُلْتُهُۥ فَقَدْ عَلِمْتَهُۥ ۚ تَعْلَمُ مَا فِي نَفْسِي وَلَآ أَعْلَمُ مَا فِي نَفْسِكَ ۚ إِنَّكَ أَنتَ عَلَّٰمُ ٱلْغُيُوبِ ﴿١١٦﴾ مَا قُلْتُ لَهُمْ إِلَّا مَآ أَمَرْتَنِي بِهِۦٓ أَنِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ رَبِّي وَرَبَّكُمْ ۚ وَكُنتُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا مَّا دُمْتُ فِيهِمْ ۖ فَلَمَّا تَوَفَّيْتَنِي كُنتَ أَنتَ ٱلرَّقِيبَ عَلَيْهِمْ ۚ وَأَنتَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ ﴿١١٧﴾﴾

[١١٦] اى خلكو! او هغه وخت را په ياد كړى [كله چې الله تعالى د قيامت په ورځ عيسى عليه السلام ته] وايي: اى عيسى د مر يم زو يه! آيا تا خلكو ته وو يل چې ما او د زما مور (مر يم) دواړه د الله نه پرته خدايان ونيسى؟ نو عيسى په ځواب کې ورته وو يل: اى لو يه خدايه! ته چې د هر تور نه پاک يې! ما ته لائق نه وه چې زه داسې يو څه ووايم چې هغه د زما حق ندئ،

او که ما دغسې څه و يلي وي، نو ته به ای ر به! ور باندې پوه سوئ وي، ځکه ته د زما په زړه پوهيږي او زه په هغه څه چې د ستا په نفس کې دي نه پوهيږم، او يقينا چې ته ای لو يه ځښتنه! په غيبو او په ټولو پټو شيانو باندې ښه پوهيږي، يعنې ته ای لو يه ر به! په هرڅه ښه پوخ علم لرې!

[۱۱۷] او ای د زما لو يه ر به! ما دوی ته پرته د هغه څه نه چې تا ما ته امر کړئ دئ؛ بل څه ندي و يلي او هغه دا چې ای خلکو! د الله چې د زما او ستاسې ټولو رب او ځښتن دئ؛ عبادت او بنده کې وکړئ، او دا [بلنه ما] تر هغې ورځې پورې چې زه د دوی سره وم او پر دوی باندې شاهد او څارن وم ورکوله، خو بيا چې کله تا زما اجل او د ټاکل سوي ژوند نيټه پر ځمکه پوره کړه [يعنی بيا ده زه د ځمکې نه پورته کړم] نو بيا يوازې ته ای ر به! پر دوی څارن وي او ته ای لو يه خدايه! په هر څه شاهد يي او هر څه و يې، يعنی د ستا نه ای لو يه ر به! هيڅ څه شئ پټ ندي.

{عيسی عليه السلام د خپلو پلو يانو سزا االله ته سپارلې ده}

او بيا الله تعالی په ور پسې مبارکو آيتونو کې مونږ ته د عيسی عليه السلام موقف او در يځ د خپل امت سرکښانو ته د سزا ورکولو په باره کې ياد کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿إِن تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ ۖ وَإِن تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنتَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿١١٨﴾ قَالَ ٱللَّهُ هَٰذَا يَوْمُ يَنفَعُ ٱلصَّٰدِقِينَ صِدْقُهُمْ ۚ لَهُمْ جَنَّٰتٌ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا ۖ رَّضِىَ ٱللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا۟ عَنْهُ ۚ ذَٰلِكَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ ﴿١١٩﴾ لِلَّهِ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا فِيهِنَّ ۚ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٢٠﴾﴾

[۱۱۸] [ای لوه خدايه!] که ته دغو کافرانو ته سزا ورکړې، نو دوی د ستا بنده ګان دي [يعنی دا چې ته د دوی حال نه ښه خبر يې، نو ځنګه چې د ستا خوښه وي هغسې کړلای سي] او که ته دوی و بښې، نو يقينا چې ته ښه ځواکمن او لوی حکيم پالونکئ ذات يې، يعنی الله تعالی د هر کار او د هرې کړنې واک او زور لري او په پوره حکمت او په پاخه تدبير سره چې

څه غواړې هغـــې کړې، او هیڅ څوک د الله تعالی زور نه لري! یعنی ټول خلک د الله لوی قدرت واک لاندې دي.

قدرمنو دوستانو! د الله تعالی دین ته را بلونکو استازو پیغمبرانو ټولو دغـې خوی وه او دوی د لوېې ښـنې او عفوې څښـتن ول، لکه څنګه چې قرآن کـر یم او د اســلام پیغمبر ﷺ ســنت او ســیرت ور باندې ځلانده شـاهدان دي، نو ښـایي وارثان یې د دوی پر پله لاړ سي او د دین دښـمنان پر الله وسـپاري او هیڅ کله هغوی ته د شـر یعت خلاف سـزا ونه غواړي، بلکې تل د عفوې غوښـتونکي سي!

[١١٩] نو بیا الله وو یل: هو! دا هغه یوه ورځ ده چې ر یښـتیاو یونکو ته د دوی صـداقت او ر یښـتیا ګټه رســوي او دوی ته داســې جنتونه او باغونه تیار ســوي دي چې د خوږو او بو پاکې و یالې پکې بهیږي او دوی به هلته تل اوســیږي او د الله نعمتونو نه به خوند اخلي او الله د دوی نه راضــي او خوښ دئ او دوی د الله نه راضــي او خوښ دي، او هغه ډیره لو یه بر یا، سر لوړي او عزت دئ.

[١٢٠] هو! د اســمانو او ځمکې او په دواړو کې پرتو ټولو مخلوقاتو واکمني د الله سره ده، او الله پکې ټولواک دئ، او الله په هرڅه قادر لوی ذات دئ، یعنی د هرڅه وسعه لري، او څه چې وغواړي هغـې کړلای سي.

قـدرمنو وروڼو او خو یندو! الله تعـالی په دغو مبـارکو آیتونو کې د عیسی علیه السلام قاطع او څرګند در یځ د خپلې خدایي په باره کې مونږ ته بیان کړئ دئ، ځکه پلو یان یې (نصارا) عیسی او مور یې مر یم علیهما السلام دواړه تر نن ورځې پورې خدایان بولي او د الله تعالی ســره یې په خدایي او عبادت کې [العیاذ بالله] شـر یکوي! نو د دغـې بې بنسـټه خامې عقیدې ردول په قرآن کې د الله تعالی او د عیسی علیه السلام په ګډه مرکه او بحث کې ډیر اړ ین او ګټور بیان ســوئ دئ، نو دین پوهانو دعوتګرو علماوو ته ښـایي چې دغه اســماني حقیقت دغو نصــاراوو ته ورســوي او هغه ورته ښــه روښـانه بیان کړي، ځکه دوی تل غلط پوه ســوي دي، او پر حق ســره د الله نه راغلي اســماني کتابونه دوی ته؛ تحر یف ســوي او بدل ســوي وړاندې سوي او رسیدلي دي!

درندو دوستانو! دا وه د المائدې مبارکې سورې لارښودو آیتونو پښتو

معنا ســره د لنډ تفســير، نو هيله ده چې کران لوســتونکې ورځخه کتې واخلې او په ډير ژور فکر ســره هغه ولولي او عمل پرې وکړې او بيا هر څوک په خپله وسعه هغه نورو خلکو ته ورسوي او ورزده يې کړي او دوی ور باندې وروزي، ترڅو يې د دنيا او د آخرت ورځې نيکمرغي په برخه سي.

والحمد لله رب العالمين الذي بنعمته تتم الصــالحات وصــلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله وأصحابه أجمعين.

سبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت أستغفرك وأتوب إليك.



د الأنعام سورې پښتو معنا او لنډ تفسير

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالى په نامه چې د لوی رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پيل کيږي]

{د الانعام سورې لنډه پيژندنه او لوړ مقصدونه}

قدرمنو دوستانو! د الانعام مبارکه سوره مکي سوره ده او په يوځل سره را نازله سوئ ده، او د دې مبارکې سورې د فضليت او لوړ مقام په باره کې روايت سوئ دئ چې د الأنعام سورې را نازيدلو نه د فرښتو لوبي ورا په تکبير و يلو او تسبيحاتو سره هرکلئ کا وه او ورسره ملګري وي، ځکه الله تعالى پدې مبارکه سوره کې خپل عظمت او لو يتيا پر ځمکه او اسمانو کې مونږ ته يادە کړې او بيان کړې ده، خو د دې سره سره د مکې مشرکانو چې د کينو او سر زورۍ ليونتوب په سر اخستې ول؛ د حق منلو نه يې سرغړونه وکړه، نو الله تعالى پدې مبارکه سوره کې د دوی د کينو نه ډک ناحقه دليلونه رسول اللهﷺ ته په و ينا او ورسره په مرکه کې په ډير وضاحت او رونټيا سره رد کړي دي، نو ځکه ځينې علماوو د الانعام سورې ته د مشرکانو او نورو کينه کښو ډلو سره د بحثونو، مرکو او د دوی باطلو خبرو او و يناوو د غندلو او ردولو سورې نوم ورکړئ دئ، نو ښايي چې د الأنعام سورې آيتونو معنا د ښې پوهې لپاره؛ د مکي دورې اړوند سيرت النبيﷺ روايتونو سره يوځای په ډير ژور فکر سره ولوستل سي، ترڅو يې په رڼا کې د هر آيت معنا ښه روښانه سي او لوستونکي ورڅخه ګټه واخلي او د ګوابنونو نه يې ځانونه په کلکه سره وساتي.

درنډو دوستانو! د الانعام په مبارکه سوره کې د (١٣٦) آيت نه تر(١٤٤) آيته پورې د مکي کافرانو شرکي دوديز باورونه او عقيده د ځينې ځارو يو په اړه؛ غندل سوي ده، ځکه مشرکانو به ځينې ځاروي خپله برخه او ځينې نور بې خپلو خدايانو ته نذرا نه ورکول، او د ځارو يو په

حلالو او حرامو کې بې د خپل ځان نه حکمونه کړل او هغه بې پر برخو و يشل، سره لدې چې د حلالو او حرامو حکمونو واکمن يوازې الله دئ، او الله تعالى ټول څاروي د زمونږ کټې لپاره پيدا کړي دي، لکه څنګه چې دا مبارکه سوره په (الأنعام) نومول سوې ده، او معنا يې څاروي ده، لکه: اوښان، غوايي، ميږې او وزې چې هغه ټول الله زمونږ لپاره پيدا کړي دي او مونږ ورڅخه ډول ډول کټې اخلو، يعنى پر ځينو څارو يو خپل پيټي بارکړې وړو، او د شودو او غوښونه يې کته اخلو، خو د بده مرغه د الله تعالى د دغو لو يو نعمتونو نه چې هغه يې مونږ ته را کړي دي؛ شکر نه باسو او پر حق سره د خپل پالونکي څښتن الله تعالى حکمونو باندې عمل نکړو او نه ورته کلک پام او توجه کړو!

{د الله تعالى ستاينه پرټولو خلکو باندې فرض ده}

ګرانو عز يزانو! الله تعالى د الأنعام سورې په پيل کې خپله لو يتيا او واکمني پر ځمکه او په اسمانو کې ستايلې ده او د هغې پر وړاندې يې د کافرانو سرکښي غندلې ده، او مقصد يې دا دئ چې نړۍ مومنان خپل لوى رب الله ښه و پيژني، او بيا الله تعالى هغسې وستايي چې د هغه لوى مقام سره لائق ده، نه لکه مشرکان چې الله (العياذ بالله) خپلو ځانو ته ورته ګڼي، نو بيا يې همغسې ستايي، او په بيان کې الله تعالى فرمايلي دي:

﴿ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَجَعَلَ ٱلظُّلُمَٰتِ وَٱلنُّورَ ۖ ثُمَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِرَبِّهِمْ يَعْدِلُونَ ﴿١﴾ هُوَ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن طِينٍ ثُمَّ قَضَىٰٓ أَجَلًا ۖ وَأَجَلٌ مُّسَمًّى عِندَهُۥ ۖ ثُمَّ أَنتُمْ تَمْتَرُونَ ﴿٢﴾ وَهُوَ ٱللَّهُ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَفِى ٱلْأَرْضِ يَعْلَمُ سِرَّكُمْ وَجَهْرَكُمْ وَيَعْلَمُ مَا تَكْسِبُونَ ﴿٣﴾﴾

[١] هو! ټوله ستاينه الله لره ده [او دا ځکه چې الله تعالى د ټولو کمالي او پوره والي صفتونو څښتن او پالونکئ ذات دئ، او پر مونږ باندې يې خپل ټول نعمتونه او ورکړې پيرزو کړې دي] هو! الله هغه څوک دئ چې اسمانونه او ځمکه يې پيدا کړل، او تيارې او رنا يې پکې وغوړوله [يعني

د شپې تياره او د ورځې رڼا چې يوه بلې پسې راځي؛ د الله تعالى د قدرتونو لو يه نښـه ده] او هغه کسـان چې پر خپل رب الله باندې کافران سـول او د الله توحيد نه منکر سـول؛ دوی بتان د الله سـره برابروي، يعنی بتان د الله سـره په عبادت او بنده ګي کې ګډوي او هغه لکه الله خدايان بولي، نو يقينا چې مشرکان کافران دي او د حق نه منکر دي.

[٢] ای خلکو! او االله هغه څوک دئ [يعنی هغه لوی پالونکئ ذات دئ] چې تاسې يې د خټې نه پيدا کړی [يعنی د ټولو انسانانو پلار (آدمعليه السلام) الله تعالى د خټې نه پيدا کـه او تاسـې ټول ای خلکو! د آدمعليه السلام کهول ياسـتی] او بيا الله په دنيا کې هرچا ته د ژوند نيټه وټاکله، او د قيامت ورځې راتګ نيټه هم د الله سـره نومول سـوې او ټاکل سـوې ده [يعنی د هرچا ژوند نيټه او کلونه په دنيا کې ټاکل سـوي دي، او د قيامت ورځې راتګ علم يوازې د الله تعالى سره دئ، بل هيڅ څوک ور باندې نه پوهيږي] خو تاسې ای خلکو! د الله قدرتونو د دغو لو يو لو يو نښانو سره سره بيا هم د قيامت ورځې په راتګ کې شـک کړی، يعنی د قيامت ورځې په راتګ کې شـکمن ياسـتی او هغه نه منی! حال دا چې قيامت حق دئ او په هغه ورځ ټول مړي بيرته حساب ورکولو ته را ژوندي کيږي او د الله تعالى په حضور کې درول کيږي او الله تعالى د ټولو نه حساب اخلي.

[٣] [هو؛ ای خلکو! پر ځمکه او په اسـمانو ټولو کې په حق سـره د عبادت او بنده ګی يواز ينئ لائق او مسـتحق خدای الله دئ، او الله سـتاسې د زړونو په پټو او ښکاره ټولو باندې پوهيږي، او هرڅه چې تاسې کړی؛ الله ور باندې پوره علم لري، يعنی الله تعالى بيا هرچا ته په آخرت کې د هغه لائق ثواب او سـزا ورکوي، او يقينا چې د دې مبارک آيت معنا او مقصـد د الزخرف سـورې ٨٤ آيت غوندې دئ چې په هغه کې الله تعالى فرمايلي دي:" وهو الذي في السماء إله وفي الأرض إله وهو الحكيم العليم" او الله يوازنئ معبود دئ چې په اسـمان کې يې فرښـتې او پر ځکمه يې انسانان او پيريان په حق سره عبادت او بنده ګي کړي، او الله لوی حکيم او ښـه پوه ذات دئ، نو دا مبارک آيتونه هيڅ کله د هغو آيتونو سـره په

ټکر او تضاد کې ندي چې الله تعالى ته د علو او لوړتيا صفت ثابتوي، ځکه د الله تعالى علم او قدرت پر ټولو مخلوقاتو باندې را ګرد دئ.

{کافران د الله لو يو قدرتونو نښونه مخ اړوي اوحق نه مني}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى مومنان د کافرانو بدو خو يونو او کړنو نه خبر کړي دي، او فرمايلي دي:

﴿وَمَا تَأْتِيهِم مِّنْ ءَايَةٍ مِّنْ ءَايَٰتِ رَبِّهِمْ إِلَّا كَانُوا۟ عَنْهَا مُعْرِضِينَ ﴿٤﴾ فَقَدْ كَذَّبُوا۟ بِٱلْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ فَسَوْفَ يَأْتِيهِمْ أَنۢبَٰٓؤُا۟ مَا كَانُوا۟ بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ ﴿٥﴾ أَلَمْ يَرَوْا۟ كَمْ أَهْلَكْنَا مِن قَبْلِهِم مِّن قَرْنٍ مَّكَّنَّٰهُمْ فِى ٱلْأَرْضِ مَا لَمْ نُمَكِّن لَّكُمْ وَأَرْسَلْنَا ٱلسَّمَآءَ عَلَيْهِم مِّدْرَارًا وَجَعَلْنَا ٱلْأَنْهَٰرَ تَجْرِى مِن تَحْتِهِمْ فَأَهْلَكْنَٰهُم بِذُنُوبِهِمْ وَأَنشَأْنَا مِنۢ بَعْدِهِمْ قَرْنًا ءَاخَرِينَ ﴿٦﴾﴾

[٤] او دغو کافرانو ته [يعنى د مکې مشرکان ته] د دوى د پالونکې خښتن الله لخوا د هغو لو يو قدرتونو د نښانو نه هيڅ کمه نښه او دليل نه راځي، مګر دا چې دوى د هغې نښې نه مخ اړوي او هغه نې مني، يعنى د مکې کافرانو د خپل پيدا کونکي او پالونکي لوى خښتن سره داسې دښمنى کړه چې د الله تعالى د قدرتونو نښانې او دوى ته د الله را ليږل سوي کتاب قرآن هر دليل پې غانده او سرغړونه پې ورڅخه کړه.

[٥] نو کله چې دغو کافرانو ته حق راغئ؛ دوى هغه دروغ و باله [يعنى د مکې مشرکانو د رسول الله ﷺ پيغمبري ونه منله) نو ډير ژر به دوى ته د هغه څه خبرونه راسي چې دوى پې سپکا وئ کا وه، او بيا به پوه سي چې هغه حق ول، يعنى د قيامت ورځ به چې کافرانو نه منله ژر راسي او کافرانو ته به الله د دوى د کفر او حق پر وړاندې د سپکاوي سزا ورکړي.

او بيا په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالى خلک د تار يخ نه پند اخستلو ته را بللي دي، او فرمايلي دي:

[٦] او آيا دغو كافرانو [چې د حق نه منكر سول او د محمدﷺ پيغمبري يې ونه منله] ونه ليدل چې د دوى نه يوه پيړۍ مخكې مونږ څومره ولسونه له منځه يوړل [يعنى ټول تباه او هلاک سول] حال دا چې هغوى ته مونږ پر ځمكه داسې واكمني وركړه چې هغسې واكمني مونږ تاسې ته [اى د مكې كافرانو] لا نده دركړې! او پرله پسې نعمتونه پر هغوى باندې مونږ د اسمان نه راوورول، او د او بو و يالې د دوى د كورونو لاندې مونږ جاري كړې [يعنى او به يې وهيدلې، خو كله چې دوى د الله وركړو نه منكر سول او پيغمبران يې ونه منل] نو بيا دوى ته مونږ د دوى د ګناه سزا وركړه او دوى مونږ هلاك كړل، او بيا دوى پسې وروسته مونږ نور ولسونه پيدا كړل، يعنى دا چې دغه نوي ولسونه د پخوانيو سركښو كافرانو ځاى ناستي سول!

درندو دوستانو! هو؛ الله تعالى دا ټوله نړۍ پيدا كړې ده او هغه يې د واک لاندې ده، او الله پكې هرڅه كړلای سي، نو هرڅوک چې د الله حكم او فرمان نه سرغړونه وكړي او د الله تعالى استازي پيغمبران او كتابونه ونه مني، نو بيا دوى الله تعالى د ټاكل سوي وخته پورې پر يږدې او په ازمايښت كې يې اچوي، خو كه بيا هم تو به ونه باسي او د الله بنده ګى ته تسليم نسي، نو بيا الله تعالى دوى تباه كوي او له منځه يې وړي او پر ځاى يې نور داسې خلک را ولي چې په اخلاص سره د الله بنده ګي كړي.

هو! يقينا چې دا د الله تعالى هغه تل پاتې سنت او قانون دئ چې ټوله نړۍ ور باندې چليږي او د الله پدې قانون كې هيڅ بدلون نه را ځي، او كه څوک غواړي چې ښادي او بر يا يې پر برخه سي، نو خپل پالونكي څښتن ته ده د اطاعت او بنده ګى سر په اخلاص سره ټيټ كړي او د الله تعالى حكمونه ده ومني، كنه نو بيا به دئ همداسې په پرله پسې ناور ين او لوى ازمايښت كې اوړي را اوړي، لكه د اوسنۍ اسلامي نړۍ ځينې جنګ ځپلي ولسونه چې د لوى ازمايښت سره مخامخ دي او د دوى ځينې خو دا لسهاوو كلونه كيږي چې د جګړو اور په سرو لمبو كې كړ يږي، لكه افغانستان، عراق، سور يه، صومالیا، ليبيا او يمن، چې دا دئ اوس اوس په ځينو كې جګړو

پای موندلۍ دئ، لکه افغاتسـتان او عراق، نو دعا کړو چې الله تعالی دوی ټولو ته د توبې و یسـتلو توفیق په ر یښـتیا سـره ورکړي، ترڅو د دې لوی ازمایښـت نه خلاص سـي، لکه څنګه چې الحمدلله د افغانسـتان نه د جګړې عوامل چې بهرنۍ ښـکیلاک وه؛ لرې سـوي دي، نو الله تعالی ده دا آزادي او امنیت تل پاتې وګرځوي او د اسـلامي نظام په سـوري کې ده؛ تل پاتې نیکمرغي د افغانانو په برخه کړي.

{د مکې کافران که قرآن په لاسو کې ونیسي و ایې به کوډې دي}

او په ور پسـې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د حق پر وړاندې د کافرانو دودیزو خو یونو او سـپکاو یو په ځواب کې رسـول اللهﷺ ته ډاډ او تسـلیت ورکړئ دئ چې که د مکې کافران قرآن په لاسـونو کې هم ونیسـي وایي چې دا خو کوډې دي، او فرمایلي دي:

﴿وَلَوۡ نَزَّلۡنَا عَلَيۡكَ كِتَٰبٗا فِي قِرۡطَاسٖ فَلَمَسُوهُ بِأَيۡدِيهِمۡ لَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّا سِحۡرٞ مُّبِينٞ ٧ وَقَالُواْ لَوۡلَآ أُنزِلَ عَلَيۡهِ مَلَكٞۖ وَلَوۡ أَنزَلۡنَا مَلَكٗا لَّقُضِيَ ٱلۡأَمۡرُ ثُمَّ لَا يُنظَرُونَ ٨ وَلَوۡ جَعَلۡنَٰهُ مَلَكٗا لَّجَعَلۡنَٰهُ رَجُلٗا وَلَلَبَسۡنَا عَلَيۡهِم مَّا يَلۡبِسُونَ ٩﴾

[۷] ای پیغمبره! او که چیرې پر تا باندې مونږ په پاڼو کې لیکل سـوئ کتاب را نازل کړئ وای او د مکې مشـرکانو هغه په خپلو لاسـونو موښـلئ وای، نو بیا به هم دوی په ټینګار سره و یلي ول چې دا خو د ښکاره کوډونه پرته بل څه ندي!

[۸] او دغو کافران وو یل ولي پر محمد فرښـته (ملکه) نده راکوزه سـوي؟ [یعنی دا چې ترڅو یې د هغه پیغمبرۍ تصـدیق کړي وای] خو که مونږ فرښـته را کوزه کړو، نو بیا کافرانو ته نور وخت نه ورکول کیږي، ځکه د دوی د هلاکت او لمنځه وړلو حکم صادر سوئ دئ.

[۹] او که دغه پیغمبر (محمد ﷺ) هم مونږ فرښته ګرځولئ وای، نو هغه به مونږ د انسان غوندې نار ینه ګرځولئ وه [یعنی دا چې ترڅو د مکې

خلک ورسره په خبره پوه سي] خو بيا به هم دا پيغمبر مونږ په بله څيره کې د دوی نه پټ کړئ وه او دوی به ور باندې شکمن سوي ول، يعنی لکه څنګه چې کافران همدا اوس د محمدﷺ په پيغمبرۍ کې شکمن سول او هغه يې ونه مانه، او ايمان رانوړ او پر کفر يې اصرار وکه.

قدرمنو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آيتونو کې د مشرکانو هغه غوښتنې ځواب کړې دي چې کله دوی په پاڼو کې د ليکل سوي کتاب د را نازليدو غوښتنه وکړه، او همدارنګه دوی وو يل چې مونږ ته ده فرښته پيغمبر را وليږل سي!

{د پيغمبر انو سپکاوئ د ټولو کافر انو ګډ خوی او در يځ دئ}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی لمړئ رسول اللهﷺ د ټولو کافرانو دوديز ګډ خوی نه د حق پالانو پر وړاندې خبر کړئ دئ او بيا يې ډاډ ورکړئ دئ او کافرانو سره يې د خبرو او مرکو په ډګر کې ورته ګټورې لارښودنې او سپارښتنې کړې دې، نو يقينا چې هغه اسلام ته د هر را بلونکي دعوتګر لپاره په هر وخت او هر ځای کې د تسليت او د ډاډ ګيرنې؛ لوی پيغام دئ، او په بيان کې الله تعالی فرمايلي دي:

﴿وَلَقَدِ ٱسۡتُهۡزِئَ بِرُسُلٖ مِّن قَبۡلِكَ فَحَاقَ بِٱلَّذِينَ سَخِرُواْ مِنۡهُم مَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ١٠ قُلۡ سِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ ثُمَّ ٱنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُكَذِّبِينَ ١١ قُل لِّمَن مَّا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ قُل لِّلَّهِۚ كَتَبَ عَلَىٰ نَفۡسِهِ ٱلرَّحۡمَةَۚ لَيَجۡمَعَنَّكُمۡ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ لَا رَيۡبَ فِيهِۚ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ فَهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ١٢ وَلَهُۥ مَا سَكَنَ فِي ٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِۚ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ١٣ قُلۡ أَغَيۡرَ ٱللَّهِ أَتَّخِذُ وَلِيّٗا فَاطِرِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَهُوَ يُطۡعِمُ وَلَا يُطۡعَمُۗ قُلۡ إِنِّيٓ أُمِرۡتُ أَنۡ أَكُونَ أَوَّلَ مَنۡ أَسۡلَمَۖ وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ١٤ قُلۡ إِنِّيٓ أَخَافُ إِنۡ عَصَيۡتُ رَبِّي عَذَابَ يَوۡمٍ عَظِيمٖ ١٥ مَّن يُصۡرَفۡ عَنۡهُ يَوۡمَئِذٖ فَقَدۡ رَحِمَهُۥۚ وَذَٰلِكَ ٱلۡفَوۡزُ

ٱلۡمُبِينُ ﴿١٦﴾ وَإِن يَمۡسَسۡكَ ٱللَّهُ بِضُرّٖ فَلَا كَاشِفَ لَهُۥٓ إِلَّا هُوَۖ وَإِن يَمۡسَسۡكَ بِخَيۡرٖ فَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ﴿١٧﴾ وَهُوَ ٱلۡقَاهِرُ فَوۡقَ عِبَادِهِۦۚ وَهُوَ ٱلۡحَكِيمُ ٱلۡخَبِيرُ ﴿١٨﴾

[١٠] ای پیغمبره! او یقینا چې د ستا نه مخکې پیغمبرانو باندې هم ملنډې وهل سوې دي او سپکاوئ يې سوئ دئ [يعني دا چې د کافرانو دغه سپک چلند څه نوئ در یځ ندئ او هغه په تار یخ کې د ټولو کافرانو کډ خوی دئ او د الله نه را لیږل سوو ټولو استازو سره يې همدا سې کرکجن چلند کړئ دئ] نو بیا دغو کسانو ته چې د پیغمبرانو سپکاوئ يې کړئ دئ؛ دو یته د دوی د سپکاوي سزا ورکړل سوي ده.

[١١] او ای پیغمبره! [پر دغو کافرانو باندې غږ وکړه او ورته] ووایه: چې لاړ سئ او پر ځمکه وګرځئ او بیا وګورئ چې د تکذیب کونکو ولسونو راتلونکې څنګه سوه؟ یعنی د هغو ولسونو راتلونکې چې د الله نه ورته راغلي استازي يې دروغژن و بلل او پیغمبري يې ونه منله؛ نو بیا الله تعالی دوی ته کلکه سزا ورکړه او ټول يې خوار سوي رسوا او هلاک کړل.

[١٢] ای پیغمبره! او دغو کافرانو ته ووایه [یعنی ورڅخه و پوښته چې] د ځمکې او اسمانو واکمني د چا ده؟ او بیا په ځواب کې ورته ووایه: هو! دا واکمني د الله ده او الله پر خپل ځان رحمت فرض کړئ دئ [یعنی الله تعالی پر خلکو خپل نعمتونه او پیرزو ینې ووروي، او پر خپلو بنده ګانو باندې الله مهر بان دئ، او دوی ته ژر سزا او عذاب نه ورکوي، ترڅو تو به و باسي او حق ومني او تسلیم سي] او ای خلکو! د قیامت په ورځ به چې پکې هیڅ شک نسته؛ تاسې ټول هرومرو الله راغونډ کړي [یعنی بیا به هرچاته د خپلو ښو کړنو ثواب او د بدو کړنو سزا ورکړي] او هغو کسانو چې خپل ځانونه بایللي دي؛ دوی تاوانیان دي، نو ایمان نه راوړي او حق ته غاړه نږدي او هغه نه مني.

[١٣] او هر هغه څه [او څوک] چې په شپه او ورځ کې ارامه ساه باسي او پکې اوسیږي؛ دوی ټول د الله واک لاندې دي او الله ښه اور یدونکې او

ښه پوه پالونکئ څښتن دئ، يعني هرڅه په ټوله نړۍ کې ښه اوري او په هرڅه ښه پوهيږي، نو بيا د هرچا سره د هغه لائق چلند کړي.

[١٤] او ای پيغمبره! [پر دغو مشرکانو غږ وکړه او ورته] ووايه: نو آيا زه د الله نه پرته بل څوک خپل مل او ملګرئ ونيسم؟ حال دا چې د ځمکې او اسمانو پيدا کونکئ څښتن الله دئ! او الله خپلو ټولو مخلوقاتو ته روزي ورکوي، خو الله ته هيڅ څوک روزي نه ورکوي [يعنی الله د هيڅ چا خوړو او د څښاک او بو ته اړ او محتاج ندئ] او ای پيغمبره! دغو کافرانو ته ووايه: ما ته حکم سوئ دئ چې زه لمړنئ څوک وم چې ځان خپل رب ته وسپارم او مسلمان سم، او ته ای پيغمبره! د مشرکانو نه مکيږه، يعنی د مشرکانو غوندې د بتانو عبادت مکړه او بتان د الله سره په عبادت او بنده ګۍ کې مه ګډوه.

[١٥] او ای پيغمبره! [خلکو ته اعلان وکه او ورته] ووايه: که زه د خپل رب الله نه سرغړونه وکړم، نو بيا د لويې ورځې [يعنی د قيامت ورځې] عذاب او سزا نه کلک و يرم!

[١٦] او د هر هغه چا نه چې په دغه ورځ [د قيامت په ورځ] عذاب لرې سي، نو الله پر هغه باندې رحم کړئ دئ، او هغه ښکاره بر يا او سر لوړی ده، يعنی د قيامت په ورځ د الله عذاب نه خلاصون لو يه بر يا ده چې د مومنانو په برخه کيږي.

[١٧] ای پيغمبره! او که تاته الله څه ضرر او ستونزه ورسوي [لکه ناروغي او نورې ستونزې او تاوانونه] نو بيا د الله نه پرته بل هيڅ څوک هغه ستونزه د ستا نه لرې کولای نسي، او که تاته الله ګټه ورسوي [نو پدې پوه سه] چې الله پر هرڅه قادر لوی ذات دئ او هرڅه چې وغواړي هغسې کړلای سي.

[١٨] او الله پر خپلو بنده ګانو باندې زورو دئ، او الله لوی حکيم او ښه باخبره او پالونکئ څښتن دئ، يعنی هرڅه الله په ژوره پوهه او په پاخه تدبير او حکمت تر سره کوي.

ګرانو عز یزانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې خپل لوی ځواک مونږ ته د رسـول اللهﷺ په خوله ښـه رون را پیژندلئ دئ، نو ښـایي چې ټول خلک خپل پالونکئ رب او لوی ځښـتن چې هرڅه یې په واک کې دي و پیژني او حکمونو ته یې غاړه کیږدي او د بغاوت او سـرغړونې نه یې خپل ځان کلک وساتي، ترڅو ډاډمن او په دنیا او آخرت کې ښاد او خوښ سي.

{قرآن خلکو ته لارښود او د قیامت ګواښونکئ پیغام دئ}

او په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی خپلې سپارښتنې رسول اللهﷺ ته د مکې مشـرکانو سره په مرکو کې؛ مومنانو ته همداسې بیان کړې دي، او رسول اللهﷺ ته یې په حکم کړو سره فرمایلي دي:

﴿ قُلْ أَيُّ شَيْءٍ أَكْبَرُ شَهَٰدَةً ۖ قُلِ ٱللَّهُ ۖ شَهِيدٌۢ بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ ۚ وَأُوحِيَ إِلَيَّ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانُ لِأُنذِرَكُم بِهِۦ وَمَنۢ بَلَغَ ۚ أَئِنَّكُمْ لَتَشْهَدُونَ أَنَّ مَعَ ٱللَّهِ ءَالِهَةً أُخْرَىٰ ۚ قُل لَّآ أَشْهَدُ ۚ قُلْ إِنَّمَا هُوَ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ وَإِنَّنِي بَرِيٓءٌ مِّمَّا تُشْرِكُونَ ﴿١٩﴾ ﴾

[١٩] ای پیغمبره! [پر دغو کافرانو غږ وکړه او ورته]ووایه: څه شئ [د زما پر پیغمبرۍ باندې] ډیر لوی او غټ شـاهد دئ؟ [او بیا په ځواب کې ورته ووایه] الله د زما او سـتاسـې په منځ کې شـاهد دئ [یعنی زما پر پیغمبرۍ باندې غټ او لوی شـاهد الله دئ] او ما ته الله دا قرآن پټ په وحی یې سـره را لیږلئ دئ، ترڅو تاسـې د الله سـزا نه په قرآن باندې وو یروم، او دا قرآن چې هرچا ته ورسـیږي، نو هغه ته د الله عذاب نه و یرونکئ پیغام دئ، او آیا تاسـې ای خلکو! پدې شـاهدې ورکوی چې د الله سره په ر ښتیا یوځای نور خدایان او معبودان سته؟ [نو ته ای پیغمبره! په ځواب کې دوی ته] ووایه: زه خو دغسـې شـاهدې نه ورکوم [یعنی دا چې د الله تعالی سره نور هیڅ څوک په خدایي کې شر یك ندي، او ای پیغمبره! همداسې دغو مشـرکانو ته] ووایه: یقینا چې پر حق سره معبود خدای یو دئ او زه د مشـرکانو نه بې زار یم، یعنی خپل براءت د کافرانو نه اعلانوم او د دوی ملګرئ نیم!

قدرمنو دوستانو! الله تعالى په دغو مبارکو آيتونو کې رسول اللهﷺ ته د مکې مشرکانو سره د مناسبو خبرو اترو، د سوال ځواب او مرکو لارښودنه کړې ده، او يقينا چې مشرکان د رسول اللهﷺ سره په مرکه کې بې ځوابه سول او د و يلو لپاره يې نور هيڅ خبره او ځواب نه درلود، نو ځکه بيا دوی د رسول اللهﷺ د دعوت نه د مخنيوي لپاره د زور ځواکې نه کار واخست او رسول اللهﷺ او د هغه ملګري مومنان يې تل زورول او ډول ډول سزاګانې يې ورته ورکولې او ملنډې يې ور باندې وهلې، ترڅو چې بيا الله تعالى خپل پيغمبر ﷺ د ديارلس کلن ستونزمن دعوت نه وروسته؛ د مکې مشرکانو شرارت او زورولو نه خلاص که او مدينې منورې ته سرلوړئ او روغ رمټ مهاجر سه، او بيا اته کاله وروسته فاتح او سرلوړئ بيرته مکې معظمې ته راستون سه، او مکه يې د مشرکانو زورواکې ولکې نه ازاده کړه او بتان يې مات کړل او د الله تعالى کور کعبه يې ورڅخه پاکه کړه، او د الله توحيد او يو والي بيرغ يې پکې ور پا وه.

قدرمنو دوستانو! او دا دئ اوس اوس په پنځه لسمه هجري قمري پيړۍ کې يعنی د هـ ش ١٣٥٧ کال نه تر ١٤٠٠ هـ ش کال پورې؛ افغان مجاهد ولس د نړۍ دوه لو يو ز بر ځواکو سکيلاک لاندې راغئ، او مجاهدين هجرتونو ته اړ سول، او بيا د اوږده جهاد او مقاومت نه وروسته د الله تعالى په مرسته الحمد لله بيرته سرلوړي خپل هيواد ته ستانه سول، نو سايي چې د دې لوی نعمت شکر و باسي او د الله تعالى دين پر کلکې رسۍ خپلې منګلې ټينګې ونښلوي او د خپل ازاد هيواد ودانۍ ته ملا وتړي.

{د اسلام پيغمبرﷺ اهلکتاب د خپلو زامنو غوندې پيژني}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د يهودو او نصاراوو زړونو نه مومنان خبر کړي دي، او هغه دا چې دوی د اسلام پيغمبر لکه خپل زامن پيژني خو کينو پسې اخستي دي، نو ايمان نه راوړي، او فرمايلي دي:

﴿ٱلَّذِينَ ءَاتَيۡنَٰهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ يَعۡرِفُونَهُۥ كَمَا يَعۡرِفُونَ أَبۡنَآءَهُمُۘ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ فَهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ٢٠ وَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّنِ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَوۡ كَذَّبَ بِـَٔايَٰتِهِۦٓۚ إِنَّهُۥ

لَا يُفۡلِحُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٢١﴾ وَيَوۡمَ نَحۡشُرُهُمۡ جَمِيعٗا ثُمَّ نَقُولُ لِلَّذِينَ أَشۡرَكُوٓاْ أَيۡنَ شُرَكَآؤُكُمُ ٱلَّذِينَ كُنتُمۡ تَزۡعُمُونَ ﴿٢٢﴾ ثُمَّ لَمۡ تَكُن فِتۡنَتُهُمۡ إِلَّآ أَن قَالُواْ وَٱللَّهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشۡرِكِينَ ﴿٢٣﴾ ٱنظُرۡ كَيۡفَ كَذَبُواْ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡۖ وَضَلَّ عَنۡهُم مَّا كَانُواْ يَفۡتَرُونَ ﴿٢٤﴾

[٢٠] هغو کسانو ته چې مونږ خپل کتاب (تورات او انجیل) ورکړئ دئ؛ دوی محمد [د اسلام درونډ پیغمبرﷺ] هغسې پیژني، لکه خپل زامن چې پیژني [ځکه دوی یې د پیغمبرۍ صفتونه په خپلو کتابونو کې لولي] نو دوی هغه کسان ول چې خپل ځانونه یې بایلودل او کلک یې ز یانمن کړل، نو دوی ایمان نه راوړي، یعنی دغو کینه کښو یهودو او نصاراوو نه د خیر طمعه نسته او نه ښایي ور باندې باور وسي.

[٢١] او څوک د هغه چانه ډیر ظالم دئ چې الله پورې د دروغو تور لګوي؟ او یا یې د الله کتاب آیتونه دروغ ګڼلي دي؟ [ځواب داچې: هیڅ څوک د هغه نه ډیر ظالم ندئ، او هغه پر خپل ځان کلک تیرئ کړئ دئ] او یقینا چې ظالمان نه بر یالي کیږي، یعنی دوی به د الله تعالی پر وړاندې قیامت په ورځ همداسې مختورن در یږي.

[٢٢] [نو دغه کافران او مشرکان ده د هغي ورځي لوی ګواښ او خطر نه وو یر یږي] چې په هغه ورځ [چې د قیامت ورځ ده] دوی ټول مونږ راغونډوو، نو بیا هغو کسانو ته [چې کافران سول] وایو: د ستاسې شر یکان چې تاسې ګمان کا وه دوی د الله سره شر یکان دي څه سول؟ یعنی ترڅو اوس دوی د ستاسې پلو یان سي او مرسته درسره وکړي!

[٢٣] نو بیا چې کله دغه کسان وازمایل سول [یعنی د دوی نه د الله سره شر یك کړو خدایانو پوښتنه وسوه، نو بیا دوی بل ځواب نه درلود] مګر دا چې و یو یل: قسم دئ چې الله د زمونږ پالونکئ څښتن دئ، او مونږ د مشرکانو نه نه وو، یعنی بیا دوی د قیامت په ورځ د خپل کفر او شرك نه انکار کړي، خو دا انکار اوس ګټه نه لري.

[٢٤] نو ته ای پیغمبره! وګوره چې څنګه دغو کافرانو پر خپلو ځانو باندې دروغ وو یل، او بیا هغه تورونه او افتراګانې چې دوی کړې وي؛ هغه [د قیامت په ورځ ورځخه] ورکې سوې، یعنی لکه دا چې هیڅ څه شئ نه ول او دوی سپین چرګان دي!

عزتمنو دوستانو! په دغسې و ینانوو او مناظرو سره چې هغه پیغمبرﷺ د الله په لارښودنه د کافرانو سره کړې دي؛ الله تعالی مونږ مومنان او د رسول اللهﷺ ټول امت؛ د مشرکانو او نورو ټولو کافرانو د ډیر بد حال نه چې د قیامت په ورځ ورسره مخامخ کیږي؛ خبر کړي یو، ځکه په هغه ورځ ټول حقیقتونه راپسیره کیږي او هیڅ څوک هغه پټولای نسي، او د قیامت په ورځ بیا نوره پښیماني ګټه نه لري، نو دعاء کړو چې الله تعالی ده مونږ مومنان د قیامت ورځې رسوایي نه په خپل رحمت سره وساتي او په سپینو مخونو ده الله مونږ په خپل حضور کې ودروي او د محشر ورځې ملامتی نه ده الله تعالی مونږ په خپل فضل سره وساتي!

{کافران د حقپالانو پیغامونه خوسې قصې ګڼي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی خپل پیغمبرﷺ د یوې بلې ډلې مشرکانو سپکو و یناوو نه خبر کړئ دئ او د دوی بد خو یونه او بد چلند یې رسول اللهﷺ سره یاد کړئ او بیان کړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿وَمِنْهُم مَّن يَسْتَمِعُ إِلَيْكَ ۖ وَجَعَلْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً أَن يَفْقَهُوهُ وَفِي آذَانِهِمْ وَقْرًا ۚ وَإِن يَرَوْا كُلَّ آيَةٍ لَّا يُؤْمِنُوا بِهَا ۖ حَتَّىٰ إِذَا جَاءُوكَ يُجَادِلُونَكَ يَقُولُ الَّذِينَ كَفَرُوا إِنْ هَٰذَا إِلَّا أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ ﴿٢٥﴾ وَهُمْ يَنْهَوْنَ عَنْهُ وَيَنْأَوْنَ عَنْهُ ۖ وَإِن يُهْلِكُونَ إِلَّا أَنفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُونَ ﴿٢٦﴾ وَلَوْ تَرَىٰ إِذْ وُقِفُوا عَلَى النَّارِ فَقَالُوا يَا لَيْتَنَا نُرَدُّ وَلَا نُكَذِّبَ بِآيَاتِ رَبِّنَا وَنَكُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿٢٧﴾ بَلْ بَدَا لَهُم مَّا كَانُوا يُخْفُونَ مِن قَبْلُ ۖ وَلَوْ رُدُّوا لَعَادُوا لِمَا نُهُوا عَنْهُ وَإِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ ﴿٢٨﴾ وَقَالُوا إِنْ هِيَ إِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا وَمَا نَحْنُ بِمَبْعُوثِينَ ﴿٢٩﴾ وَلَوْ

تَرَىٰٓ إِذۡ وُقِفُواْ عَلَىٰ رَبِّهِمۡۚ قَالَ أَلَيۡسَ هَٰذَا بِٱلۡحَقِّۚ قَالُواْ بَلَىٰ وَرَبِّنَاۚ قَالَ فَذُوقُواْ ٱلۡعَذَابَ بِمَا كُنتُمۡ تَكۡفُرُونَ ٣٠ قَدۡ خَسِرَ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِلِقَآءِ ٱللَّهِۖ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَتۡهُمُ ٱلسَّاعَةُ بَغۡتَةٗ قَالُواْ يَٰحَسۡرَتَنَا عَلَىٰ مَا فَرَّطۡنَا فِيهَا وَهُمۡ يَحۡمِلُونَ أَوۡزَارَهُمۡ عَلَىٰ ظُهُورِهِمۡۚ أَلَا سَآءَ مَا يَزِرُونَ ٣١ وَمَا ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَآ إِلَّا لَعِبٞ وَلَهۡوٞۖ وَلَلدَّارُ ٱلۡأٓخِرَةُ خَيۡرٞ لِّلَّذِينَ يَتَّقُونَۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ٣٢

[٢٥] ای پیغمبره! او د دغو مشرکانو نه ځینې داسې څوک هم سته چې تاته غوږ باسي او قرآن اوري، خو د دوی پر زړونو باندې مونږ پرده اچولې ده، نو دوی د قرآن په معنا نه پوهیږي او غوږونه یې هم کانه دې څه شئ نه اوري، او که د ستا پیغمبرۍ تصدیق ټولې معجزې وو یې بیا هم ایمان نه راوړي او هغه نه مني، او بیا چې کله دوی تاته ای پیغمبره! راسي، نو بحث او جنجال درسره کړي، او دغه کسان چې کافران سول [او حق یې ونه مانه] نو وایي: ای پیغمبره! دا څه چې ته وایې هغه د پخوانیو نه پاتې لیکل سوې قصې او روایتونه دي، یعنی هغه ر یښتیا ندې او حقیقت نه لري، بلکې خوسې خبرې دي![العیاذ بالله]

[٢٦] او دغه کافران نور خلک هم د رسول الله نه منع کوي [یعنی دوی نه پر یږدې چې د پیغمبر خبري واوري او ایمان راوړي]او دوی خپله هم ځانونه د پیغمبر نه لرې کوي، نو کافران په دغسې کړنو سره خپل ځانونه هلاکوي او لمنځه یې وړي، خو هیڅ احساس نکړي، یعنی خپل تاوان یا ز یان نه پیژني او نه ورته پام کړي، ترڅو یې د تباهۍ مخه ونیسي، یعنی خپل ځانونه د ګواښ او خطر نه وساتي.

[٢٧] ای پیغمبره! او کله چې ته دغه کافران د قیامت په ورځ په داسې حال کې وو یې چې د دوزخ اور پر سر درول سوي دي، نو بیا دوی په دغسې سخت حال کې وایي: ای کاشکې بیرته دنیا ته وروګرځول سو او بیا د خپل رب آیتونه دروغ ونه بولو [یعنی ور باندې باور وکړو او هغه ومنو] او د مومنانو نه سو، یعنی ترڅو د کفر سزا نه خلاص سو.

[٢٨] [نا! خبره داسې نده، لکه څنګه چې کافران انکيري او ګمان کړي] بلکې اوس کافرانو ته [د قيامت په ورځ د رسول اللهﷺ ر ښتينوالئ او حقانيت چې دوی ور باندې پوهيدل] ښکاره سه، خو پخوا دوی هغه د خلکو نه پټا وه، نو که کافران [فرضا] بيرته د دنيا ژوند ته هم ور وګرځول سي، نو بيا به هم دوی بيرته شرك او کفر ته چې ورڅخه منعې سوي ول وروګرځي، او يقينا چې کافران دروغژن دي، يعنی دوی هيڅ کله ر ښتيا نه وايي، ځکه نه غواړي چې حق ومني!

[٢٩] او دغو کافرانو چې د قيامت ورځې راتګ نه منکر ول وو يل: د زمونږ ژوند دغه د دنيا ژوند دئ او بيا مونږ بيرته نه راژوندې کيږو، يعنی دوی د قيامت په ورځ باور نه لري!

[٣٠] ای پيغمبره! [او که چيرې ته دغه د قيامت ورځې نه منکر کسان] په هغه ورځ وو يې چې کله دوی د الله په مخکې ودرول سي [نو بيا به دوی په ډير بد حال کې و يې] او الله به دوی ته وايي: آيا دغه [د قيامت په ورځ بيرته راژوندې کيدل د حساب ورکولو لپاره] حق او ر ښتيا ندې؟ [خو تاسې ورڅخه منکر وی! نو په ځواب کې به بيا دوی وايي:] هو! زمونږ پر پالونکې خدای قسم دئ چې هغه ر ښتيا و يل! نو بيا الله دوی ته وايي: نو اوس هغه عذاب او سزا چې تاسې ورڅخه منکر وی وځکئ! يعنی دا ځکه چې تاسې هغه نه منل، او نه تاسې د الله او پيغمبر خبره منله، تاسې پر خپله ناپوهۍ کې همداسې ډوب وی!

[٣١] هو! يقينا هغو کسانو چې د الله سره د يوځای کيدو ورځ [يعنی د قيامت ورځ] دروغ وګڼله؛ دوی تاوان وکه او کلک ز يانمن سول، تر هغو چې بيا ناڅاپه د قيامت ورځ پر دوی باندې راغله، نو بيا يې په ډير خفتيان او افسوس سره وو يل چې مونږ څه بد وکړل [يعنی د دنيا ژوند مونږ ډير بې ځايه د لاسه ورکه او هيڅ ګټه مو ورڅخه وانخستله، او د دوی به پدې حال کې د خپلو ګناه وو دروند پيټۍ پشاوي، او دغه د ګناه وو پيټۍ چې د کافرانو پشا دئ؛ ډير بد او درونده پيټۍ دئ.

[٣٢] هو! د دنيا ژوند د لهو او لعب او د لو بو ژوند دئ [يعنى خوند اخستل ورڅخه ډير ژر تيريږي] او د آخرت كور ژوند هغو كسانو لپاره چې د الله نه و يرې [او ځانونه د دوزخ عذاب نه ساتى] ښه غوره ژوند دئ، نو آيا تاسې اى خلكو! [چې د دنيا ژوند غولوڼى ياستى] هوښيارانه ياستيى او عقل نه لرى؟ يعنى ښايي د ستاسې عقل سر ته راسي او ايمان راوړى، او د قيامت په ورځ د الله سزا نه ځانونه وساتى.

درندو دوستانو! الله تعالى په دغو مباركو آيتونو كې مونږ د كافرانو بد حال نه د قيامت په ورځ خبر كړي يو، ترڅو چې هر څوك ښه پوه سي او د غفلت دراندە خوب نه راو ښى سي او پر خپل ايمان باندې كلك سى او ښه عمل وكړي، او د هرې ګناه نه چې يقينا شرك پكې ډيره غټه ګناه ده؛ خپل ځانونه وساتي او د آخرت ورځې ژوند ته توښه تياره كړي.

{رسول الله ته د كافرانو سپكو خبرو پر وړاندې د الله ډاډ}

او په ور پسې مباركو آيتونو كې الله تعالى رسول اللهﷺ ته د كافرانو سپكو خبرو پر وړاندې تسليت او اطمئنان وركړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿قَدْ نَعْلَمُ إِنَّهُۥ لَيَحْزُنُكَ ٱلَّذِى يَقُولُونَ فَإِنَّهُمْ لَا يُكَذِّبُونَكَ وَلَٰكِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ يَجْحَدُونَ ﴿٣٣﴾ وَلَقَدْ كُذِّبَتْ رُسُلٌ مِّن قَبْلِكَ فَصَبَرُوا۟ عَلَىٰ مَا كُذِّبُوا۟ وَأُوذُوا۟ حَتَّىٰٓ أَتَىٰهُمْ نَصْرُنَا ۚ وَلَا مُبَدِّلَ لِكَلِمَٰتِ ٱللَّهِ ۚ وَلَقَدْ جَآءَكَ مِن نَّبَإِى۟ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿٣٤﴾ وَإِن كَانَ كَبُرَ عَلَيْكَ إِعْرَاضُهُمْ فَإِنِ ٱسْتَطَعْتَ أَن تَبْتَغِىَ نَفَقًا فِى ٱلْأَرْضِ أَوْ سُلَّمًا فِى ٱلسَّمَآءِ فَتَأْتِيَهُم بِـَٔايَةٍ ۚ وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ لَجَمَعَهُمْ عَلَى ٱلْهُدَىٰ ۚ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلْجَٰهِلِينَ ﴿٣٥﴾﴾

[٣٣] هو؛ اى پيغمبره! يقينا چې مونږ پر دې پوهيږو هغه څه چې كافران وايي [يعنى تا دروغژن بولي] هغه تا غمجن كوي، نو ته باور وكړه او ډاډه اوسيږه چې دوى تا په خپلو زړونو كې دروغژن نه بولي [يعنى داچې

كافران پدې پوهيږي چې ته په ر ښتيا سره پيغمبر يې، خو دغه ظالمان] د الله ښكاره او روښانه دليلونو او نښو نه منكر يږي او هغه نه مني.

[٣٤] او يقينا چې د ستانه مخكې پيغمبران هم دروغژن و بلل سول [يعنى امتونو يې دوى ونه منل او ښه ډير يې وزوروله] نو بيا دوى د خپلو امتونو په تكذيب او نه منلو او زوروالو باندې صبر وكه [او دا ټولې سختې يې وزغملې] ترڅو چې د زمونږ مرسته ورته راغله [يعنى بيا بر يالې سول او خپل مقصد ته ورسيدل] هو! د الله خبرې [او وعدې د حق پالانو په نصرت او بر يا كې] هيڅ څوك بدلولاى نسي، او تاته خو اى پيغمبره! پخوا تير سوو پيغمبرانو قصې او خبرونه راغلل، يعنى دا چې الله تعالى د هغوى مرسته وكړه او بر يايې پر برخه كړه او دښمنان يې خوار او ذليل سول، او د الله قهر او غوصه ور باندې را پر يوتله، نو ته هم اى پيغمبره! د هغوى غوندې صبر وكړه، ترڅو بر يا ته ورسيږې او هغه د ستا پر برخه سي او دښمنان ده مختورن او سر كوزي سي.

قدرمنو دوستانو! د الله تعالى دا ډاډ او اطمئنان ټولو دعاتو او مصلحينو ته تل پاتې پيغام او د صبر او زغم سپارښت دئ.

[٣٥] هو؛ اى پيغمبره! كه څه هم د كافرانو مخ اړونه ستا نه پر تا درنده او كلكه تمامیږي! نو كه تا وكولاى سول چې ځمكه سورى كړي او يا اسمان ته ز ينه كيږدې او بيا دغو كافرانو ته داسې معجزه او دليلونه روړي [چې مخكې هغسې معجزې مونږ ندې راوړي، نو دا كار وكړه، خو ته دا كار كړاى نسې!] او پدې پوه سه كه الله غوښتي واى، نو كافران به يې پر سمه لار راغونډ كړي ول [يعنى د هدايت توفيق به يې وركړئ وه، خو د الله تعالى مقصد ازمايښت دئ، نو ځكه يې دا كار ونكه او كافرانو ته يې د حق پر سمه لار د تګ توفيق ورنكه] نو ته اى پيغمبره! د ناپوهانو نه مكيږه، يعنى دا چې ته د هغوى پر كفر خفه سي او ځان كلك وزوروي!

ګرانو دوستانو! يقينا چې رسول الله ﷺ بشر وه او د بشري طبيعت او مزاج د غوښتنو لاندې راته او د سمې لارې نه د خپل قوم په ګښت او

بې لار يتوب باندې؛ کلک خفه کيده، حال دا چې توفيق په هدايت او پر سمه لار روانول؛ د الله کار دئ او الله ښه پوهيږي چې څوک د هدايت وړتيا لري او څوک ورځخه محروم دي، نو ځکه الله تعالى په دغو مبارکو آيتونو کې د رسول اللهﷺ پام په يوه سپک ګواښ سره دغسې يو لوی حقيقت ته را اړولئ دئ، او دغسې پام را اړونه يقينا چې د هر دعوت کونکي لپاره تل پاتې لارښودنه او کلک سپارښت دئ، او ښايي ته د خپل قوم په ورکتيا باندې د سمې لارې نه ډير خفه نسي او خپل مسئوليت په نه ستړي کيدونکي مزله سره تر مقصد رسيدو پورې په اخلاص سره پر مخ يوسي، ځکه د الله مخکښ لارښودان اولى العزم پيغمبران دي چې د محمد ﷺ نه مخکې تير سوي دي او هغوی ټول د کلک عزم څښتن ول.

هو! درندو دوستانو! دا مبارك آيتونه ټول د رسول اللهﷺ لپاره د کافرانو ظلم او زور ز ياتي پر وړاندې پوخ تسليت او د نصرت او بر يا ښه ز يرئ او کلک ډاډ او اطمئنان دئ، نو ځکه رسول اللهﷺ د مکې کافرانو ټولې ناخوالې په پوره زغم سره وګالې، ترڅو چې الله تعالى هغه ته فتحه او نصرت ور په برخه که، نو ځکه د حق لارې ټولو دعوت کونکو ته ښايي چې خپل قوم او ولس د الله تعالى ښې بنده ګی ته او په توحيد سره ايمان راوړو ته او پر حکمونو يې عمل کړو ته رابولې، ترڅو جنتيان سي، او هم ورته ښايي د الله تعالى دغه روښانه لارښودنې په دغو مبارکو آيتونو کې په ژورې پوهې سره ولولي او ځانونه ور باندې ښه پوه کړي او پيغمبرﷺ پسې پر اقتدا کړو سره هغه عملي کړي او هيڅ کله بې صبره نسي او د الله تعالى لارښودنو او د رسول الله ﷺ تګ لارې نه وانوړي، او يقينا چې دغه تګ لاره چې هغه الله تعالى خپلو پيغمبرانو ته ښودلې ده؛ هغه د بر يا او نصرت او د الله تعالى د دين د خورولو او حاکمولو؛ يواز يې سمه لار ده او تک ور باندې پر هر دعوت کونکې باندې فرض دئ، او هر ډول ککښت او انحراف د دغسې الهي لارې نه د الله تعالى لارښودنو پښولاندې کولو او اسلام ته رابلونکې دعات د خپل لوړ مقصد نه د اړولو پر معنا بلل کيږي، او د هلاکت ژورو ګړنګونو ته يې ورغورځول دي، چې بيا ورځخه

بيرته راوتل ډير دروند او ستونزمن کار دئ.

{ يوازې هغه کسان حق اوري چې زړونه يې ژوندي دي }

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى رسول اللهﷺ ته او بيا مومنانو ته خبر ورکړئ دئ چې يوازې د ژوندیو زړونو خاوندان د حق منلو ته لبيک وايي، او فرمايلي دي:

﴿۞إِنَّمَا يَسۡتَجِيبُ ٱلَّذِينَ يَسۡمَعُونَۘ وَٱلۡمَوۡتَىٰ يَبۡعَثُهُمُ ٱللَّهُ ثُمَّ إِلَيۡهِ يُرۡجَعُونَ ٣٦ وَقَالُواْ لَوۡلَا نُزِّلَ عَلَيۡهِ ءَايَةٞ مِّن رَّبِّهِۦۚ قُلۡ إِنَّ ٱللَّهَ قَادِرٌ عَلَىٰٓ أَن يُنَزِّلَ ءَايَةٗ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ٣٧﴾

[٣٦] [هو؛ ای پيغمبره! د ستا خبرې] يقينا چې يوازې هغه کسان اوري [او مني يې چې دوی اور يدونکي غوږونه لری او په خبره پوهيږي او د مړو غوندې ندې] او مړي الله راجګوي [يعنی د مرګ نه وروسته يې د قيامت په ورځ بيرته راژوندې کوي] او بيا دوی الله ته ورګرځول کيږی، يعنی د قيامت په ورځ ټولو خلکو سره حساب کيږي او هرچا ته د هغه لائق ثواب او سزا ورکول کيږي.

ګرانو دوستانو! الله تعالى پدې مبارک آيت کې رسول اللهﷺ ته ډاډ او تسليت ورکړئ دئ او مومنان يې ژوندیو ته ورته بللي دي، ځکه دوی خبرې اوري او پر معنا يې پوهيږي، نو ځکه هغه مني، او کافران الله تعالى مړو ته ورته بللي دي، ځکه د دوی زړونه مړه دي، نو نه د پيغمبرﷺ بلنه سمې لاړې ته اوري او نه يې مني، نو پيغمبر ده نه خفه کيږي، ځکه کافران مړو ته ورته دي او مړي الله تعالى د قيامت په ورځ بيرته راژوندې کوي او کلک حساب ورسره کړي،نو يقينا چې دا پيغام کافرانو ته چې د حق اور يدلو او منلو نه يې غوږونه کاڼه دی؛ ډير لوی ګواښ دئ، نو ښايي چې دوی د خپلو کينه کښو دښمنيو نه لاس وا خلي او د حق منلو ته چې هغه د الله پيژندلو ته په توحيد سره دعوت دئ؛ غاړه کيږدي او وې مني او د کفر کبر نه لاس واخلي او ايمان راوړي، ترڅو ښاد او نيکمرغه سي.

او په ور پسې مبارک آيت کې الله تعالى د مکې کبرجنو کافرانو هغه

غوښتنه یاده کړې ده چې دوی رسول اللهﷺ ته وو یل مونږ ته مادي معجزې راوړه،او بیایې د دوی غوښتنه ځواب کړې دي، او په بیان کې فرمایلي دي:

[۳۷] او کافرانو وو یل: ولې پر پیغمبر باندې د هغه خدای له پلوه یوه معجزه نده راکوزه سوې؟ [یعنی ولې ور باندې په سترګو لیدل سوې یوه داسې معجزه نده راغلې چې پیغمبرۍ یې تصدیق کړي؟ نو ته ای پیغمبره! دوی ته په ځواب کې] ووایه: یقینا چې الله کولای سي معجزه را نازله کړي، خو د کافرانو نه ډیر کسان نه پوهیږي! یعنی دا چې الله تعالی د خپل علم او حکمت سره سم معجزې رانازلوي؛ نه د کافرانو د خوښې معجزې، ځکه که د دوی د خوښې او غوښتنې سره سمې معجزي را نازلې کړي او بیا دوی هغه ونه مني، نو بیا به دوی ته الله ډیر ژر سزا ورکړي او ټول به لکه پخوا تیرسوي سرکښ ولسونه هلاك سي او لمنځه به لاړ سي.

{د ځمکې پر سر ټول ګرزندوی او الوتونکي خپل رب پیژني}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی لمړئ د ځمکې پر سر د ټولو ګرځندیو او الوتونکو حیواناتو او مرغانو پیژندنه یاده کړې ده او هغوی لکه انسانان ځان ځان ته، ډلې ډلې دي او خپل رب پیژني، او بیا الله تعالی کافران کلک غندلي دي، ځکه دوی لکه ړانده او کاڼه نه څه اوري او نه څه وینې، او فرمایلي دي:

﴿وَمَا مِن دَآبَّةٍ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا طَٰٓئِرٖ يَطِيرُ بِجَنَاحَيۡهِ إِلَّآ أُمَمٌ أَمۡثَالُكُمۚ مَّا فَرَّطۡنَا فِي ٱلۡكِتَٰبِ مِن شَيۡءٖۚ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّهِمۡ يُحۡشَرُونَ ٣٨ وَٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا صُمّٞ وَبُكۡمٞ فِي ٱلظُّلُمَٰتِۗ مَن يَشَإِ ٱللَّهُ يُضۡلِلۡهُ وَمَن يَشَأۡ يَجۡعَلۡهُ عَلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ٣٩﴾

[۳۸] ای خلکو! هیڅ ګرزندوی حیوان پر ځمکه او هیڅ الوتونکئ مرغه په آسمان کې نسته، مګر دا چې دوی ټول د ستاسې غوندې یو بل ته ورته ډلې ډلې دي [یعنی هغه ټول الله پیدا کړي دي، روزي ورکوي او پالي یې، او

مونږ د لوح محفوظ په لوي دفتر کې هيڅ څه شئ ندي پرې ايښي [يعنى هر څه الله تعالى هلته ليکلي دي] او ټول مخلوقات [انسانان، حيوانات او مرغان] د قيامت په ورځ د خپل لوى څښتن په وړاندې راغونډيږي، يعنى بيا الله تعالى د دوى په منځ کې عدالت چلوي او حق د حق خاوند ته سپاري، مومنان جنت ته ځي او کافران دوزخ ته، او حيوانات ټول (څاروي او مرغان) خاوري کيږي.

هو؛ ګرانو عز يزانو! الله تعالى پدې مبارك آيت کې مونږ د خپل لوي قدرت نه د ډول ډول ګرځندو حيواناتو او التونکو مرغانو د پيدايښت مقصد نه خبر کړى يو، ترڅو خپل خداى ښه و پيژنو او په اخلاص سره يې بنده کې وکړو او بل هيڅ څوک د الله سره په خدايې کې ګډ نکړو.

او په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالى هغه کافران غندلي دي چې دوى د الله تعالى لو يو قدرتونو نښې دروغ بولي او د حق پيژندلو سمه لار يې ورکه کړي ده، نو دوى، لکه کانه او ګنګان دي، او فرمايلي دي:

[٣٩] او هغو کسانو چې د زمونږ دليلونه او د قدرتونو نښې دروغ وګڼلې؛ هغوى کانه او ګنګان دي او په تورو تيارو کې ورک سوي دي، نه حق اوري [او نه حق و يلاى سي، او نه يې مني] او هرڅوک چې الله وغواړي د سمې لارې نه يې ورک کړي، نو ورکوي يې، او څوک چې وغواړي پر سمه لار يې روان کړي، نو پر سمه لار يې [چې اسلام دئ] روانوي، يعنى د حق نه د هرچا ورکتيا او حق ته هدايت د الله په تقديري واک کې دئ.

هو؛ ګرانو دوستانو! پدې مبارك آيت کې الله تعالى د مشرکانو ناحقه غوښتنې غندلې دي او هغه يې د حق نه انکار بللئ دئ، او کافران يې هغو کنډو او ګنګانو ته ورته بللي دي چې د باطل په تورو تيارو کې سرګردانه او ورک سوي ډوب دي او سمه لار چې د حق لار ده نه مومي!

{د رسول الله ﷺ جرګه کافرانو سره د زړو خبرې راباسي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى رسول الله ﷺ ته لارښودنه کړې ده چې د کافرانو نه د مناظرې او مرکې په بڼه کې داسې پوښتنې وکړي

چې په ځواب کې يې د دوی د زړو خبره چې د حق په منلو اقرار دئ راووځي، او فرمايلي دي:

﴿قُلْ أَرَءَيْتَكُمْ إِنْ أَتَىٰكُمْ عَذَابُ ٱللَّهِ أَوْ أَتَتْكُمُ ٱلسَّاعَةُ أَغَيْرَ ٱللَّهِ تَدْعُونَ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٤٠﴾ بَلْ إِيَّاهُ تَدْعُونَ فَيَكْشِفُ مَا تَدْعُونَ إِلَيْهِ إِن شَآءَ وَتَنسَوْنَ مَا تُشْرِكُونَ ﴿٤١﴾﴾

[٤٠-٤١] ای پیغمبره! [کافرانو ته] ووایه: آیا تاسې خپل ځانو نه ولیدل [یعنی آیا پدې پوه سوی چې حق هغه دئ چې تاسې ته و یل کیږي! نو ای کافرانو!] که تاسې ر ښتیا و یونکي او صادقان یاستی، نو ما ته ووایي که پر تاسې باندې د الله عذاب په دنیا کې راغئ او یا د قیامت ورځ پر تاسې باندې راغله [چې پکې حساب اخستل او سزا ورکول دي] نو بیا د الله نه پرته بل چانه به تاسې وغواړی چې دا عذاب او سزا درڅخه لرې کړي؟ ځواب دا چې: هو! په هغه ورځ تاسې یوازې د الله نه غواړی [چې نجات درکړي] نو که بیا الله وغواړي دغه عذاب د رڅخه لرې کوي، او په هغه ورځ نور تاسې ټول هغه خدایان چې د الله سره مو په عبادت کې کړي ول هیروی!

قدرمنو دوستانو! په دغو مبارکو آیتونو کې الله تعالی رسول اللهﷺ ته داسې لارښودنې کړې دي چې مشرکان یې نور بې ځوابه کړل، ځکه دوی په سختۍ کې د الله نه پرته بل هیڅ چاته مخ نه اړوي او یوازې الله تعالی د خپلو ستونزو لپاره لرې کونکئ لوی ځښتن پیژني، نو اسلام ته رابلونکو دعاتو ته ښایي چې په خپل دعوت کې هیڅ کله دغه د مناظرو او مرکو غوره منطقي تګ لاره د پام نه ونه غورځوي، لکه څنګه چې په اوسني عصر کې دغسې تګ لاره شیخ احمد دیدات رحمت الله علیه او بیا ډکتر ذاکر نایک د کلیسا کشیشانو سره او همداسې د نورو باطلو ادیانو هندوانو او بودیانو سره خوښه کړې ده؛ او د آزادو مرکو دغه طریقه په خپل دعوت کې په مخ وړي، او پکې لو یو بر یاوو ته ورسیدل، ترهغو چې دا دئ اوس پر ډکتر ذاکر نایک باندې کلک بندیځ لیږدلئ دئ!

{هغو امتونو چې پيغمبران ونه منل الله کلک راونيول}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى رسول الله ﷺ ته تسليت او ډاډ ورکړئ دئ، او د هغه نه وړاندې پخوانيو پيغمبرانو امتونو د سختې راتلونکې او يقيني تباهۍ نه يې خبر کړئ دئ، ځکه هغوی د خپلو پيغمبرانو خبره ونه منله او ايمان يې رانوړ، او په بيان کې الله تعالى فرمايلي دي:

﴿وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَآ إِلَىٰٓ أُمَمٖ مِّن قَبۡلِكَ فَأَخَذۡنَٰهُم بِٱلۡبَأۡسَآءِ وَٱلضَّرَّآءِ لَعَلَّهُمۡ يَتَضَرَّعُونَ ٤٢ فَلَوۡلَآ إِذۡ جَآءَهُم بَأۡسُنَا تَضَرَّعُواْ وَلَٰكِن قَسَتۡ قُلُوبُهُمۡ وَزَيَّنَ لَهُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ٤٣ فَلَمَّا نَسُواْ مَا ذُكِّرُواْ بِهِۦ فَتَحۡنَا عَلَيۡهِمۡ أَبۡوَٰبَ كُلِّ شَيۡءٍ حَتَّىٰٓ إِذَا فَرِحُواْ بِمَآ أُوتُوٓاْ أَخَذۡنَٰهُم بَغۡتَةً فَإِذَا هُم مُّبۡلِسُونَ ٤٤ فَقُطِعَ دَابِرُ ٱلۡقَوۡمِ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْۚ وَٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٤٥ قُلۡ أَرَءَيۡتُمۡ إِنۡ أَخَذَ ٱللَّهُ سَمۡعَكُمۡ وَأَبۡصَٰرَكُمۡ وَخَتَمَ عَلَىٰ قُلُوبِكُم مَّنۡ إِلَٰهٌ غَيۡرُ ٱللَّهِ يَأۡتِيكُم بِهِۦۗ ٱنظُرۡ كَيۡفَ نُصَرِّفُ ٱلۡأٓيَٰتِ ثُمَّ هُمۡ يَصۡدِفُونَ ٤٦ قُلۡ أَرَءَيۡتَكُمۡ إِنۡ أَتَىٰكُمۡ عَذَابُ ٱللَّهِ بَغۡتَةً أَوۡ جَهۡرَةً هَلۡ يُهۡلَكُ إِلَّا ٱلۡقَوۡمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ٤٧﴾

[٤٢] ای پيغمبره! او يقينا چې ستا نه پخوا ولسونو ته مونږ پيغمبران راولېږل [خو دوی پيغمبران ونه پالل او نه يې د هغوی دعوت ومانه] نو بيا مونږ دوی په سختۍ اوستونزو کې واچول [يعنی په سر او مال کې ز يانمن سول] ترڅو چې بيا دوی خپل پالونکي څښتن الله ته په زارۍ سره تسليم سي او حکمونو يې ومني، يعنی د کفر او خپل رب د سرکښۍ نه لاس واخلي او حق ته غاړه کېږدي.

[٤٣] نو بيا چې کله دغو ولسونو ته د زمونږ سزا او عذاب راغئ، نو دوی ته ښاييدل چې په زارۍ سره يې خپل پالونکي څښتن الله ته مخ اړولئ واى، خو د دوی زړونه کلک سول او شيطان ورته د دوی کړنې [او پيغمبرانو سره کرکجن چلند] ښکلئ او ښايسته که، يعنی دوی پيغمبران

دروغژن وګڼل او ایمان یې رانوړ، او پیغمبرانو سره یې دښمنۍ ته کلکه ملا وتړله، لکه د مکې مشرکان چې د خاتم النبیین والمرسلین سره یې اوږدې جګړې وکړې، ترڅو الله تعالی خپل پیغمبر ته بر یا او فتحه و بښله.

[٤٤] نو بیا چې کله دغو امتونو د الله نه ورته راغلیو پیغمبرانو نصیحتونه هیر کړل [یعنی هغو ته یې شا کړه او پیغمبران یې ونه منل] نو بیا دغو خلکو ته مونږ د هرڅه ورونه بیرته کړل [یعنی هرڅه دوی ته ورکړل سول] تر هغو چې کله دوی پر ورکړل سوو نعمتونو ښه خوښ سول [یعنی په مزو کې سول] نو بیا ناڅاپه دوی مونږ راونیول [او سزا مو ورکړه] نو بیا ورک او هلاك سول!

[٤٥] نو بیا الحمد لله د دغو [سرکښو خلکو] چې پر خپلو ځانو باندې یې تیرۍ او ظلم وکه؛ ریښې وختلې او دوی بیخي له منځه لاړل او تباه سول، نو ټول حمد او ستاینه الله لره ده چې د ټولې نړۍ پالونکۍ لوی څښتن دۍ، یعنی نو بیا ځکه الله تعالی خپل ټول دوستان او پیغمبران پر کافرانو باندې زورور او بر لاسي کړل او دښمنان یې خوار او ذلیل سوي سپک او مختورن کړل.

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې همدارنګه الله تعالی رسول اللهﷺ باندی غږ کړۍ دۍ، او کافرانو سره په مرکو کې یې د کافرانو لاډیرو بې ځوابه کولو او چو پولو په مقصد فرمایلي دي:

[٤٦] ای پیغمبره! او دغو کافرانو ته ووایه: ای خلکو! ماته ووایي: که الله د ستاسې غوږونه او سترګې درڅخه وا خلي او کاڼه او ړلانده سۍ او د ستاسې زړونه ټاپه کړي [چې نور به په څه نه پوهیږۍ] نو د الله نه پرته بل خدای څوک دۍ چې دغه حواس بیرته تاسې ته راوړي؟ ځواب دا چې: د الله نه پرته بل هیڅ څوک دوی ته دا حواس راوړای نسي، نو ای پیغمبره! وګوره چې دغو کافرانو ته څنګه ډول ډول دلیلونه راوړم، خو بیا هم دوی د حق نه مخ اړوي او هغه نه مني، یعنی پند او عبرت نه اخلي.

[٤٧] ای پیغمبره! [او دغو کافرانو ته] ووایه: آیا تاسې خپل ځانونه

وليدل؟ [يعنى آيا پدې پوه سوى؛ هغه څه چې تاسې ته و يل كيږي هغه حق دي] نو ماته ووايي: كه د الله عذاب ناڅاپه تاسې ته راسي او يا ښكاره درته راسي چې تاسې يې و يني، نو آيا دغه عذاب او سزا د ظالمانو نه پرته چې دوى كافران دي؛ بل څوك هلاكوي او له منځه يې وړي؟ ځواب: نا! بل هيڅ څوك د كافرانو نه پرته الله نه تباه كوي او نه يې له منځه وړي، يعنى دا چې الله تعالى يوازې سركښو كسانو ته سزا وركوي.

{پيغمبران جنتوته ز يري وركونكي او د دوزخ نه ګوابنونكي دي}

او په ور پسې مباركو آيتونو كې الله تعالى د پيغمبرانو رسالت او دنده خلكو ته ښه ځلانده په نښه كړې ده، او په بيان كې يې فرمايلي دي:

﴿وَمَا نُرۡسِلُ ٱلۡمُرۡسَلِينَ إِلَّا مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَۖ فَمَنۡ ءَامَنَ وَأَصۡلَحَ فَلَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ٤٨ وَٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا يَمَسُّهُمُ ٱلۡعَذَابُ بِمَا كَانُواْ يَفۡسُقُونَ ٤٩ قُل لَّآ أَقُولُ لَكُمۡ عِندِي خَزَآئِنُ ٱللَّهِ وَلَآ أَعۡلَمُ ٱلۡغَيۡبَ وَلَآ أَقُولُ لَكُمۡ إِنِّي مَلَكٌۖ إِنۡ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰٓ إِلَيَّۚ قُلۡ هَلۡ يَسۡتَوِي ٱلۡأَعۡمَىٰ وَٱلۡبَصِيرُۚ أَفَلَا تَتَفَكَّرُونَ ٥٠﴾

[٤٨] [اى خلكو!] او پيغمبران مونږ نه رالږلو، مګر مومنانو ته د جنتو ثوابونو ز يري وركونكي او كافرانو ته د دردونكي عذاب نه و يرونكي، نو چا چې ايمان راوړ او ښه يې وكړل، نو پر دوى باندې نوره و يره نسته او نده غمجن كيږي، يعنى مومنان نور د الله ساتنې نه كلك برخمن دي.

[٤٩] او هغو كسانو چې د زمونږ كتاب آيتونه [او د زمونږ قدرتونو نښې او معجزې] دروغ و بللې؛ دوى ته به د دوى د كفر او د الله فرمان نه د وتلو سزا او عذاب ورسيږي.

قدرمنو وروڼو او خو يندو! الله تعالى په دغو مبارو كوآيتونو كې د اسلام پيغمبر(محمدﷺ) ته كافرانو سره د خبرو او مركو هغسې تګ لاره ښودلې ده چې پر دوى يې نوره لار وركه كړې ده او بې ځوابه چوپ پاتې

سوي دي، ځکه په هغه وخت کې د عر بانو کافرانو د الله تعالی په توحید باندې په ر بو بیت کې باور درلود، نو ځکه د سختیو په وخت کې به دوی یوازې الله تعالی ته مخ اړا وه او د الله نه بې مرسته غوښتله، خو کله چې به سختي ورځخه لرې سوه، نو بیا به د خپلو نیکونو نه ورته پاتې دودنو او رواجونو پسې لاړل او هغه بتان بې چې د نیکونو نه ورته پاتې میراث وه؛ د الله سره په عبادت او بنده ګۍ کې ګډول او و یل بې: دا بتان مونږ الله ته ورلنډوي: [مانعبدهم إلا ليقر بونا إلى الله زلفى. الأية ٣ سورة الزمر، هو! مونږ د بتانو عبادت نکړو مګر دا چې بتان مونږ الله ته ورلنډ کړي!] نو پدې ډول د مکې مشرکانو مشرانو د کفر او د الله او د پیغمبرﷺ د نه منلو ر ښتني عوامل چې د دوی کینه او کبر وه؛ راپسیره سول او عام خلک پرې پوه سول، نو بیا یې د الله پیغمبر منلو ته مخه کړه او ایمان یې راوړ او ځانونه یې د الله عذاب نه خوندي کړل،نو ښایي چې اسلام ته رابلونکې علماء او دعات چې دوی د پیغمبرﷺ وارثان دې او رسالت او پیغام یې مومنانو ته د جنتونو ز یري او کافرانو ته د دوزخ نه ګواښل دې؛ همدا لار خپله کړي او کافرانو سره په پخه حوصله او په زغم سره د خبرو او مرکو سمه لار خوښه کړي او د بل هر ډول سخت دریځ او تر یخ چلند نه چې هغه د اسلام خلاف وي ځانونه کلک وساتي.

او په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی خپل استازي محمدﷺ ته لارښودنه او سپارښت کړئ دئ چې کافرانو ته اعلان وکړي او ورته ووایي چې زه د الله نه را ته راغلې وحی یې پسې د تګ نه پرته؛ نور څه واک نه لرم، او فرمایلي دي:

[٥٠] ای پیغمبره! [او دغو کافرانو ته] ووایه: زه تاسې ته نه وایم چې د زما سره [په اسمانو او ځمکه کې] د الله پټې خزانې دې او نه زه په پټو شیانو پوهیږم او نه زه تاسې ته وایم چې زه په یقین سره فرښته یم، هو! زه یوازې هغې وحی یې پسې ځم؛ چې هغه راته کیږي [یعنی زه د الله استازئ او پیغمبر یم او تاسې د الله عبادت او بنده ګۍ ته په توحید سره رابولم] او ای پیغمبره! دغو کافرانو ته ووایه: آیا ړوند او لیدونکئ یا بینا سره برابر

دي؟ [ځواب: نا! دا دواړه هيڅ کله سره برابر ندي] نو آيا تاسي ای خلکو! د الله [کتاب پر آيتونو او د هغه قدرتونو په لو يو نښانو کې] فکر نکړي؟ يعنی ترڅو حق و پيژنی او ايمان را وړی!

ګرانو دوستانو! الله تعالی پدې مبارک آيت کې کافران چې حق نه و يني؛ ډلانده ګڼلي دي او مومنان يې چې حق و يني او هغه مني بينايان بللې دي، او هوښياران پدې پوهيږي چې دا دواړه سره برابر ندي، نو ښايي چې کافران ښه فکر وکړي او ځانونه د ړندښت نه کلک وساتي، يعنی ترڅو يې سترګې د حق په ليدلو سره رڼا سي او هغه ومني.

{قرآن پيغام دئ او مومنانو ده پيغمبر خپل څنګ نه نشړي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی رسول الله ﷺ ته امر کړئ دئ چې پر قرآن هغه کسان وګواښه چې دوی د قيامت ورځې عذاب نه کلک و يرې، او همدارنګه الله تعالی خپل استازئ ﷺ د خپل څنګ نه د مخلصو مومنانو لرې کولو نه کلک منع کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿وَأَنذِرْ بِهِ ٱلَّذِينَ يَخَافُونَ أَن يُحْشَرُوٓاْ إِلَىٰ رَبِّهِمْ لَيْسَ لَهُم مِّن دُونِهِۦ وَلِيٌّ وَلَا شَفِيعٌ لَّعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ﴿٥١﴾ وَلَا تَطْرُدِ ٱلَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُم بِٱلْغَدَوٰةِ وَٱلْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُۥ ۖ مَا عَلَيْكَ مِنْ حِسَابِهِم مِّن شَىْءٍ وَمَا مِنْ حِسَابِكَ عَلَيْهِم مِّن شَىْءٍ فَتَطْرُدَهُمْ فَتَكُونَ مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٥٢﴾ وَكَذَٰلِكَ فَتَنَّا بَعْضَهُم بِبَعْضٍ لِّيَقُولُوٓاْ أَهَٰٓؤُلَآءِ مَنَّ ٱللَّهُ عَلَيْهِم مِّنۢ بَيْنِنَآ ۗ أَلَيْسَ ٱللَّهُ بِأَعْلَمَ بِٱلشَّٰكِرِينَ ﴿٥٣﴾﴾

[٥١] ای پيغمبره! او پدې کتاب (قرآن) باندې[چې د خلاصون پيغام دئ] هغه کسان وګواښه چې دوی د دې نه و يرې چې خپل پالونکې څښتن الله ته به د قيامت په ورځ په داسې حال کې ورغوند سي چې بيا به د الله نه پرته بل هيڅ څوک نه ملګرئ لري او نه سپارښتونکئ، او دا

کسان به په کلکه سره ځانونه د الله عذاب نه وساتي، یعنی د الله حکمونه به عملي کړي او د قیامت په ورځ به خپل رب پر وړاندې سپین مخي ودر یږي.

عزتمنو دوستانو! او په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی رسول اللهﷺ ته ګواښ کړئ دئ چې پام کړه هغه پر تا مین مخلص مومنان خپل څنګ نه ونه شړي، او فرمایلي دي:

[۵۲] ای پیغمبره! او هغه کسان د خپل څنګ او مجلس نه مه شړه چې دوی صبا او بیګاه د خپل پالونکي څښتن الله عبادت کړي او د الله رضا او خوښي غواړي، او ستا نه د دوی پوښتنه نکیږي او نه د ستا پوښتنه د دوی نه کیږي، او که ته دوی د خپل مجلس نه وشړي، نو ته به بیا د ظالمانو نه وي، یعنی د الله پر حکمونو باندې به تا تیرئ کړ وي.

ګرانو دوستانو! د دې مبارك آیت د رانازلیدلو په باره کې روایت سوئ دئ چې دغه بې وزره مخلص مومنان به تل پر رسول اللهﷺ باندې راټول ول، نو کله چې به د کافرانو مشران رسول اللهﷺ سره خبرو ته راغلل، نو د رسول اللهﷺ نه به دوی غوښتل چې دغه بې وزره غر یب کسان د خپل مجلس نه و باسي او د څنګ نه یې لرې کړي، ځکه کافرانو دغه بې وزره مخلص مومنان خپل سیالان نه ګڼل، نو الله تعالی د کافرانو دغسې غوښتنې؛ کلکې ردې کړې دي او پیغمبرﷺ ته یې دغه سپارښت کړئ دئ، ترڅو هغه د رسول الله ﷺ لار و یانو دعاتو ته تل پاتې لارښود پیغام وي او هیڅکله خپل مخلص ملګري د ځان نه لرې نکړي.

او بیا په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی د خلکو په منځ کې د دنیا مال او دولت او د هستۍ او نیستۍ تو پیر په باره کې یادونه کړې ده چې د دې توپیر نه لوی مقصد ازمایښت او امتحان دئ، او فرمایلي دي:

[۵۳] هو! مونږ همداسې ځینې خلک پر ځینې نورو باندې ازمایښت کړل [یعنی ځینې خلک مال او دولت او زور او ځواک لري، خو کافران دي، او ځینې بیا بې وزره او مسکینان دي څه شئ د دنیا مال نه نه لري،

خو مومنان دي] ترڅو دولتمن ماړه او بډا کســان ووايي چې آيا د زمونږ منځ نه الله پر دغو سپيرو بې وزرو کسانو باندې احسان کړئ دئ؟ [يعنى پر دوى يې اسلام پيرزو کړئ دئ؟ ځواب: هو! همداسې ده!] او آيا الله پر خپلو شــکر و يســتونکو بنده ګانو باندې ښــه پوه ندئ؟ يعنى دا چې الله تعالى ښــه پوهيږي چې څوک د الله نعمتونو شــکر باسي، ترڅو دوى ســمې لارې ته هدايت کړي، او څوک ناشکري کړي او خپل رب او پالونکئ څښتن ســم نه پيژني او بتان ورســره په خدايي کې ګډوي، او لکه د الله عبادت همداسې د بتانو عبادت کړي!

ګرانو دوســتانو! نو مونږ ته الله تعالى پدې مبارك آيت کې دا حقيقت ډير روښانه ياد کړئ دئ چې د دنيا مال او دولت او زور او ځواک الله ته د وړاندې توب او د تقرب تله او معيار ندئ، بلکې الله ته د تقرب وســيله پر حق او ر ښتيا سره د الله پيژندنه او د هغه شکر و يستل په ښې بنده ګى سره دي، نو ځکه متقيان پر الله ګران دي.

{ رسول الله ﷺ پر مومنانو د ډاډ لپاره سلام اچا وه }

او په ور پســې مبارکو آيتونوکې الله تعالى رســول الله ﷺ ته لارښــودنه کړې ده چې مومنان ده په ســلام اچولو ســره مطمئن او ډاډه کړي، او فرمايلي دي:

﴿وَإِذَا جَآءَكَ ٱلَّذِينَ يُؤۡمِنُونَ بِـَٔايَٰتِنَا فَقُلۡ سَلَٰمٌ عَلَيۡكُمۡ كَتَبَ رَبُّكُمۡ عَلَىٰ نَفۡسِهِ ٱلرَّحۡمَةَ أَنَّهُۥ مَنۡ عَمِلَ مِنكُمۡ سُوٓءَۢا بِجَهَٰلَةٖ ثُمَّ تَابَ مِنۢ بَعۡدِهِۦ وَأَصۡلَحَ فَأَنَّهُۥ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٥٤ وَكَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ ٱلۡأٓيَٰتِ وَلِتَسۡتَبِينَ سَبِيلُ ٱلۡمُجۡرِمِينَ ٥٥﴾

[٥٤] اى پيغمبره! او کله چې تاته هغه کســان راغلل چې دوى د زمونږ پر آيتونو باندې ايمان راوړئ دئ، نو ته پر دوى باندې ســلام واچوه او کلک ژ يرئ ورکړه چې د ستاسې پالونکي څښتن الله پر تاسې باندې خپل رحمت او مهر باني فرض کړې ده، او اى مومنانو! هرچا چې د ستاسې نه

په ناپوهۍ سره بد وکړل، خو بيايې تو به وايستله [او سم سه] نو يقينا چې الله لوی ښونکئ او ښه مهربان لوی ذات دئ، يعنی د خپلو بنده ګانو نه ګناه لري کوي او دوی ښني.

[٥٥] هو؛ ای پيغمبره! د قرآن آيتونه او [د حق پيژندلو دليلونه] مونږ همداسې په پوره روښتيا او تفصيل سره بيان کړل، ترڅو د کافرانو او د مجرمانو تک لاره او در يځ سره بيل او ښه روښانه څرګند سي، يعنی مجرمان او کافران هرڅوک ښه و پيژني او پرې پوه سي چې دوی د حق نه منکر دي او په کبره لار روان دې، نو هيڅ څوک ده پر کافرانو نه غوليږي او د دوی د توطئيو او تبليغاتو ښکار ده نه کيږي، خو د بده مرغه په اوسنۍ اسلامي نړۍ کې د ډيرو هيوادونو خلک د لو يديځ ښکيلاک پيل نه په اتلسمه ميلادي پيړۍ کې تر اوسه د کافرانو په لومو کې نښتي دي، او د هر بدلون نه وروسته؛ تل غوليدلي دي، ځکه دا کسان د حق او باطل په منځ کې سم تو پير کړای نسي، نو ښايي چې اسلام پاله دعات او پوهان تل و ښنې وي او کفر او اسلام او حق او باطل په ډيره ز ږکتيا سره د يو بل نه بيل کړي او خپل مومن ولسونه تل په و ښتيا کې وساتي، ترڅو دوی د باطل پلو يانو پسې لاړ نسي او د هغوی په غوږه مالۍ ونه غوليږي او په شيطاني لومو کې يې ونښلي.

{پيغمبر ﷺ او وارثان دې د کافرانو خوښۍ نه غواړي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی پيغمبر ﷺ ته پر حق باندی د ټينګښت کلکه بلنه ورکړې ده او سپارښت يې ورته کړی دئ چې د کافرانو خوښۍ پسې لاړ نسي، او فرمايلي دي:

﴿قُلْ إِنِّي نُهِيتُ أَنْ أَعْبُدَ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ ۚ قُل لَّا أَتَّبِعُ أَهْوَاءَكُمْ قَدْ ضَلَلْتُ إِذًا وَمَا أَنَا مِنَ الْمُهْتَدِينَ ﴿٥٦﴾ قُلْ إِنِّي عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّي وَكَذَّبْتُم بِهِ ۚ مَا عِندِي مَا تَسْتَعْجِلُونَ بِهِ ۚ إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ ۖ يَقُصُّ الْحَقَّ ۖ وَهُوَ خَيْرُ الْفَاصِلِينَ ﴿٥٧﴾ قُل لَّوْ أَنَّ عِندِي مَا تَسْتَعْجِلُونَ بِهِ لَقُضِيَ الْأَمْرُ بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ ۗ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِالظَّالِمِينَ ﴿٥٨﴾﴾

[٥٦] ای پیغمبره![دغو کافرانو ته] ووایه زه یقینا د دې نه منعې سوئ یم چې د هغو بتانو عبادت او بنده کې وکړم چې هغه تاسې د الله نه پرته خدایان بولی، او هم ورته ووایه چې زه د ستاسې ځاني خوښیو پسې نه ځم، او که زه دا کار وکړم [یعنی د ستاسې خوښۍ غوښتنې ومنم] نو بیا به زه یقینا د سمې لارې نه ورک سوئ یم او پر هغه لار د تلونکونه به نوم.

[٥٧] ای پیغمبره! او کافرانو ته همداسې ووایه چې زه د خپل پالونکي خدای لخوا روښانه دلیل لرم [او هغه ماته د الله نه راغلئ کتاب (قرآن) دئ] خو هغه تاسې ای کافرانو! دروغ وګانې [یعنی ورځخه منکر سوی] او هغه څه چې تاسې یې ژر غوښتونکې یاستی [او هغه پر تاسې باندې د عذاب رانازلیدل دي] هغه د زما سره نسته [یعنی عذاب د زما په واک کې ندئ] او د هرڅه حکم الله کړئ دئ او الله حق بیانوي [یعنی پر حق او عدالت پر یکړه کوي] او الله د حق او باطل په منځ کې ښه بیلونکئ لوی ذات دئ.

[٥٨] ای پیغمبره! او دغو کافرانو ته ووایه: هغه څه چې تاسې یې ژر غواړی [یعنی هغه پر تاسې باندې د الله عذاب راکوز یدل دي] نو که چیرې هغه د زما په لاس کې وای، نو د زما او ستاسې په منځ کې به ژر فیصله او پر یکړه سوی وه، خو دا کار د الله په واک کې دئ او الله پر ظالمانو باندې ښه پوه دئ، یعنی دوی ښه پیژني چې کافران دي، نو بیا هر چاته الله تعالی د هغه لائق ثواب او سزا ورکوي، او داسې کلک عذاب پر دوی باندې راکوزوي چې ترڅو یې په لمبو کې بې ولې سي.

{د پټو شیانو پوهې کیلي یا چاپې د الله سره ده}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی خلک د خپل لوی علم نه پر ځمکه او په اسمانونو کې خبر کړي دي، او فرمایلي دي:

﴿*وَعِندَهُۥ مَفَاتِحُ ٱلْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَآ إِلَّا هُوَ ۚ وَيَعْلَمُ مَا فِى ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ ۚ وَمَا تَسْقُطُ مِن وَرَقَةٍ إِلَّا يَعْلَمُهَا وَلَا حَبَّةٍ فِى ظُلُمَٰتِ ٱلْأَرْضِ وَلَا رَطْبٍ وَلَا يَابِسٍ إِلَّا فِى كِتَٰبٍ مُّبِينٍ ﴿٥٩﴾ وَهُوَ ٱلَّذِى يَتَوَفَّىٰكُم بِٱلَّيْلِ وَيَعْلَمُ مَا جَرَحْتُم بِٱلنَّهَارِ ثُمَّ يَبْعَثُكُمْ فِيهِ لِيُقْضَىٰٓ أَجَلٌ مُّسَمًّى ۖ ثُمَّ

إِلَيۡهِ مَرۡجِعُكُمۡ ثُمَّ يُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ﴿٦٠﴾ وَهُوَ ٱلۡقَاهِرُ فَوۡقَ عِبَادِهِۦۚ وَيُرۡسِلُ عَلَيۡكُمۡ حَفَظَةً حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَ أَحَدَكُمُ ٱلۡمَوۡتُ تَوَفَّتۡهُ رُسُلُنَا وَهُمۡ لَا يُفَرِّطُونَ ﴿٦١﴾ ثُمَّ رُدُّوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ مَوۡلَىٰهُمُ ٱلۡحَقِّۚ أَلَا لَهُ ٱلۡحُكۡمُ وَهُوَ أَسۡرَعُ ٱلۡحَٰسِبِينَ ﴿٦٢﴾ قُلۡ مَن يُنَجِّيكُم مِّن ظُلُمَٰتِ ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِ تَدۡعُونَهُۥ تَضَرُّعًا وَخُفۡيَةً لَّئِنۡ أَنجَىٰنَا مِنۡ هَٰذِهِۦ لَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلشَّٰكِرِينَ ﴿٦٣﴾ قُلِ ٱللَّهُ يُنَجِّيكُم مِّنۡهَا وَمِن كُلِّ كَرۡبٖ ثُمَّ أَنتُمۡ تُشۡرِكُونَ ﴿٦٤﴾ قُلۡ هُوَ ٱلۡقَادِرُ عَلَىٰٓ أَن يَبۡعَثَ عَلَيۡكُمۡ عَذَابٗا مِّن فَوۡقِكُمۡ أَوۡ مِن تَحۡتِ أَرۡجُلِكُمۡ أَوۡ يَلۡبِسَكُمۡ شِيَعٗا وَيُذِيقَ بَعۡضَكُم بَأۡسَ بَعۡضٍۗ ٱنظُرۡ كَيۡفَ نُصَرِّفُ ٱلۡأٓيَٰتِ لَعَلَّهُمۡ يَفۡقَهُونَ ﴿٦٥﴾ وَكَذَّبَ بِهِۦ قَوۡمُكَ وَهُوَ ٱلۡحَقُّۚ قُل لَّسۡتُ عَلَيۡكُم بِوَكِيلٖ ﴿٦٦﴾ لِّكُلِّ نَبَإٖ مُّسۡتَقَرّٞۚ وَسَوۡفَ تَعۡلَمُونَ ﴿٦٧﴾

[٥٩] [ای خلکو!] او د پټو خزانو علم او د خلاصیدلو کیلي یا چاپي د الله سره ده، او د الله نه پرته بل هیڅ څوک ور باندې نه پوهیږي، او هرڅه چې په وچه او د سمندرنو په لنده کې دي؛ پر هغو ټولو باندې الله پوهیږي، او هیڅ یوه پاڼه [د کمې وڼې نه نه رالو یږي] مګر دا چې الله پرې پوهیږي، او هم هیڅ دانه د ځمکې زړه په تیارو کې نسته او نه هیڅ تازه او وچ څه شئ سته، مګر دا چې هغه په بیان سوي کتاب [لوح محفوظ] کې لیکل سوئ دئ، یعنی ټول هغه څه چې پر ځمکه او په اسمانو کې دي او څه چې پکې پیښیږي؛ هغه ټول د الله په علم او اراده باندې کیږي، او الله په هرڅه پوهیږي او د هر کار په کړو باندې الله قادر لوی ذات دئ.

قدرمنو دوستانو! الله تعالی پدې مبارك آیت کې دا حقیقت مونږ ته بیان کړئ دئ چې د پټو خزانو علم یوازې د الله سره دئ او د الله نه پرته بل هیڅ څوک ور باندې نه پوهیږي، نو هرڅوک چې د علم غیب دعوا

کړي؛ هغه کلک دروغژن دئ او د هغه خبرو منل روا ندي، لکه کوډګر چې د غیبو پوهیدلو دروغژنه دعوا کړي.

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د خپل هغه زور او ځواک نه چې د خپلو مخلوقاتو پر هرڅه واکمن ذات دئ؛ ځینې بیلګې او مثالونه یاد کړي او بیان کړي دي، او فرمایلي دي:

[٦٠] هو؛ ای خلکو! الله هغه لوی پالونکئ ذات دئ چې شپې په خوب کې تاسې مړه کوي [یعنی دا چې تاسې په خواب کې د مړو غوندې وی او په څه نه پوهیږي] او ورځې چې څه کړی الله ور باندې پوهیږي، او بیا الله تاسې بیرته د خوب نه راو یښوي، ترڅو د ستاسې ټاکل سوې نیټه د دنیا په ژوند کې پوره سي [او بیا مړه سی، نو بیا چې کله د قیامت ورځ راسي تاسې بیرته خاماخا راژوندې کیږی] او بیا تاسې الله ته ورګرځول کیږي، او الله تاسې د خپلو هغو کړنو نه خبروي چې هغه تاسې په دنیا کې کړې وې.

[٦١] او الله د خپلو بنده ګانو پر سر باندې واکمن مسلط ذات دئ [یعنی هرڅوک او هرڅه د الله تعالی واک لاندې دي] او الله پر تاسې باندې ای خلکو! ساتونکي ملائکې (فرښتې) رالیږلې دي [او دا فرښتې د ستاسې حفاظت کړي او د ستاسې ټولې خبرې او کړنې څاري او ساتي یې] ترڅو چې بیا د ستاسې نه یو چا ته مرګ راسي او اجل یې پوره سي، نو بیا د زمونږ استازې ملائکې د هغه روح یا ساه اخلي، او دغه ملائکې په ورسپارل سوو دندو ترسره کولو کې هیڅ کمئ نکړي، یعني خپلې چارې په پوره اخلاص، صداقت او ځواکمنې سره ترسره کوي.

[٦٢] او بیا دا مړه سوي کسان بیرته الله ته چې دئ د دوی پالونکئ څښتن دئ؛ په ر یښتیا سره ورګرځول کیږي، او ای خلکو! خبر سی! چې د

قیامت پر ورځ حکم کړل او پر یکړې د الله په واک کې دي او الله ډیر ژر حساب اخستونکئ واکمن او لوی ذات دئ.

درندو وروڼو او خو یندو! نو ښـــایي چې مونږ ټول خپل رب الله تعالی چې پر ټولو کمالي صـــفتونو باندې موصـــوف دئ او هرڅه یې په واک او اختیار کې دي؛ ښه و پیژنو او ورته تسلیم سو او فیصلو ته یې غاړه کیږدو او هغه ومنو او د سرغړونې نه یې ځانونه کلک وساتو.

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې همداسې الله تعالی رسـول اللهﷺ ته کافرانو سـره په مرکو او مناظرو کې ښې لارښـودنې او ګټورې سـپارښـتنې کړې دي، او فرمایلي دي:

[٦٣] ای پیغمبره! [کافرانو ته] ووایه [او ورڅخه و پوښـته چې] د وچو ډاګو او د سمندرونو په تورو تیارو کې څوک تاسې ته نجات درکوي؟ [یعنی آیا هغه الله ندئ؟] چې په ښکاره او په پټه سـره تاسـې دئ غواړي او وایي: که الله مونږ د دغې ســـتونزې نه خلاص کړو او نجات یې راکه، نو بیا به مونږ یقینا د شـکر و یسـتونکو نه یو، یعنی د الله تعالی د لو یو ورکړو او پیرزو ینو پالنه به کړو او یوازې د الله تعالی بنده ګي به کړو.

[٦٤] ای پیغمبره! او دغو کافرانو تـه ووایـه: هو! یوازې الـله دئ چې تاسـې د دغو ټولو سـتونزو نه خلاصـوي، خو بیا هم تاسـې د الله سـره په عبادت کې بتان ګډوی! یعنی د سـتاسـې دا شـرك د الله پیرزو ینو سـره لو یه ناشکري او جفا بلل کیږي.

[٦٥] ای پیغمبره! [او کافرانو تـه] ووایـه: هو! الـله پـدې قـادر دئ او کولای سي چې عذاب او سزا پر تاسې باندې له پاس نه راکوزه کړي او یا د سـتاسـې د پښـولاندې درته سـزا راولیږي او یا تاسـې ټول ډلې ډلې کړي او

يو بل ته سزا ورکړی، نو ته ای پیغمبره ګوره! چې څنګه مونږ خپل دلیلونه کافرانو ته ښه روښانه بیان کړل، ترڅو دوی ښه پرې پوه سي، یعنی هغه ومني او د خپل کفر او شرك نه نور لاس وا خلي او یوازې د الله تعالی بنده ګان سي او په اخلاص سره یې عبادت وکړي.

[٦٦] خو د ستا قوم ای پیغمبره! قرآن دروغ و باله، حال دا چې هغه حق دئ، نو ته د خپل قوم دغو کافرانو ته [ښکاره اعلان وکه] او ورته ووایه چې زه د ستاسې استازئ نه یم، ترڅو تاسې وساتم، یعنی زه د الله استازئ او پیغمبر یم او پیغام یې چې توحید ته بلنه ده؛ تاسې ته رسوم.

[٦٧] هو! هره خبره خپل ځای لري [او هلته پکې تمیږي او ځای پر ځای کیږي، او حق به نور د باطل نه بیل سي او پر خپل ځای کې به استقرار بیامومي او تم به سي] او تاسې به ای مشرکانو ډیر ژر ښه پوه سی چې تاسې د حق نه سرغړونه کړي وه او په کږو لار باندې تللي وی، خو په هغه ورځ نوره پیښماني ګټه نه لري، یعنی نو هوښیارانو ته ښایی چې حق ومني او مومنان سي!

ګرانو عز یزانو! الله تعالی پدې مبارکو آیتونو کې لمړئ خپل عظمت، لو یتیا، ټول واکي او لوی قدرت پر خپلو مخلوقاتو باندې په وار وار سره یاد کړئ او بیان کړئ دئ، او بیا یې د رسول الله ﷺ قوم کافران پر خپل خالقیت، ر بو بیت او په لو یه واکمنۍ باندې ګواښلي دي، ځکه د مکې کافران د خپل شرك سره سره پدې قانع ول چې د دوی ر یښتینئ پالونکئ څښتن الله دئ، او دوی الله تعالی پیدا کړي دي او روزي ورکوي او پالي یې، نو ځکه دوی په سختۍ کې یوازې الله تعالی ته مخ اړا وه، او خپل نجات یې یوازې د الله نه غوښته، نو همدا حقیقت الله تعالی د دوی مخې ته ایښي دئ، ترڅو د خپل کینه کښ در یځ او کبرجنې تګ لارې نه لاس واخلي او حق چې ښه روښانه دئ سم ومني، او ور باندې پوه سي او د

رسـول اللهﷺ پيغمبرۍ باندې اقرار وکړي او هغه سـمه ومني او ايمان راوړي او د رسول اللهﷺ سره دښمني نوره پر يږدې، خو د مکې مشرکانو زړونه د دې سـره سـره، لکه تيکه همداسې کلک د کفر او شـرک په تورو تيارو کې پاتې سول، ترڅو چې الله تعالى خپل پيغمبر ته د مشرکانو واکمنۍ نـه نجـات ورکـه او يثرب تـه (مـدينې منورې تـه) يې هجرت وکـه، او بيـا وروسته د کافرانو جګړه مار لښکر رسـول اللهﷺ پسې ورغئ او د بدر په لو يـه غزا کې چې ورته د حق او بـاطل په منځ کې بيلونکې او د فرقـان غزا نوم ورکړل سـوئ دئ؛ د الله عذاب پر مشـرکانو باندې راکوز سـه او د کافرانو مشران څه د جګړې په ډکر کې ووژل سول، لکه ابوجهل او ورسره نور ځينې مشـران، او څه نور يې ژوندې برمته او اسـيران سـول، او بيا څو کاله وروسته چې کله د مشـرکانو ټول يرغلونه او جګړې پر مومنانو باندې په مدينه منوره کې په شـا وتنبول سـوي، نو بيا رسـول اللهﷺ د خپلو يارانو او ملګرو سـره د مکې فتحې په غزا کې؛ مکې معظمې ته سـرلوړئ راننوت او د بتانو څرلې يې ټول ړنګ کړل او کعبه معظمه د الله کور يې د بتانو نه پاک که او د توحيد کلمه [لا اله الا الله محمد رسـول الله] يې پکې ور پوله.

{د الله دين سپکاوي په مجلس کې ناسته روا نده}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى رسـول اللهﷺ ته حکم کړئ دئ چې د دين سـپکاوي په جرګه کې د ناسـتې او ګډون نه مخ واړوه او پکې برخه مه اخله، او فرمايلي دي:

﴿وَإِذَا رَأَيْتَ ٱلَّذِينَ يَخُوضُونَ فِىٓ ءَايَٰتِنَا فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ حَتَّىٰ يَخُوضُوا۟ فِى حَدِيثٍ غَيْرِهِۦ ۚ وَإِمَّا يُنسِيَنَّكَ ٱلشَّيْطَٰنُ فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ ٱلذِّكْرَىٰ مَعَ ٱلْقَوْمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٦٨﴾ وَمَا عَلَى ٱلَّذِينَ يَتَّقُونَ مِنْ حِسَابِهِم مِّن شَىْءٍ وَلَٰكِن ذِكْرَىٰ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ﴿٦٩﴾ وَذَرِ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُوا۟ دِينَهُمْ لَعِبًا وَلَهْوًا وَغَرَّتْهُمُ ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا ۚ وَذَكِّرْ بِهِۦٓ أَن تُبْسَلَ نَفْسٌۢ بِمَا كَسَبَتْ

لَيْسَ لَهَا مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلِيٌّ وَلَا شَفِيعٌ وَإِن تَعْدِلْ كُلَّ عَدْلٍ لَّا يُؤْخَذْ مِنْهَآ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ أُبْسِلُوا۟ بِمَا كَسَبُوا۟ لَهُمْ شَرَابٌ مِّنْ حَمِيمٍ وَعَذَابٌ أَلِيمٌۢ بِمَا كَانُوا۟ يَكْفُرُونَ ﴿٧٠﴾

[٦٨] او کله چې تا ای پیغمبره! د کافرانو او فاسقانو نه هغه کسان ولیدل چې دوی د زمونږ کتاب (قرآن) په آیتونو کې ناروا خبرې او سپکاوئ کړي، نو ته د دوی نه مخ واړوه [او په مجلس کې یې مه کینه او پکې ګډون مکړه] ترڅو چې دوی په نورو خبرو لګیا سي [یعنی د قرآن آیتونو سپکاوئ او اهانت پر یږدي] او کیدای سي چې شیطان کله دا خبره د ستا نه هیره کړي او پام ده بلې خوا واوړي، نو بیا چې کله هغه د ستا راپه یاد سوه، نو بیا لدې وروسته نور د ظالمانو ډلې سره مه کینه، یعنی د دوی دغسې کرکجنې جرګې او مجلسونه نور پر یږده او خوسې یې که.

[٦٩] هو! پر هغو کسانو چې د الله نه و یر یږي او د الله حکمونو نه په اطاعت سره د عذاب نه ځانو نه ساتي؛ پر دوی باندې د کافرانو بدو خبرو او بدو کړنو حساب نسته [یعنی د دوی نه یې پوښتنه نه کیږي] خو دوی ته ښایې چې کافرانو او فاسقانو ته نصیحت او وعظ وکړي، ترڅو د الله سزا نه وو یر یږي او د قرآن آیتونو سپکاوئ ونکړي او د بدو و یناوو نه خپلې خولې کلکې وتړي او ورڅخه یې ساتي.

[٧٠] ای پیغمبره! او هغو کسانو چې خپل دین لهو ولعب کړځولئ دئ او لو به یې ورڅخه جوړه کړي ده او سپکاوئ یې کړي؛ دوی پر یږده، ځکه دغه کسان نور د ژوند خوندونو غولولي دي، او ته ای پیغمبره! د قرآن پر آیتونو باندې خلکو ته الله ور په یاد کړه او د سزا نه یې وو یروه، ترڅو د دوی ځانونه د هغو ګناه وو سزا نه چې کړې یې دي؛ هلاك نسي، او دغه د الله اطاعت نه وتلي خلک د قیامت په ورځ د الله نه پرته بل هیڅ ځوک مرستندوی او سپارښتونکي نه لري، ترڅو دوی ته نجات ورکړي، او بیا که دغه کافران په هغه ورځ د خپلو ځانو خلاصون لپاره هر ځومره نذرانه هم ورکړي؛ هغه نه قبلیږي، ځکه دوی هغه کسان دي چې خپلو بدو کړنو

دوی نور تباه او مختورن کړل، او د دوزخ په اور کې دوی ته ایشیدلې او به ورځکل کیږي او دردونکئ عذاب ورکول کیږي، ځکه دوی کافران سول، یعنی د الله دین نه منکر سول او د الله تعالی پیغمبر یې ﷺ ونه مانه.

هو؛ ګرانو دوستانو! الله تعالی پدې مبارکو آیتونو کې کافرانو ته لمړئ نصیحت کړئ دئ او دوی یې سمې لارې ته چې د سزا نه خلاصون دئ؛ کلک رابللي دي او بیا یې د الله سختې سزا نه ګوابلي دي، ترڅو د دغسې غفلت نه راو یښ سي او په ایمان راوړو سره خپلو ځانو ته د دوزخ سخت عذاب نه نجات ورکړي.

قدرمنو عز یزانو! د پام وړ ده چې په اوسني عصر کې او په ځانګړې ډول د افغانستان ولسونو په منځ کې د پنځوسو کلنو نه راپدې خوا یعنی د ظاهرشاه پاچایي د دیمکراسۍ پیل کلنو نه راپدي خو تر ننه پورې منافقان چې په خوله ځانونه مسلمان بولي، خو په زړو کې کافران دي؛ د مکې کافرانو غوندې تل الله تعالی او د هغه کتاب قرآن عظیم الشان او د پیغمبر علیه السلام سپکاوئ کړي، نو دا مبارك آیتونه، لکه چې همدا دوی ته د الله تعالی عذاب ګوابن دئ، نو ښایي چې دغسې خلک نوره تو به و باسي او د خپلو کینه کښو او کرکجنو کړنو او و یناوو نه لاس واخلي، ترڅو نجات بیامومي او د الله تعالی په حضور کې مختورن ونه درول سي.

{د الله لارښودنې حق دي او د شیطان وسوسو منل ورکتیا ده}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی رسول الله ﷺ ته لارښودنه کړې ده چې د شیطان وسوسو نه ځان وساتي او مومنان ورڅخه کلک وګوابني، ترڅو یې د حق سمې لارې نه ورک نکړي، او فرمایلي دي:

﴿قُلۡ أَنَدۡعُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَنفَعُنَا وَلَا يَضُرُّنَا وَنُرَدُّ عَلَىٰٓ أَعۡقَٰبِنَا بَعۡدَ إِذۡ هَدَىٰنَا ٱللَّهُ كَٱلَّذِي ٱسۡتَهۡوَتۡهُ ٱلشَّيَٰطِينُ فِي ٱلۡأَرۡضِ حَيۡرَانَ لَهُۥٓ أَصۡحَٰبٞ يَدۡعُونَهُۥٓ إِلَى ٱلۡهُدَى ٱئۡتِنَاۗ قُلۡ إِنَّ هُدَى ٱللَّهِ هُوَ ٱلۡهُدَىٰۖ وَأُمِرۡنَا لِنُسۡلِمَ لِرَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٧١ وَأَنۡ أَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَٱتَّقُوهُۚ وَهُوَ

ٱلَّذِىٓ إِلَيۡهِ تُحۡشَرُونَ ٧٢ وَهُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ بِٱلۡحَقِّۖ وَيَوۡمَ يَقُولُ كُن فَيَكُونُۚ قَوۡلُهُ ٱلۡحَقُّۚ وَلَهُ ٱلۡمُلۡكُ يَوۡمَ يُنفَخُ فِى ٱلصُّورِۚ عَٰلِمُ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِۚ وَهُوَ ٱلۡحَكِيمُ ٱلۡخَبِيرُ ٧٣

[٧١] ای پیغمبره! [هغو کافرانو ته چې تا شرك او کفر ته ور بولي] ووایه: آیا مونږ د الله نه پرته هغه بتان وغواړو او عبادت او بنده ګي یې وکړو چې هغه مونږ ته څه ګټه او ز یان رسولای نسي؟ او پدې کار سره به بیا مونږ وروسته لدې چې الله حق دین ته هدایت کړي یو؛ بیرته په شا وګرځول سو، او د زمونږ دغه بیرته کفر ته ورګرځیدل هغه چاته ورته دي چې هغه شیطان بې لارې کړئ وي، او سرګردانه حیران پر ځمکه ګرځي راګرځي، حال دا چې دئ داسې هوښیار ملګرئ لري چې سمې لاري ته یې رابولي او ورته وایي مونږ ته راسه [خو دئ د هغه خبره نه مني] نو ای پیغمبره! [دغو کسانو ته چې د سمې لارې نه ورک سوي دي؛ اعلان وکه او ورته] ووایه: یقینا چې د الله دا لارښودنه حق ته سمه لارښودنه ده او مونږ ته امر سوئ دئ چې د ټولې نړۍ پالونکي څښتن الله ته ځانونه وسپارو او ورته تسلیم سو، ځکه الله یو او لا شر یك؛ لوی ذات دئ او بل هیڅ څوک ورسره په خدایي کې شر یك ندې او د زمونږ خالق او پالونکئ څښتن دئ!

[٧٢] [او همداسې مونږ ته امر سوئ دئ] چې لمونځ وکړو او د الله عذاب نه ځان وساتو او د الله عذاب نه وو یر یږو او الله هغه څوک دئ چې تاسې ټول ای خلکو! د قیامت په ورځ هغه ته ورغونديږو، یعنی بیا الله تعالی هرچا ته د هغه لائق ثواب او سزا ورکوي.

[٧٣] او الله هغه څوک دئ چې اسمانو نه او ځمکه یې په ر یښتیا او پرحق سره پیدا کړي دي او د قیامت په ورځ چې کله ورته حکم وکړي لړنګ سی، نو ړنګیږي، او د الله و ینا حق ده او په هغه ورځ چې کله لو یه شپیلی [د ټولو مړو د بیرته راژوندې کیدو لپاره] پوه سي، نو بیا د هغې ورځې واکمن څښتن یوازې الله دئ، او په هغه ورځ الله ټولواک رب دئ او الله په پټو او په ښکاره ټولو باندې علم لري او ور باندې ښه پوه ذات دئ، او الله ښه لوي حکیم خدای دئ او الله د هرڅه نه ښه خبر دئ، یعنی د الله

تعالى ټول کړل په حکمت او علم سره ترسره کيږي، نو ځکه د الله په کړنو کې څه کمښت او نقصان نسته.

قدرمنو دوستانو! الله تعالى پدې مبارکو آيتونو کې رسول الله ﷺ ته او هم مونږ مومنانو ته ډيرې ګټورې لارښودنې او سپارښتنې کړې دي، نو ښايي چې په معنا يې ځانونه ښه پوه کړو او هغه ومنو او عمل ور باندې وکړو او پر سمه لار چې هغه د الله تعالى د پندونو او د عبادت او بنده ګۍ حق لار ده لاړ سو او خپل لوی رب او خالق ښه و پيژنو او د هر ډول کفر، شرک او فسق نه خپل ځانونه؛ کلک وساتو او د هلاکت او تباهۍ نه د الله تعالى په توفيق نجات ورکړو.

{ابراهيم عليه السلام خپل پلار چې د بتانو عبادت يې کا وه وننګاوه}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى مونږ ته د ابراهيم عليه السلام د توحيدي دعوت قصه د خپل پلار (آزر) سره کړي ده، او په پای کې فرمايلي دي: څوک چې يوازې پر الله مومنان دي؛ دوی د الله ر ينستيني امنيت او ډاډ مستحق کسان دي، او فرمايلي دي:

﴿*وَإِذْ قَالَ إِبْرَٰهِيمُ لِأَبِيهِ ءَازَرَ أَتَتَّخِذُ أَصْنَامًا ءَالِهَةً إِنِّيٓ أَرَىٰكَ وَقَوْمَكَ فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ٧٤ وَكَذَٰلِكَ نُرِيٓ إِبْرَٰهِيمَ مَلَكُوتَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَلِيَكُونَ مِنَ ٱلْمُوقِنِينَ ٧٥ فَلَمَّا جَنَّ عَلَيْهِ ٱلَّيْلُ رَءَا كَوْكَبٗاۖ قَالَ هَٰذَا رَبِّيۖ فَلَمَّآ أَفَلَ قَالَ لَآ أُحِبُّ ٱلْأَٰفِلِينَ ٧٦ فَلَمَّا رَءَا ٱلْقَمَرَ بَازِغٗا قَالَ هَٰذَا رَبِّيۖ فَلَمَّآ أَفَلَ قَالَ لَئِن لَّمْ يَهْدِنِي رَبِّي لَأَكُونَنَّ مِنَ ٱلْقَوْمِ ٱلضَّآلِّينَ ٧٧ فَلَمَّا رَءَا ٱلشَّمْسَ بَازِغَةٗ قَالَ هَٰذَا رَبِّي هَٰذَآ أَكْبَرُۖ فَلَمَّآ أَفَلَتْ قَالَ يَٰقَوْمِ إِنِّي بَرِيٓءٞ مِّمَّا تُشْرِكُونَ ٧٨ إِنِّي وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ حَنِيفٗاۖ وَمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ٧٩*﴾

[٧٤] [ای پيغمبره! د ابراهيم عليه السلام هغه خبرې خپل پلار (آزر) سره را په ياد کړه] کله چې ابراهيم خپل پلار ته وو يل: آيا ته بتان خپل خدايان

نیسې؟ [یعني د الله نه پرته د بتانو بنده کې کړي؟] خو زه یقینا چې تا ای پلاره! او د ستا قوم په ښکاره ورکتیا کې و ینم، یعنی تاسې د حق لارې نه چې هغه یوازی د الله عبادت او بنده کې لار په توحید سره ده؛ اوښتي یې او په کږه لار روان یاستی!

[۷۵] هو! ابراهیم ته مونږ همداسې د اسمانو او د ځمکې واکمني ښکاره ورو ینو، ترڅو دئ پر خپل ایمان کې د یقیني باور کونکو نه وي، یعنی د ابراهیم علیه السلام ایمان ښه پوخ سي.

[۷٦] نو بیا چې کله پر ابراهیم باندې شپه تیاره سوه، یو ستورئ یې ولیده او و یو یل: دا د زما رب او خدای دئ، خو کله چې ستورئ پر یوت، نو بیا ابراهیم و یو یل: زه پر یوتونکي نه خوښوم، یعنی خدای نه پر یوځي.

[۷۷] نو بیا چې یې کله سپوږمۍ په راختلو کې ولیدله و یو یل: دا زما خدای دئ، او کله چې بیا سپوږمې هم پر یوتله، ابراهیم وو یل: که ما د زما خدای حق ته سم نکړي؟ نو بیا به زه یقینا د حق نه ورک سوي قوم نه وم، یعنی ګمراه سوئ به وم!

[۷۸] نو بیا چې کله ابراهیم د لمر سترکه په راختلو کې ولیدله و یو یل: دا زما خدای دئ، ځکه دا غټ دئ، نو بیا چې کله لمر هم پر یوت و یو یل: ای د زما قومه [یعنی د زما عز یزانو!] زه د ستاسې هغو خدایانو نه چې هغه د الله سره په خدایي کې ګډوی؛ بې زاره یم! یعني بتان، ستوري، سپوږمۍ او لمر چې تاسې هغه د الله سره په خدایي او عبادت کې ګډوی او شر یکوی یې؛ دا ټول ناروا او باطل دي او زه د دوی خدایي نه منم او خپل براءت او بیزاري ورڅخه اعلانوم!

[۷۹] هو! یقینا چې ما خپل مخ هغه چا ته واړا وه چې هغه اسمانونه او ځمکه پیدا کړي دي، او ما خپل مخ د شرك نه توحید ته اړولئ دئ او زه د مشرکانو نه نیم، یعنی زه یوازې د خپل خالق بنده یم نه د مخلوق، او نه ستاسې غوندې د لمر، سپوږمۍ او ستورو عبادت کړم!

هو! ګرانو دوستانو! ابراهیم علیه السلام په دغسې څرګند او روښانه الزامي

منطق او استدلال سره خپل قوم د شرك نه توحيد ته راوباله.

{ابراهيم عليه السلام د خپل قوم سره د جرګې او مرکې لاړغوره کړه}

او بيا ابرهيم عليه السلام سره د هغه عز يزانو چې ټول مشرکان ول؛ استدلال وکه، نو ابراهيم عليه السلام هم ورسره د مرکې لار غوره کړه او کلک استدلال او مناظره يې ورسره وکړه، او په بيان کې يې الله تعالى فرمايلي دي:

﴿وَحَآجَّهُۥ قَوۡمُهُۥۚ قَالَ أَتُحَٰٓجُّوٓنِّي فِي ٱللَّهِ وَقَدۡ هَدَىٰنِۚ وَلَآ أَخَافُ مَا تُشۡرِكُونَ بِهِۦٓ إِلَّآ أَن يَشَآءَ رَبِّي شَيۡـٔٗاۗ وَسِعَ رَبِّي كُلَّ شَيۡءٍ عِلۡمًاۗ أَفَلَا تَتَذَكَّرُونَ ٨٠ وَكَيۡفَ أَخَافُ مَآ أَشۡرَكۡتُمۡ وَلَا تَخَافُونَ أَنَّكُمۡ أَشۡرَكۡتُم بِٱللَّهِ مَا لَمۡ يُنَزِّلۡ بِهِۦ عَلَيۡكُمۡ سُلۡطَٰنٗاۚ فَأَيُّ ٱلۡفَرِيقَيۡنِ أَحَقُّ بِٱلۡأَمۡنِۖ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ٨١ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَلَمۡ يَلۡبِسُوٓاْ إِيمَٰنَهُم بِظُلۡمٍ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمُ ٱلۡأَمۡنُ وَهُم مُّهۡتَدُونَ ٨٢ وَتِلۡكَ حُجَّتُنَآ ءَاتَيۡنَٰهَآ إِبۡرَٰهِيمَ عَلَىٰ قَوۡمِهِۦۚ نَرۡفَعُ دَرَجَٰتٖ مَّن نَّشَآءُۗ إِنَّ رَبَّكَ حَكِيمٌ عَلِيمٞ ٨٣﴾

[٨٠] او بيا د ابراهيم سره د هغه قوم استدلال او مناظره وکړه [يعنى ابراهيم عليه السلام يې په مناظره کې پر خپلو بتانو باندې وګواښه] نو بيا ابراهيم ورته وو يل: آيا تاسې د الله مقام په باره کې زما سره دليلونه وايي او مناظره راسره کړئ؟ حال دا چې زه الله حق ته چې هغه توحيد دئ سم کړئ يم او زه د ستاسې بتانو نه چې د الله سره يې په عبادت کې کډوئ نه و يرم، مګر دا چې د زما رب الله را ته څه شئ وغواړي؟ [يعنى دا چې ماته کم ز يان او تاوان د الله په حکم ورسيږي] هو! د زما پالونکي څښتن الله په علم کې هرڅه ځايږي [يعنى الله تعالى په هرڅه علم لري] نو اى د زما قومه! آيا حق د ستاسې نه راپه يادېږي؟ [حال دا چې هغه د الله تعالى پر لو يتيا او پر توحيد باندې په عبادت او بنده کې کې اقرار دئ، نو ښايي چې تاسې اى خلکو! الله پر حق او ر ښتيا سره سم و پيژنئ او يوازې د الله بنده کې وکړئ او بتان د الله سره په خدايي کې شر يك نکړئ!]

[٨١] هو! اى خلکو! څنګه زه د ستاسې بتانو نه چې هغه د الله سره په

خدايي کې ګډوی؛ وو يرم او تاسې نه و يرې؟ حال دا چې تاسې د الله سره داسې څه ګډ کړي دي چې الله ور باندې پر تاسې کم دليل ندئ رانازل کړئ! نو که تاسې په څه پوهيږئ؟ نو څوک او کمه ډله د دې دواړو نه د امنيت او د ډاډ ډير حق لري؟ ځواب دا چې هغه کسان د امنيت ډير مستحق دي چې خپل ايمان د کفر سره نه ګډوي او دوی ته الله د امنيت کلک ز يرئ ورکړئ دئ، او فرمايلی دي:

[٨٢] هو! هغو کسانو چې ايمان راوړ او خپل ايمان يې پر ظلم او کفر ونه پوښه او پټ يې نکه، نو هغوی ته امنيت او ډاډ ورکول کيږي، ځکه دوی په ر يښتيا سره سمې لارې ته چې د الله توحيد لار ده هدايت سوي او سم سوي دي.

درندو دوستانو! ابراهيمعليه السلام چې د توحيدي عقيدې سالار وه؛ پر دغسې منطقي استدلال سره يې چې په سترګو ليدلو واقعيتونو باندې ولاړ وه؛ خپل قوم د شرک نه چې هغه ظلم دئ؛ وګواښه، نو د ابراهيمعليه السلام دا قصه ټولو حقپالانو دعاتو ته ډير غوره سرليک دئ، نو دوی ته ښايي چې اسلام ته د خلکو رابلنې رسالت او دنده تل په کلکو دليلونو سره په مخ يوسي او اسلام يوازې د نظرې عقيدې په بڼه کې خلکو ته وړاندې نسي.

او په ور پسې مبارک آيت کې الله تعالی د ابراهيمعليه السلام دغه دليلو نه خپل دليلونه بللي دي چې هغه يې ابراهيمعليه السلام ته په وحی يې سره وښودل، او فرمايلي دي:

[٨٣] او هغه د زمونږ حجت او دليلونه ول چې ابراهيم ته مونږ د هغه قوم پر وړاندې ورکړل [ترڅو دئ پر خپل مشرک قوم زورور سي او د هغوی خولې په پاخه منطق او استدلال سره چوپې کړي] او هرڅوک چې مونږ وغواړو، نو د هغه رتبه او مقام لوړوو او علم ورکوو، او ای پيغمبره! د ستا پالونکئ څښتن الله د لوی حکمت خاوند او ښه پوه ذات دئ، يعنی نو ځکه يې ابراهيمعليه السلام په دغسې کلک استدلال پر خپل قوم زورور که.

قدرمنو دوستانو! د ابراهيمعليه السلام پلار (آزر) او د هغه قوم ټول مشرکان

ول او د بتانو، ستورو، سپوږمۍ او د لمر عبادت او بنده کې يې کړه، نو الله تعالى دوى ته ابراهيمعليه السلام راولېږه، ترڅو دوى يوازې د الله عبادت او بنده ګى ته دعوت کړي او راو ښولي او د بتانو عبادت نه يې کلک منع کړي، نو هغه وه چې ابراهيمعليه السلام لمړئ دا دعوت خپل پلار آزر ته وړاندې که، او د دوى شرك يې چې د بتانو کډول د الله سره په عبادت او بنده ګى کې ول؛ وغندي، ځکه الله تعالى ابراهيمعليه السلام ته خپله لو يتيا، عظمت او واکمني پر ځمکه او په اسمانو کې ښودلې وه، نو هغه وه چې د الله تعالى په لارښودنه ابراهيمعليه السلام خپل قوم د شرکي عقيدې د باطلولو لپاره د الله نه هغه ته ورکړل سوي ډير دليلو نه راوړل او دا دليلو نه يې ټول الزامي دليلو نه ول، نو د ابراهيم کافر قوم شرکي عقيدې بطلان يې ډير په اسانۍ سره ثابت که، ځکه دوى د بتانو په څنګ کې د ستورو، سپوږمۍ او د لمرعبادت هم کا وه، نو کله چې شپه سوه او ابراهيمعليه السلام ستورو ته په کتلو سره وو يل هغه د زما خداى دئ، خو بيا چې کله ستوري پر يوتل هغه و يو يل: زه د دغسى خداى نه چې هغه غروب کړي او پرې وځي؛ بې زاره يم او هغه نه منم، او بيا يې همدا خبره د سپوږمۍ او بيا د لمر په پاره کې وکړه، او خپل قوم يې پر خپله ناپوهۍ په اساني سره؛ پوه که چې دوى په غلطه لار روان دي، او بيا يې په يقين سره اعلان وکه چې د زما خداى هغه لوى ذات دئ چې ځمکه او اسمانو يې پيدا کړي دي او هغه چلوي او چارې يې سمبالوي.

ګرانو عز يزانو! الله تعالى د دغې قصې په آخر او پاى کې يو ډير لوى حقيقت مونږ ته ياد کړئ دئ او هغه دا چې انسانانو د ډاډ، اطمئنان، امنيت او د سلامتي لپاره اساسي او اړ ين شرط ايمان دئ، ځکه يوازى مومنان دي چې دوى ته الله اطمئنان او د زړه ډاډ ورکوي او د هر ډول ډار، و يرې او انديښنې نه دوى ساتي، او همدارنګه الله تعالى دلته دا حقيقت هم روښانه کړئ دئ چې هغه استدلال او بحث چې ابراهيمعليه السلام د خپل قوم سره د الله تعالى يو والي او د توحيد ثبوت لپاره په عبادت کې کړئ دئ؛ هغه ټول د الله تعالى نه ابراهيمعليه السلام ته ورکړل سوي دليلونه ول،

ترڅو په دغسې پر يکنده استدلال سره د ابراهيمعليه السلام علمي مقام لوړ سي او رتبه يې جګه سي.

{ ابراهيم عليه السلام د پيغمبر انو پلار او غورنيکه وه }

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د اسلام پيغمبر محمدﷺ ټول امت ته؛ دا لوى تار يخي حقيقت بيان کړئ دئ چې د ټولو پيغمبرانو د دعوت او د رسالت مخکښ مشر او غور نيکه ابراهيمعليه السلام وه، نو دوى ته ښايي چې د ابراهيمﷺ د پيغمبرۍ توحيدي رسالت ته چې د الله توحيد ته په الوهيت او عبادت کې بلنه ده؛ خپل ولسونه راو بولي، او فرمايلي دي:

﴿وَوَهَبْنَا لَهُۥٓ إِسْحَٰقَ وَيَعْقُوبَ ۚ كُلًّا هَدَيْنَا ۚ وَنُوحًا هَدَيْنَا مِن قَبْلُ ۖ وَمِن ذُرِّيَّتِهِۦ دَاوُۥدَ وَسُلَيْمَٰنَ وَأَيُّوبَ وَيُوسُفَ وَمُوسَىٰ وَهَٰرُونَ ۚ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٨٤﴾ وَزَكَرِيَّا وَيَحْيَىٰ وَعِيسَىٰ وَإِلْيَاسَ ۖ كُلٌّ مِّنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٨٥﴾ وَإِسْمَٰعِيلَ وَٱلْيَسَعَ وَيُونُسَ وَلُوطًا ۚ وَكُلًّا فَضَّلْنَا عَلَى ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٨٦﴾ وَمِنْ ءَابَآئِهِمْ وَذُرِّيَّٰتِهِمْ وَإِخْوَٰنِهِمْ ۖ وَٱجْتَبَيْنَٰهُمْ وَهَدَيْنَٰهُمْ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٨٧﴾ ذَٰلِكَ هُدَى ٱللَّهِ يَهْدِى بِهِۦ مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ ۚ وَلَوْ أَشْرَكُوا۟ لَحَبِطَ عَنْهُم مَّا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿٨٨﴾ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ءَاتَيْنَٰهُمُ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْحُكْمَ وَٱلنُّبُوَّةَ ۚ فَإِن يَكْفُرْ بِهَا هَٰٓؤُلَآءِ فَقَدْ وَكَّلْنَا بِهَا قَوْمًا لَّيْسُوا۟ بِهَا بِكَٰفِرِينَ ﴿٨٩﴾ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ هَدَى ٱللَّهُ ۖ فَبِهُدَىٰهُمُ ٱقْتَدِهْ ۗ قُل لَّآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا ۖ إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرَىٰ لِلْعَٰلَمِينَ ﴿٩٠﴾﴾

[٨٤] او ابراهيم ته مونږ د هغه زوى اسحاق او لمسئ يعقوب و بانبه او هر يو د دوى دواړو مونږ پر سمه لار روان کړل [يعنى دوى ته مونږ پرسمه لار د تګ توفيق ورکه] او مخکې د ابراهيم نه نوح ته مونږ پر سمه لار د تګ توفيق ورکه، او بيا د ابراهيم کهول نه مونږ داوود، سليمان، ايوب، يوسف، موسى او هارون غوره کړل او دوى مونږ پر سمه لار روان کړل، او همداسې مونږ ښو کسانو ته ثواب ورکوو او دوى کلک پالو.

[٨٥] او زکر يا، يحيى، عيسى او الياس ته هم مونږ پر سمه لار د تګ

توفيق ورکه، يعنی دوی ټول الله تعالی خپل استازي او پيغمبران وګرځول، ځکه دوی هر يو د صالحانو او د ښو کسانو نه ول، نو دوی د لوړ مقام لائق سول او دوی الله تعالی پيغمبران کړل، ترڅو چې خپل ولسونه يوازې د الله عبادت ته راو بولي او د الله حکمونه پکې وچلوي.

[٨٦] او اسماعيل، اليسع، يونس او لوط ته هم مونږ دا لوړ مقام ورو باښه [يعنی دوی مونږ پيغمبران کړل] او دوی ټول مونږ پر نورو خلکو او پر ټول عالم باندې غوره او لوړ کړل.

[٨٧] [او دا پيغمبران ټول] مونږ د دوی پلرونو، کهول او وروڼو نه غوره کړل او سمې لارې ته دوی مونږ هدايت کړل او ور باندې مو وخوځيدل، يعنی ترڅو دوی د الله پيغام خپلو ولسونو ته ورسوي او هغوی د بتانو عبادت نه منع کړي او يوازې يې د الله تعالی بنده ګی او اطاعت ته راو بولي او ورته يې را دعوت کړي.

[٨٨] او هغه لار د الله سمه لار ده، او الله چې هرڅوک د خپلو بنده ګانو نه وغواړي؛ پر هغه لار يې روانوي، او که بيا دوی بيرته پر الله کافران سي او بتان د الله سره په بنده ګی کې ګډ کړي، نو د دوی ټولو ښو کړنو ثواب به يقينا چې ضائع سي او لمنځه به لاړ سي.

[٨٩] او دغه پيغمبران هغه کسان ول چې دوی ته مونږ خپل کتاب، حکمت، پوهه او پيغمبري ورکړه، نو که پر دوی باندې دغه د مکې خلک کافران سي او د دوی پيغمبري ونه مني، نو بيا به مونږ د پيغمبرۍ رسالت او دنده يو بل قوم ته [چې پخواني پيغمبران مني وسپارو] ځکه دوی د دغو پيغمبرانو د پيغمبرۍ نه منکر ندې، يعني کله چې د مکې کافرانو ايمان رانوړ، نو بيا الله تعالی بل قوم غوره که او هغوی د مدينې منورې ولسونو نه انصار ول چې ايمان يې راوړ او د مهاجر ينو په ملتيا يې حق وساته او په نړۍ کې يې خور که.

هو، قدرمنو مومنانو! ابراهيم عليه السلام او د هغه زامن، لمسيان او ټول کهول ښه خلک ول، او د دوی نه وړاندې نوح عليه السلام هم ښه سړي وه، نو الله تعالی خپله پيغمبري پر دوی باندې پيرزو کړه او دوی ته يې توفيق ورکه چې خلک د الله بنده ګی او عبادت ته په توحيد سره راو بولي، نو يقينا چې د الله تعالی لارې ته دعوت او توحيد ته د خلکو رابلل؛ هغه لوړ

مقام دئ چې هغه الله تعالى يوازې محسنانو او د ښو کړنو خاوندانو ته ور ښې او پر دوی باندې يې پيرزو کوي، ځکه چې هرڅوک دغسې لوړ مقام ته د رسيدلو لائق ندي، نو دعاء کړو چې الله تعالى ده مونږ د محسنانو په ټولې کې وشميري او حق ته د دعوت توفيق ده راکړي، او ثواب دى را کړي او مونږ ده په دنيا او آخرت کې ښاد او نيکمرغه کړي.

او په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالى د اسلام پيغمبر محمدﷺ پخوانيو پيغمبرانو پسې اقتدا ته را بللئ دئ، او فرمايلي دي:

[٩٠] ای پيغمبره! او پخوا تيرسوي پيغمبران؛ هغه کسان ول چې دوی ته الله پر سمه لار د تګ او هغې ته د دعوت کړو او رابلنې توفيق ورکه او مرسته يې ورسره وکړه، نو ته ای پيغمبره! د دوی پر لار باندې لاړ سه او اقتدا ور پسې وکړه او کافرانو ته ووايه: زه د الله دين ته په دعوت او رابللو کې د ستاسې نه هيڅ اجرت او مزدوري نه غواړم [ځکه د زما اجرت او ثواب الله راکوي] او دا کتاب (قرآن) [چې د الله حق لارې منلو ته او الله ته د تسليميدو دعوت او بلنه ورکوي] هغه ټولو خلکو ته په نړۍ کې دعوت او د الله ور پيادول دي، يعنى ښايي ټول خلک ايمان راوړي او د خپل رب الله تعالى لارښودونو نه ده ښه پوره ګټه واخلي او هغه ده پلې او عملي کړي او ځان ده په دنيا او آخرت کې نيکمرغه کړي.

ګرانو ورونو،خو يندو! الله تعالى په دغو مبارکو آيتونو کې خپلو ځينو پيغمبرانو نه مونږ په نامه خبر کړي يو، او پيل يې په ابراهيمعليه السلام او د هغه نه وړاندې په نوحعليه السلام باندې دئ، او بيا يې ور پسې د ابراهيم زامن او لمسيان او د هغه کهول نه د شپاړسو پيغمبرانو نومونه ياد کړي دي او ټول يې ستايلي دي، ځکه هغوی ټول د الله تعالى استازي ول او د دغسې لوړ مقام لائق ول، او بيا الله تعالى په پاى کې د اسلام پيغمبر[خاتم النبيين والمرسلين] محمدﷺ ته حکم کړئ دئ چې دغو پخوا تيرسوو پيغمبرانو پسې اقتدا وکړي او د هغوی په پله او لار باندې لاړ سې، نو يقينا چې د بشر يت پدې اوږده تار يخ کې د الله تعالى د پيغمبرانو ټولو لار او پيغام يو وه او دوی ټولو خپل ولسونه د الله توحيد ته په خدايي او الوهيت کې رابلل او د شرك او د بتانو اطاعت او بنده کې نه يې منعې کول، نو بيا په پاى کې الله تعالى د دې لوی پيغام رسولو چارې د اسلام پيغمبر محمدﷺ ته وسپارلې او هغه ته يې د خاتم النبيين والمرسلين

مقام ورکه او د پخوانيو پيغمبرانو په لار يې چې د حق لار وه؛ تک ته وهځا وه، نو رسول الله ﷺ د ابراهيم توحيدي دعوت خپل قوم ته ورسا وه، او بيا رسول الله ﷺ دا توحيدي دعوت د خپل امت علماوو او پوهانو او دعاتو ته په ميراث پر يښود، ترڅو يې دوی هم پر خپل وار سره خلکو ته په پوره امانت او اخلاص سره ورسوي او خپل امت ښاد کړي.

{کافر انو د الله قدر ونکه او اسماني کتابونه يې دروغ و بلل}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د کافرانو ناروا چلند او کينه کښې در يځ د خپل رب الله پر وړاندې کلک غندلې دې؛ ځکه الله تعالى خپل ټول کتابونه خلکو ته رڼا راليږلي دي او د دوی نيکمرغۍ لپاره يې پر پيغمبرانو را نازل کړي دي، لکه تورات پر موسى عليه السلام او قرآن پر محمد ﷺ چې يقينا هغه ټول خلکو ته لارښود پيغامونه دي، او فرمايلي دي:

{ولسونو د الله او پيغمبرانو قدر ونکه او منکر سول}

﴿وَمَا قَدَرُواْ ٱللَّهَ حَقَّ قَدۡرِهِۦٓ إِذۡ قَالُواْ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ عَلَىٰ بَشَرٖ مِّن شَيۡءٖۗ قُلۡ مَنۡ أَنزَلَ ٱلۡكِتَٰبَ ٱلَّذِي جَآءَ بِهِۦ مُوسَىٰ نُورٗا وَهُدٗى لِّلنَّاسِ تَجۡعَلُونَهُۥ قَرَاطِيسَ تُبۡدُونَهَا وَتُخۡفُونَ كَثِيرٗاۚ وَعُلِّمۡتُم مَّا لَمۡ تَعۡلَمُوٓاْ أَنتُمۡ وَلَآ ءَابَآؤُكُمۡۖ قُلِ ٱللَّهُۖ ثُمَّ ذَرۡهُمۡ فِي خَوۡضِهِمۡ يَلۡعَبُونَ ٩١ وَهَٰذَا كِتَٰبٌ أَنزَلۡنَٰهُ مُبَارَكٞ مُّصَدِّقُ ٱلَّذِي بَيۡنَ يَدَيۡهِ وَلِتُنذِرَ أُمَّ ٱلۡقُرَىٰ وَمَنۡ حَوۡلَهَاۚ وَٱلَّذِينَ يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِ يُؤۡمِنُونَ بِهِۦ وَهُمۡ عَلَىٰ صَلَاتِهِمۡ يُحَافِظُونَ ٩٢﴾

[٩١] هو! کله چې دغو کافرانو وو يل: الله پر انسان هيڅ څه شئ ندي رانازل کړي، نو دوی [پدې و ينا سره] د الله قدر او تعظيم، لکه څنګه چې د الله لوی مقام سره ښاييده؛ ونکه [يعنى دا چې کافران د دې نه منکر سول چې الله ده د خپلو غوره بنده ګانو نه پر چا باندې وحيه رانازله کړې وي او خپل لارښود کتاب دې ورته ورکړئ وي، ترڅو هغه خپل قوم ته

ورسوي او دوی سمې لارې ته راو بولي، او بيا د دغو کافرانو غوندې دغسې بې بنسټه دعوا اهل کتابو پورې تړلو ځينې کسانو هم وکړه، نو الله تعالى رسول اللهﷺ ته حکم وکه چې ای پيغمبره! دغو شکمنو کسانو ته] ووايه هغه کتاب چې موسى خلکو ته رڼا او لارښود راوړئ دئ؛ هغه چا رانازل کړئ دئ؟ او بيا تاسې ای يهودو! دغه کتاب (تورات) د کاغذونو په پاڼو کې بيل بيل ايښئ دئ؟ او بيا د هغه نه يوه برخه خلکو ته ښکاره کوئ، خو ډير يې [چې د اسلام پيغمبر په باره کې آيتونه دي] پټوئ! هو؛ ای کافرانو! تاسې ته الله په قرآن کې هغه څه درزده کړل چې نه تاسې او نه د ستاسې پلرونه ور باندې پوهيدل [يعنى تاسې يې ورڅخه خبر کړئ، نو ای پيغمبر! دغو يهودو ته] ووايه: الله دغه کتاب (تورات) پر موسى رانازل کړئ دئ، او ته ای د اسلام پيغمبره! کافران پر يردې چې پر خپلو لوبو کې لګيا وي، يعني دا چې نور د دغو سپکو کافرانو پروا مکړه.

[٩٢] او دا (قرآن) هغه کتاب دئ چې هغه مونږ رانازل کړئ دئ، او هغه مبارك کتاب دئ او د هغه نه وړاندې کتابونو تصـــديق کوي او هغه مني، او ته ای پيغمبره! پدې کتاب (قرآن) باندې د ام القرا [يعني د مکې معظمې اوسيدونکي] او د مکې شاوو خوا بهرني خلک ګواښې [يعنى د الله تعالى توحيد ته يې را بولي] او هغو کسانو چې د آخرت پر ورځ ايمان راوړئ دئ؛ دوی پر قرآن هم ايمان راوړئ دئ او هغه مني، او دغه مومنان د خپلو لمنځونو ســاتونکي دي، يعنى خپل لمنځونه په ټاکل ســوو وختونو کې او د رسول اللهﷺ سنتو سره سم په ښه طر يقه دروي او ساتنه يې کړي.

{د پيغمبرى دروغژن مدعيان الله تعالى کلک ګواښلي دي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د پيغمبرى دروغژن مدعيان

په دنيا او په آخرت کې په کلکه سزا ګواښلي دي، او فرمايلي دي:

﴿وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ ٱفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَوْ قَالَ أُوحِيَ إِلَيَّ وَلَمْ يُوحَ إِلَيْهِ شَيْءٌ وَمَن قَالَ سَأُنزِلُ مِثْلَ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ وَلَوْ تَرَىٰٓ إِذِ ٱلظَّٰلِمُونَ فِي غَمَرَٰتِ ٱلْمَوْتِ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ بَاسِطُوٓاْ أَيْدِيهِمْ أَخْرِجُوٓاْ أَنفُسَكُمُ ٱلْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ ٱلْهُونِ بِمَا كُنتُمْ تَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ غَيْرَ ٱلْحَقِّ وَكُنتُمْ عَنْ ءَايَٰتِهِۦ تَسْتَكْبِرُونَ ﴿٩٣﴾ وَلَقَدْ جِئْتُمُونَا فُرَٰدَىٰ كَمَا خَلَقْنَٰكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَتَرَكْتُم مَّا خَوَّلْنَٰكُمْ وَرَآءَ ظُهُورِكُمْ ۖ وَمَا نَرَىٰ مَعَكُمْ شُفَعَآءَكُمُ ٱلَّذِينَ زَعَمْتُمْ أَنَّهُمْ فِيكُمْ شُرَكَٰٓؤُاْ ۚ لَقَد تَّقَطَّعَ بَيْنَكُمْ وَضَلَّ عَنكُم مَّا كُنتُمْ تَزْعُمُونَ ﴿٩٤﴾﴾

[٩٣] [ای خلکو!] او څوک د هغه چا نه ډير ظالم دئ چې الله پسې يې د دروغو افترا وکړه؟ او يا يې وو يل:چې ماته وحيه سوې ده، خو هغه ته څه وحيه نوه سوې [نو بل څوک د هغه چانه غټ ظالم دئ چې ده] وو يل: زه به د الله غوندې قرآن را نازل کړم؟ [ځواب دا چې هيڅ څوک د دغو دروغژنو کسانو نه لوی ظالم ندئ، او دوی پر دغو دروغژنو خبرو سره پر خپلو ځانو باندې لوی ظلم کړئ دئ، ځکه چې د دوی دغه خبرې ټولې دروغ دي، ځکه دوی هيڅ وسعه نه لري، او ای پيغمبره!] که ته دغه ظالمان د مرګ او ځانکندن په هغو سختيو کې وو ينې چې ملائکو د دوی د ساه وو بيرته را و يستلو په وخت کې د خپل عذاب لاسونه ور باندې راخواره کړي وي او ورته وايي: نن د خپلو ځانونو نه ساه را و باسئ [نو ته به ای پيغمبره! دغه مفتريان په ډير سخت او ستونزمن حالت کې وو ينې] او دغه د روح يا ساه اخستونکي ملائکې به ورته وايي: نن به تاسې ته د سپکاوي او ذلت نه ډکه سزا درکړله سي، ځکه تاسې الله پسې د افترا او د دروغو ناروا خبرې کړې، او د الله کتاب پر آيتونو تاسې کبر کا وه، او تاسې خپل ځانونه د هغو منلو نه غټ بلل او پيغمبران تاسې نه منل، يعنی تاسې ای کافرانو! د نبوت او پيغمبرۍ دروغژنو مدعيانو ته! و يل چې الله د بشر نه پر هيڅ چا باندې وحيه نده را نازله کړې، او ځينو خو به پر

خپلو ځانو د وحي پې را نازليدو دعوا کړه، او چا به و يل: زه به هم د الله غوندې قرآن را نازل کړم، العياذ بالله!

درندو دوستانو! د مکې کافرانو د الله تعالى پيغمبرﷺ سره او پر هغه باندې رانازل سوي کتاب قرآن سره؛ دغسي کبرجن او دروغژن چلند کا وه او هغه پې نه مانه، نو ځکه الله تعالى دوی ډير لوی ظالمان بللي دي او د ملائکو په لاس پې دوی ته د کلکو سزاګانو ګواښ کړئ دئ، او دوی ته پې د ځانکندن په وخت کې د سزا ورکولو نه مونږ خبر کړي يو، او يقينا چې دا خبرتيا رسول اللهﷺ ته د کافرانو د بدو کړنو او د کبرجنو سپکو خبرو سزا نه رسول اللهﷺ ته د تسليت او د ډاډ لوی پيغام وه، او دغو دروغژنو کافرانو ته او دوی ته ورته نورو ټولو هغو کسانو ته چې خپلو ځانو ته د نبوت او د وحی پې را نازليدو دروغژنه دعوا کړي؛ د قيامت ورځې پورې کلک ګواښ دئ.

او بيا الله تعالى په ور پسې مبارك آيت کې همدارنګه کافران د خپل بد حال نه د قيامت په ورځ چې لوځ لوځ او يوازې يوازې الله ته ورځي خبر کړي دي، او فرمايلي دي.

[٩٤] ای کافرانو! او يقينا چې تاسې به د قيامت په ورځ مونږ ته د حساب راکولو لپاره هغسې يوازي راسی، لکه څنګه چې په لمړی ورځ تاسې مونږ پيدا کړي وی [يعنی د دنيا هغه ټول مال، دولت، کهول او زور او ځواک نه چې] هرڅه مونږ درکړي ول؛ هغه ټول تاسې شاته پر ښودل، او د ستاسې سپارښتونکي (معبودان) هم ستاسې سره يوځای نه و ينو! حال دا چې تاسې داسې انګيرله او خيال مو که چې دوی به ستاسې سره وي! خو يقينا چې د ستاسې په منځ کې اړ يکې نورې پرې سوې دي، او هغه څه چې تاسې ګمان کا وه [چې د ستاسې معبودان او د دروغو ناحقه خدايان به درسره ملګری وي] اوس هغوی هم د ستاسې نه ورک سول، يعنی د ستاسې په څنګ نسته، ترڅو دفاع درڅخه وکړي.

قدرمنو دوستانو! الله تعالى په دغو مبارکو آيتونو کې مونږ ته ښې

ډيرې کټورې لارښودنې کړې دي، نو ښايي چې پکې ښه ژور فکر وکړو او د الله تعالى په مقصد او غرض باندې ځانو نه ښه پوه کړو او بيا عمل پرې وکړو، ترڅو مونږ الله تعالى د خپل لوړ مقام پالنې لائق وکړځوي، ځکه قرآن د الله تعالى مبارك لارښـود کتاب دئ، او لوى مقصـد يې دا دئ چې خلکو تـه پر ســمـه لار چې هغـه د اللـه تعـالى توحيـدې عبـادت لار ده؛ لارښـودنه او سـپارښـتنه وکړي، او د کفر او فسـق بدې راتلونکې نه او د الله کلکې سزاء نه د قيامت په ورځ؛ دوى ښه وو يروي او کلک يې وګواښي!

{د الله لوى قدرتونه پر توحيدي عبادت باندې دليل دئ}

او په ور پسـې مبارکو آيتونو کې الله تعالى خپل لوى قدرتونه ياد کړي دي، ځکه هغه د الله پر توحيدي عبادت لوى دليل دئ، او فرمايلي دي:

﴿*إِنَّ ٱللَّهَ فَالِقُ ٱلۡحَبِّ وَٱلنَّوَىٰۖ يُخۡرِجُ ٱلۡحَيَّ مِنَ ٱلۡمَيِّتِ وَمُخۡرِجُ ٱلۡمَيِّتِ مِنَ ٱلۡحَيِّۚ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُۖ فَأَنَّىٰ تُؤۡفَكُونَ ٩٥ فَالِقُ ٱلۡإِصۡبَاحِ وَجَعَلَ ٱلَّيۡلَ سَكَنٗا وَٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ حُسۡبَانٗاۚ ذَٰلِكَ تَقۡدِيرُ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡعَلِيمِ ٩٦ وَهُوَ ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ ٱلنُّجُومَ لِتَهۡتَدُواْ بِهَا فِي ظُلُمَٰتِ ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِۗ قَدۡ فَصَّلۡنَا ٱلۡأٓيَٰتِ لِقَوۡمٖ يَعۡلَمُونَ ٩٧ وَهُوَ ٱلَّذِيٓ أَنشَأَكُم مِّن نَّفۡسٖ وَٰحِدَةٖ فَمُسۡتَقَرّٞ وَمُسۡتَوۡدَعٞۗ قَدۡ فَصَّلۡنَا ٱلۡأٓيَٰتِ لِقَوۡمٖ يَفۡقَهُونَ ٩٨ وَهُوَ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَخۡرَجۡنَا بِهِۦ نَبَاتَ كُلِّ شَيۡءٖ فَأَخۡرَجۡنَا مِنۡهُ خَضِرٗا نُّخۡرِجُ مِنۡهُ حَبّٗا مُّتَرَاكِبٗا وَمِنَ ٱلنَّخۡلِ مِن طَلۡعِهَا قِنۡوَانٞ دَانِيَةٞ وَجَنَّٰتٖ مِّنۡ أَعۡنَابٖ وَٱلزَّيۡتُونَ وَٱلرُّمَّانَ مُشۡتَبِهٗا وَغَيۡرَ مُتَشَٰبِهٍۗ ٱنظُرُوٓاْ إِلَىٰ ثَمَرِهِۦٓ إِذَآ أَثۡمَرَ وَيَنۡعِهِۦٓۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكُمۡ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ٩٩﴾

[٩٥] هو! يقينا چې الله د بوټو دانو او د ونو خسـتکو چوونکئ خداى دئ [يعنى الله تعالى د دانو نه بوټي او کښتونه او د خستکو نه د ډول ډول ميوه ورکونکي نيالګي راشـــنه کوي] او ژوندئ د مړه نه او مړئ د ژوندي نه

راباسي [لكه انسان او حيوان چې د مړې نطفې نه راباسي، او لكه مړه نطفه چې د ژوندي انسان او حيوان نه راباسي، او لكه د مرغانو چورګورې چې د هګۍ نه يې پيدا كوى، او لكه هګۍ چې د جرګو او مرغانو نه يې پيدا كوي] او دغه خداى اى خلكو! د ستاسې پالونكئ لوى څښتن دئ [يعنى يقينا چې الله تعالى واحد او لاشر يك لوى ذات دئ او هرڅه يې په واک كې دي او هرڅه كړلاى سي] نو تاسى اى خلكو! څنګه او كمې خوا ته اوړئ؟ يعنى دا ښكاره او ځلانده حق چې د الله تعالى عبادت او بنده ګي په توحيد او يو والي سره ده؛ پر يردئ او د شرك خوا ته اوړئ! او بتان الله سره په خدايي كې ګډوئ! نو پدې ډول تاسې اى د مكې مشركانو! په كره لار چې هغه د بتانو عبادت او بنده ګي لار ده روان ياستئ!

[٩٦] او الله د سحر سپيدو چونكئ څښتن دئ [يعنى د شپې تورې تيارې پسې رنا ورځ راولي] او شپه الله د دمې او ارامتيا لپاره ګرځولې ده، او لمر او سپوږمۍ يې د حساب كړو لپاره ګرځولې دي [يعنى هره يوه پر خپل مدار كې ګرځي راګرځي او خلك ور باندې مياشتې او كلونه شميري] او دا د هغه لوى ځواكمن او ښه پوه او پالونكي خداى تقدير او دقيقه شميرنه ده، يعنى الله تعالى پدې وسيله چې شپه او ورځ او د كال فصلونه ور باندې بدليږي رابدليږي؛ د خپلو بنده ګانو چارې سمبالوي، ځكه الله پر هرڅه ښه پوه دئ او د هرڅه كړو وسعه لري، ځكه الله تعالى لوى ذات دئ.

[٩٧] اى خلكو! او الله هغه څوك دئ چې ستوري يې تاسې ته نښې ګرځولې دي، ترڅو د وچو لو يو ډاګو او د او بو غټو سمندرونو په تورو تيارو كې خپله لار بيامومي او پكې ورك نسى، او يقينا چې مونږ د خپل قدرت دغه نښې او ښكاره دليلونه؛ هغه چاته بيان كړل چې دوى ښه پرې پوهيږي، يعنى پكې ښه ژور فكر كړلاى سي.

[٩٨] اى خلكو! او الله هغه څوك دئ چې تاسې يې ټول د يوه سړي نه پيدا كړئ [يعنى د ټولو خلكو لمړنئ پلار آدم عليه السلام دئ، او بيا الله تعالى تاسې د خپلو ميندو په نسونو او د خپلو پلرونو په شاوو كې] ځاى پرځاى كړئ [يعنى ترڅو تاسي هلته پكې وساتل سي او بيا هرڅوك پر خپل وار

سره پیدا سي او وز یې یږي] او یقینا چې مونږ د خپل کتاب آیتونه او د قدرتونو ښکاره چا لپاره ښي اوږدې بیان کړې چې ور باندې ښه پوهیږي او پکې ښه ژور فکر کړي.

[۹۹] او الله هغه څوک دئ چې د اسمان نه یې او به راوورولې، نو بیا پر دغو او بو سره مونږ د هرشي بوټی راشنه کړل او ځمکه مونږ ور باندې راشنه کړه، او یو پر بل سپرو وړو نه مونږ دانې راباسو [لکه غنم، جواري، ور بشپې، ور یژې او داسې نور د کښتونو دانې] او د خرما یا کجورې ونې لښتو نه مونږ داسي وړي راوایستل چې ځمکې ته لنډ رازوړ دي [یعنی راشکول یې اسانه دي] او د انګورو، ز یتونو او د انارو ډول ډول باغونه مونږ راشنه کړل چې د ځینو پانې د یو بل سره ورته دي، خو میوې یې یو بل ته ورته ندي، نو ای خلکو! دغو بوټو او ونو ته وګورئ چې میوه یې کله راوځي او بیا کله پخیږي؟ او په دغو ټولو کې هغو خلکو ته وګورئ چې دوی ایمان راوړئ دئ [یعنی الله تعالی په لو یو قدرتو نو سره پیژني] او پدې ټولو کې د الله تعالی د قدرتونو ښې نعښتي دي، یعنی دا د الله تعالی خواره واره نعمتونه؛ ټول د الله پر لو یو قدرتونو باندې دلالت کړي، نو ښایي چې ټول خلک ښه ور باندې پوه سي او یوازې د الله عبادت وکړي او بل هیڅ څوک د الله سره په عبادت او بنده ګۍ کې شر یك او ګډ نکړي.

{کافرانو الله سره پیریان ګډ کړل او د بچیانو تورې ورپورې که}

هو! د قر یشو مشرکانو د الله تعالی د دغو لو یو قدرتونو ټولو ښو سره سره چې هغه د الله تعالی پر توحید باندې په عبادت کې دلالت کړي؛ بیا هم خپل ځانونه پوه نکړل، او د الله سره یې په خدایي کې بتان، پیریان او نور خدایان شر یك کړل، او ځینو یې الله ته د زامنو او لونو درلودلو نسبت هم وکه، حال دا چې الله تعالی د دغسي عیبونو نه پاک او لوړ دئ، او په خپله خدایي کې هیڅ څوک او هیڅ شئ سیال او شر یك نه لري، نو ځکه الله تعالی په ور پسې مبارکو آیتونو کې د کافرانو دغسې شرکي عقیده کلکه غندلې او رده کړې ده، او فرمایلي دي:

﴿وَجَعَلُواْ لِلَّهِ شُرَكَآءَ ٱلۡجِنَّ وَخَلَقَهُمۡۖ وَخَرَقُواْ لَهُۥ بَنِينَ وَبَنَٰتَۢ بِغَيۡرِ عِلۡمٖۚ سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يَصِفُونَ ١٠٠ بَدِيعُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ أَنَّىٰ يَكُونُ لَهُۥ وَلَدٞ وَلَمۡ تَكُن لَّهُۥ صَٰحِبَةٞۖ وَخَلَقَ كُلَّ شَيۡءٖۖ وَهُوَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ١٠١ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمۡۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ خَٰلِقُ كُلِّ شَيۡءٖ فَٱعۡبُدُوهُۚ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ وَكِيلٞ ١٠٢ لَّا تُدۡرِكُهُ ٱلۡأَبۡصَٰرُ وَهُوَ يُدۡرِكُ ٱلۡأَبۡصَٰرَۖ وَهُوَ ٱللَّطِيفُ ٱلۡخَبِيرُ ١٠٣﴾

[١٠٠] او دغو مشرکانو پیریان د الله سره په عبادت کې شر یك کړل، حال دا چې دوی ټول الله پیدا کړي دي [یعنی یوازي الله تعالی د ټولو خالق او پیدا کونکي او پالونکئ لوی څښتن دئ، نو ښایي چې یوازې د الله عبادت وسي] او هم دغو مشرکانو پرته د کم علم او پوهې نه په دروغو الله ته د زامنو او د لونو د درلودلو نسبت وکه، خو الله پاک ذات دئ او د هغو صفتونو نه چې مشرکان یې ور باندې یادوي لوړ دئ، یعنی الله تعالی د هر ډول عیب او نقصان نه پاک دئ او پر ټولو پوره او کاملو صفتونو باندې موصوف لوی ذات دئ.

[١٠١] [هو! الله تعالی چې ځمکه او اسمانو نه بې ساري پیدا کړي دي؛ نو څنګه به دئ زوی ولري؟ حال دا چې الله ملګري (میرمن) نه درلوده [یعنی الله تعالی د مشرکانو هغو خبرو نه چې د الله لوی مقام پورې یې تپې لوړ او پاک دئ] او الله هرڅه پیدا کړي دي او په هرڅه باندې الله ښه پوه دئ، یعنی د الله علم نه هیڅ څه شئ پټ ندي.

[١٠٢] ای خلکو! او الله د ستاسې پالونکئ څښتن دئ، او د الله نه پرته بل پر حق سره خدای نسته، او الله د هرڅه پیدا کونکئ لوی خدای دئ، نو ای خلکو! د الله عبادت وکړئ، ځکه الله د هرڅه څښتن او واکمن خدای دئ، یعنی دا چې ښایي ټول خلک یوازې د الله بنده ګي وکړئ او هغه ته تسلیم سئ او خپل ځانونه ور باندې وسپارئ.

[۱۰۳] او الله هغه لوی ذات دئ چې دئ سترګې لیدلای نسي، خو ټولې سترګې الله و یې [یعنی هغه یې ټولې د پام لاندې دي] او الله پر خپلو بنده ګانو لطف لري [یعنی ور باندې مهر بان دئ] او د هرڅه نه خبر دئ!

هو؛ ګرانو دوســتانو! الله تعالی په دنیا کې مونږ په ســترګو لیدلای نســو، ځکه مونږ د الله تعالی لیدلو نه بې وســعې او عاجز یو، خو بیا د آخرت په ورځ الله تعالی د خپل لوی مقام لیدل د مومنانو په پرخه کوي او خپل لوی خدای په ســترګو و یې، لکه څنګه چې الله تعالی فرمایلي دي"وجوه یومئذ ناضرة إلى ربها ناظرة " القیامة۲۲ -۲۳" هو! ډیر مخونه د قیامت په ورځ خپل څښتن ته په کتلو سره تازه کیږي" یعنی مومنان الله تعالی په سترګو و یې او په لیدلو یې مخونه د ډیرې خوښۍ نه رانه ځلیږي.

{قرآن پوهانو ته لارښود دئ او پیغمبر د خلکو ساتونکئ ندئ}

او بیا الله تعالی په ور پسې مبارکو آیتونو کې قرآن پوهانو ته لارښــود پیغام بللي دئ او ټینګار یې کړئ دئ چې پیغمبرﷺ د هیڅ چا ســاتونکئ او واکمن نماینده ندئ، او فرمایلي دي:

﴿قَدْ جَآءَكُم بَصَآئِرُ مِن رَّبِّكُمْ ۖ فَمَنْ أَبْصَرَ فَلِنَفْسِهِۦ ۖ وَمَنْ عَمِىَ فَعَلَيْهَا ۚ وَمَآ أَنَا۠ عَلَيْكُم بِحَفِيظٍ ﴿١٠٤﴾ وَكَذَٰلِكَ نُصَرِّفُ ٱلْـَٔايَٰتِ وَلِيَقُولُوا۟ دَرَسْتَ وَلِنُبَيِّنَهُۥ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ﴿١٠٥﴾ ٱتَّبِعْ مَآ أُوحِىَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ ۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ وَأَعْرِضْ عَنِ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿١٠٦﴾ وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ مَآ أَشْرَكُوا۟ ۖ وَمَا جَعَلْنَٰكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظًا ۖ وَمَآ أَنتَ عَلَيْهِم بِوَكِيلٍ ﴿١٠٧﴾﴾

[۱۰٤] [ای پیغمبره! کافرانو ته اعلان وکړه او ورته ووایه: ای خلکو!] دا دئ تاســې ته د ســتاســې رب الله لخوا یقینا د پوهاوي پیغام او حق ته لارښــودونکي دلیلونه راغلل، نو هرچاچې هغه ولیدل او ایمان راوړ او هغه یې ومنل، نو خپل ځان ته یې ګټه رسولې ده، او څوک چې د هغو لیدلو نه وړوند ســه، نو هغه ځپل ځان ز یانمن کړئ دئ، او ای خلکو! زه پر تاســې ســاتونکئ نیم، یعنی د پیغمبر رســالت او دنده دعوت او تبلیغ وه، نه د خلکو څارنه او حفاظت، ځکه هرڅوک د خپل ځان څارن او مسئول دئ،

نو که چا حق ومانه او د الله بنده ګي پې وکړه؛ ګټه پې کړي ده او کنه، نو خپل ځان ته پې ز يان رسولئ او تاوان پې کړئ دئ، نو بيا بې سزا ګالي!

عزتمنو دوســتانو! دا مبارك آيت د پيغمبرﷺ د دين ټولو وارثانو ته ښه لوی او ډير غوره لارښود پيغام دئ، او هغه دا چې د مبلغ او اسلام ته رابلونکی رسالت او دنده؛ همدا تبليغ او د قرآن تعليم او ور باندې د امت ښــه روزنه ده، نور نو د خلکو خوښــه چې حق مني او ايمان راوړي او په ســوري کې پې د اســلام واک لاندې نيکمرغه ژوند کړي، او که ورځخه ســرغړونه کړي او پر کړه لار باندې ځي او په دنيا او آخرت کې خپل مخ توروي او ځان د نيکمرغۍ نه محروموي!

او په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالى همداسې فرمايلي دي:

[١٠٥] او همدارنګه مونږ خپل آيتونه او د حق دليلونه خلکو ته بيانوو، خو بيا هم کافران وايي چې دا دليلونه نور زاړه ســوي دي [او يا دا چې هغه ای پيغمبره! تا د اهل کتابو نه لوســتي او زده کړي دي، يعنی پيغمبر دا آيتونه د دوی نه اخســتي دي او د الله لخوا پر هغه ندي رانازل ســوي] خو مونږ دا دليلونه هغه کســانو ته بيانوو چې دوی ور باندې پوهيږي، يعنی ګټه ورځخه اخلي، ځکه دوی مومنان دي.

او بيا په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالى رسول اللهﷺ ته د کافرانو سپک چلند پر وړاندې سپارښت کړئ دئ چې ته ای پيغمبره! د کافرانو نه مخ واړوه او د قرآن آيتونو پسې چې هغه د ستا رب الله نه درته وحيه کيږي لاړ سه، او فرمايلي دي:

[١٠٦] ای پيغمبره! هغه څه چې تاته د ســتا پالونکي څښــتن الله لخوا وحيه کيږي؛ هغو پســې لاړ ســه او عمل پرې وکړه، ځکه د الله نه پرته بل هيڅ څوک پر حق معبود نســته او د مشــرکانو نه مخ واړوه، يعنی د هغوی ناحقه او سپکو خبرو پروا مکړه.

[١٠٧] [هو؛ ای پيغمبره!] که الله غوښتي وای، نو مشرکانو به بتان د الله ســره نوه شــر يك کړي [خو الله پدې پوهيده چې کافران به همدا د

شـرك لار خپلوي، نو دوی ته الله پر سـمه لار د تګ توفیق ورنکه او دوی ورځخه محروم سـول] او ای پیغمبره! ته مونږ پر کافرانو سـاتونکي نه یې ګرځولئ، یعنی ته د دوی وکیل او نماینده نه یې چې د دوی چارې سـمبال کړې او مسئولیت یې پر غاړه واخلې.

ګرانو دوسـتانو! دا مبارك آیت پیغمبرﷺ ته د کافرانو سـرزوری او د کبرجن چلند پر وړاندې لوی سپارښت او د تسلیت پیغام دئ او هغه دا چې رسول اللهﷺ او بیا د هغه وارثان او اسلام ته رابلونکي دعات د خپلو امتونو او ولسـونو د کفر نه مسـئول ندي، بلکې هرڅوک د خپل عمل نه مسئول دئ او الله پر وړاندې به د محشر په ورځ ځواب ورکوي.

{د بل دین او مذهب پلو یانو ته کنځل او سپکا وئ روا ندئ}

او په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی مومنانو ته حکم کړئ دئ چې د مشـرکانو خدایانو ته کنځل مکړئ، ځکه بیا دوی د ناپوهۍ او د ضـد نه الله ته کنځل کړي، او فرمایلي دي:

﴿وَلَا تَسُبُّوا۟ ٱلَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ فَيَسُبُّوا۟ ٱللَّهَ عَدْوًۢا بِغَيْرِ عِلْمٍ ۗ كَذَٰلِكَ زَيَّنَّا لِكُلِّ أُمَّةٍ عَمَلَهُمْ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّهِم مَّرْجِعُهُمْ فَيُنَبِّئُهُم بِمَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١٠٨﴾﴾

[۱۰۸] ای مومنانو! او هغو کسـانو ته چې د الله نه پرته د بل چا عبادت کړي؛ کنځل مکړي، ځکه بیا به دوی په تیري او ناپوهۍ سـره الله تـه کنځـل کړي، او همـداسـي مونږ هر قوم او هرې ډلې تـه د دوی کړل ښـایسـته کړي دي او بیا دوی خپل رب ته ورتلونکي دي، نو بیا دوی الله د خپلو کړنو نه خبروي، یعنی هرچا ته الله د هغه لائق ثواب او سزا ورکوي.

قدرمنو دوسـتانو! پدې مبارك آیت کې الله تعالی مونږ ته ډیره ګټوره لاښـودنه کړې ده، او هغه دا چې هیڅ کله مومنانو ته نه ښـایي داسې یوه خبره او څه وکړي چې ناوړه او بدې پایلې ولري او منفي نتائج ور پسـې وي، یعني ښـایي د هر کار او د هرې و ینا نه مخکې د هغې پایلې او را تلونکي

نتائج ښه وڅيړو، ترڅو يې د ګټې نه ز يان او تاوان ډير نسي، روايت سوئ دئ چې رسـول اللهﷺ د مکې معظمې فتحې نه وروسـته وو يل: که د مکې خلکو نوئ ايمان راوړل نه واى، نو کعبه به ما ړنګه کړې وه او بيا به هغه ما د ابراهيمعليه السلام پر بنسټـونو باندې بيرته د سره ودانه کړې وه او د کعبې ور يا دروازه به ما ځمکې تـه راټيټـه کړې وه او لو يـديځ خوا کې بې ما بـل ور بيرته کړئ وه، خو دا ارمان نه پوره کوم، ځکه چې قر يش به بيا وايي: محمـد خو د کعبې هغـه ودانـه چې د زمونږ نيکونو جوړه کړې وه؛ هم پر خپل حال پر ينښـودله او د خپلې خوښې کعبه يې ودانه کړه، يعنى دا کار به فتنه را ولاړه کړي، نو اسـلام ته رابلونکو علماوو ته ښـايي چې پر خپله دعوتې کړن لاره کې دغسې نزاکتونو ته کلک پام وکړي او داسې څه ونکړي چې د ګټې نه يې ز يان او تاوان ډير سـي او امت په ازمايښـت کې واچوي او د شـيطان طرفداران او پلو يان د حق پالانو پر وړاندې مقابلې ته ودروي او بيا نور خلک مومنان ملامت کړي!

{کافر انو رسول اللهﷺ نه خپلې خوښې معجزې وغوښتلې}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى مونږ د کافرانو هغې غوښتنې نه خبر کړي يو چې دوى به د رسـول اللهﷺ نه د خپلې خوښـې معجزې غوښـتلې، خو کله چې به بيا دغه معجزې دوى ته راغلې هغه بې نه منلې، او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿وَأَقْسَمُوا۟ بِٱللَّهِ جَهْدَ أَيْمَٰنِهِمْ لَئِن جَآءَتْهُمْ ءَايَةٌ لَّيُؤْمِنُنَّ بِهَا ۚ قُلْ إِنَّمَا ٱلْـَٔايَٰتُ عِندَ ٱللَّهِ ۖ وَمَا يُشْعِرُكُمْ أَنَّهَآ إِذَا جَآءَتْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿١٠٩﴾ وَنُقَلِّبُ أَفْـِٔدَتَهُمْ وَأَبْصَٰرَهُمْ كَمَا لَمْ يُؤْمِنُوا۟ بِهِۦٓ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَنَذَرُهُمْ فِى طُغْيَٰنِهِمْ يَعْمَهُونَ ﴿١١٠﴾ * وَلَوْ أَنَّنَا نَزَّلْنَآ إِلَيْهِمُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةَ وَكَلَّمَهُمُ ٱلْمَوْتَىٰ وَحَشَرْنَا عَلَيْهِمْ كُلَّ شَىْءٍ قُبُلًا مَّا كَانُوا۟ لِيُؤْمِنُوٓا۟ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ يَجْهَلُونَ ﴿١١١﴾﴾

[١٠٩] او دغو کافرانو په کلکو قسـمونو سـره پر الله لوړه وکړه که

دوی ته د دوی د خوښې معجزې راغلې، نو بیا به دوی هرومرو پر دغسې معجزو باندې باور وکړي او ایمان به راوړي! نو ای پیغمبره! دوی ته ووایه: یقینا چې معجزې د الله په واک او اختیار کې دي، خو که دا معجزې یقینا راسي، نو بیا به تاسې څه شئ پوه کړي چې کافران ایمان نه راوړي؟ یعنی دا چې کافران پر خپلو لوړو نه در یږي، بلکې د خپلې لوړې نه بیرته په شا اوړي او ایمان نه راوړي.

ګرانو دوستانو! روایت سوئ دئ کله چې مومنانو د رسول الله ﷺ نه وغوښتل چې د مشرکانو خوښی معجزه ده دوی ته راسي، نو بیا الله تعالی دغه وضاحت کړئ دئ، ترڅو مومنان پر کافرانو ونه غولیږي، او همدارنګه الله تعالی د لاړیږې رونټیا لپاره په ور پسې آیت کې فرمایلي دي:

[١١٠] او د کافرانو زړونه او سترګې مونږ په بل مخ اړوو [یعنی دا چې ترڅو د دغو معجزو نه ګټه وانخلي، نو ځکه ور باندې ایمان نه راوړي] لکه څنګه چې یې په قرآن باندې په لمړي ځل کې ایمان رانوړ [که څه هم قرآن لو یه معجزه ده] او کافران مونږ د دوی [پر سر غړونو کې د الله حکمنو نه همداسې] سرګردانه پر یږدو، ترڅو ستړی ستومانه او حیران سوی کړئي راکړئي، یعنی سمه لار نه مومي.

[١١١] او که دغو کافرانو ته مونږ ملائکی د اسمان نه راکوزې کړې وای او مړو د دوی سره خبرې کړې وای، او هرڅه دوی ته مونږ راغونډ کړي وای او مخکې مو ورته ایښي وای [ترڅو یې هغه په سترګو لیدلای] خو بیا به هم دوی ایمان نه وه راوړئ، مګر دا چې الله وغواړي او د ایمان راوړو توفیق ورکړي، او د دغو کافرانو نه ډیر کسان ناپوه دي حق نه پیژني.

هو؛ قدرمنو دوستانو! دغسې ناپوهي چې د انسان بې وسۍ لو یه نښه ده؛ هغه د ټولو خلکو خوی دئ، نو د الله علم او تقدیري پر یکړې او د الله تعالی توفیق نه پرته؛ هیڅ څوک حق ته نه سمیږي، نو دعاء کړو چې الله تعالی ده مونږ ته پر سمه لار د تګ توفیق را کړي، او پر کړه لار

باندې د تګ نده امونږ لله تعالى پر خپل فضل او رحمت سره وساتي.

{د انسانانو او پيريانو شيطانان د پيغمبرانو دښمنان دي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى خپله هغه تقديري پر يکړه چې د باطل پالانو دښمني د حقپالانو سره پکې يادە سوې دە؛ مونږ ته په نښه کړې دە، نو يقينا چې دا يادونه حقپالانو ته لو يه ډاډګيرنه دە او معنوي قوت ور ښيي، او فرمايلي دي:

﴿وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا شَيَٰطِينَ ٱلْإِنسِ وَٱلْجِنِّ يُوحِى بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ زُخْرُفَ ٱلْقَوْلِ غُرُورًا ۚ وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ مَا فَعَلُوهُ ۖ فَذَرْهُمْ وَمَا يَفْتَرُونَ ﴿١١٢﴾ وَلِتَصْغَىٰٓ إِلَيْهِ أَفْـِٔدَةُ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِٱلْءَاخِرَةِ وَلِيَرْضَوْهُ وَلِيَقْتَرِفُوا۟ مَا هُم مُّقْتَرِفُونَ ﴿١١٣﴾ أَفَغَيْرَ ٱللَّهِ أَبْتَغِى حَكَمًا وَهُوَ ٱلَّذِىٓ أَنزَلَ إِلَيْكُمُ ٱلْكِتَٰبَ مُفَصَّلًا ۚ وَٱلَّذِينَ ءَاتَيْنَٰهُمُ ٱلْكِتَٰبَ يَعْلَمُونَ أَنَّهُۥ مُنَزَّلٌ مِّن رَّبِّكَ بِٱلْحَقِّ ۖ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلْمُمْتَرِينَ ﴿١١٤﴾ وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ صِدْقًا وَعَدْلًا ۚ لَّا مُبَدِّلَ لِكَلِمَٰتِهِۦ ۚ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴿١١٥﴾ وَإِن تُطِعْ أَكْثَرَ مَن فِى ٱلْأَرْضِ يُضِلُّوكَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ۚ إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا ٱلظَّنَّ وَإِنْ هُمْ إِلَّا يَخْرُصُونَ ﴿١١٦﴾ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ مَن يَضِلُّ عَن سَبِيلِهِۦ ۖ وَهُوَ أَعْلَمُ بِٱلْمُهْتَدِينَ ﴿١١٧﴾﴾

[١١٢] [اى پيغمبره! لکه څنګه چې ته مونږ د ستا دښمنانو(کافرانو) په لاس وازمايلې] همداسې د ستا نه مخکې هر پيغمبر ته مونږ د انسي او پيري شيطانانو نه دښمنان وګرځول او ځينو به ځينو نورو ته پټ پټ ښې غولونکې خبرې کړې [يعنى يو بل ته به يې د خلکو غولو لپاره پټې پټې غوړې پسته خبرې ښودلې او باطل يې خلکو ته په خپلو خبرو کې ښايسته کا وه، ترڅو ور باندې وغولېږي او د الله سمې لارې نه ورک سي] خو اى پيغمبره! که د ستا پالونکي څښتن الله غوښتي واى، نو کافرانو به دغسې

غولونکې شیطاني نه وه کړي [یعنی نو پدې کې د الله لخوا لوی ازمایښت دئ] نو ته ای پیغمبره! کافران او د دوی د دروغو نه ډک تورونه او خبرې پر یږده، یعنی ورځخه تیر سه او زړه ده مه په زَوروه او پروایې مکړه، ځکه دا د حق او د باطل دښمني تل پاتې دښمني ده، او د قیامت ورځې در یدلو پورې به همداسې جاري وي، لکه څنګه چې یې بیلګې همدا اوس په ټوله نړۍ کې و ینو.

[١١٣] ترڅو د هغو کسانو زړونه چې دوی د آخرت په ورځ ایمان او باور نه لري ورته غوږ و باسي او پرې خوښ سي، او بیا دوی هم هغسې بد وکړي، لکه پخوانیو کافرانو چې کړل.

قدرمنو دوستانو! الله تعالی پدې مبارکو آیتونو کې رسول اللهﷺ ته تسلیت او اطمئنان ورکړئ دئ چې د دښمنانو بدو کړنو پروا مکړه، ځکه دوی غواړي چې هر ډول شیطاني وکړي او د خلکو مخه د حق منلو نه ونیسي، او دا د الله تعالی هغه تل پاتې ازمایښت دئ چې پخواني پیغمبران یې ور باندې ازمایلي دي، نو ته ای پیغمبره! دغه کافران پر یږده چې څنګه یې خوښه وي؛ هغسې بد وکړي، خو الله به دوی ته د بدو کړنو کلکه سزا ورکړي، او یقینا چې الله تعالی کافرانو ته وخت ورکوي او زنډوي یې، خو هیڅ کله یې بې حسابه نه پر یږدي، نو دا بیان کافرانو ته لوی ګواښ دئ او ښایي چې پکې ژور فکر وکړي او حق سره د دښمنۍ نه لاس واخلي.

ګرانو دوستانو! د مکې مشرکانو به د رسول اللهﷺ نه غوښتل چې د دوی دروغژنو خدایانو حکمونه ومني، نو ځکه په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی رسول اللهﷺ ته د مشرکانو دغسې ناحقه غوښتنو په باره کې لارښودنه او سپارښت کړئ دئ، او فرمایلي دي.

[١١٤] ای پیغمبره! [دغو کافرانو ته] ووایه: آیا د الله نه پرته [چې هغه د زمونږ او ستاسې ټولو خدای دئ] بل څوک حکم کونکئ وغواړم، ترڅو د زما او ستاسې په منځ کې را ته پر یکړې وکړي؟ [نا! زه هیڅ کله هم داسې نکړم] ځکه الله تاسې ته بیانونکئ کتاب (قرآن) را نازل کړئ دئ [او هغه د

زما او ستاسې په منځ کې حکم دئ او پر یکړې کړي، یعنی حق د باطل نه بیلوي] او هم هغه کسان چې دوی ته مونږ پخوا کتابونه ورکړي ول [لکه یهود او نصارا] هغوی پدې پوهیږي چې قرآن د ستا رب الله لخوا پر حق سره رانازل سوئ کتاب دئ، نو ته هیڅ کله هم د شکمنو کسانو نه مکیږه، یعنی ته ای پیغمبره! په پوره یقین او ډاډ سره په مخ زه او د هیڅ چا پروا مکړه او خپل مقصد سر ته ورسوه، لکه څنګه چې پخوانیو پیغمبرانو خپل رسالت همدغسې سر ته ورسا وه.

عزتمنو دوستانو! دا دنده او رسالت اوس اسلام ته رابلونکو دعاتو ته پاتې ده او هغه د دوی پر غاړه لوی امانت دئ، نو هیله ده چې هغه د قرآني لارښودونو او پیغمبري سنت او سیرت په رنا کې په مخ یو سي.

[١١٥] ای پیغمبره! او د ستا رب الله پیغام په صداقت او عدالت سره [په و یناوو او پر یکړو کې] نور پوره سه او سر ته ورسیده او د الله خبرې هیڅ څوک بدلولای نسي او الله ښه کلک اور یدونکئ او ښه پوه لوی ذات دئ، یعني الله تعالی د خپلو بنده ګانو خبري اوري او په زړونو باندې یې پوه دئ، نو هرچا ته د هغه لائق ثواب او سزا ورکوي.

او بیا الله تعالی په ور پسې مبارکو آیتونو کې پیغمبرﷺ د کافرانو خبرو منلو نه کلک منعې کړئ دئ، ځکه هغه خوسې خبرې دي او دوی د خپلو ګیډو نه راو یستلې دي، او الله تعالی یې په بیان کې فرمایلي دي:

[١١٦] ای پیغمبره! او که ته پر ځمکه اوسیدونکو ډیرو خلکو خبرې واورې او هغه ومنې، نو بیا دوی تا د الله لارې نه ورکوي، ځکه کافران یوازې خپلو ګمانونو او انګیرنو پسې ځي، یعنی هغه حق ګڼي، ځکه د دوی پلرونو به خپل معبودان حق بلل، خو دوی دروغژن دي او خبرې یې ټولې دروغ دي او هیڅ شاهد او پوخ دلیل وربانديې نه لري.

[١١٧] ای پیغمبره! او د ستا پالونکئ څښتن الله هغه څوک ښه پیژني چې هغه د الله لارې نه ورکیږي، او حق ته هدایت سوي کسان هم الله ښه پیژني او ور باندې ښه پوه دي.

ګرانو عز یزانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې رسول الله ﷺ ته او د هغه دین وارثانو ته چې دوی علماء او د الله دین مبلغین او دعات دي لارښودنه او سپارښت کړئ دئ چې حق الله تعالی په قرآن کې رانازل کړئ دئ او مومنانو ته یې بیان کړئ دئ، او د الله حکم چې د ر یښتیا و یاند او د عدالت چلونکې دئ؛ ثابت دئ او هیڅ څوک یې بدلولای نسي، او د الله حق لارې نه اړول د شیطان کار دئ، او الله تعالی خپل دښمنان ښه پیژني، نو هرچا ته به د هغه لائق سزا ورکړي، نو ای مومنانو! تاسې کافرانو پسې مځ او پروایې مکړئ، او الله تعالی تاسې هم ښه پیژني او د خپل ایمان ثواب مو درکوي، نو په ډاډه زړه پر خپل ایمان ټینګ سئ!

{د الله په نامه د څارو یو ذبحه کول او حلالول فرض دي}

قدرمنو دوستانو! او په ور پسې مبارکو آیتونو کې په همدې مناسبت چې کافرانو به پر مومنانو باندې ډول ډول نیوکې کړې؛ الله تعالی مومنانو ته امر کړئ دئ چې که تاسې په ر یښتیا سره مومنان یاستئ، نو د هغو څارو یو غوښې وخورئ چې هغه د الله په نامه حلال سوي دي او د کافرانو هغو خبرو پروا مکړئ چې پر مومنانو یې نیوکه کړه او و یل یې: تاسې په خپلو لاسو حلال سوو څارو یو ته حلال وایي او غوښه یې خورئ، خو هغه حلال څاروي چې الله مړه کړي دي، یعنی پر خپل اجل پرته له ذبحې مړه سوي دي؛ هغه حرام ګڼئ، نو اړه ځواب کې یې الله تعالی فرمایلي دي:

﴿فَكُلُوا۟ مِمَّا ذُكِرَ ٱسْمُ ٱللَّهِ عَلَيْهِ إِن كُنتُم بِـَٔايَـٰتِهِۦ مُؤْمِنِينَ ﴿١١٨﴾ وَمَا لَكُمْ أَلَّا تَأْكُلُوا۟ مِمَّا ذُكِرَ ٱسْمُ ٱللَّهِ عَلَيْهِ وَقَدْ فَصَّلَ لَكُم مَّا حَرَّمَ عَلَيْكُمْ إِلَّا مَا ٱضْطُرِرْتُمْ إِلَيْهِ ۗ وَإِنَّ كَثِيرًا لَّيُضِلُّونَ بِأَهْوَآئِهِم بِغَيْرِ عِلْمٍ ۗ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِٱلْمُعْتَدِينَ ﴿١١٩﴾ وَذَرُوا۟ ظَـٰهِرَ ٱلْإِثْمِ وَبَاطِنَهُۥٓ ۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكْسِبُونَ ٱلْإِثْمَ سَيُجْزَوْنَ بِمَا كَانُوا۟ يَقْتَرِفُونَ ﴿١٢٠﴾ وَلَا تَأْكُلُوا۟ مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ ٱسْمُ ٱللَّهِ عَلَيْهِ وَإِنَّهُۥ لَفِسْقٌ ۗ وَإِنَّ ٱلشَّيَـٰطِينَ لَيُوحُونَ إِلَىٰٓ أَوْلِيَآئِهِمْ

لِيُجَٰدِلُوكُمۡۖ وَإِنۡ أَطَعۡتُمُوهُمۡ إِنَّكُمۡ لَمُشۡرِكُونَ ١٢١

[۱۱۸] نو ای مومنانو! که تاسې په ر یښتیا سره د الله کتاب (قرآن) پر آیتونو باندې ایمان لرئ او هغه منئ، نو د هغو څارو یو غوښې وخورئ چې د حلالیدو او ذبحې په وخت کې د الله نوم ور باندې یاد سوئ دئ، یعنی په بسم الله الرحمن الرحیم باندې حلال سوي دي.

[۱۱۹] او ای مومنانو! ولې به تاسې هغه غوښې ونه خورئ چې د الله نو ور باندې یاد سوئ دئ؟ حال دا چې یقینا تاسې ته الله حرامې غوښې په پوره تفصیل او روښتیا سره بیان کړې دي [یعنی د دغو حرامو غوښو خوړل پر تاسې باندې حرام دي] مګر داچې تاسې دغو حرامو غوښو خوړلو ته اړ او محتاج سئ [یعنی دا چې تاسې نور پاک خواړه چې هغه په ولږه کې تاسې وخورئ بیانومئ] او یقینا چې ډیر بې لارې کسان پرته د علم او پوهې نه نور خلک د حق لارې نه د خپلو هوسونو غوښتنو سره سم بې لارې کوي، او ای پیغمبره! یقینا چې د ستا رب الله پر خپلو حکمونو باندې تیرئ کونکو کسانو باندې ښه پوه دئ، یعنی دوی ښه پیژني، نو بیا به دوی ته کلکه سزا ورکړي او د جهنم په اور کې بې وکړوي.

[۱۲۰] او ای مومنانو! پټه او ښکاره ګناه ټوله پر یږدئ، او هغه کسان چې ګناه کړي دوی ته به د خپلو ګناه وو سزا یقینا ورکړه سي.

[۱۲۱] او ای مومنانو! د هغو څارو یو غوښې مخورئ چې پر حلالولو او ذبح کولو کې ور باندې د الله نوم نه یي یاد سوئ [یعنی بسم الله ور باندې نه یي و یل سوې، لکه په خپل اجل مړه سوي حلال پسونه] او یقینا چې د دغسې غوښې خوړل د الله اطاعت نه وتل دي [یعنی فسق ورته و یل کیږي] هو! شیطان خپلو پلو یانو ته پټې خبرې کړي [ترڅو دغه د شیطان پلو یان د ستاسې سره ای مومنانو!] جنجال وکړي او خولې سره واچوئ [یعنی کافران مومنانو ته په خپل اجل مړو سوو څارو یو غوښو د نه خوړلو په باره کې وایي: ای مومنانو!] تاسې د هغو څارو یو غوښه نخورئ چې هغه الله وژلي دي، خو د هغو څارو یو غوښه خورئ

چې هغه تاسې حلال کړي دي [یعنی دا چې تاسې د الله حکم نه منئ، خو خپل حکم منئ!] نو که تاسې ای مومنانو! د کافرانو دغسې و ینا وې او خبرې ومنئ، نو یقینا چې بیابه تاسې د کافرانو نه وئ!

درنډو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې د حلالو او حرامو غوښو په منځ کې د فرق ځلانده نښه چې هغه د الله تعالی په نامه د ځارو یو ذبح کول دي؛ بیان کړې ده او مومنانو ته یې حکم کړئ دئ چې د هغو حلال سوو ځارو یو غوښه وخورئ چې د الله نوم ور باندې یاد سوئ دئ، او د هغو مړو سو ځارو یو غوښو د خوړلو نه ځان وساتئ چې هغه په خپل اجل پرته د ذبحې نه مړه سوي دي او په عربي کې ورته (میته) وایي، ځکه میته په خپل سر پرته د ذبحې نه مړې سوې مړۍ ته و یل کیږي، خو کافرانو چې خوی یې د مومنانو سره تل ضد کړل او مخالفت وه، نو مومنانو سره بې وچ او شنډ بحث او جدال کا وه، او و یل بې چې تاسې ای مومنانو د الله حکم نه منئ او یوازې خپل حکم منئ! نو ځکه الله تعالی د مشرکانو دغسې خوسې ناروا خبرې کلکې ردې کړي دي، او په ټینګار سره یې و یلي دي چې دا د الله حکم دئ، او په خپل مرګ مړو سوو ځارو یو غوښه حرامه ده، او یوازې د هغو ځارو یو غوښه حلال ده چې د الله نوم ور باندې د ذبح کولو په وخت کې یاد سوئ وي.

ګرانو دوستانو! خو که (بسم الله الرحمن الرحیم) و یل د مومن قصاب نه پر دغو ځارو یو د حلالولو په وخت کې هیر سي، نو غوښه یې حلاله ده، ځکه الله تعالی خپل مومن بنده په هغه څه چې ویر یې سي؛ نه نیسي، خو که چیرې بسم الله یې په قصد سره نه یې و یلې، نو بیا د هغه ځاروي غوښه هم حرامه ده، ځکه هغه(میته) بلل کیږي او خوړل یې روا ندې، مګر د ضرورت په وخت کې او هغه هم یوازې د ضرورت په اندازه، ترڅو یې خوړونکئ د ولږې مرګ نه ور باندې خلاص سي او نجات بیاموي.

ګرانو دوستانو! په دغو مبارکو آیتونو کې دا مقصد هم ښه روښانه سه چې مومنان د الله تعالی پر هغو شرعي حکومونو باندې مکلف دي چې بیان یې په قرآن کر یم کې راغلئ دئ؛ نه د الله تعالی په هغو تقدیري

حکومونو باندې چې کافران ور باندې اســتدلال کړي، ځکه د تقديري پر يکړو پټ علم يوازې الله سره دئ، نو بنده پرې مکلف ندئ.

{مومنان او کافران هيڅ کله سره برابر ندي}

او په ور پســې مبارکو آيتونو کې الله تعالى مومنان هغه مړي ته ورته بللي دي چې الله يې راژونده کړي او بيا يې په رڼا کې وخوځوي، او کافران الله تعالى هغه چاته ورته بللي دي چې په تورو تيارو کې ډير لالهانده او حيران ګرځي راګرځي، نو آيا دا دواړه ســره برابر دي؟ ځواب: نا! هيڅ کله ســره برابر ندي، او په بيان کې يې الله تعالى فرمايلي دي:

﴿أَوَمَن كَانَ مَيْتًا فَأَحْيَيْنَٰهُ وَجَعَلْنَا لَهُۥ نُورًا يَمْشِى بِهِۦ فِى ٱلنَّاسِ كَمَن مَّثَلُهُۥ فِى ٱلظُّلُمَٰتِ لَيْسَ بِخَارِجٍ مِّنْهَا ۚ كَذَٰلِكَ زُيِّنَ لِلْكَٰفِرِينَ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١٢٢﴾ وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا فِى كُلِّ قَرْيَةٍ أَكَٰبِرَ مُجْرِمِيهَا لِيَمْكُرُوا۟ فِيهَا ۖ وَمَا يَمْكُرُونَ إِلَّا بِأَنفُسِهِمْ وَمَا يَشْعُرُونَ ﴿١٢٣﴾﴾

[١٢٢] [ای خلکو!] او آيا هغه څوک چې مړ وه [يعنى د ورکتيا په تورو تيارو کې د هلاکت په حال کې وه] نو بيا دئ مونږ را ژوندئ که او رڼا مونږ ورکړه او اوس دئ په دغه رڼا کې دئ او د خلکو په منځ کې ګرځي راګرځي [يعنى بيرته را ژوندئ ســه] نو آيا د هغه دا مثال او بيلګه هغه چا غوندې ده چې هغــه پــه تورو تيــارو کې حيران پروت دئ او د وتلو لار نــه مومي؟ [ځواب دا چې: هو! دا دواړه هيڅ کلــه ســره برابر نــدي! او ای مومنــانو! کافرانو ته شــيطان] همداســې د دوی بد کړل او بدې خبرې چې د مومنانو سره به يې په حلالو او حرامو کې بحث او جدال کا وه ښايسته کړل، يعنى دا چې ترڅو دوی ته د دوی د بدو کړنو او د بدو و يناوو سزا ورکړه سي.

[١٢٣] [ای مومنانو! او د مشــرکانو مشــرانو په مکه کې د حق ســره دښمني وکړه او د اسلام مخنيوئ يې وکه او دوی ته په ر يښتيا سره راغلئ پيغمبر يې ونه مانه او د هغه دين يې قبول نکه] نو همداســې مونږ د هر کلي مشــران مجرمان وګرځول [يعنى دوی مونږ پر يښــودل چې پدې کلي

کې] فتني راولاړې کړي او دسيسې جوړې کړي [او د حق مخنيوئ وکړي، او حق ته را بلونکې پيغمبران وزوروي] خو کافران دغسې توطئې په حقيقت کې خپلو ځانو ته جوړوي، ځکه خو دوی نه پوهيږي او شعور نه لري، يعنی نو يقينا چې دغه کافران به د خپلو توطئيو او چلونو په بل سوي اور لمبو کې هرمرو کړ يږي!

{کافر انو د اسلام پيغمبر نه مادي معجزې وغوښتلې}

عزتمنو دوستانو! د مکې کافرانو په مغزونو کې چې به کمه پلمه د رسول الله ﷺ پيغمبری د ننکونې په مقصد وکړځيده؛ هغه بې دسته وراندې کړه، ترڅو د پيغمبر ﷺ خبرو منلو نه وتښتي، نو په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی د مشرکانو دغسې غوښتنه يادې کړې ده، او بيا يې په ځواب کې فرمايلي دي:

﴿وَإِذَا جَآءَتْهُمْ ءَايَةٌ قَالُوا۟ لَن نُّؤْمِنَ حَتَّىٰ نُؤْتَىٰ مِثْلَ مَآ أُوتِىَ رُسُلُ ٱللَّهِ ۘ ٱللَّهُ أَعْلَمُ حَيْثُ يَجْعَلُ رِسَالَتَهُۥ ۗ سَيُصِيبُ ٱلَّذِينَ أَجْرَمُوا۟ صَغَارٌ عِندَ ٱللَّهِ وَعَذَابٌ شَدِيدٌۢ بِمَا كَانُوا۟ يَمْكُرُونَ ﴿١٢٤﴾ فَمَن يُرِدِ ٱللَّهُ أَن يَهْدِيَهُۥ يَشْرَحْ صَدْرَهُۥ لِلْإِسْلَٰمِ ۖ وَمَن يُرِدْ أَن يُضِلَّهُۥ يَجْعَلْ صَدْرَهُۥ ضَيِّقًا حَرَجًا كَأَنَّمَا يَصَّعَّدُ فِى ٱلسَّمَآءِ ۚ كَذَٰلِكَ يَجْعَلُ ٱللَّهُ ٱلرِّجْسَ عَلَى ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿١٢٥﴾ وَهَٰذَا صِرَٰطُ رَبِّكَ مُسْتَقِيمًا ۗ قَدْ فَصَّلْنَا ٱلْءَايَٰتِ لِقَوْمٍ يَذَّكَّرُونَ ﴿١٢٦﴾ لَهُمْ دَارُ ٱلسَّلَٰمِ عِندَ رَبِّهِمْ ۖ وَهُوَ وَلِيُّهُم بِمَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١٢٧﴾ وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا يَٰمَعْشَرَ ٱلْجِنِّ قَدِ ٱسْتَكْثَرْتُم مِّنَ ٱلْإِنسِ ۖ وَقَالَ أَوْلِيَآؤُهُم مِّنَ ٱلْإِنسِ رَبَّنَا ٱسْتَمْتَعَ بَعْضُنَا بِبَعْضٍ وَبَلَغْنَآ أَجَلَنَا ٱلَّذِىٓ أَجَّلْتَ لَنَا ۚ قَالَ ٱلنَّارُ مَثْوَىٰكُمْ خَٰلِدِينَ فِيهَآ إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُ ۗ إِنَّ رَبَّكَ حَكِيمٌ عَلِيمٌ ﴿١٢٨﴾ وَكَذَٰلِكَ نُوَلِّى بَعْضَ ٱلظَّٰلِمِينَ بَعْضًۢا بِمَا كَانُوا۟ يَكْسِبُونَ ﴿١٢٩﴾﴾

[١٢٤] هو! کله چې به کافرانو ته [یعنی د مکې مشرکانو ته] د الله یوه ښکاره معجزه او دلیل [د محمدﷺ رسالت تصدیق لپاره راغئ] نو بیابه دوی وو یل: مونږ هیڅ کله ایمان نه راوړو، مګر دا چې مونږ ته هغسې معجزې راوړل سي چې هغه پخوانیو پیغمبرانو ته الله ورکړې وې [یعنی د مکې کافرانو په خپلو دغو خبروه سره د رسول اللهﷺ په پیغمبرۍ باندې اعتراض او نیوکه وکړه او د هغه پیغمبرۍ یې وننګوله، نو بیا الله تعالی د دوی په ځواب کې وفرمایل:] هو! الله پدې ښه پوهیږي چې خپله پیغمبري چیرته وګرځوي او هغه چا ته ورکړي [یعنی الله تعالی ښه پوهیږي چې څوک د پیغمبرۍ لائق دئ؟ ترڅو بیا الله تعالی هغه خپل پیغمبر او استازئ خوښ او غوره کړي، او بیا دا پیغمبر د الله پیغام خپل قوم ته ورسوي] او هغو کسانو چې د الله فرمان نه سرغړونه وکړه او د الله پیغمبر یې وننګاوه، نو دوی ته به د الله پر وړاندې خواري او سپکاوئ ورسیږي او کلک عذاب او سخته سزا به ورکړه سي، ځکه دوی د اسلام پیغمبر او د الله دین پر وړلاندې توطئې جوړولې، یعنی خلک یې غولول، ترڅو ایمان رانوړي، نو د مکې کافرانو د الله تعالی او د هغه پیغمبر محمدﷺ سره دښمني وکړه!

ګرانو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې د کافرانو پټې توطئې د حق پالانو پر وړلاندې رسوا کړې دي او دوی یې په کلکه سزا باندې ګواښلي دي، او یقینا چې تار یخ ور باندې په دنیا کې ژوندئ شاهد دئ او د الله حکمونو نه سرکښې ولسونه؛ تل الله رسوا کړي دي.

او بیا په ور پسې مبارکو آیتونو کې د کافرانو دغسې پلمو په ځواب کې الله تعالی خلکو ته په ټینګار سره اعلان کړئ دئ چې د ایمان راوړو او د نه راوړو توفیق ورکولو واک یوازې د الله سره دئ، نو څوک چې د ایمان لائق وي الله توفیق ورکوي، او څوک چې یې لائق نه وي او وړتیا یې نه لري الله یې همداسې د کفر په چټلئ کې ډوب سوي پر یردي، او فرمایلي دي:

[١٢٥] نو څوک چې الله وغواړي حق ته یې هدایت کړي؛ زړه یې د اسلام منلو ته لو یوي [یعنی په زړه کې یې رڼا اچوي] او څوک چې الله

وغواړي د حق پېژندلو لار ورځخه ورکه کړي، نو زړه يې داسې کلک تنګوي، لکه چې اسمان ته خيځي [ځکه پاس په اسمان کې اکسيجن کميږي، نو پورته ختل ډير سخت دي] او همداسې الله د عذاب او د سزا چټلي د آخرت په ورځ پر هغو کسانو باندې را اړوي چې دوی ايمان نه راوړي، يعنی همداسې د کفر په تيارو کې پاتې کيږي!

[١٢٦] ای پيغمبره! او دا څه چې [تاته مونږ بيان کړل] دا د ستا پالونکي رب الله سمه لار ده [نو هرڅوک چې په دغه سمه لار لاړ سي جنت ته رسيږي] او مونږ د حق پېژندلو او منلو دليلونه هغه چا او هغه قوم ته په پوره تفصيل سره بيان کړل چې دوی ورڅخه ګټه او عبرت اخلي.

[١٢٧] او دغو کسانو ته [يعنی حقپالانو مومنانو ته چې دوی پند اخستئ دئ او حق يې منلئ دئ] دوی ته د آخرت په ورځ د دوی پالونکي ځښتن الله لخوا د سلامتی او د دمي کړو کور تيار دئ [او هغه جنت دئ] او الله د دوی مل او مرستندوی دئ، ځکه دوی په دنيا کې ښه کړي دي.

[١٢٨] ای پيغمبره! او هغه ورځ راپه ياد کړه، کله چې الله ټول کافران [او د دوی دوستان پيريان] يوځای د محشر په ورځ سره راغونډ کړي [نو بيا ورته وايي:] ای پيريانو! ډير کسان د انسانانو نه تاسې بې لارې کړل، او بيا د انسانانو نه د پر يانو ملګري وايي: ای د زمونږ لو يه ر به! مونږ د يو بل نه خوند واخست، او دا دئ اوس مونږ خپل اجل او هغې نيټې ته چې هغه تا را ته ټاکلې وه ورسيدلو [يعنی د دنيا ژوند نور تمام سه او آخرت ته راورسيدلو، نو بيا الله تعالی ورته وايي:] د دوزخ اور د ستاسې ځای دئ او هلته به پکې تل کړ يږی، مګر هغه کسان چې الله وغواړي نجات ورکړي، يعنی د دوزخ اور نه يې را و باسي، او هغوی د الله ګناه ګار مومن بنده ګان دي چې دوی الله د خپلې سزا ګاللو نه وروسته د دوزخ اور نه بيرته را باسي.

او ای پيغمبره! يقينا چې د ستا پالونکئ ځښتن الله لوی حکيم او ښه پوه ذات دئ، يعنی د خپلو بنده ګانو چارې په پاخه حکمت او په ښه تدبير او په ښې پوهې سره سمبالوي او پالنه يې کړي.

[١٢٩] [هو! لكه څنګه چې مونږ د پيريانو شيطانان پر كافرانو باندې مسلط كړل او د دوى لاس لاندې سول] همداسې د انسانانو ځينې ظالمان پر ځينې نورو باندې چې ګناه او بد كړي مسلطه وو، يعنى دا د الله تعالى سنت او تل پاتې قانون دئ چې ځينې ظالمان پر ځينې نورو ظالمانو باندې ټكوي، نو ښايي چې ټول خلک او په ځانګړې ډول مومنان چې د الله دا عادل قانون چې ظالمان يې ور باندې كلک ګواښلي دي؛ ومني، او د هغه نه ګټه او عبرت واخلي، او د ظالمانو د زوروالى په پله باندې لاړ نسي او د هغوى تقليد او پيښې ونكړي.

{ كافران په قيامت كې خپل كفر مني خو هغه ورته ګټه نكړي }

او په ور پسې مباركو آيتونو كې الله تعالى كافران د خپل اقرار نه په كفر باندې د قيامت په ورځ خبر كړي دي، خو هغه اقرار نور دوى ته هيڅ ګټه نكړي، او فرمايلي دي:

﴿يَٰمَعۡشَرَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِ أَلَمۡ يَأۡتِكُمۡ رُسُلٞ مِّنكُمۡ يَقُصُّونَ عَلَيۡكُمۡ ءَايَٰتِي وَيُنذِرُونَكُمۡ لِقَآءَ يَوۡمِكُمۡ هَٰذَاۚ قَالُواْ شَهِدۡنَا عَلَىٰٓ أَنفُسِنَاۖ وَغَرَّتۡهُمُ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَا وَشَهِدُواْ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡ أَنَّهُمۡ كَانُواْ كَٰفِرِينَ ١٣٠ ذَٰلِكَ أَن لَّمۡ يَكُن رَّبُّكَ مُهۡلِكَ ٱلۡقُرَىٰ بِظُلۡمٖ وَأَهۡلُهَا غَٰفِلُونَ ١٣١ وَلِكُلّٖ دَرَجَٰتٞ مِّمَّا عَمِلُواْۚ وَمَا رَبُّكَ بِغَٰفِلٍ عَمَّا يَعۡمَلُونَ ١٣٢ وَرَبُّكَ ٱلۡغَنِيُّ ذُو ٱلرَّحۡمَةِۚ إِن يَشَأۡ يُذۡهِبۡكُمۡ وَيَسۡتَخۡلِفۡ مِنۢ بَعۡدِكُم مَّا يَشَآءُ كَمَآ أَنشَأَكُم مِّن ذُرِّيَّةِ قَوۡمٍ ءَاخَرِينَ ١٣٣ إِنَّ مَا تُوعَدُونَ لَأٓتٖۖ وَمَآ أَنتُم بِمُعۡجِزِينَ ١٣٤ قُلۡ يَٰقَوۡمِ ٱعۡمَلُواْ عَلَىٰ مَكَانَتِكُمۡ إِنِّي عَٰمِلٞۖ فَسَوۡفَ تَعۡلَمُونَ مَن تَكُونُ لَهُۥ عَٰقِبَةُ ٱلدَّارِۚ إِنَّهُۥ لَا يُفۡلِحُ ٱلظَّٰلِمُونَ ١٣٥﴾

[١٣٠] اى د پيريانو او د انسانانو كافرانو! آيا تاسې ته د ستاسې منځ

نه پیغمبران رانغلل؟ چې د زمونږ آیتونه یې تاسې ته لوستل او تاسې یې د دغې ورځې ملاقات او ورسره یوځای کیدو نه چې هغه د قیامت ورځ ده ګواښلی؟ نو بیا دوی په ځواب کې وو یل: هو! مونږ پر خپلو ځانو باندې شاهدې وایو [چې مونږ ته اي لو یه ر به! د ستا پیغمبران راغلل او د ستا پیغام یې مونږ ته را ورسا وه او مونږ یې د قیامت ورځې عذاب نه وګواښلو] خو دوی د دنیا ژوند وغلول [یعنی نو ځکه یې د پیغمبرانو خبرې ونه منلې] او پر خپلو ځانو یې شاهدي وو یله چې دوی کافران ول، یعنی د الله عبادت نه په توحید او یو والي سره منکر ول او پیغمبران یې دروغژن وګڼل!

[١٣١] هو! ای پیغمبره! [پیریانو او انسانانو ته] پیغمبران مونږ [پدې مقصد راولیږل او کتابونه مو ور باندې رانازل کړل، ترڅو روښانه سي] چې د ستا رب ای پیغمبره! هیڅ کله هم کلي د بې خبرو اوسیدونکو په ګناه او د دوی په ظلم نه ورانوي! یعنی سره لدې چې الله تعالی پدې پوه دئ چې په دغو کلیو کې میشت ولسونه هیڅ کله حق نه مني، خو بیا هم الله تعالی د خپل حجت قایمولو او درولو په مقصد دوی ته پیغمبران را لیږي، ترڅو دوی د الله دین ته را و بولي او د الله سزا نه یې د قیامت په ورځ وګواښي، ترڅو بیا دوی په هغه ورځ نیوکه او اعتراض ونکړي او ونه وایي: چې ای خدایه ولې تا مونږ ته پیغمبران نوه را لیږلي؟

[١٣٢] هو! هرچا ته د هغه د ښو او د بدو کړنو په اندازه رتبې او درجې ورکول کیږي، او د ستا رب ای پیغمبره! د خلکو کړنو نه بې خبره ندئ، یعنی الله تعالی د خپل کامل علم په ژبا کې ټولو خلکو ته د دوی د ښو او د بدو کړنو سره سم ثواب او سزا ورکوي.

[١٣٣] ای پیغمبره! او د ستا رب الله د خلکو بنده ګی نه غني دئ [یعنی دا چې الله تعالی د هیڅ چا عبادت ته محتاج او اړ ندئ] خو الله د ډیرې مهربانۍ او د لوی رحمت خاوند دئ، او که الله وغواړي، نو تاسې ای خلکو! له منځه وړي او بیا وروسته د ستاسې پر ځای د بل قوم نه چې هرڅوک وغواړي؛ هغوی ځای ناستي کړځوي، لکه ځنګه چې یې تاسې د

بل قوم کهول نه پیدا کړی او بیا یې واکمنان کړی.

[١٣٤] ای خلکو! او کمې وعدې چې د ستاسې سره سوې دي؛ هغه راتلونکې دي او تاسې یې مخه نیولای نسی، یعنی دا چې الله تعالی خپل ګواښونه کافرانو ته په سزا ورکولو سره عملي کوي او هیڅ څوک یې مخه نیولای نسي.

قدرمنو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې مونږ ته خپل عظمت، لو یتیا او زور سره د خپل خواره واره رحمت او مهر بانۍ پر خپلو بنده ګانو باندې؛ یاد کړئ دئ او کافران یې د دغو ښکاره او ښه کلک پر یکنده در یځونو پر ولاندې چې هغه ښه روښانه حقیقتونه دي؛ درولي دي، نو اوس د دوی خوښه چې څه کړي او کمه لار خوښوي؟ د اطاعت او د بنده ګۍ لار، او که په کفر او شرک کې د دوو بیدلو کړه لار؟

او بیا په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی رسول الله ﷺ ته په خطاب کې فرمایلي دي:

[١٣٥] او ای پیغمبره! خپل قوم ته ده ووایه چې ای خلکو! څنګه چې د ستاسې خوښه وي؛ هغسي وکړئ او زه هم یقینا چې خپل کار کړم [یعنی د خپل رب لارښودنو سره سم په مخ ځم] نو تاسې به بیا پوه سئ چې ښه راتلونکې د چا ده؟ او یقینا هغو ظالمانو چې پر حق باندې تیرئ کړئ دئ؛ دوی هیڅ کله نه بر یالي کیږي، یعنی د کافرانو راتلونکې یقیني هلاکت او رسوایي ده! نعوذ بالله من ذلك.

{د مشرکانو دودیزې پر یکړې الله تعالی کلکې غندلې دي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د کافران هغه دودیزې پر یکړې کلکې غندلې دي چې هغه دوی د خپلو ځانونو نه جوړې کړې وې، او په بیان کې یې فرمایلی دی:

﴿وَجَعَلُواْ لِلَّهِ مِمَّا ذَرَأَ مِنَ ٱلۡحَرۡثِ وَٱلۡأَنۡعَٰمِ نَصِيبٗا فَقَالُواْ هَٰذَا لِلَّهِ بِزَعۡمِهِمۡ وَهَٰذَا لِشُرَكَآئِنَاۖ فَمَا كَانَ لِشُرَكَآئِهِمۡ فَلَا يَصِلُ إِلَى

ٱللَّهِ ۖ وَمَا كَانَ لِلَّهِ فَهُوَ يَصِلُ إِلَىٰ شُرَكَآئِهِمْ ۖ سَآءَ مَا يَحْكُمُونَ
﴿١٣٦﴾ وَكَذَٰلِكَ زَيَّنَ لِكَثِيرٍ مِّنَ ٱلْمُشْرِكِينَ قَتْلَ أَوْلَٰدِهِمْ
شُرَكَآؤُهُمْ لِيُرْدُوهُمْ وَلِيَلْبِسُوا۟ عَلَيْهِمْ دِينَهُمْ ۖ وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ
مَا فَعَلُوهُ ۖ فَذَرْهُمْ وَمَا يَفْتَرُونَ ﴿١٣٧﴾ وَقَالُوا۟ هَٰذِهِۦٓ أَنْعَٰمٌ وَحَرْثٌ حِجْرٌ
لَّا يَطْعَمُهَآ إِلَّا مَن نَّشَآءُ بِزَعْمِهِمْ وَأَنْعَٰمٌ حُرِّمَتْ ظُهُورُهَا وَأَنْعَٰمٌ لَّا
يَذْكُرُونَ ٱسْمَ ٱللَّهِ عَلَيْهَا ٱفْتِرَآءً عَلَيْهِ ۚ سَيَجْزِيهِم بِمَا كَانُوا۟
يَفْتَرُونَ ﴿١٣٨﴾ وَقَالُوا۟ مَا فِى بُطُونِ هَٰذِهِ ٱلْأَنْعَٰمِ خَالِصَةٌ لِّذُكُورِنَا
وَمُحَرَّمٌ عَلَىٰٓ أَزْوَٰجِنَا ۖ وَإِن يَكُن مَّيْتَةً فَهُمْ فِيهِ شُرَكَآءُ ۚ
سَيَجْزِيهِمْ وَصْفَهُمْ ۚ إِنَّهُۥ حَكِيمٌ عَلِيمٌ ﴿١٣٩﴾ قَدْ خَسِرَ ٱلَّذِينَ قَتَلُوٓا۟
أَوْلَٰدَهُمْ سَفَهًۢا بِغَيْرِ عِلْمٍ وَحَرَّمُوا۟ مَا رَزَقَهُمُ ٱللَّهُ ٱفْتِرَآءً عَلَى ٱللَّهِ ۚ قَدْ
ضَلُّوا۟ وَمَا كَانُوا۟ مُهْتَدِينَ ﴿١٤٠﴾

[١٣٦] او کله چې د مکې کافرانو د کښتونو حاصلات او د څار یو نه پاتې برخه الله ته نذرانه کړه، نو وو یل چې دا د دوی په خیال د الله برخه ده، او دا هم د زمونږ شــر یکـانو برخـه ده، خو هغـه برخـه چې د دوی د شر یکانو(بتانو) برخه وه؛ هغه الله ته نه رسیږي، او هغه برخه چې د الله برخه وه؛ هغه د دوی شــر یکانو ته رســیږي، او د کافرانو دا حکمونه او پر یکړې؛ ډیرې بدې پر یکړې او ناوړه حکمونه ول!

[١٣٧] [هو! او همدارنګه، لکه څنګه چې شــیطان کافرانو ته د دوی نذرانې الله ته د کښتونو او څار یو نه ښکلې او ښـایسـته کړي] همداسې بتانو او شــیطانانو ډیرو مشــرکانو ته د خپلو بچیانو او د کهول وژل [د ولږې و یرې نه] ښـایسـته کړل، ترڅو دوی په [ناروا قتل سـره] په هلاکت کې واچوي او د دوی دین ور بانـدې کـړ وړ او پـټ کړي [یعنی ســمـه لار ورڅخـه ورکـه کړي، ترڅو بیا هلاك ســي] خو که الله غوښــتي وای چې کافران داسـي ونکړي، نو دغسـي بد به دوی نوه کړي [خو د الله تقدیري

حکم او پر یکړه همداسي وه، ځکه الله د دوی پر بدو کړو باندې د ازل نه پوه وه، یعنی دا چې کافران به دا بد هرومرو کړي] نو ته ای پیغمبره! دغه مشرکان او د دوی دروغ چې څه وایي همداسې پر یږده، یعنی پر الله یې وسپاره، ځکه الله د ستاسې په منځ کې پر یکړه کړي، نو پروایې مکړه.

[۱۳۸] او مشرکانو وو یل: دغه څاروي او کښتونه [د دوی په انګیرنه د دوی اجازې نه پرته] پر نورو خلکو باندې حرام دي او هیڅ څوک یې د خوړلو حق نه لري، مګر دا چې دوی چاته اجازه ورکړي، او هم د ځینو څارو یو [یعنی د اوښانو] شاوې حرامې دي [یعنی روا نده چې څوک پر هغو باندې سپاره سي او یا پیټۍ ور باندې یوسي] او نور داسې څاروي هم ستە چې د الله نوم ور باندې نه یادوي، او دغه حکمونه مشرکانو په دروغو الله پسې وترل [یعنی حال دا چې الله هیڅ کله هم داسې حکمونه ندي کړي] نو الله به کافرانو ته د دروغو او د ناحقه تورونو سزا ورکړي.

[۱۳۹] او دغو مشرکانو وو یل: هغه جونګې چې د دغو بلار بو اوښو په نسونو کې دي [نو که بیا هغه ژوندي وز یږ یدل] هغه یوازې د زمونږ نار ینوو لپاره دي او د زمونږ پر ښځو هغه حرام دي، خو که هغه مړه سوي وز یږ یدل، نو بیا ټول پکې شر یك او ګډ دي، او الله به مشرکانو ته په حلالو او حرامو کې د خپل ځان نه د دغسې فتاوو سزا ورکړي، ځکه یقینا چې الله لوی حکیم او ښه پوه پالونکئ څښتن دئ.

[۱٤۰] هو! یقینا هغو کسانو تاوان وکه او ز یانمن سول چې دوی خپل واړه ماشومان په ناپوهۍ او په بې عقلۍ سره پرته د کم علم او پوهې نه مړه کړل، او دغو کافرانو همداسې په دروغو سره الله پسې د الله نه دوی ته ورکړل سوې روزې پر خپلو ځانو حرامه کړه، او دوی پر خپلو دغسې کارنو سره د حق نه بې لارې سول او سمې لارې ته هدایت نسول، یعنی د الله تعالی توفیق نه پر سمه لار د تګ نه محروم سول.

درنډو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې مونږ ته د مشرکانو او د مکې کافرانو هغه ځان ځاني حکمونه او دودیزې پر یکړې د

حلالو او حرامو په باره کې رسـوا کړي دې چې هغه دوی په دروغو سـره الله پسـې تپلي، نو بيا الله تعالى فرمايلي دې چې کافرانو ته به د دوی د دغو دروغژنو تورونو سزا ورکړه سي، او هم الله تعالى د دوی دغه د عقل او هوښيارۍ نه لرې کړنې غندلي دې او کافران يې ز يانمن اعلان کړي دي.

هو! ګرانو دوسـتانو! الله تعالى زمونږ ښـه پالونکئ او مهر بان خالق دئ او مونږ يې پيدا کړي يو او روزي راکوي او پيغمبران يې را تـه را ليږلي دي او کتابونه يې را نازل کړي دي او خپل ټول حکمونه يې را ته په حلالو او حرامو او په روا او نارواوو کې ښـودلي او بيان کړي دې، نو ښـايي چې هغه په يقين سـره ومنو او د ځا ن نه پکې کم حکم او خبره ونکړو، او نه په دروغو سـره د حلالو او حرامو حکمونه الله ته منسـوب کړو او نعوذ بالله په دروغو الله پسـې تور پورې کړو، هو! يقينا هرڅوک چې پر خپل ځان ظلم کړي او خپل حد او پوله نه پيژني او د الله لوړ مقام قدر نکړي؛ هغه د حق نه اوښـتئ دئ او سـمه لار ورڅخه ورکه ده او د باطل په تورو تيارو کې ورک او پکې ډوب دئ، نو دعا کړو وايو چې الله تعالى ده مونږ په خپل فضل او رحمت سره د ګمراهۍ نه وساتي!

هو! درندو دوسـتانو! د کافرانو دغه خپل سـره حکمونه د حلالو او حرامو په باره کې چې په دروغو سـره يې الله ته منسـو بول په وار وارسـره الله تعالى په قرآن کر يم کې غندلي او رد کړي دي او مونږ يې په حلالو او حرامو کې د خپلو ځانو حکم کړو نه کلک ګواښـلي او منع کړي يو، او د النحل سورې په (١١٦) مبارك آيت کې يې فرمايلي دي:

﴿وَلَا تَقُولُواْ لِمَا تَصِفُ أَلۡسِنَتُكُمُ ٱلۡكَذِبَ هَٰذَا حَلَٰلٞ وَهَٰذَا حَرَامٞ لِّتَفۡتَرُواْ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَفۡتَرُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَ لَا يُفۡلِحُونَ ١١٦﴾ ای خلکو! او تاسې د خپلو ژ بو دروغژنو و يناوو ته داسې مه وايي چې دا حلال دي او دا حرام، ترڅو الله پسې د دروغو حکمونه وترې، او يقينا هغه کسان چې الله پسې تور پورې کوي نه ښـادېږي!

{الله خپل نعمتونه د شکر و یستلو په مقصد پیدا کړي دي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی خپل خواره واره نعمتونه یاد کړي دي، ترڅو یې مونږ شکر و باسو، او په بیان کې یې فرمایلي دي:

﴿* وَهُوَ ٱلَّذِىٓ أَنشَأَ جَنَّٰتٍ مَّعۡرُوشَٰتٍ وَغَيۡرَ مَعۡرُوشَٰتٍ وَٱلنَّخۡلَ وَٱلزَّرۡعَ مُخۡتَلِفًا أُكُلُهُۥ وَٱلزَّيۡتُونَ وَٱلرُّمَّانَ مُتَشَٰبِهًا وَغَيۡرَ مُتَشَٰبِهٍۚ كُلُواْ مِن ثَمَرِهِۦٓ إِذَآ أَثۡمَرَ وَءَاتُواْ حَقَّهُۥ يَوۡمَ حَصَادِهِۦۖ وَلَا تُسۡرِفُوٓاْۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلۡمُسۡرِفِينَ ١٤١ وَمِنَ ٱلۡأَنۡعَٰمِ حَمُولَةً وَفَرۡشٗاۚ كُلُواْ مِمَّا رَزَقَكُمُ ٱللَّهُ وَلَا تَتَّبِعُواْ خُطُوَٰتِ ٱلشَّيۡطَٰنِۚ إِنَّهُۥ لَكُمۡ عَدُوّٞ مُّبِينٞ ١٤٢ ثَمَٰنِيَةَ أَزۡوَٰجٖۖ مِّنَ ٱلضَّأۡنِ ٱثۡنَيۡنِ وَمِنَ ٱلۡمَعۡزِ ٱثۡنَيۡنِۗ قُلۡ ءَآلذَّكَرَيۡنِ حَرَّمَ أَمِ ٱلۡأُنثَيَيۡنِ أَمَّا ٱشۡتَمَلَتۡ عَلَيۡهِ أَرۡحَامُ ٱلۡأُنثَيَيۡنِۖ نَبِّـُٔونِي بِعِلۡمٍ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ١٤٣ وَمِنَ ٱلۡإِبِلِ ٱثۡنَيۡنِ وَمِنَ ٱلۡبَقَرِ ٱثۡنَيۡنِۗ قُلۡ ءَآلذَّكَرَيۡنِ حَرَّمَ أَمِ ٱلۡأُنثَيَيۡنِ أَمَّا ٱشۡتَمَلَتۡ عَلَيۡهِ أَرۡحَامُ ٱلۡأُنثَيَيۡنِۖ أَمۡ كُنتُمۡ شُهَدَآءَ إِذۡ وَصَّىٰكُمُ ٱللَّهُ بِهَٰذَاۚ فَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّنِ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبٗا لِّيُضِلَّ ٱلنَّاسَ بِغَيۡرِ عِلۡمٍۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ١٤٤﴾

[١٤١] هو! الله هغه څوک دئ چې [تاسې ته یې ای خلکو!] پر ځمکه ولاړ او پراته باغونه پیدا کړي دي [لکه د انګورو ډول ډول باغونه] او د خرما او کجورو ونې، او د ډول ډول خوندونو کښتونه، او د زیتون او د انارو ونې چې پاڼې یې یوه بلې ته ورته دي، خو میوې یې د یوې ونې بلې غوندې ندي، او هغه ټول تاسې ته ای خلکو! الله راشنه کړي دي، نو د دغو باغونو میوې چې کله پخې سي وخورئ، او د یې وزرو محتاجو کسانو حق (زکات) د راغونډولو په ورځ ورکړئ، او په خوړو کې یې اسراف مکړئ، ځکه یقینا چې اسراف کونکي کسان الله نه خوښوي، یعنی د اعتدال نه

چې منځنۍ حد دئ مه وئ، او ښايي هرڅوک د خپلې اړتيا په اندازه خواړه وخوري او د اسراف نه ځان وساتي، ځکه مسرفان د شيطان وروڼه دي.

[۱٤۲] او ای خلکو! د ځارو يو نه تاسې ته الله ځينې بار وړونکي او د وړ يو نه يې درته د غوړولو [نيمځي او د ټغرونو يا ګلمنو نعمتونه] پيدا کړي دي، نو د الله د دغې روزي نه چې هغه يې تاسې ته درکړې ده؛ خپله برخه واخلئ او وې خورئ، او د شيطان په پله پل مږدئ او ور پسې مځئ [يعنی د شيطان په وسوسو د الله حلاله روزي پر خپلو ځانو مه حراموئ، لکه څنګه چې د مکې مشرکانو پر خپلو ځانو د الله حلال نعمتونه حرام کړل] ځکه يقينا چې شيطان د ستاسې ښکاره دښمن دئ، يعنی غواړي چې تاسې تل ز يانمن کړي او د سمې لارې نه مو ورک کړي.

[۱٤۳] او دغه ځاروي چې الله خپلو بنده ګانو ته روزي کړي دي اته جوړې دي، د ميږو نه دوه دي، او د وزو نه هم دوه دي [يعنی نر او ښځه] نو ای پيغمبره! د مشرکانو نه[و پوښته او ورته] ووايه چې د دغو ميږو او وزو نه يې نران حرام دي او که ښځې؟ او يا آيا هغه حرام دي چې د ښځو ځار يو په نسونو کې دي؟ نو که تاسې ای کافرانو! ر ښتيا وايي نو ماته په پوهه او علم سره دليل راوړئ؟ يعنی دا چې د ستاسې خبرې په حلالو او حرامو کې غلطي دي او هغه الله پسې دروغژن تور تړل دي، نو هيڅ اعتبار نه لري، او ښايي ورځخه لاس واخلئ.

[۱٤٤] او د اوښانو نه هم دوه دوه دي، او د غوايانو نه هم دوه دوه دي [يعنی نر او ښځه، نو ټول حلال ځاروي اته سول، نو ای پيغمبره! دغو مشرکانو ته چې ځينې ځاروي دوی پر خپلو ځانو باندې حرام کړي دي ووايه:] آيا نران يې الله حرم کړي دي او که ښځې؟ او يا هغه چې د بلارښو [اوښو او غواوو] په نسونو کې دي؟ او ای مشرکانو! کله چې تاسې ته الله د دغو ځارو يو د حراميدو وصيت او سپارښت وکه، نو آيا تاسې هلته حاضر وئ؟ نو څوک د هغه چانه ډير ظالم او تيرئ کونکئ دئ؟ چې دئ الله پسې دروغ وايي او د حلالو او حرامو په باره کې ور پسې تور تپي او افترا کړي، ترڅو خلک په بې علمي سره بې لارې او ورک کړي [يعنی ترڅو

دوی وغولوي] او یقینا چې تیرئ کونکئ ظالم قوم الله سـمې لارې ته چې هغه د حق لار ده؛ نه سـموي، یعنی هغه ته پر سـمه لار د تګ توفیق نه ورکوي، ترڅو ښاد او نیکمرغه سي، ځکه هغه یې لائق ندئ.

قدرمنو دوسـتانو! د پورتني سـوال چې انکاري سـوال او غند نه ده؛ ځواب دا دئ چې هو! یقینا بل هیڅ څوک د دې دروغژن مفتري قوم نه چې الله پسې یې په دروغو د حلالو څار یو نه ځینې څار یو باندې د حرامولو حکم کړئ دئ؛ بل لوی ظالم او تیرئ کونکئ قوم نسته! یعنی دغو کسانو پر خپلو ځانو چې الله پسې یې دروغ و یلي دي؛ لوی ظلم کړئ دئ!

{د خوګ او پر خپل مرګ مړه سوي څاروي غوښه حرامه ده}

او په ور پسې مبارك آیت کې د حرامو غوښو بیان کې الله فرمایلي دي:

﴿ قُل لَّآ أَجِدُ فِي مَآ أُوحِيَ إِلَيَّ مُحَرَّمًا عَلَىٰ طَاعِمٍ يَطۡعَمُهُۥٓ إِلَّآ أَن يَكُونَ مَيۡتَةً أَوۡ دَمٗا مَّسۡفُوحًا أَوۡ لَحۡمَ خِنزِيرٖ فَإِنَّهُۥ رِجۡسٌ أَوۡ فِسۡقًا أُهِلَّ لِغَيۡرِ ٱللَّهِ بِهِۦۚ فَمَنِ ٱضۡطُرَّ غَيۡرَ بَاغٖ وَلَا عَادٖ فَإِنَّ رَبَّكَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ١٤٥ ﴾

[١٤٥] ای پیغمبره! [د کافرانو دروغژنو مفترینو ته] ووایه: په هغو آیتونو کې چې هغه ماته وحیه سـوي دي؛ زه هیڅ څه شـئ نه و ینم چې خوړل یې پر کم خوړونکي باندې حرام وي، مګر دا چې هغه څاروئ خپله مړ وي [یعنی حلال سـوئ نوي، او یا د شا رګونو نه راوتلې] روانه و ینه وي چې هغه د حلالیدو په وخت کې د څاروي د شارګونو نه راوځي او بهیږي، او یا د خوګ (خنزیر)غوښـه وي، او دغسـې غوښې ټولې چټلې دي او خوړل یې حرام دي، او یا دا چې کم څاروئ د الله اطاعت نه په وتلو سـره بل چا لپاره حلال سي [یعنی د الله نه پرته بل چا په نامه ذبح سـوئ وي] خو که بیا هم څوک دغو حرامو غوښو خوړلو ته په ډیره ولږه کې اړ سه، نو هغه ته روا ده [چې دغه مرداره غوښـه] وخوري، خو تیرئ به پکې نکړي [یعنی ډیره به نه خوري او ښایي چې د خوړلو نه یې مقصد یوازې خوند اخستل نه وي] ای پیغمبره! نو یقینا چې د ستا پالونکئ څښتن الله لوی بښونکئ او

ښـــه مهر بان ذات دئ، یعنی په خپلو حکمونو کې یې د خلکو ځانکړې اړتیاوې په پام کې نیولې دي او هغو ته یې ځانګړي حکمونه ورکړي دي، لکه دغه د سختې لوړې په وخت کې د حرامو غوښو خوړلو روا کیدل.

{نوک لرونکو څارویو غوښه او د تولو څارویو وازده پر یهودو حرامه ده}

او په ور پســې مبارکو آیتونو کې الله تعالی پر یهودو باندې د ځینې څارویو غوښه او د ځینو وازده حرامه اعلان کړې ده، او فرمایلي دي:

﴿وَعَلَى ٱلَّذِينَ هَادُواْ حَرَّمۡنَا كُلَّ ذِي ظُفُرٖۖ وَمِنَ ٱلۡبَقَرِ وَٱلۡغَنَمِ حَرَّمۡنَا عَلَيۡهِمۡ شُحُومَهُمَآ إِلَّا مَا حَمَلَتۡ ظُهُورُهُمَآ أَوِ ٱلۡحَوَايَآ أَوۡ مَا ٱخۡتَلَطَ بِعَظۡمٖۚ ذَٰلِكَ جَزَيۡنَٰهُم بِبَغۡيِهِمۡۖ وَإِنَّا لَصَٰدِقُونَ ١٤٦ فَإِن كَذَّبُوكَ فَقُل رَّبُّكُمۡ ذُو رَحۡمَةٖ وَٰسِعَةٖ وَلَا يُرَدُّ بَأۡسُهُۥ عَنِ ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡمُجۡرِمِينَ ١٤٧﴾

[١٤٦] او هغه کســان چې یهودان ســول پر دوی مونږ ټول نوک والا څاروي [یعنی هغه څاروي چې نوک یې په منځ کې نه یي ســره بیل ســوئ] حرام کړل، او د غو یو او پسونو وازدې هم مونږ پر دوی حرامې کړې، خو د دغو څارو یو پر شـاوو پرتې وازدې او د نسـونو وازدې او هغه وازدې چې د اډوکو سره نښتې وي؛ هغه ټولې دوی ته حلالې دي، او د دغسې څارو یو غوښــو په حرامولو ســره مونږ یهودو ته د دوی د تیریو او ظلمونو ســزا ورکړه، او یقینا چې مونږ د ر یښــتیا و یونکو نه یو، یعنی دا پر یکړې او حکمونه ټول ر یښتیا دي او هیڅ شك پکې نسته، او لوی حکمتونه او ګټې پکې نغښتې دي.

[١٤٧] ای پیغمبره! نو که ته بیا دغو مشــرکانو او یهودو؛ دروغژن و بللې، نو بیا دوی ته ووایه چې د ســتاســې پالونکئ خدای الله د ډیر لوی رحمت څښــتن دئ، خو د الله ســزا مخنیوئ د مجرم قوم نه نکیږي! یعنی

هيڅ څوک د مجرمانو نه د الله سزا لرې کولای نسي، او دغو مجرمانو ته به چې دوی د الله پر مقام باندې په حلالو او حرامو کې تیرئ کړئ دئ؛ خاماخا سزا ورکول کیږي، او یقینا چې دغسې بیان د رسول اللهﷺ ټولو مخالفینو ته تل پاتې ګوابښ دئ.

درنډو عز یزانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې د خپلو خورو ورو نعمتونو نه چې خوړې میوې او خوړې ښې حلالې غوښې دي او هغه یې خپلو بنده ګانو ته ورکړي دي؛ یادونه کړې ده او دوی یې دغو پیرزو ینو شکر و یستلو ته رابللي دي او د کفران نه یې کلک ګوابښلي دي، او هم په دغو مبارکو آیتونو کې د مشرکانو دروغژن تورونه الله تعالی پسې د ځیني ځارو یو د حرامولو په باره کې الله په ډیر کلک او په پاخه استدلال سره رد کړي دي، او بیا الله تعالی د حرامو خوړو او د حرامو غوښو بیان کړئ دئ، او کافران یې په کلکه سزا باندې ګوابښلي دي، ځکه دوی د الله پرمقام باندې د حلالو او حرامو حکمونو په باره کې چې هغه یوازې د الله حق دئ؛ تیرئ کړئ دئ، او بیا الله تعالی کلک ټینګار کړئ دئ چې هیڅ څوک دغه سزا د کافرانو نه لرې کولای نسي.

{د مکې کافرانو به د خپل کفر او شرک ملامتي پر الله اچوله}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې مونږ الله تعالی د مکې کافرانو د دروغژنو ګیلو او بیا د الله تعالی پر یکنده ځوابونو نه خبر کړي یو، او په بیان کې فرمایلي دي:

﴿سَيَقُولُ ٱلَّذِينَ أَشۡرَكُواْ لَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ مَآ أَشۡرَكۡنَا وَلَآ ءَابَآؤُنَا وَلَا حَرَّمۡنَا مِن شَيۡءٖۚ كَذَٰلِكَ كَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ حَتَّىٰ ذَاقُواْ بَأۡسَنَاۗ قُلۡ هَلۡ عِندَكُم مِّنۡ عِلۡمٖ فَتُخۡرِجُوهُ لَنَآۖ إِن تَتَّبِعُونَ إِلَّا ٱلظَّنَّ وَإِنۡ أَنتُمۡ إِلَّا تَخۡرُصُونَ ١٤٨ قُلۡ فَلِلَّهِ ٱلۡحُجَّةُ ٱلۡبَٰلِغَةُۖ فَلَوۡ شَآءَ لَهَدَىٰكُمۡ أَجۡمَعِينَ ١٤٩ قُلۡ هَلُمَّ شُهَدَآءَكُمُ ٱلَّذِينَ يَشۡهَدُونَ أَنَّ ٱللَّهَ حَرَّمَ هَٰذَاۖ

فَإِن شَهِدُواْ فَلَا تَشۡهَدۡ مَعَهُمۡۚ وَلَا تَتَّبِعۡ أَهۡوَآءَ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِ وَهُم بِرَبِّهِمۡ يَعۡدِلُونَ ١٥٠

[١٤٨] هو! هغه کسان چې مشرکان سول دوی به وايي: که الله غوښتي وای، نو مونږ او د زمونږ پلرونه به نوه مشرکان سوي او نه به هیڅ څه او هیڅ شئ مونږ حرام بللي ول [یعنی دا چې دا ټول د الله په پر یکړه او خوښه سوي دي، نو په ځواب کې الله تعالی فرمایلي دي:] هو! دغسې دروغ د دوی نه پخوا کافرانو هم وو یل [یعنی د الله تعالی پیغمبران او د کتابونو آیتونه یې تکذیب کړل او ورڅخه منکر سول] ترڅو چې یې بیا زمونږ سزا وڅکله، نو ته ای پیغمبره! دوی ته ووایه: آیا ستاسې سره [د دغسې دعوا او د خپل شرك په باره کې او دا چې تاسې ځینې ځاروي پر خپلو ځانو باندې حرام کړل] کم علم، حجت او دلیل سته؟ چې هغه مونږ ته را و باسئ او راښکاره یې کړئ؟ [یعنی دا چې ای کافرانو! د دې خبرې دلیل را ته ووایي چې آیا د ستاسې کفر د الله خوښه او پر یکړه وه؟ نا ! خبره هیڅ کله داسې نده، لکه څنګه چې] تاسې ای کافرانو! د دین په چارو کې خپلو خوښو او انګیرنو پسې ځئ او دروغ وایي، یعنی د مکې کافرانو دغسې ګیلې ټولې د دوی خپلې بې بنسټه خبرې وې او هیڅ کم دلیل او حجت یې نه درلود، ترڅو د دوی خبرې ثابتې کړي.

[١٤٩] ای پیغمبره! [کافرانو ته] ووایه: نو یقینا چې قاطع دلیل او حجت د الله سره دئ [نو که تاسې د الله په پټ علم او پوهه کې د هدایت لائق وای] نو بیا به تاسې ټول الله هدایت کړي وی، یعنی د ستاسې کفر او شرك د ستاسې خپلو بدو مقصدونو او بدو کړنو پایله او ز یګنده ده.

[١٥٠] او ای پیغمبره! [دغو مشرکانو ته] ووایه: ژر کړئ خپل شاهدان راوړئ، او هغه کسان چې شاهدي وایي دوی ده ووایي چې یقینا دغه شیان [چې هغه تاسې پر خپلو ځانو حرام کړي دي] هغه الله حرام کړي دي، نو که دوی شاهدي وو یله، نو بیا ته ای پیغمبره! د دوی سره شاهدي مه وایه [یعنی د دغو کافرانو ملګرئ نسې او باور ور باندې ونکړي] او دغو

کسانو پسې لاړ نسې، ځکه دوی د زمونږ آیتونه دروغ وګڼل، او دا کسان د آخرت پر ورځ ایمان نه لري، او بتان د خپل رب الله سره برابروي، یعنی د الله سره یوځای د بتانو عبادت کړي، نو یقینا چې دوی ټول مشرکان دي.

{د حرامو په بیان کې د الله پر یکنده حکمونه او سپارښتنې}

قدرمنو دوستانو! او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د حرامو کړنو بیان کړئ دئ او بیا یې د یتیمانو حقوقو په ساتنه باندې کلک ټینګار او پر خپله سمه تګ لاره باندې سپارښت کړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿*قُلْ تَعَالَوْاْ أَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْ أَلَّا تُشْرِكُواْ بِهِۦ شَيْـًٔا وَبِٱلْوَٰلِدَيْنِ إِحْسَٰنًا وَلَا تَقْتُلُوٓاْ أَوْلَٰدَكُم مِّنْ إِمْلَٰقٍ نَّحْنُ نَرْزُقُكُمْ وَإِيَّاهُمْ وَلَا تَقْرَبُواْ ٱلْفَوَٰحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَلَا تَقْتُلُواْ ٱلنَّفْسَ ٱلَّتِى حَرَّمَ ٱللَّهُ إِلَّا بِٱلْحَقِّ ذَٰلِكُمْ وَصَّىٰكُم بِهِۦ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿١٥١﴾ وَلَا تَقْرَبُواْ مَالَ ٱلْيَتِيمِ إِلَّا بِٱلَّتِى هِىَ أَحْسَنُ حَتَّىٰ يَبْلُغَ أَشُدَّهُۥ وَأَوْفُواْ ٱلْكَيْلَ وَٱلْمِيزَانَ بِٱلْقِسْطِ لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا وَإِذَا قُلْتُمْ فَٱعْدِلُواْ وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبَىٰ وَبِعَهْدِ ٱللَّهِ أَوْفُواْ ذَٰلِكُمْ وَصَّىٰكُم بِهِۦ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ﴿١٥٢﴾ وَأَنَّ هَٰذَا صِرَٰطِى مُسْتَقِيمًا فَٱتَّبِعُوهُ وَلَا تَتَّبِعُواْ ٱلسُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَن سَبِيلِهِۦ ذَٰلِكُمْ وَصَّىٰكُم بِهِۦ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿١٥٣﴾﴾

[۱۵۱] ای پیغمبره! [او ته دغو مشرکانو ته] ووایه: راسی هغه څه چې د ستاسې پالونکي څښتن الله پر تاسې حرام کړي دي؛ هغه درته ولولم او هغه دا چې: هیڅ څه او هیڅ څوک د الله سره په عبادت او بنده ګۍ کې ګډ شر یك نکړئ، او مور او پلار سره ښه وکړئ [یعنی ښه خدمت او ښه پالنه یې وکړئ] او خپل بچیان (زامن او لونه) د ولږې و یرې نه مه وژنئ،

ځکه مونږ تاسې او دوی ته روزي درکوو، او د بدو کړنو او فحشا ته په نښکاره او په پټه سره مه ورنزدې کیږئ، او هر هغه څوک چې وژل یې الله حرام کړي دي؛ هغه ناحقه مه وژنئ، یعنی د خلکو ناحقه وژل حرام دي، او سزا یې په دنیا کې قصاص او په آخرت کې تل پاتې لوی عذاب دئ چې د دوزخ په اور کې به کړ یږي او د الله تعالی لعنت به پرې اور یږي.

ګرانو دوستانو! هغه کسان چې وژل یې په حق سره روا دي؛ هغه یوازي درې کسان دي: یو د قاتل قصاصول، او بل د میړونښې زنا کونکې نښځې او د وا ده څښتن نار ینه زاني رجمول، او بل چې څوک مرتد سي او بیا تو به ونه باسي او پر خپل کفر ټینګار وکړي، او د دغو ټولو شرعي حکمونو نافذونکئ واکمن یوازې دولت یا حکومت دئ.

او بیا الله تعالی فرمایلي دي: او د دغو شیانو پر تحر یم الله حکم کړئ دئ، ترڅو تاسې ای خلکو! پوه سئ او عقلونه مو سر ته راسي، او حرام او حلال چې د الله حکمونه دي ښه و پیژنئ او ځانونه پوه کړئ.

او بیا په ور پسې مبارکو آیتونو کې مومنانو ته الله تعالی د ټولنیز ژوند په چارو کې ډیرې ځلانده لارښودنې او حکمونه کړي دي، او فرمایلي دي:

[۱۵۲] ای مومنانو! او د یتیم مال ته ورنزدې نسئ، مګر په ښو کړنو سره، ترڅو یتیم هوښارئ عمر ته ورسیږي [یعنی بیا چې کله یتیم بالغ او هوښیار سه، نو د هغه مال او دولت چې هغه د ستاسې سره امانت دئ؛ ورته وسپارئ] او ای مومنانو! تله او پیمانه په انصاف سره پوره کړئ، او هیڅ څوک مونږ د هغه وسعې نه ډیر پر یوه کار باندې نه ګمارو او نې پرې مکلفوو، او ای مومنانو! کله چې تاسې خبرې کړئ [یعنی د خلکو په منځ کې حکم کړئ] نو پر عدالت او انصاف سره وغږ یږئ، که څه هم یوه خوا د ستاسې خپلوان ول، او د الله سره پر خپلو هوډونو او هوکړو باندې وفاء وکړئ، او دا د الله هغه حکمونه دي چې تاسې ته یې ای مومنانو! پرې سپارښت کړئ دئ، ترڅو د ستاسې را په یاد سي او ورڅخه ګټه واخلئ.

[١٥٣] ای مومنانو! او یقینا چې دا د زما سمه لار ده [او تاسې ته پر هغه لار د تګ امر سوئ دئ] نو پر هغه لار سی او نورو لارو پسې مځی، ځکه هغه تاسې د الله لارې نه بیلوي، او ای مومنانو! همدا سمه لار ده، او الله تاسې ته پر هغه لار د تګ سپارښت کړئ دئ، ترڅو تاسې متقیان سی، یعنی خپل ځانونه د الله سزا نه په اطاعت سره وساتی، او د قیامت پر ورځ د الله پر وړاندې سپین مخي او سرلوړي ودر یږی.

{تورات یهودو ته لارښود وه او قرآن الله مبارك را نازل کړئ دئ}

قدرمنو دوستانو! او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی لمړئ پر موسی علیه السلام باندې د را نازل سوي کتاب (تورات) ستاینه کړي ده او بیا یې قرآن کر یم چې پر خاتم النبین والمرسلین محمد صلی الله علیه وسلم باندې یې را نازل کړئ ده ستایلئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿ثُمَّ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَٰبَ تَمَامًا عَلَى ٱلَّذِىٓ أَحْسَنَ وَتَفْصِيلًا لِّكُلِّ شَىْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً لَّعَلَّهُم بِلِقَآءِ رَبِّهِمْ يُؤْمِنُونَ ﴿١٥٤﴾ وَهَٰذَا كِتَٰبٌ أَنزَلْنَٰهُ مُبَارَكٌ فَٱتَّبِعُوهُ وَٱتَّقُوا۟ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿١٥٥﴾ أَن تَقُولُوٓا۟ إِنَّمَآ أُنزِلَ ٱلْكِتَٰبُ عَلَىٰ طَآئِفَتَيْنِ مِن قَبْلِنَا وَإِن كُنَّا عَن دِرَاسَتِهِمْ لَغَٰفِلِينَ ﴿١٥٦﴾ أَوْ تَقُولُوا۟ لَوْ أَنَّآ أُنزِلَ عَلَيْنَا ٱلْكِتَٰبُ لَكُنَّآ أَهْدَىٰ مِنْهُمْ ۚ فَقَدْ جَآءَكُم بَيِّنَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ ۚ فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن كَذَّبَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَصَدَفَ عَنْهَا ۗ سَنَجْزِى ٱلَّذِينَ يَصْدِفُونَ عَنْ ءَايَٰتِنَا سُوٓءَ ٱلْعَذَابِ بِمَا كَانُوا۟ يَصْدِفُونَ ﴿١٥٧﴾ هَلْ يَنظُرُونَ إِلَّآ أَن تَأْتِيَهُمُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ أَوْ يَأْتِىَ رَبُّكَ أَوْ يَأْتِىَ بَعْضُ ءَايَٰتِ رَبِّكَ ۗ يَوْمَ يَأْتِى بَعْضُ ءَايَٰتِ رَبِّكَ لَا يَنفَعُ نَفْسًا إِيمَٰنُهَا لَمْ تَكُنْ ءَامَنَتْ مِن قَبْلُ أَوْ كَسَبَتْ فِىٓ إِيمَٰنِهَا خَيْرًا ۗ قُلِ ٱنتَظِرُوٓا۟ إِنَّا مُنتَظِرُونَ ﴿١٥٨﴾﴾

[١٥٤] او بيا موسى ته مونږ خپل کتاب (تورات) ورکه، ترڅو سې لارې ته د لارښودنې خپل نعمتونه او پيرزو يې د موسى قوم نه پر هغو کسانو پوره کړو چې دوی ښه وکړل او پر سمه لار وخوځيدل، او هرڅه يهودو ته تورات بيان کړل، او تورات دوی ته لارښود او رحمت وه، ترڅو دوی د قيامت په ورځ خپل پالونکي رب سره پر يوځای کيدو باندې ايمان را وړي او هغه ومني، يعنی دا ځکه چې د قيامت په ورځ ټول خلک بيرته را ژوندې کيږي، او بيا د الله پر وړاندې حساب ورکولو ته درول کيږي.

[١٥٥] ای خلکو! او دا کتاب (قرآن) چې هغه مونږ [پر خپل پيغمبر محمدﷺ باندې را نازل کړئ دئ او پکې ډير خير دئ] يو مبارك پيغام دئ، نو هغه تاسې ومنئ [او ور پسې لاړ سئ او عمل پرې وکړئ] او د الله سزا نه خپل ځانونه [په ايمان رواړو او ښه عمل سره] وساتئ، ترڅو پر تاسې رحمت وورې، يعنی الله پر تاسې ای خلکو! مهر بان سي او تاسې د عذاب نه نجات بيامومئ او جنتيان سئ.

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د مکې کافرانو هغه نيوکې ځواب کړې دي چې دوی به د قرآن رانازليدلو نه وړاندې کړې او و يل يې: که پر مونږ باندې کتاب را نازل سوئ وای، نو مونږ به د پخوانيو اهل کتابو نه ښه سم وو او پر خپل کتاب به کلک ولاړ وو، او فرمايلي دي:

[١٥٦] ای خلکو! [او دا کتاب (قرآن) مونږ لدې لپاره را نازل که چې بيا تاسې ونه وايي چې] د اسمان نه را نازل سوي کتابونه زمونږ نه پخوا؛ يوازې پر هغو دوه ډلو باندې [يعنی پر يهودو او نصاراوو باندې] را نازل سوي دي، او مونږ د هغو لوستلو نه خبر نوو، يعنی پرې نه پوهيدلو.

[١٥٧] او يا دا چې تاسې ای خلکو! ووايي: که يقينا پر مونږ کتاب رانازل سوئ وای، نو مونږ به د يهودو او نصاراوو نه لا ډير ښه سمې لارې ته هدايت سوي وو [يعنی پر حق به ټينګ ولاړ وو] نو يقينا چې د ستاسې پالونکي څښتن الله لخوا تاسې ته [دا کتاب قرآن] حجت او دليل راغئ او هغه لارښود او رحمت دئ [او ای خلکو! دا کتاب تاسې حق ته چې د الله

بنده کې او توحيدي عبادت دئ را بولي] نو بيا څوک د هغه چانه ډير ظالم دئ چې د الله کتاب آيتونه يې دروغ و بلل او مخ يې ورڅخه واړا ؤ؟ [يعنى هيڅ څوک د هغه نه ډير د الله پر حکم باندې تيرئ کونکئ ندئ] او هغه کسان چې د زمونږ آيتونو او دليلونو نه مخ اړوي او هغه نه مني؛ دوی ته به د دوي د مخ اړونې په سزا کې کلک عذاب ورکړو!

[١٥٨] [او آيا دغه کسان چې کافران سول او د الله آيتونو او معجزو نه يې دوی ته په را نازل سوي کتاب (قرآن) کې مخونه واړول] آيا دوی انتظار باسي چې ملائکې يا فرښتې به ورته راسي؟ او يا به د ستا رب ای پيغمبره! خپله ورته راسي؟ او يا دا چې د ستا پالونکي څښتن ځيني لويې نښې او معجزې به ورته راسي؟ هو؛ ای پيغمبره! په کمه ورځ چې د ستا رب الله ځيني لويې نښې راسي [يعنى د قيامت ورځې نښې راسي] نو بيا په هغه ورځ نور هغو کسانو ته چې مخکې يې ايمان ندئ راوړلئ، نو اوس دوی ته ايمان راوړل هيڅ ګټه نه رسوي، او هم هغه چاچې ايمان راوړئ وي، خو په ايمان کې يې ښه کار نه يې کړئ، نو ايمان يې ورته ګټه نه رسوي، نو ای پيغمبره! دغو کافرانو ته ووايه: اوس نو د دغو نښو راتګ ته انتظار و باسئ او ورته ټينګ سئ او مونږ هم يقينا ورته منتظر يو، يعنى دا چې ترڅو روښانه او سپينه سي چې څوک پر حق ول او څوک پر باطل؟ او بيا به په هغه ورځ د الله عدالت په ډګر کې هرچاته د هغه ثواب او سزا ورکړل سي او مومنان به ښاد سي او کافران به مخټورن او سرکوزي سي.

قدرمنو دوستانو! د تفسير علماوو روايت کړئ دئ چې دلته د ملائکو راتګ نه مقصد هغه ملائکې دي چې د الله تعالى په حکم د خلکو نه ساه اخلي او مړه کوي يې، او د الله راتګ نه مراد او مقصد د قيامت ورځ ده چې پکې ټول مړي بيرته راژوندي کيږي او حساب ورکولو ته د الله په حضور کې راغونډيږي، او د الله تعالى ځيني لو يو نښو راتګ نه مقصد د قيامت ورځې راتګ لويې نښې دي، لکه دا چې د لمر سترګه به د لو يديځ يا غرب لخوا نه راوخيځي، نو بيا الله تعالى فرمايلي دي: کله چې د کافرانو د انتظار دغه غوښتنې را سي او دوی هغه په سترګو ښکاره وو يي، نو نور

ایمان راوړل کټه نه لري، او دغسې ورځې ته انتظار و یستل بې ارزښته انتظار دئ.

{رسول الله ﷺ د هغو کسانو نه بیزاره دئ چې دین یې ټوټه کړه}

ګرانو دوستانو! او په ور پسې میارکو آیتونو کې الله تعالی د خلکو ټوټه کیدل او د خپل دین نه چې هغه په یو والي سره د الله بنده کې وه؛ بلې هرې خوا ته اوښتل؛ کلک غندلي دي او رسول الله ﷺ ته یې ډاډ او اطمئنان ورکړئ دئ چې دئ د دغسې مشرکو ډلو نه ندئ، او د ابراهیم علیه السلام په توحیدي لار کلک ولاړ او پرې روان دئ، او فرمایلي دي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ فَرَّقُواْ دِينَهُمۡ وَكَانُواْ شِيَعٗا لَّسۡتَ مِنۡهُمۡ فِي شَيۡءٍۚ إِنَّمَآ أَمۡرُهُمۡ إِلَى ٱللَّهِ ثُمَّ يُنَبِّئُهُم بِمَا كَانُواْ يَفۡعَلُونَ ١٥٩ مَن جَآءَ بِٱلۡحَسَنَةِ فَلَهُۥ عَشۡرُ أَمۡثَالِهَاۖ وَمَن جَآءَ بِٱلسَّيِّئَةِ فَلَا يُجۡزَىٰٓ إِلَّا مِثۡلَهَا وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ ١٦٠ قُلۡ إِنَّنِي هَدَىٰنِي رَبِّيٓ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ دِينٗا قِيَمٗا مِّلَّةَ إِبۡرَٰهِيمَ حَنِيفٗاۚ وَمَا كَانَ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ١٦١ قُلۡ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحۡيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ١٦٢ لَا شَرِيكَ لَهُۥۖ وَبِذَٰلِكَ أُمِرۡتُ وَأَنَا۠ أَوَّلُ ٱلۡمُسۡلِمِينَ ١٦٣ قُلۡ أَغَيۡرَ ٱللَّهِ أَبۡغِي رَبّٗا وَهُوَ رَبُّ كُلِّ شَيۡءٖۚ وَلَا تَكۡسِبُ كُلُّ نَفۡسٍ إِلَّا عَلَيۡهَاۚ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٞ وِزۡرَ أُخۡرَىٰۚ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُم مَّرۡجِعُكُمۡ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ فِيهِ تَخۡتَلِفُونَ ١٦٤﴾

[۱۵۹] هو! یقینا هغو کسانو چې خپل دین بیل بیل که او سره ډله ډله سول [حال دا چې مخکې دوی ټول د الله تعالی توحید باندې په عبادت کې سره را غونډ ول، خو بیا ټولئ ټولئ سول] نو ته ای پیغمبره! د دوی سره په هیڅ څه کې ګډ نه یې، او یقینا چې د دوی په باره کې به الله پر یکړه او حکم وکړي، او بیا به دوی د خپلو کړنو نه خبر کړي [نو چاچې

ښه کړي ول ثواب به ورکوي او چاچې بد کړي ول خپله سزا به ګالي، یعنی پیغمبرﷺ خپل رسالت سر ته رسولئ دئ، او د کافرانو کار نور د الله سره دئ.

قدرمنو دوستانو! الله تعالی پدې مبارك آیت کې د مومنانو په منځ کې اختلاف او د یو بل نه سره بېلیدل؛ کلک غندلي دي او رسول اللهﷺ ته یې ډاډ او تسلیت ورکړئ دئ چې دئ د هغوی سره مل او ملګرئ ندئ، او دا ډاډ ټولو دعاتو ته تل پاتې ډاډ دئ او دوی ده هیڅ کله هم د خپل قوم او امت په ورکتیا سره د حق سمې لارې نه خپل ځانونه نه خفه کوي او خپل ګمراه قوم ده په الله باندې وسپاري، ځکه الله تعالی هرچاته د هغه لائق ثواب او سزا ورکوي.

[١٦٠] او هرڅوک چې د قیامت په ورځ د یوې نیکۍ او د ښه کار سره راغئ، نو ثواب یې لس برابره دئ، او څوک چې په بدو کړنو سره راغئ، نو سزا یې د بدۍ سره برابره ده، او پر دوی باندې په هغه ورځ ظلم نکیږي.

[١٦١] او ته ای پیغمبره! [خلکو ته اعلان وکه] او ورته ووایه: یقینا چې زه خپل پالونکي رب الله سمې لارې ته هدایت کړئ یم [او هغه سم سمپالونکئ د الله حق دین اسلام دئ چې د خلکو دنیایي او آخروي چارې ښې سمبالوي او ورته لارښود دئ] او دا دین د ابراهیم هغه لارښود ملت او سم دین دئ [چې ابراهیم علیه السلام یې د بتانو عبادت نه د الله عبادت ته په توحید او یو والي سره را واړا وه او پر سمه لار یې چې د حق لار ده وخوځا وه] او ابراهیم د مشرکانو نه نه وه.

هو! الله تعالی مونږ ته په دغو مبارکو آیتونو کې د حق او باطل په منځ کې د هغو اوږدو مناظرو او بحثونو انځور وړاندې کړئ دئ چې رسول اللهﷺ د خپل قوم کافرانو سره کړل.

او بیا الله تعالی مونږ ته په ور پسې مبارکو آیتونو کې د رسول اللهﷺ پر یکنده در یځ د کافرانو پر وړاندې اعلان کړئ دئ، او فرمایلي دي:

[١٦٢] او ای پیغمبره! [دغو کینه کښو کافرانو ته اعلان وکه او ورته]

ووايه: يقينا چې د زما لمونځ او قر باني (د و يني تو يول) او د زما ټول ژوند او مرګ د الله لپاره دئ، او الله د ټول عالم پالونکئ څښتن دئ، يعنى اى كافرانو! زه ستاسې غوندې بتان د الله سره پر خپل عبادت كې نه ګډوم، ځكه زه موحد يم، نو يوازې د الله بنده كې او عبادت په اخلاص سره كړم او هيڅ څوک ورسره نه شر يكوم.

[١٦٣] او الله [په خپل الوهيت او ر بو بيت كې هيڅ څوک] شر يك نه لري [او نه بل څوک د الله سره د هغه په شو صفتونو او په لوړو نومونو كې شر يك دي] او پر دې توحيدي عقيده باندې ما ته حكم سوئ دئ او زه پدې قوم كې لمړنئ مسلمان يم چې د الله حكم ته ما غاړه ايښې ده او ورته تسليم سوئ يم.

[١٦٤] اى پيغمبره! [او كافرانو ته] ووايه: آيا زه د الله نه پرته بل پالونكئ څښتن وغواړم، حال دا چې الله د هرچا لوى څښتن دئ [يعنى ټول خلک الله پيدا كړي دي او الله يې پالي او چارې يې سمبالوي] او هيڅ څوک يو بد كار نكړي، مګر دا چې ګناه يې پر هغه باندې ده، او هيڅ څوک د بل چا ګناه پر غاړه نه وړي، او اى خلكو! د ستاسې بيرته ورګرځيدل د ستاسې رب الله ته دي، نو بيا تاسې الله د هغو اختلافونو او بيلتونو نه خبروي چې هغه تاسې په دين كې د يو بل سره درلودل، يعنى څوک كافر او مشرك ول، او څوک مومن او موحد، او بيا هرچاته الله تعالى د خپل ايمان او شه عمل ثواب او د بد عمل سزا وركوي.

{الله ټول خلک پرځمكه د يو بل ځاى ناستي كرځولي دي }

او په ور پسې مبارک آيت كې چې د الانعام سورې وروستئ آيت دئ الله تعالى خلكو ته اعلان كړئ دئ چې تاسې ما پر ځمكه يو بل پسې ځاى ناستي كرځولي ياستى، ترڅو تاسې وازمايم چې څوک شه كړي او څوک بد؟ او بيا به هرچا ته د خپلو كړنو ثواب او سزا وركړم، او فرمايلي دي:

﴿وَهُوَ ٱلَّذِى جَعَلَكُمۡ خَلَٰٓئِفَ ٱلۡأَرۡضِ وَرَفَعَ بَعۡضَكُمۡ فَوۡقَ بَعۡضٖ دَرَجَٰتٖ لِّيَبۡلُوَكُمۡ فِي مَآ ءَاتَىٰكُمۡۗ إِنَّ رَبَّكَ سَرِيعُ ٱلۡعِقَابِ وَإِنَّهُۥ لَغَفُورٞ رَّحِيمٞ ١٦٥﴾

[١٦٥] ای خلکو! او الله هغه څوک دئ چې تاسې یې پر ځمکه یو بل پسې خلیفه ګان وګرځولې [یعنی یو نسل یې بل نسل پسې راوست، ترڅو یو د بل ځای ناستئ سي او ځمکه ودانه کړي او د خپل رب عبادت او بنده ګي په توحید سره وکړي] او ای خلکو! د ستاسې نه د ځینو رتبې الله پر ځینې نورو باندې لوړې کړې دي [یعنی ټول خلک سره برابر ندې] ترڅو تاسې ای خلکو! الله پر هغو نعمتونو چې تاسې ته یې درکړي دي وازمایي [یعنی نو بیا به شکر و یستونکي مومن بنده ګان د سر غړونکو کافرانو نه بیل کړي او هرچاته به د هغه لائق ثواب او سزا ورکړي] او یقینا چې الله ډیر ژر حساب اخلي، او یقینا چې الله ښه بښونکئ او لوی مهر بان پالونکئ څښتن دئ، یعنی کافرانو او بد کارانو ته سزا ورکوي، او مومنان او د ښو کړنو خاوندانو ته په ثواب کې جنتونه ورکوي.

قدرمنو دوستانو! دا وه د الانعام مبارکې سورې وروستي مبارك آیتونه چې پښتو معنا یې سره د لنډ تفسیر تاسې ته وړاندې سوه،او پکې ښه ډیر هدایات او سمې لارې ته ارزښتناکه سپارښتنې او لارښودنې نغښتې دي، نو هیله ده چې مونږ مومنان خپل ځانونه ښه پرې پوه کړو او خپلې نیکمرغۍ لپاره ورڅخه ګټه واخلو، او د دغو ارزښتناکه لارښودنو په رڼا کې د خپل ځان او د خپل امت لپاره په دنیا او آخرت کې تل خیر وغواړو، ځکه د بشر یت ټول برم او عزتمن تار یخ، او مخصوصا د اسلام پیغمبر محمدﷺ د پیغمبرۍ او د قرآن عظیم الشأن د ځلانده الهي لارښودنو نه وروسته؛ تار یخ تر نن پورې او تر قیامت ورځې پورې پر دې شاهد دئ چې د ر یښتیني او حقیقي سعادت او نیکمرغۍ او د خلاصون لار همدا د اسلام اسماني لارښودني دي، نو ځکه د الانعام سوره الله تعالی د مشرکانو سره وروسته د اوږدې مناقشې او استدلال او تودو خبرو نه په همدې وروستي قاطع اعلان سره پای ته یې رسولې ده، او پکې حق دین اسلام ته او ابراهیمي توحیدي ملت ته دعوت دئ، او بیا رسول اللهﷺ ته الله تعالی حکم کړئ دئ چې دئ ده ټولو خلکو ته اعلان وکړي چې د ده ټول عبادتونه؛ د هغه لوی رب الله لره دي، ځکه الله تعالی رب العالمین

دئ او هيڅ څوک په خپله خدايي کې شــر يك نه لري، نو رســول اللهﷺ هم يوازې د الله حکم او فرمان ته تســليم دئ او په اخلاص ســره د الله بنده کې کړي.

والحمد لله الذي بنعمته تتم الصالحات وصلى الله وسلم على رسوله الآمين وعلى آله وأصحابه أجمعين، وسبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.❁❁❁

